ومن احسن قولا ممن دعا الی اللہ (الآیۃ)

1

# زاد الخطباء

بیانات


مولانا اطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن


ترتیب و تخریج


مفتی حافظ کلیم اللہ صاحب

فاضل دار العلوم کراچی

سابق استاذ جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن





مکتبۃ الہاشمیۃ

د طباعت او کتابت حقوق محفوظ دي:

- د کتاب نوم:.................................زاد الخطباء
- تقارير:...................................مولانا اطيع الله صاحب
- ترتيب وتخريج:...............................حافظ کليم الله صاحب
- نظر ثاني:..................................مولوی عبدالشکور صاحب
- کمپوز:.....................................عبدالوهاب "متعلم"
- معاون:......................................طالب العلم موسی کليم
- تعداد:.......................................۱۱۰۰
- ضخامت:......................................٦٢٠
- سنه طباعت:...................................۱۴۳۸ھ
- ناشر:........................................مکتبه سلطانيه الهاشميه

---

د ملاوېدو ځايونه:

۱. مکتبه محمديه:..................... اباسين روډ چمن
۲. اسلامي کتب خانه:.................... تاج مير خان روډ چمن
۳. مکتبه غفاريه:........................ ارګ بازار قندهار
۴. شګيوال کتب خانه:.......................سپين بولدک
۵. جامع مسجد حاجي عبدالودود:....................چمن

# تقریظ

استاد المفسرین و المحدثین محدث العصر، نمونه اسلاف، جامع المعقول والمنقول، شیخ الحدیث حضرت مولانا **نظر محمد** صاحب افغاني

دامت برکاتهم العالیه

بسم الله الرحمن الرحيم

لله الحمد رب السموات والارض رب العالمین.

والصلوة والسلام علی قائد الغر المحجلین محمد و علی آله و صحبه دعاة الحق وهداة الدین.

اما بعد: قد طالعت نبذًا یسیرًا من زاد الخطباء لاخینا في الله المولوي اطیع الله فکما قیل ان الثمرة تنبئ عن الشجرة والانموذج یخبر عن البیدر وجدته قد لخص فیه من مهمات الدعوة وضوابط الابلاغ مع ان قضیة الدعوة لها اهمیة کبیرة في نفسها فجزاه الله تعالی خیرًا و جعل مُصنفه نافع للخطباء وسائر من اراد. (آمـــین)



وانا عبد الفقیر الی الله خادم الاحادیث النبویة.

# تقریظ

استاد المفسرین والمحدثین فقیه العصر قدوة العلماء شیخ الحدیث حضرت مولانا

## عبـــــد السلام صاحب دامت برکاتهم العالیه

بانی جامعه دار العلوم رحمانیه چمن

الحمد لله الواحد الرحمن، والصلوة والسلام علی سید الانام، وعلی اصحابه الذین قلعوا اثار الاصنام، وعلی التابعین الذین اجتهدوا في القرآن. لاسیما علی امام الهمام الذی اوسع طریقة الاسلام، سیدنا الامام ابو حنیفة النعمان.

وبعد حمدا وثناء خدای پاک لره وایم چي په هر وقت او په هره زمانه کي یې حقاني علماء او حق پرسته خادمان د اسلام پیدا کړي دي لکه: جناب محترم خادم الاسلام حق بین و حق شناس حضرت مولانا الحاج جامع العلوم کا الشمس بین النجوم مولوي اطیع الله صاحب چي زاد الخطباء یې دپاره د اصلاح د عقائدو د مسلمانانو په خلاصه او مختصرو عباراتو تصنیف کړی دئ او دلائل حقه د قرآن حکیم او احادیث نبویه ﷺ یې په لنډو عباراتو او په ښه توګه بیان کړي دي الله ﷻ دي د دې کتاب نفعه او برکت و ټولو مسلمانانو ته ورسوي او د مؤلف سعی دي په قبول حسن سره قبوله کي او د آئنده دپاره دي الله ﷻ د دغسي نورو خدمتو توفیق ور په نصیب کي آمین.

(مولوي عبد السلام القندهار مسکنه الاصلي والشمن مسکنه الفعلي)



## د خطبو اجمالي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | د مور محبت:........................ | ۳۳ |
| ۲. | د صحابه کرامو په ذهنو کي د آخرت فکر:........................ | ۵۵ |
| ۳. | د روژې د میاشتي غوښتنه:........................ | ۷۹ |
| ۴. | د روژې حکمتونه:........................ | ۱۰۳ |
| ۵. | د ګناهو څخه د مغفرت عشره:........................ | ۱۲۳ |
| ٦. | د جهنم څخه آزادۍ عشره:........................ | ۱۴۹ |
| ۷. | د ليلة القدر فضيلت:........................ | ۱۷۳ |
| ۸. | د کوچني اختر بيان:........................ | ۲۰۳ |
| ۹. | د انسان د ژوند حقيقت:........................ | ۲۲۵ |
| ۱۰. | د تعلق مع الله طريقه:........................ | ۲۴۵ |
| ۱۱. | په لسو شپو قسم:........................ | ۲۷۷ |
| ۱۲. | د ذی الحجې د مياشتي فضيلت:........................ | ۳۰۹ |
| ۱۳. | قرباني د ابراهيم عليه السلام يادګار دئ:........................ | ۳۴۵ |
| ۱۴. | د الله تعالی څخه خوف او خشيت:........................ | ۳٦۷ |
| ۱۵. | پر خپلو ګناهو باندي پښېماني کول:........................ | ۳۸۹ |
| ۱٦. | د الله تعالی په عشق کي ژړا کول:........................ | ۴۱۳ |
| ۱۷. | د زنانو متعلق بيان:........................ | ۴۴۳ |
| ۱۸. | زناني بايد څنګه زندګي تېره کړي:........................ | ۴۷۱ |
| ۱۹. | د دين په خاطر قرباني پېشول:........................ | ۵۰۹ |
| ۲۰. | د ګناهو څخه ځان ساتل:........................ | ۵۲۹ |
| ۲۱. | غيبت يوه عظيمه ګناه ده:........................ | ۵۵۹ |
| ۲۲. | د مؤمنانو د کاميابۍ صفات:........................ | ۵۷۷ |
| ۲۳. | د لا اله الا الله د ويلو فضيلت:........................ | ۵۹۷ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| صفحه | | شماره |
|---|---|---|
| ۳۰ | سريزه: | ۱. |
| | ﴿د مور محبت﴾ | |
| ۳۵ | پټه خزانه: | ۲. |
| ۳۶ | په انسانانو کي د الله تعالیٰ د محبت منظر: | ۳. |
| ۳۶ | د محبت مثالونه: | ۴. |
| ۳۷ | د يو صحابي واقعه: | ۵. |
| ۳۸ | د هوسۍ فرياد: | ۶. |
| ۴۰ | په چين کي زلزله او د مور محبت: | ۷. |
| ۴۱ | د مور محبت: | ۸. |
| ۴۲ | د بل په خوراک کولو خوشحاله کېدل: | ۹. |
| ۴۳ | د مور محبت عجيب نعمت دئ: | ۱۰. |
| ۴۳ | د حج او عمرې ثواب: | ۱۱. |
| ۴۴ | دَ ګناهو بخښلو يو صورت: | ۱۲. |
| ۴۴ | جنت د مور تر قدمو لاندي دئ: | ۱۳. |
| ۴۴ | په جنت کي د تلاوت آواز: | ۱۴. |
| ۴۵ | د اُم سُليم رضي الله عنها د اسلام قبول: | ۱۵. |
| ۴۶ | د مور او پلار خواهش: | ۱۶. |
| ۴۷ | د مور دعاء: | ۱۷. |
| ۴۸ | د مور تربيت او د فروخ رحمة الله عليه واقعه: | ۱۸. |
| | ﴿د صحابه کرامو په ذهنو کي د آخرت فکر﴾ | |
| ۵۷ | دعبارت ترجمه او مقصد: | ۱۹. |
| ۵۸ | د حضور ﷺ حقيقي عاشق: | ۲۰. |
| ۵۹ | د يو بزرګ د حضور ﷺ زيارت کول: | ۲۱. |
| ۶۰ | د خبري حقيقت: | ۲۲. |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۳. | دنيا بې حقيقته ده:........................ | ٦٠ |
| ۲۴. | پر جسم اطهر د چټايي نشان:........................ | ٦١ |
| ۲۵. | د پیغمبر علیه السلام جواب:........................ | ٦٢ |
| ۲٦. | دا دنيا دي په دوکه کی وانه چوی!........................ | ٦٣ |
| ۲۷. | دنيا يو پرده ده:........................ | ٦٣ |
| ۲۸. | دصحابه کرامو ﷺ مقام:........................ | ٦۴ |
| ۲۹. | د حضرت عمر ﷺ فضائل:........................ | ٦۴ |
| ۳۰. | د حضرت عمر ﷺ د دنيا څخه رخصتېدل:........................ | ٦٧ |
| ۳۱. | د زکندن وخت:........................ | ٦۹ |
| ۳۲. | آخرت ډېره سنګينه او درنه مسئله ده:........................ | ٦۹ |
| ۳۳. | د حضرت على ﷺ فضائل او د آخرت فکر:........................ | ۷۱ |
| ۳۴. | د حضور ﷺ سره مشابهت:........................ | ۷۲ |
| ۳۵. | د حضرت علي ﷺ د شپې مناجات:........................ | ۷۲ |
| ۳٦. | و ابوذر غفاري ﷺ ته نصيحت:........................ | ۷۳ |
| ۳۷. | د ابودرداء ﷺ وينا:........................ | ۷۳ |
| ۳۸. | د عمرو بن العاص ﷺ آخري وينا او د آخرت فکر:........................ | ۷۴ |
| | **﴿د روژې د مياشتې غوښتنه﴾** | |
| ۳۹. | د برکت والا مياشت:........................ | ۸۱ |
| ۴۰. | د فرشتو عبادت جلا قسم دئ:........................ | ۸۲ |
| ۴۱. | دفرشتو عبادت د فرشتو کمال نه دئ:........................ | ۸۳ |
| ۴۲. | د رانده د بد نظرۍ څخه بچاو بدل څه کمال نه دئ:........................ | ۸۴ |
| ۴۳. | دغه عبادت د فرشتو په وس کي نسته:........................ | ۸۴ |
| ۴۴. | زمونږ خانونه پر الله ﷻ خرڅ سوي دي:........................ | ۸۵ |
| ۴۵. | قربان تر داسي خريدار:........................ | ۸٦ |

## د مضامینو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۴٦. | د خپل پیدائش مقصد ته راګرځېدل: .................... | ۸۷ |
| ۴۷. | د رمضان معنٰی: .................... | ۸۷ |
| ۴۸. | د خپلو ګناهو بخښل: .................... | ۸۸ |
| ۴۹. | دا میاشته عبادت ته فارغه کول: .................... | ۸۹ |
| ۵۰. | د ګناه پرېښول: .................... | ۸۹ |
| ۵۱. | دا به څنګه روژه وي؟ .................... | ۹۰ |
| ۵۲. | د روژې نورانیت او برکت ختمېدل: .................... | ۹۱ |
| ۵۳. | د روژې میاشت بغیر د ګناه تېرول: .................... | ۹۲ |
| ۵۴. | دوهم اهم عمل: .................... | ۹۲ |
| ۵۵. | پر حرامه نفقه باندې وعید: .................... | ۹۳ |
| ۵٦. | د حرام مال خوراک ډېر خطرناکه دئ: .................... | ۹۴ |
| ۵۷. | حلال مال د حکمت او هدایت ذریعه ده: .................... | ۹۵ |
| ۵۸. | د اوس وخت د سوده ډک کاروبار: .................... | ۹۵ |
| ۵۹. | د حرام کاروبار څخه ځان ساتل: .................... | ۹۷ |
| ٦۰. | کچیرې آمدني مکمله حرامه وي نو بیا؟ .................... | ۹۷ |
| ٦۱. | په روژه کې غصه نه کول: .................... | ۹۸ |
| ٦۲. | د غصې خوړلو انعام: .................... | ۹۹ |
| ٦۳. | په روژه کې نفلي عبادات زیات کول: .................... | ۱۰۱ |
| | ﴿د روژې حِکمتونه﴾ | |
| ٦۴. | تمهید: .................... | ۱۰۵ |
| ٦۵. | د آیت تفسیر: .................... | ۱۰٦ |
| ٦٦. | د روژې فوائد او حکمتونه: .................... | ۱۰۹ |
| ٦۷. | د روژې مبارکې فضیلت: .................... | ۱۱۲ |
| ٦۸. | د فرضي روژې فضیلت: .................... | ۱۱۳ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شمیره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۶۹. | جنتي حوري:........................ | ۱۱۴ |
| ۷۰. | د صحيح روژې شرطونه:........................ | ۱۱۸ |
| ۷۱. | د روژې اهم عمل:........................ | ۱۱۹ |
| ۷۲. | د خبرې خلاصه:........................ | ۱۲۲ |
| | ﴿د ګناهو څخه د مغفرت عشره﴾ | |
| ۷۳. | د مغفرت عشره:........................ | ۱۲۵ |
| ۷۴. | د مغفرت ور انسانان:........................ | ۱۲۶ |
| ۷۵. | مغفرت په توبه سره کيږي:........................ | ۱۲۶ |
| ۷۶. | د نفس نګراني هر وقت ضروري ده:........................ | ۱۲۷ |
| ۷۷. | د يو بوتي راوړونکي قصه:........................ | ۱۲۸ |
| ۷۸. | نفس هم يو اژدها مار دئ:........................ | ۱۲۹ |
| ۷۹. | استغفار او توبه د ګناهونو علاج دئ:........................ | ۱۳۰ |
| ۸۰. | خليفة الارض د علاجه سره را استول:........................ | ۱۳۰ |
| ۸۱. | بهترين حديث شريف:........................ | ۱۳۲ |
| ۸۲. | د ګنهګاره ژړا محبوب عمل دئ:........................ | ۱۳۲ |
| ۸۳. | بهترين عمل توبه کښل دي:........................ | ۱۳۳ |
| ۸۴. | د ګناه څلور شاهدان:........................ | ۱۳۳ |
| ۸۵. | د توبې شرطونه:........................ | ۱۳۶ |
| ۸۶. | د صحابه کرامو ﷺ حالت:........................ | ۱۳۶ |
| ۸۷. | د پښېمانۍ د اوښکي مقام:........................ | ۱۳۷ |
| ۸۸. | د ګنهګاره د توبې واقعه:........................ | ۱۳۸ |
| ۸۹. | د بني اسرائيلو د وچ کالي واقعه:........................ | ۱۴۱ |
| ۹۰. | توبه اجمالي:........................ | ۱۴۴ |
| ۹۱. | توبه تفصيلي:........................ | ۱۴۴ |

د مضامينو تفصيلي فهرست

| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۹۲. | وصيت نامه ليکل: | ۱۴۵ |
| ۹۳. | قضاء عمري ادا کول: | ۱۴۵ |
| ۹۴. | سنت پرېښول جائز نه دي: | ۱۴۶ |
| ۹۵. | حقوق الله اداکول يا معافول: | ۱۴۶ |
| | ﴿د جهنم څخه د آزادۍ عشره﴾ | |
| ۹۶. | تمهيد: | ۱۵۱ |
| ۹۷. | څلور کاره کول: | ۱۵۲ |
| ۹۸. | جهنم خوف ناکه ځای دئ: | ۱۵۳ |
| ۹۹. | د جهنم د اور تېزي: | ۱۵۴ |
| ۱۰۰. | د انسانانو بې حسي: | ۱۵۵ |
| ۱۰۱. | د جهنم تر ټولو سپک عذاب: | ۱۵۶ |
| ۱۰۲. | د پای څو تر بجلکو کښته کولو عذاب: | ۱۵۷ |
| ۱۰۳. | و جهنم ته ځان وراچول: | ۱۵۷ |
| ۱۰۴. | په دوږخ کې د دوږخيانو حالات: | ۱۵۸ |
| ۱۰۵. | د دوږخ غرونه: | ۱۵۹ |
| ۱۰۶. | د دوږخيانو خوراکه: | ۱۵۹ |
| ۱۰۷. | د ګرمو اوبو عذاب: | ۱۶۰ |
| ۱۰۸. | د دوږخيانو د څښلو اوبه: | ۱۶۱ |
| ۱۰۹. | د ملائکو څخه دُعا غوښتل: | ۱۶۱ |
| ۱۱۰. | د جهنم څخه فناه حاصلول: | ۱۶۶ |
| ۱۱۱. | د پيغمبر ﷺ زړه زهيرول: | ۱۶۷ |
| ۱۱۲. | د فيضي شاعر واقعه: | ۱۶۷ |
| ۱۱۳. | د ټولو څخه خطرناکه خبره: | ۱۶۹ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست

| شماره | | صفحه |
|---|---|---|

### ﴿د ليلة القدر فضيلت﴾


| شماره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۱۴. | تمهيد: | ۱۷۵ |
| ۱۱۵. | د پيغمبر ﷺ د اُمت فضيلت: | ۱۷۶ |
| ۱۱۶. | ليلة القدر د دې امت خصوصيت دئ: | ۱۷۸ |
| ۱۱۷. | د ليلة القدر وجه د تسميې: | ۱۷۸ |
| ۱۱۸. | د ليلة القدر حكمت او فضيلت: | ۱۸۰ |
| ۱۱۹. | د صحابه وو د تمنّى پوره كولو عجيبه واقعه: | ۱۸۱ |
| ۱۲۰. | ټوله رمضان المبارك د نيكيانو سېزن دئ: | ۱۸۲ |
| ۱۲۱. | په دې شپه كي د جبرائيل عليه السلام دنيا ته راتګ: | ۱۸۳ |
| ۱۲۲. | شراب خوري لويه ګناه ده: | ۱۸۵ |
| ۱۲۳. | پر انسان باندي د مور او پلار ډېر زيات حق دئ: | ۱۸۵ |
| ۱۲۴. | د مور او پلار د نافرمانۍ سزا: | ۱۸۸ |
| ۱۲۵. | د مور او پلار د نافرمانۍ د سزا واقعه: | ۱۸۹ |
| ۱۲۶. | د مور او پلار خدمت د پيغمبر ﷺ تمنّى وه: | ۱۹۱ |
| ۱۲۷. | د پيغمبر ﷺ د مور مرګ: | ۱۹۲ |
| ۱۲۸. | د پيغمبر ﷺ د مور وفات په ابواء كي: | ۱۹۴ |
| ۱۲۹. | پيغمبر ﷺ د مور پر قبر باندي: | ۱۹۶ |
| ۱۳۰. | تربور د لړم غوندى دئ: | ۱۹۶ |
| ۱۳۱. | د بدلې انتظار نه كول: | ۱۹۷ |
| ۱۳۲. | وصله رحمي كولو والا څوك دئ؟: | ۱۹۷ |
| ۱۳۳. | د بغض كونكي بخښنه نشته: | ۱۹۹ |


### ﴿د كوچني اختر بيان﴾


| شماره | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۳۴. | تمهيد: | ۲۰۵ |
| ۱۳۵. | د دې ورځي اهميت: | ۲۰۶ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۳٦. | د اخترو ابتداء څنګه وسوه؟ | ۲۰۸ |
| ۱۳۷. | تشريح او وضاحت: | ۲۰۹ |
| ۱۳۸. | د اختر حقيقي خوشحالي پيدا کول: | ۲۰۹ |
| ۱۳۹. | د پيغمبر ﷺ د کور حالت: | ۲۱۳ |
| ۱۴۰. | د عمر ابن عبدالعزيز دور خلافت: | ۲۱٦ |
| ۱۴۱. | د ده د کور حالت: | ۲۱۷ |
| ۱۴۲. | د ده د کور د زناني حالت: | ۲۱۸ |
| ۱۴۳. | د عمر ابن عبدالعزيز د کور حالات: | ۲۱۹ |
| ۱۴۴. | د يو بوډۍ د عمر ابن عبدالعزيز کورته راتلل: | ۲۲۱ |
| ۱۴۵. | زمرى او پسه پر يو حوض باندي: | ۲۲۲ |
| ۱۴٦. | د درو خلفاؤ د ظلم په وجه بده خاتمه: | ۲۲۲ |
| ۱۴۷. | د عمر ابن عبدالعزيز دپاره د نجات پروانه: | ۲۲۳ |
| | **﴿د انسان د ژوند حقيقت﴾** | |
| ۱۴۸. | د انسان د زندګی او ژوند حقيقت: | ۲۲۷ |
| ۱۴۹. | په دنيا کي د هوښيار او عقلمند انسان علامه: | ۲۷۸ |
| ۱۵۰. | مرګ د دماغه څخه غفلت ختموي: | ۲۲۹ |
| ۱۵۱. | د مرګ په باب د پيغمبر عليه السلام وينا: | ۲۲۹ |
| ۱۵۲. | د دنيا زندګي عارضي ده: | ۲۳۰ |
| ۱۵۳. | د فنا کېدلو پيغام: | ۲۳۰ |
| ۱۵۴. | د خلفاء راشدينو وينا: | ۲۳۲ |
| ۱۵۵. | مرګ به کله راځي؟ | ۲۳۲ |
| ۱۵٦. | دوې يقيني خبري: | ۲۳۳ |
| ۱۵۷. | د پنځوشيانو علم: | ۲۳۴ |
| ۱۵۸. | د مرګ د يادولو فائدې: | ۲۳۵ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شمېره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۵۹. | دنیا قید خانه یا جنت ده؟.................... | ۲۳۵ |
| ۱۶۰. | د دنیا د زندګۍ د کامیابۍ راز:.................... | ۲۳۶ |
| ۱۶۱. | زمونږ علم عین جهالت دئ:.................... | ۲۳۷ |
| ۱۶۲. | د امت مسلمه د مسائلو حل:.................... | ۲۳۸ |
| ۱۶۳. | د الله جل جلاله د ارادې مخالفت ممکن نه دئ:.................... | ۲۳۹ |
| ۱۶۴. | د عزت پیدا کولو لار:.................... | ۲۴۰ |
| ۱۶۵. | د رزق حاصلولو لار:.................... | ۲۴۱ |
| ۱۶۶. | د صحابي پوښتني او د پیغمبر علیه السلام جواب:.................... | ۲۴۱ |
| ۱۶۷. | د غني جوړېدلو لار:.................... | ۲۴۱ |
| ۱۶۸. | د عزتمند جوړېدلو لار:.................... | ۲۴۲ |
| ۱۶۹. | د طاقتور جوړېدلو لار:.................... | ۲۴۲ |
| ۱۷۰. | د عالم جوړېدلو لار:.................... | ۲۴۲ |
| ۱۷۱. | د ذلتو څخه په امان کېدلو لار:.................... | ۲۴۳ |
| ۱۷۲. | د الله تعالی سره د خصوصیت قائمولو لار:.................... | ۲۴۳ |
| ۱۷۳. | د خبري خلاصه:.................... | ۲۴۴ |
| ۱۷۴. | د تقوی معنٰی:.................... | ۲۴۴ |
| | **﴿د تعلق مع الله طریقه﴾** | |
| ۱۷۵. | د نوي جامې اغوستلو په وخت کې دُعا:.................... | ۲۴۷ |
| ۱۷۶. | د هر وخت جلا جلا دعا ده:.................... | ۲۴۸ |
| ۱۷۷. | د دعا غوښتلو حکمت:.................... | ۲۴۹ |
| ۱۷۸. | د هر عمل دپاره دعا:.................... | ۲۴۹ |
| ۱۷۹. | د تعلق مع الله طریقه:.................... | ۲۵۰ |
| ۱۸۰. | د ذکر تاکید:.................... | ۲۵۰ |
| ۱۸۱. | ذکر بهترین عمل دئ:.................... | ۲۵۱ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شمېره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۸۲. | د بنده په ذکر کي د الله نفع نسته:.................. | ۲۵۲ |
| ۱۸۳. | غفلت د ګناه سبب دئ:.................. | ۲۵۲ |
| ۱۸۴. | پر ګناه شديد وعيد:.................. | ۲۵۴ |
| ۱۸۵. | د ذکر فائده:.................. | ۲۵۵ |
| ۱۸۶. | د فاروق اعظم ﷺ واقعه:.................. | ۲۵۵ |
| ۱۸۷. | د ذکر څخه غفلت د ګناهونو کثرت:.................. | ۲۵۷ |
| ۱۸۸. | د ابراهيم بن ادهم رحمة الله عليه او د ګنهګار مکالمه:.................. | ۲۵۸ |
| ۱۸۹. | په موجوده وخت کي د حاکمانو بې وسي:.................. | ۲۶۲ |
| ۱۹۰. | د جرائمو خاتمه پيغمبر ﷺ وکړه:.................. | ۲۶۳ |
| ۱۹۱. | د يوې زناني واقعه:.................. | ۲۶۵ |
| ۱۹۲. | د تعلق مع الله اسانه طريقه:.................. | ۲۶۷ |
| ۱۹۳. | د خوله بنت ثعلبه ﷺ تعلق:.................. | ۲۶۸ |
| ۱۹۴. | د دين څخه مخکي د عربو جهالت:.................. | ۲۶۸ |
| ۱۹۵. | د حضرت خوله ﷺ په حق کي فيصله:.................. | ۲۷۱ |
| ۱۹۶. | د حضرت عمر ﷺ و (خولې ﷺ) ته عزت ورکول:.................. | ۲۷۲ |
| ۱۹۷. | بې حيايي الله جل جلاله نه برداشته وي:.................. | ۲۷۳ |
| ۱۹۸. | د لوط عليه السلام د قوم عذاب:.................. | ۲۷۳ |
| ۱۹۹. | د موبائل غلط استعمال د بې حيايي لويه ذريعه:.................. | ۲۷۵ |
| ۲۰۰. | د فټ بال ميله د بې حيايي لوی ميدان دئ:.................. | ۲۷۵ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست

شماره | صفحه

### ﴿په لسو شپو قسم﴾


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۰۱. | په لسو شپو باندي قسم:........................ | ۲۷۹ |
| ۲۰۲. | د سهار د وخت عظمت:........................ | ۲۸۰ |
| ۲۰۳. | د مائيگر د وخت عظمت:........................ | ۲۸۱ |
| ۲۰۴. | په عباداتو کي ترتيب:........................ | ۲۸۱ |
| ۲۰۵. | په خوشحالي او غم دواړو کي الله جل جلاله ته توجه:........ | ۲۸۲ |
| ۲۰۶. | صدقة الفطر او اضحيه مالي عبادت دئ:........................ | ۲۸۳ |
| ۲۰۷. | د ذي الحجې د لسو ورځو فضيلت:........................ | ۲۸۳ |
| ۲۰۸. | دغه رنگه د قرباني عبادت دي:........................ | ۲۸۴ |
| ۲۰۹. | په افضليت کي اختلاف:........................ | ۲۸۵ |
| ۲۱۰. | ددي لسو ورځو خاص اعمال:........................ | ۲۸۶ |
| ۲۱۱. | د نوکانو او ورېښتانو نه پرې کولو حکمت:........................ | ۲۸۷ |
| ۲۱۲. | د الله تعالى رحمت صرف بهانې غواړي:........................ | ۲۸۸ |
| ۲۱۳. | په دې لسو شپو کي عبادت کول:........................ | ۲۸۹ |
| ۲۱۴. | په عباداتو صغيره گناه معافيږي:........................ | ۲۸۹ |
| ۲۱۵. | گناه کبيره په توبه معافيږي:........................ | ۲۹۱ |
| ۲۱۶. | په دې ورځو کي د صحابه کرامو رضي الله عنهم معمول:........................ | ۲۹۲ |
| ۲۱۷. | د مدينې منورې د يو نوجوان واقعه:........................ | ۲۹۳ |
| ۲۱۸. | د نهم د ورځي روژه د عاشورى په پرتله:........................ | ۲۹۵ |
| ۲۱۹. | په حديث شريف کي د لسو ورځو فضيلت:........................ | ۲۹۵ |
| ۲۲۰. | په دې ورځو کي قرباني نه کول:........................ | ۲۹۶ |
| ۲۲۱. | په دې ورځو کي د آخرت فکر کول:........................ | ۲۹۷ |
| ۲۲۲. | د آخرت په باره کي وفادار صرف نېک عمل دئ:........................ | ۳۹۹ |
| ۲۲۳. | د نېک عمل وفاداري:........................ | ۳۹۹ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۲۴. | د واثق بالله د مرګ واقعه: ........ | ۳۰۱ |
| ۲۲۵. | د مرګه څخه وروسته د قريبانو لاتعلقي: ........ | ۳۰۲ |
| ۲۲۶. | د يو بوډا اصحابي واقعه: ........ | ۳۰۴ |
| ۲۲۷. | د دنيا په هکله د حضرت علي ﷺ قول: ........ | ۳۰٦ |
| ۲۲۸. | د دنيا حقيقت: ........ | ۳۰۷ |
| ۲۲۹. | د دې شپو د قيام کولو آسانه طريقه: ........ | ۳۰۷ |
| | **«د ذي الحجې د مياشتې فضيلت»** | |
| ۲۳۰. | د ذي الحجې د مياشتې فضيلت: ........ | ۳۱۱ |
| ۲۳۱. | په کائناتو کې د بعضو پر بعضو فضيلت: ........ | ۳۱۲ |
| ۲۳۲. | څلور د فضيلت والا ورځې: ........ | ۳۱۳ |
| ۲۳۳. | څلور د فضيلت والا مياشتې: ........ | ۳۱۴ |
| ۲۳۴. | څلور مقبولې زنانې: ........ | ۳۱۴ |
| ۲۳۵. | څلور مخکنې جنتيان: ........ | ۳۱۵ |
| ۲۳٦. | څلور هغه کسان چې جنت يې شوق لري: ........ | ۳۱۵ |
| ۲۳۷. | د دې ورځو خاص عبادات: ........ | ۳۱٦ |
| ۲۳۸. | د قربانۍ فضيلت: ........ | ۳۱۷ |
| ۲۳۹. | د فاطمة الزهراء ﷺ پوښتنه: ........ | ۳۱۷ |
| ۲۴۰. | نيکي څه شی ده: ........ | ۳۱۸ |
| ۲۴۱. | خپله قرباني خپله کول يا نژدې ورته درېدل: ........ | ۳۱۹ |
| ۲۴۲. | لويه غلط فهمي: ........ | ۳۱۹ |
| ۲۴۳. | د زکوة نصاب: ........ | ۳۲۰ |
| ۲۴۴. | د قربانۍ نصاب: ........ | ۳۲۰ |
| ۲۴۵. | دوهمه غلط فهمي: ........ | ۳۲۱ |
| ۲۴٦. | درېيمه غلط فهمي: ........ | ۳۲۲ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۴۷. | څلورمه غلط فهمي: | ۳۲۳ |
| ۲۴۸. | د مسئلې حقيقت: | ۳۲۴ |
| ۲۴۹. | پر قربانۍ نه کولو باندې شديد نکير: | ۳۲۶ |
| ۲۵۰. | د دې ورځو دوهم اهم ترين عمل: | ۳۲۷ |
| ۲۵۱. | د غاړې د نه پرې کولو وجه: | ۳۳۲ |
| ۲۵۲. | په تکبيرات تشريق کې د عامو انسانانو غلط فهمي: | ۳۳۴ |
| ۲۵۳. | د زنانې په وجه جهنميان: | ۳۳۴ |
| ۲۵۴. | د زنانو د پاره طريقه: | ۳۳۵ |
| ۲۵۵. | آسانه تکبيرات دئ: | ۳۳۵ |
| ۲۵۶. | دوهمه غلطي: | ۳۳۶ |
| ۲۵۷. | د تکبيرات تشريق اوله مسئله: | ۳۳۶ |
| ۲۵۸. | دوهمه مسئله: | ۳۳۷ |
| ۲۵۹. | دريمه مسئله: | ۳۳۷ |
| ۲۶۰. | څلورمه مسئله: | ۳۳۷ |
| ۲۶۱. | پنځمه مسئله: | ۳۳۸ |
| ۲۶۲. | د اختر شپه د عبادت کولو بهترين وقت دئ: | ۳۳۸ |
| ۲۶۳. | د ټولې شپې د عبادت کولو آسانه طريقه: | ۳۳۹ |
| ۲۶۴. | د انسانانو بد ترين غفلت: | ۳۴۰ |
| ۲۶۵. | زمونږ د غفلت سوچ او فکر: | ۳۴۱ |
| ۲۶۶. | د امام غزالي رحمة الله عليه وينا: | ۳۴۱ |
| ۲۶۷. | غفلت د دماغه ليرې کول: | ۳۴۲ |
| ۲۶۸. | د دوږخي انسان علامې: | ۳۴۳ |
| ۲۶۹. | د دوږخيانو ارمان: | ۳۴۳ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست

| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| | **﴿قرباني د ابراهیم علیه السلام یادګار دئ﴾** | |
| ۲۷۰. | قرباني د ابراهیم علیه السلام یادګار دئ:........................ | ۳۴۷ |
| ۲۷۱. | د قربانۍ اصل روح او حقیقت:........................ | ۳۴۸ |
| ۲۷۲. | د ابراهیم علیه السلام مختلفي قربانۍ:........................ | ۳۴۹ |
| ۲۷۳. | د محمد ابن قاسم رحمة الله علیه قرباني او شهادت:........................ | ۳۵۲ |
| ۲۷۴. | د حضرت هاجرې رضي الله عنها قرباني:........................ | ۳۵۳ |
| ۲۷۵. | د اولاد محبت:........................ | ۳۵٦ |
| ۲۷٦. | د حضرت هاجرې رضي الله عنها بې وسي او بې کسي:........................ | ۳۵٦ |
| ۲۷۷. | یو کال بعد د ابراهیم علیه السلام راتګ:........................ | ۳۵۹ |
| ۲۷۸. | د صحابه کرامو پر دین باندي قرباني:........................ | ۳٦۰ |
| ۲۷۹. | د قریشي سردارانو قربانۍ:........................ | ۳٦۱ |
| ۲۸۰. | د جهاد په میدان کي قرباني ور کول:........................ | ۳٦٦ |
| | **﴿د الله جل جلاله څخه د خوف او خشیت بیان﴾** | |
| ۲۸۱. | خشیت څه ته وایي:........................ | ۳٦۹ |
| ۲۸۲. | د صحابه کرامو په زړو کي د الله تعالی خشیت:........................ | ۳۷۰ |
| ۲۸۳. | د خشیت الهي علامې:........................ | ۳۷۱ |
| ۲۸۴. | د جهنم د اور شدت او سختي:........................ | ۳۷۱ |
| ۲۸۵. | د دنیا د اور او د جهنم د اور په څو خبرو کي فرق دئ:........................ | ۳۷۲ |
| ۲۸٦. | د حقیقي ایمان علامه خشوع ده:........................ | ۳۷۳ |
| ۲۸۷. | د خشوع علامه او نښانه ژړا ده:........................ | ۳۷۳ |
| ۲۸۸. | د خشوع او ژړا کولو مختلف اقسام:........................ | ۳۷۴ |
| ۲۸۹. | اول د مصیبت په وجه ژړا:........................ | ۳۷۴ |
| ۲۹۰. | دویم د چا د جدایۍ په وجه ژړا:........................ | ۳۷۴ |
| ۲۹۱. | د یوسف علیه السلام پر جدایي د ومره غم ولي وو؟........................ | ۳۷۴ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۹۲. | یو بل جواب او نکته:........ | ۳۷۵ |
| ۲۹۳. | د پیغمبر ﷺ د بچي فراق:........ | ۳۷۶ |
| ۲۹۴. | د پیغمبر ﷺ په فراق کي د صحابه کرامو ژړا........ | ۳۷۷ |
| ۲۹۵. | د حضرت بلال رضي الله عنه آذان:........ | ۳۷۸ |
| ۲۹۶. | دریم د الله جل جلاله د بیري په وجه ژړا:........ | ۳۸۰ |
| ۲۹۷. | د تلاوت په وخت کي د صحابه کرامو حالت:........ | ۳۸۱ |
| ۲۹۸. | د دینداره زندګۍ حقیقي لذت او خوند:........ | ۳۸۱ |
| ۲۹۹. | د ابو سلیمان داراني رحمة الله علیه ژړا کول:........ | ۳۸۴ |
| ۳۰۰. | د حضرت ایوب علیه السلام د الله جل جلاله سره مکالمه:........ | ۳۸۵ |
| ۳۰۱. | د الله جل جلاله دیدار:........ | ۳۸۶ |
| ۳۰۲. | زندګي د غفلت په حالت کي تېرېدل:........ | ۳۸۶ |
| ۳۰۳. | خپل خدای جل جلاله ته عذر پېشول:........ | ۳۸۷ |
| ۳۰۴. | د فرزدق شاعر او د حسن بصري رحمة الله علیه واقعه:........ | ۳۸۷ |
| | «پر خپلو ګناهو باندي پښېماني کول» | |
| ۳۰۵. | د تیري جمعې د احادیثو اعاده:........ | ۳۹۱ |
| ۳۰۶. | د ژړا متعلق دوه حدیثونه:........ | ۳۹۲ |
| ۳۰۷. | د ژړا مختلف اقسام:........ | ۳۹۲ |
| ۳۰۸. | د صدیق اکبر رضي الله عنه د تلاوت په وخت کي ژړا:........ | ۳۹۴ |
| ۳۰۹. | د حضرت عمر رضي الله عنه د تلاوت په وخت کي ژړا:........ | ۳۹۴ |
| ۳۱۰. | د حضرت عائشې رضي الله عنها د تلاوت په وقت کي ژړا:........ | ۳۹۵ |
| ۳۱۱. | د امام شافعي رحمة الله علیه د تلاوت په وخت کي ژړا:........ | ۳۹۵ |
| ۳۱۲. | د علي ابن فضیل رحمة الله علیه د تلاوت په وخت کي ژړا:........ | ۳۹۵ |
| ۳۱۳. | د حضرت شبلي رحمة الله علیه په زړه کي خشیت الهي:........ | ۳۹۶ |
| ۳۱۴. | زموږ د افسوس حالت:........ | ۳۹۶ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شمېره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۳۱۵. | زموږ د غفلت نتیجه: | ۳۹۷ |
| ۳۱٦. | د قرآن مجید ګواهي: | ۳۹۷ |
| ۳۱۷. | د ټولو څخه لوی مصیبت: | ۳۹۸ |
| ۳۱۸. | خپل ګناهونه یادول او الله جل جلاله ته ژړا کول: | ۳۹۸ |
| ۳۱۹. | د انبیاء کرامو ژړا: | ۳۹۹ |
| ۳۲۰. | د حضرت حسن بصري رحمة الله علیه ژړا: | ۳۹۹ |
| ۳۲۱. | د رابعه بصریې ژړا: | ۳۹۹ |
| ۳۲۲. | د حضرت عمر رضي الله عنه ژړا: | ۴۰۰ |
| ۳۲۳. | د آخرت شرمندګي: | ۴۰۰ |
| ۳۲۴. | د قیامت د میدان شرمندګي: | ۴۰۱ |
| ۳۲۵. | د قیامت په ورځ د ګنهګاره د سترګي طول او عرض: | ۴۰۲ |
| ۳۲٦. | په دنیا کي د ژړا فضیلت: | ۴۰۴ |
| ۳۲۷. | دوه بهترین څاڅکي: | ۴۰۴ |
| ۳۲۸. | د باڼوګانو د یو وربښته شاهدي: | ۴۰۵ |
| ۳۲۹. | د اوښکو توېول د جهنم څخه د آزادی ذریعه: | ۴۰٦ |
| ۳۳۰. | د یوې اوښکي مقام: | ۴۰۷ |
| ۳۳۱. | د فرښتې اوله ندا: | ۴۰۷ |
| ۳۳۲. | الله جل جلاله انسان ته ولي مرګ را ولي؟ | ۴۰۸ |
| ۳۳۳. | د فرښتې دوهمه ندا: | ۴۰۹ |
| ۳۳۴. | د فرښتې دریمه ندا: | ۴۰۹ |
| ۳۳۵. | د فرښتې څلورمه ندا: | ۴۰۹ |
| ۳۳٦. | د فرښتې پنځمه او آخري ندا: | ۴۱۰ |
| ۳۳۷. | د ژړا کولو قدر او یوه واقعه: | ۴۱۰ |
| ۳۳۸. | د الله جل جلاله و حضور ته د حاضرېدلو اهمیت: | ۴۱۱ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۳۳۹. | د رحمت الهي د متوجه کولو والا دعا: | ۴۱۱ |
| | ﴿د الله جل جلاله په عشق کښې ژړا کول﴾ | |
| ۳۴۰. | ژړا په ډېرو وجوهو کيږي: | ۴۱۵ |
| ۳۴۱. | پنځم قسم د الله جل جلاله په شوق کې ژړا کول: | ۴۱۶ |
| ۳۴۲. | د حضرت شعيب عليه السلام د الله جل جلاله په عشق کې ژړا کول: | ۴۱۶ |
| ۳۴۳. | د حضرت نبي اکرم صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله په شوق کې ژړا کول: | ۴۱۷ |
| ۳۴۴. | عشق يو قلبي خاص تعلق دئ: | ۴۱۸ |
| ۳۴۵. | تقوى کول د ټولو مشکلاتو حل دئ: | ۴۱۹ |
| ۳۴۶. | د الله تعالى پخه او کلکه وعده: | ۴۱۹ |
| ۳۴۷. | د مالک ابن دينار رحمة الله عليه د الله جل جلاله سره تعلق: | ۴۲۰ |
| ۳۴۸. | د آخري زمانې متعلق د پيغمبر صلى الله عليه وسلم حديث: | ۴۲۲ |
| ۳۴۹. | د احمد علي لاهوري رحمة الله عليه واقعه: | ۴۲۳ |
| ۳۵۰. | د يقين جوړول: | ۴۲۵ |
| ۳۵۱. | د ام سعد رضي الله عنها واقعه: | ۴۲۵ |
| ۳۵۲. | دعا کول سنت عمل دئ: | ۴۲۷ |
| ۳۵۳. | خصوصي دعا د خپل ځان دپاره کېدلای سي: | ۴۲۸ |
| ۳۵۴. | د صحابه کرامو رضي الله عنهم د الله جل جلاله سره تعلق: | ۴۲۸ |
| ۳۵۵. | د حضرت ابو مسلم خولاني رحمة الله عليه د الله جل جلاله سره تعلق: | ۴۳۰ |
| ۳۵۶. | د ابو مسلم خولاني رحمة الله عليه د جهاد واقعه: | ۴۳۳ |
| ۳۵۷. | د الله تعالى په عشق کې ژړا د جنت پيدا کولو ذريعه: | ۴۳۴ |
| ۳۵۸. | د يوې مېنځې د الله جل جلاله سره د عشق واقعه: | ۴۳۵ |
| ۳۵۹. | د حضرت جنيد بغدادي رحمة الله عليه د طواف واقعه: | ۴۳۷ |
| ۳۶۰. | شپږم او آخرنی قسم ژړا: | ۴۳۹ |
| ۳۶۱. | د حضرت عائشې رضي الله عنها په حجره کې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم ژړا: | ۴۴۰ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| صفحه | | شماره |
|---|---|---|
| ۴۴۱ | په دنيا کي او ښکي تو يول انسان لره په ښه ورځي:............ | ۳٦۲. |
| | «د زنانو متعلق بيان» | |
| ۴۴۵ | شپږ ګناهګاره زناني:.............................. | ۳٦۳. |
| ۴۴٦ | د پيغمبر ﷺ ژړا:.............................. | ۳٦۴. |
| ۴۴٦ | په امت باندي د پيغمبر ﷺ شفقت:.......................... | ۳٦۵. |
| ۴۴٦ | په شپږو طريقو باندي عذاب:.............................. | ۳٦٦. |
| ۴۴۸ | د اولي زناني د عذاب سبب بې پردګي:.......................... | ۳٦۷. |
| ۴۴۹ | ستر او پرده:.............................. | ۳٦۸. |
| ۴۴۹ | په لمانځه کي د زناني د ستر طريقه:.......................... | ۳٦۹. |
| ۴۵۰ | د ستر او پردې په مابين کي فرق:.......................... | ۳۷۰. |
| ۴۵۱ | په کور کي د نامحرم و مخ ته د پردې کولو طريقه:............ | ۳۷۱. |
| ۴۵۱ | د ستر تعلق د لمانځه سره دئ او پرده عامه ده:.............. | ۳۷۲. |
| ۴۵۲ | د عذاب عبرت ناکه واقعه:.......................... | ۳۷۳. |
| ۴۵۳ | د بې پردګۍ سخته سزا:.............................. | ۳۷۴. |
| ۴۵۴ | د شونډانو د حفاظت نه کولو سزا:.......................... | ۳۷۵. |
| ۴۵۴ | پر نوکانو پالش لګول او بې ستري يې کول:.................. | ۳۷٦. |
| ۴۵۴ | د مرګ وروسته دوباره ژوندي کېدل:.......................... | ۳۷۷. |
| ۴۵۵ | د زنانو د پاره ډېره لويه خطرناکه خبره:.................... | ۳۷۸. |
| ۴۵٦ | د دويمي زناني د عذاب سبب زبان درازي:.................... | ۳۷۹. |
| ۴۵۷ | زبان درازي سنګينه ګناه ده:.......................... | ۳۸۰. |
| ۴۵۸ | د دريمي زناني د عذاب سبب ناروا تعلقات:.................. | ۳۸۱. |
| ۴۵۸ | د بې حيايۍ سنګينه نتيجه:.......................... | ۳۸۲. |
| ۴۵۹ | د بې حيايي بد اثرات:.............................. | ۳۸۳. |
| ۴۵۹ | د پلار او د لور، د ورور او د خور د زنا واقعات:.............. | ۳۸۴. |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۳۸۵. | د معاشرې سنګينه بې حيايي:.................... | ۴۶۰ |
| ۳۸۶. | د تلويزون کتلو انجام:.................... | ۴۶۱ |
| ۳۸۷. | ستاسو دپاره د خوشحالۍ مقام نه دئ:.................... | ۴۶۲ |
| ۳۸۸. | ټلويژن د بې حيايي لويه ذريعه ده:.................... | ۴۶۲ |
| ۳۸۹. | زموږ د کورو د ودو او د ښاديو حالات:.................... | ۴۶۲ |
| ۳۹۰. | د کور د مشر دپاره د عبرت مقام:.................... | ۴۶۳ |
| ۳۹۱. | د حضرت فاطمة الزهراء واده:.................... | ۴۶۴ |
| ۳۹۲. | د حضرت فاطمې رضي الله عنها په کور کي ژوندګي:.................... | ۴۶۶ |
| ۳۹۳. | د حضرت فاطمې رضي الله عنها د ناجوړۍ واقعه:.................... | ۴۶۶ |
| ۳۹۴. | د حضرت فاطمې رضي الله عنها د عزت والا کورنۍ:.................... | ۴۶۶ |
| ۳۹۵. | د حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها ځکندن او جنازه:.................... | ۴۶۸ |
| ۳۹۶. | د حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها پر پل صراط تېرېدل:.................... | ۴۶۹ |
| ۳۹۷. | د فاطمة الزهراء رضي الله عنها په جنت کي مرتبه:.................... | ۴۶۹ |
| ۳۹۸. | د اصلي مقصد تذکره:.................... | ۴۷۰ |
| | **﴿زنانې بايد څنګه ژوندګي تېره کي﴾** | |
| ۳۹۹. | تمهيد:.................... | ۴۷۳ |
| ۴۰۰. | په جهنم کي د زنانو مختلف عذابونه:.................... | ۴۷۴ |
| ۴۰۱. | د عذابو تفصيل:.................... | ۴۷۵ |
| ۴۰۲. | د څلورمې زنانې د عذاب سبب:.................... | ۴۷۶ |
| ۴۰۳. | د فرضي غسل د ځنډ اندازه:.................... | ۴۷۶ |
| ۴۰۴. | د حيض، نفاس څخه د صفا والي په صورت کي فورا غسل:... | ۴۷۷ |
| ۴۰۵. | د غسل د ځنډ شکل:.................... | ۴۷۸ |
| ۴۰۶. | چغلي کول هم د عذاب سبب دئ:.................... | ۴۷۹ |
| ۴۰۷. | د چغلۍ شکل:.................... | ۴۷۹ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۴۰۸. | چغلخور الله جل جلاله جنت ته نه داخلوي:........................ | ۴۷۹ |
| ۴۰۹. | رشتيا ويل نيکي ده درواغ ويل فسق دئ:..................... | ۴۸۰ |
| ۴۱۰. | احسان اچول هم د عذاب سبب دئ:......................... | ۴۸۱ |
| ۴۱۱. | د احسان اچولو وجه:............................... | ۴۸۲ |
| ۴۱۲. | د عذاب دوهم سبب حسد کول دي:.......................... | ۴۸۲ |
| ۴۱۳. | د حسد درې درجې دي:............................. | ۴۸۳ |
| ۴۱۴. | اوله درجه:........................................ | ۴۸۳ |
| ۴۱۵. | دوهمه درجه:....................................... | ۴۸۳ |
| ۴۱۶. | دريمه درجه:....................................... | ۴۸۳ |
| ۴۱۷. | حسد نېک عمل ختم کوي:............................. | ۴۸۴ |
| ۴۱۸. | د زنانې لپاره جنت پيدا کول آسان دي:..................... | ۴۸۴ |
| ۴۱۹. | د زنانې ښه زندګي:................................. | ۴۸۵ |
| ۴۲۰. | د رابعه بصرېې واقعه:................................ | ۴۸۵ |
| ۴۲۱. | د رابعې بصرېې په خپل کور کې د خاوند سره ګذاره:........... | ۴۸۶ |
| ۴۲۲. | د حسن بصري و رابعې بصرېې ته د نکاح پيغام:.............. | ۴۸۷ |
| ۴۲۳. | د رابعې بصرېې څلور سوالونه پوښتل:...................... | ۴۸۷ |
| ۴۲۴. | د رابعې بصرېې وفات:................................ | ۴۸۹ |
| ۴۲۵. | رابعه بصريه په جنت کې ليدل:.......................... | ۴۸۹ |
| ۴۲۶. | د جنتي زنانې ښائست:................................ | ۴۹۰ |
| ۴۲۷. | د جنتي حورې ښائست:................................ | ۴۹۰ |
| ۴۲۸. | د دنيا د نېکو زنانو حسن د جنت د حورو په پرتله:.............. | ۴۹۲ |
| ۴۲۹. | د دنيا د نيکو زنانو د جنت د حورو سره مقابله:................ | ۴۹۴ |
| ۴۳۰. | د دنيا د جنتي زنانو فخر:............................. | ۴۹۴ |
| ۴۳۱. | د خاوند زړه خپلول:................................. | ۴۹۵ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۴۳۲. | د خاوند د کور تکلیف برداشتول: | ۴۹۶ |
| ۴۳۳. | مجاهده دوه قسمه ده: | ۴۹۶ |
| ۴۳۴. | د یو زنانۍ د تکلیف واقعه: | ۴۹۷ |
| ۴۳۵. | پر زنانو د خاوند زیات حق دئ: | ۴۹۹ |
| ۴۳۶. | زنانه هم پر خاوند زیات حق لري: | ۴۹۹ |
| ۴۳۷. | د زنانۍ په حق کې د پیغمبر ﷺ حدیث: | ۵۰۰ |
| ۴۳۸. | حضرت مرزا مظهر جانان رحمه الله علیه | ۵۰۱ |
| ۴۳۹. | د ولایت پیدا کولو سبب: | ۵۰۱ |
| ۴۴۰. | د کور د زنانۍ یوه واقعه: | ۵۰۲ |
| ۴۴۱. | د شاه ابو الحسن خرقاني رحمه الله علیه د زنانۍ واقعه: | ۵۰۲ |
| ۴۴۲. | د زنانۍ په حقله د بخاري شریف حدیث: | ۵۰۴ |
| ۴۴۳. | د پیغمبر ﷺ د کور گذاره: | ۵۰۵ |
| ۴۴۴. | د سنت عمل برکت: | ۵۰۶ |
| ۴۴۵. | د زنانۍ سره ښه ژوند د پیغمبر ﷺ تمنی: | ۵۰۶ |
| ۴۴۶. | د حدیث شریف تکمیل: | ۵۰۷ |
| | ﴿د دین په خاطر قرباني پیشول﴾ | |
| ۴۴۷. | تمهید: | ۵۱۱ |
| ۴۴۸. | د پیغمبر ﷺ ناقراري: | ۵۱۲ |
| ۴۴۹. | صرف د ابو جهل کور ته درې زره واره ورتلل: | ۵۱۳ |
| ۴۵۰. | د صبر انتهاء: | ۵۱۴ |
| ۴۵۱. | د صحابه کرامو رضي الله عنهم قرباني: | ۵۱۶ |
| ۴۵۲. | د هجرت لوی امتحان: | ۵۱۷ |
| ۴۵۳. | د صحابه کرامو رضي الله عنهم قرباني: | ۵۱۸ |
| ۴۵۴. | په مدینه منوره کې دوې طبقې: | ۵۱۸ |

د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۴۵۵. | د صحابه کرامو ﷡ قبرونه: | ۵۱۹ |
| ۴۵٦. | د قريشو پر اسلام باندي قرباني کول: | ۵۲۰ |
| ۴۵۷. | د محمد ابن قاسم رحمة الله عليه قرباني: | ۵۲۱ |
| ۴۵۸. | د مقصد اعاده: | ۵۲۲ |
| ۴۵۹. | د عکرمه ﷛ آخري وينا: | ۵۲۵ |
| ۴٦۰. | دين ته په قدر کتل: | ۵۲۵ |
| ۴٦۱. | د حضرت عبدالله ابن ابي بکر ﷠ قرباني: | ۵۲٦ |
| ۴٦۲. | د حضرت عبدالله ﷛ رجوع کول: | ۵۲۷ |
| ۴٦۳. | د حضرت عبدالله ﷛ شهادت: | ۵۲۷ |
| ۴٦۴. | د حضرت عاتکې ﷝ وفات: | ۵۲۸ |
| | «د ګناهو څخه ځان ساتل» | |
| ۴٦۵. | تمهيد: | ۵۳۱ |
| ۴٦٦. | د پيغمبر ﷺ جوامع الکلم: | ۵۳۲ |
| ۴٦۷. | د پيغمبر ﷺ پنځه جامع نصيحتونه: | ۵۳۲ |
| ۴٦۸. | اوله خبره: | ۵۳۳ |
| ۴٦۹. | د ګناهو پرېښول ضروري دي: | ۵۳۳ |
| ۴۷۰. | د غلط فهمۍ ازاله: | ۵۳۴ |
| ۴۷۱. | د ګناه او نفلي عباداتو مثال: | ۵۳٦ |
| ۴۷۲. | د ګناه پرېښول تر نفلي عباداتو مقدم دي: | ۵۳٦ |
| ۴۷۳. | اول د حرامي نفقې څخه ځان ساتل: | ۵۳٦ |
| ۴۷۴. | د ګناه څخه ځان ساتل ډېر اهم دي: | ۵۳۷ |
| ۴۷۵. | د عبدالله ابن عباس ﷟ تعارف: | ۵۳۸ |
| ۴۷٦. | د عبدالله ابن عباس ﷟ څخه پوښتنه: | ۵۳۸ |
| ۴۷۷. | د انسان دوکه: | ۵۴۰ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شمله | | صفحه |
|---|---|---|
| ۴۷۸. | د دوو زنانو متعلق د پيغمبر ﷺ وينا: | ۵۴۰ |
| ۴۷۹. | د شريعت فيصله: | ۵۴۱ |
| ۴۸۰. | د ولايت شرط تقوى ده: | ۵۴۲ |
| ۴۸۱. | د تقوى معنى ګناه پرېښول: | ۵۴۲ |
| ۴۸۲. | پرهېز تر علاج ښه دئ: | ۵۴۴ |
| ۴۸۳. | ورځ د رسول الله ﷺ په ملګرتيا کي تېرول: | ۵۴۴ |
| ۴۸۴. | د يو بزرګ وينا: | ۵۴۵ |
| ۴۸۵. | د ګناه په هکله د انسان خيال او د الله جل جلاله جواب: | ۵۴۵ |
| ۴۸٦. | ګناه د نفلي عباداتو دپاره زهر قاتل ده: | ۵۴۸ |
| ۴۸۷. | بعض اعمال تر ګناه بد ترين دئ: | ۵۴۸ |
| ۴۸۸. | ګناه څه ده: | ۵۵۱ |
| ۴۸۹. | د جنت څخه محروم کېدل او د جهنم مستحق کېدل: | ۵۵۲ |
| ۴۹۰. | د نفس سره ظلم کول: | ۵۵۳ |
| ۴۹۱. | د ګناه بدبويي: | ۵۵۳ |
| ۴۹۲. | د حضرت عثمان رضي الله عنه واقعه: | ۵۵۴ |
| ۴۹۳. | په جهنم کي د ګناه بدبويي: | ۵۵۴ |
| ۴۹۴. | کرام الکاتبين ته تکليف ور کول: | ۵۵۵ |
| ۴۹۵. | ګناه د انسانانو سره ظلم کول دي: | ۵۵۵ |
| ۴۹٦. | مځکه پر ځان شاهد جوړول: | ۵۵۵ |
| | ﴿غيبت يوه عظيمه ګناه ده﴾ | |
| ۴۹۷. | غيبت يوه سنګينه ګناه ده: | ۵٦۱ |
| ۴۹۸. | د قرآن کريم سنګين انداز: | ۵٦۲ |
| ۴۹۹. | د غيبت کونکي سزا: | ۵٦۲ |
| ۵۰۰. | غيبت تر زنا هم بدتر دئ: | ۵٦۳ |

د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۵۰۱. | غيبت کونکی به د جنت څخه راوګرزول سي: | ۵٦۴ |
| ۵۰۲. | غيبت بدترين سود دئ: | ۵٦۴ |
| ۵۰۳. | د غيبت تعريف څه دئ: | ۵٦۵ |
| ۵۰۴. | غيبت کول ګناه کبيره ده: | ۵٦۷ |
| ۵۰۵. | پر غيبت کولو عبرت ناکه خوب ليدل: | ۵٦۷ |
| ۵۰٦. | د غيبت کولو د اجازت ځايونه: | ۵٦۹ |
| ۵۰۷. | د يو چا د شر څخه مسلمان ساتل: | ۵٦۹ |
| ۵۰۸. | د پيغمبر ﷺ په حديث تائيد: | ۵۷۰ |
| ۵۰۹. | تطبيق: | ۵۷۱ |
| ۵۱۰. | که چيري د يو چا د جان خطره وي: | ۵۷۱ |
| ۵۱۱. | د اعلانيه ګناه کولو والا غيبت: | ۵۷۱ |
| ۵۱۲. | د فاسق او فاجر غيبت کول جائز نه دئ: | ۵۷۲ |
| ۵۱۳. | د ظالم د ظلم تذکره غيبت نه دئ: | ۵۷۳ |
| ۵۱۴. | د ظالم د غيبت څخه د قرآن کريم استثنی: | ۵۷۴ |
| ۵۱۵. | د غيبت څخه بچاؤ په عزم او همت دئ: | ۵۷۴ |
| ۵۱٦. | د معافی د طريقې متعلق يوه واقعه: | ۵۷۵ |
| ۵۱۷. | د دې دويم علاج: | ۵۷۵ |
| ۵۱۸. | دريم علاج: | ۵۷٦ |
| | **﴿د مؤمنانو د کاميابۍ صفات﴾** | |
| ۵۱۹. | تمهيد: | ۵۷۹ |
| ۵۲۰. | د مؤمنانو دوهم صفت: | ۵۸۰ |
| ۵۲۱. | د انبياؤ حضراتو صفت هم دا دئ: | ۵۸۰ |
| ۵۲۲. | پيغمبري جواب: | ۵۸۱ |
| ۵۲۳. | د شاه اسماعيل شهيد رحمة الله عليه واقعه: | ۵۸۱ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۵۲۴. | د غلطي وینا څخه مسئله جوړول: | ۵۸۲ |
| ۵۲۵. | د انتقام پر ځای معافي کول: | ۵۸۳ |
| ۵۲۶. | معافي کول باعث د اجر او ثواب دي: | ۵۸۳ |
| ۵۲۷. | د اولیاء کرامو رحمهم الله جدا جدا شان: | ۵۸۴ |
| ۵۲۸. | د دې بزرګانو حالات بیرته راوړل: | ۵۸۵ |
| ۵۲۹. | د اول بزرګ فکر او شان: | ۵۸۶ |
| ۵۳۰. | د اول بزرګ مثال: | ۵۸۶ |
| ۵۳۱. | د دوهم بزرګ فکر او شان: | ۵۸۷ |
| ۵۳۲. | در حقیقت بدله اخیستل هم خیر خواهي ده: | ۵۸۷ |
| ۵۳۳. | د محبوب او محبوبې بدله: | ۵۸۸ |
| ۵۳۴. | د خبري اصلي حقیقت: | ۵۸۹ |
| ۵۳۵. | د الله تعالی سره جنګ او جګړه معاذالله: | ۵۸۹ |
| ۵۳۶. | د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه د طرفه د الله جل جلاله بدله اخیستل: | ۵۹۰ |
| ۵۳۷. | د ابو حنیفه رحمة الله علیه جواب: | ۵۹۰ |
| ۵۳۸. | د حضرت اسامه رضی الله عنه د بې قدرۍ سزا: | ۵۹۱ |
| ۵۳۹. | د ښو اخلاقو فضیلت او اهمیت: | ۵۹۲ |
| ۵۴۰. | ښه اخلاق عین دین، عین ایمان او عین اسلام دئ: | ۵۹۳ |
| ۵۴۱. | اوس بهترین او ښه اخلاق کم دي؟ | ۵۹۵ |
| ۵۴۲. | ښه اخلاق یقینا تکلیف لري: | ۵۹۵ |
| ۵۴۳. | پر یوه سنت د سلو شهیدانو ثواب: | ۵۹۶ |
| | ﴿د لا اله الا الله د ذکر فضیلت﴾ | |
| ۵۴۴. | تمهید: | ۵۹۹ |
| ۵۴۵. | په کثرت سره د ذکر کولو شکل: | ۶۰۱ |
| ۵۴۶. | د آدم علیه السلام سکون او آرام: | ۶۰۱ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۵۴۷. | د ذکر مبارک مجلسونه:.................... | ٦۰۳ |
| ۵۴۸. | د ذکر معنی او مطلب:.................... | ٦۰۵ |
| ۵۴۹. | ذکر بهترين عمل دئ:.................... | ٦۰۵ |
| ۵۵۰. | د پيغمبر ﷺ تمنی:.................... | ٦۰٦ |
| ۵۵۱. | ﴿لا اله الا الله﴾ بهترين ذکر دئ:.................... | ٦۰۸ |
| ۵۵۲. | د موسی علیه السلام ذکر:.................... | ٦۰۸ |
| ۵۵۳. | د ﴿لا اله الا الله﴾ د ذکر فضيلت:.................... | ٦۱۰ |
| ۵۵۴. | څلور زره (۴۰۰۰) ګناهونه معاف کيدل:.................... | ٦۱۲ |
| ۵۵۵. | د ﴿لا اله الا الله﴾ ذکر د مغفرت سبب:.................... | ٦۱۳ |
| ۵۵٦. | د دحيه کلبي رضی الله عنه د اسلام راوړلو عجيبه واقعه:.................... | ٦۱۴ |
| ۵۵۷. | د ﴿لا اله الا الله﴾ په ذريعه د مړګانو ايصال ثواب:.................... | ٦۱۷ |
| ۵۵۸. | د ﴿لا اله الا الله﴾ د کلمې دم:.................... | ٦۲۰ |

# سریزه

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيْهِ مُبَارَكًا عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَيَرْضٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ خَيْرِ الْهُدٰى وَعَلٰى آلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ نُجُوْمُ الْاِهْتِدٰى.

امابعد: بنده ناچیز د ډیري زمانې څخه د جمعې د لمانځه د امامت کولو او د هغه څخه مخکې د تقریر کولو مصروفیت او شغل لرم.

چې غالبًا اوس یې پنځلس کاله پوره سول، چونکه په اصل کې د بنده سره د تقریر کولو استعداد ډېر کم وو، نو د مجبورۍ په وجه به په هره کتب خانه کې د خپلو استاذانو او د بعضو نورو بزرګانو علماؤ لیکل سوي او چاپ سوي د تقریر کتابونه چې په عامه توګه هغه د خطباتو په نامه باندي شائع کېدل د هغه کتابو طلب او لټون مې پېل کړ.

د هغه طلب او لټون په نتیجه کې دا رنګه یوه لویه ذخیره را سره جمع سوه، بیا به مې د هري جمعې د تقریر دپاره د موضوع انتخاب کوئ او د هغه موضوع په طبق به مې په کتابو کې مواد د قرآني آیاتو، احادیثو، واقعاتو او امثالو په بڼه را جمعه کول.

دغه موادو ته به مې ترتیب ور کوئ او د تقریر په شکل به مې د جمعې د لمانځه څخه مخکې عمومًا د یوه ساعت وخت په دوران کې د خلکو ومخ ته وړاندي کوئ.

چونکه په تقریر کې بهٔ کله د بنده د ډېر تتبع په خاطر ډېر بهترین او کافي مواد د احادیثو، او حکایاتو، د بعضو بزرګانو د حالاتو په شکل کې را جمعه کېدل، نو سامعینو حضراتو به په شوق سره اورېدل او په عامه توګه هغه ته ډېر زیات متوجه کېدل.

په دې دوران کې د بعضو علماؤ او طلباء چې د بنده د انډیوالانو یا شاګردانو په کتار کې وه او په جمعه کې به شریکېدل د هغو له طرفه پر دې خبره زیات اصرار وو چې دا مواد باید جمعه سوي وای ممکنه ده چې د دې څخه یو چا فائده اخستې وای.

خدای سته زما هم دې طرفته څه میلان وو، لېکن د بیمارۍ په خاطر ما دې طرفته هیڅ قدم نه سو پورته کولای.

آخر زما یو ملګري امیر محمد د دې تقریرو په ډېر اهتمام سره په ټیپ ریکارډ کي محفوظ کول شروع کړه، چي په هغه وخت کي د هغه سره زیات تقریرونه په ټیپ ریکارډ کي محفوظ سوه بیا د بنده څه شاګردانو لکه: مفتي عبدالمنان صاحب، ملا محمد سلیم او ملا نقیب الله آخند د ټیپ ریکارډ څخه پر بیاض را نقل کړل، چي کله د کمپوز وخت راغلئ په منځ کي یې څه تعطیلات راغلل، خو د هغه تعطیلاتو باوجود کار تر کمپوز ووتئ، په آخره مرحله کي دي الله ﷻ و قاري خلیل الرحمن صاحب عرف (مسلم اغا) ته جزاء خیر ور کړي چي هغه د ترتیب او تزئین آخره مرحله په ډېر اخلاص سره سرته ورسول.

د دې کتاب د مطالعې په وخت کي باید دا خبره د مطالعه کونکو په ذهن کي پرته وي چي دا څه با قاعده تصنیف نه دئ بلکه د لیکل سوو تقریرو یوه خلاصه ده، چي د کېسټو (فیتو) څخه را اخستل سوې ده.

نو په هم دغه وجه په اول او دوهم چاپ کي د حوالو او تخریج څه خاص اهتمام نه وو الله ﷻ دي جزاء خیر ور کړي ذکي فاضل مفتي حافظ کلیم الله صاحب چي هغه د تخریج محنت ور باندي وکړئ او یو څه یې د خطبو اضافه هم ور سره وکړه. او دریم ځل یې چاپ ته تیار کړئ.

نو د دې کتاب طریقه تحریري نه ده بلکه تقریري او خطابي ده، که چیري یو مسلمان د دې څخه فائده واخلي دا محض د الله ﷻ کرم او مهربلني ده چي پر دې باندي به زه بنده د الله ﷻ شکر ادا کوم.

او که یو خبره په دې تقریرو کي غیر محتاطه او غیره مفیده وي نو یقینا دا به زما د غلطۍ او کوتاهۍ په وجه وي، ځکه زه په دې خبره اقرار کوم چي په ما کي ډېري کمزوریاني دي، شاید هغه کمزوریاني به په دې تقریرو کي هم راغلي وي.

لېکن بیا هم زه د احبابو علماء کرامو او طلباء عظامو څخه درد مندانه خواهش کوم چي یوه قاعده ده: ﴿مَا لَا یُدْرَکُ کُلُّهٗ لَا یُتْرَکُ کُلُّهٗ﴾.

کېدلای سي چې په دې موادو کي ستاسو په کار یو شی درسي نو تاسو په خیر او خوبي په دې کي نظر وکړئ، او د کمزوریانو څخه یې خپل نظر را وګرځوئ. ﴿وَالْعَفْوَ عِنْدَ كِرَامِ النَّاسِ مَأْمُوْلٌ﴾ لېکن الحمدلله دا ویلای سم چې د دې تقریرو مقصد صرف تقریر برای تقریر نه دئ بلکه د دې مقصد د ټولو څخه مخکي خپل ځان او بیا سامعین د خپل نفس و اصلاح ته متوجه کول دي.

لکه: استاد محترم فرمایلي دي:

*نه به حرف ساخته سرخوشم....... نه به نقش بسته مشوشم*

*نفس بیاد تو میزنم........... چه عبارت وچه معانیم*

الله ﷻ دې په خپل فضل او کرم سره دا یوڅو مختصر تقریرونه خپله زمابنده او د ټولو ویونکو دپاره د اصلاح ذریعه وګرځوي، او زموږ د ټولو دپاره دي الله ﷻ د آخرت ذخیره جوړه کړي، او چې کومو کسانو د دې تقریرو په برابرولو کي هر قسم خدمت کړی دئ، الله ﷻ دي دوی ته د خپل خدمت بهترینه صله او بدله ور کړي.

﴿وَمَا ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيْزٍ﴾

آمین یا رب العالمین

و صلی الله علی خیر خلقه محمد و آله و صحبه اجمعین

اطیع الله عفي عنه

بن حاجي ملا عبدالعزیز (مرحوم)

استاد جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

ربیع الثاني ۱۴۳۷ هجري بمطابق ۲۰۱۶

بسم الله الرحمن الرحيم

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الایه)

# د مور محبت

## (بیان)

مولوي اطیع الله صاحب
استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:
مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه
کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعـت | ثلـــــــــــورم |
| تـاريــــخ | يكم ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق يكم مي ۲۰۱۸ |
| تـعــــداد | (۱۱۰۰) |

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَأَمَّا مَا يَنْفَعُ النَّاسَ فَيَمْكُثُ فِي الْأَرْضِ﴾(۱).

وقال رسول اللهﷺ حديثًا قدسيًا:

﴿كُنْتُ كَنْزًا مَخْفِيًا فَأَحْبَبْتُ أَنْ أُعْرَفَ فَخَلَقْتُ الْخَلْقَ لِأُعْرَفَ﴾(۲).

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## پټه خزانه:

محترمو سامعينو! حديث قدسي دئ الله تعالٰی فرمايي: ﴿كُنْتُ كَنْزًا مَخْفِيًا﴾ زه يوه پټه خزانه وم. ﴿فَأَحبَبتُ اَن اُعرَفَ﴾ ما ته دا محبوبه سوه، چې زه وپېژندل سم، ﴿فَخَلَقتُ الخَلقَ﴾ نو ما مخلوق پيدا کړئ، د دې دپاره چې ما وپيژني.

نو کله چې مخلوق د الله تعالٰی د محبت په خاطر باندي وجود ته راغلی دئ. او د مخلوق د پيدا کېدلو سبب د الله تعالٰی محبت دئ.

د کائناتو هر شي ته د الله تعالٰی د محبت څخه خپله حصه رسېدلې ده، او هر مخلوق ته د خپل خپل استعداد مطابق د الله جل جلاله د محبت څخه خپله برخه ور کول

(۱)الرعد ايت ۱۷

(۲)روح المعاني جزء۱۴ص۲۵ تحت تفسير سورة المدثر آيت ۲

سوې ده، هغه مخلوق که جمادات وي، او که نباتات وي، او که حیوانان او انسانان وي.

## په انسانانو کي د الله تعالی د محبت منظر:

په انسانانو کي د الله تعالی د محبت منظر که څوک لیدل غواړي، نو د مور د محبت منظر دي وګوري، چي هغه ته د مور "شفقت" وايي.

د مور د خپل بچي سره محبت دا د محبت یو کامل مثال دئ، په دنیا کي داسي مور نسته چي هغه دي د خپل اولاد سره محبت نه لري او هغه دي پر خپل اولاد باندي نه قربانیږي.

## د محبت مثالونه:

یو کوچنۍ مرغۍ چي د هغې ډېر معمولي جان او جسم دئ، د هغې بچیان چي کله په "ځالګۍ" کي وي، نو دا خپلو بچیانو ته د اوبو راوړلو دپاره لیري الوځي، په خپله "مښوکه" کي اوبه را اخلي او راځي.

ډېر ځله داسي وي چي "ځالګۍ" په کمه خونه کي وي او هغه بنده وي، نو دا کوچنۍ مرغۍ چي کله انسان ویني، نو کله یو ځای کښېني او کله بل ځای کښېني، په خولو کي غرقه وي، په خپله تږې وي، لیکن د خپلي خولې اوبه په خپله نه چیښي، بلکي دا د مښوکي او د خولې اوبه تر خپلو بچیانو پوري رسوي.

تاسو وګورئ! په دې کوچني جان او جسم کي الله تعالی د مور محبت ایښئ دئ او دا خپلو بچیانو ته په دې شکل پرورش ورکوي.

د مرغۍ د خپلو بچیانو سره څومره محبت دئ، همېشه پر خپلو بچیانو باندي وزر غوړونکې وي.

کچیري یو وخت د دې د بچیانو خوړلو دپاره یو (پیشو) راسي، نو مرغۍ وزر وغوړوي او د هغې ومخته ودرېږي او د هغې مقابلې ته تیاره وي.

او دا په دې پوهېږي چې زه د "پيشو" مقابله نه سم کولای، او دا هم ور معلومه ده چې دا "پيشو" ما پر دې ځای ختموي، نو دا ټول ورته منظور دي، مګر دا نه غواړي چې زه د خپلو سترګو و مخته خپل بچيان د "پيشو" په خوله کي ووينم.
نو دا وايي چې دا "پيشو" دي اول ما ختمه کړي او د هغه څخه وروسته دي بيا زما بچيانو ته ور تېره سي. نو دا د دې مرغۍ د خپلو بچيانو سره مورنی محبت دئ.

## د يو صحابي واقعه:

په حديث شريف کي راځي: يو صحابي پر لار روان دئ، ده پر يو درخته باندي يې د مرغۍ "ځالګۍ" وليدل چې په هغه کي د مرغۍ کوچني کوچني ښائسته چيچان دي، ده ته يې ښه خوند ور کړئ، ده دا چيچان د "ځالګۍ" څخه را واخيسته او روان سو.
د هغو چيچانو مور د دانې ټولولو دپاره پر يو طرف الوتې وه، يو څه ګړی وروسته چي کله هغه راغله نو "ځالګۍ" ته چي يې وکتل په هغه کي د دې بچيان نسته، نو د خپلو بچيانو په تلاښ کي را ووته او په هغه صحابي پسي را ورسېده.
اوس هغه مرغۍ د هغه صحابي پر سر باندي الوزي را الوزي، مګر هغه صحابي د دې مرغۍ په فرياد نه پوهېږي، چي دا و ما ته څه فرياد کوي او ما ته څه ويل غواړي.
يو څه ګړی وروسته هغه مرغۍ خود به خوده راغله او د هغه صحابي پر اوږه کښېنسته. ده هغه مرغۍ هم ونيوله، دا اوچيچان دواړه يې د پيغمبر ﷺ په خدمت کي پيش کړه.
د صحابه کرامو يو ښائسته عادت دا وو چي کله به هغوی ته يو نوې خبره مخته راغله، نو هغوی به د هغه خبري په باره کي ضرور د پيغمبر ﷺ څخه پوښتنه کوله.

چنانچه هغه صحابي د پیغمبرﷺ څخه د دغه واقعې متعلق پوښتنه وکړه، بچیان او د هغوی مور یې د پیغمبرﷺ و مخته کښېښول.
پیغمبرﷺ د ده سر په خبره ور خلاص کړئ، چي دې مرغۍ په اصل کي تا ته دا فریاد کوئ چي زما بچیان را آزاد که! زه مور یم، دا مي بچیان دي، ما د خپلو بچیانو څخه مه جلا کوه! ځکه زه د بچیانو بغیر ژوندی نه سم پاته کېدای.
چي کله تا د هغې په خبره سر نه خلاصوئ، نو هغې د ځانه سره دا فیصله وکړه چي نوره زه په دې "ځالگۍ" کي یوائي نه سم اوسېدای. کچیري زما بچیان په قید کي وي، نو زه د خپل ځان و قید ته پر آزادۍ باندي ترجیح ور کوم، نو ځکه دا راغله ستا پر اوږه کښېنسته او تا دا هم ونیوله.
نو پیغمبرﷺ هغه صحابي ته فرمایي: دا مور او بچیان دواړه خپلي "ځالگۍ" ته بیرته ورسوه او بیا راسه(۱)!
تاسو وگورئ! هغه کوچنۍ مرغۍ ده لیکن د مورني محبت په وجه خپل ځان په خپل لاس په قید کي اچوي.

## د هوسۍ فریاد:

مشهور روایت دئ چي نبي اکرمﷺ پر لار روان دئ یو یهودي یوه هوسۍ نیولې ده او را روانه کړې یې ده، هغه هوسۍ یو قسم آواز کوي، لیکن یهودي د هغې په مطلب نه پوهېږي.
نبي اکرمﷺ چي کله د هغي هوسۍ آواز واورېدئ، نو یهودي ته وایي: دا هوسۍ و ما ته فریاد کوي، چي دې سړي زه نیولې یم نه ما پرېږدي او نه مي وژني، نو ای د الله رسوله! دا وخت زما د بچیانو د "تي" ور کولو دئ.
زما بچیان وږي او تږي دي، ته ما ته د دې سړي څخه اجازت را واخله زه به ولاړه سم، بچیانو ته به شیدې ورکم او بیا به واپس راسم.

(۱) دین دنیا اور اللہ کی رضا صفحہ: ۲۳۲

نبي اکرمﷺ هغه يهودي ته وايي:

- ته دا آزاده که، بيرته به تا ته واپس راځي.
- نو هغه ورته وايي: د دې ذمه واري به څوک اخلي.
- رسول اللهﷺ ورته وايي: زه يې ذمه واره يم او زه به د دې تر راتلو تر وخته پورې دلته در سره ولاړ يم.

يهودي د ځانه سره فکر و کړئ، چي د پېغمبرﷺ د نبوت د امتحان اخيستلو بهترين وخت دئ، اوس به دا ما ته معلومه سي چي دا يقيني نبي دئ او که نه.
نو هغه يهودي هغه هوسۍ ايله کړه او هوسۍ په منډه ولاړه د څه وخت وروسته چي خپلو بچيانو ته يې شيدې ور کړې واپس راغله.
يهودي چي کله د نبي اکرمﷺ دا معجزه وليدل، نو پر هغه ځای باندي يې کلمه وويل او مسلمان سو(1).
تاسو و ګورئ! دا يو جاندار حيوان دئ، په هغه کي کامل عقل هم نسته، ليکن هغه مورنۍ محبت په دې کي په دې شکل موجود دئ.
نو چي کله په حيوانانو کي مورنی محبت په دومره اندازه دئ، نو انسانانو ته هم الله تعالی عقل کامل ور کړی دئ، نو د هغو به د خپلو بچيانو سره څومره محبت وي؟
د مور چي د بچيانو سره کم محبت دئ هغه په الفاظو کي نسي بيانېدلای، خو صرف دومره ويلای سو چي مور ته اکثره وخت خپل بچيان تر خپل ځان ډېر محبوب وي.

(1) دين ودنيااور الله کی رضا صفحه: ۲۳۲

## په چین کي زلزله او د مور محبت:

یو ځل په چین کي زلزله راغله او ډېر انسانان په هغه کي مړه سوه، یو ډېر لوی بلډنګ را ونړېدئ، تر هغه لاندي یوه زنانه د یو خپل کوچني بچي سره لاندي سوه.

پر هغې باندي هغه چت په داسي شکل راغلئ چي دا د کمرې په یو کونج کي د خپل بچي سره د ناستي په ځای کي محفوظه پاته وه او پر څلورو طرفو باندي کانکرېټ راغلئ او دې ته لار بنده سوه، نو دا په هغه ځای کي ژوندۍ پاته سوه، نو بچی هم ژوندی دئ مور هم ژوندي ده، مګر سر بېره په ټنو ټنو کانکرېټ ور باندي پراته دي.

اوس د دې په راکښلو کي څو ورځي ولګېدې، چي حکومت هغه کانکرېټ څني ليري کړه، نو که ګوري هغه بچی د مور پر سينه پروت مور هم بېهوښه ده او بچی هم بېهوښه دئ.

چي کله هسپتال ته را وړل سوه او علاج يې شروع سو، نو آخر هغه مور په هوښ کي راغله، نو ډاکټران که ګوري د هغه زناني د لاسو ګوتي ټوله زخمي دي د دې زناني څخه پوښتنه کوي چي دا راته ووايه، چي ستا د دواړو لاسو ګوتي ولي زخمي دي؟ ظاهرًا خو د دې څه وجه نه معلومېږي نو هغه زنانه ورته وايي: چي خبره دا وه چي ما کله خپل بچي ته تر دوو ورځو پوري تَی ور کوئ، نو زما د سينې شيدې ختمي سوې.

نو هغه بچي به د لوږي څخه ژړل ما به د ده په خوله کي خپله ګوته ور کوله. لږ وخت به يې وځېښله او بيا به يې ژړل، نو ما د ده ژړا نه سوای برداشتولای او دا مي هم په دماغ کي نه راتلل چي آخر زه د دې بچي د خوراک بندوبست څنګه وکم، نو بالآخر زما په ذهن کي دا خبره راغله چي ما په خپلو غاښو باندي خپلي ګوتي زخمياني کړې.

نو زما د بدنه څخه چي کمي ويني را وتلې، نو وينو والا ګوته به ما د بچي په خوله کي ور کړه او هغه بچي به زما د بدن ويني څښلې، چي کله به زماد بدن وينه د ده بدن ته ورغله، نو د ده به يو څه توان وسو او ژړا به يې ختمه کړه.
نو بيا به ما داسي کول چي کله به بچي ژړا شروع کړل، نو ما به خپلي ګوتي په غاښو پرې کولې او خپله وينه به مي ده ته ور کوله، تر دې حده چي زه هم بېهوښه سوم او بچي هم بېهوښه سو، بيا خلګو مور را وکښلو او اوس زه دا يم په هوښ کي راغلم.
نو دنيا دې ته حيرانه سوه، چي تاسو وګورئ! يو زنانه ده چي مسلمانه هم نه ده، بلکي کافره ده، ليکن مور خو آخر مور وي او مورنی محبت په هره مور کي موجود وي، نو ځکه دې د خپل بدن په وينو سره د بچي ژوندي ساتلو کوشش و کړئ، د مور محبت يو عجيبه نعمت دئ.
په دې وجه که حيوان وي که انسان، نو د مور محبت يو ضروري شي دئ، چي مور به د اولاده سره خامخا ډېر زيات محبت لري.

## د مور محبت:

حضرت عائشه‌ رضي الله عنها فرمايي: يو ځل يو زنانه د خپلو دوو بچيانو سره زموږ کور ته راغله، پيغمبر ﷺ ما ته وفرمايل: چي درې دانې کجوري (يعني خورما) ورکه! ما چي کله درې دانې کجوري ور کړې نو هغه مور و بچيانو ته ور تقسيم کړې.
نو دوې کجوري د بچيانو سوې او دا يوه کجوره د مور په حصه کي راغله. هغي زناني يوه يوه کجوره بچيانو ته ور کړه او خپله کجوره يې په دې موته کي نيولې وه، چي کله هغه بچيانو خپلي کجوري و خوړلې، نو هغه زناني خپله کجور د دوې حصې کړه نيمه يې يوه ته او نيمه يې بل ته ور کړه او په خپله وږې کښېنسته.

حضرت عائشهؓ د دې زناني پر دې عمل ډېره حيرانه سوه، نبيﷺ ورته
وايي: اى حميراء! دا د مور محبت دئ او دا د مور د خپلو بچيانو سره مينه ده.
ته وينې چي په خپله يې نه وخوړله وږې کښېنسته، ليکن خپلو بچيانو ته يې
ورکړه او دا په سکون سوه.
چي انسان کله په دې حالت کي وي، چي خوراک بل و کړي او په سکون دَى سي
دا په دنيا کي بل هيڅ بنده نه دئ، صرف د مور دا حالات وي چي په خپلو بچيانو
خوراک کوي او په باطن کي د دې زړه ته خوشحالي او سکون رسيږي(١).

## د بل په خوراک کولو خوشحاله کېدل:

په حديث شريف کي راځي چي کله پيغمبرﷺ د هجرت په سفر روان وو، د ا
ايمنؓ پر کور راغلئ، نو هلته يو څو بزې ولاړي دي، مګر د هغوی پ
غولانځه کي شيدې نسته.
صديق اکبرؓ ور وړاندي سو ورته وايي: چي موږ ته د دې بزو څخه يو څ
شيدې را که! دا په جواب کي ورته وايي: دا بزې وچي دي، د دوی په غولانځ
کي شيدې نسته. دَى ورته وايي: د دې سره زموږ کار نسته چي دا وچي دي ي
لنګي دي، صرف ته اجازت را که! هغې اجازت ور کړئ.
صديق اکبرؓ ورته کښېنستئ، د الله تعالى شان دئ چي د بزو په غولانځ
کي شيدې راتلل شروع سوه، تر دې حده پوري چي د شيدو لوښي ټول په ډک
سوه.
بيا يې پر هغو باندي کېږه واچوله او د پيغمبرﷺ و مخته يې پيش کړې ا
پيغمبرﷺ وچيښلې.
د حديث شريف الفاظ دي: ﴿فَشَرِبَ حَتّٰى رَضِيتُ﴾ نبيﷺ دومره وچيښلې چ
صديق اکبرؓ وايي: د ده په چيښلو سره زما زړه ډېر خونک او خوشحاله سو

(١) دين و دنيا اور الله کی رضا صفحه: ٢٢٥

اوس دا هغه محبت دئ چي شيدې چي پيغمبر ﷺ چينبي او زړه د صديق اكبر خوشحاله كيږي.
نو د مور محبت هم داسي دئ چي خوراک به اولاد کوي، مگر زړه به د مور خوشحاله كيږي.(۱)

## د مور محبت عجيب نعمت دئ:

د مور محبت د الله تعالیٰ يو عجيب نعمت دئ، دا محبت هغه جذبه ده چي په الفاظو كي يې بنده نسي بيانولای.
الله رب العزت په دنيا كي د خپل رحمت يو نمونه ښكاره كولو دپاره د مور او د بچي قرابت جوړ كړی دئ، چي بندګان په دنيا كي زما رحمت خو نه سي ليدلای او نه د هغه احساس كولای سي.
ليكن د مور په زړه كي چي كم محبت ما ور اچولی دئ، د دې مقصد دا دئ چي كله دوی مور ته ګوري چي هغه په كم شكل پر اولاد قربانيږي، نو بيا به انسانانو ته دا ور معلوميږي چي د الله رب العزت به د خپلو بندګانو سره څومره محبت وي.

## د حج او عمرې ثواب:

چنانچه په دې وجه باندي د مور و مختـه كتل عبادت بلل سوی دئ. په حديث شريف كي راځي: چي كم بنده د محبت او عقيدت په نظر د مور و مختـه وګوري، نو هغه سړي ته الله تعالیٰ د يو قبول حج يا عمرې ثواب ور كوي(۲).

(۱) دین ودنیااور اللہ کی رضا صفحہ: ۲۳۶

(۲) دین ودنیااور اللہ کی رضا صفحہ: ۲۳۷

## د ګناهو بخښلو يو صورت:

په يو حديث شريف کي داسي هم راځي، چي نبي اکرم ﷺ ته يو سړی راغلئ او ورته وايي:

- ای د الله رسوله! زما څخه ډېره لويه ګناه سوې ده، اوس به د هغه د معاف کېدو څه صورت وي؟
- پېغمبر ﷺ په جواب کي ورته وايي: ستا مور سته؟
- هغه ورته وايي: هو،
- نو بيا پېغمبر ﷺ ورته وايي: که ته د خپلي مور خدمت و کړې، نو الله تعالی به ستا دغه ګناه در معاف کړي.(۱)

## جنت د مور تر قدمو لاندي دئ:

په دې وجه باندي پېغمبر ﷺ فرمايي:
﴿اَلْجَنَّةُ تَحْتَ أَقْدَامِ الْأُمَّهَاتِ﴾(۲).

يعني جنت د مور تر قدمو لاندي دئ، چي کم سړی د مور تر قدمو ځان لاندي کولای سي، نو هغه به د جنت مستحق وي.

## په جنت کي د تلاوت آواز:

په حديث شريف کي راځي، چي نبي اکرم ﷺ د معراج په سفر کي پر جنتو راځي او په جنت کي د قران کريم د تلاوت آواز اوري، نو د جبرائيل عليه السلام څخه پوښتنه کوي:

- ای جبرائيله! دا د قرآن ويلو آواز د چا دئ، چي دلته را رسيږي؟

---

(۱) دين و دنيا اور الله کی رضا صفحہ: ۲۳۷

(۲) الترغيب والترهيب حديث ۴۴۸

- جبرائیل علیه السلام په جواب کي ورته وايي: دا د حارثه ابن نعمان رضي الله عنه آواز دئ.
- نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وايي: د ده آواز دلته څنګه را رسيږي؟
- جبرائیل علیه السلام ورته وايي: چي هغه په دنيا کي د مور خدمت ډېر کوي او دا عمل الله تعالی ته داسي خوښ دئ، چي دَی قرآن پر فرش باندي وايي او آوازيې د الله تعالی تر عرشه پوري را رسيږي.

د هغه وجه دا ده چي دا تعلق ډېر ژور او مضبوط دئ چي مور د بچي سره ډېر محبت کوي او فطري طور بچيان هم د خپلي موره سره ډېر محبت لري او د هغه سره په کوچني والي کي ډېر وخت تېروي.
د بچيانو په زړه کي هم د موره سره دومره محبت وي چي انسانان د هغه اندازه ځان ته نه سي معلومولای.
چي کله د دوی په مابين کي جدائي راسي، نو بيا دا معلومه سي چي د دوی په درميان کي کم قسم محبت وو. په کوچنيو کوچنيو بچيانو کي په دې وجه باندي د پلار په نسبت د مور محبت ډېر زيات وي(۱).

## د اُم سُلیم رضي الله عنها د اسلام قبول:

په حديث شريف کي راځي چي يو صاحب دئ د هغه نوم دئ -مالک- هغه په تجارتي سفر باندي تللی دئ، چي کله واپس راغلئ، نو د ده د زناني نوم ام سُلیم رضي الله عنها وو، هغه د نبي صلی الله علیه وسلم په يو درس کي شريکه سوې وه، هغې اسلام قبول کړی وو او مسلمانه سوې وه.
چي کله خاوند د سفره څخه واپس راغلئ، نو خاوند او زنانه سره کښېنستل خبري سره کوي، نو زناني ورته وويل:

(۱) دین و دنیا اور اللہ کی رضا صفحہ: ۲۳۸

- ما خو کلمه ویلې ده او مسلمانه سوې یم.
- خاوند ورته وایي: د دومره تلوار څه ضرورت وو، زما انتظار به دې کړی وای!
- هغه زنانه ورته وایي: چې په دې خیال هسې نه چې مرګ راسي او زه بغیر د کلمې څخه د دنیا څخه رخصت سم، نو ځکه مې په ایمان را وړلو کې تلوار وکړئ.
- خاوند ورته وایي: چې ما خو لا تر اوسه فیصله نه ده کړې.

خاوند او زنانه دواړه خبرې سره کوي، د دوی یو کوچنی بچی دئ چې د هغه نوم "انس" دئ، "انس" ته پلار وکتل ورته وایي: بچیه! ما خو کلمه نه ده ویلې او تا هم کلمه نه ده ویلې، لیکن چې کله مور ورته ګوري، نو ورته وایي: بچیه! ما خو کلمه ویلې ده، ته هم کلمه ووایه؟ اوس بچي ته د دواړو طرفو څخه دعوت راغلئ.
روایاتو کې راځي چې بچی یو نظر د پلار پر مخ کوي او یو نظر د مور و مخته ګوري او په لوړ آواز سره کلمه وایي او مسلمان کیږي.(١)

## د مور او پلار خواهش:

دا معلومه سوه چې د مور محبت د اولاد په زړه کې د پلار په نسبت زیات وي، نو په دې وجه باندې د مور نرمې نرمې خبرې ډېر ځله د اولاد په زړه کې ډېر ژر ځای نیسي.
او د مور چې کمې ګرمې ګرمې اوښکې وي، هغه د بچیانو د زندګۍ فیصلې بدلوي.

(١) دین ودنیا اور اللہ کی رضا صفحہ: ۲۳۸

**د مور دعاء:**

په دې وجه باندې باید نن سبا نوجوانانو ته د مور د مقام د اهمیت اندازه و لګیږي، چې الله رب العزت مور ته کم مقام ورکړی دئ او د الله تعالی په حضور کې د دې کمه درجه ده؟

په دې وجه زمونږ مشائخو لیکلي دي کچیرې یو مور ګنهګاره هم وي، خطا کاره هم وي او بې عمله هم وي، لیکن د اولاد په باره کې الله تعالی د دې دعاګانې داسې قبلوي لکه یو چا ته چې الله تعالی د ولایت کبری مقام ورکړی وي.

نو د مور ګناه او خطا پر خپل ځای، لیکن د اولاد په باره کې چونکه د دې ډېر زیات اخلاص دئ، نو د هغه اخلاص په وجه سره الله رب العزت د دې د اولاد په حق کې د دې دعا نه ردوي.(۱)

بعضو مشائخو لیکلي دي چې د موره څخه زیات محبوب قرابت په دنیا کې هیڅ نسته. د مور محبت د ښکاره کولو او د ویلو شی نه دئ، بلکې دا هغه شی دئ چې مور یې بې اختیاره کوي.

دا د محبت تعلق چې الله تعالی د اولاد او د مور او پلار په مابین کې جوړ کړی دئ، دا د الله تعالی عجیب شان دئ.

چنانچه مَندي همېشه دا غواړي چې زما اولاد کامل سي او د هرې مور دا تمنا وي او غواړي چې زوی یې خوانده سي، دا که په خپله خوانده وي او که غیر خوانده وي.

د هرې مور به دا خواهش ضرور وي چې زما اولاد قابل او کامل جوړ سي، د هغه دپاره کوشش هم کوي او د هغه د ښه تربیت کولو دپاره بندوبست هم کوي.

---

(۱) دین و دنیا اور الله کی رضا صفحه: ۲۴۳

## د مور تربيت او د فروخ رحمة الله عليه واقعه:

د بنو اميه وو دور وو او د تابعينو زمانه وه، په مدينه منوره کي په مسجد نبوي کي د ترکستان د غزا دپاره ترغيب شروع دئ.

چي کله د مجاهدينو نومونه ليکل کيږي، نو حضرت فروخ رحمة الله عليه هم د مجاهدينو په لست کي خپل نوم وليکئ.

چي کله د مسجده څخه کور ته راغلئ، نو خپلي زناني ته وايي:

- ما خو د الله جل جلاله د دين د سر بلندی دپاره د مجاهدينو په صف کي خپل نوم وليکئ.
- نو هغه زنانه ورته وايي: زما د حمل زمانه ده. زه حامله يم او يواځي کور دئ، نو ته ما و چا ته پرېږدې؟
- دی ورته وايي: ته او ستا حمل ما د الله جل جلاله په سپرد کي ور کړي ياست، يعني الله جل جلاله ته مي سپارلي ياست.

په هغه زمانه کي زناني داسي وې، چي هغوی صبر هم کولای سو او هغوی خپل حق هم معاف کولای سو.

نو هغه زنانه ورته وايي: چي بس صحيح ده ته په غزا کي ولاړ سه زما ساتونکی به الله جل جلاله وي، زما ستا څخه هيڅ مطالبه نسته.

چي کله روانيږي، نو دېرش زره ديناره هغي زناني ته د خرچي دپاره ور پرېږدي. چي زما څخه وروسته پر تا باندي د خرچي تنگي را نه سي.

هغي زناني خپل خاوند ته په خپله "زغره" ور واغوستله، پر آس يې "زِن" ور کښېښوئ، په خپلو لاسو سره يې پر آس باندي سپور کړئ او د خپله کوره څخه يې رخصت کړئ.

هغه زناني غريبي ته دا معلومه نه وه، چي دا جدائي به څومره اوږديږي، هغه د کور څخه دباندي ورته ولاړه ده، چي تر څو پوري د خاوند آس او د هغه ګرد او غبار د سترګو څخه غائبيږي.

چي کله خاوند غائب سو، نو د دې په کور کي د انتظار ساعتونه شروع سوه.

ډيري ورځي تيري سوې، ډيري هفتې تيري سوې او ډيري مياشتي او ډېر کلونه تېر سوه. ډېر لمرونه را وختل او بيا بيرته ولوېدل، ليکن د حضرت فروخ رحمۃ اللہ علیہ څه خبر را نغلئ.

ډېر خزانونه راغله، ډېر خزانونه په بهارو بدل سوه او ډيري ګرمۍ په يخنۍ بدلي سوې، نه فروخ رحمۃ اللہ علیہ راغلي او نه د فروخ رحمۃ اللہ علیہ خبر راغلئ.

کله به دا آوازه راغله چي هغه شهيد سو او کله به دا آوازه راغله چي هغه په قيد کي دئ، کله به يې د ژوند خبرونه وه او کله به يې د مرګ اوازې وې. اوس که چيري د مرګ پوخ خبر راسي، خو هغه زنانه به بل خاوند و کړي، ليکن هغه هم نه وو.

د هغې زناني عمر روان دئ تيريږي، د هغې د ځوانۍ بهارهم په خزان بدلېدل شروع سو، نو په سر کي يې سپين ورېښتان راغلل، هغې غريبي ټوله ځواني په څلورو دېوالو کي د خپل خاوند په انتظار کي تېره کړه.

کال نه وو، پنځه کاله نه وه، لس کاله نه وه، بلکي دېرش کاله زمانه تېره سوه، نه "فروخ" راغلئ او نه د "فروخ" څه خبر راغلئ.

د هغې زناني نظر په ډيرو انتظارو آخر ستړی سو، تر دې حده چي د خاوند د تللو دېرش کاله عمر تېر سو.

يوه ورځ تاريکه شپه ده يو بوډا سړی پر خپل اوښ باندي سپور په خاموشه طريقه سره او د شپې په يو څه تېره سوې حصه کي د مدينې په کوڅو کي را ننوتئ.

په دېرش کاله کي يو پوره نسل ختم سوی وو، هيڅ څوک يې نه پيژني چي دا بوډا څوک دئ چي په نابلده شکل د مدينې په کوڅوکي په توره تاريکه کي را روان دئ.
ليکن په حقيقت کي دا هغه بوډا وو، چي د مدينې منورې څخه دېرش کاله مخکي د يو ښائسته نوجوان په شکل د الله جل جلاله د دين د فاع د پاره وتلی وو.
چي کم چا خپله ځواني د اسلام په دفاع کي په بوډا والي بدله کړې وه، او چي کم چا د خپلي ځوانی بهار د الله تعالی پر نام باندي صدقه کړی وو، او په ستړيا کي غرق د يو نابلده انسان په شکل د مدينې په کوڅو او لارو کي را روان دئ.
د ډيري پرېشانی په حال کي چي معلومه نه ده زما هغه زنانه به ژوندی وي او که به مړه وي.
او دا نه ده معلومه چي د هغې په نس کي چي بچی وو، هغه به ژوندی وي او که به مړ وي که ژوندی وي هغه به نارينه وي او که به زنانه وي، او زما کور به پر هغه ځای وي او که به نه وي. او هغه زما پېژندونکي انسانان به ما وپيژني او که نه.
په دغه خيالاتو کي حيران او پرېشان دئ. د ډېر تلاښ او ګرځېدو څخه وروسته يې په يو مشکل باندي د خپل کور پر دروازه باندي ځان برابر کړئ. او د ځانه سره دا وايي: چي کېدای سي دا به زما هغه کور وي، چي زه د کم کوره څخه دېرش کاله مخکي وتلی وم.
نو په هغه کور را ننوتئ د اوښ آواز دئ، د ده د راکښته کېدو ږغ دئ او د توري او د زغري او جنګي لباس شرنګی دئ.
يو نوجوان په دې کور کي پروت دئ، چي سترګي يې را روښي کړې، نو که ګوري يو بوډا په زغرو کي پېچلی او توره په لاس کي د کور په مابين کي د خپل اوښه سره ولاړ دئ.

نو هغه نوجوان یو دم را وغورځېدئ، په هغه بوډا پوري و موښتئ، تر ګرېوان یې ونیوئ او ورته وایي: ای بوډا! ته نه شرمېږې چې د مسلمان و کور ته بغیر د اجازته ورننوزې؟

هغه بوډا خو د اول څخه لا په دې شک کي وو چې هغه به زما کور وي او که نه، او زما څخه وروسته به زما کورنۍ په هغه کور کي آباده وي او که به نه وي.

نو په ډېر خوف کي ورته وایي: بچیه! ما معاف که! زه خطاوتم زما دا خیال وو چې دا زما کور دئ.

هغه نوجوان ورته وایي: چې یو ځل د بل و کور ته بې اجازته راغلې او د دې سره دا هم وایې چې دا زما کور دئ، په دې بوډا والي کي پر دې درواغ ویلو شرم نه در ته درېږي؟ تر غاړه یې ونیوئ ورته وایي چې قاضي ته دي بېشوم او پر دې خپل جرم به سزا در کوي.

نو یو طرفته ځوان دئ او بل طرفته بوډا دئ. هغه ځوان د شناخته په شکل غوصه کوي او هغه بوډا د یو نابلده په شکل خپل عذرونه بېشوي او هغه نوجوان په ډېر لوړ آواز باندي غوصه ښکاره کوي او هغه بوډا په ډېر کمزوري آواز معافیاني طلبوي. او هغه نوجوان یې د قاضي طرفته کشوي او هغه بوډا په ډېر عجز او په زاریو ځان څني خلاصوي.

د هغه نوجوان مور په خونه کي بیده وه چې کله یې په پردي ږغ باندي سترګي را روښي سوې، نو را ولاړه سوه تر کړکۍ ورته ګوري چې د کور په مابین کي څه جنجال روان دئ.

دې چې کله ورته وکتل، نو هغه د حضرت فروخ رحمة الله علیه مخ دې ته مخامخ وو، نو په یو ثانیه کي د دې نظر دېرش کاله (۳۰) پخوا ته ولاړئ او ټوله ماضي او چې څه تېر سوي وه په یاد ورغله، دېرش کاله (۳۰) مخکي چې کم فروخ رحمة الله علیه پر آس باندي سپور دې رخصت کړی وو، نو هغه په نظر ورغلئ.

نو دې د خوني څخه چيغې او نعرې کړې، چې ربيعه! ربيعه! دا د هغه نوجوان نوم وو هغه نوجوان ورته وايي: څه وايې موري! نو مور يې ورته وايي: ته يې نه پېژنې ظالمه د خپل پلار سره په جګړه يې، دا ستا هغه پلار دئ چې د هغه په انتظار کي ستا د مور ټول عمر په تنهائي کي او په تورو دېوالو کي تېر سو.

حضرت "ربيعه" چې کله دا واورېده، نو د پلار په پښو پوري ور ومونښتئ او د پلار پښې ورمچوي.

په دې وخت کي د پلار او بچي د ملاقات منظر دئ، مځکه او آسمان يې ننداره کوي. په کم قسم چې د الله جل جلاله د دين دپاره سره جلا سوي وه، او څنګه جدائي وه؟ او څنګه بيا يو ځاى والي وو؟

کمه مځکه او آسمان چې ددين د دفاع په خاطر د امت د ملاقات دا منظرونه ليدلي وي، هغه مځکه او آسمان چې نن د امت پر حال ژړا نه وکړي، نو به څه وکړي؟

د پلار او زوى په مابين کي معافياني دي، قيصې دي او شپه ټوله په کار ګذارېو کي تېره سوه، د سهار آذان وسو، نو هغه نوجوان وختي مسجد ته ولاړئ او پلار وروسته مسجد ته پسي ورغلئ.

هغه بوډا چې کله لمونځ و کړئ، نو راغلئ د ډيري زمانې بعد د پيغمبر ﷺ روضه ته ودرېدئ او په ژړا باندي د پيغمبر ﷺ پر روضه باندي صلوة او سلام وايي. د صلوة او سلام ويلو څخه وروسته که ګوري، نو مسجد نبوي د انسانانو ډک دئ.

او په محراب کي د محمد رسول الله ﷺ پر مسند باندي يو نوجوان محدث ناست دئ، د حديثو درس کوي او په زرګونو شاګردان يې ځني ليکي دَى چونکه بوډا دئ او نظر يې کمزورى دئ، نو په ډېر دقيق نظر ورته ګوري، ليکن هغه محدث نسي ضحيح کولاى.

د مجمع په پای کې کښېنستئ او حدیث اوري، چې کله د حدیثو درس کیږي، نو د دہ و څنګ ته یو طالب ناست دئ، په خپل کاغذ باندي د حدیثو روایات لیکي.

د حدیثو د درس څخه وروسته دَی پوښتنه ځني کوي او ورته وایي:

- بچیه! دا محدث څوک دئ؟
- هغه ورته وایي: بوډا شاید د مدینې نه یې، چې دا محدث نه پیژنې؟
- نو هغه بوډا ورته وایي: بچیه! د مدینې خو یم، لیکن د ډېره څنده وروسته مدینې ته راغلئ یم.
- نو هغه نوجوان طالب په ډېر جوش کې ورته وایي: دا خو د ټولو مسلمانانو امام دئ، امام ربیعه، دا د امام مالک استاد دئ، د سفیان ثوري رحمة الله علیه استاد دئ او د امام ابو حنیفه استاد دئ. هغه په خپل جوش کې ده ته دا نمونه یادوي.

د عربو دا عادت وو چې هغوی به د زوی سره د پلار نوم یادوئ، نو د هغه بوډا د سترګو څخه اوښکې راغلې او ورته وایي:

- بچیه! ﴿لِمَ لَمْ تَنْتَسِبُهُ اِلَیَّ﴾ دا دې ولې معلومه نه کړه چې دا د چا بچی دئ؟ او ماته دې د ده نسبت ولې نه وکړئ؟
- نو هغه ورته وایي: چې د ده د پلار نوم فروخ رحمة الله علیه دئ، چې د الله جل جلاله په لار کې دېرش کاله مخکې وتلی دئ او د ترکستان په غزا کې ورک دئ، بیا تر اوسه پورې نه دئ راغلی.

نو هغه بوډا په مسجد نبوي کې د درس ختمېدو څخه وروسته چې کله کورته راغلئ، نو هغه زناني ته وایي:

- هغه زما پیسې دې په کم شکل خرځي کړي؟
- هغه ورته وايي: چې تا د خپلو پیسو ثمره نن په مسجد نبوي کې ولیده. آیا ته په هغه پیسو باندې ډېر خوشحاله کېږې او که په دا مثل بچې باندې؟
- نو دَی ورته وايي: په خدای دې مې قسم وي، چې دا ټوله دنیا په یو لاس کې را کېښېږدي، لا مې هم په دې بل لاس کې د دې بچې دا یو د حدیثو درس را ته محبوب دئ(١).

نو پر دې امت باندې الله تعالی داسې دور تېر کړی دئ، چې په هغه کې به مندو د خپلو بچیانو په داسې شکل باندې تربیت کوئ، چې هغوی به بیا د ټوله امت پېشوایان جوړېدل.
نو مونږ مخکې هم درته وویل چې په دې دنیا کې چې څومره مشهورې هستیانې تېرې سوې دي، که تاسو د هغوی حالات وګورئ. نو د هغوی تر شاه د خپلې مور تربیت، دعاء او محنت معلومېږي.
الله تعالی دې بچیانو ته توفیق ور کړي چې د خپل مور او پلار په صحیح طریقه سره خدمت وکړي.
الله تعالی دې مور او پلار ته هم توفیق ور کړي چې په ښه طریقه سره د خپلو بچیانو تربیت وکړي.
او الله تعالی دې دا څو خبرې په خپل دربار کې قبولې او مقبولې وګرځوي.

(آمین یارب العالمین)

وَصَلّٰى اللّٰهُ تَعَالٰى على خَيْرِ خَلْقِه مُحمّد وَآله و اصْحابه اجمعيْن

---

(١) الله کو اپنا بنالو صفحہ: ٧٩

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآیه)

# د صحابه کرامو په ذهنونو کې د آخرت فکر

## (بیان)

مولوي اطیع الله صاحب
استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:
مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه
کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقــــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مـقـــــــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود |
| اشـــاعـت | ثلـــــــــــــــورم |
| تـاريـــــخ | يكم ربيع الثاني ١۴٣٩ بمطابق يكم مي ٢٠١٨ |
| تـعـــــداد | (١١٠٠) |

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْداً کَثِیراً طَیِّباً مُبَارَکاً فِیْهِ مُبَارَکاً عَلَیْهِ کَمَا یُحِبُّ رَبُّنَا وَ یَرْضٰی وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی رَسُوْلِهٖ خَیْرِ الْهُدٰی وَعَلٰی اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ نُجُوْمِ الْاِهْتِدَاء.

اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم

قَالَ اللّٰهُ تَبَارَکَ وَتَعَالٰی: ﴿یَا اَیُّهَا النَّاسُ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّکُمُ الْحَیَاةُ الدُّنْیَا وَلَا یَغُرَّنَّکُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ﴾(١).

﴿وَ عَنِ الْقَاسِمِ ابْنِ مُحَمَّد رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَیهِ اَنَّ رَجُلاً مِن اَصحَابِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیهِ وَسَلَّم ذَهَبَ بَصَرُهُ فَعَادُوْهُ فَقَالَ کُنتُ اُرِیْدُهُمَا لِاَنْظُرَ اِلَی النَّبِیِّ فَاَمَّا اِذَا قُبِضَ النَّبِیُّ فَوَاللّٰهِ مَا یَسُرُّنِی اَنَّ مَا بِهِمَا ظَبْیٌ مِن ظِبَاءِ الذَّبَالَةِ﴾(٢).

اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلٰنَا الْعَلِیُّ الْعَظِیْمُ وَصَدَقَ رَسُوْ لُهُ النَّبِیُّ الْکَرِیْم وَنَحْنُ عَلٰی ذٰلِکَ مِنَ الشَّاهِدِیْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ.

## د عبارت ترجمه او مقصد:

حضرت قاسم ابن محمد رحمة الله علیه د مدینې منورې د "فقهاء سبعه" څخه ؤ او د حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه لمسی ؤ. الله تعالی ده ته په حدیث او فقه کې ډېر لوړ مقام ورپه نصیب کړی ؤ.

حضرت قاسم ابن محمد رحمة الله علیه فرمایي: چې د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم د صحابه ؤ رضي الله عنهم څخه د یو صحابي رضي الله عنه د سترګو بینائي ختمه سوه او په سترګو کې یې یو بیماري او ناجوري پیدا سوه چې د هغه په نتیجه کې یې سترګې ړندې سوې.

اوخلق به د هغه عیادت او پوښتني ته ورتلل او دده په ناجوړی به یې د افسو
اظهار کوی چې افسوس! ستا څنګه د سترګو بینائي ختمه سوه!!؟
پر دې افسوس کولو باندي هغه و دې خلقو ته عجیب جواب ورکوئ، داس
معلومیذله چې دده بینائي د حضور ﷺ په حیات طیبه کې لا ختمه سوې وه او
هغې وروسته بیا د حضور ﷺ وفات سوی ؤ.
بهر حال هغه دا جواب و دې خلقو ته ور کوی چې ای خلقو! ما ته د سترګو
بینائي خواهش صرف په دې وجه باندي ؤ چې په دې سترګو زه د حضور ﷺ
ښایسته سترګي او روښانه مخ مبارکووینم.
اوس چې کله حضور ﷺ د دنیا څخه رحلت وکړئ، ما ته د سترګو د بینائي
ذره خواهش هم نسته، بلکه که چیري ما ته الله تعالی ددې سترګو په بدل کې
صحرا د هوسیِ غوندي روښانه سترګي را په نصیب کړي لا به هم یوه
خوشحاله نه سم.
په دې وجه چې کله حضور ﷺ د دنیا څخه تشریف یووړئ او د دنیا څخه
رحلت وکړئ،، نو دده د تللو پس زما د هیڅ شي لیدلو ته زړه نه غواړي.

## د حضور ﷺ حقیقي عاشق:

بلکه هغه صحابي به دا ویل چې زما خواهش دادئ چې زه دي په دغه حال کې
څکه چې ما د حضور ﷺ څخه دا بشارت او زیری اوریدلی دئ.
او حضور ﷺ زما په مخ کې حدیث قدسي فرمایلی دئ: إِذَا ابْتَلَيْتُ عَبْدِي بِحَبِ
فَصَبَرَ، عَوَّضْتُهُ مِنْهُمَا الجَنَّةَ[1].
ترجمه: الله تعالی فرمایي: کچیري زه د یو بنده څخه دده هغه دوه (۲) محبو
شیان یعني سترګي واخلم چې هغه ده ته ډیري محبوبي دي او دا بنده پر
باندي صبر وکړي، نو ددې سترګو په عوض کې د دې بنده ته د جنت بدل ورکوم

---

(۱) بخاري شریف، حدیث نمبر ۵٦۵۳

په دې وجه هغه صحابي دا وايي چي دا وعده خو ما د حضورﷺ څخه اورېدلې ده؛ لهذا که چيري زه صبر وکړم، نو د الله تعالی د طرف څخه د جنت ګرځي او ذمه واري ده.
باقي په دې دنيا کي مي د محمد رسول اللهﷺ د ديد خواهش ؤ او هغه اوس نه سي کېدلای لهذا د دې سترګو د نا بينائی زما سره هيڅ پروا نسته. داد پېغمبرﷺ عاشقان صحابه کرامؤ.

## د يو بزرګ د حضورﷺ زيارت کول:

حضرت مُفتی محمد شفيع صاحب رحمة الله عليه ليکلي دي چي يو بزرګ د ډېره وخته دا تمنا درلوده چي کاشکي يو ځل مي په خوب کي د حضورﷺ زيارت په نصيب سوی وای او د ډيري عرصې او زمانې څخه يې دا خواهش ؤ او د زړه يې غوښتنه وه.
په خوب کي د حضورﷺ زيارت ډېر لوی نعمت دئ او په دې باره کي د بزرګانو خواهش او مزاج مختلف وي: د بعض بزرګانو دا تمنا وي چي په خوب کي الله جل جلاله د حضورﷺ زيارت را په نصيب کړي.
او د بعض بزرګانو بيا دا خواهش وي چي پر هغوی باندي دالله تعالی خشيت دونه غالب وي او دا وايي چي موږددې قابل نه يو چي د حضورﷺ زيارت وکړو، په دې وجه د حضورﷺ د زيارت تمنا هم نه کوي.
هغه بزرګ چي د حضورﷺ د زيارت تمنا اوخواهش درلودئ هغه د اول خواهش او مزاج والا بزرګ وو. الله تعالی يوه ورځ دده دا خواهش او تمنا ور پوره کړه او د پېغمبرﷺ زيارت يې په نصيب سو.
چي کله د پېغمبرﷺ په زيارت مشرف سو، نو په دغه خوب کي يې د پېغمبرﷺ څخه دا درخواست کوئ چي يا رسول الله! ته دعا وکړه چي زما د سترګو بينائي الله جل جلاله را څخه واخلي او د سترګو بينائي مي ختمه سي، او ستا د ديدار وروسته د بل چا ديدار کول مي زړه نه غواړي.

پیغمبر ﷺ په هغه خوب کې دعا ورته وکړه. نو چې کله د هغه بزرګ سترګې د خوب څخه را روښې سوې، نو بینائي یې ختمه سوې وه. او بیا یې ټوله زندګي یو شی هم په هغو سترګو نه ولیدئ.
الله جل جلاله چې کوموکسانو ته د عشق مقام په نصیب ورکړئ، نو هغوی د پیغمبر ﷺ د دیدار وروسته د سترګو د بینائي خواهش او تمنا پرېښول(۱).

## د خبري حقیقت:

خبره په اصل حقیقت کې داده چې الله تعالی دې خلقو ته د دنیا د حقیقت کشف ورکړی ؤ، مور او تاسو د دنیا په امورو کې شپه او ورځ داسې اخته یو چې تر نظر مو اوس د دنیا نفع نفع ده، او تر نظر مو د دنیا فایده فایده ده، او د دنیا راحت راحت بولو، او د دنیا تکلیف تکلیف بولو.
پر صحابه کرامو رضي الله عنهم باندې الله تعالی د دې دنیا حقیقت منکشف کړی ؤ.
د دوی په نظر کې د دنیا تکلیف او راحت څه حقیقت نه درلودئ. او نه د دوی په دماغو کې خپله دنیا څه حقیقت درلودئ.

## دنیا بې حقیقته ده:

حدیث شریف کې راځي چې پیغمبر ﷺ فرمایي: ﴿لَوْ كَانَتِ الدُّنْيَا تَعْدِلُ عِنْدَ اللهِ جَنَاحَ بَعُوضَةٍ مَا سَقَى كَافِرًا مِنْهَا شَرْبَةَ مَاءٍ﴾(۲).
ترجمه: کچیرې دنیا د الله جل جلاله په حضور کې د غوماشې د وزر برابر قدر درلودای، نو یو کافر ته به الله جل جلاله یو غړپ هم نه وای ورکړی.
لیکن چونکه دنیا د الله جل جلاله په حضور کې د غوماشې د وزر څخه هم زیاته بې قدره ده، لهذا کافرانو ته یې ورکوي، چې څومره مو زړه غواړي هغومره ورئ!

---

(۱) اصلاحي خطبات جلد ۱۷، صفحه ۲۴۱
(۲) سنن ترمذي حدیث نمبر ۲۳۲۰

مال يې ستاسو، دولت يې ستاسو، بادشاهي يې ستاسو، اقتدار او حکومت يې ستاسو. الله تعالی د خپلو محبوبو بندګانو دپاره په آخرت کي نعمتونه برابر کړي دي، او د آخرت نعمتونه د الله ﷻ په نظر کي حقيقي نعمتونه دي. د دنيا نعمتونه صرف دو که او د دو کې سامان دئ او عارضي نعمتونه دي.
بېشکه الله ﷻ دا دنيا زمونږ دپاره جوړه کړې ده، او دا يې را ته ويلي دي چي په جائزو حدودو کي به دننه د دنيا څخه نفعه اخلئ.
ليکن د خدای ﷻ دپاره د دنيا محبت و زړه ته مه اچوئ! او د دنيا حقيقت و پيژنئ! دا دنيا صرف تر منزله د رسيدلو پوري يوه لاره ده. او ددې راحت حقيقي راحت نه دئ او د دې تکليف حقيقي تکليف نه دئ.

## پر جسم اطهر د چټايي نشان:

نو دا وجه ده چي د نبي اکرم ﷺ واقعه په احاديثو شريفو کي راغې چي يو ځل نبي اکرم ﷺ د خپل کور په بالا خانه کي تشريف فرما دئ او په دې وخت کي د بعضو ازواجو مطهراتو د طرفه بعض داسي خبري سوې وې چي د هغه په وجه پيغمبر ﷺ دا مناسب وبلله چي څو ورځي کناره کشي اختيار کړي.
حضرت فاروق اعظم رضي الله عنه د ملاقات د پاره راغلئ د اجازت اخستلو څخه وروسته دننه کور ته ورغلئ که ګوري يوه حجره مبارکه ده چي بالکل خالي ده او په دې حجره کي سواء د چند پوستوکو څخه هيڅ شی هم نسته.
او پيغمبر ﷺ د خورما د پاڼو پر يوه چټائي باندي تشريف فرما دئ او د هغې چټائي نشانات د پيغمبر ﷺ په جسم مبارک کي معلوميږي.
حضرت فاروق اعظم رضي الله عنه فرمايي: چي زه کله دا منظر وينم چي د دواړو جهانو سردار دئ او په څومره ساده شکل سره د کجورو او خورماؤو د درختو د پاڼو پر چټايي باندي پروت دئ او د هغه چټائي نشـــانات دده پر جـــسم مبارک معلوميږي.

او بل طرفته قيصر او کسرا چي ځانونه د دنيا سُپر طاقتونه بولي د هغوی عاليشانه مکانات، د هغوی محلات او حشم ؤخدم د هغوی سره مال او دولت دئ، د هغوی سره اسلحه ده، هر څه ذ هغوی سره موجود دي.
ما دا خپل خيال د حضورﷺ سره شريک کړئ يعني ور ته بيان مي کړئ او ورته ومي ويل: چي يا رسول الله! زما په دماغ کي دا خيال راغلئ چي ته د الله تعالى څخه دا وغواړې چي تا ته هم دغسي ساز او سامان درکړي، لکه څنګه چي يې قيصر او کسرا ته ورکړي دي. او بيا ته دا ساز او سامان د دين په خدمت کي استعمال کړې.

## د پيغمبر عليه السلام جواب:

د دې په جواب کي پيغمبرﷺ راته وفرمايل: ﴿أَوَفِي شَكٍّ أَنْتَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ أُولَئِكَ قَوْمٌ عُجِّلَتْ لَهُمْ طَيِّبَاتُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا﴾.(١)
ترجمه: اى د خطاب زويه! آيا تر اوسه ته په دې فکر او سوچ کي مبتلا يې چي و کافرانو ته دنيا زياته حاصله سوه او زموږ سره دنيا نسته؟ دا خو هغه خلګ دي چي و دوی ته د راحت شيان الله تعالى په دنيايي زندګي کي ډېر ژر ورکړل او په آخرت کي د دوی دپاره هيڅ هم نسته.
په دې وجه و دوی ته عيش او عشرت، آرام او راحت په دنيا کي ورکړل سو.
ليکن زموږ او ستاسو دپاره الله تعالى د آخرت کورونه ښايسته کړي دي او د هغه ځای نعمتونه حقيقي نعمتونه دي؛ لهذا موږ بايد د دنيا تکليف او راحت په نظر کي را نه ولو او نه د هغه وطرفته التفات وکړو.

(١) بخاري شريف، حديث نمبر: ٢۴٦٨

## دا دنیا دي په دوکه کې وانه چوي!

در حقیقت د قرآن کریم داغه مضمون دئ، په قرآن کریم کي الله تعالی فرمایلي دي: ﴿لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي الْبِلَادِ (١٩٦) مَتَاعٌ قَلِيلٌ ثُمَّ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمِهَادُ (١٩٧)﴾([1])

یعني دا کافران چي کوم په دنیا کي مخته روان دي او دوی ته په دنیا کي ظاهراً ترقي په نصیب کیږي او خپلو ځانو ته ترقي یافته ممالک وایي او ټوله دنیا په دوی رشک او غبطه کوي د دوی مال، دولت او شوکت ته ګوري تاسو چي هرګز په دوکه نه سئ!

په دي وجه دا څه چي موږ و دوی ته په دنیا کي ورکړي دي ددې د ېر لږ مزه او خوند دئ چي دوی یې په دنیا کي څکي، د دې وروسته د دوی آخري ټیکانه او استوګن ځای جهنم دئ او هغه بد ترینه ټیکانه او استوګن ځای دئ.

لهذا ای ابن خطابه! کم شي چي ته په دوکه کي اچولی یې دا د دنیا مال او دولت او د دنیا عیش او آرام او د دنیا شان او شوکت دا ټوله چند روزه دي، هسي هم یو وخت ختم کیږي. دا نه ده معلومه چي یو انسان ته به تر کومه وخته او تر څو ورځو پوري حاصل وي. او د الله جل جلاله په حضور کي ددې هیڅ حقیقت هم نسته.

## دنیا یو پرده ده:

د دنیا چي کم حقیقت حال دئ هغه الله تعالی جل شانه پر دغه صحابه کرامو رضي الله عنهم باندي منکشف کړی وو، هغو ته دا معلومه وه چي په دنیا کي چي څه دي هغه صرف یو پرده ده او زموږ پر سترګو غوړېدلې ده او د دنیا عیش او آرام او د دنیا شان او شوکت مال او دولت دا صرف یو دوکه ده، اصل ژوند د دې څخه وروسته را روان دئ، هغه د آخرت زندګي ده هغه ابدي او دائمي او نه ختم کېدونکې زندګي ده.

---

([1]) سورة آل عمران، ۱۹٦، ۱۹۷ آیت

لهذا چي د دنيا حقيقت الله تعالی پر صحابه کرامو باندي ښکاره کړئ، نو هغوی ته د دنيا تکليف هيڅ تکليف نه معلومېدئ او نه د دنيا د راحت څه احساس ورته کېدئ، نو ځکه هغه صحابي ﷺ به ويل که سترګه ئي خو ولاړه دي سي؛ ځکه چي د هغې يوه فايده وه چي د نبي کريم ﷺ ديدار کول ؤ او هغه د دې سترګي په ذريعه کېدئ، چي کله اوس هغه فايده نسته، نو زما د سترګو په ړندېدو او ضائع کېدو هيڅ پروا نسته، که وي وي دي او که نه وي، نو نه دي وي.

## دصحابه کرامو ﷺ مقام:

دا مقام الله جل جلاله صحابه کرامو ته په نصيب ورکړی ؤ، په دې وجه حضور ﷺ د دوی په باره کی فرمايل: دا صحابه هغه مخلوق دئ ﴿فَلَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ أَنْفَقَ مِثْلَ أُحُدٍ ذَهَبًا مَا بَلَغَ مُدَّ أَحَدِهِمْ، وَلاَ نَصِيفَهُ﴾(١) تاسو چه په دې دنيا کي هر څومره عمل وکړئ تاسو د صحابه کرامو يو مد برابر بلکه د هغې نصف مد ته هم ځان نه سی رسولای؛ ځکه چي پر هغوی د دنيا حقيقت منکشف ګرځېدلی ؤ او د هغوی په زړه کي د دنيا بې حقيقتي ځای نيولی ؤ.

او بل طرف ته د صحابه کرامو په زړو کي د آخرت د سنګينۍ ډېر لوی احساس ؤ او آخرت هغوی په ډېره لويه سنګينه مسئله پيژندلی ؤ او سهار او مابنام د آخرت د فکر او تصور څخه يو ګړی غافل نه ګرځېدل.

## د حضرت عمر ﷺ فضائل:

حضرت عمر ﷺ هغه سړی ؤ چي پيغمبر ﷺ د هغه د اسلام راوړلو تمنا کوله.
يعني د پيغمبر ﷺ مراد ؤ.
پيغمبر ﷺ د شپې په نيمايي کي دا دعا غوښته:
﴿اللَّهُمَّ أَعِزَّ الإِسْلاَمَ بِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ خَاصَّةً﴾(٢)

---

(١) بخاري شريف حديث نمبر ٣٦٧٣

(٢) ابن ماجه، حديث نمبر ١٠٥

ترجمه: یا الله! د دی دوو عمرینو څخه یو راکړه!
یاالله! که ته زما څخه پوښتنه وکړې، نو زه عمر ابن الخطاب غواړم.
د چارشنبې او د جمعي د شپې په مابین کي رسول اللهﷺ دا دعا وغوښته یعني د پنجشنبې شپه وه او د پنجشنبې په ورځ الله تعالی حضرت عمرؓ په اسلام کي داخل کړئ.
چي کله حضرت عمرؓ "دارالارقم" ته د اسلام راوړلو د پاره را روان سو، نو جبرئیل آمین مخکي راغلئ ورته وایي: ای د الله رسوله! ﴿لَقَدِ اسْتَبْشَرَ أَهْلُ السَّمَاءِ بِإِسْلَامِ عُمَرَ﴾(١)
ترجمه: ده آسمان ملائکه تا ته د عمر په اسلام راوړلو باندي زیری در کوي او مبارکي پیشوي.
او کله چي ده اسلام قبول کړئ او کلمه یې وویله، نو په دارالارقم کي د صحابه کرامو د نعره تکبیر او الله اکبر د چیغو ږوږ سو، جبرئیل امین ورته وایي:
- ای د الله رسوله! ته د عمرؓ په اسلام ډېر خوشحاله ښکارې.
- پیغمبرﷺ ورته فرمایي: چي بې حده ډېر خوشحاله یم.
- جبرئیل امین ورته وایي: چي د آسمانو ملائکې هم دومره خوشحاله دي.

بیا جبرئیل امین راغلی د الله جل جلاله پیغام یې راوړئ چي ﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ حَسْبُكَ اللَّهُ وَمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ﴾(٢)
ترجمه: ای نبي! بس اوس دي د مومنانو ډله کافي ده: ځکه د عمرؓ په اسلام راوړلو باندي د مسلمانانو شمېر څلوېښتو ته ورسېدئ.

(١) ابن ماجه، حیث نمبر ١٠٣
(٢) سورة الانفال، ٦٤ آیت

او په دې وخت کې د مسلمانانو ډله د "دارالارقم" څخه د حضرت عمرؓ په اسلام راوړلو او د هغه په مشوره د باندي د مکې حرم ته راغلل.

د پیغمبرﷺ پر یو څنګ حضرت عمرؓ توره په لاس کي او پر بل څنګ یې حضرت حمزهؓ توره په لاس کي را روان دي. او اته دېرش (۳۸) صحابه کرامؓ تر شا په پسې دي او په حرم کي یې په جهریه او په ښکاره لمونځ ادا کړئ.

د قریشو ټوله سرداران د "ابوجهل" په شمول ټوله ور ته ګوري. حضرت عمرؓ ټولو ته وایي: کچیري څوک خپله زنانه کونډول او خپل بچیان یتیمانول غواړي، نو را مخ ته دي سي، لیکن د حضرت عمرؓ په مقابل کی هیڅوک د ړغ کولو جرأت هم نه لري.

او د عرفات په میدان کي پیغمبرﷺ موجود دئ او یو لک پنځه ویشت زره (۱۲۵۰۰۰) صحابه کرامؓ هم موجود دي او د ټولو صحابه کرامو مجمع د پیغمبرﷺ مخ ته ده په داسي حالت کي پیغمبرﷺ فرمایي:

الله تعالی زما په صحابه کرامو بالعموم فخر کوي او په عمرؓ بالخصوص فخرکوي. دا هغه عمرؓ وو چي دده د خلافت په دور کی په دوویشت (۲۲۰۰۰۰۰) لکه مربع میله مځکه کي کلمه د حق پورته او بلنده سوه.

دا هغه عمرؓ ؤ چي په کمه لار به تلی نو پر هغه لار به شیطان ضرور پرېښوولہ.

او د ده په حق کي به پیغمبرﷺ ویل: ﴿لَوْ كَانَ بَعْدِي نَبِيٌّ لَكَانَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ﴾(۱)

ترجمه: که چیري زما څخه وروسته نبي راتلای، نو هغه به عمرؓ وای.

زه لږ دغه مقام تاسو ته ښکاره کوم چي تاسو ته معلومات وسي چي هغه په کم حال کي د دنیا څخه رخصتیږي.

(۱) فضائل الصحابة لاحمد بن حنبل، حدیث نمبر ۶۹۴

او حضرت عمر ﷺ په عشره مبشره کي دوهم نفر وو، يعني چي په دنيا کي د جنت زيری ور باندي سوی ؤ په هغوی کي حضرت عمر ﷺ دوهم سړی وو؛ ځکه پيغمبر ﷺ به ويل:

﴿(١)اَبُوبَكرٍ فِي الْجَنَّةِ (٢)عُمَرُفِي الْجَنَّةِ (٣)عُثمَانُ فِي الْجَنَّةِ (٤) عَلِيٌّ فِي الْجَنَّةِ (٥)عَبْدُالرَّحْمان فِي الْجَنَّةِ (٦)وَطَلْحَةُ فِي الْجَنَّةِ (٧)وَزُبَيْرٌ فِي الْجَنَّةِ (٨)وَسَعْدٌ فِي الْجَنَّةِ (٩)وَاَبُوْعُبَيْدَةَ فِي الْجَنَّة (١٠)سَعِيْدٌ اَبُوالاَعْورِ فِي الْجَنَّةِ﴾.

په دې ډله کي يعني يو د دې لسو نفرو يقيني جنتيانو څخه عمر ﷺ هم ؤ.

او پيغمبر ﷺ ورته فرمايي: اى عمره! ما د معراج په شپه په جنت کي يو محل وليدئ، نو پوښتنه مي وکړه چي دا د چا دئ؟ ما ته وويل سوه چي دا د يو قريشي دئ. چي زه ورغلم د ننوتلو دپاره لېکن چي کله مي ستا نوم پر هغه محل ليکلی وليدئ نو بيا نه ور ننوتم چي ما ته ستا غيرت په ياد راغلئ چي د "عمر" غيرت به يې برداشت نه کړي چي زما څخه مخکي بَل څوک ورسي.

حضرت عمر ﷺ وژړل او ورته وايي: ﴿يَا رَسُولَ اللَّهِ، بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي يَا نَبِيَّ اللَّهِ، أَوَعَلَيْكَ أَغَارُ؟﴾(١).

ترجمه: آيا زه به پر تا باندي غيرت کوم اى د الله رسوله!.

## د حضرت عمر ﷺ د دنيا څخه رخصتېدل:

حضرت عمر ﷺ د سهار لمونځ ورکوي په نس کي په خنجر ووهل سو. چا ووهئ؟ يو کافر او مجوسي چي فيروز "ابو الؤلؤ" نومېدئ اوس يې په ايران کي قبر دئ او شيعګان په ډېر لوړ نظر ورته ګوري او د "ابو اللؤلؤ" بابا زيارت دوی ته ډېر قدر لري.

او په(٢٢) لکه مربع ميله مځکه کي د ده په وجه د اسلام کلمه غوړېدلې وه او پر لمانځه ولاړ مرګ ورته راغلئ.

---

(١) بخاري شريف حديث نمبر ٥٢٢٦

چې کله د مرګ آثار محسوس سوه، نو خپل بچی حضرت عبدالله ﷺ یې را وغوښتئ ورته ویې ویل: ام المؤمنین حضرت "عائشه" مبارکي ته ورسه او پوښتنه ځني وکړه چې عمر ﷺ د خپلو ملګرو محمد رسول الله ﷺ او ابوبکر ﷺ په اړخ کي ځای غواړي چې پکښي دفن سي، ستا اجازت سته که نسته؟

ای بچیه! دا ورته ووایه، وروسته کچیري اجازت وسو، نو ما هلته په حجره مبارکه کي دفن کړه او که اجازت و نه سو، نو بیا مي د عامو مسلمانانو هدیرې جنت البقیع ته یوسه!

او دا مه ورته وایه چې امیرالمؤمنین اجازت غواړي، بلکه داسي ورته ووایه چې عمر اجازت غواړي؛ ځکه اوس امیرالمؤمنین نه یم.

چې کله عبدالله ﷺ حجرې مبارکې ته ورغلئ د حضرت عمر ﷺ پیغام یې ورته پیش کړئ، نو حضرت عائشه ﷺ ورته فرمایي: دا ځای خو ما د خپل ځان دپاره منتخب کړی ؤ، لیکن کچیري د حضرت عمر ﷺ زړه غواړي، نو ده ته ددې ځای زما څخه زیات حق حاصل دئ، یعني دی تر ما ډېر حقداره دئ د دې ځای، نو زه دا وایم چې ﴿مَرحباً بعُمَر﴾ او زه ده ته اجازت ورکوم.

عبدالله ﷺ واپس راغلئ ورته وایي:

- زېری قبول کړه ای ابا جانه! اجازه وسوه.
- حضرت عمر ﷺ بیا ورته وایي: بچیه! ممکنه ده چې زما د شرم څخه دې اجازت در کړی وي، نو چې کله زما د جنازې لمونځ وسي، نو جنازه واخله او د حجرې مبارکي د دروازې سره یې نژدې کښېږده، نو بیا ورسه دوباره د "امّ المؤمنین" څخه اجازه واخله! کچیري دوباره اجازه وسوه. نو هلته مي ښخ کړه، ورنه جنة البقیع ته مي یوسه!

## د زکندن وخت:

چي کله د زکندن آخري سلګۍ دي سر يې د عبد الله ابن عمر ﷺ په غېږ کي دئ، نو دی مبارک وايي: بچيه! زما سر پر مځکه باندي کښېږده! هغه يې سر پر مځکه باندي کښېښوئ، نو دی خپل مخ مبارک په خاورو پوري مږي او په ژړا کي دا وايي: ﴿وَ يلٌ لکَ يَاعُمَرُ اِن لَمْ يَغفِر رَبُّکَ﴾.

ای عمره! ته به هلاک سې که ستا رب تا ته مغفرت ونه کړئ او معاف دي نه کړي.

او په ډېر زار او قطار او په ډېر افسوس دا ژړا کوي او مخ مبارک يې په خاورو لړلی دئ او په دغه حالت يې د شهادت کلمه وويله خپل روح يې رب ﷻ ته تسليم کړئ.

حالانکه د هغه مسئله خو حل وه؛ ځکه يو واز نه په ډيرو وارو يې د پېغمبر ﷺ څخه د جنت بشارت او زېری اورېدلی ؤ، ليکن د هغه باوجود دده مبارک آخري الفاظ دادي چي ای عمره! کچيري خپل رب ﷻ مغفرت نه درته وکړي، نو ته به هلاک سې(١).

## آخرت ډېره سنګينه او درنه مسئله ده:

زما ورونو! آخرت ډېره سنګينه مسئله ده، نن ټوله انسانيت د دنيا په مسائلو اخته دئ او خپل ځانونه يې پکښي ختم کړل حالانکه اصلي زندګي او اصلي مشکلات مخ ته راروان دي.

د حضرت علي ﷺ وينا مبارکه ده، هغه مبارک وايي: ﴿اَلنَّاسُ نِيَامٌ﴾ دا انسانان ټوله بيده او په حالت د خوب کي دي ﴿اِذا مَاتُوا انتَبهُوا﴾(٢) چي کله مرګ ورته

---

(١) بيات جميل جلد ٢، ص ٥١٨

(٢) احياء العلوم ٨ص

راسي، نو بیا به د خوبه را ویښ سي. او دا به ور معلومه سي چې دا دنیا محض یو خوب ؤ.
نن خو یو سړی خوب ویني چې په ښائسته کور کي ناست یم، یو سړی خوب ویني چې په کوډل کي ګوزاره کوم، یو سړی خوب ویني چې موټر چلوم او یوسړی خوب ویني چې رېړۍ چلوم.
او چې کله سترګي د دنیا څخه پټې سي بیا به معلومه سي چې هغه ښائسته کور او هغه مال او دولت څه سو؟ او دی به وایي چې هغه محض یو خوب ؤ.
ځکه مرګ ټول انسانان قبر ته رسوي او په مرګ به ټول سره برابر سي. نو حضرت عمر ﷛ په دغه وینا کي خپل روح و خدای ته تسلیم کړئ او جنازه یې راوړه د حجرې مبارکي و مخ ته یې کښېښول.
حضرت عبدالله ابن عمر ﷛ بیا ور مخ ته سو، حضرت عائشې ﷝ ته یې آواز وکړئ:

- اباجان حاضر دئ د دننه راتلو اجازت غواړي!
- حضرت عائشې مبارکي خپل پړونی را پورته کړئ او بهر راووتله او د جنازې خلق د ننه ورغلل قبر یې وکښئ.

حضرت عبدالله ابن عباس ﷛ فرمایي: زما پر وړه یو چا لاس را کښېښوئ ما چې ور ته وکتل هغه حضرت علي ﷛ ؤ ژاړي او وایي: ای عمره! په خدای قسم دا مي یقین ؤ چې دې ځای ته ستا څخه سوا بل څوک نه سي راتلای.
تاسو سوچ او فکر وکړئ! حضرت عمر ﷛ د مرګ په وخت دا غم کوي چې زه برباد سوم کچیري مي خپل رب ﷻ معاف نه کړي او موږ صرف پنځه وخته لمونځ کوو دا مو یقین دئ چې جنت زموږ دئ، لیکن نور مو د آخرت هیڅ سنګیني و زړه ته نه لویږي او نه یې احساس را سره سته.

## د حضرت علي ﷺ فضائل او د آخرت فکر:

حضرت علي ﷺ هغه سړی ؤ چې رسول الله ﷺ تر لاس ونیوئ او ورته وایي: ای علي! مبارک دې سه! په جنت کې زما او ستا کور مخامخ دئ.
او دا هغه سړی ؤ چې رسول الله ﷺ دده د بچیانو "حسن" او "حسین" په باره کې ویل: دا د جنت د نوجوانانو سرداران دي.
حضرت علي ﷺ هغه انسان ؤ چې نیمه شپه وه حضور ﷺ، حضرت علي، حسن، حسین، فاطمة الزهراء ﷺ پنځه سره یو ځای بیده وه، نو "حسن" تږی سو اوبه غواړي او خپل مور حضرت فاطمه ﷺ ته یې آواز وکړئ چې موري اوبه غواړم د مور د پورته کېدو څخه مخکې حضور ﷺ را پورته سو په غولي کې په یو منګي کې اوبه پرتې دې.
لیکن اوبه یې را وا نه خیستې او د باندي یوه بزه ولاړه ده چې هغه د ډېره وخته څخه وچه ده، یعني شیدې نه کوي خپل لاسونه مبارکان یې د هغه بزې پر غولانځه ونیول (دا دمبارک ﷺ معجزه وه الله تعالی په هغه غولانځه کې شیدې را وستې او تازه شیدې یې ولویشلې او لوښي یې په ډک کړل.
په دې دوران کې حضرت "حسین" هم تږی د اوبو په طمع دباندي راووتی او را مخ ته سو، پیغمبر ﷺ ورته وایي: صبر د "حسن" واری دئ اول "حسن" بیا "حسین" یې په هغه شیدو باندي اوبه کړل.
حضرت فاطمه ﷺ ورته وایي:

- یا رسول الله! پر تا باندي "حسن" ډېر ګران دئ، نو ځکه دي شیدې اول وار هغه ته ورکړې.
- پیغمبر ﷺ وایي: اول وار "حسن" تږی ؤ او طلب یې کوئ چې هر چا اول طلب وکړئ اول وار به د هغه وي او چې چا وروسته طلب وکړئ، نو هغه ته به وروسته میلا ویږي.

هسي دا خبره هم پر خپل ځای صحیح وه چي د پیغمبرﷺ د حسنؓ سره په نسبت د حسینؓ زیات محبت ؤ.(۱)

## د حضورﷺ سره مشابهت:

د سیرت کتابونه لیکي: چي حسینؓ د سره څخه بیا تر ملا پوري د حضرت علیؓ سره مشابه ؤ او د ملا څخه بیا تر پښو پوري د حضورﷺ سره مشاب ؤ او حسنؓ ددې بر عکس ؤ، یعني حسنؓ د سره څخه بیا تر ملا پوري حضورﷺ سره مشابه ؤ او د ملا څخه بیا تر پښو پوري د حضرت علیؓ سر مشابه ؤ.

په دې ټوله قصه کي د حضرت علیؓ سترګي هم نه سوې را رونې یعن راوینې هم نه سو او پیغمبرﷺ حضرت فاطمېؓ ته وایي: زه او ته او دا د بچیان او دا بیده انسان به په جنت کي یو ځای سره اوسیږو او یو ځای به ه استوګنه وي.(۲)

## د حضرت علیؓ د شپې مناجات:

د حضرت علیؓ د شپې مناجات په کوم شکل ؤ؟ ده به د شپې ټوله شپه په ژ تېره کړه، څنګه ژړا وه؟ هغه به داسي ژړل، لکه یو ماشوم چي مار خوړلی وي ژاړي.

او یو روایت کي راځي: ﴿یَبکی بُکاءَ الحَزین﴾(۳) زیاته د غمه ډکه ژړا او د زیا غمجن انسان غوندي ژړا وه. او پر څه باندي ژاړي؟ یو چا پوښتنه ځني وکړه ورته ویې ویل:

- ای علیؓ! ته پر څه باندي دومره زیاته ژړا کوې؟

---

(۱) بیانات جمیل، ۲ج، ۵۲۲ص

(۲) بیانات جمیل، ۲ج، ۵۲۲ص

(۳) صفة الصفوة الباب ابو الحسن علي بن ابي طالبؓ صفحه نمبر ۱۱۸

– ده ورته وویل: ﴿آه آه من قِلّةِ الزادِ وطُولِ السَّفرِ و وَحْشَةِ الطَّرِيقِ﴾[1] ای زما مولا! سفر ډېر اوږد دئ، عمل ډېر کم دئ او تلل هم يوازې دئ.

های زما مولا! د هغه چا چې په جنت کې يې کور د محمد رسول الله د کور مخ ته دئ د هغه عمل ډېر کم دئ او ټوله شپه په ژړا د خپل عمل د کمي په وجه باندي تيروي او زموږ به څه حالت وي؟

ای الله! زموږ پر حالت رحم وکړې! د آخرت او د دې سنګيني مسئلې مخ ته را تللو څخه چې کمې پردې زموږ پر عقلو پرتې دي یاالله! ته يې په خپل فضل سره پورته کړې!

## وابوذر غفاري ﷺ ته نصيحت:

پېغمبرﷺ به و ابوذر غفاري ﷺ ته ويل: ای ابوذره! توښه در سره واخله! سفر ډېر اوږد دئ او خپل بار لږ سپک کړه! ځکه مخ ته دره او غرنی لاره ډېره دشوار ګزاره ده، چې پر هغه ختل غواړي او ټوله بوج او بار پر خپله شا وړل غواړي؛ ځکه قرآن کريم وايي: دوی به را اخيستي وي خپل بوجونه پر خپلو شا ګانو باندی.

## دابودرداء ﷺ وينا:

په مشکوة شريف کي حديث مبارک دئ چي حضرت اُمّ درداء ﷺ فرمايي: ما به خپل خاوند ابودرداء ﷺ ته ويل چي ته ولي روزي نه ګټې او مزدوري نه کوې لکه خلق چي يې ګټي؟

ده به راته ويل: ما د پېغمبرﷺ څخه اورېدلي دي چي ستاسو مخ ته يوه لويه دره ده چي ډېره سخته دشوار ګزاره ده، چي د کوم چا بوج او بار دروند وي هغه پردې دره باندي عبور او تګ نه سي کولای، په دې وجه زه خپل بوج لږ سپکوم.

---

[1] صفة الصفوة الباب ابو الحسن علي بن ابي طالب ﷺ صفحه نمبر ۱۱۸

او پيغمبر ﷺ به و ابوذر ﷺ ته ويل: عمل لږ صفا در سره واخله! په دې وج
مخ ته تلاشي اخيستونکي ډير باريک بينه دي، هلته بيا ګډوډ عمل څوک ن
سي تېرولای.
نو حضرت علي ﷺ به د شپې په مناجات کې ډېر ژړل، هغوی آخرت پيژندی ا
موږ يې نه پيژنو، د هغوی سره د آخرت علم ور سره ؤ او زما او ستا سره نسته.
په دې وجه د حضرت علي ﷺ فرمان دئ: ﴿لَو كُشِفَ الغِطاءُ مَا ازدَدتُ اِيمانًا﴾(
کچيري زما د سترګو څخه پرده پورته سي او بعينه آخرت په سترګو راښکاره س
زما داسي پريقين دئ چي تر دې به مي نور يقين پرزيات نه سي.

## د عمرو بن العاص ﷺ آخري وينا او د آخرت فکر:

حضرت عمرو بن العاص ﷺ د مصر فاتح او د فلسطين فاتح هغه چي کله
مکې مکرمې څخه و مدينې منورې ته د اسلام راوړلو دپاره راغلئ عثمان ا
ابی طلحه ﷺ او خالد بن وليد ﷺ هم ور سره ؤ، د پيغمبر ﷺ مخ مبارک
خوشحالۍ څخه سرخ والی ښکاره کړئ او د سترګو څخه يې د خوشحال
اوښکي راغلې.
ويل به يې: په خدای قسم نن مکې مکرمې خپل زړه زموږ و طرفته را غورځول
دئ.
چي د ده مبارک د مرګ وخت راغلئ، نو مخ يې د دېوال و طرفته وګرځو
رواياتو کي راځي: ﴿فَبَكىٰ طَوِيلًا﴾ داسي طويله (اوږده) ژړا يې وکړه چي بالک
نه ختمېدله.
د ده بچي حضرت عبدالله ﷺ د ده څخه لوی صحابي ؤ، حضرت عبدالله ﷺ
خپل پلار په څو شيانو کي مشر ؤ: په مقام او مرتبه کي، په صحابيت کي، په ع
کي؛ ځکه د سابقينو صحابه ؤ څخه وو.

---

(۱) الذريعة الى مكارم الشريعة الباب توابع العقل صفحه نمبر ۱۴۹

بچی ورته وایي: ﴿أَمَا بَشَّرَکَ رَسولُ الله بِكَذا؟ أمَا بَشَّرَکَ رَسولُ اللهِ بِكَذا﴾(١)
ای پلار جانه! ته ولي ژاړې؟ تا خو د رسول ﷺ څخه د پر ځله بشارتونه اورېدلي دي ته ولی ژاړې؟
نو ده مبارک دا خپلي اوښکي وچي کړې مخ یې ورته را واړوی ورته وایي:
﴿إِنّيَ عَلَى أَطْبَاقٍ ثَلاثٍ﴾ زما په زندګي کي پر ما درې دوره راغلی دي:
١. يو دور هغه ؤ چي زه کافر وم زما د ټولو څخه لوی خواهش دا ؤ چي د محمد رسول الله ﷺ سر مبارک زما په توره والوزي، کچیري زه په هغه وخت مړ وای، نو یقیناً دوزخي وم.
٢. بیا پر ما باندي دویم دور راغلئ چي زما و زړه ته د اسلام حقانیت کښته سو او زه د اسلام راوړلو دپاره مدینې منورې ته راغلم او ما د محمد رسول الله ﷺ سره بیعت ته لاس را وړاندی کړو، نو پیغمبر ﷺ هم لاس را مخ ته کړئ او ما بیرته خپل لاس پر شا باندی ځني کش کړئ.
نو پیغمبر ﷺ راته وایي: ﴿مَا لَکَ يَا عَمرو؟﴾ څه پیښه سوه ای عَمروه؟ ما ورته وویل: ﴿أُرِيْدُ اَنْ اَشْتَرِطَ يَا رَسولَ الله﴾ زه یو شرط لګوم. ده مبارک را ته وویل ﴿تشترطُ مَا ذا؟﴾ څه شرط لګول غواړې.
ما ورته وویل: ﴿يُغفَرُ لي مَا سَلَفَ﴾ چي ما په زندګي کي د جهالت په وخت کي څه کړي دي د هغه معافی غواړم. نو پیغمبر ﷺ راته وویل: تا ته معلومات نسته ﴿اِنَّ الاسلامَ يَهدِمُ مَا كَانَ قَبلَهُ﴾(٢) په اسلام راوړلو سره مخکني ټوله ګناهونه معافیږي.
کاش ما په هغه ورځ د تیرو او راتلونکو ټولو ګناهونو بخښنه غوښتې وای، نو نن به زه د هر څه څخه خلاص وای! او په هغه ورځ زه سر کښته د خپلو ګناهونو په

(١) صحیح مسلم حدیث نمبر ١٩٢
(٢) مسلم، حدیث نمبر: ١٩٢

وجه د پیغمبرﷺ و مخ ته ناست وم ﴿مَا مَلَئْتُ عَيْنِيْ مِنْهُ حَيَاءً﴾ چي ما ته خپل عملونه او خپل گناهونه او دښمنياني په ياد راغلې.
نو ما د شرم او حيا په وجه په ټوله زندگي د پيغمبرﷺ و مخ مبارک ته په پراخ نظر نه دي کتلي، هميشه به سترگي کښته ناست وم. نن که څوک زما څخه د پيغمبرﷺ د حليې مبارکي او صورت پوښتنه وکړي، نو زه يې نه سم ورښولاى، نو کچيري په دغه دويم دور کي زه مړ واى، نو زه به يقيناً جنتي وم.

۳. ددې وروسته يو دريم دور راغلى چي پر موږ باندي د دنياداري او مال او دولت دروازې را خلاصي سوې او موږ په هغه کي هغه کارونه وکړه چي اوس دا راته معلومه نه ده چي زما رب به زما سره څه وکړي.

او بيا يې د آسمان و طرفته داسي دواړه لاسونه پورته کړل، ژړا يې شروع کړل او داسي يې ويل:

﴿لَابَرِئٌ فَاعْتَذِر وَ لَاقَوِيٌّ فَانْتَصِر وَ لَامُسْتَنْكِرٌ بَلْ مُسْتَغْفِرٌ﴾(١) اى زما الله زما سره هيڅ عذر نسته زه ستا لوى مجرم يم زه د خپلي پاکۍ دعوه نه سم کولاى.

﴿لَابَرِئٌ فَاعْتَذِر﴾ زما لمن داغداره ده زه هيڅ عذر نه سم پيشولاى.

﴿وَ لَاقَوِيٌّ فَانْتَصِر﴾ زه طاقت ور نه يم چي ستا سره طاقت او زور استعمال کړم.

﴿وَ لَامُسْتَنْكِرٌ بَلْ مُسْتَغْفِرٌ﴾ زه د خپلو جرمونو څخه انکاري نه يم، بلکه اقراري يم ستا څخه معافي غواړم.

(١) بيانات جميل، جلد ٢ صفحه ٥٢٥

او د لا اله الاالله کلمه يې ويله ويله لاسونه يې دواړه داسي سره ايله سوه او وفات سو. اناللهوانااليه راجعون

دا د صحابهؤ حالات وه او دا د هغوی د آخرت خوف او بېره وه، حالانکه دا اکثر هغه کسان وه چي د پيغمبرﷺ د خولې مبارکي څخه يې د جنت زيري اورېدلي وه، ليکن بيا هم د آخرت څخه دومره په خوف او بېره کي وه.

افسوس! زه او ته چي په دنيا کي هيڅ د ښه عمل اطمنان را سره نسته بيا هم د آخرت څخه دومره زيات په غفلت کي وخت تېروو، د سهار څخه تر ماښامه پوري د دنيا په طلب کي ليوني او سرګردانه يو.

کچيري دنيا او د دنيا ګټه په لاس راغله، نو بيا به خوشحاله او په اطمنان يو، که نه نو بيا به پرېشانه او خزان يو.

حالانکه دا دنيا چيشي ده؟ او د دنيا ګټه چيشي ده؟ دا صرف زموږ د امتحان دپاره يو خوشرنګه او خوشنما پرده ده چي زموږ پر سترګو غوړېدلې ده، اصل زندګي د آخرت ده او اصله زندګي هلته شروع کيږي چي دانسان سترګي د دنيا څخه پټي سي.

نو ځکه حضرت علي رضي الله عنه فرمايي: دنيا صرف يو خوب دئ ﴿اَلنَّاسُ نِيَامٌ﴾ لکه د دنيا خلق چي اوس په خوب بيده سي ځوک يو شی په خوب ويني چي دا زما دئ او ځوک بل شی په خوب ويني چي دا زما دئ ﴿اِذا ما تُوا اِنتَبَهُوا﴾(¹) چي کله مړه سي، نو د دنيا د خوبه به د دوی سترګي راويښي سي، بيا به دوی ته معلومه سي چي هغه زما مال څه سو؟ او زه څه سوم؟ او و زړه ته به يې ولويږي چي يقيناً يو خوب ؤ او را باندي تېرسو.

(¹) موارد الظمان لدروس الزمان الباب امور و احوال تتعلق بحالة الاحتضار صفحه نمبر ۲۱۵

الله تعالی دي مو په زړو کي د دنيا حقيقت ښکاره کړي. او الله تعالی دي مو په دماغو کي د آخرت فکر پيدا کړي. او الله تعالی دي په دا يو ځو خبرو د عمل کولو توفيق را نصيب کړي. او الله ﷻ دي دغه ځو مختصري خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي. آمين

وَ آخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآيه)

# د روژې د میاشتې غوښتنه

## (بیان)

مولوي اطیع الله صاحب
استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:
مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه
کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــریر | الحاج مولوي اطیع الله صاحب |
| ترتیب وتخریج | مفتـي حـافـظ کلیم الله صاحب |
| مـقــــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشــــاعـت | خلـــــــــــــــورم |
| تــاریـــــــخ | یکم ربیع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق یکم مي ۲۰۱۸ |
| تــعـــــــداد | (۱۱۰۰) |

اَلْحَمْدُ للهِ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيْهِ مُبَارَكًا عَلَيْهِ كَمَا يُحِب رَبُّنَا وَ يَرْضٰى وَالصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰي رَسُوْلِه خَيْرِالْوَرٰى وَعَلٰى آلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ نُجُوْمِ الْاِهْتِدَى.

اَمَّابَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنزِلَ فِيْهِ الْقُرآن هُدًى لِلنَّاسِ وَ بَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدى وَالْفُرْقَان فَمَنْ شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهر فَلْيَصُمْه﴾(١).

وَقَالَ رَسُوْل اللهﷺ: ﴿اَلصَّوْمُ لِيْ وَ اَنَا اَجْزِيْ بِهٖ﴾(٢).

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيْم، وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## د برکت والا میاشت:

محترمو مشرانو! د روژې مبارکه میاشت شروع کېدونکې هغه به کم مسلمان وي چې د دې میاشتې د عظمت او برکت څخه ناخبره وي.

الله ﷻ دغه میاشت د خپل عبادت دپاره پیدا کړې ده، دا یو معلومه خبره ده چې الله ﷻ په دې میاشته کې د خپلو بندګانو و طرف ته داسې عجیب عجیب نعمتونه را استوي چې موږ او تاسو د هغه رحمتو تصور او فکر هم نسو کولای. په دې میاشت کې بعضې داسې اعمال دي چې هغه هر مسلمان ته ور معلوم دي او عام مسلمانان په هغه باندې عمل هم کوي مثلاً په دې میاشت کې روژې فرض دي "الحمدلله" د مسلمانانو سره د روژې نیولو توفیق وي او داغه رنګه د

(١) البقره: آیت ۱۸۵

(٢) ترمذي شریف حدیث نمبر ۷۶۴

تراویحو په باره کې دا معلومه ده چې سنت دي عام مسلمانان په هغه کې په شوق سره شریکان کیږي.
لېکن زه په دې مختصر وخت کې د دې میاشتې پر یو بل اړخ یو څو خبرې کوم الله تعالی دې یې قبولې او مقبولې وګرځوي (آمین).
عام طور د انسانانو په دماغ کې دا خبره وي چې د روژې مبارکې خصوصیت صرف دا دئ چې د ورځې به انسانان روژه نیسي او د شپې به تراویح کوي او د دې څخه علاوه نور هیڅ خصوصیت نه لري.
په دې کې خو هیڅ شک نسته چې روژه نیول او تراویح کول د دې میاشتې اهم عبادات دئ لېکن خبره پر دغه ځای ختم نه ده بلکه په حقیقت کې د روژې مبارکه میاشت زموږ او ستاسو څخه یو څه نوره مطالبه هم لري.
الله جل جلاله په قرآن کریم کې فرمایي: ﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾(۱).
ما جنات او انسانان صرف د عبادت دپاره پیدا کړي دي په دې آیت کریمه کې الله تعالی د انسانانو د تخلیق بنیادي مقصد دا ښوولی دی چې هغوی د الله تعالی عبادت وکړي.

## د فرشتو عبادت جلا قسم دئ:

پر دې ځای باندې بعضو خلکو ته خاص کرییا دا روښن خیالو خلکو ته دا شبه ور پیشیږي چې که چیري د انسان د پیدائش مقصد صرف عبادت دی نو د عبادت دپاره د انسان د پیدا کولو څه ضرورت وو ځکه عبادت خو د اوله څخه فرشتو په ښه طریقه سرته رسوئ او د الله تعالی په عبادت او تسبیح او تقدیس کې اخته وې.
دغه وجه ده چې کله الله تعالی د حضرت آدم علیه السلام د پیدائش اراده وکړه او فرشتو ته یې داوویل چې: ﴿إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً﴾(۱) زه په مځکه کې یو انسان پیدا

---

(۱) سورة الذاريات: آیت ۵۶

کوم نو فرښتو دستي په جواب کي ورته وويل: ﴿قَالُوٓا۟ أَتَجۡعَلُ فِيهَا مَن يُفۡسِدُ فِيهَا وَيَسۡفِكُ ٱلدِّمَآءَ وَنَحۡنُ نُسَبِّحُ بِحَمۡدِكَ﴾(۲) ته هغه څوک په مځکه کي پيدا کوې چي هغه به فسادونه جوړه وي اوويني به تويه وي كه ته د عبادت اراده لرې نو عبادت خو مونږ په ښه طريقه سره کوو.

دغه رنګه د نن سبا اعتراض کونکي هم دغه اعتراض کوي چي كه چيري دانسان دپيدايش مقصدصرف عبادت وي نود دې دپاره دانسان پيداکولوضرورت نسته ځکه دعبادت مقصد خو فرښتې په ښه طريقه سره سرته رسوي.

## دفرشتوعبادت د فرشتو کمال نه دئ:

بيشکه د الله ﷻ فرښتې د الله ﷻ عبادت کوي ليکن د هغوی عبادت جلا قسم دئ او د انسان پر ذمه چي کم عبادت دئ هغه جلا قسم دئ ځکه فرښتې چي کم عبادت کوي د هغوی په مزاج کي د عبادت پرېښولو امکان نسته كه هغه وغواړي چي عبادت پرېږدي نو دا نه سي کولای، ځکه چي په دوی کي د عبادت پرېښولو صلاحيت نسته.

الله ﷻ په دوی کي د ګناه کولو امکان ختم کړی دئ نه دوی ته لوږه راځي نه دوی تږي کيږي نه په دوی کي شهواني تقاضاوي سته حتی چي د دوی په زړو کي د ګناه وسوسه لا هم نه را ګرځي د ګناه خواهش او پر ګناه اقدام کول دا خو ليري خبره ده.

په دغه وجه الله ﷻ دوی ته پر عبادت کولو أجر او ثواب نه ورکوي ځکه فرښتې كه ګناه نه کوي په دې کي د دوی څه کمال نسته نو پر ګناه نه کولو يې د جنت والا اجر او ثواب هم نه مرتب کيږي.

---

(۱) البقرة آيت نمبر ۳۰

(۲) البقرة آيت نمبر ۳۰

## د راندہ د بدنظرۍ څخه بچاوېدل څه کمال نه دئ:

مثلًا یو انسان مورزاده ړوند دئ هغه په ټوله عُمر کې نه فِلم لیدلی دئ او نه یې تی وي کتلی دئ او نه یې پر غیر محرم زنانه نظر اچولی دئ تاسو نه ګورئ! په ګناه نه کولو کې د دې سړي کمال ښکاره نه سو په دې وجه چې په دې انسان کې د بدنظرۍ د ګناه کولو څه صلاحیت نه وو.

لېکن یو بل انسان دئ چې د هغه نظر بالکل صحیح دئ چې شی یې زړه غواړي هغه کتلای سي لېکن د لیدلو د صلاحیت سره سره چې کله د دې سړي په زړه کې د یو حرام شي د لیدلو تقاضا پیدا سي نو فورًا صرف د الله ﷻ د ییرې څخه خپل نظر کښته کوي.

اوس په ظاهر دغه دواړه انسانان د ګناه څخه بچاو سول لېکن د دواړو په بچاوېدو کې د ځمکې او د آسمان فرق دئ اول انسان هم د ګناه څخه بچاو دئ او دوهم انسان هم د ګناه څخه بچاو دئ لېکن د اول انسان د ګناه څخه بچاوېدل څه کمال نه دئ ځکه په هغه انسان کې د ګناه کولو صلاحیت نه وو او دوهم انسان چې د ګناه د صلاحیت سره خپل ځان د ګناه څخه بچاووي دغه یې کمال دئ.

## دغه عبادت د فرشتو په وس کې نسته:

لهذا که چیرې ملائکه د سهار څخه تر ماښامه خوراک ونه کړي دا د هغوی کمال نه دئ ځکه چې هغوی نه وږي کیږي او نه د خوړکې حاجت لري نو ځکه الله ﷻ د دوی پر خوراک باندې دوی ته څه اجر او ثواب نه ورکوي.

لېکن انسان د دې ټولو حاجتو سره الله پیدا کړی دئ انسان که هر څومره لوړ مقام ته ورسیږي حتی که د ټولو څخه لوړ مقام یعني نبوت ته ورسیږي لا هم دی د خوړکې څخه نسي مُستغني کېدای لکه کفارو به پر انبیاؤ علیهم السلام دغه اعتراض کوئ: ﴿وَقَالُوا مَا لِهَذَا الرَّسُولِ يَأْكُلُ الطَّعَامَ وَيَمْشِي فِي الْأَسْوَاقِ﴾(۱).

(۱)سورة الفرقان آیت۷

یعني دغه څنګه رسول دئ چي خوراک هم کوي او په بازارو کي هم ګرځي نو د خوراک د تقاضا څخه انبیاء کرام علیهم السلام هم نه دي مستغني.
اوس که چیري یو انسان وږی وي لېکن د الله جل جلاله د حکم په وجه خوراک نه کوي نو دغه د دې انسان کمال دئ په دې وجه باندي الله جل جلاله د فرشتو په جواب کي و فرمایل چي زه یو داسي مخلوق د عبادت دپاره پیدا کوم چي هغه به وږي هم وي او تنده به هم لري په هغه کي به د شهواني تقاضاوو پرځای کولو صلاحیت هم وي او د ګناه داعیې او وسوسې به هم په هغه کي وي.
لېکن چي کله د ګناه وسوسه راسي په هغه وخت کي به هغه ما یادوي او زما د یادېدلو په وجه به خپل ځان د ګناه څخه بچاووي د ده دغه عبادت او د ګناه څخه بچاوېدل زما په حضور کي ډېر لوړ قدر او قېمت لري چي د هغه د اجر او ثواب او بدله ور کولو دپاره ما یو داسي جنت تیار کړی دئ چي د هغه جنت صفت دا دئ: ﴿عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ﴾(۱).
څکه د ده په زړه کي د ګناه داعیه او وسوسه راغله د ګناه خواهشات پیدا سوه لېکن دې انسان زما څخه د بیري او زما د عظمت په خاطر خپله سترګه د ګناه څخه بچاو کړه او خپل غوږونه یې د ګناه څخه بچاو کړه او خپله ژبه یې د ګناه څخه بچاو کړه او د ګناه وطرفته یې پورته سوي قدمونه و درول د دې دپاره چي الله جل جلاله ناراضه نسي اوس دغه عبادت د فرشتو په وس کي نسته الله جل جلاله د دغه رنګه عبادت دپاره انسان پیدا کړی دئ.

## زموږ ځانونه پر الله جل جلاله خرڅ سوي دي:

چي کله د انسان د پیدایش مقصد عبادت دئ د دې تقاضا خو داده چي د کمه وخته څخه انسان دنیا ته راغلی دئ، نو د سهاره څخه تر ماښامه پوري د عبادت څخه علاوه بل کار نه وکړي او نه وده ته د بل کار اجازت وسي.

(۱) آل عمران آیت نمبر ۱۳۳

لکه یو بل ځای کې هم داسې الله جل جلاله په قرآن کریم کې فرمایي: ﴿إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ﴾(۱) یعني الله جل جلاله د مؤمنانو څخه د دوی ځانونه او مالونه رانیولي دي او د دې په عوض کې د دوی دپاره په آخرت کې جنت تیاکلی دئ.

چې کله زموږ ځانونه پر الله جل جلاله خرڅ سوي دي نو دغه زموږ سره موجود ځانونه په حقیقت کې زموږ نه دئ بلکه دا خرڅ سوی مال دئ او د دې بدل د جنت په شکل کې زموږ دپاره تیاکل سوی دئ نو چې کله دا ځانونه زموږ نه دي نو د دې تقاضا دا ده چې دا خپل ځانونه او جسمونه د الله جل جلاله د عبادت څخه سوا په نورو کارو کې و نه لګوو.

لهذا که موږ ته د الله جل جلاله د طرفه دا حکم وسي چې تاسو به د سهار څخه تر ماښام پورې د بل کار اجازت نه لرې بس صرف پر سجده به پراته یاست او الله الله به وایاست! نه د ګټلو اجازت سته نه د خوراک کولو اجازت سته نو د الله جل جلاله دغه حکم به زموږ سره بې انصافي نه وي ځکه چې الله جل جلاله پیدا کړي د دغه عبادت دپاره یو.

## قربان تر داسې خریدار:

لېکن قربان تر داسې خریدار چې هغه الله جل جلاله دئ چې زموږ ځانونه او مالونه یې هم را څخه رانیولي دي او د هغوی قیمت یې هم پوره راته لګولی دئ چې هغه جنت دئ.

بیا یې واپس هغه ځانونه او مالونه بیرته موږ ته راسپارلي دي چې دغه ځان او مال تاسو د ځان سره وساتئ او موږ ته یې د دې خبرې اجازت راکړی دئ چې تاسو په دې ځان او مال خوراک کوئ چښل کوئ او د دنیا کاروبار په کوئ.

(۱) التوبه آیت نمبر ۱۱۱

بس پنځه وخته لمونځ کوئ! او د چند ګناهو څخه پرهيز وکئ نور چي مو څنګه زړه غواړي هغسي کوئ دا د الله ﷻ زموږ سره ډېر لوی احسان او شفقت دئ.

## د خپل پيدائش مقصد ته راګرځېدل:

لېکن الله تعالى ډېر حکيم ذات دئ الله تعالى په دې باندي ښه عَالِم دئ چي کله انسان د دنيا په کاروبار او مصروفياتو کي اخته سي نو کرارکرار د ده پر زړه د غفلت پر دې غوړېږي او د خپل پيدايش مقصد او د خداي ﷻ و حضور ته پيشېدل او جنت او دوزخ د ده د ذماغه ليري کيږي.

د دې غفلت د ليري کولو دپاره الله ﷻ وقتًا په وقتًا څه اوقات مقرر کړي دي په هغه کي يوه د رمضان المبارک مياشته ده؛ ځکه چي د کال په يوولس مياشتو کي انسان د دنيا په مصروفياتو کي لکه زراعت، تجارت، خوراک کولو کي مشغول وي او په هرنګه مجلسو کي شرکت کوي د دې په نتيجه کي د انسان پر دل او دماغ باندي د غفلت پردې خوري سي.

نو الله ﷻ د روژې مياشته د دې دپاره مقرره کړې ده، چي ته په دې مياشته کي د خپل پيدائش مقصد يعني عبادت وطرفته راوګرځه، چي دکم مقصد دپاره ته الله ﷻ ودنياته رااستولی ئې اوچي دکم مقصد دپاره ته الله ﷻ په دنيا کي پيدا کړی ئې، په دې مياشته کي د الله ﷻ هغه مقصد سرته ورسوه.

په يولس مياشتو کي چي ستا څخه کمي ګناوي سوي دي هغه دخپلي عملنامې څخه معاف که او په زړه باندي چي کمه خيره راغلې ده هغه صفا که او پر دماغ چي کمي دغفلت پردې غوړيدلي دي هغه پورته که، نو د دغه دپاره الله تعالى دغه مياشته مقرره کړې ده.

## د رمضان معنى:

درمضان دلفظ خلګو ډيري معناګاني بيان کړي دي، لېکن په عربي ژبه کي اصلي د رمضان معنى سوځوونکې ده، او دې مياشتي ته دغه نوم ځکه اېښودل

سوی دی چي اولنی ځل چي د دغه میاشتي روژه پر انسانانو فرض سوه، په دغه کال کي د دیري ګرمۍ په خاطردغه میاشته خلګو سوځوونکې بلله نو په دې وجه خلګود دې نوم رمضان کېښېښووی.

## د خپلو ګناهو بخښل:

لېکن علماؤ کرامو لیکلي دي، چي و دې میاشتي ته رمضان په دې وجه وایي چي په دې میاشته کي الله تعالی په خپل رحمت سره او په خپل فضل وکرم سره د بنده ګناهونه معافوي او سوځي یې او د دې مقصد دپاره الله جَلَّ جَلَالُهٗ دغه میاشته پیدا کړې ده.

یوولس میاشتي انسان د دنیاپه مصروفیاتو کي مشغول وي، او د هغې په خاطر د انسان پر دل او دماغ د غفلت پردې خورې سي، په دغه زمانه کي انسان په مختلفو خطاوو ګناوو کي مبتلا سي.

په دې دولسمه میاشته کي د الله تعالی په حضور کي حاضرېږي، او خپل ګناهونه به د عمل نامې څخه معافوي اودغفلت پردې به ددماغه څخه پورته کوي چي دانسان دزندګۍ یونوی دورشروع سي په دې وجه الله تعالی په قرآن کریم کي فرمایلي دي﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾(١).

یعني دغه روژې پر تاسو باندي په دې وجه فرض کړل سوي دي چي په تاسو کي تقولی پیدا سي نو د رمضان المبارک اصل مقصد دا دئ چي د تېر کال ګناهونه بخښل او د غفلت پر دې د زړه څخه پورته کول او د را روان وخت دپاره په زړو کي تقولی پیدا کول.

لکه یو ماشین چي خلګ یو څه زمانه استعمال کړي نو د هغه وروسته د هغه ماشین سرویس او صفایي کوي، دغه رنګه الله تعالی د انسان د سرویس او

---

(١)سوره بقره آیت ۱۸۳

صفايي دپاره دا مبارکه مياشته مقرره کړې ده چي په دې مياشته کي د ګناهونو څخه خپل ځان صفاء کړي او خپلي زندګۍ ته يو نوي شکل ورکړي.

## دا مياشته عبادت ته فارغه کول:

لهذا صرف د روژې نيولو او د تراويح کولو ترحده پوري خبره نه ده ختم بلکه د دې مياشتي تقاضا دا ده چي انسان به په دې مياشته کي خپل ځان د نورو کارو څخه فارغه کوي، د کم عبادت دپاره چي الله جَلّ جَلالُه دئ پيدا کړی دئ دا مياشت به په هغه عبادت کي تيروي.
نو د انسان دپاره مناسب دا ده چي د دې مياشتي ټوله اوقات ياکم ازکم اکثره اوقات يا چي د انسان څومره وس وي د الله تعالى په عبادت کي صرف کي او د دې دپاره د مخکي څخه لاتيار اوسي.

## د ګناه پرېښول:

لېکن د نفلي عباداتو څخه که هغه نفلي لمنځونه دي. که نفلي ذکرونه دي، که د قرآن کريم تلاوتونه دي، زموږ په معاشره کي د دې ټولو څخه يو کار ډېر اهم او مقدم دئ چي د هغه وطرفته دعامو انسانانو توجه نسته.
هغه کاردا دئ چي په دې مياشته کي د ګناهو څخه ځان محفوظه کول دي، چي په دې مبارکه مياشته کي زموږ څخه يوه ګناه هم ونسي، سترګي د غلط نظره څخه را ګرځول، غوږ د غلط اورېدلو څخه راګرځول، او د ژبي څخه غلطه کلمه نه را ايستل، او د الله جَلّ جَلالُه د معصيت څخه مکمل پرهېز کول.
که چيري يو انسان په دې مبارکه مياشته کي په دغه رنګه د ګناهو څخه ځان محفوظ کړي، بيا که په ټوله مياشته کي يو رکعت نفلي لمونځ هم ونه کړي او نه تلاوت وکړي او نه ذکر و اذکار وکړي، لېکن دګناهو څخه د حفاظت په شکل دغه مياشته تېره کړي، نو دا انسان قابل د مبارکۍ دی او دغه مياشته : ده دپاره مبارکه ده.

یوولس میاشتې خو انسان په هر قسم حالاتو کې راځي، او د الله ﷻ دغه یوه میاشته کم ازکم د ګناهو څخه خپل ځان باید وساتي.
او په دې میاشته کې د الله ﷻ نافرماني ونه کړي درواغ ونه وایي، په دې کې غیبت ونه کړي، په دې کې وعده خلافي ونه کړي، او په دې کې د مسلمانانو سره خیانت ونه کي، او په دې کې رشوت ونه خوري، او په دې کې سود ونه خوري.

## دا به څنګه روژه وي؟

مونږ او تاسو خو روژې په ډېر شوق او ذوق سره نیسو، لېکن د روژې څه معنٰی ده؟ د روژې معنی داده: د خوراکه څخه پرهېز کول، د چیښلو څخه پرهېز کول، او د نفساني خواهشاتو څخه ځان ساتل، د دې درې شیانو څخه اجتناب په روژه کې ضروري دئ.
اوس تاسو وګورئ! دا درې شیان في نفسه حلال دي، خوراک حلال دئ چیښل حلال دي، او په جائز طریقه سره د زوجینو نفساني خواهشات پوره کول حلال دي، اوس د روژې په دوران کې انسانان د حلالو شیانو څخه پرهېز کوي نه خوراک کوي نه چښل کوي.
لېکن چې کم شیان د اوله سره څخه حرام دي مثلا درواغ ویل، غیبت کول، بدنظري کول، چې په هرحال کې حرام دي په روژه کې دغه ټوله کوي اوس روژه یې هم نیولې وي دروغ هم وایي، روژه یې هم نیولې وي غیبت هم کوي، او روژه یې نیولې وي بدنظري کوي، د وخت او تیم پاسولو دپاره ګنده ډرامې او فلمونه ګوري آخر به دا څنګه روژه وي؟
په دې وجه په حدیث شریف کې پیغمبر ﷺ فرمایي حدیث قدسي دئ چې الله تعالی فرمایي: ﴿مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّوْرِ وَالعَمَلَ بِهِ فَلَيْسَ لله حاجَةٌ فِيْ اَنْ يَّدَعَ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ﴾.

چي کم سړی د روژې په حالت کي دروا غ نه پرېږدي، نو الله تعالی فرمايي چي ماته د ده دوږې او تږې او سېدلو هيڅ حاجت نسته(١).
ځکه درواغ د مخکي څخه حرام دي هغه نه پرېږدي، نو چي خوراک وڅښاک يې پرېښول نو دغه سړي کم لوی عمل وکړئ؟

## د روژې نورانيت او برکت ختمېدل:

د درواغوسره روژه نيول که څه هم په فقهي اعتبار سره روژه صحيح ده که يو څوک د يو "مُفتي" څخه پوښتنه وکړي چي ما روژه تيولې وه او درواغ مي هم وويل دا روژه مي صحيح ده؟
نو هغه "مُفتي" به دغه جواب ورکړي چي روژه خو صحيح سوه او قضا يې واجب نه ده لېکن د دې روژې د صحيح کېدو سره سره بايد روژاتي د دې د ثواب او د نورانيت او د برکاتو د حاصلولو طمع ونه لري ځکه چي ده د روژې واصل روح او مغز ته ځان نه دئ رسولی.
ځکه د پيغمبر ﷺ حديث مبارک هم دئ: ﴿كَم مِن صَائِمٍ لَيسَ مِنْ صِيَامِهِ اِلَّا الظَّمأُ وَكَمْ مِنْ قَائِمٍ لَيسَ مِنْ قِيَامِهِ اِلَّا السَّهَرُ﴾.
دېر داسي روژاتيان به وي چي تېوله ورځ به يې روژه وي او ورځ به په تنده ور باندې تېره سي او د ماځيګر د روژه ماتې په وخت کي به نور هيڅ ثواب په لاس ورنسي، او دېر داسي تراويح کونکي انسانان به وي چي د تراويح او پېشلمي سره سره بغير د بدخوابی څخه به نور هيڅ په لاس ورنسي(٢).
دا هغه کم قسمته روژاتيان وي چي د روژې په ورځو او شپو کي د ګناهو څخه د خپل ځان حفاظت نه کوي.

---

(١) مشکوة عن ابی هريره مرفوعا صفحه ۱۷۴
(٢) مشکوة عن ابی هريره مرفوعا صفحه ۱۷۷

## د روژې میاشت بغیر د ګناه تېرول:

په ټولوکې اولنی د اهتمام وړ کار دا دئ چې کله انسان روژه ونیسي خپل ځان باید د ګناهو څخه محفوظ وساتي، د خپلو سترګو باید حفاظت وکړي، او د خپلو غوږو باید حفاظت وکړي، او د خپلو ژبو حفاظت وکي.

حضرت ډاکټر عبدالحی رحمة الله علیه خو تر دې حده پورې فرمایلي دي: چې زه تاسو ته یوه خبره کوم شاید بل څوک به یې نه درته وکړي، هغه خبره دا ده چې خپل نفس ته یو قسم لالچ ورکړئ او په نفس دغه وعده وکړئ چې ای نفسه! دغه یوه میاشته بغیر د ګناه تېره کړه.

چې کله دغه میاشته تېره سي بیا چې ستا زړه غواړي هغه کوه چنانچه ده مبارک فرمایلي دي: چې د الله جل جلاله د رحمته څخه دا اُمید دئ چې کله دغه یوه میاشته بغیر د ګناه تېره سي، نو الله جل جلاله به د دې په برکت د ده په زړه کي د ګناه پرېښولو داعیه او تقاضا ورواچوي.

هر سړی دې په خپل ګرېوان کي وګوري چې زه په کمو کمو ګناهو اخته یم بیا دې د هغوی ټولو په باره کي دا عهد وکړي چې زه به خپل نفس په دې میاشته کي د ګناهو څخه محفوظ ساتم.

نو د ګناه پرېښول د دې میاشتې د ټولو څخه لویه او اهمه مطالبه ده.

## دوهم اهم عمل:

دوهمه اهمه خبره چې حضرت ډاکټر عبدالحي رحمة الله علیه به فرمایل:

چې کم از کم په دې یوه میاشته کي د خپل ځان دپاره او د خپلو بچیانو دپاره پر روژه مات او پېشلمي باندي د حلال رزق اهتمام کول. چې کمه لقمه (ګوله) چې زما تر کوره را ورسېده، او په کمو بوټو باندي زما په کور کي پخه سوه.

که چیرې حلاله وې نو په بسم الله سره تر ستوني تېرول او که چیرې حرامه وې نو د خپل ځان او د بچیانو حلق د هغه څخه محفوظول.

داسې نه وې چې روژه خو د الله ﷻ د پاره نیول سوې ده خو په حرام سره سړی افطارکوي، په سود باندې سړی روژه مات کوي، یا د رشوت په نفقه باندې روژه مات کوي، یا په حرامه آمدني باندې روژه مات کوي، ایا دا به څنګه روژه وي؟

چې پېشلمی هم په حرامه وي او روژه مات هم په حرامه وي او په مابین کې روژه د الله ﷻ د پاره وي دا روژه به د الله ﷻ په حضور کې څنګه قبولیت پیدا کړي نو خاصکر په دې میاشته کې د حرامي نفقې څخه ځان بچاوول، او د الله ﷻ څخه دا غوښتنه کول، چې یاالله! زه رزق حلال خوړل غواړم او ما د رزق حرام څخه محفوظه وساتې.

## پر حرامه نفقه باندې وعید:

د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک دئ:

﴿إِنَّ لِلّٰهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى مَلَكًا عَلَى بَيْتِ الْمُقَدَّسِ يُنَادِيْ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ مَنْ أَكَلَ حَرَامًالَمْ يَقْبَلِ اللّٰهُ مِنْهُ صِرْفًا وَ لَاعَدْلًا حَتّٰى يَخْرُجَ ذَالِكَ الْحَرَامُ مِنْ بَيْتِهِ فَإِنْ مَاتَ عَلَى ذَالِكَ فَأَنَا بَرِيْءٌ مِنْهُ﴾.

الله تعالی پر "بیت المقدس" یوه فرښته مقرر کړې ده چې روزانه د شپې او د ورځې دا آواز کوي چې د کم سړي نفقه حرامه سوه د هغه نه نفلي عبادت قبول دی نه فرضي عبادت ترڅو پورې چې یې دغه حرام د کوره څخه نوي ایستلي که د داغه حرامو په حالت کې ده ته مرګ راغلی زه د ده څخه بېزاره یم([1]).

نو په روژه کې دو هم اهم عمل د حرامي نفقې څخه ځان ساتل دي.

داغه رنګه پیغمبر ﷺ په یو بل حدیث مبارک کې فرمایي:

---

([1]) احیاء العلوم ج ۲ ص ۸۹

﴿أَخرِجُوا الْأَمَانَةَ مِن بُيُوتِكُمْ وَرُدُّوهَا إِلَى أَرْبَابِهَا فَإِنْ لَمْ تَفعَلوا فَلَن تَنفَعَكُمْ أَعمَالُكُمْ شَيْئًا وَلَايَنفَعُكُمْ قَوْلُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ مَعَ الْحَرَامِ فِي الْبَيْتِ﴾.

امانت د خپلو کورو څخه وباسئ! او تر خپلو خاوندانو پوري يې رسوئ او که تاسو داسي نه وکړئ، نوستاسو نيک اعمال تاسوته فائده نه کوي او نه کلمه د "لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ" تاسو ته فائده در رسولای سي، تر څو چي امانت ستاسو په کورو کي وي([1]).

د دې مطلب دا دئ چي سړی په امانت کي خيانت کوي نود "لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ" د کلمې سره سره د خيانت د عذابه څخه نه بچاويږي.

## د حرام مال خوراک ډېر خطرناکه دئ:

د حرام مال په باره کي د پیغمبر ﷺ حديث مبارک دئ:

﴿لَوْ أَنَّ أَصْحَابَ الْمَالِ الْحَرَامِ اُسْتُشْهِدُوْا فِي سَبِيلِ اللهِ سَبْعِيْنَ مَرَّةً لَمْ تَكُنِ الشَّهَادَةُ لَهُمْ تَوْبَةً وَ تَوْبَةُ الْحَرَامِ رَدُّهُ إِلَى أَرْبَابِهِ وَالْإِسْتِحْلَالُ مِنْهُمْ﴾.

حرام مال والا انسانان په جهاد في سبيل الله کي اويا واره شهادت پیدا کي لا به هم دغه شهادت ددوی دپاره توبه نه جوړيږي دحرام مال څخه توبه داده چي دامال حرام خپلو مالکانو ته ورسول سي یادامال حرام دمالکانو طرفه دخپل استعمال دپاره دانسان دپاره حلال وګرځول سي([2]).

نو خاص بيا په روژه کي د خپل ځان حفاظت دخپلو بچیانو حفاظت دخپل روژه مات اوپیشلمي حفاظت بايد انسان ضرورو کړي.

([1]) بحر الدموع صفحه نمبر ۲۵۲

([2]) طبراني کبير ج ۱۹ ص ۱۹۲

## حلال مال د حکمت او هدايت ذريعه ده:

نو دانسان دپاره خاص د روزۍ دپاره د حلال مال پيدا کول ډير ضروري دي ځکه په دې سره الله تعالى دانسان په زړه کي حکمت اوهدايت پيداکوي ځکه دپيغمبر ﷺ حديث مبارک دئ:

﴿مَنْ اَكَلَ الْحَلَالَ اَرْبَعِيْنَ يَوْمًا نَوَّرَ اللهُ قَلْبَهُ وَاَجْرَا يَنَابِيْعَ الْحِكْمَةِ عَلٰى لِسَانِهِ وَيَهْدِهِ اللهُ فِي الدُّنْيَا وَ الآخِرَةِ﴾.

چي کم سړی څلويښت ورځي مسلسل حلاله نفقه وخوري الله تعالى به د ده زړه منور کړي او د ده پر ژبه به د حکمت او دانايي چشمې جاري کي او په دنيا او آخرت کي به هدايت ور نصيب کړي(۱).

## د اوس وخت د سوده ډک کاروبار:

موږ او تاسو الله جل جلاله عجيب د فتنو په دور کي پيدا کړي يو، چي عام طور علماء کرام او تبليغيان او صوفيان هم د هغه فتنو څخه محفوظ نه دي د نن سبا په دور کي يو کاروبار سته خاص د "پاکستان" په دې لويو ښاروکي لکه "کراچي" وغيره چي د خلکو څخه پيسې جمعه کوي او بيا پر پيسو باندي پيسې ګټه ورکوي او ظاهرًا نوم د مضاربت ورکوي.

لېکن که سړی حقيقي معلومات وکي په حقيقت کي نه کاروبار سته او نه مضاربت دئ بلکه صرف د سود يوه دروازه ده چي پر دې انسانانو يې را خلاصه کړې ده او دا يې شرط پکښې لګولی دئ چي خاص به په دې کاروبار کي د دين داره خلکو پيسې لګول کيږي د هرچا پيسې هم نه قبلوي.

"مُفتي احمد ممتاز صاحب" الله جل جلاله دي د ده په عمر کي برکت واچوئ هغه دا وايي چي ما د دې خلکو سره مجلسونه کړي دي او د دوی د کاروبار په باره کي

(۱)حليه ابونعيم ج۵ص۱۸۹

مې ډېر زیات معلومات کړی دئ او د "پاکستان" ټوله لوی ښارونه مې غوښتي دي نه په حقیقت کې کاروبار سته او نه مضاربت سته.
اصلي حقیقت یې دا دئ چې د یهودو یو سازش دئ، او د یهودو پیسې دي، چې خاصکر د دین داره خلګو نفقه ور خرابه کي، او دین داره خلګ په سودي کاروبارو کي مبتلا کړي، او چې کله د دې انسانانو نفقه خرابه سوه نو بیا به خود به خود دوی د دماغه څخه د دین د خدمت او حفاظت فکر لیري کیږي.
د "پاکستان" د علماؤ استاذ کل حضرت مولنا سلیم الله خان رحمة الله علیه د ټولو علماؤ او تبلیغیانو او صوفیانو پر نامه باندي په خپل لاس سره یو تحریر لیکلي دئ، او په ټوله "پاکستان" کښې یې شائع کړی دئ.
او په هغه تحریرکښې یې دغه خواست کړی دی چې د خدای جل جلاله په خاطر دغه کاروبارنه دئ دا صرف د یهودو یو فتنه او سازش دی د دین داره طبقې په حرامو کي اخته کولو دپاره د دې څخه د خپل ځان حفاظت وکړئ او دا صریح سود دئ.
او د سود متعلق باید انسان هغه وعیدونه په دماغ کي راو ګرځوي چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم د سود متعلق بیان کړی دئ.
پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي ﴿إِنَّ الرِّبَاءَ نَيِّفٌ وَسَبْعُوْنَ بَابًا أَهْوَنُهُنَّ بَابًا مِنَ الرِّبَاءِ مِثْلُ أَتَى أُمَّهُ فِي الْإِسْلَامِ وَ دِرْهَمٌ مِنَ الرِّبَاءِ أَشَدُّ مِنْ خَمْسٍ وَثَلَاثِيْنَ زَنْيَةً﴾.
پیغمبر صلی الله علیه وسلم د سود په باره کي فرمایلي دي چې د سود د اویا (۷۰) څخه زیاتي دروازې دي په دې کي تر ټولو کمترینه دروازه د ګناه داسي ده لکه: (نعوذبالله) سړی چې د خپل مور سره په حالت د اسلام کي بدکاري او زنا کوي او د سود یو درهم خوړل د پنځه دیرش (۳۵) واره زنا څخه هم ډیر سخت دي(۱).
نو پکار دا ده چې دا د شریعت مسئلې دي په دې باره کي د علماؤ کرامو خبرو ته انسان غوږ کښیږدي چې علماء کرام کم کار حلال بولي هغه د ځان دپاره حلال

(۱) رواه البیهقي عن ابن عباس باختصار ص۲۹۹ ج۵

وګڼي او چي علماء کرام کم کار حرام بولي که په هغه کي هر څومره ګټه هم وي هغه د ځان دپاره حرام وبولي او د دې حرامي امدنۍ څخه ځان وساتي.

## د حرام کاروبار څخه ځان ساتل:

موږ او تاسو باید په خپلو کاروبارو کي فکر وکړو، او حرام کاروبار د خپل ځان د معاش دپاره ذریعه جوړه نه کړو، بعضي حضرات هغه دي چي د هغوی بنیادي ذریعه د معاش الحمدلله د حرامو څخه نه وي بلکه حلاله وي.

لېکن د اهتمام نه کولو په وجه یو څه د حرامي ګډوډي ور سره راسي، د داسي حضراتو دپاره د حرامو څخه ځان بچاوول ګران کار نه دئ کم ازکم په دې میاشته کې دي د خپل کاروبار اهتمام وکړي او د حرامي آمدنۍ څخه دي ځان وساتي.

دا عجیبه قصه ده چي د دې میاشتي په باره کي الله تعالی فرمایلي دي چي دا د صبر میاشته ده، او دا د همدردۍ میاشته ده، او دا د غم خوارۍ میاشته ده.

لېکن په دې میاشته کي د غمخوارۍ بجائ خلګ د خلګو څخه د پوستو کښلو په فکر کي دي چي څنګه د رمضان المبارک میاشته شروع سي دلته خلګ ملاوټ ګډوډي او ذخیره اندوزي ورسره شروع کي.

او د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک دئ ﴿مَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا﴾.

چي کم سړی ملاوټ کوي یا په کاروبار کي ګډوډي کوي هغه زموږ د ډلي څخه نه دئ(۱).

## کچیري آمدني مکمله حرامه وي نو بیا؟

بعض حضرات هغه دي چي د هغو ذریعه د آمدنۍ په مکمل طور باندي حرامه وي مثلا هغه په حرام کاروبار کي اخته وي، یا د یو غلطي اداري ملازم یا نوکروي داسي حضرات به په دې میاشت کي څه کوي؟

(۱) مسلم شریف حدیث نمبر: ۱۰۱

حضرت ډاکټر عبدالحي رحمة الله علیه الله تعالی دي د ده درجات بلند کړي، هغه د هر انسان دپاره لارښوولې ده، هغه به فرمایل:
چې زه داسې سړي ته چې د هغه مکمل آمدني حرامه وي دا مشوره ورکوم که چیرې د ده په وس کې وي نو د روژې په میاشته کې دې حرام کاروبار پرېږدي او د حرامې ادارې څخه دې چټې واخلي، او کم از کم په دې میاشته کې دې د خپل ځان او د بچیانو د خرچ دپاره د حلال رزق انتظام وکړي، او د یو جائز آمدنی ذریعه دې اختیار کړي.
که دا هم نسي کیدای بیا دې په دې میاشته کې د خپل خرچ دپاره د یو چا څخه قرض واخلي او په دماغ کې دې دغه سوچ او فکر کښېنوي چې زه به په دې میاشته کې د حلالې نفقې څخه خوراک کوم او په خپلو بچیانو به حلاله نفقه خورم کم ازکم دومره خو دې وکړي.
نو دوهم اهم کار په دې روژه کې دا دئ چې انسان د خپل ځان دپاره او د بچیانو دپاره د حلالې نفقې بندوبست وکي.

## په روژه کې غصه نه کول:

دریمه ضروري او اهمه خبره چې د هغه خاص د روژې د میاشتي سره تعلق دئ هغه دا ده: چې په دې میاشته کې د غصې څخه اجتناب او پرهېز کول چنانچه د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک دئ چې دا د صبر میاشته ده او دا د غمخوارۍ او د همدردۍ میاشته ده.
لهذا د غصې څخه او بیا خاص د غصې په وجه چې کمې ګناوې د انسان څخه کیږي مثلا جنګونه کول، د انسانانو زهیرول او یو بل ته ښکنځل کول، او یو پر بل باندې لعنت ویل، د دې شیانو څخه د پرهیز اهتمام کول.
ځکه د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک دئ پیغمبر ﷺ به تر دې حده فرمایل: ﴿وَاِنْ جَهِلَ عَلَى اَحَدِكُمْ جَاهِلٌ وَهُوَ صَائِمٌ فَلْيَقُلْ اِنِّي صَائِمٌ﴾.

یعني که یو سړی ستا سره د جهالت او د جګړې خبرې کوي او د جګړې په شکل ستا مخ ته راځي نو ته دا ورته وایه چې زما روژه ده زه د جنګ کولو د پاره تیار نه یم نه په ژبه سره جنګ کولو ته تیار یم، او نه په لاس سره(۱).

د دې څخه باید انسان پرهېز وکړي دا د ټولو څخه بنیادي کار دئ.

انسان که په کورکې وي او که د کور څخه د باندې وي او د ده د طبیعت خلاف کار راسي باید پر دې باندې صبر وکړي ځکه پیغمبرﷺ ویلي دي چې دا د صبر میاشت ده او هغه د خښم غړپ باید انسان تېر کړي.

## د غصې خوړلو انعام:

د پیغمبرﷺ حدیث مبارک دئ:

﴿مَا مِنْ جُرْعَةٍ اَحَبُّ اِلَى اللهِ مِنْ جُرْعَةِ غَيْظٍ كَظَمَهَا رَجُل﴾ یو غوړپ هم داسې نسته چې د الله جل جلاله په نزد د هر خوښ وي د غصې تر غوړپ چې انسان یې تیر او زغم کړي(۲).

﴿وَ مَنْ كَظَمَ غَيْظًا وَهُوَ قَادِرٌ عَلَى اِنْفَاذِهٖ مَلَأَ اللهُ قَلْبَهٗ اَمْنًا وَ اِيْمَانًا﴾ او پیغمبرﷺ به داغه رنګه دا هم ویل چې کم انسان خپله غصه کنټرول کي حالانکه د هغه غصې پر کښلو باندې قادر هم وي، نو الله تعالی به د ده زړه په امن او ایمان باندې معمور او آباد ولري(۳).

---

(۱) ترمذی حدیث نمبر ۷۶۴

(۲) درمنثور ج ۳ ص ۱۲۰

(۳) مسند احمد ج ۲ ص ۱۲۸

﴿وَدَعَاهُ اللهُ عَلَى رُؤُوسِ الْخَلَائِقِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُخَيِّرَهُ فِي أَيِّ حُوْرٍ شَاءَ﴾ داغه رنګه حضرت معاذ بن انس ﷺ به د پیغمبر ﷺ څخه دا حدیث دا رنګه هم روایت کوئ چې پیغمبر ﷺ به فرمایل چې کم انسان خپله غصه په کنټرول کې راوسته الله تعالی به یې د قیامت په ورځ د ټولو اقوامو د عالم په مخ کې را طلب کړي او د ټولوانسانانو د صفو پر سرو باندې به یې خپل حضور مبارک ته را واړوي او ده ته به دا اختیار ورکړي چې د جنت کمه حوره چې د ده زړه غواړي د خپل ځان دپاره دې خوښه کړي(۱).

نو په دې میاشته کی اهم عمل داٗ دی چې انسان پر خپله غصه باندې کنټرول راولي ځکه دا د غمخواری او همدردی میاشته ده، د غمخواری او همدردی تقاضا دا ده چې په دې میاشت کې به انسانانو ته تکلیف نه ورکوي.

بیا خاصکر د ښکنځلو څخه ځان ساتل ځکه د پیغمبر ﷺ حدیث شریف دئ ﴿إِذَا تَسَابَتْ أُمَّتِيْ سَقَطَتْ مِنْ عَيْنِ اللهِ﴾.

چې کله په اُمت کې ښکنځل دېر سي هغه امت د الله تعالی د رحمت د نظره څخه لیري سي او که پر هغه امت باندې هر څومره تکلیفونه راسي الله ﷻ بیا په هغه امت باندې خواه نه بدوي(۲).

(۱)مسند احمد ج۳ ص۴۴۰

(۲)کنز العمال حدیث نمبر: ۶۰۷۰

## په روژه کي نفلي عبادات زيات کول:

تر کمه حده پوري چي د عباداتو تعلق دئ ټول مسلمانان ماشاالله په دې پوهيږي چي روژه نيول، او تراويح کول، دا ضروري دي، او د تلاوت د قرآن کريم د دې مياشتي سره خاص مناسبت دئ.

چنانچه نبي کريم ﷺ به د روژې په مبارکه مياشته کي د حضرت جبرائيل عليه السلام سره د پوره قرآن کريم دور او تلاوت کوئ، نو چي څومره زيات د انسان وس وسي په دې مياشته کي دي د قرآن کريم تلاوت وکي، د دې څخه علاوه په ناسته او په ولاړه د تګ او راتګ په حالت کي بايد د انسان پر ژبه د الله تعالی "ذکر" وي.

او د دريمي کلمې چي "سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُلِلّٰهِ وَلَا اِلٰهَ اِلَّااللهُ وَاللهُ اَکْبَر" او د "درود شريف" او د "استغفار" په کثرت سره اهتمام وکي او نفلي عبادات چي څومره يې په وس کي وي هغومره دې وکړي.

او په عامو ورځو کي د شپې را پورته کېدل او د تهجد د لمانځه کولو موقع عامو انسانانو ته نه ميلاويږي، لېکن د روژې په مبارکه مياشته کي چونکه انسان د پېشلمي دپاره راکښېني نو لږ دي دمخه را کښېني د پېشلمي څخه مخکي د تهجد کول دي د ځان معمول جوړ کړي.

او په دې مياشته کي دي په لمانځه کي خشوع او نارينه دي د با جماعت لمانځه کولو اهتمام وکړي، دا ټوله کارونه بايد په دې مياشته کي انسان وکړي ځکه دا د دې مياشتي د خصوصياتو څخه دي.

لېکن ما مخکي هم درته وويل: د دې ټولو نفلي عباداتو څخه مخکي زيات اهم کارونه هغه درې دي.

۱. د ګناهو څخه د پرهېز کولو فکر کول.

۲. د ځان او د بچيانو دپاره حلاله نفقه پيدا کول.

۳. د غصې او د جګړې او د ښکنځلو کولو څخه ځان ساتل.

الله تعالی دې موږ ټولو ته پردې خبرو باندې د عمل کولو توفیق راکړي.
او د رمضان المبارک د انواراتو او برکاتو څخه دې په صحیح طریقه سره د نفعې اخستلو توفیق راکړي، او الله تعالی دې دغه ټو خبرې په خپل دربار کې قبولې او مقبولې وګرځوي.(آمین)

وَاٰخِرُدَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآیه)

# د روژې حکمتونه

(بیان)

مولوي اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقــــرير | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مقــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشــاعـت | ثلــــــــــورم |
| تـاريــــخ | يكم ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق يكم مي ۲۰۱۸ |
| تـعــــداد | (۱۱۰۰) |

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيْهِ مُبَارَكًا عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَ يَرْضٰى وَالصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهِ خَيْرِ الْوَرٰى وَعَلٰى آلِهِ وَ اَصْحَابِهِ نُجُوْمِ الْاِهْتِدٰى.

اَمَّابَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ (۱۸۳) أَيَّامًا مَعْدُودَاتٍ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ﴾(۱).

وقال رسول اللهﷺ ﴿إِذَا دَخَلَ رَمَضَانُ فُتِّحَتْ أَبْوَابُ الجَنَّةِ، وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ جَهَنَّمَ وَسُلْسِلَتِ الشَّيَاطِينُ وَفِي رِوَايَةٍ فُتِحَتْ اَبْوَابُ الرَّحْمَةِ﴾(۲).

**تمهيد:**

محترمومشرانو! ستاسوپه مخ کې ما د قرآن کريم يو آيت پېش کړئ او داغه رنګه ما ستاسو په مخ کې د پيغمبرﷺ يو روايت پېش کړئ.

دقرآن کريم ددې آيت او د پيغمبرﷺ د دې حديث مبارک دواړوتعلق د يو اهم عبادت او د يو اهم حکم او د اسلام د يو بنيادي رکن سره دی چې هغه روژه مبارکه ده.

روژه مبارکه د اسلام په ارکانوکې څلورم رکن دی،او روژه مبارکه په "مدينه منوره" کې په دوهم کال د هجرت پر پيغمبرﷺ فرض سوې ده،په قرآن کريم کې د روژې تاکيد په ډيرو آياتو کې سوی دی، او په ډيرو آياتو کې الله جل جلاله مسلمانانو ته د روژې نيولو حکم کړی دئ.

(۱) البقره آيت ۱۸۳

(۲) بخاري شريف حديث نمبر: ۳۲۷۷

د پیغمبر ﷺ په احادیثو مقدسوو کې د روژې فضائل او مسائل ډېر زیات راغلي دي.

او د فقهاء کرامو په نزد د روژې پر فرضیت باندې اتفاق او اجماع ده، په دې وجه که سړی د روژې د فرضیت څخه انکار وکړي، نو هغه سړی د اسلام په دائره کې داخل نسي پاته کیدای، بلکه د کفر دائرې ته وزاوښتونکی بلل کیږي، داغه رنګه په روژه باندې مسخرې کونکي هم زموږ په دین کې کافر بلل کیږي.

د حضور اکرم ﷺ یو لک پنځه ویشت زره زیات ؤکم صحابه کرام ؓ راغلي دي په دې ټولو کې نه یو روژه خور راغلی دئ او نه یو بې لمانځه راغلی دئ او نه یو ډېره خره یونکی راغلی دئ.

## د آیت تفسیر:

ستاسو په مخ کې چې ما د روژې متعلق د کم آیت تلاوت وکړئ، په دې کې د مفسرینو قول را نقل کول زه مناسب بولم.

الله تعالی فرمایي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ﴾ ای انسانانو! پر تاسو باندې روژه فرض سوې ده.

د دې آیت په تفسیر کې شیخ الهند محمود الحسن دیوبندي رحمة الله علیه لیکلي دي دا حکم د روژې متعلق دئ، کمه روژه چې د اسلام په ارکانو کې داخله ده او پرهواپَرَستو انسانانو باندې ډېره شاقه او سخته ده په دې وجه الله تعالی د تاکید او اهتمام په الفاظو بیان کړې ده.

﴿كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ﴾ لکه ستاسو څخه مخکې پر اُمتو باندې هم دا روژه فرض وه.

شیخ الهند رحمة الله علیه په تفسیر کې لیکلي دي، چې دا حکم د روژې د حضرت آدم علیه السلام د زمانې څخه ونیسې تر دې اوسه پورې برابر را روان دي لیکن په تعین د اَیَامو (ورځو) کې به خامخا اختلاف وي.

او په مخکنيو اُمتو کې چې انسانانو ته د صبرحکم وو روژه د هغه صبر یو لویه حصه ده ځکه په حدیث شریف کې روژه نصف صبر بلل سوې ده.

﴿لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ﴾ د روژې مقصد او غرض دا دئ چې تاسو تقوٰی داره سئ، شیخ الهند رحمۃ اللہ علیہ دا هم فرمایي چې په روژه کې دانسان نفس د حلالو مرغُوباتو څخه را گرځول دي، کچیري یو آنسان خپل نفس په دې مبارکه میاشته کې د حلالو مرغُوباتو څخه را وگرځوي نو د دې په برکت به د انسان نفس په باقي یوولس میاشتو کې د حرامو مرغوباتو څخه کنټرول وي، او په روژه سره به د انسان قوت او شهوت کمیږي، او د دې په برکت سره به د انسان نفس تقوٰی داره جوړیږي.

او لوی حکمت په روژه کې داوي چې د انسان نفس امّارة یعني د سرکښه نفس اصلاح وسي، او د شریعت احکام چې نفس ته ډېر شاق او سخت دي هغه به ورته آسانه سي، او د انسان په نفس کې به تقوٰی راسي.

او داغه رنگه په دې آیت کې پر یهودو باندې هم تعریض دئ، ځکه چې پر یهودو او نصاراؤ باندې هم روژې فرض وې، هغوی به د خپلو خواهشاتو موافق په دې روژو کې په خپله رایه سره تغیرا وتبدیل راوستئ.

نو د ﴿لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ﴾ مقصد دا دئ چې ای مسلمانانو! تاسو د نافرمانۍ څخه ځان وساتئ، او د یهودو نصاراوو غوندې په دې روژه کې په خپله رایه او خواهش سره تغیر او تبدیل مه را ولئ.

د حضرت سعید بن جبیر رضی اللہ عنہ روایت دئ چې زموږ څخه مخکې روژه د یو مابنام څخه شروع کېده تر بل مابنامه پوري، یعني پوره شفه او پوره ورځ به روژه وه او په ابتداء د اسلام کې هم دغه رنگه وه بعض علماؤ دا لیکلي دي چې روژه پرنصاراوو هم لازمه وه او اکثر په سختو گرمیو او په سختو یخنیو کې به راتله چې دوی ته به د سفر په دوران کې یاد کارو بار په وخت کې د روژې نیول مشکل سو.

نو په دې وجه باندې د دوی پېشواګان او مشران سره کښېنستل او دا فیصله يې وکړه چې د روژې میاشته به د یخ او د ګرمۍ په مینځ کې مقرره وو.
آخر د دې روژې دپاره دوی د پسرلي د موسم انتخاب وکړئ او د کفارې په طور باندې يې لس روژې نورې ورسره زیاتې کړې.
بیا د دوی یو باچاه ناجوړه سو نو دوی د ځانه سره دا نذر ومنئ که چیري زموږ باچا د دې بیمارۍ څخه جوړسو نو موږ به پرځان باندي یوه هفته روژې نورې لازمه وو.
نو د باچا پر جوړېدلو باندي دوی پر ځان باندي پوره یوه هفته روژې نورې زیاتې کړې، چې کله هغه باچا وفات سو او دوهم باچا راغلئ، نو دوی پنځوس روژې پرځان پوره کړې بیا یو ځل د دوی په مالو باندي مرض ولګېدئ چې هغه به مړه کېدل نو دوی د دې آفت څخه د نجات دپاره لس روژې نورې ورسره زیاتې کړې آخرکار پر دوی شپېته روژې سوې(۱)..
نو الله تعالی مسلمانانو ته وایي چې تاسو به د یهودو او نصاراوو غوندي د روژې په حکم کي د خلل اچولو څخه ځان ګورئ او دا ستاسو دپاره تقوی ده.
﴿أَيَّامًا مَعْدُودَاتٍ﴾ یعني روژه څو ورځي ده چي په شمار کي ډېره زیاته نه ده، ځکه چي په دوولس میاشتو کي یوه میاشته ده او کال درې سوه او شپېته ورځي دئ، په دې کي صرف دېرش ورځي روژه ده بیا په دې لږو ورځو د روژې کي الله جَلَّ جَلَالُهُ دا سهولت هم کړی دئ، که چیري په تاسو کي څوک مریض وي د هغه مریضی په وجه باندي روژه نیول ورته ګران سي، یا مسافر وي، نو ده ته دا اختیار دئ، او ده ته دا اجازت دئ، چي روژې نه ونیسي چي څومره روژې يې وخوړلې هغومره روژې دي د روژې د میاشتي څخه علاوه په نورو ورځو کي ونیسي، بیا په دې کي هم وده ته اختیار دئ که يې یو ځای نیسي او که يې سره جلا جلا(۲).

(۱) مکاشفة القلوب صفحه نمبر ٦٠٧
(۲) تفسیر عثماني بحواله علمي تقریرونه جلد: ۲ صفحه: ۱۰۹

## د روژې فوائد او حکمتونه:

د ټولو څخه مخکې انسان باید دا خبره په ذهن کې کښېنوي چې روژه د الله جل جلاله حکم دئ او الله جل جلاله حکیم او دانا ذات دئ ﴿وَ فِعْلُ الْحَكِيمِ لَايَخْلُوْعَنِ الْحِكْمَةِ﴾ او د حکیم کار د حکمته څخه خالي نه وي که زموږ په دماغ کې هغه حکمت راځي او که نه راځي خو روژه د الله جل جلاله حکم دئ د الله جل جلاله حکم د حکمته څخه خالي نه دئ.

دوهمه دا خبره هم په دماغ کې کښېنوئ چې موږ د الله تعالی بنده ګان او غلامان یو نو غلام او بنده ته دا حق نسته چې هغه د خپل بادار په حکمو کې حکمتونه تلاشوي، غلام به د خپل بادار د حکم پابند وي.

نو الله تعالی خو زموږ بادار دئ چې هغه کله موږ ته د روژې حکم کړی دئ باید موږ دا حکم پرځای کړو، نو موږ ته دا حق نسته چې د الله تعالی په حکم یعني روژه کې حکمتونه وګورو، بیاهم د الله تعالی د کمو احکامو په باره کې چې قرآن او حدیث د یو حکمت اشاره کړې وي د هغه وضاحت کولای سو.

لکه څنګه چې د الله جل جلاله نور حکمونه پرحکمتو باندي بنادی همداشان په روژه کې د الله جل جلاله ډېر حکمتونه دي.

۱. اول حکمت: د صحت د بدن دپاره روژه د اکسیر درجه لري ځکه زیات مرضونه د انسان په بدن کې د زیاتي خورکې او بې ترتیبه خورکې په وجه وي.

۲. دوهم حکمت: مالداره خلګو ته د همدردۍ جذبه په دماغ کې ورکول چې کمه لوږه او تنده یوه میاشته تاسو په تکلیف کې اچوي غریب کال دوولس میاشتې د لوږې او تندې په دې تکلیف کې مبتلاء وي.

لهذا د غریب سره د همدردۍ احساس وکړئ او د غریب د همدردۍ سوچ په خپل دماغ کې راوګرځوئ او د ده د مدد دپاره کمربسته سئ.

دغه وجه ده چې حضرت جنید بغدادي رحمة الله علیه به د سخت یخ په موسم کې کله کله بغیر د ګرمه لباسه و یخ ته دَباندي کښېنستئ او دا به یې ویل چې د بغداد د ټولو غریبانو سره خو ګرمې کپړې نسته په دې وجه زه د دوی د درد او دُک محسوسولو په خاطر او د دوی په باره کې د همدردۍ د جذبې پیداکولو په خاطر په یخو هواګانو کې بغیر د ګرمه لباسه کښېنم، دغه رنګه روژه و مالداره ته د غریب د همدردۍ احساس ورکوي.

۳. دریم حکمت: د اسلامي برابرۍ دپاره روژه یوه اعلیٰ نمونه ده چې ټوله مالدار، مسکین، امیر، او فقیر په یو رنګ باندې زندګي تیروي.

۴. څلورم حکمت: د خواهشاتو نفسانیه وو او د شهواتو جسمانیه وو د کنټرول او قابو کولو دپاره روژه بهترین عمل دئ.

۵. پنځم حکمت: په روژه کې د جفاکشۍ اعلیٰ نمونه موجوده ده، لهذا کم مسلمان چې د روژې عادي وي هغه د هر مشکل په برداشولو کې زیات چست او قوي وي.

بیا خاصکر د جهاد په میدان کې د انسان دپاره په ورځو ورځو خوراکه میسره نه وي، نوهلته انسان ته د روژې فائده ور ښکاره کیږي.

چونکه دا اُمت ډېر زیار کښه او خوارۍ کښه اُمت دئ نو د دې اُمت دپاره په روژه ځان عادي کول ډېر زیات ضروري دئ ځکه تاسو دې ته ګورئ چې مونږ د چا اُمت یو او زمونږ نبي په کم نامه نومول سوی دئ.

زمونږ د نبي ﷺ نوم په مخکني اسماني کتابو کې "نبيّ السیف" راغلی دئ یعني توري والا نبي او داغه رنګه "نبي الملحمه" راغلی دئ یعني د سختو جنګونو والا نبي هغه خپله ټوله مدني زندګي په جهاد کې تېره کړې ده، هغه په خپل ژوند کې په اوه ویشت (۲۷) غزاګانو کې شرکت کړی دئ.

او په خپله يې شپږ پنځوس (٥٦) جنګي تشکيلونه ليږلي دي، هغه په خپل ژوند کې د دين د دفاع دپاره سخت جنګونه کړي دي، او سخت تکليفونه يې برداشت کړي دي، او پر دې دين باندې يې خپله وينه مبارکه توى کړې ده او سر مبارک يې زخمي سوى دئ او غاښونه مبارک يې شهيدان سوي دي، او هغه مبارک فرمايلي دي.

﴿إِنَّ اللهَ بَعَثَنِيْ بِالسَّيْفِ بَيْنَ يَدَيْ السَّاعَةِ وَجَعَلَ رِزْقِيْ تَحْتَ رِمْحِيْ أَوْظِلِّ رِمْحِيْ وَجَعَلَ الذِّلَّةَ وَالصَّغَارَعَلَى مَنْ خَالَفَنِيْ وَمَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنهُمْ﴾(١).

بېشکه زه الله تعالى د قيامت څخه لږ مخکې په توره سره را استولى يم او زما رزق يې زما د نېزې يا د نېزې تر سايې لاندې ګرځولى دئ او ذلت او رسوايي به پر هغه قوم وي چې هغوى زما مخالفت کوي او څوک چې د کم قوم سره مشابهت کوي هغه به د هغوى څخه وي.

علامه سرخسي رحمة الله عليه وايي: د "بَعَثَنِي بِالسَّيْفِ" څخه مراد "بَعَثَنِي بِالْقِتَالِ" دئ زما رب زه د قتال في سبيل الله دپاره راليږلى يم لکه د مشکوة شريف په يو بل حديث کې راځي ﴿أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ﴾(٢) ما ته الله جل جلاله حکم کړى دئ چې زه د خلکو سره تر هغه وخته وجنګېږم چې دوى د لا اله الا الله کلمه ويلې نوي، او حقيقت دادئ چې جنګ او قتال د نورو پيغمبرانو په حق کې دا رنګه نه وو لکه څه رنګه چې الله تعالى زمونږ نبي اکرم صلى الله عليه وسلم د جنګ او قتال دپاره خاص کړى دئ.

ځکه په تورات کې د دې نبي صفت داسې راغلى دئ:

﴿نَبِيُّ الْمَلْحَمَةِ وَعَيْنَاهُ حَمْرَاوَانِ مِنْ شِدَّةِ الْقِتَالِ﴾ يعنې هغه به د سختو جنګونو والا نبي وي او د جنګ د سختيو په وجه به يې سترګې تکې سرې وي(٣).

---

(١) شرح سير کبير ج ١ ص ١٦

(٢) مشکوة المصابيح حديث نمبر ١٢

(٣) خاتم النبيين صلى الله عليه وسلم الباب في المعرکة حديث نمبر ٢٥٥

او د دې اُمت صفت په تورات کې داسې راغلی دئ.

﴿أَنَاجِيلُهُمْ فِي صُدُورِهِمْ وَسُيُوفُهُمْ عَلَى عَوَاتِقِهِمْ وَإِلَيْهِ أَشَارَ عَلَيْهِ السَّلَامُ السُّيُوفُ أَرْدِيَةُ الْغُزَاةِ﴾.

یعني د قرآن تعلیمات به یې په سینو کې وي او توري به یې پر اوږو باندې پرتې وي، لکه څرنګه چې نبي کریمﷺ اشاره ورته کړې ده، چې توري به د غازیانو پټوان وي(۱).

نو چونکه د دې اُمت په ټولو اُمتو کې د جهاد سره ډېر تعلق دئ او جهاد زیارکښ عمل دئ او د زیارکښنې نمونه دغه روژه مبارکه ده، نو د دې اُمت باید د روژې سره د زیارکښنې عادت کېدو په خاطر زیات تعلق وي او د روژې مبارکې باید زیات اهتمام وکړي او روژه مبارکه بالکل د خپل ځان د پاره عادت جوړه کړي.

## د روژې مبارکې فضیلت:

نو روژه مبارکه الله جل جلاله د عبادت د پاره پیدا کړې ده، په دې میاشته کې باید انسان د عبادت سره تعلق زیات کړي، او کم ازکم په دې یوه میاشته کې د دنیایي مصروفیاتو څخه مخ را واړوي او دا یوه میاشته د الله جل جلاله د دین په زده کړه کې او د الله جل جلاله د دین په خدمت کې او د الله جل جلاله د دین په تعاون او مدد کې تیره کړي.

او روژه مبارکه الله تعالی د ناستې د پاره نه ده را استولې بلکه د ګرځېدلو د پاره ده او د ټولو څخه زیات د جهادي خدمتو د پاره او د دین د خدمت د پاره مناسب وخت هغه روژه مبارکه ده.

کچیرې یو ځای د وعظ مجلس وي یا د دین په حواله یو پروګرام وي یا یو جهادي مصروفیت وي په دې مبارکه میاشته کې باید انسان په هغه کې شرکت وکړي.

(۱) نداء الجهاد صفحه نمبر: ۱۷.

د الله ﷻ په لاره کې یوه روژه نیول دا دومره اجر لري چې پیغمبر ﷺ وایي چې د یوې روژې په برکت باندې چې د الله ﷻ په لاره کې یې انسان و نیسي الله ﷻ به د دې انسان او د جهنم په مینځ کې دومره لیرې والی راولي لکه څومره لیرې والی چې د مځکې او آسمان تر مینځ دئ چې په یوه روژه دومره لیرې والی دی نو که انسان د ټول عمر روژې د الله ﷻ په لاره کې ونیسي او پوره روژه د الله ﷻ په لاره کې ور باندې تېره سي نو بیا به د ده او د جهنم په مینځ کې څومره لیرې والی پیدا سي(۱).

د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک دئ: ﴿مَنْ صَامَ يَوْمًا تَطَوُّعًا ثُمَّ أُعْطِيَ مِلْأَ الْأَرْضِ ذَهَبًا لَمْ يَسْتَوْفِ ثَوَابَهُ دُوْنَ يَوْمِ الْحِسَابِ﴾.

چې کم سړي یوه نفلي روژه ونیوله بیا دا ټوله مځکه تر آسمانه پورې د سرو زرو ډکه وه ده ته ورکول سي لا هم د حضور ﷺ فرمان دئ چې د ده د یوې روژې بدله نسي اداکېدای د قیامت د میدان څخه مخکې(۲).

او د ده د دې روژې بدل به الله تعالی د قیامت په میدان کې ده ته ور پوره کړي چې د نفلي روژې دومره فضیلت دئ نو چې فرضي روژې د الله ﷻ په لاره کې ونیول سي د هغوی په باره کې ستاسو څه فکر دئ؟

## د فرضي روژې فضیلت:

د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک دئ چې کم سړی فرضي روژه و نیسي نو پر روژه مات الله تعالی ده ته کمه بدله ورکوي، پیغمبر ﷺ هغه ذکر کړې ده او وایي: چې ﴿زَوَّجَهُ اللهُ فِيْ كُلِّ لَيْلَةٍ مِائَةَ حُوْرٍ مِنْ حُوْرَاءِ الْجَنَّةِ﴾ الله تعالی د هر روژه مات پر وخت باندې د سلو (۱۰۰) حورو سره نکاح ور کوي(۳).

او هغه به څنګه حورې وي؟

---

(۱) خطبات طارق جمیل صفحه: ۱۵۶

(۲) کنز العمال حدیث نمبر ۲۴۱۵۶

(۳) کنز العمال حدیث نمبر ۲۳۷۱۳

## جنتي حوري:

په روایاتو کي راځي پیغمبرﷺ فرمایي: ﴿اِنَّ فِي الْجَنَّةِ حُوْر اِسْمُهَا لَاعِبَةٌ خُلِقَتْ مِنْ اَرْبَعَةِ اَشْيَاءَ﴾ په جنت کي یوه حوره ده الله تعالی د څلورو شیانو څخه پیدا کړې ده مشک دي عنبر دي کافور او زعفران دي او بیا الله تعالی د ژوند پیدا کولو دپاره په دې کي ماء الحیات اچولي دي د هغه څخه وروسته الله تعالی دقُم په لفظ باندي ولاړه کړې ده او هغې ته الله جل جلاله داسي حسن او جمال ورکړی دئ جنتي انسانان چي کله دې ته ګوري کچیري مرګ په جنت کي نه وای ختم د دې د حسن د لیدلو په خاطر به ټوله مړه سوي وای.

ځکه پیغمبرﷺ فرمایي: ﴿لَوْلَا اَنَّ اللهَ قَضٰى لِاَهْلِ الْجَنَّةِ اَنْ لَايَمُوْتُ لَمَاتَ مِنْ حُسْنِهَا وَجَمَالِهَا﴾ کچیري په جنت کي د مرګ ختمېدل نه وای نو جنتیان به د دې حورې په لیدلو سره ختم سوي وای ﴿وَ جَمِيْعُ حُوْرِ الْعِيْنِ عُشَّاقٌ لَهَا﴾ زه د خپل طرفه تاسو ته عربي الفاظ نه وایم بلکه د حدیث شریف الفاظ دي چي د جنت ټوله حورې پر دې حوره باندي عاشقي وي او د دې حورې پر اوږه باندي لاس کښېږدي او ورته وایي: ﴿يَالَاعِبَةُ لَوْيَعْلَمُ لطَّالِبُوْنَ لَجَدُّوْفِيْكَ﴾ ای لاعبې! که چیري ستا د حسن او جمال معلومات و خلګو ته وسي نو ستا د حاصلولو دپاره به هر څه قربان کړي.

﴿وَمَكْتُوْبٌ فِي نَحْرِهَا﴾ په یو روایت کي دا دي چي د دې پر غاړه باندي لیکلي وي ﴿مَكْتُوْبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ﴾ او په بل روایت کی د دې پر تندي باندي دا لیکلي وي ﴿مَنْ كَانَ يُرِيْدَانِ يَكُوْنَ لَهُ مِثْلِيْ فَلْيَعْمَلْ بِرَضَاءِ رَبِّيْ﴾ چي کم انسان دا غواړي چي زما غوندي حوره پیدا کړي، نو زما د رب رضاء دي خپله کړي او زما د رب حکم دي پوره کړي او بیا دي راسي(۱).

نو چي کم سړی د روژې نیولو په شکل د الله جل جلاله حکم پوره کړي یعني روژه په ښه طریقه سره ونیسي نو د هر روژه مات پر وخت به د دا رنګه سلو حورو سره د ده نکاح کیږي.

(۱) منتخب واقعات و مشاهدات صفحه نمبر ۳۰۱

زما دې په خپل رب باندې قسم وي هغه حورو ته به الله تعالی داسې حسن او جمال ورکړی وي چې پر هره حوره د ده اول نظر ولګیږي نو څلويښت کاله به دَی ورته ګوري او څلويښت کاله به دَی دهغې په حسن کې داسې محوه وي چې څلويښت کاله به دَی نه د يو طرف او بل طرفته د کتلو او نه د بانو کشته کولو موقع پيدا کړي ځکه الله تعالی وايي چې ﴿وَزَوَّجْنَاهُمْ بِحُورٍ عِينٍ﴾(۱) الله تعالی به د ده نکاح د حورعين سره کوي د هغې نقشه الله تعالی داسې بيانوي:

﴿عُرُبًا أَتْرَابًا، وَكَوَاعِبَ أَتْرَابًا، فَجَعَلْنَاهُنَّ أَبْكَارًا﴾(۲) هغه به تولې نوجوانانې او کم عمره وي.

﴿لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَانٌّ﴾(۳) د دې څخه مخکې به نه انسان نه جن (پيرى) مسه کړې وي.

نو د روژاتي نيک بخته به د روژه مات پر وخت د دغه رنګه حورو سره نکاح وي.

او پيغمبر ﷺ فرمايي: ﴿وَبَنَى لَهُمْ فِيهَا قُصُوْر﴾ او الله تعالی به د روژه مات پر وخت باندې د دوی د پاره بنګلې او قصرونه جوړه وي په قصرو او بنګلو کې دوه شيان مهم وي يو دا چې د هغې جوړښت په کم شکل وي او بل دا چې هغه پر څومره رقبه مځکه باندې جوړوي د دې دواړو په باره کې پيغمبر ﷺ وضاحت کړی دئ.

د جوړښت په باره کې پيغمبر ﷺ فرمايي:

﴿لَبِنَةٌ مِنْ يَاقُوْتٍ حَمْرَاء﴾ يوه خښته به د سرو ياقوتو څخه وي.

﴿وَلَبِنَةٌ مِنْ زَمَرُّدَةٍ خَضْرَاء﴾ او بله خښته به د زرغونو زمرودو څخه وي.

﴿وَلَبِنَةٌ مِنْ لُؤْلُؤٍ بَيْضَاء﴾ او بله خښته به د سپينو ملغلرو څخه وي.

﴿وَمِلَاطُهَا الْمِسْک﴾ د لګيدلو خټه به يې مشک وي.

---

(۱) الدخان آيت نمبر ۵۴

(۲) الواقعة آيت نمبر ۳۵، ۳۷

(۳) الرحمن آيت نمبر ۵۶

﴿حَصْبَائُهَا اللُّؤْلُؤُ﴾ په مینځ کې به یې لارې د ملغلرو څخه وي.
﴿بَطْحَائُهَا الْيَاقُوتُ﴾ غرونه او غونډۍ به یې د یاقوتو څخه وي.
﴿حَشِيْشُهَا الزَّعْفَرَانُ﴾ د هغه چمنیان به د زعفرانو څخه وي.
﴿وَسَقْفُهَا عَرْشُ الرَّحْمٰنِ﴾ او د خونو چت به یې د الله جل جلاله عرش وي([1]).
نو د هغه مکان جوړېدل په جنت کې پیغمبر ﷺ په داسې شکل بیان کړی دئ او د هغه لوی والی به په کم شکل وي دهغه د لوی والي په باره کې پیغمبر ﷺ فرمایي:
﴿لَوْ أَنَّ الدُّنْيَا كُلَّهَا وُضِعَتْ فِيهِ لَكَانَتْ كَمَرْتَبَةِ عَنْزٍ مِنَ الدُّنْيَا﴾ کچیرې دا ټوله کائنات په هغه محل کې کښېښول سي نو دا رنګه به معلومېږي لکه د دې کائناتو په یو کونج کې چې د بزې بچی کښېښول سي.
نو د دې بچې چې د اووه براعظمه سره کم نسبت دئ نو د دې اووه براعظمه و هغه محل ته هم داسې نسبت دئ ځکه الله تعالی په خپله فرمایي: ﴿وَإِذَا رَأَيْتَ ثَمَّ رَأَيْتَ نَعِيمًا وَمُلْكًا كَبِيرًا﴾([2]) الله تعالی وایي که ته زما جنتووینې نو هلته به ته لوی نعمتونه او لوی حکومتونه ووینې.
دا صرف الله جل جلاله زموږ د فهم دپاره وایي ورنه هیڅا ته دا نه ور معلومېږي چې الله جل جلاله د دې بندګانو دپاره په جنتو کې کم نعمتونه جوړ کړي دي.
دا د دې انسان د دې ورځې د مشقت بدله سوه.
د شپې خو د یو اُمت پر ذمه تراویح نه وې د مخکنۍ اُمتو په لمنځو کې آسماني کتاب نه ویل کېدئ د هغوی لمنځونه صرف په تسبیحاتو باندې کېدل او زموږ په لمنځو کې زموږ آسماني کتاب قرآن کریم ویل کېږي، نو کله چې د شپې په تراویحو کې قرآن کریم ویل کېږي، پیغمبر ﷺ د هغه په فضیلت کې فرمایي:

---

([1]) صفة الجنة لابن ابي الدنيا حديث نمبر ١٠
([2]) الانسان آيت نمبر ٢٠

﴿كَتَبَ اللهُ لَهُ أَلْفًا وَخَمْسَ مِائَةِ حَسَنَةٍ بِكُلِّ سَجْدَةٍ، وَبَنَى لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ مِنْ يَاقُوتَةٍ حَمْرَاءَ لَهَا سِتُّونَ أَلْفَ بَابٍ مِنْهَا قَصْرٌ مِنْ ذَهَبٍ مُوَشَّحٍ بِيَاقُوتَةٍ حَمْرَاءَ﴾.

الله تعالى د تراویح د لمانځه پر هره سجده باندې پنځه ویشت سوه نیکۍ ورکوي نو پر څلوېښتو سجدو به د انسان څومره ګټه وي(۱).

او د هرې سجدې په بدله کې د ده دپاره په جنت کې یو محل تیارېږي د هغه شپېته زره دروازې دي چې موږ یې د خپل عقل په تصورکې نه شو راوستلای چې الله جل جلاله د دې انسانانو دپاره څه جوړکړي دي هغه ډېر زیات دي.

په یو روایت کې راځي چې الله تعالى به جنتیان ټوله و جنت ته داخل کې بیا به هم جنت خالي پاته وي بیا به الله تعالى یو بل مخلوق پیدا کړي او په هغو باندې به جنت ډک کړي د جنت لوی والی موږ د خپل عقل په کمپیوټر نه شو معلومولای دې دنیا ته الله تعالى د غوماشي وزر ویلي دي حالانکه د ټولو څخه زیاته لیرې سیاره چې په دې خلا کې سره ګرځي کچیرې یو شی د برق په رفتار باندې څوارلس کربه کاله سفر او رفتار وکړي نو بیا به هغه سیارې ته رسیږي(۲).

چې کم چاته الله تعالى د غوماشي وزر ویلي دي د هغې دا حال دی حالانکه د برق رفتار هغه داسې دئ چې یو لک او شپږ اتیا زره میله مسافت په یوه ثانیه کې کاټه وي نو په دقیقه کې به څومره وخت پرې کوي او په یوه ساعت او یوه ورځ کې به څومره وخت پرې کوي نو په کال سل کاله زرکاله لک کاله ارب او کرب کاله او بیا په څوارلس کربه کاله چې د برق په رفتارسره والوځي نو دا د غوماشي وزر ختمیږي.

نو د جنت په باره کې خو الله تعالى ویلي دي چې هلته ډېر لوی حکومتونه او ډېر لوی نعمتونه چې زما او ستا د عقل کمپیوټر پر هغه باندې احاطه نه لري او نه

---

(۱) کنز العمال حدیث نمبر ۲۳۷۰۶

(۲) بیانات جمیل صفحه، ۲۶۵

يې معلومولای سي نو د تراويحو د مشقت په بدل کي به الله تعالی ده ته دانيکياني ورکوي.

## د صحيح روژې شرطونه:

دغه اجر د روژې او تراويحو!

د هر روژاتي دپاره نه دي بلکه د دې روژې او تراويحو دپاره پيغمبر ﷺ څه شرطونه بيان کړي دي.

۱. ﴿مَنْ صَامَ نَفْسَهُ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ﴾ چي کم انسان د خپل نفس حفاظت وکړي د نفس حفاظت څه دی.

يعني د حرامي نفقې څخه يې خپل نفس وساتی، چي په شرابو باندي يې ګټي هغه هم حرامه ده، چي په سود باندي يې ګټي هغه هم حرامه ده، چي په خيانت او دوکه باندي يې ګټي هغه هم حرامه ده، نو دی په دې روژه کي دې حراموته نږدې ورنه سي.

۲. ﴿وَلَمْ يَعْمَلْ فِيهِ خَطِيئَةً﴾ او په روژه کي دغه انسان د ګناه څخه پرهيز وکړي، نه يې په لاس ګناه وکړه، او نه يې په سترګو او په خوله ګناه وکړه، يعني ټوله اندامونه يې د ګناهو څخه محفوظ وساتل.

۳. ﴿وَلَمْ يَشْرَبْ مُسْكِرًا﴾ او نه يې په روژه کي يو نشه ورکونکی شی وخوړی يعني چي کم شی په شريعت کي مُسکر (نشه ورکونکی) بلل کيږي او شريعت يې حرام بولي د هغه څخه يې هم ځان وساتئ.

۴. ﴿وَلَمْ يَقْذِفْ فِيهِ مُؤمِنًا بِبُهْتَانٍ﴾ بيا يې خاصکر د ژبي د ګناه څخه ځان وساتی نه يې پر يو مسلمان باندي بهتان وواﺍيه، او نه يې د يو مسلمان غيبت وکړئ، او نه يې چاته بنکنځل وکړه، نه يې ديو چا زړه زهير کړئ، د دغه

روژاتي دپاره دا زېرى دئ چي کله د روژې مياشته راسي نو د جنت جورې د جنت د خيمو څخه سرونه را وباسي او دا تمنى ښکاره کړي ﴿يَا رَبِّ اجْعَلْ لَنَا مِنْ عِبَادِكَ أَزْوَاجًا تَقَرُّ بِهِمْ أَعْيُنُنَا وَتَقَرُّ أَعْيُنُهُمْ بِنَا﴾ اى الله! په دې مبارکه مياشته کي د دغه مبارکو روژاتيانو څخه زموږ دپاره خاوندان جوړ کړه چي کله دوى و موږ ته ګوري نو د دوى سترګي به ځنکي کيږي او چي کله موږ دوى ته ګورو نو زموږ به سترګي ځنکي کيږي(¹).

## د روژې اهم عمل:

او دغه رنګه دا مياشته د همدردۍ او غمخوارۍ مياشته ده بايد د مسلمانانو سره انسان غمخواري او همدردي وکړي.

د پيغمبر ﷺ روايت دئ حضرت سلمان فارسي ﷺ فرمايي: ﴿خَطَبَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي آخِرِ يَوْمٍ مِنْ شَعْبَانَ فَقَالَ: " يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ أَظَلَّكُمْ شَهْرٌ عَظِيمٌ، شَهْرٌ مُبَارَكٌ، شَهْرٌ فِيهِ لَيْلَةٌ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ﴾ چي کله به د روژې مبارکه مياشته راغله نو پيغمبر ﷺ به موږ سره را جمع کړو او دا به يې راته ويل چي اى خلکو! پر تاسو باندي ډېره لويه او مبارکه مياشته را رسيدلي ده. چي په دې مياشته کي يوه شپه الله جل جلاله ايښې ده چي د هغې يوې شپې عبادت د زرو مياشتو د عبادت څخه افضل دى.

﴿جَعَلَ اللهُ صِيَامَهُ فَرِيضَةً، وَقِيَامَ لَيْلِهِ تَطَوُّعًا، مَنْ تَقَرَّبَ فِيهِ بِخَصْلَةٍ مِنَ الْخَيْرِ كَانَ كَمَنْ أَدَّى فَرِيضَةً فِيمَا سِوَاهُ، وَمَنْ أَدَّى فَرِيضَةً فِيهِ كَانَ كَمَنْ أَدَّى سَبْعِينَ فَرِيضَةً فِيمَا سِوَاهُ﴾ د دې مياشتي روژې الله جل جلاله فرض ګرځولي دي: او د دې مثال د شپې تراويح او عبادت الله سنت او نفل ګرځولي دي او په دې مياشته کي که چيري يو انسان ته الله تعالى د نفلي عبادت توفيق ورکړي الله جل جلاله يې په فرضي ور شماري او فرضي عبادت يو په اويا (۷۰) ور شماري.

---

(¹) شعب الايمان حديث نمبر: ۳۳٦٠

﴿وَهُوَ شَهْرُ الصَّبْرِ، وَالصَّبْرُ ثَوَابُهُ الْجَنَّةُ، وَشَهْرُ الْمُوَاسَاةِ، وَشَهْرٌ يُزَادُ فِي رِزْقِ الْمُؤْمِنِ، مَنْ فَطَّرَ فِيهِ صَائِمًا كَانَ لَهُ مَغْفِرَةً لِذُنُوبِهِ، وَعِتْقَ رَقَبَتِهِ مِنَ النَّارِ، وَكَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ مِنْ غَيْرِ أَنْ يُنْقَصَ مِنْ أَجْرِهِ شَيْءٌ﴾ او دا د صبر او د غمخوارۍ او همدردۍ میاشته ده کچیرې په دې میاشته کې یو انسان و بل انسان ته روژه مات ورکړي نو الله تعالی به یې دده دګناه دمغفرت او د جهنم څخه دنجات زریعه جوړه کړي، او د هغه روژاتي د اجره څخه به هم هیڅ نه کمیږي.

﴿قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ، لَيْسَ كُلُّنَا يَجِدُ مَا يُفَطِّرُ الصَّائِمَ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يُعْطِي اللهُ هَذَا الثَّوَابَ مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا عَلَى مَذْقَةِ لَبَنٍ أَوْ تَمْرَةٍ أَوْ شَرْبَةٍ مِنْ مَاءٍ، وَمَنْ أَشْبَعَ صَائِمًا سَقَاهُ اللهُ مِنْ حَوْضِي شَرْبَةً لَا يَظْمَأُ حَتَّى يَدْخُلَ الْجَنَّةَ﴾ یو صحابي ﷺ ورته وایي چې ای د الله رسوله! په موږ کې کم یو د دې وس او طاقت لري.

څکه موږ خو غریبان یو د خپلې نفقې بندوبست نسو کولای، نو پیغمبر ﷺ ورته فرمایي چې د دې روژه مات څخه مراد د ماړه نس نفقه نه ده، بلکه صرف په یوه خورما او یا په یو ګلاس اوبو، یا په یو ګلاس شلومبو که یو انسان د بل انسان روژه ورماته کړي، نو الله ﷻ به دغه أجر ورکوي.

کچیرې یو انسان و بل انسان ته په ماړه نس نفقه ورکړي د هغه په بدله کې به الله تعالی د قیامت په میدان کې زما د حوض څخه داسې اوبه ورنصیب کړي چې بیا به په تول قیامت کې تنده نه ویني څکه ﴿مَنْ شَرِبَ مِنْهُ لَا يَظْمَأُ أَبَدًا﴾(۱).

یو صحابي ورته وایي: ﴿مَا الْحَوْضُ يَارَسُولَ اللهِ﴾ ای د الله رسوله حوض څه شی دی.

پیغمبر ﷺ ورته فرمایي: ﴿حوض اعطانیه ربي ماؤه احلی من العسل واشدبیاض من اللبن من شرب منه لایظمأ ابدا﴾ ما ته الله ﷻ یو حوض را کړی دئ چې د هغه حوض اوبه د عسلو څخه خوږې دي او د شیدو څخه سپینې دي چې کم څوک د دې څخه چښل وکړي بیا به د جنت تر داخیلېدو پورې تږی نسي(۲).

(۱) شعب الایمان حدیث نمبر ۳۳۳۶

(۲) کنز العمال حدیث نمبر ۳۰۵۶

د دې حوض پر يوه کناره به ابوبکر ﷛ ولاړ وي، او پر دوهمه کناره به يې حضرت عمر ﷛ ولاړ وي، او پر دريمه کناره به يې حضرت عثمان ﷛ ولاړ وي، او پر څلورمه کناره به يې حضرت علي ﷛ ولاړ وي، او پيغمبر ﷺ به هم موجود وي.

نو دا پنځه کسان به د دې حوض ساقيان وي او اُمت به راځي او د دې حضراتو په لاسو به د دې حوضه څخه و دوی ته اوبه ورکول کيږي، په داسې حال کې چې په ټوله قيامت کې به د دې حوضه څخه ماسوا يو څاڅکی اوبه نه وي.

چې کم چا الله ﷻ او د الله ﷻ رسول ﷺ راضي کړی وي او خپل ژوند يې د الله ﷻ او د الله ﷻ د رسول ﷺ پر مرضي تېر کړي وي هغه به د دې حوضه څخه د اوبو چښلو مستحق وي.

پيغمبر ﷺ به صحابه کرامو ﷡ ته ويل تاسو ته دا معلومه ده چې زما پر حوض باندې اولني کم کسان راځي چې هغوی ته به او به ورکول کيږي.

صحابه کرامو ﷡ ورته فرمايي ﴿اللهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ﴾ الله او د الله ﷻ رسول ﷺ ښه خبر دي پيغمبر ﷺ ورته فرمايي زما پر حوض به د ټولو څخه مخکې هغه کسان راځي چې هغه د يو حاجت د پاره د چا دروازې ته ورسي نو دروازه نه ورته خلاصيږي، او د دننه څخه آواز ورته کيږي چې حاجي صاحب او خان صاحب په کور کې نسته نو دی د هغه کوره څخه نا اميده رخصتيږي.

چې پر کم چا د دوی حق راسي نو هغه د دوی د حق د اداکولو ته تيار نه وي او که چيري پر دوی باندې د چا حق راسي نو خلق يې په جبر او زور څني اخلي. چې کله د يو مالداره و کور ته د نکاح پيغام وليږي نو مالداره کورونه د ده د نکاح پيغام نه قبلوي او نه وده ته زړه ښه کوي.

د دوی رنګونه الوتي وي او مخان يې ژړوي او په ګردو باندې لړلي وي او په معاشره کې د خلګو په ذهنو کې ستړي خوار او پرېشانه ورځي.

نو پیغمبرﷺ فرمايي: چي دا خلق د قيامت په ميدان کي زما د حوض کوثره څخه د اوبو څښلو اولني حقداران دي(۱).

﴿وَهُوَ شَهْرٌ أَوَّلُهُ رَحْمَةٌ، وَأَوْسَطُهُ مَغْفِرَةٌ، وَآخِرُهُ عِتْقٌ مِنَ النَّارِ﴾ دا داسي مياشته ده چي اوله عشره يې رحمت دئ يعني چي کم انسانان الله تعالی د ګناه څخه محفوظه ګرځولي دي، پر هغوی باندي به په دې عشره کي د الله ﷻ رحمتونه راځي.

او منځنۍ عشره يې مغفرت دئ چي په دې عشره کي به الله تعالی د ګنهګارانو مغفرت کوي او آخره عشره يې د جهنم څخه آزادي ده چي جهنميان به الله ﷻ د جهنم څخه آزادوي..

## د خبري خلاصه:

نو د روژې مبارکي مقصد په زړوکي تقوی پيدا کول او اندامونه د زيارکښۍ سره عادت کول ځکه زيارکښي د دې أمت خاص امتياز دئ.

او د روژې مبارکي اعمال د ورځي روژې نيول او د شپې په تراويحو کي شرکت کول او د خپل وس او طاقت په مطابق د مسلمانانو سره همدردي او غمخواري کول او د مسلمانانو پر تکليفو باندي صبر کول.

الله تعالی دي زموږ څخه دا روژه قبوله کړي او چي څنګه د الله تعالی غوښتنه وي الله تعالی دي په دې مياشته کي د هغه اعمالو کولو توفيق را په نصيب کړي او الله تعالی دي زموږ په زړوکي د مسلمانانو د همدردۍ احساس پيدا کړي.

الله ﷻ دي دا څو مختصري خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي و ګرځوي. (آمين)

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

(۱) اللہ جن کی راضی ہوا صلہ : ۸۷

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الایه)

# د ګناهو څخه د مغفرت عشره

(بیان)

مولوي اطیع الله صاحب
استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:
مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه
کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مـقـــــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعـت | ثلـــــــــــورم |
| تـــاريــــخ | يكم ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق يكم مي ۲۰۱۸ |
| تـعــــداد | (۱۱۰۰) |

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيْهِ مُبَارَكًا عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَ يَرْضٰى الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهِ خَيْرِ الْوَرٰى وَعَلٰى آلِهِ وَ اَصْحَابِهِ نُجُوْمِ الْاِهْتِدٰى.

اَمَّابَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قال الله تبارکَ وتعالى: ﴿شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ﴾(۱).

- وَقال رَسُوْلُ اللهﷺ: ﴿إِنَّ هَذَا الشَّهْرَ قَدْ حَضَرَكُمْ، وَفِيهِ لَيْلَةٌ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ، مَنْ حُرِمَهَا فَقَدْ حُرِمَ الْخَيْرَ كُلَّهُ، وَلَا يُحْرَمُ خَيْرَهَا إِلَّا مَحْرُومٌ﴾(۲).

اَوْ كَمَا قَالَ رَسُوْل اللهﷺ﴿وَهُوَ شَهْرٌ أَوَّلُهُ رَحْمَةٌ، وَأَوْسَطُهُ مَغْفِرَةٌ، وَآخِرُهُ عِتْقٌ مِنَ النَّارِ﴾(۳).

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيْمُ، وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## د مغفرت عشره:

محترمو مشرانو! ستاسو په مخ کي ما د رسول اللهﷺ د حديث يوه مختصره توکره پېش کړه چي پيغمبرﷺ د دې مياشتي متعلق فرمايي: چي په دې مياشته کي درې عشرې دي اوله عشره يې د رحمت ده، او دوهمه عشره يې د مغفرت ده، او دريمه عشره يې د جهنم څخه د ازادۍ ده.

(۱)البقره ۱۸۵.

(۲)ابن ماجه حديث نمبر ۱۶۴۴

(۳)شعب الايمان حديث نمبر ۳۳۳۶

یعني چي کم خلک الله ﷻ د ګناه څخه محفوظ ساتلي وي، نو په دې عشره کي به الله تعالی پر هغوی باندي رحمتونه نازلوي، پرمور او تاسو چونکه تېره سوه الله تعالی دي مو د دې د رحمتو څخه بې برخي او بې نصیبه نه ګرځوي.

او دوهمه عشره د مغفرت ده چي کم انسانانو د بدعملۍ په خاطر په خپلو عملنامو کي ګناهونه جمع کړي وي، نو د دې عشرې په برکت الله ﷻ د دوی د عملنامو څخه ګناهونه لیري کوي او د دوی ته مغفرت ور نصیب کوي.

پر مور او تاسو چونکه دغه عشره هم نیمې تیره سوې ده هسي نه چي دا عشره هم پوره تېره سي او زمور او ستاسو د ګناهو مغفرت په نصیب نه سي.

## د مغفرت ور انسانان:

نو ستاسو په مخ کي په دې مختصر وخت کي زه د دې خبري وضاحت کوم چي په دې عشره کي د چا او چا ګناهونه او په کم شکل بخښل کیږي او که یو سړی د خپلو ګناهو مغفرت غواړي،، نو باید په دغه عشره کي هغه انسان کم عمل وکړي الله ﷻ دي ماته د صحیح بیانولو توفیق راکړي او الله ﷻ دي مور او تاسو ټولو ته د عمل توفیق راکړي.

## مغفرت په توبه سره کیږي:

اول خو دا دئ چي الله ﷻ انسان ته په دنیا کي د نفس او شیطان په معیت لو ملګرتیا کي زندګي ور کړې ده او د انسان زندګي د نفس او د شیطان سره ډېره باریکه او نږدې ده ځکه پیغمبر ﷺ فرمایي: ﴿إِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِي مِنَ ابْنِ آدَمَ مَجْرَى الدَّمِ﴾ شیطان د انسان سره د انسان د وینو پر ځای چلیږي(۱).

یعني شیطان د انسان په رګو کي ژوند کوي.

(۱) ابن ماجه حدیث نمبر: ۱۷۷۹

نو د شیطان د انسان سره ډېر قرب او معیت دئ او د غه رنګه پیغمبرﷺ د نفس په باره کې فرمايي: ﴿أَعْدَى أَعْدَائِكَ نَفْسُكَ الَّتِي بَيْنَ جَنْبَيْكَ﴾ د انسان د ټولو څخه لوی دښمن د انسان نفس دئ چې د ده د دوو اړخو په مابين کي وجود لري(¹).

او د دې څخه دا معلومه سوه چې د نفس هم د انسانه سره ډېر قربت او نزدېکت دئ، نو د دې نفس او د شیطان د قرب په خاطر او د دغوی د معیت او ملګرتیا په خاطر د انسان په زړه کي د ګناه کولو داعیه او تقاضا پیدا کیږي.

## د نفس نګراني هر وقت ضروري ده:

نو د نفس او د شیطان د معیت په وجه انسان د ګناهونو د وسوسو او ارادو څخه بالکل خلاصېدای نسي که څه هم انسان هر څومره لوړ مقام او درجې ته ورسیږي څکه پیغمبرﷺ به ویل: ﴿إِنَّهُ لَيُغَانُ عَلَى قَلْبِي، وَأَنِّي لَأَسْتَغْفِرُ اللهَ فِي الْيَوْمِ مِائَةَ مَرَّةٍ﴾.

کله کله زما پر زړه باندي هم وریځ غوندي سایه راسي تر دې حده پوري چې زه د الله جل جلاله څخه روزانه سل واره استغفار طلبوم دا څوک وايي(²)؟

دا هغه ذات وايي چې الله تعالی د ګناهو څخه پاک او معصوم پیدا کړی دئ، د ده څخه یو ګناه صادرېدل ممکن نه دي، کچیري یو وخت یوه داسي خطا ور څخه وسي چې هغه بالکل ګناه نه وي نو بیا هم د الله تعالی د طرفه څخه دا اعلان ورته سوی دئ؛ ﴿لِيَغْفِرَ لَكَ اللهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ﴾(³) چې ستا مخکني او وروستنی ګناهونه ټوله معاف دي.

---

(¹) ادب الدنيا و الدين الباب الخامس ادب النفس صفحه نمبر ۲۳۴

(²) شعب الايمان حديث نمبر ۱۳۱

(³) الفتح آیت: ۲

نو مقصد مي دا دئ چي انسان هر څومره لوړ مقام ته ورسیږي د گناهو د وسوسو او ارادو څخه خلاصېدای نسي، البته وسوسې به ضرور کمزوري سي خو خاتمه یې ممکنه نه ده.
داسي نه ده چي اوس خو نو زه شیخ سوم او د شیخ د طرفه څخه اجازت هم راته وسو، نو اوس خو زه د خپل ځان او د خپل نفس څخه فارغ یم، او دا سوچ کوي چي اوس خو زه داسي مقام ته ورسېدم چي نفس او شیطان ما نور هیڅ وخت هم نسي دوکه کولای دا خیال بالکل غلط دئ.
ځکه د شیخ د صحبت په برکت سره دومره خو به ضرور کیږي چي د گناه داعیه او تقاضا کمزوري کیږي، لېکن د هغه باوجود د نفس نگراني هر وخت ضروري ده په دې وجه چي یو وخت هم د گناه داعیه او تقاضا مضبوطه کېدای سي او انسان په گناه کي مبتلا کولای سي. په دې وجه شاعر فرمایي:

*اندرین ره می تراش وی خراش.........تا دم آخر دمی فارغ مباش*

یعني په دې لاره کي تراش او خراش همېشه وي حتی چي تر آخري سلگی پوري. انسان باید غافله نه کښېني، چي نفس هر وخت انسان ته دوکه ور کولای سي.

## د یو بوتي راوړونکي قصه:

په مثنوي شریف کي مولانائي روم رحمة الله علیه یو قصه لیکلې ده چي یو بوتي راوړنکی وو چي ځنگله ته به تلی او بوتي به یې د غوزي په شکل پر خپله شاه (ملا) راوړل او په بازار کي به یې خرڅول یو ځل چي ده کله بوتي کاټ (پرې) کړل او غوزی یې کور ته راوړئ په بوټو کي یو اژدها مار پېچل سوی دئ د بوټو سره د ده کور ته را ورل سو او دی غریب په هغه باندي خبر نه وو.
لېکن چي مار یې سره واړوئ په هغه کي حرکت نسته داسي معلومېدئ لکه هغه مار چي مړ وي.

نو ده د هغه وطرفته خاص توجه و نه کړه، د کور په يو کونج کي يې وغور ځوئ، د کوره څخه يې د دباندي غورځولو ضرورت محسوس نه کړي چي کله مار گرم سو او په هغه کي حرکت پيدا سو، نو کرار کرار را وڅکېدئ او هغه بوتېي راوړنکي انسان په غفلت سره بيده دئ هغه مار ورغلئ اول يې دَی په نېښ ووهئ،

کور والا ټوله پرېشانه سوه چي دا خو مړ مار وو دا څنگه را ژوندی سو او دا انسان يې څنگه په نېښ ووهئ.

## نفس هم يو اژدها مار دئ:

د دې قصې د نقل کولو څخه وروسته مولنائي روم رحمۃ اللہ علیہ فرمايلي دي چي د انسان د نفس هم داغه حال دئ چي کله يو انسان د نېک او بزرگ سړي په صحبت کي ووسيږي او مجاهدات او رياضتونه وکړي د هغه په نتيجه کي نفس کمزوری سي او ظاهر داسي معلوميږي چي دا نفس اوس مړ سو.

لېکن په حقيقت کي هغه مړ نه وي که انسان د هغه د طرفه څخه غافله سي، نو يو وقت هغه نفس بيا را ژوندی کيږي او دا انسان په نېښ وهلای سي.

چنانچه مولنائي روم رحمۃ اللہ علیہ فرمايي:

*نفس اژدہا است مردہ است.........از غم بی آلتی افسردہ است*

يعني د انسان نفس هم يو اژدها غوندي دئ تر اوسه پوري مړ نه دئ لېکن چونکه د مجاهداتو او رياضاتو په وجه باندي پر ده باندی کمزوري راغلې ده او زده سوی دئ په دې وجه باندي اوس دَی آزرده پروت دئ.

لېکن يو وخت را ژوندی کېدای سي او انسان دوکه کولای سي لهذا يو انسان بايد يو وخت لا هم د خپل نفس څخه غافل نه سي.

## استغفار او توبه د ګناهونو علاج دئ:

لېکن لکه څنګه چي الله تعالی نفس او شیطان دوه زهراچونکي شیان پیدا کړي دي چي انسان په ګناه کي مبتلا کوي.
دغه رنګه د دې دواړو علاج هم الله تعالی ډیر زبردست پیدا کړی دئ، ځکه د الله جَلَّ جَلَالُهُ د حکمت څخه دا خبره ډېره لیري ده چي زهر پیدا کړي او د هغه دپاره علاج نه وي او هغه هم داسي زبردست علاج دئ چي فورًا د هغه زهرو اثر ختمه وي او هغه علاج استغفار او توبه ده.
لهذاچه کله دا د نفس مار انسان په نېښ وهي یا د نېښ وهلو خطره یې وي، نو باید فورًا انسان علاج استعمال کړي او دا ووایي چي ﴿أَسْتَغْفِرُاللهَ رَبِّي مِنْ كُلِّ ذَنْبٍ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ﴾ نو دا علاج به د هغه زهرو ټوله اثر ختمه وي.

## خلیفة الارض د علاجه سره را استول:

حضرت ډاکټرعبدالحی رحمة الله علیه فرمایلي دي: چي الله تعالی په انسان کي د ګناهو صلاحیت پیدا کړئ او بیا یې د خلیفه په شکل و دنیا ته را واستوي لېکن چي په کم مخلوق کي د ګناهو کولو صلاحیت نه وو هغه یې د خپل خلیفه جوړولو اهل نه کړئ یعني فرشتې چي په هغه کي د ګناه کولو صلاحیت او اهلیت موجود نه وو نو هغه د خلافت اهل هم نسوې.
او په انسان کي یې د ګناهو صلاحیت هم کېښوی او په دنیا کي یې خلیفه هم جوړ کړي.
او بیا یې دنیا ته د را استولو څخه مخکي د نمونې په شکل یوه غلطي او خطاء هم په وکړه.
چنانچه حضرت آدم علیه السلام چي یې جنت ته راواستوئ، نو دا یې ورته ویل چي په ټوله جنت کي چي کم ځای ته ځې هغه ته ځه او چي څه خورې هغه خوره مګر دا یوې درختي ته به نه ور نزدې کیږې.

د دې څخه وروسته شيطان هم د الله تعالى په اراده سره جنت ته را ورسېدئ او هغه حضرت آدم علیه السلام يې تيرياستئ (خطا يې کړئ)چي د هغه په نتيجه کي حضرت آدم علیه السلام د هغه درختي څخه خورک وکی او خطا او غلطي ځني وسوه، نو الله تعالى په ده باندی دغه غلطي هم وکړه ولي چي يو کار د الله تعالى د مشيت او ارادې بغيرنسي کېدای.

لېکن د غلطۍ کولو څخه وروسته د حضرت آدم علیه السلام په زړه کي پرېشاني او پښېماني پيدا سوه، چي يا الله جل جلاله! زما څخه دغه غلطي څنګه وسوه د دې څخه وروسته الله تعالى ده ته يو څو کلمات ور وښودل او ده ته يې دا وويل چي ته اوس دغه کلمات وايه:

﴿رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنفُسَنَا وَإِن لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ﴾(۱).

په قرآن کريم کي الله تعالى دا فرمايي چي موږ و حضرت آدم علیه السلام ته دا کلمات ور زده کړې دا هم د الله تعالى په قدرت کي وه چي د دې کلماتو د زده کولو او ويلو بغير د غسي الله جل جلاله معاف کړی وای او ده ته يې دا ويلي وای چي موږ ته معاف کړې لېکن الله تعالى داسي نه وکړه دا ولي؟

حضرت ډاکټر عبدالحی رحمة الله علیه به فرمايل چي الله تعالى دا ټوله په حضرت آدم علیه السلام باندي وکړه او ده ته يې دا وويل چي کمي دنيا ته چي ته روان يې هلته به دغه هر څه کېږي، هلته به شيطان ستا اولاد او ستا نسل په ګناه کي اخته کوي د هغه د پاره به علاج او ترياق دغه وي.

چي تر څو پوري د ځانه سره ترياق او علاج نه يوسې تر هغه وخته پوري ستا اولاد په دنيا کي صحيح زندګي نسې تيرولای هغه ترقياق او علاج استغفار دئ.

---

(۱) الاعراف آيت نمبر، ۲۳

لهذا گناه او استغفار دواړه شیان الله تعالی حضرت آدم علیه السلام ته ور زده کړه او بیا یې ورته وویل چې اوس دنیا ته ورسه او دا تریاق او علاج ډېر آسانه دي چې سړی په ژبه سره استغفار ووایي: نو الله تعالی به هغه گناه ور معافوي.

## بهترین حدیث شریف:

نو چې کله انسان په دنیاکي د نفس او شیطان په معیت کي زندگي تیره وي، نو په گناه کي ضرور اخته کیږي، خو د هغه دپاره بهترین عمل توبهٔ او استغفار دي.

د حضرت ابوهریره رضي الله عنه روایت دئ: ﴿عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْ لَمْ تُذْنِبُوا لَذَهَبَ اللهُ بِكُمْ وَلَجَاءَ اللهُ بِقَوْمٍ يُذْنِبُونَ فَيَسْتَغْفِرُونَ اللهَ فَيَغْفِرُ لَهُمْ﴾(١).

چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به فرمایل چې زما دي په هغه ذات قسم وي چې زما نفس د هغه په قبضه (قدرت) کي دئ، که چیري تاسو ذ مځکي پر مخ باندي بالکل گناه ونه کړئ، نو الله تعالی به ستاسو وجود ختم کړي او ستاسو په بدل کي به داسي مخلوق پیداکړي چې گناه به هم کوي او بیا به استغفار هم وایي او الله تعالی به د هغوی مغفرت کوي.

## د گنهکاره ژړا محبوب عمل دئ:

ځکه الله جل جلاله ته په ډېرو اعمالوکي د گنهکاره ژړا کول او د خپل رب العزت په حضور کي د پښېمانۍ اوښکي تویول ډېر خوښ عمل دئ پیغمبر صلی الله علیه وسلم حدیث قدسي را نقل کوي چې الله تعالی فرمایي: ﴿لَأَنِينُ الْمُذْنِبِينَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ زَجَلِ الْمُسَبِّحِينَ﴾(٢).

چې د گناه کارانو زګیروی او ژړا او پر خپلو گناهو باندي د پښېمانۍ اوښکي تویول دا د سبحان الله ویونکو ترږوږ، وماته ډېرمحبوب دئ.

---

(١) مسلم شریف حدیث نمبر ٦٧٠٠

(٢) روح المعاني پاره ٣٠ ص ١٩٦

خو باید چي ګناه د انسان څخه وسي او انسان پر خپله ګناه الله جل جلاله ته پښېماني پیش کړي او پر خپله ژبه استغفار جاري وساتي.

## بهترین عمل توبه کښل دي:

د مشکوة شریف حدیث مبارک دی چي پیغمبر ﷺ فرمایي ﴿كُلُّ بَنِي آدَمَ خَطَّاءٌ، وَخَيْرُ الْخَطَّائِينَ التَّوَّابُونَ﴾(۱).

په دنیا کي د آدم علیه السلام هر اولاد په ګناه کي واقع کیږي، لیکن بهترین خطا کاره هغه دئ چي هغه پر خپلو ګناهو باندي توبه کاږي، ځکه کچیري بغیر د توبې څخه انسان په ګناه لړلی د خدای جل جلاله و حضور ته پېش سي بیا خو به د سختي پرېشانی او لوی رسوایي سره د قیامت په میدان کي مخامخ سي.

## د ګناه څلور شاهدان:

چي کله انسان په ګناه لړلئ د قیامت په میدان کي د الله جل جلاله و حضور ته پېش سي، نو پر هغه ګناه باندي څلور شاهدان تیار سي او څلور سره شاهدان په قرآن کریم سره ثابت دي:

۱. چي پر کمه مځکه باندي د انسان څخه ګناه وسي هغه مځکه د قیامت په میدان کي د انسان پر ګناه کولو باندي شاهدي پېشوي ځکه قرآن کریم فرمایي ﴿يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا﴾(۲). چي کمه ورځ به دا مځکه خپل خبرونه ښکاره کي.

(۱) شعب الایمان حدیث نمبر: ۶۷۲۵

(۲) الزلزلة آیت ۴

۲. د "سورة زلزال" د دې سورت په تفصيل کې به پېغمبر ﷺ صحابه کرامو ته ویل چې د مځکې پر شا چې کم اعمال خلګ کوي دا مځکه به د قیامت په میدان کې پر هغوی باندې شاهد جوړېږي(۱).

نن سبا خو ټیپ ریکارډ دا معامله، نوره هم صافه کړه ځکه چې په ټیپ ریکارډ کې وسپنه ده هغه خبرې محفوظه وي، نو وسپنه خو د مځکې د جنسه څخه ده، نو مځکه هم په طریقه اولی سره خبرې محفوظه کولای سي.

۳. شاهد د انسان اندامونه دي.

انسان خو په دنیا کې په چالاکې او په درواغو باندې عادت وي، نو د دې اول ګواه (شاهد) په مقابل کې دې درواغ، چالاکي او بهانې پېشوي.
نو الله جل جلاله دوهم ګواه را پېش کړئ قرآن کریم وایي: ﴿الْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلَى أَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَا أَيْدِيهِمْ وَتَشْهَدُ أَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ﴾(۲).
نو الله جل جلاله به ملائکو ته ووایي چې د ده پر خوله باندې مهر ولګوي چې په کمو اندامو سره ده ګناهونه کړي وي هغه اندامونه به د ده پر ګناه کولو باندې شاهدي پېشوي.
مولنای روم رحمة الله علیه فرمایي:

چشم گوید کرده ام غزه حرام ........ گوش گوید چیده ام سوء الکلام

لب گوید چنین بوسیده ام .......... دست گوید من چنین وزویده ام

سترګي به وایي چې په ما یې غلط نظرونه کول، او غوږونه به وایي چې په ما یې غلط آوازونه اورېدل، اوشونډان به وایي چې په ما یې غلط ځایونه مچول او لاسونه به وایي چې په ما یې غلاوي او د بل مالونه لوټول.

۴. شاهد کرام الکاتبین دي.

---

(۱) تفسیر مظهري ج ۱۰ ص ۳۲۲
(۲) یس آیت نمبر ۶۵

لکه په قرآن کریم کي الله جل جلاله فرمايي: ﴿كِرَامًا كَاتِبِينَ (١١) يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ﴾(١).

۵. شاهد د انسان خپله عمل نامه ده.

لکه الله تعالی په قرآن کریم کي فرمايي: ﴿وَ إِذَا الصُّحُفُ نُشِرَتْ، عَلِمَتْ نَفْسٌ مَا أَحْضَرَتْ﴾(٢).

نوسوال دا پیدا کیږي چي کله دانسان پرګناه باندي دقیامت په میدان کي داڅلورشاهدان پیشیږي، نو انسان باید څه وکړي؟
د ټولو څخه ضروري او اهمه خبره دا ده چي کمو کسانو پر ځانو باندي ظلم کړی دی او د خپل ځان خلاف یې دا شاهدان تیار کړي دي د هغوی دپاره پیغمبر ﷺ دا ترتیب بیان کړی دئ چي هغوی پرخپله ګناه باندي توبه وکاږي او د توبې کښلو وروسته د الله جل جلاله په حضورکي پېش سي، نو انشاالله یبا به یې الله تعالی د رسوایي او پرېشانۍ څخه محفوظ وساتي.
﴿إِذَا تَابَ العَبْدُ أنسَى الله الحَفَظَةَ﴾(٣).

څکه پیغمبر ﷺ فرمايي: چي کله بنده توبه وکاږي الله جل جلاله د ده ګناهونه د کرام الکاتبین ملائکو څخه هېر کړي، او چي د کمو اندامو څخه ګناه سوې وي د هغه څخه یې هم هېر کړي، او د مځکي پر کمه ټکړه چي ګناه سوې وي د هغې څخه هم هېره سي، چي کله دا بنده د الله جل جلاله په حضور کي پېش سي، نو د ده پر ګناهو باندي یو شاهد هم نه وي.

(١) الانفطار آیت نمبر ۱۱، ۱۲
(٢) تکویر آیت نمبر ۱۰، ۱۴
(٣) جامع الصغیر جلد ۱ صفحه: ۲۱

## د توبې شرطونه:

شیخ محی الدین ابو زکریا نووي رحمة الله علیه د مسلم شریف په شرح کې د توبې د قبولیت دپاره درې شرطه لیکلي دي.

۱. شرط ﴿اَنْ يَقْلَعَ عَنِ الْمَعْصِيَةِ﴾ چې په کمه گناه باندې انسان اخته وي باید هغه گناه ځای پر ځای باندې پرېږدي، توبه دا نه ده چې سړی په صف اول کې ناست وي او لاحول او استغفار وايي. لېکن چې کله د مسجد تر دروازې لا نه وي وتلی دستې په غیبت او فسق کې مبتلا وي، نو دې ته په حقیقت کې توبه نه ویل کېږي ځکه ﴿فَاِنَّ هٰذَا لِاسْتِغْفَارَ يُحْتَاجُ اِلَي الْاِسْتِغْفَارِ﴾ ځکه داغه ستا توبه دستي وبلې توبې او استغفار ته مجبوره وي.

لکه حضرت رابعه بصریه رحمها الله فرمایي:

*سبحه در کف توبه برلب دل پر از شوق گناه..... این معصیت را خنده می اید بر استغفار*

۲. شرط دا دئ ﴿اَنْ يَنْدَمَ عَلَيْهَا﴾ چې پر تیرو گناهونو د انسان په زړه کې شرمندگي او ندامت پیداسي او د ندامت حقیقت دا دئ ﴿تَأَلُّمُ الْقَلْبِ﴾ چې د الله جل جلاله پر ناراضه کې باندې د سړي زړه غمگین سي او د ندامت او پښېمانۍ اوښکې یې ترسترگو راتوی سي.

## د صحابه کرامو رضی الله عنهم حالت:

د صحابه کرامو رضی الله عنهم په باره کې راځي چې کله به دوی ته معلومه سوه چې الله تعالی او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم زموږ څخه ناراضه دئ، نو قرآن دا اعلان کوي:
﴿وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ﴾(۱) مځکه به پر دوی باندې تنگه وه د الله جل جلاله او د الله جل جلاله د رسول صلی الله علیه وسلم د ناراضه گۍ په خاطر باندې، به کور او کلي دوی ته خوند نه ورکوی بیا به د خپلو بچیانو او کورو څخه بېزاره وه د لیونیانو په شکل به په

(۱) التوبه آیت نمبر ۲۵

ځنګلو کي ګرځېده تر دې حده پوري به پرېشانه وه چي قرآن کريم د دوی په باره کي فرمايي: ﴿وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنْفُسُهُمْ﴾(۱) آخر به د خپلو ځانو څخه هم بېزاره سوه.
او دا د محبت د حقوقو څخه دي چي د کم چا سره د سرې زيات محبت وي د هغه د ناراضګي څخه پر انسان باندي بايد داسي حالت راسي:
چي تر څو پوري به يې دوه رکعته صلاة توبه کړې نه وو او د اوښکو په ډکو سترګو به يې د الله تعالی څخه مغفرت غوښتی نه وو او الله جَلَّ جَلَالُهُ به يې راضي کړی نه وو، نو داسي به بې قراره او ناآرامه کېدله.
آرام او قرار به هلته ورته راتلی چي کله به يې الله جَلَّ جَلَالُهُ او د الله تعالی رسول د خپله ځانه څخه راضي کړل.

## د پښېمانۍ د اوښکي مقام:

د ګنهګاره و اوښکي ته الله تعالی ډېر لوی مقام ورکوي او د ګنهګاره د اوښکي هغه قطره او څاڅکی چي د سجدې په حالت کي د ګنهګاره د سترګي څخه راتوی سي دومره قيمتي دی چي الله تعالی يې په خپل رحمت کي د شهيد د وينو د څاڅکي سره برابر وي.
لکه د پيغمبر ﷺ حديث مبارک دئ: ﴿لَيْسَ شَيْءٌ أَحَبَّ إِلَى اللهِ مِنْ قَطْرَتَيْنِ وَأَثَرَيْنِ: قَطْرَةِ دُمُوعٍ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ وَقَطْرَةِ دَمٍ يُهْرَاقُ فِي سَبِيلِ اللهِ﴾(۲).
دوه څاڅکي الله تعالی ته ډېر محبوب دي يو د ګنهګاره د اوښکي څاڅکی چي د الله تعالی د بيري څخه را ووځي،
او دوهم د شهيد دويني څاڅکی چي د الله تعالی د دين د بلندۍ په خاطر توی سي:
مولانا روم رحمة الله عليه فرمايي:

---

(۱) التوبه آيت نمبر ۱۱۸
(۲) مشکوة کتاب الجهاد ص ۳۳۲

*قطره اشک ندامت در سجود ..... همسری خون شهادت می نمود*

او په یو بل ځای کي یو شاعر وایي:

*که برابر می کند شاه مجید ..... اشک را در وزن با خون شهید*

نو د الله تعالی په رحمت کي د گنهګاره د اوښکي د قطرې وزن د شهید د وینې د قطرې سره برابر وي.

کله کله خو انسان د اوښکي د یوې قطرې په خاطر باندي او د خدای ﷻ و حضور ته د پښېماني پیشولو په خاطر په ډېر لږ څه باندي الله ﷻ انسان ډېر لوړ مقام ته ورسوي.

## د گنهګاره د توبې واقعه:

په بني اسرائیلو کي یو نوجوان دئ د الله ﷻ ډېر زیات نافرمانه دئ غل، شراب خور، او د علاقې د پرلوی ډاکو دئ.

کلي والا چي به کله د ده گناه لیدله هغوی به د ځانه سره دا بېره محسوسه وله چي هسي نه دې گنهګاره په خاطر الله تعالی ټوله کلی په عذاب کي مبتلاء کړي.

نو په اتفاق سره یې دَی د خپل کلي څخه وشړی او دا یې ورته وویل چي ته به آئنده دې کلي ته نه راځې هسي نه چي ستا د نافرمانۍ په خاطر باندي الله ﷻ زموږ ټوله کلی په عذاب کي مبتلاء کړي حالانکه د یو چاوراه راست ته د را اړولو دپاره دا ښه طریقه نه ده چي سړی یې د کور او کلي څخه وباسي بلکي پکار دا دئ چي د هغه دپاره دعاء وکړي هغه په خبرو باندي پوه کړي او د هغه وراه راست ته د را اړولو کوښښ وکړي.

نو دوی د کلي څخه وایستئ او دی ځنګله ته راغلئ نه هلته څوک تلونکئ او نه را تلونکی سته چي کله هلته لوږي او تندي سخت پرېشانه کړئ، نو هلته ناجوړه سو ځکه د خورک او د څښک دپاره هیڅ هم نسته، نو د کلي پر طرف را روان سو پر لاري د بېماری په وجه باندي پر ده باندي د مرگ آثار شروع سوه چونکه ده تر

پر لاري د ېيماری په وجه باندي پر ده باندي د مرګ آثار شروع سوه چونکه ده تر مرګه پوري توبه نه وه کښلې او ټوله زندګي يې په ګناهو کي تېره سوې وه، چي کله پر ده باندی د مرګ آثار ښکاره سوه، نو د ځانه سره يې دا فرياد شروع کړئ چي يا الله ﷻ! زندګي خو مي ټوله ستا په نافرماني کي تېره سوه او زه اوس خپل مرګ و مخ ته ولاړ په سترګو وينم او د خولې څخه د فرياد دا الفاظ را باسي:

﴿يَا مَنْ لَاتَضُرُّهُ الذُّنُوب وَ لَا تَنقُصُهُ الْمَغفِرَةُ وَاللهِ لَوْ عَلِمتُ اَنَّ فِي عَذَابِيْ يَزِيْدُ فِي مِلْكِکَ وَفِي مَغفِرَتِيْ يَنقُصُ فِي مِلْكِکَ﴾.

ای زماربه! کچيري ماته دا معلومه سي چي ماته په عذاب را کولو کي ستا په ملکيت کي زياتوب راځي او زما په معافولو کي ستا په ملکيت کي کمبوت راتلای، نو ما به هيڅ کله ستا څخه مغفرت نه وای غوښتی او نه به مي د عذاب څخه خلاصون غوښتئ وای لېکن چونکه ماته دا معلومه ده چي ماته په عذاب را کولو کي ستا په ملکيت کي زياتوب نه راځي او زما په معافېدو کي ستا په ملکيت کي کمی نه راځي.

يا الله! زه ډېر نافرمانه يم او د ډېر ذلت او رسوايي په حالت کي مړ کېږم نه زما يو دوست او يو قريب سته ټولو زه د خپل کور او کلي څخه ايستلی يم او زما ټوله اميدونه ختم دي.

يا الله! اوس ته ما د خپل رحمت څخه مه باسه او د سترګو څخه يې د پښېماني اوښکي بهېږي او په خوله دا وايي: چي يا الله! ما معاف کړه او ما معاف کړه او په دا غه حالت کي يې روح د بدنه څخه بېل (جلا) سو او وفات سو.

د الله ﷻ د طرفه څخه پر موسیٰ علیہ السلام باندي دستي وحي راغلې چي ای موسی! زما يو دوست په ځنګله کي مړ پروت دئ ورسه د هغه د غسل بندوبست وکړه؟ او د هغه جنازه وکړه او د ښار په ټولو ګناه ګارانو کي دا اعلان وکړه چي کم سړی زما د دې دوست په جنازه کي شرکت وکړي زه به د هغه مغفرت وکړم.

چي کله موسی علیه السلام دا اعلان و کړئ د ښار ټوله خلګ و ځنګله ته راغله که ګوري هغه ګنهګاره هغه شرابي هغه زنا کاره چي دوی د الله تعالی د عذاب د ییري په خاطر د کلي څخه ایستلی وو په ځنګله کي پروت دی دوی ورته ودریدل، نوآخر و موسی علیه السلام ته وایي چي ته دا څه وایي؟
دا خوهغه سړی دئ چي موږ د ډېروګناهونو په وجه باندي د کلي څخه ایستلی وو او ته وایې چي ستاسو د ټولو مغفرت به د ده په جنازه کیږي.
موسی علیه السلام د الله په دربار کي د خلګو سوال عرض کړی الله جل جلاله ورته وایي چي دا کلي والا هم رښتني دي او زه هم رښتنی یم دا یقینا داغسي هم وو لکه چي تاسو کمه خبره کوئ لیکن ﴿لَمَّا اَصَابَتْهُ سَكَرَاتُ الْمَوْتِ فَرَىٰ يَمِيْنًا وَ يَسَارًا فَلَمْ يَجِدْ كَرِيْمًا وَلَاقَرِيْبًا فَرَأَيْتُ نَفْسَهُ حَقِيْرَهُ وَسَغِيْرَهُ وَذَلِيْلَهُ﴾(۱).
ای موسٰی! چي کله پر ده باندي د مرګ غوټه راغله، نو دَی د ځنګله په تنهایي کي پروت وو، نو یو طرف او بل طرف ته یې وکتل نه یې یو دوست او نه یې یو قریب ولیدئ او نه یې یو همدرد او غمخوار ولیدئ، نو د ډیري بې وسی په حالت کي یې زما پر نامه باندي فریاد شروع کړئ او پر خپله تېره زندګي یې ماته د پښېمانۍ اوښکي توی کړې او دا یې ویل چي ټولو ستا بندګانو شړلی یم خوته به مي د خپله درباره څخه نه شړې، نو ما د ده نفس په ډېر حقارت او ذلالت کي ولیدئ د ده پر دغه فریاد او پښېماني باندي زما رحمت او محبت او زما غیرت په جوش کي راغلی چي کله ټولو شړلی دئ، نو زه خپل بنده د خپل درباره څخه ځنګه وشړم.
أی موسی! زما دي په خپل عزت او جلال قسم وي، دَی کم ظرفه وو صرف د خپل ځان مغفرت یې وغوښتی کچیري دې انسان نن زما څخه د ټولي دنیا د ګنهکارانو دپاره مغفرت غوښتی وای، نو ما به ټولو ته مغفرت کړی وای.

(۱) التوابین لابن قدامة الباب توبة شاب مسرف علی نفسه صفحه نمبر: ۵۶

نو ما درته وويل چي د گنهگاره د پښېمانۍ اوښکه کله سرې د کم حاله څخه وکم حال ته رسوي.

د پیغمبر ﷺ حديث مبارک دئ: ﴿مَا مِنْ عَبْدٍ مُؤْمِنٍ يَخْرُجُ مِنْ عَيْنَيْهِ دُمُوعٌ وَإِنْ كَانَ مِثْلَ رَأْسِ الذُّبَابِ، مِنْ خَشْيَةِ اللهِ، ثُمَّ تُصِيبُ شَيْئًا مِنْ حُرِّ وَجْهِهِ، إِلَّا حَرَّمَهُ اللهُ عَلَى النَّارِ﴾[1].

پیغمبر ﷺ وايي چي کله د يو گنهگاره د سترگو څخه د الله جل جلاله د ويري اوښکه را ووځي او بيا د دې مخ و سپين والي ته را ورسيږي، نو د هغه اوښکي په وجه باندي الله تعالی پر دې مخ باندي د جهنم اور حرام گرځوي.

حکيم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه ليکلي دي چي کله پر مخ باندي د جهنم اور حرام سو نو د الله تعالی د رحمته څخه هيڅ بعيده نه ده چي الله جل جلاله دي پر ټوله جسم باندي د جهنم اور حرام کړي.

نو د گنهگاره د پښېمانۍ د اوښکي په خاطر الله تعالی کله نا کله لوی لوی فيصلې بدلوي.

## د بني اسرائيلو د وچ کالۍ واقعه:

يو کال په بني اسرائيلو کي ډېره زبردسته قحط سالي (وچکالي) راغله.

نو بني اسرائيل ټوله راغله و حضرت موسی عليه السلام ته درخواست کوي چي ته دعاء وکه چي الله جل جلاله دغه کاختي ليري کي، نو موسی عليه السلام او بيا زره (۷۰۰۰۰) کسان د ځانه سره را روان کړه او د استسقاء و ميدان ته را ووتل او لمونځ يې وکړئ او د باران دپاره يې دعاء شروع کړه چي يا الله تعالی ته پر دې قوم باندي باران وکړې.

﴿فَلَمَا زَادَتِ الشَّمْسُ إِلَّا تَقَشُّعًا﴾ چي حضرت موسی عليه السلام هر څومره دعاء کوي، هغومره د لمر گرمايي زياتيږي آخر دا وايي چي يا الله موږ باران غواړو او ستا د طرفه څخه د لمر گرمي، نوره هم زياتيږي.

---

[1] ابن ماجه حديث نمبر: ۴۱۶۷

نو الله تعالی ورته فرمايي: ﴿إِنَّ فِيكُمْ رَجُلًا يُبَارِزُنِي بِالْمَعَاصِي مُنْذُ أَرْبَعِينَ عَامًا﴾ په تاسو کي يو سړی دئ چي هغه د څلوېښت کاله څخه زما مقابله شروع کړې ده او زما په نافرماني کي اخته دئ، نو د هغه په وجه باندي ما پر تاسو باندي باران بند کړی دئ، نو هغه د خپلي ډلي څخه وباسه بيا به پر تاسو باندي باران کيږي.

نو موسی علیه السلام په خپل قوم کي دا اعلان وکړئ ﴿يَا مَنْ عَصَى اللهَ أَرْبَعِينَ سَنَةً﴾ ای سړيه! چي ته څلوېښت کاله د الله تعالی په نافرماني کي اخته يې زموږ د ډلي څخه ووزه ستا په خاطر باندي ټوله قوم په عذاب کي مبتلاء دئ.

هغه سړي ته خو دا ور معلومېږي چي دغه سړی خو زه يم بل هيڅا ته دا نه ور معلومېږي چي دغه کس څوک دي او نه الله تعالی و موسی علیه السلام ته وربنوولی دئ چي دا کس فلانکی کس دئ، دې ګنهګاره چي کله شاؤخو و کتل، نو د قومه څخه هيڅ کس هم دباندي نه ووتئ، نو د خپله ځانه سره دا وايي: ﴿لَوْ خَرَجْتُ فُضِحْتُ﴾ که دباندي را ووځم، نو خپل ځان به ذليله کم او که په قوم کي دننه ناست يم، نو زما په وجه باندي باران بند دئ او قوم په پرېشاني کي مبتلاء دئ.

نو خپل سر يې په څادر (پټو) کي وپيچئ چي زما اوښکي څوک ونه ويني او د سترګو څخه يې د توبې او پښېمانۍ اوښکي را رواني سوې او دا وايي ﴿عَصَيْتُكَ أَرْبَعِينَ سَنَةً فَأَمْهَلْتَنِي﴾.

ای الله جل جلاله! څلوېښت کاله ما ستا نافرماني کوله او تا ماته وخت را کوئ او چاته دي دا نه ويل چي زما شپه څنګه تېر بدله او نه دي پر چا زما د ورځي حال ښکاره کوی ﴿فَجِئْتُكَ تَائِبًا فَاقْبَلْنِي﴾ يا الله جل جلاله! زه تا ته پښېمانه راغلی يم او تا ته توبه ګاره راغلی يم ته ما قبول کړې.

چي کله د ده دعاء لانده پوره سوې، نو توره وريځ را پورته سوه او باران وسو حضرت موسی علیه السلام د الله جل جلاله په حضور کي عرض وکړئ چي يا الله جل جلاله! د قومه څخه څوک نه ووتی نو دا باران څنګه وسو؟

الله تعالی ورته فرمايي چي د کم چا د ګناه په وجه باندي مي باران در باندي بند کړی وو نن مي د هغه د توبې کښلو په وجه باندي باران در باندي وکړئ چي هغه د خپل ځلوښتو کالو ګناوي او نافرمانۍ د خپلي پښېمانۍ په دوو څاڅکو اوښکو صفاء کړې.

حضرت موسی علیه السلام ورته فرمايي: چي يا الله جل جلاله اوس خو يې را وښيه چي هغه څوک دئ؟

الله تعالی ورته فرمايي چي کله زما نافرمانه وو ما و چاته نه ورښووئ اوس چي زما فرمانبرداره سو نو زه به يې څنګه رسوا کوم(۱).

نو د توبې دوهم شرط دا دئ چي سړی به پر خپلو تيرو ګناهونو باندي د پښېمانۍ اوښکي تويوي.

۳. شرط دا دئ ﴿اَنْ يَعْزِمَ عَزْمًا جَازِمًا اَنْ لَّايَعُوْدَ اِلَى مِثْلِهَا اَبَدًا﴾(۲).

د انسان به پخه اراده دا وي چي زه به آئنده دغه ګناه نه کوم.

که شيطان وانسان ته د دغه ګناه کولو مشوره بيا ورکړي، نو د انسان جواب به داوي چي ما عزم علی التقوٰی کړی دئ او عزم علی التقوٰی زما د توبې د قبوليت دپاره کافي دئ.

لېکن بيا هم د شيطان معيت د انسان سره ډېر زيات دئ او دغه رنګه د انسان د نفس سره قريب تعلق دئ کډد هغه په خاطر انسان بيا په دوکه کي راسي او په ګناه کي اخته سي دوباره دي بيا توبه وکاږي که لس واره اخته سي، نو لس واره دي توبه وکاږي د الله تعالی د درباره څخه دي نه نا اميده کيږي.

څکه شاعر وايي:

(۱) التوابين لابن قدامة الباب توبة العبد العاصي صفحه نمبر: ۵۵

(۲) شرح مسلم للنووي (ص ۳۴۶)

*باز آ باز آ ہر آنچہ ہستی باز آ ....... گر گبر آتش پرستی باز آ*

*این درگاہ ما درگاہ ناامیدی نیست ............ صد بار گر توبہ شکستی باز آ*

که هر څو واره د انسان څخه توبه ماته سي خو د الله جَلَّ جَلَالُهُ دربار د نا امیدۍ دربار نه دئ د هر څو واره ګناه کولو وروسته بیا هم الله تعالی د ګنهګاره بنده توبه قبلوي.

نو بس د توبې دغه درې شرطه دي:

ګناه ځای پر ځای پرېښول، او پر تیره ګناه د پښېمانۍ اوښکي تویول، او په را روانه زمانه کي د ګناه نه کولو عزم جازم کول الله تعالی دي د دغه رنګه توبې کښلو توفیق را په برخه کړي.

توبه دوه قسمه ده یو قسم توبه اجمالي ده، او دوهم قسم توبه تفصیلي ده، خو د انسان دپاره د توبې کښلو په خاطر دواړي توبې پر ځای کول ضروري دي.

## توبه اجمالي:

توبه اجمالي دې ته وايي چي انسان دوه رکعته نفل د توبې په نیت باندي وکړي او د الله تعالی په حضور کي د ټولو ګناهو څخه د توبې کښلو اجمالا اقرار وکړي چي یاالله! زه په آئنده زمانه کي ګناه نه کوم او چي څومره ګناوي زما څخه په تېره زمانه کي سوي دي د هغه ټولو څخه ستا په دربار کي د توبې کښلو اراده لرم، دا توبه اجمالي ده.

## توبه تفصیلي:

لېکن خبره صرف پر توبه اجمالي باندي تامه نه ده د دې څخه وروسته د انسان دپاره توبه تفصیلي کښل ضروري دي ځکه چي توبه اجمالي بغیر د توبې تفصیلي څخه تامه نه وي، په توبه تفصیلي کي اول د حقوق الله خبره ده په حقوق الله کي بیا اول د لمانځه خبره ده د ټولو څخه مخکي باید چي څومره لمنځونه د انسان پر ذمه باندي پاته وي د هغه په اټکل سره اندازه معلومه کړي او د هغه د

قضاء راګرځولو ترتيب برابر کړي څکه چي د لمنځو قضاء راوړل د انسان په زندګي کي پر انسان باندي واجب وي د دې بغير د انسان توبه کامله نه وي.
د بالغ کېدو څخه وروسته که نارينه وي که زنانه وي غالبًا په شرعه کي د زنانه د بلوغ عمر ۱۲ کاله او د نارينه د بلوغ عمر ۱۵ کاله ښودل سوی دئ، نو د دې وخته څخه بايد انسان پر ځان باندي لمونځ فرض وبولي.

## وصيت نامه ليکل:

د لمنځو د قضاء راګرځولو سره سره بايد انسان د ځان دپاره يوه وصيت نامه وليکي چي زما پر ذمه باندي دونه لمنځونه پاته دي او زما د مرګه بعد زما د مال په دريمه حصه کي بايد زما د لمنځو فديه ادا سي.
د وصيت کولو څخه وروسته د ورثوو پر ذمه باندي د دغه لمنځو فديه ورکول ضروري دي او ورثه شرعا د دې فديې ور کولو پابنده دي.
ليکن که انسان وصيت و نه کړي که ورثه د ده د لمنځو فديه ورکړي دا د هغو د طرفه څخه د دې انسان سره احسان دئ شرعا د هغو پر ذمه باندي د لمنځو فديه ورکول ضروري نه دي.
د حضور اکرمﷺ حديث مبارک دئ چي کم انسان پر الله جل جلاله او پر آخرت باندي ايمان لري او د وصيت ليکلو يوه خبره ورده ته ګوري، نو د ده دپاره دوې شپې هم د وصيت ليکلو بغير ناروا دي(۱).

## قضاء عمري ادا کول:

د قضايي لمنځو راګرځولو ښه طريقه "قضاء عمري" ده د "قضاء عمري" طريقه دا ده چي د هر وقتي لمانځه سره يو قضايي لمونځ انسان را وګرځوي کچيري د انسان سره زيات قضائي لمنځونه وي، نو زيات هم را ګرځولای سي، بلکه قضايي لمنځونه چي څومره ژر پوره کيږي هغومره بهتره ده، او د نوافلو

---

(۱) ترمذي شريف ص(۳۲)

بجائ هم بهتره دا ده چې قضايي لمونځ را وګرځول سي او په قضايي لمنځو کې الله تعالی دا آساني کړې ده چې د سهار او د ماځیګر د لمنځو څخه وروسته نفل لمونځ کول جائز نه دي لېکن قضايي لمنځونه راګرځول جائز دي.

## سنت پرېښول جائز نه دي:

بعض خلګ دا مسئله پوښتي چې زموږ پر ذمه خو قضايي لمنځونه ډېر دي آیا موږ د سنتو پر ځای باندي قضايي لمنځونه کولای سو؟
د هغه جواب دا دئ چې سنت مؤکد کول ضروري دي د هغه پرېښول صحیح نه دي البته د نفلي لمنځو بجائ قضايي لمنځونه سړی کولای سي.
داغه رنګه د قضايي روژو حساب او وصیت کول او د واجب زکوة حساب کول او د حقوق الله او ټولو واجبو احکامو حساب او وصیت په خپل ژوندکي چې د ده پر ذمه پاته وي کول ضروري دي.

## حقوق الله اداکول یا معافول:

کچیري د یو چا پر ذمه باندي د حقوق العباد څخه یو حق پاته وي باید د هغه د ادا کولو کوښښ وکړي او یا د هغه صاحب حق څخه د معافی کوښښ وکړي پیغمبر ﷺ یو وار با قاعده د صحابه کرامو ﷺ په مجلس کي ولاړ سو او دا اعلان یې وکړئ، کچیري ما ویو چاته تکلیف ور رسولی وي یا د یو چا حق زما پر ذمه باندي پاته وي نن زه ستاسو په مخ کي خپل ځان پېشوم، نو هغه سړی دي راسي او زما څخه دي بدله واخلي او یا دي ما معاف کړي.
یو بل حدیث کي پیغمبر ﷺ فرمایي کچیري یوه سړي پر بل سړي ظلم کړی وي هغه جاني ظلم وي او که مالي ظلم وي نن دي د هغه څخه معافي واخلي یا دي سره زر او سپین زر ورکړي د هغه ورځي د را تللو څخه مخکي دي خپل حساب صاف کړي چي په کمه ورځ بیا نه سره زر او سپین زر پیدا کیږي او نه سره زر او سپین زر انسان ته پکار ورځي.

نو دا د مغفرت عشره ده او په کال دوولس میاشتو کې د ګناه د معاف کولو دپاره دا بهترینې ورځې دي انسان باید په دې ورځو کې د خپلو ګناهو څخه مغفرت او بخښنه طلب کړي.

مغفرت او بخښنه په توبه سره کیږي او د توبې مکمل تفصیل او شرائط ما ستاسو په مخ کې تفصیلا پیش کړل اوس د هر انسان اختیار دی چې په کم شکل د الله تعالی څخه مغفرت غوښتلای سي په هغه شکل دې د خپل مغفرت دپاره کوښښ وکړي او د الله تعالی په حضورکې دې پر خپلو ګناهو باندې پښېمانې پیش کړي.

الله تعالی دې موږ او تاسو ته په دې عشره کې په اخلاص سره د توبې کښلو توفیق رانصیب کړي. او الله تعالی دې دغه څو خبرې په خپل دربار کې قبولې او مقبولې وګرځوي. (آمین)

وَاٰخِرُدَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ


بسم الله الرحمن الرحيم

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآیہ)

# د جهنم څخه د آزادی عشره

(بیان)

مولوي اطیع الله صاحب
استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه
کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتي حافظ كليم الله صاحب |
| مقـــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعـت | ثخلـــــــورم |
| تـاريــــخ | يكم ربيع الثاني ١٤٣٩ مطابق يكم مي ٢٠١٨ |
| تـعـــــداد | (١١٠٠) |

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيْهِ مُبَارَكًا عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَ يَرْضٰى وَالصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِه خَيْرِالْوَرٰى وَعَلٰى آلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ نُجُوْمِ الْاِهْتِدٰى.

اَمَّابَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ﴾(١).

قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ﴿رُبَّ صَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ صِيَامِهِ إِلَّا الْجُوعُ، وَرُبَّ قَائِمٍ لَيْسَ لَهُ مِنْ قِيَامِهِ إِلَّا السَّهَرُ﴾(٢).

قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ﴿أَوَّلُ شَهْرِ رَمَضَانَ رَحْمَةٌ، وَأَوْسَطُهُ مَغْفِرَةٌ، وَآخِرُهُ عِتْقٌ مِنَ النَّارِ﴾(٣).

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيْم، وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهید:

محترمو مشرانو! د رمضان المبارک میاشته روانه ده د رحمت عشره تېره سوه د مغفرت عشره تیره سوه اوس د "عتق من النار" عشره مابین ته رسېدلې ده او په ډېر وقار سره خپل آخرني انجام ته رسېدونکې ده.

(١) التحريم آيت نمبر: ٦

(٢) ابن ماجه حديث نمبر: ١٦٩٠

(٣) فضائل رمضان لابن ابي دنيا حديث نمبر: ٣٧

چونکه دا آخرنی عشره ده په دې وجه باندي زموږ د ټولو دپاره د دې آخرنۍ عشرې زيات قدر كول ضروري دئ او د دې په هر ګړي ګړي کي د الله ﷻ طرفته متوجه كېدل او د الله تعالى ذكر كول او د الله تعالى عبادت كو ضروري دي.
او خاص طور باندي په رښتوني زړه سره معافي غوښتل او د يوه پښېمانه ا ننواتي په شکل د الله ﷻ وكورته ورتلل او د الله تعالى په دربار كي خپل عذ پېشول او د خپلو ګناهو مغفرت غوښتل او د خپل ځان دپاره د جهنم څخه آزادولو پوره كوښښ كول موږ ته په كار دي.

## څلور كاره كول:

سركار دو عالم ﷺ فرمايلي دي چي په روژه كي مسلمان بايد څلور كاره كړي:

۱. په كثرت سره د "لَاإِلٰهَ إِلَّااللّٰه" ذكر كول يعني په ولاړه او په ناسته سره او تګ او راتګ بايد د انسان پر ژبه د "لَاإِلٰهَ إِلَّااللّٰه" ذكر جاري وي.

۲. د الله تعالى په دربار كي په صدق دل سره توبه او استغفار طلبول.

۳. د يو اميد درلودنكي انسان په شكل په ډېر شوق سره د الله ﷻ د حضـ څخه د جنت درخواست كول.

۴. د يو بېرېدونكي انسان په شكل د الله ﷻ د جهنم څخه فناه غوښتل په ژړا سره دا دعا كول چي يا الله! په خپل رحمت سره موږ ته د دوزخ څـ آزادي را په نصيب كړي(۱).

---

(۱) اصلاحي بيانات درسائل ج ۲ ص ۲۸۲

## جهنم خوف ناکه ځای دئ:

دا ځلورم عمل چي د جهنم څخه فنا غوښتل دي دا ډېر اهم او ډېر د توجه قابل عمل دئ په دې وجه باندي زيات د توجه وړ عمل دئ چي زموږ ودې طرفته توجه نسته چي جهنم څه شی دئ؟
جهنم د ډېر خوفناکه ځای نوم دئ، موږ انسانان په دنيا کي داسي ننوتلي يو چي په خدای ﷻ قسم نه زموږ سره د عذاب قبر څه ډېره سته، او نه د عذاب د جهنم څه پروا راسره سته.
پر موږ باندي يو قسم داسي بې حسي غوړېدلې ده چي د سهاره څخه تر ماښامه پوري گناه کوو، نه توبه کاږو او نه پر هغه گناه د الله تعالی څخه معافي غواړو او که دا ووايو چي د آخرت څخه د غفلت په حالت کي موږ په زبردستي سره خپل ځان وجهنم ته ورشوه کوو لابه هم شاهد مبالغه نه وي.
بهرحال ستاسو په مخ کي د جهنم لږ تفصيل عرض کوم، هغه په دې وجه باندي چي دا د رمضان المبارک آخرنۍ عشره ده او دا هغه عشره ده چي د حديث له رويه د افطار په وخت کي الله پاک په لکونو او کروړونو انسانان د جهنم څخه آزادوي او دا تعداد صرف زموږ د پوهي دپاره په حديث شريف کي ذکر سوی دئ ورنه مقصود دا دئ چي لاتعداده انسانان په دې عشره کي الله ﷻ د جهنم څخه آزادوي.
داسي نوي چي روژه تېره سي او موږ د خپل غفلت په وجه باندي د جهنم څخه آزادي حاصله نه کړو.
لهذا زه ستاسو په مخ کي د جهنم لږ تفصيل پېشوم او د جهنم څخه د آزادۍ حاصلولو طريقه بيانوم بيا هر سړی عاقل او بالغ دئ چي په کم شکل باندي يې زړه غواړي په هغه شکل دي د جنت غوښتنه وکي او د جهنم څخه دي فنا و غواړي الله تعالی دي ماته د صحيح بيانولو توفيق راکړي او الله تعالی دي موږ او تاسو ته په هغه د عمل کولو توفيق رانصيب کړي. (آمين)

## د جهنم د اور تېزي:

حضرت جبرائيل علیہ السلام يو ځل د پيغمبر علیہ السلام په خدمت کي حاضر سو نو پيغمبر ﷺ د "جبرائيل آمين" څخه پوښتنه وکړه ورته وايي چي اي جبرائيل امينه! ما ته لږ د جهنم حال راکه چي جهنم په کم شکل دئ "جبرائيل آمين" ورته فرمايي چي أی د الله جل جلاله رسوله! جهنم چي کله الله جل جلاله پيدا کړئ، نو الله جل جلاله په خپل امر سره په دې کي زرکاله اور بل کړی تر دې حده پوري چي د زيات بلېدو په خاطر باندي د هغه اور رنګ تک سور سو.

او د دې څخه وروسته بيا الله تعالی هغه اور تېز کړئ تر دې حده چي د هغه اور رنګ ژړ سو.

بيا الله جل جلاله هغه اور زرکاله بل او تېزکئ تر دې حده پوري چي هغه اور د تاريکی او توري شپې په شکل تک تور سو اوس د هغه حالت دا دئ چي د هغه په لمبو (لوګی) کي نه څه کمی راځي او نه د هغه په سکروټو کي څه سوړوالی راځي يعني تر درې زره کاله پوري الله جل جلاله د جهنم اور تېز کړئ تر دې حده پوري چي هغه په خپله تېزي کي انتهاء ته ورسېدئ.

د جهنم د اور د تېزي اندازه تاسو د دې څخه هم کولای سئ چي يو ځل الله تعالی جبرائيل علیہ السلام و جهنم ته ور واستوئ چي ورسه د جهنم څخه يو څه اور و دنيا ته يوسه چي په دنيا کي حضرت آدم علیہ السلام خپله خورکه وغيره ور باندي پخه وي.

جبرئيل علیہ السلام چي کله مالک د جهنم ته راغلی نو ورته وايي چي لږ اور د جهنم څخه و دنيا ته ورم چي په دنيا کي آدم علیہ السلام د خپلي زندګی ضروريات ور باندي پوره کړي مالک د جهنم پوښتنه ور څخه کوي چي أی جبرائيل امينه! څومره اور و دنيا ته وړې؟

جبرائيل علیہ السلام ورته وايي چي د يوې وچي خورما مقدار اور و دنيا ته وړم مالک د جهنم ورته فرمايي چي حضرت که ته د يوې وچي خورما برابر اور و دنيا ته

يوسې، نو د هغه د ګرمۍ په خاطر به دا اووه آسمانونه او اووه مځکې ويلې او په تورو اوبو به بدل سي.

نو بيا به حضرت آدم عليه السلام چيرې ګذاره کوي، جبرائيل عليه السلام ورته وايي چې کله په دې کې دومره تېزوالی او ګرمي ده نو بيا داسې وکړه چې د يوې وچې خورما دمندکې مقدار اور راکه مالک د جهنم ورته فرمايي چې حضرت که ته د يوې وچې خورما د مندکې مقدار اور د جهنم څخه و دنيا ته يوسې نو د دې د ګرمۍ په خاطر به هيڅ کله نه د آسمانه څخه يوه قطره او څاڅکی د باران په شکل راتوی سي او نه به د مځکې څخه يوه زره سبزه او شين ګبنتيا راشنه سي.

جبرائيل عليه السلام د الله رب العزت په دربار کې عرض پيش کړئ چې يا الله!.

د حضرت آدم عليه السلام د ضرورت پوره کولو دپاره د ځانه سره څونه اور يوسم؟

الله تعالی ورته فرمايي چې يوه زره مقدار اور د ځانه سره را واخله چنانچې جبرائيل عليه السلام د جهنم د اوره څخه يوه زره را واخستئ او هغه يې اويا واره د دنيا په يو لوی سمندر کې غوټه کړئ په دې خاطر چې د هغه ګرمايي ختم سي د دې څخه وروسته يې دنيا ته د حضرت آدم عليه السلام و حضور ته راوړئ او په دنيا کې يې د ټولو څخه لوړ او د يوه مضبوطه غره پر سر باندې کېښښوئ او په هغه زره د اور کې لا بيا هم دومره ګرمي او تېزي وه چې د دې يوې زرې د ګرمۍ او د تيزۍ په وجه باندې هغه مضبوطه غر ويلې سو او د دې زرې دود (لوګی) په ډبرو او په وسپنو کې جمعه سو او هغه زره جهنم ته واپس ولاړه([1]).

## د انسانانو بې حسي:

اوس په دنيا کې چې کم اور دئ چې هغه يوه دقيقه هم موږ په لاس کې نسو نيولای او دغه د دنيا اور د يوې دقيقې دپاره موږ برداشتولای نه سو دا د هغه يوې زرې دود دئ.

([1]) اصلاحی بیانات د رسائل ج ۲ ص ۲۸۵

نن هغه اوړ موږ په کورو کي د ضرورت دپاره بلوو چي په هغه باندي وسپنه ویلیږي او هغه ډبري په اهاکو بدلوي چي کله د دې دومره تېزي ده نو د جهنم د اور به څومره تیزي وي چي د هغه یوه زره اویا (۷۰) واره په اوبو کي سړه سوه او دنیا یو مضبوطه غر د هغه برداشت نسو را وړلای او جهنم ته بیرته واپس سوه.
تاسو پردې خبره غور وکړئ چي کله یو انسان د دنیا د اور طاقت نه لري نو د جهنم اور به څنګه برداشت کړي: ﴿العیاذبالله،، العیاذبالله﴾.
تاسو دا خبري لږ په توجه سره واورئ دا د مذاق او مسخرو خبري نه دي داد کیلو او تماشو خبري نه دي دا رشتوني خبري دي ځکه زموږ دا ایمان دئ چي جهنم بر حق دئ د جهنم اور برحق دئ په قرآن او حدیث کي چي د جهنم په باره کي او د جنت په باره کي څومره خبري راغلي دي هغه ټولي رشتیا او برحق دي.

## د جهنم تر ټولو سپک عذاب:

په یوه روایت کي سردار دوعالمﷺ فرمایلي دي چي د جهنم تر ټولو سپک عذاب دا دئ چي یوه جهنمي ته به د جهنم څخه دوې چپلکي (چوټي) را وایستل سي او ور په پښو به سي او دی به پخپله په جهنم کي نه وي صرف په دا دوو پښو به یې د جهنم ګرمي چپلکي ور په پښو وي.
لېکن د دې دوو چپلکو په وجه به د ده د دماغ دا حالت وي چي هغه به د کټوي غوندي خوټکیږي (ایشیږي) او د خوټکېدو آواز به یې د ده شاوخوا همسایه ګان صاف صاف اوري او د ده دا دوې زامي دا به د جهنم سکروټي وي او شونډان به یې د جهنم شغلې او لمبې وي.
د ده د نس د کولمو څخه او د پښو د قدمو څخه به یې د جهنم د اور لمبې راوځي او د ده به د خپل ځان په باره کي دا ګمان وي چي ما ته په ټولو جهنمیانو کي زیات سخت عذاب راکول کیږي.

حالانکه د ده عذاب به په حقيقت کي د ټولو جهنميانو څخه سپک او کم عذاب وي(۱).

## د پای څو تر بجلکو کښته کولو عذاب:

چي صرف د دوو چپلکانو يې دغه عذاب وي خدای نخواسته چي د کم سړي پښې او بجلکي دواړي په جهنم کي وي د هغه به کم عذاب وي؟
تاسو په ښه توجه سره دا خبره واورئ! هر هغه مسلمان نارينه چي په لمانځه کي يا د لمانځه څخه دباندي په کورکي يا د کوره څخه دباندي په دوکان کي او يا په دفترکي د پيشن په خاطر د خيال په خاطر او په دې نيت باندي چي زه په خلکو کي ښائسته معلوم سم د خپل پر تاګه پايڅې تر بجلکو لاندي ځړوي د ده دواړي پښې به د بجلکو سره په جهنم کي وي.
دا د "بخاري شريف" په حديث سره ثابته ده چي د هغې د احاديثو په صحت کي هيڅ شک نسته که يې څوک مني او که يې نه مني دا خبري بالکل برحق دئ.
تر کمه وخته پوري به موږ د دې دنيا په خاطر باندی خپل ځانونه جهنم ته تياره وو انسان بايد سوچ وکړي هغه انسان چي ټوله په جهنم کي وي د هغه به څه حال وي؟

## د جهنم ته ځان وراچول:

سردار دوجهان احمد مجتبی محمد مصطفی ﷺ د جنت سير هم کړی دئ او د جهنم سير يې هم کړی دئ په دې وجه د ده د ذات څخه ماسيواء زموږ دپاره د جهنم څخه بيرونکي بل ذات نسته، ده ﷺ خپل اُمت د جهنم څخه ډېر زيات بيرولی دئ او تر دې حده پوري يې وخپل اُمت ته فرمايلي دي چي زما مثال

(۱) اصلاحی بیانات د رسائل ج ۲ ص ۲۸۵

داسي دئ لکه زه چي تاسو په زبردستي او زور سره د جهنم څخه راکشوم او ستاسو د بچاوېدو کوشش کوم.

او تاسو لاسو نه زما څخه کشوئ او ځان را څخه خلاصوئ او په زبردستي او زور سره په جهنم کي خپل ځانونه اچوئ.

د پیغمبر ﷺ د جهنم څخه د خپل اُمت دپاره د بچاوېدو د کوشش مطلب دا دئ چي دَی مبارک خپل اُمت ته دا وايي چي تاسو ګورئ فلانکی کار ګناه ده فلانکی کار ګناه ده او دا هم ګناه ده هغه هم ګناه ده او دا ګناه انسان و جهنم ته رسوي او هغه ګناه هم انسان جهنم ته رسوي دا کار حرام دئ دا کار ناجائز دئ دا کار ګناه کبیره ده تاسو د دې کارو څخه ځان وساتئ دا ټوله تاسو وجهنم ته رسوي.

د اورېدلو باوجود د معلومېدلو باوجود زموږ زړونه د هغه څخه نه راګرځي او بیا دیده او معلوم کبائر ګناهونه پر کبائرو ګناهو سربیره کؤو، او دا مو د خپلي زندګی مشغله جوړه کړې ده، ښه به را معلوم وي چي دغه کار حرام او ناجائز دئ او ښه به را معلومه وي چي دا کار خلاف شرعه او ګناه کبیره ده.

او دا هم ښه را معلومه وي چي زموږ ومخته د جهنم خوف ناکه عذاب دئ د دې ناروا او حرامو کارو کولو په خاطر د جهنم د خوف ناکه عذاب سره مخامخ کېدونکي یو.

لیکن د ماحول په خاطر د دوستانو په خاطر دکور د زناني په خاطر د ورونو او خویندو په خاطر د قومیت او تربورګلوی په خاطر او د پېغور او رواج په خاطر باندي خپل ځانونه د جهنم ودې عذاب ته تیار وو الله تعالی دي زموږ پر حال باندي رحم وکړي.

## په دوږخ کي د دوږخیانو حالات:

حضرت ابو هریره رضي الله عنه فرمایي: چي رسول الله ﷺ به فرمایل چي په قیامت کي به د کافر دوږخي غاښ د "احد" د غره غوندي وي لوېد هغه ورون به د "بیضاء"

د غره غوندي وي او د ده د ناستي ځای به درې (۳) میله اوږد وي لکه د "مدینې" څخه تر "ربذې" پوري، کمه "ربذه" چي د "مدینې" څخه پردرې (۳) میله واقع ده(۱).

داغه رنګه حضرت ابو هریره ﷺ وايي: چي آنحضرت ﷺ به فرمایل چي د کافر د جسم د پوست پنډوالی به په جهنم کي دوڅلويښت لاسه وي او د ده غاښ به د "أحد" د غره غوندي وي او د ده د ناستي ځای به په دوږخ کي دومره وي لکه کم مسافت چي د مکې او د مدینې په مابین کي دی.(۲)

## د دوږخ غرونه:

حضرت ابو سعید خدري ﷺ وايي: چي رسول الله ﷺ به فرمایل صعود (چي ذکر یې په قرآن کریم کي سوی دی) دا د دوږخ د اوریو غر دئ چي پر هغه باندي به کافر اویا کاله خیژول کیږي او بیا به د هغه ځایه څخه را کښلیږي او په اویا کاله زمانه کي به دَی لاندي ته را رسیږي او بیا به همېشه په دغه عذاب کي مبتلا وي(۳).

## د دوږخیانو خورکه:

حضرت ابو سعید خدري ﷺ فرمايي چي نبي ﷺ به د دې آیت ﴿إِنَّ شَجَرَتَ الزَّقُّومِ، طَعَامُ الأَثِيمِ، كَالْمُهْلِ﴾(۴).

(یعني د زقوم درخته چي د ګنهګارانو خورکه ده د مهل په شان) د مهل د لفظ متعلق ویل سوي دي چي دا د زقوم (لشي) دي چي کم وخت یې د دوږخي

(۱)ترمذي شریف.
(۲)ترمذي شریف.
(۳)ترمذي شریف.
(۴)الدخان آیت نمبر: ۴۴

وخولې ته ور نژدې کي نو د ګرمايي په وجه باندي د ده د مخ پوست په کي راتوی سي(۱).

## د ګرمو اوبو عذاب:

حضرت ابو هريره ﷺ وايي چي پيغمبر ﷺ به فرمايل چي ګرمي اوبه به د دوږخيانو پر سر واچول سي تر دې حده پوري چي د هغه ګرمي به د سره څخه تر نسو پوري ورسيږي او په نس کي چي کمي کولمې دي هغه به ټوله پرې پرې سي او د نس څخه به د باندي را ووځي او دا هغه "صهر" دئ چي الله تعالی په قرآن مجيد کي فرمايي: ﴿يُصَبُّ مِنْ فَوْقِ رُءُوسِهِمُ الْحَمِيمُ، يُصْهَرُ بِهِ مَا فِي بُطُونِهِمْ وَالْجُلُودُ﴾(۲) يعني وابه چول سي د دوی پر سرو باندي ګرمي او به چي د هغه څخه به ويلي سي هغه شيان چي د دوی په نسو کي دي او ويلي به سي د دوی پوستونه دوباره به دوی داسي جوړ سي لکه مخکي چي دوی څنګه وه(۳).

حضرت ابو سعيد خدري ﷺ وايي: چي پيغمبر ﷺ به فرمايل دوږخيان چي د دوږخ په کمو دېوالو کي استوګنه کوي د هر دېوال پنډوالی به د څلوېښتو کالو د مسافت سره برابر وي(۴).

حضرت ابو سعيد خدري ﷺ دا هم وايي: چي پيغمبر ﷺ به فرمايل: که چيري د هغو ژړو اوبو يوه سولاغه چي د دوږخيانو د زخمو څخه رواني وي په دنيا کي واچول سي، نو د دنيا ټوله انسانان به وراسته او بدبويه سي.(۵)

---

(۱) ترمذي شريف.
(۲) الحج آيت نمبر: ۱۹
(۳) ترمذي شريف.
(۴) ترمذي شريف.
(۵) ترمذي شريف.

## د دوږخیانو د چښلو اوبه:

حضرت ابو امامهﷺ وايي: چي رسول اللهﷺ د دې آیت ﴿وَيُسْقَىٰ مِن مَّاءٍ صَدِيدٍ، يَتَجَرَّعُهُ﴾(۱).

(يعني دوږخيانو ته چي کمي اوبه ورکول کيږي کمي چي دوی په غړپ غړپ چښي) رسول اللهﷺ به د دې آيت متعلق فرمايل دا اوبه به د دوږخيانو وخولې ته ورنزدې سي نو د مخ پوست به يې ټوله ويلې په دې اوبو کي راتوی سي او بيا به دا اوبه د دوی په خوله کي ورواچول سي.
چي کله دا اوبه د دوی نس ته ورورسيږي، نو د دوی کلمې به ټوله ټکړه ټکړه کي تردې حده چي هغه کلمې به يې د غټو بولو د لارې د بدنه څخه ووځي.

## د ملائکو څخه دُعا غوښتل:

بيا به دوږخيان په خپل مينځ کي د دوږخ د ملائکو څخه دا غوښتنه او تمنّی وکړي چي ﴿وَقَالَ الَّذِينَ فِي النَّارِ لِخَزَنَةِ جَهَنَّمَ ادْعُوا رَبَّكُمْ يُخَفِّفْ عَنَّا يَوْمًا مِّنَ الْعَذَابِ﴾(۲) تاسو د خپل رب څخه زموږ په حق کي دا دعا وغواړی چي الله تعالی زموږ څخه عذاب لږ سپک کړي او هغه عذاب به څنګه عذاب وي؟
بعض رواياتو کي داسي هم راځي کچيري د جهنم يوه لوټه اوبه د دې دنيا په يوه لوی سمندر کي واچول سي، نو هغه سمندر به ټوله د ګرمۍ په خاطر يو دم په جوش کي راسي.
او کچيري د جهنم يوه سکروټه دې ځمکي ته راپورته سي او د دوږخ يوه ډبره پر دې غرو باندي کښېښول سي نو دا اووه ځمکي او آسمانونه به ټوله ويلې او په تورو اوبو سره بدل سي او کچيري دوږخ د يوې ستني د سفم برابر سوری

---

(۱) ابراهيم آيت نمبر: ۱۶
(۲) الغافر آيت نمبر: ۴۹

پیدا کي د هغه څخه چي کم اور را وځي نو د دنیا ټوله انسانان به په سکرو او په کویله باندي بدل سي.

نو هغه فرشتې به په جواب کي ورته وايي: ﴿أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ مِنكُمْ يَتْلُونَ عَلَيْكُمْ آيَاتِ رَبِّكُمْ وَيُنذِرُونَكُمْ لِقَاءَ يَوْمِكُمْ﴾(١).

آيا تاسو ته د الله تعالى د طرفه رسولان نه وه راغلي؟ چي تاسو ته يې ستاسو د رب احکامات بیانول او تاسو يې د دې ورځي د راتلو څخه بېره ولاست بل ځای کي راځي: ﴿أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَذِيرٌ﴾(٢) آيا تاسو ته څه بيرونکي نه وو راغلي؟

دوی به په جواب کي ورته وايي:

﴿قَالُوا بَلَى قَدْ جَاءَنَا نَذِيرٌ فَكَذَّبْنَا وَقُلْنَا مَا نَزَّلَ اللَّهُ مِن شَيْءٍ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا فِي ضَلَالٍ كَبِيرٍ﴾(٣)

ملائکه چي کله د دوی دغه جواب واوري، نو ملائکه عليهم السلام به ورته وايي: ﴿فَادْعُوا وَمَا دُعَاءُ الْكَافِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَالٍ﴾(٤) تاسو چغي وهئ ستاسو چغي اوس څوک نه اوري.

جهنميان به په خپل مینځ کي دا فیصله سره وکړي چي تاسو د "مالک" فرشتې پر نامه باندي نارې کړئ نو دوی به نارې کړي "مالک"، "یا مالک"!

حضرت عبدالله ابن عمرو ابن عاص رضي الله عنهما فرمايي: چي دوی هر څومره د "مالک" فرشتې پر نامه باندي نارې کړي، نو هغه به تر څلوېښتو کالو پوري دوی ته هيڅ جواب نه ورکوي څلوېښت کاله بعد به ورته ووايي چي تاسو څه غواړئ؟

دوی به ورته وايي چي ﴿لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ﴾(٥) الله زموږ څخه عذاب نه کموي ته د الله جل جلاله څخه وغواړه چي الله جل جلاله موږ ته مرګ راکړي نو "مالک" فرشته به په

---

(١) الزمر آيت نمبر: ٧١
(٢) الملک آيت نمبر: ٨
(٣) الملک آيت نمبر: ٩
(٤) الغافر آيت نمبر: ٥٠
(٥) الزخرف آيت نمبر: ٧٧

جواب کي ورته وو ايي چي: ﴿إِنَّكُمْ مَاكِثُونَ﴾ تاسو به اوس په جهنم کي استوګنه کوئ.

﴿لَقَدْ جِئْنَاكُمْ بِالْحَقِّ وَلَكِنَّ أَكْثَرَكُمْ لِلْحَقِّ كَارِهُونَ﴾[۱] تاسو ته حق راغلی وو لېکن تاسو د حق منلو ته غاړي نه وې ایښي نو اوس به تاسو د هغه په نتیجه کي د عذاب سره مخامخ یاست.

د دې څخه وروسته به جهنمیان د الله تعالی پر نامه باندي نعرې کي "ربنا، ربنا، یاربنا" زر کاله به دوی نعرې وهي د زرو کالو وروسته به الله جَلَّ جَلَالُهُ ورته وو ايي چي تاسو څه غواړئ؟

دوی به وايي: ﴿قَالُوا رَبَّنَا غَلَبَتْ عَلَيْنَا شِقْوَتُنَا وَكُنَّا قَوْمًا ضَالِّينَ (١٠٦) رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْهَا فَإِنْ عُدْنَا فَإِنَّا ظَالِمُونَ﴾[۲] أی الله! پر موږ باندي بدبختي غالبه سوې وه او موږ ډېر بدبخته انسانان وو چي په دنیا کي مو د نافرمانۍ زمانه تېره کړه.

أی ربه! موږ د دې جهنم څخه یو وار وباسه کچیري موږ دوباره نافرماني وکړه نو بیشکه چي موږ قصوروار یو.

الله تعالی به هغوی ته دومره موده جواب نه ورکوي څومره موده چي د دنیا د ټولي مودې دوچنده وي د دې څخه وروسته به هغوی ته د الله جَلَّ جَلَالُهُ جواب ورکول سي:

﴿قَالَ اخْسَئُوا فِيهَا وَلَا تُكَلِّمُونِ﴾[۳] تاسو په جهنم کي ذلیله استوګنه وکړئ او زما سره خبري مه کوئ دا به د الله تعالی د جهنمیانو سره آخري کلام وي.

یو صحابي رضي الله عنه فرمايي چي په خدای جَلَّ جَلَالُهُ قسم د دې څخه وروسته به هغوی یو لفظ هم د خولې څخه نه را وباسي دوی به د جهنم په کوټو باندي ننه باسي او

---

(۱) الزخرف آیت نمبر: ۷۸
(۲) المؤمنون آیت نمبر: ۱۰٦، ۱۰۷
(۳) المؤمنون آیت نمبر: ۱۰۸

هغه کوټو ته به قلفونه ور واچول سي چي نه يوشی دننه ورتلای سي او نه يو څوک د باندي راوتلای سي.

﴿لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَشَهِيقٌ﴾(۱) او د دوی آوازونه به په دې کوټو کي د خرو د آوازو په شکل وي چي د هغه واول ته زفير او آخر ته شهيق وايي.

نو انسان چي کله د دنيا د يو معمولي ضرورت په خاطر او يا د يو معمولي لذت په خاطر د جهنم دې لوی عذاب ته ځان تيار وي أيا تر دې انسان لوی ظالم، او احمق، او نادان به بل څوک وي؟

کچيري د انسان دا عقيده وي چي د مرګه څخه وروسته انسان خاوري ايرې کيږي نه حساب سته نه کتاب بيا چي د انسان زړه غواړي هغه دي وکړي ليکن که انسان عقيده د جنت او جهنم لري، نو بيا خو ضروري دا ده چي د دنيا په نيکو اعمالو سره د جهنم څخه ځانته فناه حاصله کړي.

حضرت قتاده رحمة الله عليه به فرمايل أی قومه! د دوږخ د دې حالاتو څخه ستاسو سره څه فناه سته؟ أيا د دې حالاتو څه تحمل او برداشت کولای سئ؟

که دا يو هم نه سئ کولای، نو بيا د الله تعالى اطاعت ستاسو دپاره آسانه لاره ده دغه لاره اختيار کړئ.

په رواياتو کي راځي چي دوږخيان به د جهنم په کوټو کي تر زرو کالو پوري ژړا او فرياد وکي ليکن هغه به يوه فائده هم نه کوي دوی به مشوره وکړي چي د دنيا مصيبتونه خو په صبر سره ليري کېدل ځکه صبر ﴿مِفْتَاحُ الْفَرَجِ﴾ بلل سوی دئ تاسو راسئ چي د جهنم پر مصيبت موږ او تاسو صبر وکړو.

تر زرو کالو پوري به دوی صبر وکي لېکن چي کله په عذاب کي کمي نه راځي نو دوی به نعرې کي ﴿سَوَاءٌ عَلَيْنَا أَجَزِعْنَا أَمْ صَبَرْنَا مَا لَنَا مِن مَّحِيصٍ﴾(۲).

---

(۱) هود آيت نمبر: ۱۰٦

(۲) ابراهيم آيت نمبر: ۲۱

موږ که صبر کوو او که غم او فریاد کوو زموږ په عذاب کي څه کمي نه راځي نو بيا به هغوی د الله تعالی څخه تر زرو کالو پوري د خپلي تندي او ګرمۍ په خاطر د باران غوښتنه او درخواست کوي دپاره د دې چي د هغوی تنده او ګرمي کمه سي د زرکاله ژړا او فرياد وروسته به الله تعالی و حضرت جبرائيل عليه السلام ته وفرمايي چي دوی څه غواړي؟

حضرت جبرائيل عليه السلام به الله تعالی ته عرض وکړي چي يا الله! ته ښه په دې عالم يې چي دوی د باران غوښتنه کوي.

په دې سره به يوه سره وريځ ښکاره سي د جهنميانو به دا خيال وي چي اوس به باران وسي خو د الله تعالی په قدرت سره به د هغه وريځي څخه د خچري (غاتري) غوندي لړمان او ماران راوه وريږي.

هغه چي کله جهنميان په نيښ باندي ووهي نو تر زرو کالو پوري د هغه د درده څخه په هوښ کي نه راځي.

بيا چي کله په هوښ کي راسي نو تر زرو کالو پوري به د الله تعالی څخه د باران غوښتنه کوي نو بيا به يوه توره وريځ ښکاره سي دوی چي هغه ويني دا به سره وايي چي دا باران والا وريځ ده ليکن د هغه څخه به د اوښانو په شکل ماران او لړمان راووريږي چي څوک په نيښ ووهي تر زرو کالو پوري به يې دردنه ختميږي الله تعالی په قرآن کريم کي د دې عذابو ذکر کوي: ﴿زِدْنَاهُمْ عَذَابًا فَوْقَ الْعَذَابِ بِمَا كَانُوا يُفْسِدُونَ﴾[1].

الله تعالی به د دوی د فساد په وجه باندي عذاب پر عذاب ور زياتوي نو په جهنم کي به د جهنميانو په دې شکل زندګي په عذابو کي مبتلاء وي، نو د جهنم څخه د فناه غوښتلو دپاره رمضان المبارک په ټوله کال کي موزونه مياشته ده په رمضان المبارک کي بيا خاص په دې آخرنۍ عشره کي پيغمبر ﷺ د فناه غوښتلو تاکيد کړی دئ.

---

[1] النحل آيت نمبر ۸۸

چي تاسو به په دې آخرنۍ عشره کي د جهنم څخه فناه غواړئ د خپل ځان دپاره او د خپل کور د انسانانو دپاره د دوستانو او قريبانو دپاره په ژړا سره په پښېماني سره د آزادۍ پروانه حاصله کړئ.

## د جهنم څخه فناه حاصلول:

او د جهنم څخه فناه د ګناه څخه په مغفرت سره کيږي او مغفرت د انسان په توبه سره کيږي او د توبې په باره کي ما په تېره جمعه کي درې شرطه بيان کړي وه.

١. ګناه ځای پر ځای پرېښوول.

٢. پر تيرو ګناهو باندي الله تعالی ته پښېماني او ژړا کول.

٣. او آئنده د ګناه نه کولو عزم او د خدای ﷻ سره وعده کول.

د توبې پر دې حقيقت که سړی غور وکړي نو دا به ور معلومه سي چي موږ د خپلو کبيره ګناهو څخه توبه نه ده کړې د رحمت عشره تېره سوه د مغفرت عشره تېره سوه د جهنم څخه د آزادۍ عشره هم پای ته رسيدونکې ده.

لېکن موږ تر اوسه پوري د خپلو ګناهو څخه په پوره طريقه سره نه يو منعه سوي چي کم انسان په کمه ګناه باندي اخته دئ، نو په ژبه سره خو "أَسْتَغْفِرُاللهَ أَسْتَغْفِرُاللهَ" وايي ليکن په زړه کي د ګناه د پرېښولو قصد او اراده نه لري حالانکه په توبه کي يو شرط دا دئ چي ګناه به انسان ځای پر ځای پرېږدي.

مثلا بعض خلګ د ږيري د خريلو په ګناه کي مبتلا دي نو د ږيري خريل په ټوله روژه کي جاري دي او د روژې وروسته هم جاري دي نو بيا موږ کله د دې ګناه څخه توبه کښلې ده.

تاسو زما خبره ډېره بده مه محسوسوي زما يقينًا ستاسو سره مينه ده بعضې خلګ داسي وي چي په رمضان المبارک کي خو ګناه پرېږدي او د ږيري خريل پرېږدي او ږيره لږ غټه کړي او د نورو ګناهو څخه هم يو څه خپل ځان کنټرول کړي

لیکن په زړه کي یې دا عزم او اراده وي چي څنګه د اختر شپه را ورسېده نو بیره به هم خړیم او د روژې د ټولو ګناهو کسر به پوره کوم.
نو "نعوذبالله" دا خو والله تعالی ته د دوکې ورکولو خبري دي او دا د الله تعالی سره مذاق او مسخرې دي ځکه په توبه کي یو شرط دا دئ چي انسان به په زړه کي د ګناه نه کولو عزم لري.

## د پیغمبر ﷺ زړه زهیرول:

بعضې خلګ دا وایي چي ږیره خو خره یو لیکن د مسلمان زړه نه زهیره وو د دې معنی دا ده چي د دوی په عقیده کي د ږیري خریل لویه ګناه نه ده حالانکه ږیره خریل په حقیقت کي د پیغمبر ﷺ د زړه زهیرول دي او د پیغمبر ﷺ زړه زهیرول به څنګه لویه ګناه نه وي.
ځکه د بعض احادیثو مضمون داسي دئ چي د امت اعمال په مختلفو موقعو پیغمبر ﷺ ته پېشیږي چي کله په هغه کي ګناوي وي نو د پیغمبر ﷺ زړه د خپل اُمت د ګناه لیدلو په وجه باندي زهیریږي.
نو کم انسان چي د ږیري خریلو دپاره پر خپل مخ باندي چاړه راکشوي دا چاړه دي په حقیقت کي د پیغمبر ﷺ پر زړه راکشول وبولي.

## د فیضي شاعر واقعه:

د "اکبر" باچاه په زمانه کي مشهور شاعر تېر سوی دئ چي د هغه تخلص "فیضي" وو چونکه په تصوفو او په طریقت کي د ده ډېر زیات صوفیانه اشعار راتلل نو خلګو به ده ته د ډېر لوی صوفي په نظر کتل او د لیري ځایو څخه به خلګ د ده د ملاقات او دیدن دپاره راتلل.
او دَی چونکه په ایران کي اوسېدئ نو یو وخت د هندوستان څخه یو بزرګ د "فیضي" شاعر د دید دپاره ایران ته ولاړئ چي کله یې د "فیضي" شاعر کور او کلی پیدا کړئ، نو د هغه پوښتنه یې وکړه چي دَی چیري دئ؟

نو خلکو ورته وويل چي هغه په حمام کي حجامه جوړه وي دَی چي کله حمام ته ورغلئ، نو که ګوري چي "فيضي" شاعر ته حمامي ږيره ور خريي.
نو دَی په ډېر تعجب کي ورته وايي:
﴿آغا ريش را می تراشی﴾ آيا ته ږيره خره يې؟ يعني د دې دومره علم او تصوفو سره سره د پيغمبر ﷺ سنت ذبحه کوې.
فيضي شاعر په جواب کي ورته وايي: ﴿بلی ريش را می تراشم وليکن دل مسلمان را نمی خراشم﴾.
"فيضي" شاعر ده ته يو قِسم طعنه ورکوي چي زه خو يو ګناه کوم ږيره خريم لېکن تا تر ما لويه ګناه وکړه چي زما زړه دي را زهير کئ او د مسلمان زړه زهيرول د ږيري خريلو څخه لويه ګناه ده نو دَی په جواب کي ورته وايي: ﴿دل مسلمان نمی خراشی وليکن بخدا دل رسول الله را می خراشی﴾.
زه منم چي د مسلمان زړه خونه زهيره وې ليکن په خدای قسم د رسول الله ﷺ سنت ذبحه کوې او په دې سره د رسول الله زړه زهيروې.
"فيضي" شاعر في البديه دا شعر ورته وايي:
﴿جزاك الله که چشمم باز کردی........... مرا با جان جانان همراز کردی﴾
الله تعالی دي جزاء خير درکړي چي زما دي سترګي را خلاصي کړې او زه دي د رسول الله د سنتو د ذبحه کولو څخه را وګرځولم "فيضي" شاعر بيا تر مرګه پوري پر ږيره او د رسول الله ﷺ پر سنتو باندي تعرض ونه کړئ او د ږيري خريلو څخه يې توبه وکښل.
ږيره کوچنی کول او برېت غټول دا په حقيقت کي د مجوسيانو شعار دئ چي يو سړی زندګي د مجوسيانو پر شعار باندي تېره کړي بيا به په قيامت کي د رسول

اللهﷺ د امتي کېدلو امید څنګه وکړي حالانکه پیغمبرﷺ فرمايي: ﴿مَن لَم يَأخُذ مِن شَارِبِه فَلَيسَ مِنَّا﴾(١).

په بعض روایاتو کي خو تر دې حده پوري تشدید راغلی دئ چي: ﴿مَن طَالَ شَارِبُهُ عُوقِبَ بِأَربَعَةَ أَشيَاءٍ﴾ کم سړی چي برېتونه اوږدوي الله تعالی به څلور شکله سزا ورکړي.

١. ﴿لَايَجِدُ شَفَاعَتِيْ﴾ د قيامت په ميدان کي به زما د شفاعت څخه محروم وي.

٢. ﴿فَلَايَشرَبُ مِن حَوضِيْ﴾ او زما د حوض کوثر د اوبو څخه به محروم وي.

٣. ﴿وَيُعَذَّبُ فِي قَبرِهِ﴾ او په قبر کي به په عذاب کي مبتلا کيږي.

﴿وَيَبعَثُ اللهُ إِلَيهِ مُنكَرًا وَنَكِيرًا فِي غَضَبٍ﴾ او منکر ونکير به په حالت د غصې او خښم کي ورته راپيشيږي.

د پیغمبرﷺ د دومره تشدیداتو سره به د ږيري خريل او د برېتو غټول څنګه کوچنۍ ګناه وبلل سي.

## د ټولو څخه خطرناکه خبره:

د پیغمبرﷺ یو حدیث مبارک بخاري شریف او نورو د حدیثو کتابو رانقل کړی دئ چي پیغمبرﷺ به فرمايل:

﴿لَا يَزنِي الزَّانِي حِينَ يَزنِي وَهُوَ مُؤمِنٌ﴾ زنا کاره د ايمان په حالت کي زنانه کوي.

﴿وَلَا يَشرَبُ الخَمرَ حِينَ يَشرَبُ وَهُوَ مُؤمِنٌ﴾ شراب خوره د ايمان په حالت کي شراب نسي څېښلای.

﴿وَلَا يَسرِقُ حِينَ يَسرِقُ وَهُوَ مُؤمِنٌ﴾(٢) غل د ايمان په حالت کي غلا نه کوي.

---
(١) کنز العمال حديث نمبر: ١٧٢۴١
(٢) بخاري شريف حديث نمبر: ٢۴٧٥

بعضو محدثینو د دې مقصد دا بیان کړی دئ چي د دې ګناهو د کولو په وخت کي نفس ایمان موجود وي لېکن د ایمان هغه نورانیت الله تعالي ور څخه پورته کي. لېکن د دې برخلاف بعض نورو محدثینو بیا دا لیکلي دي چي د ګناه د کولو په وخت کي حقیقتًا ایمان ځني پورته سي او پر سر ورته ولاړوي چي کله دغه ګنهګاره د ګناه څخه فارغه سي، نو بیا ایمان ورباندي راشوه سي.

خو د بعض محدثینو دا رأیه ده چي دا د داغه ګناهو خصوصیت دئ کچیري د دې ګناهو داغه خصوصیت سي خو بیا به لاهم خبره څه آسانه وي.

لېکن د بعض نورو محدثینو بیا دا رأیه ده چي دا د دغه ګناه خصوصیت نه دئ بلکه په هره ګناه کي دا خصوصیت سته چي د ګناه کولو په وخت کي ایمان د انسان څخه پورته کیږي او د ګناه کولو څخه وروسته بیرته ورته راشوه کیږي.

نو کچیري دا خبره داسي سي چي دا د هري ګناه خصوصیت سي بیا خو نو د ډېري خړیلو د ګناه خبره ډېره ګرانه ده ځکه دا ګناه دائمة الوجود ده چي انسان دائمي په دې کي مبتلا دئ بیا خو به خدای نخواسته سرې پر لمانځه ولاړوي ایمان ځني پورته دئ او د سرې په خوله باندي روژه ده او ایمان ځني پورته دئ بیا خو دا ګناه د ټولو څخه خطرناکه بلل کیږي، نو پکار دا دئ چي د ټولو څخه مخکي د دې ګناه څخه انسان توبه وباسي.

ګناه ځای پر ځای پرېږدي او پر تیرو ګناهو باندي خدای جل جلاله ته پښېماني وکړي او په را روان ژوند کي دا عزم وکړي چي بیا به دا ګناه نه کوم او انشاء الله، الله تعالی به وده ته د دې ګناه معافي وکړي.

حضرت شیخ الحدیث مولانا زکریا رحمة الله علیه په خپله رساله کي چي د هغې نوم دی "ډېري وجوب" حضرت دا لیکي چي ما ته داسي خلګ چي د حضور صلی الله علیه وسلم خلاف سنت یې جوړ کړی وي او ډېره خره یې مخته راسي، نو په زړه کي باربار دا خیال راځي چي کبیره ګناوي: زنا، لواطت، شراب نوشي، سود خوري.

چي هرڅو مره ډيري دي مګر دا ټولي وقتي ګناوي دي هر وخت په دې کي انسان مبتلا نوي ليکن د بيري خريل چونکه دائمي ګناه ده او هر وخت انسان پکښي مبتلاوي، نو ماته پر دې ډېر افسوس راځي.

نو بهرحال د "عتق من النار" عشره ده، نو پکار دا ده چي انسان د جهنم څخه د خپل ځان دپاره د آزادۍ کوښښ وکړي او د جهنم څخه آزادي د ګناهو په مغفرت سره کيږي او د ګناهو مغفرت په توبه سره کيږي.

او د توبې کښلو دپاره په کال دولس مياشتو کي دا عشره تر ټولو بهترينې ورځي دي الله تعالى دي موږ او تاسو ته د صحيح توبې کښلو توفيق را په نصيب کړي او الله تعالى دي موږ ته او زموږ ټولو قريبانو ته او ټولو مسلمانانو ته د جهنم څخه آزادي ور په نصيب کړي او الله تعالى دي دغه څو خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي. (آمين).

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُلِلهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ


وما تفعلوا من خير فإن الله به عليم
١٣٧١

بسم الله الرحمن الرحيم

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الايه)

# د ليلة القدر فضيلت

## (بيان)

مولوي اطيع الله صاحب
استاذ الحديث جامعه اسلاميه (علامه ټاؤن) چمن

ترتيب وتخريج:

مفتي حافظ كليم الله صاحب (فاضل دار العلوم كراچي)
استاذ جامعه اسلاميه (علامه ټاؤن) چمن

مكتبه سلطانيه الهاشميه

كانسي روڈ كوئٹه

| | |
|---|---|
| تقـــــرير | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعـت | ثخلــــــــــــــــورم |
| تـاريـــــخ | يكم ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق يكم مي ۲۰۱۸ |
| تــعـــــداد | (۱۱۰۰) |

اَلْحَمْدُللهِ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيْهِ مُبَارَكًا عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَ يَرْضٰى وَالصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰي رَسُوْلِه خَيْرِ الْوَرٰى وَعَلٰى آلِهِ وَ اَصْحَابِهِ نُجُوْمِ الْاِهْتِدٰى.

اَمَّابَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ، وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ، لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ، تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ مِنْ كُلِّ أَمْرٍ، سَلَامٌ هِيَ حَتَّى مَطْلَعِ الْفَجْرِ﴾(١).

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم:

﴿مَنْ يَقُمْ لَيْلَةَ الْقَدْرِ، إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ﴾(٢).

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلٰنَا الْعَظِيْم، وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو مشرانو! د قرآن کریم د ختم موقع ده او د "ليلة القدر" مبارکه شپه ده چونکه د عبادت مبارکي شپې دي د يو مقبول ترين عبادت په اراده يو څو مختصري خبري کوو الله تعالى دې قبولي او مقبولي وګرځوي. (آمين)

"ليلة القدر" د دې امت د خصوصياتو څخه ده، او دا د نيکو اعمالو د کولو دپاره يو بهترين وخت او سيزن دئ، چې د انسان عمل کم وي ليکن د هغه بدله او أجر و ثواب په ډېر زيات انداز انسان ته ميلاويږي.

(١) القدر آيت نمبر: ١، ٢، ٣، ۴، ۵،

(٢) بخاري شريف حديث نمبر: ٣۵

چونکه دا امت الله تعالی ته ډېر محبوب امت دئ، نو الله تعالی کله کله د دې امت د محبت په خاطر پردې امت باندي داسي وختونه او موقعې راولي چي د هغه د لږو اعمالو په بدله کي ډېر لوی أجر او ثواب د هغوی په عملنامو کي جمعه کوي.

نو د هغه وختونو او د هغه موقعو څخه یوه شپه د لیلة القدر هم ده، چي په دې کي هم پر لږ عمل د انسان په عمل نامه کي ډېر لوی أجر او ثواب لیکل کیږي.

او دا د الله تعالی د دې امت سره محبت دئ، او دا امت په ټولو امتو کي الله تعالی ته ګران او خوښ امت دئ.

## د پیغمبر ﷺ د اُمت فضیلت:

حضرت موسی علیه السلام ته الله تعالی په مصر کي د بني اسرائیلو په شکل امت په نصیب ورکړی وو، الله تعالی به پر هغه امت باندي ډېره پراخي کوله او هر قسم نعمتونه د مَن او سلوٰی په شکل دوی ته د آسمانه څخه راتلل.

پنځه لکه (۵۰۰۰۰۰) انسانان وه او څلوېښت (۴۰) کاله به دوی ته د آسمانه څخه پوخ رزق راتلئ او د دوی د لباس بندوبست به هم الله تعالی کوئ.

او د دوی لباس به خود کاره وو، چي کله به هغه انسان غټېدئ، نو د ده پر بدن به هغه د ده لباس هم ورسره غټېدئ، نه به خیرنې دئ، او نه به خرابې دئ، او نه به زړې دئ، تر مرګه پوري به د ده دغه لباس کافي وو.

او چي کله به د ګرمۍ زمانه سوه نو الله تعالی به د دوی د راحت دپاره یخي یخي هواګاني پر دوی راوستلې او چي کله به د یخنۍ زمانه سوه الله تعالی به د دوی دپاره د ګرمي هوا بندوبست کوئ.

چي کله به د خوراک ضرورت وو، نو یو مرغه به د دوی ومخ ته راغلئ او دا به یې ورته ویل چي ﴿هَلْ لَکَ تَشْتَهِیْ اِلَیَّ﴾ ایا زما خوراک ته دي څه شوق او اشتها کیږي؟

چي كله به ده په نعم (اثبات) سره جواب وركړئ نو هغه مرغه به دوهمه پوښتنه دا ور څخه كوله چي ﴿أَوَمشوِيًا أَوَمطبُوخًا﴾ آيا كباب مي غواړې او كه د ښوروا په شكل پوخ سوى مي غواړې؟

چي په كم شكل به د ده فرمائش وو په هغه شكل به هغه مرغه وده ته پېش سو او ده به وخوړى.

د حضرت موسى عليه السلام پر خپل امت باندي ډېر ناز او فخر وو كله به يې دا ويل چي ياالله! زما د امت غوندي به بل نازولى امت په دې كائناتو كي وجود لري؟

نو الله تعالى ورته فرمايي أى موسى! تا ته څه معلومه ده د دې امتو په آخر كي يو امت را روان دئ، چي د هغه فضيلت پر دې نورو امتو باندي داسي دئ لكه زما فضيلت چي پر يو بنده باندي دي.

نو حضرت موسى عليه السلام د الله تعالى په حضوركي دا غوښتنه او خواست كوئ چي ياالله! دا امت زما په برخه كړه، نو الله تعالى ورته فرمايي چي أى موسى! ته ډېر مخكي راغلى يې او هغه امت ډېر وروسته را روان دئ.

بيا موسى عليه السلام دوهم ځل در خواست كوي چي ياالله! د دې امت شكلونه په ما باندي وو ينه الله تعالى ورته فرمايي چي أى موسى! دا هم نسي كېداى ځكه د هغه امت د شكلو ښكاره كېدو زمانه ډېره وروسته ده.

بيا دريم ځل حضرت موسى عليه السلام د الله تعالى په حضور كي دا درخواست كوي چي ياالله جل جلاله! د دې امت آوازونه په ما واوره نو الله تعالى پر "عالم الارواح" باندي آواز كوي ﴿يَا أُمَّةَ اَحْمَد﴾ د عالم الارواح څخه د لبيك او سعديك په شكل د دې امت آوازونه را پورته كيږي چي كله يې حضرت موسى عليه السلام اوري نو وايي چي ياالله! څه ښائسته ويناده او څه ښائسته نغمه ده او څه ښائسته كلام دئ.

د حضرت موسى عليه السلام د خولې مباركي څخه يو دم دا دعاء را وزي چي ﴿اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِيْ مِنْ هٰذِهِ الْأُمَّةِ﴾(۱) أى الله! زما نصيب هم په دې اُمت كي وكړه.

(۱) تفسير الثعلبي سورة الاعراف ۱۴۲ آيت تا ۱۴۷ ص: ۲۸۰

نو دا هغه امت دئ چي ډيرو انبياء په دعاګانو سره په دې امت کي د خپل ځان شامل والی غوښتی دئ په هغوی کي صرف د حضرت عيسی عليه السلام دعاء قبوله سوې ده چي په آخر د دې امت کي به راځي او په دې امت کي به شمارل کيږي.

## "ليلة القدر" د دې امت خصوصيت دئ:

نو الله تعالی د دې امت د محبت په تقاضی باندي پر دې امت باندي د عبادت د يو بهترين سېزن په اراده باندي پر دوی باندي د ليلة القدر شپه راولي چي د يوې شپې د عبادت په خاطر دوی د ډير لوی أجر او ثواب خاوندان او مالکان و ګرځي او دا د دې امت سره د محبت تقاضا ده.
او دا د دې امت پر نورو امتو باندي د فضيلت او غوره والي تقاضا هم ده چي د لږو عمروسره سره په لږ عباداتو باندي په لږ زمانه کي د دوی اعمال د نورو امتو د اعمالوسره برابر او يا د هغوی څخه زيات د الله تعالی په حضورکي و ليکل سي.

## د "ليلة القدر" وجه د تسميې:

بعض علماء کرام رحمهم الله وايي چي دې شپې ته "ليلة القدر" په دې وجه وايي چونکه د قدر معنی تعظيم دی لکه د قرآن کريم په دې آيت کي الله تعالی فرمايي: ﴿وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ﴾(۱) د دې ترجمه مفسرين داسي کوي چي ﴿وَمَاعَظَمُو اللهَ حَقَ عَظمَتِه﴾ نو قدر په معنی د عظمت سره دی.
نو دې شپې ته "ليلة القدر" په دې وجه وايي چي دا هم ډيره د عظمت شپه ده ځکه چي په دې شپه کي قرآن کريم رانازل سوی دئ:
او په دې شپه کي ملائکي و مځکي ته زياتي راشوه کيږي.

---

(۱) الانعام آيت نمبر: ۹۱

او تر سهاره پورې د الله تعالى د طرفه د امن او سلامتۍ، خير او برکت، رحمت او برکت باران وي(١).

بعض نور علماء بيا د قدر معنى په تضييق او تنګي سره کوي لکه په دې آيت مبارک کې دي ﴿وَمَنْ قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ﴾(٢) د دې ترجمه مفسرين داسې کوي ﴿وَمَنْ ضَيِّقَ عَليه رِزقُه﴾ نو د قدر معنٰى ده تنګي او د "ليلة القدر" ترجمه ده د تنګۍ والا شپه.

نو دلته په دې شپه کې د تنګۍ څخه مراد يا خو اخفاء او پوشيدګي ده يعني چې د دې شپې په تعين کې الله تعالى د انسانانو سره د اخفاء او پوشيدګي معامله کړې ده او دا شپه يې د خلکو څخه پوشيده ساتلې ده.

او يا تنګي په دې وجه باندې ده چې په دې شپه کې په کثرت سره ملائکې و مځکې ته راښوه کېږي چې د هغوی د کثرت په خاطر باندې پر مځکه باندې ضيق او تنګي وي(٣).

او بعضو نورو علماؤ دا ليکلي دي چې د قدر معنٰى ده تقدير او اندازه او دې شپې ته "ليلة القدر" ځکه وايي چې په را روان کال کې د ټولو انسانانو د رزق، د ژوند، او د مرګ، چې څومره واقعات ښکاره کېږي د هغه ټولو تقدير الله تعالى په دې شپه کې ليکي او بيا يې د ملائکو په حواله کوي لکه د قرآن کريم په دې آيت کې فرمايي: ﴿فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ﴾(٤) په دې شپه کې الله تعالى د خپل حکمت سره برابر د ټولو تقديراتو جلا والى کوي(٥).

---

(١) نفحات التنقيح جلد: ٣ صفحه: ٢٨٦
(٢) الطلاق آيت نمبر: ٧
(٣) نفحات التنقيح جلد: ٣ صفحه: ٢٨٦
(٤) الدخان آيت نمبر: ۴
(٥) نفحات التنقيح جلد: ٣ صفحه: ٢٨٦

## د ليلة القدر حكمت او فضيلت:

علامه نووي رحمة الله عليه د "ليلة القدر" متعلق ليكلي دي چي "ليلة القدر" د كال په ټولو شپو كي افضله شپه ده.

او ليلة القدر به تر قيامته پوري راځي، او دا شپه د دې امت د خصوصياتو څخه ده او تيرو امتو ته الله تعالى دا فضيلت نه وو ور په برخه كړى لكه د "سورة القدر" د شان نزول څخه هم دا معلوميږي لكه "ابن كثير" د "ابن ابي حاتم" څخه يو روايت را نقل كړى دئ چي يوه ورځ پيغمبر ﷺ د بني اسرائيلو د څلورو كسانو ذكر كوى هغه څلور كسان دا دي:

١. حضرت ايوب عليه السلام.    ٢. حضرت زكريا عليه السلام.

٣. حضرت حزقيل بن العجوز عليه السلام.    ٤. حضرت يوشع بن نون عليه السلام.

چي دې څلورو كسانو اتيا كاله د الله تعالى داسي عبادت وكړئ چي د سترګو د رپ مقدار يې د الله تعالى نافرماني نه وكړه.

صحابه كرامو رضي الله عنهم چي دا خبره واوريده نو د دوى د عبادت پر كثرت يې ډير زيات تعجب كوى او د خپلو عمر و پركم والي يې ډير افسوس كوى او دا يې تمنى وه چي كاش زموږ عمرونه هم دومري زيات واى چي موږ په هغه كي زيات عبادت كړى واى، نو الله تعالى د دوى د تمنى پوره كولو په خاطر باندي جبرائيل عليه السلام را واستوئ چي اى پيغمبره!

ستا صحابه كرام رضي الله عنهم د هغه څلورو كسانو پر اتيا كاله عبادت او په دې اوږده زمانه كي د الله تعالى پر نافرمانى نه كولو باندي تعجب كوي او د هغه د حاصلولو تمنى كوي.

الله تعالى پر تا باندي د دې څخه بهتره يو سورت را نازلوي، نو جبرائيل عليه السلام د پيغمبر ﷺ و مخته د ﴿إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ﴾ سورة تلاوت وكړئ چي د هغه په

ذریعه سره یې پیغمبرﷺ ته دا لوی زیرئ ورکړئ چي تا ته او ستا امت ته چي الله تعالی کم سورت په نصیب ورکړئ.
دا د هغه شي څخه چي تا او ستا صحابه وو پر هغه باندي تعجب کوئ او د هغه د حاصلولو مو تمنی کوله ډېر عظیم دئ، چنانچي پر دې عظیم سعادت او عظیمه خوش خبري باندي پیغمبرﷺ او صحابه کرام‌رضي الله عنهم ډېر زیات خوشحاله سول(۱).

## د صحابه وو د تمنی پوره کولو عجیبه واقعه:

صحابه کرام‌رضي الله عنهم د دې امت عجیب انسانان تېر سوي دي چي د دوی د تمنی پوره کولو او د قسم څخه د بري کولو په خاطر به کله کله الله تعالی د ټوله کائناتو نظام ورته بدلوئ.
چنانچي په یو کتاب کي لیکلي دي چي پیغمبرﷺ د روژې په مبارکه میاشته کي په خپله حجره مبارکه کي پېشلمی کوئ حضرت بلال حبشي‌رضي الله عنه د سهار د آذان کولو په انتظار په مسجد نبوي کي سره ګرځي چي کله یې د پیغمبرﷺ د حجرې مبارکي پر ده ور پورته کړه، نو پیغمبرﷺ په خوراک باندي مصروف دئ.
حضرت بلال حبشي‌رضي الله عنه ورته وایي: چي أی د الله رسوله! صبح صادق را پورته سو یعني سپېدې را وچاودې خوراک بس کړه.
حضرت بلال حبشي‌رضي الله عنه په مسجد نبوي کي ګرځي لږ ساعت وروسته یې بیا د حجرې مبارکې پرده ور پورته کړه پیغمبرﷺ اوس هم په پېشلمي باندي مشغول دئ.
نو حضرت بلال‌رضي الله عنه بیا ورته وایي چي ای د الله رسوله! سپېدې را وچاودلې خوراک بس کړه، حضرت بلال‌رضي الله عنه بیا ولاړئ او په مسجد کي ګرځي چي دریم

(۱)تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۵۳۰

ځل يې پرده ور پورته کړه چې ګوري پېغمبر ﷺ لا اوس هم پېشلمی نه دئ بس کړی.

نو حضرت بلال حبشي رضي الله عنه قسم ورته خوړي چې ای د الله رسوله! په خدای قسم سپېدې راوچاودلې خوراک بس کړه.

پېغمبر ﷺ په جواب کې ورته فرمايي په خدای جل جلاله قسم سپېدې نه وې را چاودلي لېکن أی بلاله! چې کله تا د سپېدو د را چاودلو قسم واخيستئ، نو الله تعالی ستا د قسم څخه د برأت په خاطر پر سپېدو د را چاودلو امر وکړئ.

نو ستا د قسم په خاطر باندې سپېدې اوس را وچاودلې، نو ځکه ما د خوراک څخه اوس لاس ونيوئ.

نو الله جل جلاله به د صحابه کرامو رضي الله عنهم د تمنی پوره کولو په خاطر او د صحابه وو د فضيلت په خاطر د کائناتو نظام بدلوئ، نو دغه رنګه د ليلة القدر شپه هم دې امت ته الله جل جلاله د صحابه کرامو رضي الله عنهم د تمنی په خاطر ورکړې ده او د دې شپې په خاطر يې د دې امت فضيلت پر نورو امتو باندې ښکاره کړی دئ دا يې د دې امت دپاره د نيکيانو يو سېزن او موسم ګرځولی دئ.

## ټوله رمضان المبارک د نيکيانو سېزن دئ:

يوازې ليلة القدر نه بلکه پوره رمضان المبارک الله جل جلاله د دې امت دپاره د نيکو اعمالو کولو وخت او سېزن ګرځولی دئ.

ځکه حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه د پېغمبر ﷺ يو روايت را نقل کوي چې پېغمبر ﷺ به ويل: ﴿يا أيُّهَا النَّاسُ قَدْ أظَلَّكُمْ شَهْرٌ عَظِيمٌ، شَهْرٌ مُبارَكٌ، شَهْرٌ فِيهِ لَيْلَةٌ خَيْرٌ مِنْ ألْفِ شَهْرٍ، جَعَلَ اللهُ صِيَامَهُ فَرِيضَةً، وَقِيَامَ لَيْلِهِ تَطَوُّعًا، مَنْ تَقَرَّبَ فِيهِ بِخَصْلَةٍ مِنَ الْخَيْرِ كَانَ كَمَنْ أدَّى فَرِيضَةً فِيمَا سِوَاهُ، وَمَنْ أدَّى فَرِيضَةً فِيهِ كَانَ كَمَنْ أدَّى سَبْعِينَ فَرِيضَةً فِيمَا سِوَاهُ﴾[1].

---

[1] شعب الايمان حديث نمبر: ٣٣٣٦

أي خلکو! پر تاسو باندي يوه ډېره مبارکه مياشته را رسېدلې ده او ډېره عظيمه مياشته ده چي په دې کي ستاسو دپاره الله جل جلاله د ليلة القدر شپه ايښې ده او د دې يوې شپې عبادت ستاسو دپاره تر زرو مياشتو خير دئ او د دې ورځو روژې پر تاسو باندي فرض دي او د شپې عبادت يې ستاسو دپاره نفل دئ.

کچيري يو سړي په دې مياشته کي نفلي عبادت وکړئ الله تعالى يې په فرضي باندي ورشماري او فرضي يې يو په اويا (۷۰) باندي ورشماري.

او پېغمبر ﷺ به بيا خاصکر د ليلة القدر شپه په دې مياشته کي د خير شپه بلله پېغمبر ﷺ به ويل ﴿مَنْ حُرِمَهَا فَقَدْ حُرِمَ الْخَيْرَ كُلَّهُ، وَلَا يُحْرَمُ خَيْرَهَا إِلَّا مَحْرُومٌ﴾(۱).

چي دا ډېره د خير شپه ده چي کم انسان د دې د خير څخه محروم او بې نصيبه سو نو ګويا د دنيا د ټولو خيرو څخه محروم او بې نصيبه پاته سو او د دنيا د ټولو خيرو څخه محروم او بې نصيبه هغه انسان وي چي هغه ازلي بدبخت او بې نصيبه وي.

## په دې شپه کي د جبرائيل عليه السلام دنيا ته راتګ:

د حضرت انس رضي الله عنه روايت دئ: ﴿قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا كَانَ لَيْلَةُ الْقَدْرِ نَزَلَ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ فِي كَبْكَبَةٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ يُصَلُّونَ عَلَى كُلِّ عَبْدٍ قَائِمٍ أَوْ قَاعِدٍ يَذْكُرُ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ"﴾(۲).

داغه رنګه د اروايت ابو الليث سمرقندي رحمة الله عليه په خپل سند سره د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه هم رانقل کړی دئ چي پېغمبر ﷺ د صحابه کرامو رضي الله عنهم په مخ کي دا وويل چي کله د "ليلة القدر" شپه وي نو الله تعالى و حضرت جبرائيل عليه السلام ته حکم و کړي هغه د فرښتو په يوه لويه ډله کي مځکي ته راشوه سي د هغه سره يوه شنه جنډه او بيرغ وي هغه د کعبې پر سر ودروي.

---

(۱) ابن ماجه حديث نمبر ۱۶۴۴

(۲) شعب الايمان حديث نمبر: ۳۴۴۴

د حضرت جبرائيل علیه السلام شپږ سوه وزره دي په هغه کي دوه وزره دَی مبارک و غوړوي چي د مشرق څخه تر مغرب پوري تیوله فضاء ونيسي.
بيا حضرت جبرائيل علیه السلام و فرشتو ته متوجه سي ورته وايي تاسو ولاړي سئ او په مځکه کي سره خوري سئ او د مسلمانانو حجرو ته ورسئ او د مسلمانانو و مسجدانو او کورو ته ورسئ! چي کم مسلمان په نن شپه کي ولاړوي او يا ناست وي لمونځ کوي او يا ذکر او عبادت کوي هغوی ته سلام وکړئ او مصافحه ورسره وکړئ او د هغوی پر دعاګانو آمين وواياست!
او تر سهاره پوري داغه حالت وي او چي کله سهار سي نو جبرائيل علیه السلام آواز وکړي چي اي د فرشتو ډلي! را تیولي سئ د واپس تللو وخت دئ.
چي کله فرشتې را تیولي سي نو د جبرائيل علیه السلام په مشري کي د ډلي په شکل واپس آسمانو ته رواني سي په لاره کي فرشتې د حضرت جبرائيل علیه السلام څخه پوښتنه کوي چي الله تعالی د محمد رسول الله ﷺ د امت د مؤمنانو د حاجتو او ضرورتو په باره کي څه معامله وکړه؟
حضرت جبرائيل علیه السلام په جواب کي ورته وايي چي الله تعالی په دې شپه باندي پر دې امت توجه وکړه د څلورو کسانو څخه ماسوا نوريې تیوله معاف کړه.
صحابه کرامو رضی الله عنهم چي دا خبره واورېده دستي يې وويل چي يارسول الله! هغه څلور کسان څوک دي؟
پيغمبر ﷺ ورته وفرمايل :

۱. عادتي شرابي دئ چي کم څوک شراب د عادت او د نشې په شکل باندي خوري نو د هغه سړي په دې شپه کي مغفرت نه کيږي او د الله جل جلاله د رحمت څخه بې نصيبه پاتيږي.

## شراب خوري لويه ګناه ده:

شراب زموږ په دين کي سخترينه ګناه ده او د پيغمبر ﷺ په احاديثو کي پر دې ډېر زيات وعيدونه راغلي دي.
پيغمبر ﷺ وايي: ﴿وَالْخَمْرُ جِمَاعُ الْإِثْمِ﴾[1] شراب د ټولو ګناهو مجموعه ده.
ځکه چي کم سړی شراب خوري هغه زنا هم نه پرېږدي، هغه پر غلا هم صرفه نه لري او د مسلمان قتل هم کوي، او د مسلمان د وينو توېولو هم پروا نه لري.
فقيه ابو الليث سمرقندي رحمه الله عليه په خپل سند سره را نقل کوي چي عبد الله ابن عمر رضي الله عنهما به فرمايل چي شرابي به د قيامت په ورځ باندي په داسي حال کي راپيش سي چي د هغه مخ به تک تور وي سترګي به يې شني وي اوژبه به يې راوتلې پر سينه باندي ځړېږي چي د هغه ژبي څخه به ناړي بهيږي، او د هغه ناړو د بدبويي په وجه به هر کتونکی د هغه څخه نفرت کوي.
شرابي چي کله په مخه درسي و هغه ته سلام مه اچوئ.
شرابي چي کله بيماره سي د هغه پوښتني ته مه ورځئ.
شرابي چي کله مړسي د هغه په جنازه کي شرکت مه کوئ[2].

۲. هغه سړی دی چي هغه د مور او پلار نافرمانه وي، د مور او پلار نافرمانه هم هغه بد نصيبه دئ، چي د ليلة القدر په شپه کي د هغه مغفرت نه کيږي. او د الله جل جلاله د رحمت څخه هغه محروم او بې نصيبه پاتيږي.

## پر انسان باندي د مور او پلار ډېر زيات حق دئ:

الله تعالی د انسان د پيدائش موجد حقيقي دئ او مجازاً يې د انسان د پيدائش سبب مور او پلار ګرځولي دي، نو په کتابو کي ليکلي دي چي د الله تعالی د حق څخه وروسته پر انسان باندي د مور او پلار زيات حق دئ.

---

[1] تنبيه الغافلين حديث نمبر: ۲۰۲
[2] تنبيه الغافلين پښتو: ص ۱۴۲

د دې خبرې اظهار د پیغمبرﷺ په دې حدیث مبارک باندې هم کیږي چې پیغمبرﷺ فرمایي: ﴿رِضَى الرَّبِّ فِي رِضَى الْوَالِدِ، وَسَخَطُ الرَّبِّ فِي سَخَطِ الْوَالِدِ﴾(۱).
د الله تعالی رضا د مور او پلار په رضا کې ده چې کم انسان مور او پلار راضي کړي، نو د هغه به د الله ﷻ رضا هم په نصیب سي او که څوک د مور او پلار رض نسي پیدا کولای، دالله تعالی د رضا دې هم طمعه نه کوي.
کتابو کې لیکي چې درې آیاتونه داسي دي چې درې سره یو ځای نازل سوي دي چې په هر آیت کې د دوو شیانو ذکر دئ، یو هم بغیر د هغه بل ځخه د قبلیدو قابل نه دئ.

۱. ﴿وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ﴾ لمونځ کوئ او زکوة ورکوئ، نو کم څوک چې لمونځ کوي او زکوة نه ورکوي، نو هغه لمونځ د الله تعالی په حضور کې نه قبلیږي.

۲. ﴿أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ﴾ تاسو د اللهﷻ او د اللهﷻ د رسولﷺ اطاعت کوئ چې کم څوک د الله تعالی اطاعت کوي او د رسولﷺ اطاعت نه کوي نو صرف د اللهﷻ اطاعت و هغه انسان ته څه فائده او ثمره نه وررسوي.

۳. ﴿أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ﴾ الله تعالی فرمایي چې ته زما شکر اداکه او د خپل مور او پلار شکر اداکوه، نو کم انسان چې د الله تعالی شکر ادا کوي او د مور او پلار شکر نه ادا کوي، نو صرف د الله تعالی شکر ادا کول د الله تعالی په دربار کې څه حیثیت نه لري(۲).

(۱) سنن ترمذي حدیث نمبر: ۱۸۹۹
(۲) تنبیه الغافلین حدیث نمبر: ۱۴۳

چنانچي په احاديثوكي داهم راځي چي دموراوپلارومخ ته كتل دانسان دپاره عبادت ګرځول سوي دي په حديث شريف كي راځي چي كم انسان په محبت او عقيدت سره دخپلي مورومخ ته وګوري نوالله تعالى وده ته ديوه حج اويايوې عمرې ثواب وركوي يوصحابي د پيغمبرﷺ څخه پوښتنه كوي چي اى د الله جل جلاله رسوله! كچيري يوسړى لس واره دخپل مورومخ ته دمحبت په نظر ګوري نو پيغمبرﷺ ورته وايي چي الله تعالى دلسوحجو يا عُمرو ثواب وركوي، ،أيا،، ستاد الله جل جلاله پرخزانوباندي دڅه كمي فكر دئ.

داغه رنګه د مور او پلار خدمت الله جل جلاله د انسان دپاره د ګناهود مغفرت ذريعه ګرځوي.

چنانچي په يوحديث شريف كي راځي پيغمبرﷺ ته يوسړى راغلى چي اى د الله جل جلاله رسوله! زما څخه ډېره لويه ګناه سوې ده د هغه د معاف كېدلو به څه صورت او طريقه وي؟

پيغمبرﷺ په جواب كي ورته فرمايي چي ستا مور ژوندى ده؟

دى ورته وايي: چي هو يا رسول الله ژوندى ده.

پيغمبرﷺ بيا ورته فرمايي كچيري ته د خپلي مور خدمت وكړې نو الله تعالى به ستا ګناهونه ټول معاف كړي.

داغه رنګه د مور او پلار خدمت الله جل جلاله د انسان دپاره د جنت د داخيلېدلو ذريعه او لاره ګرځولې ده.

ځكه پيغمبرﷺ وايي: ﴿الجنّةُ تحتَ أقدامِ الأمّهاتِ﴾(١) جنت د مور او پلار تر قدمو لاندي دئ چي كم انسان د مور او پلار سره په ښه طريقه ګزاره كولاى سي هغه د جنت مستحق جوړېدلاى سي، چي كم انسان په ښه طريقه د موراو پلاره سره ګزاره نسي كولاى هغه په جنت كي څه حصه نه لري.

(١) كنزالعمال حديث نمبر: ۴۵۴۳۹

داغه رنګه د مور او پلار خدمت د انسان دپاره د لوړي مرتبې سبب او ذريعه جوړيږي.
په حديث شريف کي راځي چي پيغمبر ﷺ کله د معراج په شپه باندي د جنت سير کوی نو په جنت کي يې د يو انسان آواز واورېدئ چي د قرآن کريم تلاوت يې کوئ.
دستي يې د جبرائيل امين څخه پوښتنه وکړه چي دا د قرآن کريم د تلاوت ږغ د چا دئ چي دلته جنت ته راسيږي؟
جبرائيل علیه السلام ورته وايي چي دا د "حارثه بن نعمان" آواز دئ پيغمبر ﷺ بيا پوښتنه کوي چي د ده آواز دلته څنګه رارسيږي؟
جبرائيل امين په جواب کي ورته وايي چي هغه د خپلي مور ډېر زيات خدمت کوي او د ده دا عمل الله تعالی ته داسي محبوب دئ چي د هغه محبوب عمل په وجه چي دئ کله قرآن کريم پر فرش باندي تلاوت کوي، نو الله تعالی يې پر عرش باندي په انسانانو باندي اوري(١).

## د مور او پلار د نافرمانۍ سزا:

لکه څنګه چي د مور او پلار په اطاعت کي الله جل جلاله و انسان ته لوړه درجه ورکوي داغه رنګه د مور او پلار د نافرمانۍ په صورت کي الله جل جلاله انسان د لوی سزا سره مخامخ کوي.
په احاديثو کي راځي چي د هري ګناه سزا الله تعالی تر قيامته پوري ځنډوي ليکن واحده سزا د مور او پلار د نافرمانۍ سزا ده چي د هغه عذاب به په دنيا کي هم انسان ويني.
بعضې کتابونه خو داسي هم ليکي چي د مور او پلار د نافرمانۍ يو سزاء دا ده چي الله تعالی به د زکندن په وخت کي د انسان د شهادت کلمه نه په نصيب کوي

(١) موت کی حقیقت ص ١٩ .

او چي کله د شهات کلمه د انسان په نصيب نسي خدانه خواسته بغير د ايمانه تر دنيا تېر نسي او أبدالابد جهنمي نسي.

## د مور او پلار د نافرمانۍ د سزا واقعه:

د پېغمبر ﷺ زمانه ده يو زنانه حال ورته را استوي چي أی د الله ﷻ رسوله! زما خاوند صحابي هم دئ، اوس په حالت د زکندن کي دئ، لېکن پر ژبه باندي يې د شهادت کلمه نه جاري کيږي.

حالانکه هغه صحابي ؤ او د صحابي متعلق زموږ دا عقيده ده کچيري د ټوله دنيا غوث، قطب، او ابدال سره يو ځای سي د صحابي د ناړي وځای ته هم نسي رسېدلای.

په حالت د زکندن کي د يو عام مسلمان پر ژبه باندي د شهادت کلمه جاري کيږي لېکن د هغه صحابي ژبه د شهادت د کلمې څخه بنده ده.

پېغمبر ﷺ راغلی دستي يې د مور او پلار پوښتنه وکړه نو ده ته په جواب کي وويل سوه چي د هغه مور ژوندی ده، نو پېغمبر ﷺ يې مور را طلب کړه، چي کله يې بوډۍ مور را حاضره سوه پېغمبر ﷺ پوښتنه ور څخه کوي چي تاته د علقمه څخه څه شکايت او ګيله وه او ته ولي د ده څخه ناراضه وې؟

هغه بوډۍ په جواب کي ورته وايي چي ماته د علقمه څخه د ده د دين په باره کي هيڅ شکايت نه ؤ هغه تهجد ګزاره ؤ او ټوله شپه به يې پر عبادت تېره وله.

لېکن چي کله به يې زما سره خبره کوله نو د ده ژبه به لړتېزه او لهجه به يې سخته وه او خبره به يې تنده وه، نو په خدای قسم أی د الله ﷻ رسوله! چي د کمي سينې څخه ماوده ته شيدې ورکړي وې د ده د سختي خبري په وجه باندي به زما هغه سينې درد کوي.

زه به تاسو ته په مينځ کي يوه عجيبه خبره وکړم.

چي کله اولاد و مور او پلار ته دا وايي چي تا نو زما د پاره څه کړي دي؟

کچيري دنيا د امتحان ځای نه وای الله به پر هغه ځای باندي پردې اولاد باندي د ډبرو باران کړی وای.

زياته عجيبه خبره خو دا ده چي د الله تعالی د نبي څخه يو څوک پوښتنه کوي چي قيامت به کله راځي؟

پیغمبر ﷺ ورته فرمايي چي الله ﷻ په خبر دی هغه صحابي بيا ورته وايي چي يا رسول الله! يوه نښانه خويه راوښيه؟ نو پيغمبر ﷺ دا نښانه نه ورته بيانه وي چي کله شرک زيات سي، او چي کله کفر زيات سي، زنا زياته سي، شراب زيات سي، او سود زيات سي.

بلکه دا نښانه ورته بيانوي، چي هر کله تاسو وويني چي اولاد د موراو پلار څخه د نوکرانو غوندي خدمت غواړي او د موږ او پلاره سره د مزدورانو غوندي سلوک کوي.

چي کله معاشره دې ځای ته ورسيږي نو دا انسانان بيا په حقيقت کي انسانان نه وي بلکه صرف انسان شکله درندګان وي او الله ﷻ دا خپل نظام او دا آسمانونه او مځکي، او لمر، سپوږمۍ او باذونه، هواګاني دا د درندګانو دپاره نه چلوي بلکه د دې د خرابېدو حکم کوي او چي کله دا نظام خراب سو بس قيامت جوړ سي.

نو پيغمبر ﷺ هغه بوډۍ زناني ته وايي چي دا خپل بچی معاف که چي کله هغه بوډۍ د معافي څخه انکار کوي نو پيغمبر ﷺ و حضرت بلال حبشي رضي الله عنه ته وايي چي ته بوټي را ټول که چي دا سړی پکښي وسوځو نو هغه بوډۍ زنانه دستي وايي چي أي د الله رسوله! ته زما بچی ولي سوځې؟

پیغمبر ﷺ ورته فرمايي چي پر ده باندي حالت د زکندن دی کچيري يې ته معاف نه کړې نو سيده به جهنم ته ځي او چي زه يې په اور وسوځم نو کېدای سي چي الله تعالی به يې د جهنم څخه خلاص کړي.

هغه بوډۍ چونکه د خپل بچي سوځل نسي برداشتولای، نو د پیغمبر ﷺ په مخ کي خپل بچي ته معافي کوي او د دې د معافۍ سره د هغه صحابي پر ژبه باندي کلمه شریفه جاري سوه، او پیغمبر ﷺ د شهادت د کلمې تلقین ورته کوي د شهادت د کلمې د وینا څخه وروسته د هغه صحابي روح پرواز کوي او په وفات باندي رسیږي.

پیغمبر ﷺ پخپله د هغه صحابي جنازه وکړه او تر دفن پوري په جنازه کي ور سره شریک دئ چي کله صحابي دفن سو.

نو پیغمبر ﷺ د هغه پر قبر باندي یو څو خبري کوي صحابه کرامو ته وایي چي دا یوه خبره په غور باندي واورئ، چي کم انسان پخپله زندګي کي مور او پلار ته تکلیف ورکړی پر هغه باندي به د الله تعالی لعنت، د فرښتو لعنت، او د مځکي، او آسمان لعنت وي.

نه هغه ته لمونځ په ښه ورځي، نه هغه ته روژه په ښه ورځي او نه د هغه صدقه د الله تعالی په دربار کي قبلیږي(۱).

## د مور او پلار خدمت د پیغمبر ﷺ تمنی وه:

د پیغمبر ﷺ په خپله زندګي کي یوه لویه تمنی دا وه چي کاش زما مور او پلار ژوندي وای او ما په ښه طریقه د هغوی خدمت کړی وای، کله خو به یې داسي هم ویل چي کاشکي زما مور ژوندئ وای او زه پر فرضي لمانځه باندي ولاړ وای او هغې دا نعره کړې وای چي یامحمد؟

ما به د فرضي لمانځه په مینځ کي سلام ګرځولی وای او دا به مي په جواب کي ورته ویلي وای چي ﴿لَبَّیْکَ وَسَعْدَیْکَ مَاتَقُوْلُ یَاأُمِّي﴾ موري زه په خدمت کي ولاړ یم چي ته څه وایې.

(۱) ماں کی عظمت طارق جمیل: ص ۳۰

نو پيغمبر ﷺ به ډېره دا تمنى كوله(۱).

## د پيغمبر ﷺ د مور مرګ:

د پيغمبر ﷺ مور مباركه حضرت "آمنه" وه او د پيغمبر ﷺ پلار مبارك حضرت "عبدالله" وو، د دوى د واده په وخت كي د حضرت "عبدالله" عمر يويشت (۲۱) كاله او د حضرت "آمنې" مباركي عمر (۲۰) كاله وو.

حضرت عبدالله د پيغمبر ﷺ د پيدائش څخه مخكي وفات سوى وو او چي كله د پيغمبر ﷺ عمر مبارك شپږ كاله ته نږدې سو د حضرت حليمې سعديې رضي الله عنها سره د رضاعت د زمانې تېرولو وروسته د خپلي مور مباركي سره په مكه مكرمه كي د يو يتيم بچي په شكل ژوند تېروئ.

په دې وخت كي د مكې مكرمې يهود او د اطرافو د مكې څخه لوى لوى راهبان د پيغمبر ﷺ د ديدن دپاره راتلل او په ده كي به يې د آخري نبي نښانې كتلې.

د پيغمبر ﷺ مور مباركه د پيغمبر ﷺ د ژوند په باره كي ډېره زياته تشويش ناكه وه چي هسي نه چي يو څوك يې قتل او يا يو تكليف وروسوي.

چونكه د پيغمبر ﷺ د مور مباركي قريبان او قبيله په مدينه منوره كي وه نو مور مباركي يې پيغمبر ﷺ د خپل ځانه سره مدينې منورې ته راوستى چي كله په مدينه كي پيغمبر ﷺ څه ورځي تېره وي نو بيا د مدينې يهود د پيغمبر ﷺ په تلاش او په لټولو كي مبتلاء سوه او خپل آسماني كتابونه به يې ورته غوړولي وه او په ده مبارك كي به يې د نبوت نښانې كتلې.

د مور مباركي سره يې په مدينه منوره كي هم د پيغمبر ﷺ د ژوند په باره كي تشويش پيدا سو، نو د مدينې منورې څخه بيرته د مكې مكرمې پر طرف د يو مختصري قافلې په شكل مكې مكرمې ته راروان سوه.

چي يوه حضرت آمنه د پيغمبر ﷺ مور مباركه ده.

---

(۱) موت كى حقيقت ص ۱۸

او دوهمه ام ایمن چي د پیغمبر ﷺ د مور مینځه ده.
او دریم شپږ کلن بچی پیغمبر ﷺ ورسره دئ.
او دا مختصره قافله د مکې مکرمې پر طرف را روانه سوه په لاره کي د پیغمبر ﷺ د پلار مبارک حضرت "عبدالله" قبر دئ دې ته د څلور شپې مزله څخه وروسته را ورسېدل، چي کله قبر ته راغله نو مور پیغمبر ﷺ ته وایي چي أی محمده! دا ستا د پلار "عبدالله" قبر دئ او ده زما سره دا وعده کړې وه چي أی آمنې! چي کله زه د سفره څخه واپس راسم او زما د اوښ د غاړې ږنګوله وږنګیږي نو ته به زما استقبال ته راوزې ما به ستا دپاره ډېري تحفې راوړې وي.
د دې څخه وروسته به ډېري لوی لوی قافلې د سفرو څخه راغلې د نورو زنانو وکورو ته به د اوښانو ږنګولې وږنګېدلې.
لېکن زما و کور ته د "عبدالله" د مرګ ږنګوله وږنګېدله بیا حضرت "آمنه" د حضرت "عبدالله" پر قبر باندي دا وایي چي أی عبدالله! تا خو زماسره د راتګ وعده کړې وه زما سترګو ستا د لاري انتظار کوئ ډېر کلونه تېرسوه مګر ته نه راغلې د ډېرو ژړاګانو څخه زما سترګي سرې سوې.
أی عبدالله! ستا بچی "محمد" ستا ملاقات ته راغلی دئ ته خو یو ځل سر را پورته که او د هغه وحسن ته وګوره.
چي د هغه د حسن په وجه باندي او د هغه د حفاظت په خاطر پر مور باندي نن تروله دنیاسره ده په یوه ځای کي هم د دې بچي د حفاظت اسره نه لرو د ډېري ژړا په وجه د پیغمبر ﷺ مور مبارکه بېهوښه سوه د هوښ راتلو څخه وروسته د قبر څخه هغه مختصره قافله را روانه سوه او د ماځیګر وخت وو د مکې مکرمې او مدینې منورې په لاره کي یوځای چي نوم یې (ابواء)دئ دې ځای ته را ورسېدل(۱).

(۱) موت کی حقیقت ص ۱٦

## د پيغمبر ﷺ د مور وفات په ابواء کي:

چي کله تاسو نن صبا ابواء وويني توري کوچني کوچني غونډۍ، او ځنګل، او بيرونکې خوفناکه علاقه ده.

چي کله ابواء ته را ورسېدل نو ام ايمن ﷞ ده او حضرت آمنه مبارکه ده او يو شپږ کلن بچی د هغې په غيږه کي پيغمبر ﷺ دئ.

چي کله ماځيګر وخت انسان د ابواء په غونډۍ کي ودرېږي او څوارلس سوه کاله خپل ذهن شاته بوزي بيا به انسان ته د ابواء ډېره او خوفناکي ور معلومه سي حالانکه د شپږ کاله په عمر کي د بچي د ټولو اميدو محور مور وي.

د بچي بستره هم مور وي، د بچي بالښت هم مور وي، د بچي خورکه او نفقه هم مور وي، د بچي ټوله ضروريات د مور په ذريعه پوره کيږي.

لېکن د الله تعالى بيا عجيب نظام دئ چي د ټولو کائناتو پر محبوب انسان باندي په کم شکل امتحان راولي پلار خو د ده د پيدائش څخه مخکي وفات سوی دئ.

او پر مور مبارکه باندي په هغه ځنګله کي مرګ را ورسېدئ کچيري الله تعالى څلور ورځي دا مرګ مؤخر (وروسته) کي نو په مکه مکرمه کي به د قريبانو په مينځ کي د مور مرګ راسي، نو د ابو طالب په شکل قريبان به د پيغمبر ﷺ تسلي او سمبالېدل وکړي.

او که څلور ورځي مخکي د مور مرګ راسي نو په مدينه منوره کي به د ماماګانو په شکل قريبان د پيغمبر ﷺ د تسلی بندوبست وکړي.

لېکن د الله تعالى و نظام ته ګوره چي په هغه ځنګله کي په کم کيفيت باندي پر مور باندي مرګ را ورسېدئ او پيغمبر ﷺ د ناوسی په کيفيت کي ورته ولاړ دئ هغه کيفيت زه وتاسو ته نسم ويلای.

های، های، کيفيات همېشه ګيله کوي چي زموږ د صحيح بيانولو کله کله الفاظ نه پيدا کيږي.

لېکن دومره قدر ويلای سم چي د ماښام وخت لمر پر لوېدو دئ او لمر د غره د کنارې سره لګېږي توره تياره را روانه ده ماحول چف چاف دئ پر فضاء باندي عجيبه غمګيني خوره ده.

شپږ کلن بچی د مور په غېږ پوري مښتی دئ او د مورې سترګي يوار پټي او بيا روڼي سي او ساه يې په غوټو غوټو باندي راځي نو آخر يې مور مبارکه وايي چي زه د دنيا څخه رخصتېږم او داسي بچی و دې دنيا ته پرېږدم چي د هغه نوم به په ټوله دنيا کي روښانه ګرځي او دا يې د مور مبارکي آخري ځل ويناوه.

او د هغه څخه وروسته د دنيا څخه رخصت سوه. ﴿إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ﴾.

چي کله يې د مور مبارکي سترګي پټي سوې نو د پيغمبر ﷺ سلګی شروع دي او د مور په غېږ پوري مښتی دئ او دا نعرې کوي چي "يَا أُمِّيْ، يَا أُمِّيْ، يَا أُمِّيْ" ام ايمن رضي الله عنها تسلي ورکوي لېکن چي کله خپل قريب نه وي نو د نوکر په تسلي به د انسان څه تسلي وسي.

اوس د پيغمبر ﷺ د مور مبارکي قبر دلته په "ابواء" کي په کم شکل او چا جوړ کړئ ځکه يو ماشوم بچي او يوه زنانه ورته ولاړ دي هغه خو د قبر کنبلو څه بندوبست نسي کولای، نو دا عُقده په تواريخو کي تر اوسه پوري نه ده حل سوې.

چي کله قافله د ام ايمن رضي الله عنها او د دې بچي په شکل د مکې مکرمې پر طرف را روانه سوه نو پيغمبر ﷺ درې ځله د مور مبارکي په قبر پوري ومښتئ، نو بيا به ام ايمن رضي الله عنها ورڅخه را ايسته کړئ(۱).

---

(۱) موت کی حقیقت ص ۱۸

## پيغمبر ﷺ د مور پر قبر باندي:

حضرت يوسف علیه السلام چي کله مصر والا وو را نيوی او د قافلې سره يې مصر ته بيوی نو په لاره کي د مور پر قبر راغلئ او پر دې قبر باندي داسي ومبنتئ چي قافلې والا په ډېر تکليف د مور د قبر څخه راجلا کړئ.

بعينه داغسي نبي کريم ﷺ هم وکړه چي کله د شپږ کاله په عمر کي ام ايمن رضي الله عنها په ابواء کي د مور د قبر څخه روان کړئ، نو دی په منډه بيا راغلئ د مور پر قبر باندي ومبنتئ او د "يَاأُمِّي يَاأُمِّي" فرياد به يې کوئ يو ځل نه دوه ځله نه دري ځله د مور په قبر باندي ومبنتئ چي په شپږ کلن بچي کي څومره زور وي په هغه زور سره د مور د قبر څخه نه راجلا کېدئ، نو ام ايمن رضي الله عنها به بيا په زور راولاړ کړئ ځکه دا د الله تعالی فيصله وه.

نو د مور او پلار نا فرمانه هم د دې شپې د رحمت او مغفرت څخه بې نصيبه پاتيږي.

۳. هغه سړی چي د دې شپې د رحمت څخه محرومه پاتيږي هغه هغه کم نصيبه دئ چي د قريبانو سره وصله رحمي قطعه کوي.

## تربور د لړم غوندی دئ:

د پيغمبر ﷺ د راتګ څخه مخکي د عربو د جاهليت په وخت کي د قريب او د تربور متعلق دا عقيده وه چي دوی به ويل ﴿الْأَقَارِبُ كَا الْعَقَارِبُ﴾ چي قريبان او تربرونه د لړم غوندي دي لکه لړم چي همېشه د انسان د نېش وهلو په فکر کي وي داغه رنګه تربور او قريب هم د انسان ته د ضرر رسولو په فکر کي وي نو د عربو په معاشره کي به همېشه د قريبانو په مينځ کي نفرتونه او بدبيني او د وصيلو قطعه کول وه.

لېکن چي کله پيغمبر ﷺ دنيا ته تشريف راوړئ، نو همېشه به يې دا ويل چي ﴿لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَاطِعٌ﴾ په جنت کي هغه انسان حصه نه لري چي کم انسان د قريبانو

سره وصله رحمي قطعه کوي، نو زموږ دپاره د زندګۍ تېرولو دستور د پيغمبر ﷺ دغه حديث سو.

## د بدلې انتظار نه کول:

د قريبانو د حقوقو ادا کولو په باره کي د هرسړي دا رأيه ده چي حقوق ادا کول ښه خبره ده او د قريبانو سره وصله رحمي کول ښه خبره ده لېکن په عمل کي يو سړی هم دې ته تيار نه دئ نو ځکه په معاشره کي فسادونه او نفرتونه دي اصل نقصان په دې کي وي چي کله يو قريب د بل قريب سره ښه وکي، نو دَی په دې اميد او انتظار ورته کښېني چي دَی به نو اوس زما شکريه ادا کوي او زما د ښو بدله به راکوي لېکن چي کله يې دا اميد پوره نه سو، نه يې هغه شکريه ادا کړي او نه بدله ورکړي نو بس د ده په زړه کي شکوې او شکايتونه شروع سي چي ما خو د ده سره دا وکړه ده نو زما سره څه وکړه.

د هغه آخري نتيجه دا سي چي تا د ده سره کم ښه کړي دي د هغه د ثواب څخه هم محرومه سوې او د آئنده وخت دپاره دي هم د هغه څخه نفرت په زړه کي کښېنوئ، نو د قريبه سره ښه کول بايد د شکريې پيدا کولو او د بدلې پيدا کولو په نيت سره نه وسي.

ځکه پيغمبر ﷺ فرمايي چي کله تاسو د يو چا سره ښه کوئ صرف د الله تعالی د رضا دپاره يې ورسره کوئ په دې نيت يې مه ورسره کوئ چي دَی به هم زماسره ښه کوي او يا به زما شکريه ادا کوي.

## وصله رحمي کولو والا څوک دئ؟:

يو حديث چي د همېشه يادولو لائق دئ پيغمبر ﷺ به د وصله رحمي په باره کي فرمايل: ﴿لَيْسَ الْوَاصِلُ بِالْمُكَافِي، وَلَكِنِ الْوَاصِلُ الَّذِي إِذَا قُطِعَتْ رَحِمُهُ وَصَلَهَا﴾(۱).

(۱) بخاري شريف حديث نمبر: ۵۹۹۱

وصله رحمي دا نه ده چي انسان به د بدلې انتظار کوي لېکن وصله رحمي دا ده چي قريبان تعلق ختم کړي، دی د هغه باوجود بيرته تعلق ورسره مبنلوي د خپلو ښو کولو څخه وروسته د هغه د ښو انتظار نه کوي.

بلکه مزه او خوند خو په دې کي وي چي ته د قريبانو سره احسان او حسن سلوک کوې او د هغوی د طرفه څخه ښه جواب نه بلکه بېکاره جواب راځي ته بيا هم د هغوسره حسن سلوک په دې نيت باندي کوې چي د کم چا دپاره يې کوم هغه ذات ما ته ښه بدله راکولای سي بلکه د خلګو د ښه سلوک انتظار نه وکړې ځکه يو شاعر وايي:

*نیکی بر نیکی کار زنان است.........نیکی بر بدی کار مردان است*

نيکي د نيکۍ په بدله کي دا د زنانو عادت دئ او نيکي د بدۍ په مقابله کي دا د نارينه عادت دئ.

حکيم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمۃ اللہ علیہ په خپلو مواعظو کي ډېره لويه د تجربې خبره کړې ده هغه دا فرمايلي دي چي په دنيا کي د راحت پيدا کولو صرف يوه نسخه ده هغه دا ده، چي د مخلوق څخه د نيکۍ توقعات ختمول د خير توقعات صرف د الله تعالی د ذات څخه ساتل اوس کچيري د مخلوق د طرفه ستا سره خير او نيکي وسي، نو هغه به خلاف توقع وي نو د هغه په نتيجه کي به تا ته ډېره خوشحالي وي ځکه ستا توقوع خو داسي نه وه.

او کچيري د مخلوق د طرفه څخه تا ته تکليف در ورسيږي، نو تا ته به پر هغه ډېره پرېشاني نه وي ځکه چي د ښو توقع خو تا هسي هم نه ده ساتلې او دا تکليف ستا د توقع مطابق تا ته ورسېدئ.

خو بهرحال د قريبانو سره ښه کول بايد د الله تعالی د ذات دپاره وسي او الله جل جلاله به انشاالله انسان ته نېکه بدله ورکوي او د مخلوق د طرفه د ښې او د بدي بدلې بايد انسان انتظار و نه کړي.

نو وصله رحمي قطعه کونکی هم د دې شپې د رحمته څخه محروم او بې نصيبه وي.

۴. هغه کم نصيبه چي د دې شپې د رحمته او برکته څخه بې نصيبه پاتيږي هغه هغه انسان دئ چي د مسلمانانو سره تر درې ورځي زيات سلام بنده وي او زموږ شريعت اسلامي د بغض او عناد پر تقاضاوو باندي د عمل کولو څخه موږ په سختي سره منع کړي يو.

## د بغض کونکي بخښنه نسته:

د بغض کولو په باره کي د پيغمبر ﷺ يو حديث دئ: ﴿تُعْرَضُ أَعْمَالُ النَّاسِ فِي كُلِّ جُمُعَةٍ مَرَّتَيْنِ، يَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَيَوْمَ الْخَمِيسِ، فَيُغْفَرُ لِكُلِّ عَبْدٍ مُؤْمِنٍ، إِلَّا عَبْدًا بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَخِيهِ شَحْنَاءُ، فَيُقَالُ: اتْرُكُوا، أَوِ ارْكُوا، هَذَيْنِ حَتَّى يَفِيئَا﴾(۱).

الله ﷻ د خپل بادشاهت نظام داسي جوړ کړی دئ چي په هفته کي دوې ورځي دوشنبه او پنجشنبه د انسانانو اعمال د ده وحضور ته را پيشيږي او د هغه پر بنياد دَی د دې انسانانو مغفرت کوي، مګر هغه دوه کسان چي د دوی په مينځ کي بغض او عناد وي الله تعالیٰ ملائکو ته وايي تر هغه وخته پوري يې مغفرت مه ليکئ تر څو چي دوی د دې عمله څخه نه وي راګرځېدلي.

نن سبا چي ددوو انسانانو په مينځ کي معمولي پرېشاني راسي يو دبله سره خبري بندي کړي او يو د بل په غم او خوشحالي کي شرکت نه کوي کچيري دواړه سره مخامخ سي نو يو د هغه بل څخه مخ اړوي، حالانکه دا صحيح طريقه نه ده ځکه پيغمبر ﷺ فرمايي: ﴿لَا يَحِلُّ لِرَجُلٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ، يَلْتَقِيَانِ: فَيُعْرِضُ هَذَا وَيُعْرِضُ هَذَا، وَخَيْرُهُمَا الَّذِي يَبْدَأُ بِالسَّلَامِ﴾(۲).

---

(۱) صحيح مسلم حديث نمبر ۳۶

(۲) بخاري شريف حديث نمبر: ۶۰۷۷

د انسان دپاره دا جائز نه ده چي د خپل مسلمان ورور څخه تر دري ورځي زيات سلام بند کړي چي کله ناراضي راسي، نو تر دري ورځي زيات بايد چي دا ناراضي اوږده نسي.

د درو ورځو قيد هم په دې وجه په حديث کي لګيدلی دئ کچيري د يو طبعي تقاضا په خاطر څه ناراضي وي بايد د هغه آثر تر درو ورځو پوري ختم سي ځکه تر درو ورځو زياته ناراضي کول بيا سخته ګناه وي د ناراضی څخه وروسته خير په دې انسانانو کي هغه څوک دئ چي هغه ابتداء په سلام وکړي.

په يوه روايت کي تر دې حده پوري پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: ﴿مَنْ هَجَرَ أَخَاهُ سَنَةً فَهُوَ كَسَفْكِ دَمِهِ﴾[1].

چي کم انسان د خپل مسلمان ورور څخه تر يوه کاله پوري خبري بندي کي نو ګويا ده د هغه وينه وبهيوله.

د هر ځله داسي وي چي په دوو انسانانو کي ناراضي وي او د دوی څخه يو صلح کول غواړي او هغه بل و صلح ته اماده نه وي، کچيري د هغه صلح نه کولو والا يو حق جوړيږي چي دی يې مطالبه کوي نو بايد د هغه حق اداسي، لېکن که هسي خامخا د صلح څخه انکار کوي، نو د بغض او عناد ګناه پر صلح غوښتونکی باندي نه راځي، بلکه صرف پر هغه سړي باندي راځي چي کم سړی د صلح څخه انکار کوي.

---

[1] شعب الايمان حديث نمبر: ٦٢٠٧

د پيغمبرﷺ يو روايت مبارک هم داسي دئ: ﴿لَا تَحِلُّ الْهِجْرَةُ فَوْقَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فَإِنْ الْتَقَيَا فَسَلَّمَ أَحَدُهُمَا فَرَدَّ الْآخَرُ فِي الْأَجْرِ، وَإِنْ لَمْ يَرُدَّ بَرِئَ هَذَا مِنَ الْإِثْمِ وَبَاءَ بِهِ الْآخَرُ﴾(١).

د درو ورځو څخه زيات خبري بندول جائز نه دي، کچيري د دوارو انسانانو په مينځ کي ملاقات وسي او يو سلام ورته ووايي او هغه بل جواب ووکړي نو دا دواړه په ثواب کي سره شريکان دي، او کچيري دوهم د سلام جواب ورنه کړي نو دغه سلام کونکی دِ گناه څخه خلاصيږي او هغه بل جواب نه ورکونکی به گنهگاره وي.

نو څلورم هغه سړی دئ چي په دې شپه به د اللهﷻ د رحمت او مغفرت څخه محروم وي چي د مسلمانه سره تر درې ورځي زيات تعلق، سلام او کلام ختموي.

نو بهرحال دا د "ليلة القدر" شپې مبارکي دي پکار دا دئ چي په دې کي انسان پخپله هم عبادت وکړي او د کور انسانان او بچيان هم وعبادت ته اماده کړي عبادت دا نه معنی چي ټوله شپه به تر سهاره پوري انسان تيروي بلکه د شپې په اول سرکي يو څه عبادت کول او بيا آرام کول او د پيشلمي څخه لږ مخکي را پورته کېدل يو څه تلاوت او عبادت کول انشاء الله، الله تعالی دا انسان د ټوله شپې په عبادت کونکو کي شماري.

بعض کتابو خو لا دا هم ليکلي دي چي کم از کم د ماخستن او د سهار لمونځ په ډېر اهتمام په جماعت سره کول ځکه د دې دوو لمنځو په خاطر هم د دې انسان په عملنامه کي د ټوله شپې عبادت ليکل کيږي.

د پيغمبرﷺ حديث هم داسي راځي چي کم انسان د ماخستن لمونځ په جماعت سره وکړي، نو الله تعالی د شپې اول نيمی په عبادت کي ور شماري او چي کله د

(١) الترغيب والترهيب حديث نمبر: ٢٧٦٠

سهار لمونځ هم په جماعت سره وکړي، نو الله تعالی یې د ټوله شپې په عبادت کونکو کې لیکي.

الله تعالی دې د دې شپې د عبادت توفيق راکړي او الله تعالی دې مو د دې شپې د رحمت او برکت او مغفرت څخه بې نصيبه نه ګرځوي الله جل جلاله دې دا څو خبرې په خپل دربار کې قبولې او مقبولې وګرځوي. (آمين)

وَاٰخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ.

بسم الله الرحمن الرحیم

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الایه)

# د کوچني اختر بیان

(بیان)

مولوي اطیع الله صاحب
استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:
مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روڈ کوئٹه

| | |
|---|---|
| تقـــــرير | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعـت | خلـــــــــــورم |
| تـاريـــخ | يكم ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق يكم مي ۲۰۱۸ |
| تـعـــداد | (۱۱۰۰) |

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ حَمْدًا کَثِیْرًا طَیِّبًا مُبَارَکًا فِیْهِ مُبَارَکًا عَلَیْهِ کَمَا یُحِبُّ رَبُّنَا وَ یَرْضٰی وَالصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی رَسُوْلِه خَیْرِالْوَرٰی وَعَلٰی آلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ نُجُوْمُ الْاِهْتِدٰی.

أمابعد:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

﴿اَلْیَوْمَ أَکْمَلْتُ لَکُمْ دِینَکُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَیْکُمْ نِعْمَتِي وَرَضِیتُ لَکُمُ الْإِسْلَامَ دِینًا﴾(١).

﴿وَعَن مَالك بن انس مُرْسَلًا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " تَرَکْتُ فِیکُمْ أَمْرَیْنِ لَنْ تَضِلُّوا مَا تَمَسَّکْتُمْ بِهِمَا: کِتَابَ اللّٰهِ وَسُنَّةَ رَسُولِهِ﴾(٢).

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلٰنَا الْعَظِیْم، وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْکَرِیْم، وَ نَحْنُ عَلٰی ذٰلِکَ مِنَ الشَّاهِدِیْنَ وَالشَّاکِرِیْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ.

**تمهید:**

محترمو مشرانو! د کوچني اختر مبارکه ورځ ده دا د مسلمانانو د خوشحالۍ او د مزدورۍ پیدا کولو ورځ ده.

مسلمانانو چي د روژې په مبارکه میاشته کي کم عبادتونه وکړه او کم مشقتونه يې برداشت کړه نن به د عیدګاه په میدان کي د الله تعالی د طرفه د هغه عباداتو او مشقتو بدله دوی ته په لاس ورسي.

هسي هم په روایاتو کي د دې ورځي ډېرلوی فضیلتونه راغلي دي او په تاریخي اهمیت هم دا ډېره لويه ورځ ده.

---

(١) المائده آیت نمبر ٣

(٢) مشکاة المصابیح حدیث نمبر ١٨٦

## د دې ورځې اهميت:

حضرت وهب بن منبه رحمة الله عليه يو روايت رانقل کوي چې الله تعالى جنت د کوچني اختر په ورځ باندې پيدا کړی دئ.
او "جبرائيل امين" هم الله تعالى د کوچني اختر په ورځ د وحې راوړلو دپاره منتخب کړی دئ.
او "فرعون" چې د حضرت موسى عليه السلام په مقابل کې کم جادوګران ودرول د هغوی توبه هم الله تعالى د کوچني اختر په ورځ قبوله کړې ده.
او د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم د امت دپاره په جنت کې د "طوبى" درخته هم الله تعالى په دې ورځ پيدا کړې ده.
الله تعالى يو ځل وحضرت عيسى عليه السلام ته فرمايي: ﴿يَا عِيسَى إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ﴾(١) أي عيسى! زه تا خپل ځان ته را پورته کوم او بيا دې واپس بېرته مځکې ته استوم.
حضرت عيسى عليه السلام پوښتنه کوي چې يا الله جل جلاله د څه دپاره؟
الله تعالى په جواب کې ورته فرمايي: ﴿لِتَرَى مِنْ أُمَّةِ أَحْمَدَ الْعَجَائِبَ وَأَعَانَهُمْ عَلَى قَتْلِ الدَّجَّالِ﴾ د دې دپاره دې استوم چې ته د محمد صلى الله عليه وسلم د امت عجائبات او کارنامې وويني او د دجال په مقابله کې د دوی سره مدد او کومک وکړې.
بيا الله جل جلاله ورته فرمايي: ﴿طُوبَى لِمَنْ آمَنَ نَبِيَّهُمْ وَ أَدْرَكَ أَيَّامَهُمْ﴾ او طوبى به وي د هغه چا دپاره چې د دې امت پر نبي باندې ايمان راوړي او د دې نبي ملګرتيا وکړي.
﴿قَالَ عِيسَى مَا طُوبَى﴾ حضرت عيسى عليه السلام پوښتنه کوي چې يا الله! طوبى څه شي ده؟
﴿طُوبَى شَجَرَةٌ فِي الْجَنَّةِ، مَا يَعْلَمُ طُولَهَا إِلَّا اللهُ، يَسِيرُ الرَّاكِبُ تَحْتَ غُصْنٍ مِنْ أَغْصَانِهَا سَبْعِينَ خَرِيفًا﴾.

---

(١) آل عمران آيت نمبر: ٥٥

الله تعالی ورته فرمايي ﴿غَرَسۡتُ غَرۡسَتُهَا بِيَدِي﴾ دا يوه درخته ده چي ما په خپل يد بلا کيف باندي لګولې ده د هغې تنه د سرو زرو ده، او پورته ښاخونه يې جواهرات دي.

او پيغمبر ﷺ په يوه بل حديث کي د طوبی صفت بيانوي چي د طوبی د درختي تنه د سرو زرو ده او دومره لويه تنه ده کچيري يو انسان د پنځو کالو پر اوښ باندي سپور سي او په منډه د هغه درختي پر تنه راګرځېدل شروع کي نو هغه اوښ به زوړ سي او د هغه هډوکي به مات سي ليکن د هغه پر تنه باندي نسي راګرځېدلای([1]).

د هغه کونډري شهد دي او د هغې کونډري زنجبيل دي او د هغې د ښاخو څخه د وريښمو جامې را وزي او هغې پاڼې چي په خپل مابين کي سره و مښليږي د هغه څخه د ښائسته موسيقي او سروز آواز پورته کيږي او د هغې د بيخ څخه درې چينې راوزي.

﴿وَكَأۡسٍ مِّن مَّعِينٍ﴾([2]) د معين چينه راوزي.

﴿يُسۡقَوۡنَ مِن رَّحِيقٍ مَّخۡتُومٍ﴾([3]) د رحيق چينه را وزي.

﴿عَيۡنًا فِيهَا تُسَمَّىٰ سَلۡسَبِيلًا﴾([4]) او د سلسبيل چينه راوزي.

او د هغه چينو په اوبو کي الله تعالی داسي خوند او خوشبويي ايښې ده کچيري د يو انسان يوه ګوته په دې اوبو باندي لنده سي او انسان پر آسمان باندي کښېني او دا ګوته داسي کښته ونيسي نو په ټوله کائناتو کي به د هغه خوشبويي سره خوره سي.

حضرت عيسی عليه السلام چي کله دا واورېده نو دستي خواست کوي: ﴿اَللّٰهُمَّ اسۡقِنِيۡ مِنۡ مَائِهَا﴾ ياالله! د دې چينو په اوبو باندي ما اوبه که الله جل جلاله په جواب کي ورته

---

([1]) ابن کثير سورة الواقعه: ۱۳ الی ۲٦

([2]) الواقعة آيت نمبر: ۱۸

([3]) المطففين آيت نمبر: ۲۵

([4]) الانسان آيت نمبر: ۱۸

فرمايي: ﴿إِنَّ الْجَنَّةَ حُرِّمَتْ عَلَى الأَنْبِيَاءِ كُلِّهِمْ حَتَّى أَدْخُلَهَا﴾ أی عيسیٰ! د دې چينو او به ما پر تولو انبياؤ حرامې کړي دي چي تر څو پوري زه محمدرسول الله امت ور داخل نه کړم.

﴿وَحُرِّمَتْ عَلَى الأُمَمِ حَتَّى تَدْخُلَهَا﴾(١) او دا پر تولو امتو باندي حرامي دي چي تر څو پوري د محمدرسول اللهﷺ امت ور داخل نه سي.

نو دا مبارکه د طوبیٰ درخته د دې امت دپاره هم الله تعالی د کوچني اختر په مبارکه ورځ باندي په جنت کي راشنه. کړې ده نو ځکه د کوچني اختر ورځي ته د کال په عامو ورځو کي الله تعالی لوی فضيلت ورکړی دئ.

## د اخترو ابتداء څنګه وسوه؟

په رواياتو کي راځي چي کله پيغمبرﷺ مديني منورې ته هجرت را وکړئ نو اهل مدينه وو به د خپلو مخکنيو عاداتو مطابق د کال په دوو ورځو کي خوشحالی کولې او دا به يې د ځان دپاره د اخترو ورځي بللې يوه به د "نوروز" ورځ وه او بله د "مهرجان".

چنانچي حضرت انسؓ فرمايي چي کله پيغمبر ﷺ د مکې مکرمې څخه مديني منورې ته راغلی نو مديني منورې والا خو په کال کي دوې ورځي مقرر کړي وې نو پيغمبرﷺ چي کله هغه وليدلې نو پوښتنه يې وکړه چي دا څنګه ورځي دي چي په هغه کي تاسو خوشحالی جوړوئ؟

صحابه کرامو ؓ په جواب کي ورته وويل چي ای د الله ﷻ رسوله! موږ به د جاهليت په زمانه کي په دې دوو ورځو کي خوشحالی جوړولې او تر اوسه پوري زموږ هغه روايات برقرار پاته دئ.

(١) ابن کثير سورة آل عمران آيت نمبر: ١١٠

پيغمبرﷺ ورته فرمايي چي الله تعالی ستاسو دپاره د هغه ورځو په بدله کي نوري دوې ورځي چي د هغه څخه بهتره دي مقرره کړې چي يوه د کوچني اختر ورځ ده او يوه د لوی اختر ورځ ده[1].

## تشريح او وضاحت:

د جاهليت په زمانه کي د مدينې د خلکو د خوشحالۍ جوړولو دپاره دوې ورځي مقررې وې چي په هغه کي به دوی په لهو او لعب کي او په مجلسو او بازيو کي مشغوله وه چي يوه د "نوروز" ورځ وه او بله د "مهرجان" ورځ وه د "نوروز" ورځ هلته راتله چي کله به "لمر" د "حمل" و برج ته داخل سو او د "مهرجان" ورځ به هلته وه چي "لمر" به د "ميزان" په برج کي داخل سو.

په دې وجه حکماوو او عقلاوو دا دواړي ورځي د خوشحالۍ جوړولو دپاره مقرر کړي وې چي يوه ورځ د خزان په موسم کي راتله او بله ورځ د بهار په موسم کي راتله نو په دې دواړو ورځو به هوا ډېره برابره او موسم به ډير خوشګوار وو او شپه او ورځ به سره برابره وه.

په ابتداء د اسلام کي صحابه کرامو ﷺ د هغه عادت مطابق په دې دواړو ورځو کي خوشحالي غوښتل پيغمبرﷺ دوی منع کړه او د اسلام د تکميل د اصولو ما تحت پيغمبرﷺ دوی ته نوري دوې (۲) د خوشحالۍ ورځي ور وښوولې چي يوه د کوچني اختر ورځ وه او بله د لوی اختر ورځ وه.

## د اختر حقيقي خوشحالي پيدا کول:

او په دې دواړو ورځو کي د خوشحالۍ اظهار کول د مسلمانانو دپاره په لهو او لعب او په تفريحاتو سره نه دئ.

---

(۱) ابو داؤد حديث نمبر: ۱۱۳۴

بلکه مسلمانانو ته دا حکم دئ چي تاسو به د خوشحالۍ اظهار په داسي انداز سره کوئ چي ستاسو د باطن او ظاهر دواړو څخه د هغه خوشحالۍ اثر ښکاره سي.

او د هغه خوشحالۍ آثر ستاسو د زړه او د ماغ تر هر رګ رګ پوري ورسيږي او ستاسو د بدن ټوله اندامونه په هغه خوشحالۍ کي مسرورسي.

د داسي لازواله خوشحالۍ د پيدا کولو دپاره او د داسي خوشحالۍ د اظهار دپاره صرف يوه طريقه ده او هغه دا ده چي انسان د کم رب کائنات بنده دئ د هغه رب ومخته د خپلي بندګۍ اظهار وکړي، نو د دې خوشحالۍ مستحق جوړېدای سي.

او دا ښکاره خبره ده چي کله خپل رب د بنده څخه راضي سي د دې بنده دپاره تر دې لويه خوشحالي به چيري وي؛ ځکه الله تعالی په قرآن کريم کي فرمايي: ﴿وَرِضْوَانٌ مِنَ اللّٰهِ أَكْبَرُ﴾(1) د الله جل جلاله رضا پيدا کول دا د ټولو څخه لوی نعمت او لويه خوشحالي ده.

نو د اختر په ورځ الله تعالی و بندګانو ته د بندګۍ ښکاره کولو حکم کوي چي تاسو خپل رب ته خپله بندګي ښکاره کړئ او د بندګۍ ښکاره کولو د علامې په طور د دوه رکعته لمانځه د ادا کولو تاکيد ورته کوي په دې ورځ الله جل جلاله ته خپله بندګي ښکاره کول او عبادت کول د اختر روح او اصل مغز دئ او د بنده دپاره اصلي خوشحالي ده.

د دې څخه علاوه باقي چي کم لوازمات دي مثلا غسل کول، خوشبو لګول نوي کالي اغوستل، دا ټوله ضمني خوشحالۍ دي.

نو د اختر په ورځو کي اصلي کار دا دئ چي بنده په خپل عمل سره دا ښکاره کړي چي دی واقعي د خپل رب فرمانبردار او اطاعت کونکی بنده دئ او په دغه شکل دې بنده ته د خوشحالۍ جوړولو حق حاصل دئ.

---

(1) التوبه آيت نمبر: ۷۲

لکه د دې خبرې د اظهار دپاره بعض علماوو یو څو د حکمته ډک اقوال رانقل کړي دي:

﴿لَيْسَ الْعِيْدُ لِمَنْ لَبِسَ الْجَدِيْد..................لٰكِنَّ الْعِيْدَ لِمَنْ اَمِنَ الْوَعِيْدَ﴾

اختر د هغه چانه دئ چې صرف نوي کالي واغوندي بلکه اختر د هغه چا دئ چې د اختر په ورځو کې د الله تعالی د وعید څخه ځان محفوظه کړي یعني د منکراتو او معاصيوو څخه پرهېز وکړي او د خپل رب د راضي کولو کوښښ وکړي.

لکه یو شاعر وايي:

قَالُوا غَدًا الْعِيدُ مَاذَا أَنْتَ لَابِسُهُ ..... فَقُلْتُ خِلْعَةُ سَاقٍ حُبُّهُ جَرَعَا

فَقْرٌ وَصَبْرٌ هُمَا ثَوْبَانِ تَحْتَهُمَا ..... قَلْبٌ يَرَى إِلْفَهُ الأَعْيَادَ وَالْجُمُعَا

الدَّهْرُ لِي مَأْتَمٌ إِنْ غِبْتَ يَا أَمَلِي ..... وَالْعِيدُ مَا كُنْتَ لِي مَرْأًى وَمُسْتَمَعَا(۱)

خلک به وايي چې صبا اختر دئ ته به کم کالي اغوندې؟

زه به ورته وایم چې زه به هغه کالي اغوندم چې ما د قناعت و طرف ته رسوي.

فقر او صبر دا داسې دوه جامې دي چې په هغه کې د ننه یو زړه دئ چې په اخترو او جمعو کې د خپل پروردګار زیارت کوي.

أې زما مراده! یعني د الله جل جلاله رضا که چیرې ته زما د لاسه څخه ووځې نو د اختر ورځ زما دپاره یو لوی غم دئ او کچیرې ته په ما د ځان لیدل او اورېدل وکړې نو بیا دا زما دپاره لویه نېک بختي او خوشحالي ده.

نو د اختر خوشحالي صرف تر کالو پورې نه ده بلکه د اختر حقیقي خوشحالي د الله تعالی رضا پیدا کول دي.

﴿لَيْسَ الْعِيْدُ لِمَنْ تَبَخَّرَ بِالْعُوْدِ.....لٰكِنَّ الْعِيْدَ لِلتَّائِبِ الَّذِيْ لَايَعُوْدُ﴾

اختر د هغه چا نه دئ چې نن د عود خوشبويي استعمالوي بلکه اختر د هغه چا دئ چې د اختر په ورځو کې د الله تعالی وحضور ته خپله توبه پېش کړي او دا عزم وکړي چې بیا به ګناه نه کوم.

(۱) التبصرة لابن جوزي ص ۱۱۴

﴿لَيْسَ الْعِيْدُ لِمَنْ تَزَيَّنَ بِزِيْنَةِ الدُّنْيَا..... لٰكِنَّ الْعِيْدَ لِمَنْ تَزَوَّدَ بِزَادِ التَّقْوَىٰ﴾

اختر د هغه چا نه دئ چي هغه د دنيا په زيب او زينت کي مغروره سي بلکه حقيقي اختر د هغه چا دئ چي هغه د اختر په ورځو کي د آخرت دپاره توښه برابره کړي.

﴿لَيْسَ الْعِيْدُ لِمَنْ رَكِبَ الْمَطَايَا..... لٰكِنَّ الْعِيْدَ لِمَنْ تَرَكَ الْخَطَايَا﴾

اختر د هغه چا نه دئ چي د دنيا په بهترينو سوارليو کي سورلي کوي بلکه حقيقي اختر د هغه چا په نصيب دئ چي د اختر په ورځو کي د خطاګانو څخه د خپل ځان حفاظت وکړي.

﴿لَيْسَ الْعِيْدُ لِمَنْ بَسَطَ الْبِسَاطَ ..... لٰكِنَّ الْعِيْدَ لِمَنْ جَاوَزَ الصِّرَاطَ﴾(۱)

اختر د هغه چا نه دئ چي هغه کور په غاليو باندي پرش کړي او د ميلمنو په انتظار وي بلکه اختر د هغه چا دئ چي هغه په دې ورځو کي د ځان دپاره تر "پل صراط" د تېرېدلو انتظام برابر کړي.

نن ډېر د افسوس مقام دئ چي کله مسلمانانو د نورو قومونو ۱اخترو حالات وليدل نو مسلمانانو هم د نورو قومو په شان د اختر ورځي د لهو او لعب د خوشحالۍ ورځي و بللې.

او د اظهار بندګۍ جذبه د نورو قومو په شان د مسلمانانو د ذهنو څخه هم بالکل محوه سوه چي دا د مسلمانانو دپاره ډېره افسوس ناکه خبره ده.

نن بايد مسلمان قوم په ښه لباس او خورکه باندي غافل نسي د الله ﷻ د رضا پيدا کولو کوشش وکړي، چي کم انسان د اختر په ورځو کي په ښو کالو او په لباس باندي غافل او دوکه کيږي هغه دي خپل کفن هم لږ په دماغ کي راګرځوي.

او چي کم انسان په خوشبويي او په عطرو باندي نازيږي هغه دي په قبر کي د خپل بدن خرابېدل او بدبويه کېدل هم لږ په دماغ کي راګرځوي.

او چي کم انسان د دنيا په کوټو او غاليو باندي نازيږي هغه دي د قبر هغه توره کنده هم لږ په دماغ کي راګرځوي.

---

(۱) مظاهرحق ج ۱ص ۴۹۳، ولطائف المعارف لابن رجب.

او چي کم انسان د دنيا په ملګرو دوستانو او د هغوی په محفلو او باندارو باندي خوشحاله کيږي هغه دي په خپل دماغ کي د قبر خاموشي هم را ګرځوي.

## د پيغمبر ﷺ د کور حالت:

په ښو کالو باندي او په ښو خورکو باندي فخر او افتخار کول دا د دې امت شان نه دئ ځکه دا خو د محمد رسول الله ﷺ اُمت دئ تاسو د محمد رسول الله ﷺ د کور حالت وګورئ.

حضرت فاطمة رضي الله عنها ناجوړه ده پيغمبر ﷺ د هغې پوښتني ته راځي يو صحابي عمران بن حصين رضي الله عنه چي د قريشو سردار دئ هغه هم ورسره دئ چي کله د حضرت فاطمې رضي الله عنها دروازې ته راغلی نو آواز ورکوي چي بچيه ته لږ پرده وکړه موږ دننه کورته ستا پوښتني ته راځو.

يو بل صحابي عمران بن حصين رضي الله عنه هم راسره دئ حضرت فاطمه رضي الله عنها د دننه څخه حال ورته را استوي چي ای د الله جل جلاله رسوله! زما په کور کي دومره کپړه نسته چي زه په هغه باندي پرده وکړم.

زموږ د علم مطابق چي دا به څنګه د خوارۍ زندګي وه چي په کور کي د زنانې د ستر کولو دپاره پرده نه وي او په کور کي د ناجوړۍ د علاج دپاره پيسه نوي نه په کورکي د بچيانو د نفقې څه بندوبست وي.

زموږ علم عين جهالت دی ځکه دا هغه کورنۍ او خاندان وو چي د هغه زنانه د جنت د ټولو زنانو سرداره ده او د هغه بچي د جنت د نوجوانانو سرداران دي ځکه پيغمبر ﷺ وايي: ﴿سَيِّدَا شَبَابُ اَهْلِ الْجَنَّةِ الْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ﴾(۱) او د هغه د کور مشر د هغه په باره کي دا راغلي وه چي ﴿اَسَدُاللهِ وَاَسَدُ الرَّسُوْلِ﴾ چي دا د الله جل جلاله او د الله جل جلاله د رسول ﷺ زمری دئ:

---

(۱) کنز العمال حديث نمبر: ۱۷۷۹۵

آخر پیغمبرﷺ د دباندي څخه خپل پټو وراستوي او حضرت فاطمهؓ په هغه پټو کي په ستر او پرده کي کښېني او پیغمبرﷺ د عمران بن حصینؓ سره دننه کورته راځي او پوښتنه ورباندي کوي.
چي کله پیغمبرﷺ کښېنستی حضرت فاطمیؓ ته وایي چي بچیه څنګه حال دئ؟
حضرت فاطمة الزهراءؓ ډېره ژاړي ورته وایي چي پلاره یوطرفته ناجوړي ده د علاج بندوبست نسته او پر بچیانو باندي لوږه ده او د هغوی د نفقې بندوبست نسته او بل طرفته تاسو غوندي عزتمند مېلمانه راغلي یاست نن زما په کور کي دومره شی نسته چي زه په هغه باندي ستاسو اکرام او عزت وکړم او هغه ستاسو مخ ته کښېږدم.
پیغمبرﷺ په خپل زړه پوري ونیوله او د حضرت فاطميؓ پر ژړا باندي پیغمبرﷺ ورسره ژاړي ورته وایي بچیه! که ستا په کور کي مسکنت دئ ستا د پلار په کورکي هم مسکنت دئ او ورته وایي: ﴿وَالَّذِیْ بَعَثَ اَبَاکَ بِالْحَقِّ مَاذُقْتُ مُنْذُ ثَلَاثَةِ اَیَّامٍ فُوَاقًا﴾ بچیه زما دي په هغه ذات قسم وي چي ستا پلار یې د نبي په شکل باندي را استولی دئ نن دریمه ورځ ده چي ما هم دګولې څکه نه ده کړې نو بچیه که ستا په کور کي لوږه ده ستا د پلار په کور کي هم لوږه ده.
آخر ورته وایي ﴿اَبِي عَلَيَّ لِیَجْعَلَ مَابَیْنَ الْمَکَّةِ وَالْمَدِیْنَةِ ذَهَبًا﴾ زما رب ماته دا خبره راپېش کړه چي اې محمده! که ته دا غواړې چي د عربو ټوله غرونه تاته سره زرسي نو زه به د مکې او مدینې په مینځ کي ټوله غرونه درته سره زر کړم او دا به ستاسره ګرځي چي په کم ځای کي ستا ضرورت وي بغیر د ماتولو او بغیر د مشقته به ستا ومخته پېشېږي لیکن بچیه ما انکار وکړئ ما ویل یا الله جل جلاله زه داسي زندګي غواړم ﴿أَشْبَعُ یَوْمًا وَأَجُوعُ یَوْمًا أَوْ قَالَ ثَلَاثًا أَوْ نَحْوَ هَذَا فَإِذَا جُعْتُ تَضَرَّعْتُ إِلَیْكَ وَذَكَرْتُكَ، وَإِذَا شَبِعْتُ شَكَرْتُكَ وَحَمِدْتُكَ: هَذَا حَدِیثٌ حَسَنٌ﴾(١) چي یوه ورځ وږی یم

---

(١) سنن ترمذي حدیث نمبر: ۲۳۴۷

او یوه ورځ موړ یم چې په کمه ورځ باندې وږي سم تاته به خپل عجز پېش کړم او تابه رایاد کړم او چې په کمه ورځ موړ سم ستا حمد او شکر به ادا کړم.

ځکه چې زما د امت اکثره انسانان فقیران دي چې د هغوی به دا تسلي وي چې که نن زموږ په کور کې مسکنت دئ دا مسکنت د محمدرسول اللهﷺ په کور کې هم تېرسوی دئ.

او که نن زموږ په کورو کې د بچیانو د علاج دپاره څه بندوبست نسته او د بچیانو د نفقې بندوبست نسته نو دا حالت د محمدرسول اللهﷺ په کور کې هم تېر سوی دئ.

نن زموږ عقلونه برباد سوه او نن زموږ عقلونه چپه چلېدلي دي او زموږ په عقلو کې د عزت معیار ښه مال او دولت او ښه لباس او جامې او ښه کوټې او بنګلې او ښه نعمتونه او نفقې دي.

کم څوک چې دغه شیان د عزت معیار بولي نو هغه به د حضرت موسی علیه السلام په مقابل کې "فرعون" هم عزتمند بولي ځکه د موسی علیه السلام په ټوله زندګي کې د یو لنګ څخه زیات نور څه شی په نصیب نه وو.

چې کله به هغه لنګ خیرن سو نو لیري به یو ځای ولاړ ی پر چینه به یې پرېولی او بیا به یې هوار کی چې کله به وچ سو نو و به یې تړی بیرته به د فرعون ومقابلې ته راغلی.

لېکن فرعون به ټوله بدن په سرو زرو کې غرق پر تخت باندې ناست وو او د لاسو څخه تر بغلو پورې به یې د سرو زرو بنګړي وه او دا به یې ویل چې ﴿وَنَادَىٰ فِرْعَوْنُ فِي قَوْمِهِ قَالَ يَا قَوْمِ أَلَيْسَ لِي مُلْكُ مِصْرَ وَهَٰذِهِ الْأَنْهَارُ تَجْرِي مِن تَحْتِي أَفَلَا تُبْصِرُونَ﴾(۱)

فرعون به ویل چې أی زما قومه د مصر ټوله حکومت زما سره دئ او زما نهرونه دی تاسو یې وینئ.

---

(۱) الزخرف آیت نمبر: ۵۱

د موسٰی سره څه سته؟ چي هغه د يوه لنګ څخه علاوه بل شی نه لري هغه به زما
څه مقابله کوي.
حالانکه زموږ دا عقيده ده چي حضرت موسی علیه السلام د خپل مسکنت سره سره پ
زر چنده د الله تعالی په حضور کي د عزت خاوند دئ.
نو د عزت معيار دا شيان نه دي بلکه د عزت معيار، هغه د الله تعالی رضا ده چ
کم انسان ته يې الله تعالی ور په نصيب کړي هغه به عزتمند وي.
نو په دې شپو کي د الله تعالی رضا پيدا کول او د الله تعالی په دربار کي د عز
خاوند ځان جوړول دا د مسلمانانو سره مناسب دي.

## د عمر ابن عبدالعزيز دور خلافت:

پر مسلمانانو عجيبه حالات او عجيبه وختونه تېر سوي دي "عمر اب
عبدالعزيز" چي پر کم تخت کښېنستئ هغه تخت دېرش کاله مسلسل
مسلمانانو په وينو رنګېدلی پاته سوی وو:
د مروان ظلم، د عبدالملک ظلم، د وليد ظلم، د سليمان ظلم.
عمر ابن العزيز رحمة الله عليه چي کله کښېنستئ دوه کاله دوې مياشتي څلور ورځ
يې حکومت وکړئ.
د عمر ابن عبدالعزيز عجيب حکومت وو د هغه د يو کلي او يو ښار حکومت
وو بلکه اته ويشت (۲۸) ملکه د "افريقې" او نيم "فرانس" او د روس د آخير
کنارې پوري رسېدلی حکومت وو.
د حضرت "عمر ابن عبدالعزيز" په دور حکومت کي پر انسانانو باندي داس
آبادي راغله، چي د ده د خلافت په ټوله دائره کي داسي څوک نه سو پاته چ
هغه دي مستحق د زکوة وي، خلګو به سهار خپل زکوة واخيستئ تر ماښامه ب
ګرځېدل لېکن داسي څوک به يې پيدا نه کړئ چي د ده څخه زکوة قبول کړي، ن
يو طرفته په ټوله حکومت کي داسي آبادي وه او بل طرفته د ده د خپل کو
عجيبه حال وو.

## د ده د کور حالت:

د ده خپله څنګه حال وو د خلافت څخه مخکي ډېره زمانه دَی والی پاته وو، نو پر اویا (۷۰) اوښانو به صرف د ده ذاتي سامان راوړل کېدئ لېکن چي کله خلیفه جوړ سو په ده کي یو عجیبه انقلاب راغلئ نو کورته را داخل سو د ده بچیانو خولې پوټي کړي دي او په داغه حالت کي د ده سره خبره کوي او چي کله دَی خبره ورته وکړي نو هغه پر خوله باندي لاس کښېږدي، او ده ته جواب ور کوي، حضرت عمر ابن عبدالعزیز رحمۃ اللہ علیہ د کور د خادمي څخه پوښتنه وکړه چي دې بچیانو ته څه ورپېښه ده چي زما څخه مخ پټوي.

هغه خادمه چي کله جواب ور کوي ژاړي نو په ژړا کي ورته وایي چي خبره دا ده ای امیر المؤمنینه! ستا په کور کي څه نه وو ستا بچیانو د اومه پیاز سره ډوډۍ خوړلې ده او د خولې څخه یې د پیاز بوی راځي نو په دې وجه چي زموږ و پلار ته زموږ د خولې د بد بویي څخه تکلیف ونه رسیږي نو ځکه ستا سره په پټه خوله خبري کوي.

حضرت عمر ابن عبدالعزیز رحمۃ اللہ علیہ ډېر وژړل ورته وایي ای بچیانو! یو پلار هم خپلو بچیانو ته په تکلیف ور کولو راضي نه وي لېکن زه په تاسو باندي حرام نه سم خوړلای او زه ډېر ضعیف او کمزوری یم ستاسو په خاطر د جهنم اور نه سم برداشت کولای.

چي کله دَی خلیفه وو نو یو نوکر ته یې (۸) دراهم ور کړل او ورته وی یل ماته یو پټو (څادر) راوړه، چي کله هغه راوړئ ده په دې لاس کي سره واړوئ او ورته وایي دا ډېر نرم دئ واپس یې یوسه! دا زما سره مناسب نه دئ نو هغه نوکر و خندل عمر ابن عبدالعزیز رحمۃ اللہ علیہ د خندا پوښتنه ځني کوي او ورته وایي ولي خاندې؟ هغه په جواب کي ورته وایي چي کله ته د خلافت څخه مخکي والی وې تا وماته (۸۰۰) دراهم راکړه او راته ودي ویل چي ماته یو پټو او څادر راوړه ما چي کله راوړئ نو تا راته وویل چي دا ډېر سخت دئ او زما وړ نه دئ او نن د اتو

دراهمو څادر نرم بولې او د ځان يې مناسب نه بولې، آخر د هغه حاله څخه
درجې کښته راغلې يې.

## د ده د کور د زناني حالت:

او د ده د کور زنانه "فاطمه بنت عبدالملک"، د "عبدالملک ابن مروا
يواځنۍ لور وه چي کله "عمر ابن عبدالعزيز" ته را ودېدله نو پر اوو س
(۷۰۰) اوښانو باندي د هغې د کور سامان راوړل سو او يو داسي د ياقوت غ
د پلار د طرفه ته ورکول سو چي د هغې قيمت د ده د نيم حکومت سره برابر و
او غالبًا دا په اووه پوښته شهزاده زنانه وه، غالبا په انساني تاريخ کي
دنياوي لحاظ باندي د ټولو زنانو څخه معززه زنانه تېره سوې ده هغې يو ځا
نيکه بادشاهي وليدله بيا د پلار بادشاهي، بيا د دوو ورڼو بادشاهي، بيا
خاوند بادشاهي، بيا د خاند د مړګه څخه وروسته يکي بعد ديګر يې دوه ورو
بادشاهان سول نو په اووه پوښته دا زنانه شهزادګۍ بلل کېدله.
لېکن چي کله يې د عمر ابن عبدالعزيز رحمة الله عليه د فقر زندګي او د شپې ژ
وليدله، نو په هغه زنانه کي هم داسي انقلاب راغلئ چي په آخيري زندګي کي
يې په پوريا په خپله مزدوري باندي د ځان دپاره يو کپړه او لباس جوړ کړئ
هغه کي به يې زندګي تېروله.
عمر ابن عبدالعزيز رحمة الله عليه ته الله تعالی عجيبه زندګي ور کړې وه د خلاف
څخه مخکي چي به کله دَی په يو کوڅه کي تېرېدئ نو د ده د کپړو د خوشبو
څخه به په کورو کي ناستو خلګو ته دا ور معلومېدله چي زموږ په کوڅه کي ع
ابن عبدالعزيز روان دئ، داسي حسن او جمال الله تعالی ور کړی وو، چي د ه
په ليدلو باندي د انسانانو سترګي نه مړېدلې. او د داسي ناز و انداز والا خاو
وو چي انسانان به د ده په ليدلو کي ډېر په تعجب کي وه، او ږده چپنه به يې
چي د ډېره خيال او فخر څخه به پر مځکه ور سره څکېدله.

يو ځل په لاره کي روان وو او چپنه يې د ډېره خياله پر مځکه باندي ور سره څکېدله نو "محمد ابن کعب الکرزي" ورته وويل ﴿اِرْفَعْ اِزَارَکَ﴾ چي ای عمره! دا شاهي چپنه پر مځکه مه څکوه د بجلکو څخه يې لږ پورته کړه، ده ډېر په غوسه ورته وکتل ورته وايي: چي شاهي ادب ازده کړه که دي دوباره دا خبره بيا و کړه دا سر به دي په پښو کي پروت وي يعني که د ځان خير غواړې نو په آئنده کي چي بيا ماته داسي خبره و نه کړې، ورنه بيا به دي زندگي پر دنيا ختمه سي، لېکن د خلافت څخه وروسته په داسي عاجزي کي راغلئ، چي بيا انسانان د هغه د عاجزۍ و زندگي ته ډېر حيران وه.

## د عمر ابن عبدالعزيز د کور حالات:

د اختر موقعه راغله دَی کورته راغلئ په کور کي کوچني کوچني بچيان ژاړي د کور زنانه چي "فاطمه بنت عبد الملک" وه هغې ته وايي چي بچيان ولي ژاړي؟ دا په جواب کي ورته وايي: چي د همسايه گانو ټولو بچيانو د اختر دپاره نوي لباسونه تيار کړي دي نو ستا بچيان وايي چي زموږ پلار خو "امير المؤمنين" دئ او زموږ کپړې څيري دي موږ هم د اختر دپاره نوی لباس غواړو نو په دې خاطر بچيان ژړا کوي.

حضرت عمر ابن عبد العزيز رحمة الله عليه ورته وايي چي زما سره خو پيسې نسته زه څنگه بچيانو ته کپړې وربيدا کړم د بيت المال څخه چي څو مره تنخا اخلم په هغه سره په ډېر مشکل باندي د کور نفقه پوره کيږي، زنانه ورته وايي چي اوس به څه کوو په دې به د بچيانو سر څنگه ور خلاصه وو په خپله خو صبر کولای سو لېکن بچيان په دې نه پوهيږي.

آخر د ډېره سوچ او فکر څخه وروسته هغه زنانه ورته وايي چي زما په دماغ کي يو ترتيب راغلئ هغه دا چي ته د بيت المال څخه د يوې مياشتي پېشکي تنخا واخله په هغه باندي به د بچيانو لباس برابر کړو.

او زه به پر خپل ځان باندي شپه او ورځ یوه کړم یعني مزدوري به زیاته وکړم په
هغه سره به د بچیانو د میاشتي نفقه برابره کړو.
حضرت عمر ابن عبدالعزیز ورته وایي دېر ښه ترتیب دئ د کوره راوتی
خزانچي ته راغلئ هغه د ده خپل زرخرید غلام "مزاحم" وو نو هغوی ته یې
وویل چي ماته به د یوې میاشتي پېشګي تنخا راکوې، په هغه به زه د خپلو
بچیانو لباس برابر کړم او زما زنانه به په خپله مزدوري باندي د بچیانو نفقه
برابره کړي.
نو هغه خزانچي و مخته قلم او کاغذ ورته کښېښوئ ورته وایي امیر المؤمنین
پر دې کاغذ باندي د خپلي زندګی ضمانت راولیکه چي ته به راروانه میاشت
ژوندی یې نو زه به بیا د مسلمانانو د بیت المال څخه تنخوا درکړم.
او که ضمانت نه سې رالیکلای او تنخا اخلې نو بیا به د قیامت په میدان کي ته
ګردن نیول کېږې.
حضرت عمر ابن عبدالعزیز رحمه الله د خولې څخه چیغه و خېتل او ورته وایي په
خدای قسم د یوې ګانټې ضمانت نه سم لیکلای نو د یوې میاشتي د ژوند
ضمانت به څنګه ولیکم، ځکه پیغمبر ﷺ فرمایي:
﴿كَمْ مِنْ مُسْتَقْبِلٍ يَوْمًا لَيْسَ بِمُسْتَكْمِلِهِ، وَمُنْتَظِرٍ غَدًا وَلَيْسَ بِمُسْتَدْرِكِهِ﴾(1) دېر داسي کسان
وي چي د نن ورځي د پوره کېدو په انتظار وئ لېکن د لمر لوېدو څخه مخکي
قبر ته ورسیږي او په خپله زندګي کي هغه ورځ مکمله نه کړي.
او دېر داسي انسانان وي چي د سبا ورځي په انتظار وي لېکن د سبا ورځي د لمر
راختو څخه مخکي قبر ته ورسیږي.
چي کله کور ته راغلئ نو هغه زنانه پوښتنه ځني کوي چي څنګه سوه خبره دی
ورته وایي چي بچیانو ته ووایه صبر و کړئ ستاسو پلار تاسو ته د کپړو
بندوبست نه سي کولای.

(1) الزهد الکبیر للبیهقي حدیث نمبر: ۵۹۱

چې کله د اختر ورځ سوه نو د حکومت ټوله ارکان او د خپل خاندان ټوله مشران او کشران د ده کورته د مبارکۍ دپاره په ښائسته لباسو کې راغې او د ده بچیان يې په زړو لباسو کې د استقبال دپاره مخته ورته ولاړ دي او ښه غلئ ورته وايي: حضرت عمر ابن عبدالعزیز رحمۃ اللہ علیہ خپل بچي "عبدالملک" ته وايي بچيه انن خو به د ټر تکلیف وي چې ټولو ښائسته او اعلیٰ لباسونه اغوستي دي او ته په خپل زاړه لباس کې يې ستا به دا گمان وي چې زما پلار څومره سخت دله انسان دئ چې موږ ته يوه جوړه د اختر کپړې هم نسي راکولای.

عبدالملک په جواب کې ورته وايي پلار جانه نن زموږ سر د فخر او خوشحالۍ څخه بلند دئ چې زموږ پلار د مسلمانانو په مال کې خيانت نه و کړئ او ټوله سختي يې پر خپل کور باندي تېره کړه.

نو د مسلمانانو د اکابرینو او مشرانو اخترونه په ښو لباسو کې نه بلکه په داسي قربانيو کې تېرېدل.

## د يو بوډۍ د عمر ابن عبدالعزيز کورته راتلل:

د عمر ابن عبدالعزیز رحمۃ اللہ علیہ کورته يو کونډه زنانه د خپلو بچيانو د وظیفې اخستلو دپاره راغله که گوري يو زنانه په کور کې ناسته ده او څرخی وريشي او په هغه د خپل کور نفقه برابروي او يو سړی دئ په کور کې ختي کوي او په هغه باندي دېوالو گلوي.

نو هغه کونډي زناني د هغه ناستي زناني څخه پوښتنه وکړه چې دا د "امير المؤمنين" کور دئ؟

هغه په جواب کې ورته وايي چې هو دا د امير المؤمنين کور دئ نو دا کونډه زنانه د ځانه سره دا وايي چې دا کور خو پخپله د بربادۍ او مسکنت سره مخامخ دئ نو زما کور به څنگه را آباد کړي؟ نو نا اميده واپس روانه سوه په کور کې چې کمه زنانه ناسته ده او څرخی وريشي هغه د "عمر ابن عبدالعزيز" د کور زنانه "فاطمه بنت عبدالملک" وه هغې بړغ ور پسي و کړئ ورته وايي موري

راسه! دې کور ستاسو غوندي په لکونو کورونه آباد کړه نو ځکه په خپله د بربادۍ سره مخامخ سو.

هغه کونډه زنانه واپس را وګرځېدله ورته وایي چي دا ختمي چي کوي څومره بې حیاء نوکر دئ هغه تاته ګوري او ته ده ته ګورې ذَی که پرده نه کوي ته خو پرده ځني وکړه هغه زنانه ورته وایي موري دا نوکر نه دئ دا د ټولو مسلمانانو امیر او زما خاوند عمر ابن عبدالعزیز رحمۃ اللہ علیہ دئ.

## زمری او پسه پر یو حوض باندي:

عمر ابن عبدالعزیز رحمۃ اللہ علیہ د ټوله سلطنت نقشه ور بدله کړه زمری او پسه به پر یو حوض باندي اوبه سره چیښلې د ده د عدل په خاطر به یو بل ته کتل هم نه سو یوه ورځ پر حوض باندي یو لېوه پر پسه باندي حمله وکړه او هغه یې پورته کړئ او ورک یې کړئ.

نو شپانه په ژړا سو هغه نور شپنیان ور باندي راټول دي د ده څخه پوښتنه کوي چي ته ولي ژاړې دا خو خامخا په پسو او رمو کي پېښیږي.

هغه شپانه په جواب کي ورته وایي چي پر دې ژاړم چي د کم وخت څخه عمر ابن عبدالعزیز خلیفه سوی دئ یوه لېوه هم زما پر پسه حمله نه ده کړې ماته داسي معلومیږي چي نن هغه نېک خلیفه د دنیا څخه انتقال کړی دئ نو د ده سره د ده د عدل برکتونه هم د مځکي څخه پورته سوه.

چي کله معلومات وسوه نو یقینا هم عمر ابن عبدالعزیز رحمۃ اللہ علیہ په داغه ورځ باندي د دنیا څخه انتقال کړی وو.

## د درو خلفاؤ د ظلم په وجه بده خاتمه:

نو عمر ابن عبدالعزیز رحمۃ اللہ علیہ دوه کاله دوې میاشتي څلور ورځي قرباني پېش کړه چي کله د دنیا څخه رخصتیږي نو "رجاء ابن حیوه" یې راوغوښتئ او ورته وایي چي زه خو دا محسوسوم چي زما د رخصت کېدو وخت راورسېدئ.

ما په خپل لاس باندي خپل اکا "عبدالملک" په قبر کي کښېښوئ (۱۹) کاله هغه حکومت وکړئ چي کله ما د قبر په ډوري کي د هغه د کفن غوټه خلاصه کړه نو د هغه مخ تک تور سوی وو او د قبلې څخه اوښتئ وو.
بیا ما "ولید" و قبرته ورشوه کړئ هغه (۱۰) کاله حکومت کړی وو ما چي کله د هغه د کفن غوټه خلاصه کړه نو د هغه رنګ هم تک تور او مخ یې د قبلې څخه ګرځېدلی وو.
بیا ما "سلیمان" و قبرته ورشوه کړئ دا په ټولو بنو امیه وو کي ښائسته خلیفه وو چي الله ډېر حسن او جمال ور کړی وو ده به همېشه څلورمه ورځ نوې نکاح کوله او څلور کاله یې حکومت وکړئ او د پنځه دېرش کاله په عمر کي وفات سو. ما چي په قبر کي د هغه د کفن غوټه خلاصه کړه نو د هغه مخ هم تک تور او د قبلې څخه اوښتی وو.
او زه اوس د دنیا څخه رخصتېږم زما حال به هم ګورې چي زما رب زما سره څه کوي([1]).

## د عمر ابن عبدالعزیز دپاره د نجات پروانه:

چي کله وفات سو نو د ده جنازه د قبر طرفته روانه سوه په قبر کي د ایښودلو څخه مخکي الله تعالی د ده د حال نظاره په ټولو انسانانو وکړه.
یو هوا راغله او یو پرچه یې راوړه د قبر په ډوری کي د عمر ابن عبدالعزیز رحمة الله علیه پر سینه راولوېدله خلګو چي هغه پرچه راپورته کړه نو په هغه کي دا لیکلي دي ﴿بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ بَرَاءَةٌ مِنَ اللّٰهِ لِعُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ مِنَ النَّارِ﴾ د الله جل جلاله د طرفه د عمر ابن عبدالعزیز دپاره د جهنم څخه ازادي ده. چي کله یې په قبر کي کښېښوئ نو "رجاء ابن حیوه" د هغه د کفن غوټه خلاصه کړه نو د خولې

([1]) ماخوذ از بدایة والنهایة جزء نمبر ۹ صفحه ۲۳٦ مکتبه شامله.

څخه يې دا آواز و ختئ ﴿كَأَنَّهُ خِلْقَةُ قَمَرٍ﴾ ماته داسي رامعلوميږي لکه د څوارلسم سپوږمۍ چي و قبر ته را شوه سوې وي(١).

نو د مسلمان اختر په ښو لباسو او ښو خورکو باندي نه دئ چي هغه د ده دپاره د فخر او تکبر سبب وګرځي بلکه د مسلمان اختر په عاجزي او د مسلمانانو په خير خواهي کي دئ.

چي کله چا دا ورځي د مسلمانانو سره په عاجزي او خير خواهي کي تيري کړي الله تعالی به و ده ته په جنتو کي همېشه همېشه د اخترو په شان خوشحاله او آباده زندګي ورپه نصيب کړي.

او که چيري مسلمان د ښه لباس او ښو خورکو په خاطر په فخر او تکبر کي راسي او دا ورځي خدانخواسته په تکبر او نافرماني کي ورباندي تيري سي.

نو هسي نه چي د دې څو ورځو د خوشحالۍ په بدله کي د الله ﷻ د جنت بجائ د الله تعالی د هغه سخت تريني قيد خانې جهنم سره مخامخ سي.

الله تعالی دي زموږ او ستاسو روژې او عبادتونه قبول کړي او الله تعالی دي د اختر ورځي په خوشحاليو او په نيکو اعمالو کي راباندي تيري کړي الله تعالی دي زموږ او زموږ د کورو او زموږ د بچيانو د هر قسم ظاهري او باطني فتنو څخه حفاظت وکړي.

او الله تعالی دي دا څو خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي ﴿آمين يَا رَبَّ الْعَالَمِينَ﴾.

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ

(١) البداية والنهاية جزء نمبر ٩ صفحه ٢٣٦ مكتبه شامله.

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الایه)

# د انسان د ژوند حقیقت

## (بیان)

مولوي اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتي حافظ کلیم اللهِ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقــــــريــر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتــي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مـقـــــــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود |
| اشـــــاعـت | ثلـــــــــــــــــورم |
| تــاريـــــخ | يكم ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق يكم مي ۲۰۱۸ |
| تـــعـــداد | (۱۱۰۰) |

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيْهِ مُبَارَكًا عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَ يَرْضٰى وَالصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰي رَسُوْلِهٖ خَيْرِالْوَرٰى وَعَلٰى آلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ نُجُوْمُ الْاِهْتِدٰى.

اَمَّابَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: ﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ ثُمَّ إِلَيْنَا تُرْجَعُونَ﴾(۱).

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: ﴿اَلدِّيْنُ النَّصِيحَةُ﴾(۲).

اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلٰنَا الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْمُ وَنَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ.

## دانسان د زندګۍ او ژوند حقيقت:

محترمو مشرانو! الله تعالی انسان ته په دنيا کي زندګي او ژوند په نصيب ورکړی دئ، خو د انسان زندګي په دنيا کي نهايت فاني او نهايت عارضي او ډېر ژر ختم کېدونکې ده:

علماؤ ليکلي دي چي په دنيا کي د انسان د زندګۍ مثال د هغه شمع او څراغ دئ چي د هوا په څپو کي پروت او ايښوول سوی وي.

د هوا په څپو کي پروت او ايښوول سوی شمع او څراغ په ختم کېدو کي صرف د هوا يوې معمولي څپې ته محتاجه وي چي کله د هوا يوه څپه ور باندي راسي، نو دغه شمع او څراغ ډېر کمزوری کړي، ليکن بيا هم ځان خلاص کړي، نو بيا

---

(۱) سورة العنکبوت، ۵۷ آيت.

(۲) بخاري، حديث نمبر ۵۷

دوهمه څپه ورباندي راسي د اولي څپې څخه یې زیات کمزوری کړي، لیکن مړ نه سي، بیا هم بل وي او روښنایي ورکوي.
لیکن آخر یو داسي څپه د هوا ور باندي راسي چي د شمع او څراغ هغه روښانه او بله زندګي د خاورو سره خاوري کړي یعني د شمع هغه د روښنایي زندګي ور ختمه کړي.
دغه رنګه د انسان دا عارضي زندګي هم د دنیا په حادثاتو او واقعاتو کښي پر ته ده، چي کله یوه حادثه یا واقعه ور باندي راسي، نو د انسان زندګي ډېره کمزورې کړي او مرګ ته یې نژدې کړي.
لیکن بیا هم انسان ځان خلاص کړي.
بیا بله واقعه ورباندي راسي، (یکے بعد دیگرے) واقعاتي راروانې وي.
خو آخر یو داسي واقعه ور باندي راسي چي د انسان هغه روانه زندګي د خاورو سره خاوري کړي.
یا د انسان د زندګی مثال د اوښکي د هغه څاڅکي دئ چي د ژړا کونکي انسان په باڼوګانو باندي اوېزان وي، چي کله ژړاکونکی انسان دوه باڼوګان سره یو ځای کړي، نو د اوښکي هغه څاڅکی لاندي پر مځکه پرېوزي او د خاورو سره خاوري سي.
همدارنګه د انسان زندګي د دنیا په واقعاتو کي پرته زندګي ده په معمولي واقعه به دا ختم کېدونکې او د خاورو سره خاوري کېدونکې وي.
نو په دنیا کي د انسان زندګي نهایت فاني نهایت عارضي او ژر ختم کېدونکې زندګي ده.

## په دنیا کي د هوښیار او عقلمند انسان علامه:

یو څو نوجوانان صحابه کرام د پیغمبر علیه السلام په خدمت کي حاضر سول او دا عرض یې وکړئ چي ﴿یَارَسُولَ اللهِ مَنْ اَكْيَسُ النَّاس﴾ اي د الله رسوله! د دنیا په

انسانانو کي زیات عقلمند او هوښیار انسان کم یو دئ؟ پیغمبر علیه السلام ور ته فرمایي: ﴿مَن أكثرُهم ذِكرًا لِلمَوتِ﴾ چي کم انسان خپل مرګ زیات په یاد ساتي، ﴿وَأكثرُهم إستِعدَادًا لِلمَوتِ﴾ او چي کم انسان د مرګ د وروسته زندګۍ دپاره زیات استعداد او تیاري نیولې وي.

﴿أولئِکَ الأكيَاسُ﴾ دغه ډېر زیات عقلمند او هوښیاران انسانان دي. ﴿ذَهَبُوا بِشَرَفِ الدُّنيَا وَ كَرَامَةِ الآخِرَةِ﴾(۱) د دغه انسانانو په قسمت او نصیب د دنیا شرافت او د آخرت کرامت او بزرګي وي.

## مرګ د دماغه څخه غفلت ختموي:

په مشکوة شریف کتبي د پیغمبر علیه السلام حدیث دئ چي پیغمبر علیه السلام به صحابه کرامو رضی الله عنهم ته ډېر دا ویل چي ﴿اکثِرُوا من ذِکرِ هَاذِمِ اللذاتِ﴾ د لذاتو او خوندو ختم کونکی شی ډېر یادوئ! صحابه کرامو پوښتنه څني وکړه:

- ﴿وَ مَا هَاذِمُ اللّذاتِ يَا رَسُولَ اللهِ؟﴾ لذات او خوندونه ختم کونکی شی څه شي دئ ای د الله رسوله؟
- ﴿قَالَ المَوتُ﴾(۲) پیغمبر علیه السلام به ورته ویل چي لذات او خوندونه ختم کونکی شی مرګ دئ.

یعني د مرګ په یادولو سره د انسان د ذهنه څخه د دنیا لذات او خوندونه وزي او د غفلت پردې د انسانانو د دماغه پورته کیږي.

## د مرګ په باب د پیغمبر علیه السلام وینا:

حضرت عائشه مبارکه یو وار د پیغمبر علیه السلام څخه پوښتنه کوي او وایي:

- ای د الله رسوله! چي یو څوک شهید نه سي بیا یې هم حشر د شهیدانو په صفوکي کېدای سي؟

---

(۱) الترغیب والترهیب، حدیث نمبر: ۵۰۵۲

(۲) مشکوة شریف، حدیث نمبر: ۱۶۰۷

- پیغمبر علیه السلام ورته فرمایي: هو، هغه سړی چي په شلیرویشت ساعته یعني شپه او ورځ کښې خپل مرګ شل واره په خپل دماغ کي راګرځوي او مرګ یادوي، نو هغه سړی که په زندګي کي د شهادت مرتبه پیدا نه کړي هم به یې حشر الله تعالی د شهیدانو په صفو کي وکړي(1).

## د دنیا زندګي عارضي ده:

د یو بزرګ وینا ده لکه څنګه چي یو عقلمند انسان د پل پر سر کور نه جوړوي، داغه رنګه د الله جل جلاله نیک بندګان د دنیا و محبت ته په زړه کي ځای نه ورکوي.
حضرت ابوبکر رضی الله عنه به فرمایل: ای انسانه! ته د دنیا په سامانو راجمع کولو کي لګیا یې خو دنیا لګیا ده چي تا د خپل څخه وباسي.

أَمْ بُيُوتُكَ فِي الدُّنْيَا واسِعَةٌ : : فَلَيْتَ قَبْرَكَ بَعْدَ الْمَوْتِ يَتَسِعُ

ای انسانه! په دنیا کي خو دي ډېر وسیع او فراخ کورونه جوړ کړي دي، کاشکي د مرګه بعد دي قبر هم یو څه وسیع او فراخ وای!
نو ای انسانه! لکه څنګه چي د دنیا د زندګۍ د راحت او اسانتیا فکر اخیستي یې داغه رنګه باید د آخرت د زندګۍ د راحت او اسانتیا هم یو څه فکر وکړې.
چي هلته زما د زندګۍ راحت، اسانتیا، فراخي او وسعت به په کم شکل باندي وي.

## د فنا کېدلو پیغام:

که په دنیا کي هر څونه انسان خپل ځان غافل او د فنا کېدو څخه ناخبره وساتي او مرګ بالکل د دماغ څخه وباسي او یوه دقیقه هم د خپل مرګ فکر، تصور او سوچ ونه کړي.

---

(1) موت کی تیاری صفحہ ۱۲

خو بیا هم د کائناتو هر شی انسان ته د فنا کېدو او ختم کېدو پیغام ورکوي. لمر روزانه راخیژي خو د راختو په وخت کي ډېر کمزوری وي یعني برېښنا او ګرمي یې کمه وي، خو چي و سر ته را ورسیږي یعني غرمه سي، نو برېښنا او ګرمي یې ډېره مضبوطه سي، او چي د مازیګر پر طرف روان سي، نو وار په وار کمزوری کیږي، آخر یو وخت داسي راسي چي د لمر هغه روښانه زندګي ختمه سي او لمر ولویږي.

نو دا لمر لوېدل هره ورځ انسان ته دا پیغام ورکوي چي ستا د زندګی لمر هم داسي یوه ورځ لوېدونکی دئ.

داغه رنګه چي کله انسان یو کوچنی نهال او درخته په مځکه کي کښېنوي یعني و یې کري، په اول کي ډېره کمزورې وي او یو کوچنی نهال وي، بیا څه زمانه بعد لویه تنه داره درخته ځني جوړه سي او بالآخر چي زړه او وچه سي، نو انسان یې کاټوي یا کټونه او الماری ځني جوړوي که د دې کار نه وي، نو بیا یې په اور پسې کوې او سوځي یې.

نو دا درخته هم انسان ته دا پیغام ورکوي چي ای انسانه! ستا وجود هم دلته باقي نه پاته کیږي، یوه ورځ به خامخا د دې ځایه یعني دنیا څخه رخصت کیږې. ګویا چي کوم انسان ته ژوند او زندګي ورکول سوې ده هغه دي دا خبره په زړه کي کښېنوي چي دا زندګي د مرګ دپاره او د ختم کېدو دپاره راکول سوې ده.

یو چا د افلاطون څخه پوښتنه وکړه:

- چي په دنیا کي د انسان د مرګ سبب څه شي دئ؟
- هغه ورته وویل چي د انسان د مرګ سبب د هغه ژوند او زندګي ده.

## د خلفاء راشدینو وینا:

حضرت ابوبکرصدیق ﷺ به فرمایل: ﴿كُلُّ امْرِئٍ مُصَبَّحٌ فِي أَهْلِهِ وَالْمَوْتُ أَدْنَى مِنْ شِرَاكِ نَعْلِهِ﴾(۱) یعني هر سړی په خپل کور کي او د کور د انسانانو سره سهار کوي او سهار د کور د انسانانو د ضرورتونو او فرمایشونو پوره کولو فکر اخیستی وي، لیکن دده مرګ و ده ته دده د بوټ او چوټي تر تسمې هم را نژدې سوی وي، دی غریب په خبر هم نه وي.

حضرت عمر فاروق ﷺ به فرمایل: ﴿كَفَى بِالْمَوْتِ وَاعِظًا يَاعُمَرُ!﴾(۲) ای عمره! د دنیا په ټولو وعظو او نصیحتو کي ستا دپاره خپل مرګ په یاد ساتل کافي وعظ او نصیحت دئ.

سیدنا عثمان غني ﷺ به فرمایل: ﴿إِنَّ مِنْ نِعَمِ الدُّنْيَا يَكْفِيكَ الْإِسْلَامُ نِعْمَةً؛ وَ إِنَّ مِنْ أَشْغَالِ الدُّنْيَا يَكْفِيكَ الطَّاعَةُ مَشْغَلًا، وَ إِنَّ مِنْ عِبَرِ الدُّنْيَا يَكْفِيكَ الْمَوْتُ عِبْرَةً﴾(۳). ای عثمانه! بیشکه ستا دپاره د دنیا په نعمتو کي د اسلام نعمت کافي او شافي دئ؛ او د دنیا په مشاغلو کي ستا دپاره د طاعت مشغله بهترینه او کافي مشغله ده؛ او د دنیا په عبرتو کي ستا دپاره د مرګ څخه عبرت حاصلول لوی عبرت دئ.

## مرګ به کله راځي؟

پیغمبر علیه السلام یوه ورځ د لمانځه د ادا کولو څخه وروسته د صحابه کرامو څخه پوښتنه وکړه:

- د مرګ په باره کي مو څه رایه ده او څه فکر لرئ چي ستاسو ته به مرګ کله کله راځي؟

(۱) بخاري شریف، حدیث نمبر: ۱۸۸۹
(۲) کنز العمال حدیث نمبر ۳۵۸۱۸
(۳) موت کی تیاری صفحہ: ٦

- يوه صحابي ورته وويل: يارسول الله! چې کله سهار راپورته سم، نو يقين مي دا نه وي چې شپه به په حالت د ژوند کي راباندې راسي، يعنی چې زه به ژوندی يم او لمر به ولويږي او چې ماښام سي، نو سهار د لمر راختو اميد په حالت د ژوند کې نه لرم.

پيغمبر عليه السلام د دوهم صحابي مبارک څخه پوښتنه وکړه:

- ستا څه رأيه ده؟
- هغه دوهم صحابي ورته وويل: ای د الله رسوله! زه چې کله د څلورو رکعاتو د لمانځه نيت وتړم، نو يقين مي دا نه وي چې زه به ژوندی يم او په حالت د ژوند کې به سلام وګرځوم او دا څلور رکعاته به د ژوند په حالت کي پوره کړم.

پيغمبر عليه السلام ورته فرمايي: چې زما خو د خپل ځان په باره کي دا ګمان او فکر دئ چې کله لمونځ کوم او يو طرف ته سلام وګرځوم، نو دا مي يقين نه وي چې دوهم طرف ته سلام ګرځوم، او زه به لا ژوندی يم.

محترمو مشرانو! يقينا د انسان په زندګي باندي د سترګو د رپ وهلو په اندازه او مقدار باور نسته.

مرګ هر وخت انسان ته را تللای سي او د مرګ وخت معلوم نه دئ.

نن سائنسدانان په اسمانو کي خبري کوي او په لمر او سپوږمی کي خبري کوي او د هغوی حالات بيانوي ليکن که ته ورته ووايي چې د انسان مرګ به کله انسان ته راځي؟ نيا دلته دده علم ناکام دئ او ختم دئ.(۱)

## دوې يقيني خبري:

د دنيا په يقيني خبرو کي يوه يقيني خبره داده چې مرګ خامخا هر انسان ته راځي او دوهمه يقيني خبره داده چې د مرګ وخت نه دی معلوم. خدانخواسته که

(۱) موت کی تیاری، صفحہ نمبر: ۱۴

انسان د غسي د غفلت په حالت کي زندګي تېروي او د عزرائيل عليه السلام يو دم چم
ور باندي صافه سي او بغير د توبې کښلو يې د خداى جل جلاله و حضور ته پيش کړ
هسي نه چي هلته بيا د ډيري زياتي پرېشانۍ او پښېمانۍ او رسوايۍ سره م
سي.
الله تعالى دي موږ او تاسو د دغه حالته څخه وساتي "آمين".

## د پنځو شيانو علم:

امام مالک رحمة الله عليه اوه لس کاله (۱۷) په مسجد نبوي کي د پېغمبر عليه السلام
محراب مبارک کي د احاديثو مبارکو درس وکړئ، اوه لس (۱۷) کاله بعد
شپه په خوب کي د پېغمبر عليه السلام زيارت الله جل جلاله ور په نصيب کړئ.
نو ده مبارک په خوب کي د پېغمبر عليه السلام څخه پوښتنه وکړه چي يا رسول الله!
مرګ به کله راځي؟ پېغمبر عليه السلام په جواب کي په پنځو ګوتو اشاره ورته وکړه
د امام مالک رحمة الله عليه په ذهن کي د هغه اشارې مطلب نه راغلئ او په سو
فکر کي سو چي آيا ددې مطلب دادئ چي پنځه ورځي يا پنځه مياشتي يا
کاله بعد به زما مرګ راځي او که ددې نور څه مطلب دئ؟
په دغه زمانه کښي مشهور مُعَبِر او تابعي ابن سيرين رحمة الله عليه ژوندى ؤ، نو
ورغلئ د دغه خوب تعبير او معنى يې ځني وغوښته.
هغه چي کله د رسول الله صلى الله عليه وسلم د پنځو ګوتو د اشارې خبره واورېده، نو دس
ورته ورويل چي پېغمبر عليه السلام د سورة لقمان هغه آيت ته اشاره کړې ده چ
تعالى فرمايي: د پنځو شيانو قطعي او يقيني علم ما د خپل ځانه سوا بل
ته نه دئ ورکړى.

نو بیا یې دا ایات مبارک تلاوت کړئ: ﴿إِنَّ اللَّهَ عِندَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ﴾(۱).

قیامت به کله راځي، باران به قطعا او یقینًا کله اوریږي، د مور په نس کي کوچنی بچی هلک یا انجلۍ ده، انسان به سبا یعني راتلونکې ورځ څه کوي، او انسان ته به پر کمه مځکه مرګ او زکندن راځي.

دې پنځو شیانو علم الله ﷻ د خپل ځان ماسوا هیچا ته نه دئ ورکړی، نو په دې پنځو شیانو کښې یو شی مرګ هم دئ، نو د مرګ د راتلو علم د الله ﷻ څخه سوا بل هیچا ته نسته.(۲)

## د مرګ د یادولو فائدې:

تفسیر قرطبي کي لیکلي دي چي کم انسان مرګ ډېر یادوي الله تعالی به درې کرامته ور په نصیب کوي.

۱. د ګناه کولو وروسته د توبې کولو توفیق به خدای ﷻ ژر ور نصیب کوي.
۲. پر لږ دنیا به الله تعالی قناعت ور نصیب کوي.
۳. په عبادت کولو کي به خوشحالي او نشاط یعني تازګي او د زړه سکون ور نصیب کوي.

## دنیا قید خانه یا جنت ده؟

په حدیث شریف کي راځي: ﴿الدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ وَجَنَّةُ الْكَافِرِ﴾(۳).
دنیا د مومن دپاره قید خانه او د کافر دپاره جنت ده.

---

(۱) سورة لقمان آیت نمبر ۳۴
(۲) موت کی تیاری، صفحہ نمبر: ۱۵
(۳) ابن ماجه، حدیث نمبر: ۴۱۱۳

لکه څنګه چي قیدي په قیدخانه کي د خپل اختیار او د خوشحالۍ زندګي نه سي تېرولای داغه رنګه مؤمن بنده هم په دنیا کښي د خپلي مرضۍ او ازادانه ژندګي نه سي تېرولای.
ځکه مؤمن په دنیا کي د محمد رسول الله ﷺ د غلامۍ طوق و غاړي ته اچولی دئ.
نو چي د محمد رسول الله ﷺ د مرضۍ او خوښۍ سره سمه زندګي تېره کړي، نو په راحت او سکون به وي.
اوس راسئ وګورو چي محمد رسول الله ﷺ د دنیا د زندګۍ سکون، راحت او کامیابي په څه کي بولي او زموږ عقل او زموږ پوهه او زموږ علم د دنیا د کامیابۍ راحت او سکون د پاره موږ ته څه هدایت کوي!!!

## د دنیا د زندګۍ د کامیابۍ راز:

د انسان علم او پوهه او د انسان عقل انسان ته دا وایي چي د دنیا په زندګي کي د کامیابۍ معیار یا مال او دولت دئ، یا حکومت او سلطنت دئ، یا ښه پوهه او علم دئ او یا ښه عقل او چالاکي ده.
لیکن د دې په مقابل کي زموږ دین او شریعت څه وایي؟ د حضرت علي رضي الله عنه وینا ده (د حضرت علي رضي الله عنه علم د رسول الله ﷺ علم دئ او د رسول الله علم یقینا د الله تعالی جل جلاله علم دئ).
حضرت علي رضي الله عنه د انسان د کامیابۍ په باره کي چند وینا ګاني کوي او وایي:
۱. ﴿مَنِ اعْتَمَدَ عَلَى مَالِهِ فَقَدْ قَلَّ﴾ چي څوک د کامیابۍ معیار مال او دولت بولي نو د دې سړي عقل لږ کم دئ او صحیح لار ځني ورکه ده. ځکه په مال او دولت سره د دنیا مسائل نه حل کیږي او نه د دنیا پریشانۍ په ختم کیږي.
۲. ﴿مَنِ اعْتَمَدَ عَلَى سُلْطَانِهِ فَقَدْ ذَلَّ﴾ چي څوک حکومت او سلطنت د ځان د پاره عزت بولي هغه به همېشه د عزت پر ځای خوار او ذلیل وي؛ ځکه د

سلطنت آخري انجام اکثر ذلت وي. ځکه الله ﷻ کله انسان ته حکومت هم ورکوي، د حکومت سره ذلت هم ورکوي موږ دا په سترګو وینو ددې دلیل او وضاحت ته ضرورت نشته.

۳. ﴿مَنِ اعْتَمَدَ عَلٰى عِلْمِهِ فَقَدِ اعْتَلَّ﴾ چي کوم انسان په خپل علم نازیږي او دا وایي چي کمه خبره زما په علم کي ده هغه صحیح ده او که زما په علم کي نه وه هغه بې ځایه ده او زه په هر څه پوهیږم ددې انسان به هیڅ کله هم هدایت په نصیب نه سي.

۴. ﴿مَنِ اعْتَمَدَ عَلٰى عَقْلِهِ فَقَدْ ضَلَّ﴾ چي کم انسان دا وایي چي کم شی زما په عقل کي راځي هغه صحیح دئ چي زما په عقل کی نه راځي هغه غلط دئ، د داسي انسان عقل به همېشه خراب او برباد وي.

لیکن ددې ټولو په مقابل کي ﴿وَمَنِ اعْتَمَدَ عَلٰى عِلْمِ اللهِ﴾ کم انسان چي د الله تعالی پر ذات باندي بروسه او اعتماد وکړي او پر الله ﷻ باندي توکل او یقین وکړي، ﴿فَلَا قَلَّ وَ لَاضَلَّ وَ لَاذَلَّ وَ لَااعْتَلَّ﴾ د هغه انسان مال به کم نه سي او هغه انسان به ذلیل نه سي او هغه انسان به ګمراه نه سي او د هغه انسان عقل به خراب نه سي.

## زموږ علم عین جهالت دئ:

په مال سره یا په حکومت سره عزت او راحت پیدا کول دا خو زموږ د علم نچوړ او خلاصه ده.

لیکن زموږ د علم پیدا کونکي ذات زموږ د علم په باره کي وختي لا دا ویلي دي: ﴿إِنَّهُ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا﴾(۱) انسان مطلقا جاهل دئ، نو د جاهل د علم به څه مقدار وي؟ بیا هم که څه علم د یوې خوا او بلي خوا یا د کتابو کتلو څخه یا د مشاهدې موږ ته حاصل دئ.

(۱) الاحزاب آیت نمبر ۷۲

د هغه علم حقیقت څه دئ او د هغه په باره کي الله تعالی څه فرمايي؟ ﴿وَ مَا أُوتِيتُم مِنَ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا﴾(۱) ای انسانانو! ما ډېر کم علم درکړی دئ، که هر څومره د ترقی نعرې انسان وکړي تراو سه پوري دد ې کائناتو درې فيصده علم هم پوره انسان ته نه دئ حاصل سوی.

د کائناتو اووه نيوي (۹۷) فيصده علم ته خو بالکل انسان نژدې سوی هم نه دئ.

کوم درې فيصده معلومات د کائناتو چي انسان ته حاصل سوی دئ په هغه درې فيصده کي هم داسي حالات دي ما د لوی عالمه څخه د بيان په دوران کي د اورېدلي دي چي پر کمه مځکه موږ اوسيږو دا مځکه يو سياره ده د دې مځکې غوندي چي څونه سيارې او ستورې په دې کائناتو کي سره گرځي.

کچيري يو انسان ټول وخت و دې ته ورکړي او پر دې سيارو او ستورو فرض نومونه ايږدي لکه: زحل، عطارد، مشتري، زهره او شماري يې، نو په يوه پا شمارلو کي به درې سوه کهربه کاله ضرور تېر سي لا به يې هم نومونه پای ته و نه رسوي، درې سوه کهربه کاله عمر به د چا سره وي؟ لهذا د الله تعالی خبره به انسان ضرور مني چي الله تعالی وايي: ﴿إِنَّهُ كَانَ ظَلُوماً جَهُولًا﴾(۲).

## د امت مسلمه د مسائلو حل:

نن د دنيا په زندگي کي انسانان د خپلو مسائلو په حل کي مصروف او مشغو دي او په مختلفو شکلو د خپلو مسائلو د حل لاري پيدا کوي.

ليکن ددوی په مقابل کي الله تعالی څه وايي چي زه د انسانانو مشکلات څنگ حل کوم ﴿وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ﴾ چي کم انسان تقوی اختيار کړي ﴿يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا﴾ د هر

---

(۱) الاسراء آيت ۸۵

(۲) الاحزاب آيت نمبر ۷۲

تنګی شخه د وتلو لار ور کوم ﴿وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ﴾ د هغه طرفه به رزق ورکوم چې بالکل به دده وهم او ګمان هم نه ور رسيږي.
زموږ د مسائلو د حل لارې دادي چې موږ دا وايو چې زما تجارت، زما زراعت او زما دکانداري ما ته رزق راکوي، الله تعالی وايي: ددې لارو شخه نه، بلکې ﴿مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ﴾ زه به د هغه لارې شخه رزق در کوم چې ګمان به دې هم نه ورځي او نه به ور رسيږي.
چې کله پر دې خبره د انسان تسلي نه وي، نو الله تعالی بيا مخ ته ورته فرمايي: ﴿وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللهِ فَهُوَ حَسْبُهُ﴾ چې کم انسان پر ما باندې توکل کوي، نو زه د هغه دپاره کافي يم.
چې کله پر دې خبره هم د انسان تسلي نه وسي، بيا مخ ته دا ورته فرمايي: ﴿وَاللهُ غَالِبٌ عَلَى أَمْرِهِ﴾ اى انسانه! زما خپل کار مکمل په خپل اختيار کی دئ او زه پر خپل کار باندې غالب يم. ﴿قَدْ جَعَلَ اللهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا﴾(١) انسانه تقوی او پرهېزګاري کوه! لارې به خلاصيږي. په تحقيق سره الله تعالی د هر شي دپاره تقدير او ترتيب برابر کړی دئ.
که دا معلومه نه وي چې لارې خلاصيږي يا نه خلاصيږي، خو ته پر توکل راسه! زه ستا د پاره کافي يم، زه پر هر شي باندې غالب يم، زما ارادې څوک نه سي ماتولای.

## د الله جل جلاله د ارادې مخالفت ممکن نه دئ:

د حضرت علي رضي الله عنه قول او وينا هم داده، حضرت علی رضي الله عنه به ويل: ﴿عَرَفْتُ رَبِّيْ﴾ ما الله جل جلاله پېژندلی دئ، هغه څنګه؟ ﴿بِفَسْخِ الْعَزَائِمِ﴾(٢) د خپلو ارادو په ماتولو

(١) الطلاق آيت نمبر ٣
(٢) قوت القلوب في معاملة المحبوب، صفحه نمبر: ١٥٠

سره. د الله جل جلاله څخه بغیر بل داسي طاقت او قوت نسته چي زما ارادې راماتې کړي.
نو الله جل جلاله فرمایي: انسانه ته تقوی اختیار کړه! زه به ستا ټولي مسئلې د رحل کړم.

## د عزت پیدا کولو لار:

که چیري انسان په دنیا کي عزت غواړي د ذلت څخه ځان ژغوري او په دنیا کي سکون غواړي، نو د حضرت علی رضي الله عنه وینا دي واوري او په هغه دي عمل وکړي.
حضرت علي رضي الله عنه وایي: ﴿مَنْ أَرَادَ عِزًّا بِلَا عَشِيْرٍ﴾ چي څوک عزت غواړي او خاندان او قبیله نه لري، ﴿وَغِنًى بلامَالٍ﴾ غني جوړېدل غواړي او پیسې نه لري، ﴿وَهَيْبَةً عِندَ سُلطَانٍ﴾ او پر بادشاه باندي رعب او دبدبه قائمول غواړي، ﴿وَ وِجْهَةً عِنْدَالإِخْوَانِ﴾ خپل ماحول او قبیله کي وجاهت او مقبولیت غواړي.
تاسو پر دې اوه (۷) بِرا عظمه وګرځئ د یو یو انسان څخه پوښتنه وکړئ چي په ټول انسانیت کي داغه شیان غوښتل د هر انسان خواهش دي او کنه؟ یقینا د ټول انسانیت داغه غوښتنه ده چي پیسې وګټي او لوی تاجر ور څخه جوړ سي. او په سیاست کي وزیر اعظم ور څخه جوړ سي دا خو زموږ علم دئ او زموږ د علم انتها ده.
لیکن حضرت علی رضي الله عنه څه وایي! چي د هغه علم د پیغمبر علیه السلام علم دئ او د پیغمبر علیه السلام علم د الله جل جلاله علم دئ، نو ګویا دا د الله جل جلاله علم دئ، الله جل جلاله څه وایي؟ : ﴿فَلْيَخْرُجْ مِن ذِلِّ مَعْصِيَةِاللهِ إِلَى عِزِّ طَاعَةِ اللهِ﴾(۱) که څوک په حقه دا شیان غواړي صرف یو کار دي وکړي هغه دا چي د الله تعالی نافرماني دي پرېږدي او

(۱) زواجر عن اقتراف الکبائر، صفحه نمبر: ۲۸

خپل ځان دي د الله ﷻ فرمان برداره جوړ کړي، داشیان به تهول دده قدموته پخپله راځي.

## درزق حاصلولو لار:

الله تعالى فرمايي: ﴿لَوْ اَنَّ اَهْلَ الْقُرٰى اٰمَنُوْا وَ اتَّقَوْا﴾ یو کلي والا یو ملک والا که چیري دوه کاره وکړي: یو ایمان قبول کړي او بل تقوی اختیار کړي ﴿لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكَاتٍ مِّنَ السَّمَاءِ وَ الْاَرْضِ﴾(۱) زه به په اسمان کي دده دپاره د رزق دروازې خلاصي کړم او د مځکي په رګ رګ کي به دده د رزق اسباب را پورته کړم.
چي دی صرف دوه کاره وکړي: یو ایمان او بل تقوی. دا د الله ﷻ علم دئ چي الله تعالى پر تقوی باندي د رزق دروازې خلاصوي او الله تعالى انسان ته د داسي ځایه د رزق بندوبست کوي چي د انسان وهم او ګمان به هم نه وي.
د الله حبیب ﷺ ددې څخه نوره زیاته د خوند خبره هم کړې ده:

## د صحابي پوښتني او د پیغمبر عليه السلام جواب:

یو صحابي راغلی او د پیغمبر عليه السلام څخه چند پوښتني کوي، پیغمبر عليه السلام جواب ورکوي.

## د غني جوړیدلو لار:

۱. ﴿يَارَسُوْلَ اللهِ اُرِيْدُ اَنْ يُّوَسَّعَ فِيْ رِزْقِيْ﴾ یارسول الله! زه غواړم چي زما رزق زیات سي، لکه موږ تهول داوایو چي زموږ رزق دي زیات سي.
پیغمبر عليه السلام ورته وایي: ﴿اَدِمْ عَلَى الطَّهَارَةِ يُوَسَّعُ عَلَيْكَ رِزْقُكَ﴾ ته په اودس باندي اوسه! الله تعالى به ستا رزق زیات کړي. د رزق د زیاتوالي مسئله الله تعالى څومره اسانه کړې ده! دا څه د یو با تجربه یا د قانون پوه خبره نه ده، دا د الله تعالى د حبیب محمد رسول الله ﷺ خبره ده.

(۱)سورة الاعراف، ۹٦آیت.

## د عزتمند جوړېدلو لار:

۲. صحابي بيا سوال کوي: ﴿يارَسُولَ الله اُرِيْدُ اَنْ اَكُوْنَ اَعَزَّ النَّاس﴾ زړه مې دا غواړي ای د الله رسوله! چې تر ټولو انسانانو زيات عزت مند سم!
پېغمبر ﷺ ورته فرمايي: ﴿لاتَشْكِ مِنْ اَمْرِکَ شَيْأً اِلَى الْخَلْقِ تَكُنْ اَكْرَمَ النَّاسِ﴾ خپل ضرورت د مخلوق څخه و هيچا ته مه وايه! او خپل احتياج مخلوق ته مه ښکاره کوه! د الله تعالى څخه چې هر څومره غوښتنه کوې هغونه غوښتنه کوه! د مخلوق و مخ ته د احتياج ښکاره کولو څخه ځان ګوره! نو الله ﷻ به د ټولو انسانانو څخه زيات عزت ستا په برخه کړي.

## د طاقتور جوړېدلو لار:

۳. دريم ځل صحابي بيا سوال کوي: ﴿يَارَسُوْلَ اللهِ اُرِيْدُ اَنْ اَكُوْنَ اَقْوَى النَّاسِ﴾ ای د الله ﷻ رسوله! دا غواړم چې په ټولو انسانانو کې قوت والا انسان سم! (د نن سبا په دور کې د قوت حاصلولو د پاره انسانان څومره ظلمونه کوي او د څومره معصومو انسانانو وينه تويوي، د الله تعالى حبيب ﷺ د قوت حاصلولو اسانه طريقه بيان کړې ده چې په هغه کې د يو انسان د يوې قطرې وينه تويولو ته هم ضرورت نشته).
پېغمبر ﷺ صحابي ته فرمايي: ﴿تَوَكَّلْ عَلَى اللهِ تَكُنْ اَقْوَى النَّاسِ﴾ توکل پر الله ﷻ باندې کوه! يقين او بروسه پر الله ﷻ باندې ساته! د ټولو انسانانو طاقتور به ته جوړ سې.

## د عالم جوړېدلو لار:

۴. څلورم ځل صحابي سوال کوي: ﴿اُرِيْدُ اَنْ اَكُوْنَ اَعلَمَ النَّاسِ﴾ يارسول الله! دا غواړم چې د ټولو انسانانو څخه زيات عالم سم او د علم لاري پر ما باندې را خلاصې سي.

پيغمبر عليه السلام اسانه لار ورته ښکاره کوي: ﴿اِتَّقِ اللهَ تَكُنْ أَعْلَمَ النَّاس﴾ تقوىٰ اختيار کړه د ټولو انسانانو زيات عالم به ته جوړ سې.

## د ذلتو څخه په امان کېدلو لار:

۵. پنځم ځل صحابي عرض کوي: ﴿أُرِيْدُ اَنْ اَكُوْنَ اَعَفَّ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾(۱) يارسول الله! دا غواړم چي د دنيا او آخرت د ذلتونو او رسوايۍ څخه په امان سم.

پيغمبر عليه السلام ورته فرمايي: پاکدامنه او صفا زندګي تېره کړه! د دنيا او آخرت ټول عزتونه به ستا قدمو ته راځي.

## د الله تعالى سره د خصوصيت قائمولو لار:

۶. شپږم ځل صحابي عرض کوي: ﴿أُرِيْدُ اَنْ اَكُوْنَ اَخَصَّ النَّاسِ اِلَى اللهِ﴾ دا غواړم چي د الله تعالى سره مي يو خاص خصوصيت قائم وي.

پيغمبر عليه السلام هغه ته طريقه د خصوصيت بيانوي ﴿أَكْثِرْ ذِكْرَ اللهِ تَكُنْ اَخَصَّ النَّاس﴾(۲) د الله تعالى ذکر زيات کوه! الله تعالى به په خپل حضور کي خاص خصوصيت درپه نصيب کړي.

او س د انسانانو د ټولو پرېشانيو د خلاصولو او حل لاره پيغمبر عليه السلام په څومره آسانه طريقه بيان کړي دي، چي د بادشاه او مزدورکاره د دواړو دپاره د هغه حاصلول اسان دي، ضروريات د زندګۍ مختلف دي چا ته شلومبې او ډوډۍ نه رسيږي او د چا د دنيا ټول خواهشات پوره وي. ليکن دا شيان د عزت معيار نه دئ الله جل جلاله خپل حبيب صلى الله عليه وسلم ته ظاهراً د ټولو انسانانو څخه کمزوري زندګي په نصيب ورکړه؛ ځکه چي هغه به د لوږي څخه دوې ډبري پر خپل نس مبارک تړلي وې. تر قيامته پوري يې د انسانانو د زړه څخه دا خناس ليري کړئ او دا يې ورته

---

(۱) کنز العمال حديث نمبر ۴۴۱۵۴

(۲) الترغيب والترهيب، حديث نمبر: ۲۱۵۷

وښووله چې په مال او دولت څوک عزت مند نه جوړیږي. بلکه انسانانو ته یې د خپل نبي ﷺ د مسکنت په ذریعه دا ښکاره کړه چې مال او دولت د عزت معیار نه دئ، بلکه د ذلت بنیاد د الله تعالی نافرماني ده او د عزت بنیاد د الله جل جلاله اطاعت دئ.

## د خبرې خلاصه:

د خبرې خلاصه دا ده چې د دنیا د ټولو پریشانیو حل او خلاصول په تقوی کې دئ، صرف د پریشانیو حل نه بلکه د ولایت او کرامت والا انسان جوړېدل هم الله تعالی په تقوی کې ایښي دي. الله تعالی فرمایي: ﴿إِنْ أَوْلِيَاؤُهُ إِلَّا الْمُتَّقُونَ﴾(۱) د الله تعالی اولیاء هغه مخلوق دئ چې په زندګي کې یې تقوی خپله کړې وي.

## د تقوی معنی:

او تقوی څه ته وایي؟ تقوی څه شي ده؟ تقوی و دې ته نه وایي چې نفلي عبادت وکړه او ذکر وکړه او دا فلان تسبیحات وکړه، بلکه د تقوی معنی ده پرهېز.
او د ټولو څخه لوی پرهېز هغه د ګناهونو څخه پرهېز کول دي او د تقوی اوله زینه د ګناهونو څخه ځان ساتل دي. د ګناه څخه د ځان ساتلو بغیر قطعًا انسان تقوی دار نه سي جوړېدلای، که څه هم د دنیا ټول نفلي عبادات په عمل کې خپل کړي. نو د انسانانو دپاره د ټولو څخه زیات ضروري او اولنی کار په دنیا کې د ګناهونو پرېښول دي. د ګناه پر پرېښولو به الله جل جلاله ده ته یقینا د عزته ډکه زندګي په نصیب کې ورکړي.
الله تعالی دې په دې څو خبرو ما او تاسو ټولو ته د عمل کولو توفیق را په برخه کړي! او الله تعالی دې دغه څو مختصري خبرې په خپل دربار کې قبولې او مقبولې وګرځوي! آمین

وَ آخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

(۱) الانفال آیت نمبر ۳۴

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الایہ)

# د تعلق مع الله طریقه

(بیان)

مولوي اطیع الله صاحب
استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامہ ٹاؤن) چمن

ترتیب و تخریج:
مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دارالعلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلامیه (علامہ ٹاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه
کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتــي حافـظ كليم الله صاحب |
| مـقــــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعـت | ثلـــــــــــــورم |
| تــاريـــــخ | يکم ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق يکم مي ۲۰۱۸ |
| تــعــــداد | (۱۱۰۰) |

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْداً كَثِيراً طَيِّباً مُّبَارَكاً فِيْهِ مُبَارَكاً عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَ يَرْضٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهِ خَيْرِ الْهُدٰى وَعَلٰى اٰلِهِ وَاَصحَابِهِ نُجُوْمِ الْاِهْتِدَاء.

اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

بِسمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى: ﴿مُحَمَّدٌ رَسُوْلُ اللّٰهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِمْ مِنْ أَثَرِ السُّجُودِ ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ﴾(۱).

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: ﴿وَعَن اَبِى سَعِيدِ الخُدرِى رَضِىَ اللّٰهُ تعَالٰى عَنهُ قالَ كَانَ النَّبِىّ صَلى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّم إِذَا استَجَدَّ ثَوباً سَمَّاهُ بِاسمِهِ قَمِيصاً أَوْ عِمَامَةً أَوْ رِدَاءً ثُمَّ يَقُولُ: اللّٰهُمَّ لَكَ الحَمْدُ أَنْتَ كَسَوْتَنِيهِ أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِهِ وَخَيْرِ مَا صُنِعَ لَهُ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهِ وَشَرِّ مَا صُنِعَ لَهُ. او كَمَا قالَ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلامُ﴾(۲).

اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلٰنَا الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ وَصَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم وَنَحْنُ عَلٰى ذٰ لکَ مِنَ الشَّاهِدِينَ وَالْحَمدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ.

## د نوي جامې اغوستلو په وخت کي دُعا:

محترمو مشرانو! ستاسو په مخ کي ما د حضرت ابو سعيدالخدري رضی الله عنه يو روايت پېش کړئ او حضرت ابو سعيدالخدري رضی الله عنه د پېغمبر ﷺ يو سنت او طريقه را نقل کوي، دَی مبارک وايي: ﴿ إِذَا استَجَدَّ ثَوباً﴾ چي کله به پېغمبر علیه السلام يوه نوې جامه پيدا کړه او يوه نوې جامه به يې اغوستله، نو ﴿سَمَّاهُ بِاسْمِهِ﴾ اول

(۱) الفتح آیت ۲۹

(۲) جامع الصغير، حديث نمبر: ۴۶۶۴

عادت يې دا وُ چې ددې جامې نوم به يې اخيستى ﴿قَمِيصاً أَوْ عِمَامَةً أَوْ رِدَاءً﴾ چې دا قميص دئ او دا پټو دئ او دا لنګوټه ده او دا فلان دئ، نو اول ځل به يې د جامې نوم واخيستى.

بيا به يې د هغه تر نوم اخيستلو وروسته دا دعا ويله: ﴿أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِهِ﴾ يا الله! زه ددې جامې خير غواړم ﴿وَخَيْرِ مَا صُنِعَ لَهُ﴾ يا الله! چې دا جامه د کومو کارو دپاره جوړه سوې ده په هغه کار کې ما ته د خير کارونه را نصيب کړې. ﴿وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهِ﴾ يا الله! زه ددې جامې د شره څخه پناه غواړم ﴿وَشَرِّ مَا صُنِعَ لَهُ﴾ يا الله! چې دا جامه د کومو کارو دپاره جوړه سوې ده په هغه کارو کې د شر او بېکاره کارو څخه زه پناه غواړم.

نو حضرت ابو سعيد الخدري رضي الله عنه وايي چې د پيغمبر عليه السلام د جامې اغوستلو په وخت کې دا سنتؤ او دا د مُبارک عليه السلام طريقه او دعا وه.

## د هر وخت جلا جلا دعا ده:

که چيري يو سړی جامه اغوندي او زړه يې دا غواړي چې زه د جامې اغوستلو په وخت کې د پيغمبر عليه السلام پر سنت باندې عمل وکړم، نو د پيغمبر عليه السلام د جامې اغوستلو په وخت کې سنت طريقه ددغه دعا وينا وه.

که چيري هغه عربي دعا په ياد وي بيا خو ډېره ښه ده او که چيري د يوه انسان هغه عربي دعا نه وي په ياد، نو کم از کم په خپله ژبه دا ويلای سي:

يا الله! دا فلانکی جامه ده، يا دا قميص دئ، يا زما پټو دئ، يا زما لنګوټه ده، يا زما صدرۍ ده، يا الله! زه ددې جامې خير او برکت غواړم. او د کومو کارو دپاره چې دا جامه جوړه سوې ده د هغو کارو خير او برکت غواړم، په هغو کارو کې بهترين او نېک کارونه زما په نصيب کړې.

او د کومو کارو دپاره چې دا جوړه سوې ده يا الله! په هغه کارو کې د بدترينو او د شر د کارو څخه زما حفاظت وکړې.

نو بيا به د هغې جامې اغوستل د پيغمبر عليه السلام پر سنت طريقه سي، او چي كومه دعا پيغمبر عليه السلام د جامې اغوستلو په وخت كي غوښتې وه هغه دعا به د پيغمبر عليه السلام د دې امتي هم نصيب سي.

## د دعا غوښتلو حكمت:

در حقيقت د پيغمبر عليه السلام پر دې انسانانو ډېر لوی احسان دئ، هغه پر قدم قدم باندي دې انسانانو ته د غوښتني طريقه ور ښودلې ده، نن موږ په دنيا كي ډېر محتاجه مخلوق يو، په مخلوقاتو كي زموږ څخه زيات محتاجه مخلوق د خدای جل جلاله و حضور ته بل نسته، ليكن نه د الله تعالی څخه څه غواړو او نه د الله تعالی څخه دغوښتني طريقه را معلوميږي او نه دا درک را معلوميږي چي د الله تعالی څخه غوښتنه په كوم شكل كيږي.
حالانكه چي د ورځي څومره اعمال كيږي او د شپې انسان څومره اعمال كوي د پيغمبر عليه السلام د دې هر عمل متعلق خپله سنت طريقه سته او د پيغمبر عليه السلام د دې متعلق خپله دعا مباركه سته.

## د هر عمل دپاره دعا:

چي كله انسان سهار د خوبه څخه راكښېني، نو د دې دپاره پيغمبر عليه السلام جلا دعا ښولې ده، او چي كله انسان د بيت الخلاء و طرف ته ولاړ سي، نو چي هلته ننوزي جلا دعا ده، چي كله د هغې څخه راوځي جلا دعا ده، چي كله اودس شروع كوي جلا دعا ده او چي هر اندام مينځي جلا دعا ده.
او چي كله پر لمانځه دريږي جلا دُعا ده او چي كله مسجد ته ننوزي جلا دعا ده، چي د مسجد څخه وځي جلا دعا ده، چي كور ته ننوځي جلا دُعا ده، چي د كور څخه راوځي جلا دعا ده، چي بازار ته انسان ننوځي جلا دعا ده او چي د بازار څخه راوځي د پيغمبر عليه السلام ښول سوې جلا دعا ده.

## د تعلق مع الله طريقه:

اوس در حقيقت دا پر هر عمل باندې چې پيغمبر عليه السلام دې امت ته دُعاګانې ورښوولي دي ددې غرض څه دئ؟ ددې مقصد څه دئ؟ او په دې کې حکمت څه دئ؟

دا دعاګانې به ولې انسان وايي؟ چې پر اوداسه خپله دُعا ده، مسجد ته چې راځې خپله دُعا ده، په دې مسنون دُعاګانو کې غرض او حکمت دادئ چې پيغمبر عليه السلام دې خپل امت ته د الله تعالى سره د تعلق جوړېدو او د الله تعالى سره د نژدېکت يو بهترينه نسخه ورښوولې ده.

ځکه که يو انسان د خداى جل جلاله سره تعلق غواړي او د الله تعالى سره نژدېکت غواړي د هغې بهترينه او مختصر ترينه لار داده چې هغه انسان د پيغمبر عليه السلام مسنونو دعاګانو عمل وکړي.

او د مسنونو دُعاګانو اهتمام کول دا د پيغمبر عليه السلام مبارکه طريقه ده او دا د خداى جل جلاله د نژدېکت او قرب ذريعه ده. او دا مسنوني دعاګانې نور څه نه دي صرف د الله تعالى ذکر دئ چې د هر عمل په وخت کې به ته دا ذکر کوې.

## د ذکر تاکيد:

او ددې ذکر حکم قران کريم هم ورکوي ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا﴾[1] اى انسانانو! تاسو به ډېر ډېر ذکر کوئ! د هر عمل په وخت کې به ته ذکر کوې چې ته مسجد ته ورننوځې هم به ذکر کوې چې د مسجد څخه وځې هم به ذکر کوې، چې کور ته ننوځې هم به ذکر کوې، چې د کور څخه راوځې هم به ذکر کوې.

ذکر صرف دا نه دئ چې ته پر ګوتو يا پر تسبيحو سبحان الله وايې بلکه ذکر پيغمبر عليه السلام مسنوني دعاګانې هم دي.

---

(۱) الاحزاب آيت نمبر ۴۱

او ددې ذکر حکمت او غرض دادئ چې د هر عمل په دوران کې به د سرې رابطه د خدای جَلَّ جَلَالُهُ سره قائمه وي او د هر عمل په دوران کي به انسان د خپل حاجت غوښتنه د خدای جَلَّ جَلَالُهُ څخه کوي.

## ذکر بهترین عمل دئ:

یو صحابي د پیغمبر علیه السلام څخه پوښتنه کوي:
﴿یَا رَسُولَ اللهِ اَیُّ عَمَلٍ اَفضَلُ؟﴾ د دنیا په زندګي کي زما دپاره کم عمل بهترین دئ؟
نو پیغمبر علیه السلام په جواب کي ورته و فرمایل: ﴿اَنْ یَّکُونَ لِسَانُکَ رَطْبًا بِذِکْرِ اللهِ﴾[1]
چې د هر عمل په دوران کي دي ژبه د خدای په ذکر لنده وي.
او پیغمبر علیه السلام هغه صحابي ته وایي چې د دنیا په اعمالو کي ستا دپاره بهترین عمل دغه دئ.
اوس سوال دادئ چې الله تعالی چې دا ډېر ذکر زموږ څخه غواړي چې قرآن کریم هم راته وایي: ﴿اذْکُرُوا اللهَ ذِکْرًا کَثِیرًا﴾ د الله جَلَّ جَلَالُهُ ډېر ذکر کوئ او پیغمبر علیه السلام هم دا را ته وایي چې همېشه بهترین عمل ستاسي په حق کي دادئ چې دا ژبه مو په هر حال کي په ذکر باندي لنده وي.
اوس د انسان په دماغ کي دا پوښتنه راځي او دا سوال راګرځي چې ایا زموږ په دې ذکر کي د الله تعالی څه فائده سته چې الله تعالی موږ ته وایي چې زما ذکر زیات کوئ؟ زموږ په دې ذکر کولو کي د الله تعالی څه نفع ده؟ آیا زموږ په دې ذکر کي د الله جَلَّ جَلَالُهُ دپاره راحت دئ "نعوذ بالله"؟
آیا زموږ په دې ذکر باندي الله جَلَّ جَلَالُهُ خوند اخلي چې زما بندګان زما ذکر کوي؟ اوکه څه وجه ده چې قرآن مجید موږ ته د ذکر ډېره ډېره ښوونه کوي او د پیغمبر ﷺ احادیث موږ ته د ذکر ډېر ډېر فضیلت بیانوي او زموږ په دې ذکر کي الله ته کومه نفع او فائده رسیږي؟ نو دا پوښتنه د انسان په دماغ کي راځي.

---

[1] مشکوة شریف، حدیث نمبر: ۲۲۷۹

## د بنده په ذکر کي د الله نفع نسته:

حقيقت دا دئ چي الله تعالی چا ته يوه ذره فهم او پوهنه په نصيب کړې وي او چي کوم انسان د الله جَلَّ جَلَالُهُ د ذات او د حقيقي صفاتو سره بلد او اشنا وي، نو د هغه انسان په دماغ کي د يوه ورېښته قدر دا تصور هم نه راځي چي زموږ په ذکر کي به الله تعالی ته نفع وررسيږي.

ځکه د مسلمان دا عقيده ده او د الله جَلَّ جَلَالُهُ د ذات او صفاتو دا تقاضا ده کچيري دا ټول کائنات په يو ځل د الله تعالی ذکر شروع کړي ددې ټولو کائناتو د ذکر کولو په خاطر د الله جَلَّ جَلَالُهُ په خدايي کي يو ورېښته قدر زياتوب نه راځي.

او که دا ټول کائنات په يو ځل د الله تعالی نافرماني شروع کړي او معصيتونه او ګناهونه شروع کړي او دا ټول مخلوقات د الله جَلَّ جَلَالُهُ پر نافرمانی باندي روان سي نو د الله جَلَّ جَلَالُهُ په خدايي کي يوه ذره کمی نه راځي.

ځکه د الله جَلَّ جَلَالُهُ په باره کي موږ دا صفت اورېدلی دئ او زموږ دا عقيده ده چي ﴿اَللّٰهُ الصَّمَدُ﴾ الله جَلَّ جَلَالُهُ د هر چا څخه بې نيازه دئ، نه د چا ذکرونه الله جَلَّ جَلَالُهُ ته فائده وررسوي، نه د چا ګناهونه او نافرمانی الله تعالی ته نقصان رسوي، نه الله تعالی زما او ستا ذکرو ته محتاج دئ، نه زما او ستا تسبيحاتو ته محتاج دئ الله جَلَّ جَلَالُهُ نه زما او ستا لمنځو ته محتاج دئ او الله تعالی نه زما او ستا سجدو ته محتاج دئ.

نو د الله تعالی په دې شيانو کي فائده نسته، ددې په کولو کي د الله تعالی نفع نسته او ددې په نه کولو کی د الله جَلَّ جَلَالُهُ نقصان نسته.

## غفلت د ګناه سبب دئ:

نو بيا الله جَلَّ جَلَالُهُ ولي موږ ته دا حکم کوي چي تاسو به ذکرونه ډېر کوئ او پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام ولي موږ ته د ذکر فضيلت ډېر بيانوي چي ستاسو دپاره بهترين عمل دا دئ چی تاسو به د الله جَلَّ جَلَالُهُ ذکر ډېر کوئ.

د هغې وجه داده چي درحقیقت په دې ذکر کي زموږ خپله فائده ده، او په دې کي زموږ خپله نفع ده او په ذکر نه کولوکي زموږ خپل نقصان دئ او په ذکر نه کولو کي زموږ خپل تاوان دئ.

ځکه چي انسان حقیقت ته خپل نظر کښته کړي بیا به ددې ذکر نفع او فائده ور معلومه سي. نن چي په دنیا کي څومره جرمونه د انسانانو څخه کیږي او په دنیا کي څومره ګناهونه د انسانانو څخه کیږي اونن چي په معاشره کي څومره فسادونه سره غوړېدلي دي د هغو ټولو بنیاد دادئ چي د انسانانو د زړو او دماغو څخه د الله جَلَّ جَلَالُهُ فکرلیری سوی دئ، د انسانانو د ژبواو زبانو څخه د الله جَلَّ جَلَالُهُ ذکر لیري سوی دئ.

چي کله په دې خوله باندي د الله جَلَّ جَلَالُهُ ذکر نسته، نو په دې زړه او دماغ باندي د الله تعالی فکر او تصور هم نسته، او چي د کوم انسان په زړه او دماغ کي د الله تعالی فکر او تصور نه وي بیا هغه انسان، انسان نه دئ، بیا هغه انسان شکله درنده دئ، بیا هغه انسان خپله لویي هم ښکاره کوي، بیا تکبر هم کوي، بیا هغه انسان ظلمونه هم کوي، بیا هغه انسان په معاشره کي وایي "ہمچو ما دیگرے نیست" ما غوندي بل انسان نسته.

دا د هغه انسان خصوصیت وي چي د کوم انسان پر ژبه د الله جَلَّ جَلَالُهُ ذکر نه وي او دده پر دل و دماغ باندي د الله تعالی فکر او تصور نه وي.

لیکن چي کله د انسان پر ژبه د الله جَلَّ جَلَالُهُ ذکر جاري وي، نو پر زړه او دماغ باندي یې هم د الله جَلَّ جَلَالُهُ فکر او تصور ځای نیولی وي، او په زړه او دماغ کي یې د الله جَلَّ جَلَالُهُ یاد وي.

او په زړه لو دماغ کي یې و الله جَلَّ جَلَالُهُ ته د جواب ورکولو احساس باقي وي چي صبا خو زه مرم د خدای جَلَّ جَلَالُهُ و حضور ته پېښېږم او د خدای جَلَّ جَلَالُهُ په حضور کي یو ځل ددې خپلي ژوندګۍ جواب پېښوم، نو بیا که هغه انسان ته د زمري زړه ورکړې و ګناه ته به ورنژدې هم نه سي.

ځکه چي الله جل جلاله موږ ته وايي: تاسو ذکر ډېر کوئ! او پېغمبر علیه السلام وايي: ستاسو دپاره بهترين عمل دا دئ چي تاسو پر دې خپله ژبه باندي د الله جل جلاله ذکر ډېر راوړئ.

د هغه بنيادي مقصد دادئ چي کله تاسو ذکر کوئ، نو ستاسو پر دل او دماغ به د الله جل جلاله فکر وي. او ستاسو په زړوکي به د الله جل جلاله په حضور کي د پېښېدلو احساس وي، نو ځکه په معاشره کي به تاسو د ګناه کولو څخه خپل ځانو نه ساتلای سی.

## پر ګناه شديد وعيد:

په يو حديث شريف کي راځي الفاظ يې دا دي: ﴿لَایَزْنِیْ الزَّانِیْ حِینَ یَزْنِیْ وَ هُوَ مُؤمِنٌ﴾ يعني زناکاره په داسي حال کي زنا نه کوي چي دَی دي مؤمن وي.

ددې معنٰی داده چي تر څو پوري دا خپل ايمان و ده ته مستحضر او حاضر وي او د الله جل جلاله احکام او د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم نبوت و ده ته حاضر وي چي هغه مي رب دئ، او دا مي نبي دئ او ددې رب او نبي په مخ کي خپل حساب او کتاب پېشول را څخه غواړي، نو ددې وجي څخه هغه سړی بيا زنا قطعاً نه کوي.

﴿لَایَسْرِقُ السَّارِقُ حِینَ یَسْرِقُ وَ هُوَ مُؤمِنٌ﴾ چي کوم انسان غلا کوي، نو غل په داسي حال کي غلا نه کوي چي دَی دي مؤمن وي. مؤمن دا معنٰی چي خپل ايمان يې په دماغ کي حاضر وي او د الله جل جلاله فکر او تصور يې په دماغ کي حاضر وي، او د خدای جل جلاله حضور ته د پېښېدلو احساس ورسره موجود وي، په داسي وخت کي غل قطعاً بيا غلا نه کوي.

﴿وَ لَایَشْرَبُ الشَّارِبُ حِینَ یَشْرَبُ وَ هُوَ مُؤمِنٌ﴾[1] شرابي شراب په داسي وخت کي نه چيښي چي دَی دي مؤمن وي، مؤمن کېدل دا معنٰی چي تر څو پوري دده په دماغ

[1] مشکوة شريف، حديث نمبر: ۵۳

کي دا خبره وي چي یوه ورځ خو زه مرم، یوه ورځ د خدای ﷻ حضور ته پېشېږم، یوه ورځ د خدای ﷻ په حضور کي د ژوندګۍ ټول حساب او کتاب پېشوم.
نو ددې شرابو چیښلو حساب او کتاب زه د الله ﷻ په حضور کي پېشومه.
چي کله دا خبره دده په دماغ کي حاضره وي او دده په دل او دماغ باندي ددې تصور او فکر وي، نو بیا په دې وخت کي دا شرابي شراب نه سي چیښلای.

## د ذکر فائده:

نو په دې وجه باندي دا یو حقیقت دئ چي زموږ په ذکر کي الله ﷻ ته څه فائده نسته، او زموږ په دعاګانو کي د الله ﷻ څه نفع نسته، په دې کي زموږ خپله نفعه ده. چي تر څو پوري پر ژبه باندي ذکر جاري وي، نو د انسان پر زړه باندي د الله ﷻ تصور او فکر موجود وي او چي د کوم چا په زړه باندي د الله ﷻ فکر جاري وي هغه انسان بیا قطعاً ګناه ته نژدې کېدلای نه سي.

## د فاروق اعظم رضی الله عنه واقعه:

د حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه زمانه ده، په دې وخت کي حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه د نیمي دنیا حکمران دئ، یعني چي اوس غالبًا زیات حکومتونه په هغه کي جوړ دئ چي اوس یې زیات بادشاهان دي او هر یو دا دعوه کوي چي زما دومره لویه بادشاهي ده، پر دې زیاتو مملکتو باندي یوائځې د حضرت عمر رضی الله عنه حکومت وو.
نو د "بیت المقدس" په سفر باندي روان دئ، هغه زمانه نه د هوټلونو زمانه ده، هغه زمانه نه د مسافرخانو زمانه ده، هغه زمانه نه د پخو سړکونو زمانه ده.
یوائځې تن تنها د نیمي دنیا حکمران دئ، او پر خپل اوښ باندي سپور دئ، "بیت المقدس" ته روان دئ، په لاره کي وږی او تږی سو، نو که ګوري د غره په لمن کي یوه د پسو رمه څري او شپونکی یعني شپانه ورسره دئ، نو و دې رمې ته نژدې راغلئ، شپونکی یې راوغوښتئ او ور ته ویې ویل: سړیه! دا ستا په

رمه کي يو څه د شيدو والا حيوان نسته چي شيدې کوي؟ زه وږي يم ما ته يو څه شيدې راولويشه چي زه يې وخورم او زه تږي يم په هغه به زما تنده ختم سي!
نو هغه شپونکی ور ته وايي: بلا شک زما په پسو کي داسي پسونه سته، ليکن خبره داده چي دا پسونه زما سره امانت دي او د مالک د طرف څخه ما ته ددې اجازت نسته.
نو ځکه زه تا ته بغير د اجازته ددې پسو شيدې نه سم در لو بشلای او نه بغير د اجازته د پسه غولانځي ته لاس ور وړلای سم.
حضرت فاروق اعظم ﷺ که يو طرف ته حکمران دئ بل طرف ته ددې انسانانو ممتحن او مربي دئ د خپل رعيت امتحان اخلي چي دا سړی په حقيقت کي څنګه دئ.
نو حضرت فاروق اعظم ﷺ ورته وويل: سړيه! ددې دپاره خو به زه دېره اسانه لار ه در وښيم، اسانه لار داده چي ته ما ته يو داسي پسه راکړه چي هغه پسه شيدې کوي، زه به هغه پر خپل سواري را سره واخلم پر لاري به يې شيدې خورم، چي شيدې يې ختم سوې، نو حلال به يې کړم او غوښي به يې وخورم. او د هغه به زه تا ته پر دې ځای پوره معاوضه او عوض او قيمت درکړم.
ليکن چي ته کله مابنام کلي او کور ته ولاړې او مالک ستا څخه پوښتنه وکړي او ستا څخه پسونه شمار کړي، نو ته به ووايې چي هغه لېوه وخوړئ. او په ځنګله کي خو عام طور داسي معاملات پيښيږي، چي د سړي سره رمه ور سره وي، نو پر هغه باندي کله کله لېوان پيښيږي او لېوان يې ځني خوري، نو هغه ته به ته دا جواب ورکړې.
هغه سړی په ډېر حيرت حضرت فاروق اعظم ﷺ ته ګوري، نو په زوره يې د خولې څخه دا چيغه ؤخته او ويل يې: ﴿يا هذا فأين الله﴾ ای سړيه! هغه رب څه سو؟ مالک خو خطا ايستلای سم؛ ځکه مالک په دې وخت کي ما نه ويني او

مالک ته جواب ويلای سم او مالک ته دوکه ورکولای سم او خيانت ور سره کولای سم.

ای سرِيه! هغه ذات چي اوس و ما ته ګوري هغه رب ته به څه جواب ورکوم؟ ليکن چونکه حساب او کتاب صرف د مالک په مخکي نه دئ، سرِيه! حساب او کتاب د خپل رب په حضور کي هم دئ، نو زه به د خپل رب په حضور کي کوم جواب پيشوم.

نو حضرت فاروق ﷺ هغه سړي ته حيران دئ او آخر ور ته وايي: ای سرِيه! چي کله ستا غوندي انسانان د مځکي پر مخ باندي وي، نو بيا د دې امت په ميان کي ظلمونه نه زياتيږي، نو الله تعالی به دا امت د ظلم څخه خلاصوي. يعني ستا غوندي انسانان چي د هغوی پر دل او دماغ باندي هر وخت د الله ﷻ فکر او تصور حاکم وي د هغه په زړه او په دماغ کي دا خبري ځای نيولی وي چي يوه ورځ خو مرم او د خدای ﷻ و حضور ته پيشيږم او د خپلو کړو ټولو حساب او کتاب د خدای ﷻ و حضور ته پيشوم. نو بيا د هغه سړي څخه قطعاً ظلم نه سي کېدلای، د هغه سړي څخه قطعاً ناروا نه سي کېدلای، د هغه سړي څخه قطعاً ناجائزه نه سي کېدلای(١).

## د ذکر څخه غفلت د ګناهونو کثرت:

هغه کومه وجه ده هغه څه پيښه ده چي د ځنګله په تن تنهائي کي هيڅوک نسته ليکن هغه شپانه د ګناه کولو جرأت نه سي کولای؟ آيا پر هغه باندي کومي پيري ولاړي دي؟ آيا پر هغه باندي کم حکومتونه ولاړ دي؟ آيا پر هغه باندي څه بوج دئ چي شپونکی د ځنګله په تن تنها ئي کي دئ د الله ﷻ په حضور کي چيغه کوي چي ای سرِيه! که چيري زه خپل مالک خطاباسم، نو خپل رب به څنګه خطاباسم؟

---

(١) احياء علوم الدين المقام الاول من المرابطة و المشارطة صفحه نمبر ۳۹۸

د هغه صرف او صرف وجه دا وه چي د هغه شپونکي پر دل او دماغ د الله ﷻ فکر او تصور حاکم وو. او د هغه شپونکي په دماغ کي دا خبره پرته وه که نن زه ګناه وکړم، نو زه خو سبا مرم او د خدای ﷻ و حضور ته پېښېږم زه به د خدای ﷻ په حضور کي تول حساب او کتاب پېشوم.

دا يوازي هغه شپونکی نه، دا چي د هر سړي په دماغ کي دا خبره ناسته وي هغه سړي ته بيا د زمري غوندي زړه ور کړه ګناه نه سي کولای.

چي يو سړي ته دا ور معلومه وي چي زما خدای ﷻ ماويني دا دده په دماغ کي ناسته وي چي زما خدای ﷻ زما څخه سبا ددې خبرو حساب او کتاب غواړي او زما د خدای ﷻ په حضور کي سبا زه په اَتلس زره قومه کي شرمنده کېږم، بيا به هغه سړی په دنيا کي ګناه څنګه وکړي!

## د ابراهيم بن ادهم رحمة الله عليه او د ګنهګار مکالمه:

حضرت ابراهيم بن ادهم رحمة الله عليه ته يو ګناهګار سړی راغلئ او ورته وايي:

حضرت ګناه نه سم پرېښولای، په ګناه اخته يم، چي پر ځان مي هر څو مره کوشش کړی دئ د ګناه څخه خپل ځان نه سم ساتلای، يو داسي لار راوښيه چي ګناه هم کوم او د خدای ﷻ د سزا څخه هم خلاص سم!

حضرت ابراهيم بن ادهم رحمة الله عليه د الله ﷻ يو ولي دئ، اولياءالله ددې انسانانو سره رحم او شفقت لري، هغه يې پر مخ په چپلاخه نه وهی چي تېر سه ملعونه ګناه څنګه نه سې پرېښولای؟ بلکه هغه ورته وايي:

سړيه کښېنه! زه به لار درو ښيم او ورته وايي: سړيه!

اول خو دا وکړه چي ته کله ګناه کوې، نو پر داسي مځکه باندي ګناه وکړه چي الله تعالی دي نه ويني، او چي کله دي الله ﷻ نه ويني، نو سبا به د الله جل جلاله په حضور کي ددې پوښتنه نه در څخه کيږي. او ددې ګناه په خاطر به د الله ﷻ په حضور کي شرمنده هم نه يې!

هغه سړي ورته وايي: حضرت دا خو ممکنه نه ده، داسي ځاى نشته د مځکي پر مخ چي الله جل جلاله دي ما نه ويني، که زه هر څنګه يم، نو که زه تر اوو مځکو لاندي سم که تر اوو اسمانو پورته سم زما رب خو ماويني، نو د رب څخه خو زه ځان نه سم پټولاى، نو دا خو څه ممکنه خبره نه ده!

هغه ورته وايي: چي دا نه سې کولاى بيا نو دا دوهم کار وکړه!

چي کله ګناه خامخا کوې، نو دا د الله تعالى درکړى رزق خوراک پرېږده! بيا چي کله د قيامت دوران راسي، نو الله تعالى ته به جواب ورکړې چي يا الله! ستا راکړى رزق مي نه دئ خوړلى، نو ځکه ستا خبره مي نه ده منلې. کچيري ما پر دې مځکه باندي ستا رزق خوړلى واى، نو ستا خبره به مي منلاى. نو ستا راکړى رزق مي هم نه دئ خوړلى، نو ځکه ستا خبره مي نه ده منلې، نو ځکه د الله تعالى په حضور کي به پړ او ملامت نه يې.

نو هغه ورته وايي: حضرت! دا ټوله دنيا الله جل جلاله پيدا کړې ده، دا رزقونه هم الله جل جلاله پيدا کړي دي، د الله تعالى د پيدا سوي رزق بغير به زه رزق چيري پيدا کړم، نو داسي هم ناممکنه ده چي زه دي داسي شى وخورم چي هغه الله تعالى نه وي پيدا کړى او هغه دي الله تعالى زما دپاره رزق نه وي مقرر کړى.

حضرت ابراهيم بن ادهم رحمة الله عليه ورته وويل: نښه! چي داسي هم نه سې کولاى، نو دريمه لاره به در وښيم هغه عملي کړه:

دريمه لار به در وښيم هغه دا چي کله ګناه کوې، نو پر دا مځکه او اسمانو د الله جل جلاله حکومت دئ، ددې مځکي او اسمانو څخه ووځه! د الله جل جلاله د حکومت څخه ووځه يو بل ځاى دا ګناه وکړه! او چي کله سبا قيامت راسي، د الله جل جلاله په حضور کي به دا جواب پېش کړې چي يا الله! ستا په حکومت کي مي ګناه نه ده کړې، نو ځکه ستا د سزا مستحق نه يم.

هغه ورته وويل: حضرت! دا هم ناممکنه ده، تر مځکو او اسمانو څنګه ووځم؟ ځکه الله تعالى دې انسانانو او جناتو ته وايي: ﴿يَا مَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ إِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَن

تنفذوا من اقطار السماوات والارض فانفذوا لا تنفذون الا بسلطان (٣٣)﴾[1] ای د جناتو او انسانانو ډلو! که ددې مځکو او اسمانو څخه د وتلو طاقت لرئ، نو تاسو ووځئ! ﴿لا تنفذون الا بسلطان﴾ د يو دليل په خاطر وتلای سئ چې هغه ستاسو دپاره وي، د يو راهنما په خاطر وتلای سئ، چې هغه تاسو ته د وتلو لار در وښيي، ليکن را پيش کړئ هغه دليل! را پيش کړئ هغه راهنما! هغه ورته وايي: چې دا خو د قرآن فيصله ده چې د مځکو، اسمانو او د الله جل جلاله د حکومت څخه څوک نه سي وتلای، نو هغه سړی ورته وايي: چې حضرت! دا مي هم په وسع او طاقت پوره نه ده.

حضرت ابراهيم بن ادهم رحمة الله عليه ورته وويل:

څلورمه لار داده چې کله د زکندن په وخت کي حضرت عزرائيل عليه السلام راسي د روح اخيستلو دپاره نو ته جواب ورکړه چې زما روح نه سې اخيستلای، ما ته د توبې کښلو مهلت راکړه! او چې کله توبه وباسې، نو د گناه څخه به پاک صاف سې، نو بيا هم الله تعالی عذاب نه درکوي.

نو هغه سړی ورته وايي: حضرت! دا خو د قرآن فيصله ده: ﴿فاذا جاء اجلهم لايستاخرون ساعة و لا يستقدمون﴾[2] چې کله مرگ راسي بيا د انسان هيڅ اختيار نه وي، پر خپل وخت به خامخا مرې؛ ځکه قرآنکريم کي د الله تبارک وتعالی فيصله ده: ﴿فلا يستطيعون توصية﴾ بيا چا ته د وصيت اختيار هم نه وي او نه بيا انسان خپلې کورنۍ ته راتللای سي.

چې دباندي ولاړ وي د راننوتلو اجازه نسته او چې دننه وي چې مرگ راسي، نو بيا د وتلو اجازه نسته، چې پر کټ ناست وي د راشوه کېدو اجازه نسته، چې لاندي ناست وي بيا و کټ ته د ختلو اجازه نسته، نو زه به حضرت عزرائيل عليه السلام ته جواب څنگه ورکړم، نو دا خو څه ممکنه نه ده.

---

[1] سورة الرحمان آيت نمبر ٣٣

[2] الاعراف آيت نمبر ٣٤

حضرت ابراهيم بن ادهم رحمة الله عليه ورته وايي: زه به تا ته پنځمه لاره در وښيم:
پنځمه لاره دا ده چي کله په قبر کي نکير او منکر در ته راسي، نو نکير او منکر ته به په قبر کي ووايې چي ما ته به نه راتږدې کېږئ! نه به زما څخه زما د اعمالو په باره کي پوښتنه کوئ!

هغه سړي ورته وايي: چي زه کله د مرګ په حالت کي يم او زه ددې قبر په توره کنده کي يم او ددې خوف اوبيري په حالت کي يم او نکير او منکر په هغه بدترين شکل کي ما ته راسي، زما څخه حساب او کتاب اخلي په دې وخت کي به زما سره ددې خبري څنګه اجازه وي؟ په دې وخت کي به زما سره ددې خبري څنګه مجال او طاقت وي چي زه به نکير او منکر ته جواب ورکوم، حضرت! بله لار را وښيه!

نو ابراهيم بن ادهم رحمة الله عليه ورته وايي چي زه به شپږمه لار در وښيم:
چي کله الله جل جلاله د قيامت په ميدان کي ته پر ګناه را وګرځولې او ملائکو د جهنم ته يې وويل چي جهنم ته يې کش کړئ، نو د هغه ملائکو سره زور شروع کړه او هغه ملائکو ته ووايه چي يو قدم مي د جهنم پر طرف نه سي بيولای، نو هغه سړي ورته وايي: حضرت! د ملائکو په مقابل کي چي کله د الله جل جلاله په امر ما جهنم ته کشوي، نو هلته به زما سره څه زور او طاقت وي؟

نو حضرت ابراهيم بن ادهم رحمة الله عليه ورته وايي چي سړيه! نه هغه کولای سې، نه دغه کولای سې، نو ستا دپاره تر ټولو بهترينه لار داده چي ته ګناه پرېږده! بله لار ستا دپاره نسته. کچيري ته ګناه کوې، نو د ګناه سزا به ضرور تا ته درکول کيږي، نو ستا دپاره بهترينه لار داده چي د خدای جل جلاله پر مخکه باندي خپله غاړه د خدای جل جلاله حضور ته تسليم کړې او د ګناه څخه لاس واخلې، نو د الله جل جلاله په حضور کي به د شرمندګی څخه خپل ځان وساتې.(۱)

(۱) گناہوں کی توبہ کیجئے، صفحہ نمبر ۳۱

نو مقصد مي دا دئ چي نن د مځکي پر مخ څومره جرائم د انسانانو څخه کيږي او څومره ګناهونه انسانان کوي د هغه بنيادي وجه داده چي د انسانانو په دماغ کي دا نسته چي زما رب ما پر دې ګناه ويني او د انسانانو په دماغو کی دا خبره پخه نه ده چي سبا زه د خپل رب په حضور کی پيشيږم.

او د انسانانو په دماغو کي دا خبره ناسته نه ده چي د محمد رسول الله ﷺ په مخ کي او د اتلس زره (۱۸۰۰۰) قومه په مخ کي به الله تعالى ددې پوښتنه زما څخه کوي او ددې ګناه په خاطر به زه د قيامت په ميدان کي د رسوايی او شرمندګی سره مخامخ کيږم.

او دا د انسانانو په دماغو کي ولي نسته؟ ځکه د انسانانو ژبي د الله جل جلاله د ذکر څخه غافله دي. او چي کله انسان د هر عمل په دوران کي د الله جل جلاله ذکر کوي او د الله تعالى څخه غوښتنه کوي او مسنوني دُعاګاني کوي، نو د هغه په برکت د الله جل جلاله ياد د انسان په ذهن او دماغ کي کښيني.

او چي د کوم چا په دماغ کي د الله جل جلاله ياد کښينستی، نو د الله جل جلاله ياد به بيا دا انسان د ګناهو څخه بچاووي.

## په موجوده وخت کي د حاکمانو بې وسي:

او چي کله د الله جل جلاله ياد د انسان په زړه کي نه وي، نو د هغه نتيجه دا وي چي بيا به د مځکي پر مخ چي څومره ګناهونه دي دا ټول ګناهونه به د انسان په عمل کي راځي.

تاسو نن د مځکي پر مخ ګورئ د حکومت د طرفه ورځ په ورځ د محکمو کثرت دئ. يوه ورځ د پوليسو محکمه ده، يوه ورځ د لېويزو محکمه ده، يوه ورځ د ملېشې ده، يوه ورځ د فوجيانو ده، يوه ورځ څوک دئ او بله ورځ څوک دئ. ورځ په ورځ محکمې زياتيږي او ورځ په ورځ عدالتونه زياتيږي.

ليکن چي څومره محکمې او عدالتونه زياتيږي هغونه درې چنده د مځکي پر مخ فسادونه او جرمونه هم زياتيږي. نه محکمه دا فساد راګرځولای سي، نه عدالت جرم ختم کولای سي، نه پوليس څوک د ګناه څخه راګرځولای سي.

د هغه وجه څه ده؟ د هغه وجه داده چي د انسانانو په دماغو کي د الله جل جلاله فکر او تصور نسته. او چي د کوم انسان په دماغ کي د الله جل جلاله فکر او تصور نه وي، نو هغه ورځ تر بله په ګناکي پر مخ روان وي.

چي کومه سترګه دي پر پيره باندي کښينولې وي چي ته به خلګ د ګناهو څخه راګرځوې د ټولو څخه مخکي دغه سترګه په ګناه کي اخته کيږي. او چي حکومت يو انسان ددې دپاره درولی وي چي د انسانانو د وينو او مالونو حفاظت به کوې د ټولو د مخه به هغه انسان د انسانانو ويني تويوي او د ټولو څخه مخکي به هغه انسان د انسانانو مالونه لوټوي.

د هغې وجه څه ده؟ د هغې وجه داده چي نه د عوامو په دماغو کي د الله جل جلاله فکر او تصور سته او نه د حکومت په دماغ کي د الله تعالی و مخ ته د پيښېدو احساس سته. چي هر سړی په کوم شکل په ګناه باندي پيښ سو په هغه شکل په ګناه باندي اخته کيږي.

## د جرائمو خاتمه پيغمبر ﷺ وکړه:

پيغمبر ﷺ د ګناهو او جرائمو قطع او قلع وکړه.

د پيغمبر ﷺ زمانه ده نه پوليس سته، نه لېويز سته، نه ملېشه سته، نه فوج سته او نه محکمه سته. يوه انسان ګناه وکړه پخپله راځغلي او وايي:

﴿يا رَسُولَ اللهِ طَهِّرْنِيْ! يا رَسُولَ اللهِ طَهِّرْنِيْ!﴾ ای د الله جل جلاله رسوله! ما صفا کړه! ای د الله جل جلاله رسوله! ما صفا کړه!

پيغمبر ﷺ ورته وايي: ﴿كَيْفَ اُطَهِّرُكَ؟﴾ څنګه دي صفا کړم؟

دی ورته وايي: ﴿اِنِّي زَنَيْتُ﴾ زما څخه زنا وسوه.

حضرت ماعز اسلمي ﷺ راځغلي چي د بنو سليم قبيلې يو سړی دئ او دا وايي
پيغمبر ﷺ ييا مخ څني واړوئ. دَی راغلئ دې بل طرف ته ورته ودرېدئ ا
ورته وايي:
يارسول الله! ما صفا کړه!
رسول الله ﷺ ورته وايي: تا څنګه صفا کړم؟
دَي ورته وايي: زما څخه زنا وسوه.
پيغمبر ﷺ دې بل طرف ته مخ واړوئ. دَي راغلئ دې بل طرف ته ور
ودرېدئ. پيغمبر ﷺ شا ته مخ څني واړوئ. دَی راغلئ شا ته ورته ودرېدئ.
پيغمبر ﷺ ورته وايي: ﴿أبِكَ جُنُونٌ؟﴾ ايا ته لېونی يې؟
دَي ورته وايي: ﴿لا، وَاللهِ لَيسَ بِي جُنُونٌ﴾ قسم په الله لېونی نه يم.
پيغمبر ﷺ ورته وايي: ﴿أنتَ تَعْرِفُ مَاالزِّنَاءُ؟﴾(١) ته زنا پېژنې زنا چيشي ده؟.
دَي ورته وايي: هو، زه زنا پېژنم. سړی بايد خپلي زناني ته په حلا له طريقه و
سي، زه نن پردی زناني ته په حرامه طريقه ورغلی يم، دغه زنا ده.
نو پيغمبر ﷺ صحابه کرامو ﷺ ته وايي: ورسئ رجم يې کړئ! نو هغه سړ
يې په ډبرو سنګسار کړئ. يو دوو صحابه کرامو ﷺ دده په باره کي لږ د طعن
او پيغور خبره وکړه، نو نبي ﷺ ورته وويل: غلطه خبره مه کوئ! په خدای قسـ
نن "ماعز" داسي توبه وکړه چي ټوله اهل مدينه په دغه توبه کي ځايېږي.
او بل روايت کي راځي په خدای قسم تاسو په "ماعز" پسي بدي خبري ما
کوئ! نن "ماعز" د جنت په نهر کي غوټه سوی دئ او لمبېږي.
اوس "ماعز" چا دې ته مجبوره کړئ چي ته راسه اقرار په خپل جرم وکړه؟ کو
پوليس والا دَی تر لاس نيولی دئ؟ د کوم حکومت د بيري څخه اقرار ته مجبور
سوی دئ؟ دا د نارينهؤ صحابه کرامو حالت وو.

(١) مشکوة شريف، حديث نمبر: ۳٥٦٢

## د يوې زناني واقعه:

د زنانه صحابياتو هم دغسي حالت ؤ. "غامديه" يوه قبيله ده په "مدينه منوره" کې، ددې څخه يوه زنانه راغله د پېغمبر ﷺ په مخ کي ژاړي او وايي: ﴿يَا رَسُولَ اللهِ طَهِّرْنِي!﴾ ای د الله ﷻ رسوله! ما صفا کړه! زما څخه زنا وسوه. پېغمبر ﷺ مخ دې بل طرف ته واړوي، دا بيا راغله دې بل طرف ته ودرېده، چي کم طرف ته پېغمبر ﷺ مخ اړوي دا هغه طرف ته راځي.

آخر پېغمبر ﷺ ته وايي: ﴿يَا رَسُولَ اللهِ أَتُرِيدُ لِيْ كَمَا أَرَدْتَ لِيْ مَاعِزٍ؟﴾ ته زما سره داسي کوې لکه د "ماعز" سره چي دې وکړل؟ ستا داسي خيال او عقيده ده چي ماعز ما يو طرف بل طرف ته کوئ په دې نيت سره چي ګوندي هغه به د خپلي زنا څخه انکار وکړي.

زه هغه زنانه يم چي د خپلي زنا څخه منکره کېدلای نه سم؛ ځکه زما په نس کي بچی ددې زنا څخه پروت دئ. نو زما د زنا ښکاره علامت زما د نس بچی دئ، ته به څه ما يو طرف او بل طرف ته کوې زه به څنګه ددې زنا څخه انکار وکړم؟

نو پېغمبر ﷺ ورته وويل: چي کله بچی ستا په نس کي وي مو ږ پر تا حد نه سو جاري کولای.

اوس که هغه زنانه صرف په دې دوران کي دا وو ايي چي ما زنا نه ده کړې، نو دا د حد څخه خلاصه ده، ليکن دې ويلو ته نه ده تياره، بلکه د انکار بجای د اقرار چيغي په خوله وهي.

نو پېغمبر ﷺ ورته وايي: ورسه! چي بچی دي پيدا سو بيا راسه! هغه زنانه ولاړه نه (۹) مياشتي تيري سوې يا ددې څخه زيات او کم زمانه تېره سوه او بچی يې پيدا سو، نو هغه زناني بچی په غېږ کي را اخيستی دئ او وايي:

﴿يَا رَسُولَ اللهِ طَهِّرْنِي!﴾ ای د الله ﷻ رسوله ما صفا کړه!

پیغمبر ﷺ ورته وویل: دا بچی به تر هغه وخته پوري ستا سره وي چي دی د فطمت وخت تېر کړي. فطمت دا معنٰی چي دی د مور شیدې خوړل پرېږدي خپله خوراک شروع کړي، خو هلته دوه نیم کاله یا درې کاله به ستا سره وي.
دوه کاله یا دوه نیم کاله دوه کاله د امام ابو حنیفه رحمۃ اللہ علیہ مسلک دئ او دوه نیم کاله د امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ مسلک دئ. خو هلته دوه یا دوه نیم کاله به ستا په کفالت کي وي، د هغه بعد به ته راځې چي مور دي په ډبرو سنګسار کړو. دوه کاله یا دوه نیم کاله تېر سوه، هغه زناني یا بچی په غېږ کي را اخیستی دئ، د ډوډی ګوله يې په لاس کي ورکړې ده او وایي: یارسول الله دا دئ ماشوم ډوډی خوري!
نو پیغمبر ﷺ هغه بچی ځني واخیستئ او انصاري صحابي ته يې په لاس ورکړئ او ور ته ويې ویل: سړیه! ددې کفالت وکړه! و دې زناني ته يې تر ځیګره پوري کنده وکښله او دا يې پکښي پټه کړله او په کاڼو باندي يې وویشتله.
اول کاڼی حضرت خالد بن ولید رضی اللہ عنہ وویشتئ چي کله ددې د سره ویني را د غورځېدې، نو د خالد بن ولید رضی اللہ عنہ پر کپړو باندي ومښتلې، نو خالد بن ولید د خولې څخه یوه تېزه خبره و ایستله.
پیغمبر ﷺ ورته وویل: خالده! تیزه خبره مه کوه! په خدای قسم دې زناني په توبه ځان داسي صفا کړئ چي زما ټوله امت په دې توبه کي شریک سي هم پکښي ځایېږي.(۱)
نو هغه زنانه په دې شکل باندي خپل ځان صفا کولو ته تیاره سوه او په ډبرو سنګسار سوه.

(۱) مشکوة شریف، حدیث نمبر: ۳۵٦۲

نو صحابه کرامو به اول د ګناه څخه ځان ساتئ، بیا به چي ګناه ځني وسوه، نو د الله تعالی و مخ ته د پيښېدلو احساس او تصور يې په دل او دماغ باندي سپور ؤ، نو د مخکي پر مخ يې په دې شکل خپل ځان د ګناه څخه صفا کوئ.
نن د صوفيه کرامو په مخ کي دا خبري راځي چي څوک خپلو مريدانو ته وظيفې ورښيي او څوک مراقبې ور فرمايي، څوک ذکر ورکوي، څوک د استغفار او نورو درودو ښوونه انسانانو ته کوي، د هغو ټولو خلاصه داده چي تعلق د انسانانو د خپل رب جَلَّ جَلَالُهُ سره مضبوط سي.

## د تعلق مع الله اسانه طريقه:

علامه عبدالحي رحمة الله عليه لیکلي دي چي د تعلق مع الله دپاره صوفياء کرام په خلکو باندي ډېر تکليفونه او محنتونه کشوي، ليکن د هغه دپاره اسان ترينه او مختصر ترينه لار داده چي انسان د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم د مسنونو دعاګانو پابندي وکړي. او چي کومي مسنوني دعاګاني د ورځي پر هر عمل باندي پيغمبر صلى الله عليه وسلم خپل امت ته ور ښوولي دي د هغو پابندۍ وکړي، د هغه په ذريعه سره الله تعالی و انسان ته د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم پاکيزه زندګي ور په نصيب کوي. او چي د کوم چا د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم پاکيزه زندګي په نصيب سوه د هغه به تعلق ضرور د الله تعالی سره جوړيږي.
د محمد رسول الله هغه پاکيزه زندګي وه چي د هغې په خاطر باندي هغه عرب چي د هغو و ليدلو ته څوک تيار نه ؤ؛ ځکه د عربو د جاهليت په دوران کي چي عرب په څومره جاهليت کي اخته ؤ د هغو ليدلو ته څوک تيار نه ؤ، پر هغو باندي حکومت کولو ته څوک تيار نه ؤ، او د هغوی د څنګه سره کښېنستلو ته څوک تيار نه ؤ، ليکن چي هغه خلکو د پيغمبر عليه السلام پاکيزه زندګي شروع کړه او پيغمبر عليه السلام يې د ځان دپاره نبي ومنئ او د پيغمبر عليه السلام پر قدم يې قدم کښېښوئ په خدای قسم هغه مخلوق ته الله تعالي د دنيا او آخرت کرامتونه، شرافتونه او عزتونه ور نصيب کړل.

## د خوله بنت ثعلبه رضي الله عنها تعلق:

خوله بنت ثعلبه رضي الله عنها يوه زنانه ده په انصاروكي، تر دې ورځو پورې چې اسلام راورې بت پرسته ده؛ ځكه د پيغمبر ﷺ د نبوت تر وخته پورې كه د مكې قريش ؤ دا ټول "بت پرسته" دي او كه د مدينې انصار دي دا اكثر "بت پرسته" دي. او په داسې بدترينه بت پرستئ باندې اخته دي او په داسې كم عقلئ كې اخته دي چې د دوی د عقل هغه كمي او پستي د انسان دماغ نه مني.

## د دين ځخه مخكې د عربو جهالت:

په "مدينه منوره" كې يو وخت باغو خورماوې زياتې وكړې، نو دوی چې كومې وخوړلې هغه نورې پاته سولې، آخر يې د هغه پاته خرماؤ ځخه بت جوړ كړئ بيا به ټول مدينې والا پر سجدو ورته پراته ؤ.

چې كله كال تېر سو، بل كال قحطي راغله او خورماوې كمې سوې، نو ټول پر راوغورځيده او هغه خپل خدای "بت" يې وخوړئ. نو په دارنګه جهالت كې هغه خلك پراته وه.

دا د دوی د عقل، علم او دانائۍ اندازه وه، ليكن چې د محمد رسول الله ﷺ پر نقش قدم يې قدم كښېښوئ په خدای قسم د الله جل جلاله د طرفه ځخه د پيغمبر ﷺ په خوله باندې د دوی په باره كې د جنت زيرې راغلي دي.

د پيغمبر ﷺ د صحبت په پاكيزګئ د خوله رضي الله عنها په تائيد كې د اسمان ځخه قرآن نازل سو.

خوله بنت ثعلبه رضي الله عنها يوه زنانه ده، خپل خاوند ظهار ور سره وكړئ،

(ظهار هغه قسم دئ چې يو سړی خپلې زنانې ته ووايي: ﴿أَنْتِ عَلَيَّ كَظَهْرِ أُمِّيْ﴾ ای زنانې! ته پر ما داسې يې لكه خپله مور. او دا په جاهليت كې بدترين قسم او طلاق ؤ.

ددې طلاق روا ينبت په جاهليت کي په هيڅ رقم نه کېدئ. اوس عام طلاقونه يا د رجوع په شکل، يا د تجديد نکاح په شکل، يا چي کله درې طلاقه وسي، نو د هغه درو طلاقو په خاطر چي د بل خاوند سره نکاح وکړي بيرته ده ته (اول خاوند ته) راسي، نو ده ته روا کيږي، ليکن په جاهليت کي د ظهار قسم او طلاق په هيڅ شکل نه روا کېدئ).

نو د خوله بنت ثعلبه رضي الله عنها سره خپل خاوند ظهار وکړئ، دا راځغلي او منډي وهي، د پيغمبر عليه السلام کور ته راغله او وايي:

﴿يَارَسُولَ اللهِ هَلَكْتُ هَلَكْتُ!﴾ اى د خداى رسوله! زه هلاکه سوم!

(په دې وخت کي حضرت عائشه رضي الله عنها د پيغمبر عليه السلام سر په ږمونځ ور ږمونځوي).

پيغمبر عليه السلام ورته وايي: ﴿كَيْفَ هَلَكْتِ؟﴾ څنګه هلاکه سوې؟

دا وايي: ما ته خپل خاوند "اوس بن صامت" طلاق راکړئ او ما ته يې د ظهار طلاق راکړئ چي زه بيا ده ته نه روا کېږم.

(چونکه په دې وخت کي د ظهار په باره کي په اسلام کي څه حکم نه دئ راغلی، نو پيغمبر عليه السلام پر هغه زړه طريقه فتوی ورکړل او ورته ويې ويل: )

بس ته ابد الابد پر ده طلاقه سوې.

دا په ژړا سوه او وايي: ﴿يَارَسُولَ اللهِ اِنَّهُ اَبُوْ وَلَدِيْ!﴾ دی خو زما د بچيانو پلار دئ! ﴿وَ اَفْنٰى شَبَابِيْ!﴾ دې سړي زما ځواني تېره کړه! ﴿وَتَفَرَّقَ أَهْلِيْ!﴾ زما مور او پلار وفات سو، نو اوس زما سره نه پيسې سته زه د چا سره ګوزاره وکړم؟ نه زما نکاح کولو ته اوس څوک تيار دي او نه ما خپل کور کي ساتلو ته څوک تيار دي، يارسول الله صلی الله عليه وسلم! ته پر دې خپله فيصله لږ نظر ثاني وکړه!

پيغمبر عليه السلام بيا ورته وويل: ته ابد الابد پر دې خاوند طلاقه او حرامه يې!

دا بيا په ژړا شروع سي او چونکه وحي راغلي نه دي او بل حکم د پيغمبر عليه السلام سره نسته، نو پيغمبر عليه السلام ورته وايي: ته حرامه سوې! ددې وزړه ته نه لويږي،

دا یې نه منې چې هر وار پېغمبر علیه السلام ورته وایي: ته پرده باندې حرامه سوې دا
په ژړا سي.
آخر چې کله دې ډېر ټینګار پر دې خپله خبره وکړئ، نو پېغمبر علیه السلام مخ ځنې
واړوئ یو بل طرف ته متوجه سو. ددې زناني چې کله د پېغمبر علیه السلام څخه طمعه
وخته، نو یې ورته وویل: یارسول الله! زه اوس و خپل رب جل جلاله ته خپل شکایت
پېش کوم او زه خپل رب جل جلاله ته خپله شکوه پېشوم. او پر هغه ځای د التحیات په
شکل کښېنسته، خدای جل جلاله ته یې لاسونه پورته کړه او په ژړا کې اخته سوه.
وایي: یاالله! د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم مخ ته مې مقدمه پېش کړله، د محمد رسول
الله د طرفه زما په حق کې فیصله نه راغله، یاالله! ستا د طرفه په خپل حق کې
فیصله غواړم! او بیا ورته وایي: ﴿إِنَّ لِیْ مِنْهُ صِبْيَةً صِغَارًا﴾ یاالله! زما دده څخه
کوچني بچیان دي. ﴿إِنْ ضَمَمْتُهُم إِلَيَّ فَجَاعُوْا﴾ که یې د ځان سره و ګرځوم، نو زما
څخه وږي کیږي. ﴿وَ إِنْ ضَمَمْتُهُم إِلَيْهِ فَضَاعُوْا﴾ که یې و ده ته په لاس ورکوم، نو د دا
څخه ضائع کیږي. هغه د مور تربیت به نه وي، نو یاالله! زه ستا د نبي د فیصلې
څخه سوا یوه بله نوې فیصله د ځان په حق کې غواړم.
دا خبره بار بار مکرزه وي او په ژړا کې اخته ده، نو چې کله ددې ژړا ډېره سوه، نو
حضرت "عائشه" مبارکه چې ددې مایوسي او نا امیدي او ددې بې وسي او نا
کسي ویني، نو حضرت "عائشه" مبارکه هم ور سره ژاړي.
چې کله د دوی ژړا ډېره سوه، نو په دې دوران کې د الله جل جلاله غیبي نظام په جوش
کې راغلئ پر پېغمبر صلی الله علیه وسلم باندې وحي را شروع سوې، دلته دې خپل لاس اسمان
ته پورته کړی دئ، دا هم ژاړي او حضرت "عائشه" مبارکه هم ناسته ده ژاړي
پر پېغمبر علیه السلام باندې خولې مبارکې راغلې چې کله د وحي کیفیت شروع سو.
نو حضرت عائشه رضی الله عنها و دې ته وایي: اې خولې! چپ! یعني د پېغمبر علیه السلام د
وحي کیفیت دئ. حضرت خوله چې کله په دې پوه سوه چې وحي پر پېغمبر علیه السلام

شروع سوې، نو د هغې ناقراري او ژړا نوره هم زياته سوه چې اوس خو الله ﷻ زما په حق کې فيصله را استوي.
چې لږ ګړی وسو، نو پيغمبر ﷺ خپلې خولې مبارکې وچې کړې اوسترګې مبارکې يې را روښې کړې او ورته وايي: خولې مبارک دې سه! ستا په حق کې ستا رب ﷻ د خپل نبي ﷺ د فيصلې څخه سِوا بله نوې فيصله را واستوله(١).

## د حضرت خوله رضي الله عنها په حق کې فيصله:

بيا دا آيت ورته وايي چې الله تعالی ستا په حق کې فرمايي: ﴿قَدْ سَمِعَ اللهُ قَوْلَ الَّتِیْ تُجَادِلُکَ فِیْ زَوْجِهَا وَتَشْتَکِیْ اِلَی اللهِ﴾(٢) جبرائيل امين د الله د طرفه پيغمبر ﷺ ته وايي: ای پيغمبره! د هغې زنانې چې د خپل خاوند په باره کې ستا سره جګړه کوي او ستا سره د جګړې وروسته خپل شکايت الله ته پېشنوي خبره اوشکايت يې ټوله الله تعالی واورېدئ.
الله ﷻ دا نه ورته وايي: ﴿قَدسَمِعتُ﴾ ما واورېدئ ﴿قَدْ سَمِعَ اللهُ﴾ دا خپل اسم پخپله الله تعالی ذکر کوي. د حضرت "خولې" د عزت په خاطر چې "خوله" دومره لوړه زنانه وه چې د دې رب پخپله د دې خبره واورېدله بيا دا نه ورته وايي: ﴿قَدْ سَمِعَ قَوْلَ خوْلَه﴾ د "خولې" دا خبره يې واورېدله. ﴿الَّتِي تُجَادِلُكَ فِي زَوْجِهَا﴾ د "خولې" د عزت په خاطر په لقب يې الله تعالی يادوي.
او پيغمبر ﷺ ته يو ګړی بعد وحي راغلې: ﴿الَّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِنكُمْ مِن نِسَائِهِمْ﴾ تاسو کې چې کوم کسان د خپلو زنانو سره ظهار کوي ﴿مَا هُنَّ أُمَّهَاتِهِمْ إِنْ أُمَّهَاتُهُمْ إِلَّا اللَّائِي وَلَدْنَهُمْ وَإِنَّهُمْ لَيَقُولُونَ مُنْكَرًا مِنَ الْقَوْلِ وَزُورًا وَإِنَّ اللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ﴾(٣) يعني دا ښځې چې دوی پر خپل ځان باندې مندې جوړې کړې دي دغه د دوی مندی نه دي، دغه د دوی قول زور او دروغجن قول دئ.

---

(١) تفسير ابن کثير، جزء نمبر ٨، صفحه نمبر ٦٦، المکتبة الشاملة
(٢) المجادلة آيت نمبر ١
(٣) المجادلة آيت نمبر ٢

او دا حقیقتًا منکر قول دئ، الله جل جلاله به پر دې باندې دوی ته معافي وکړي. یا دې دا خلک یو غلام ازاد کړي، یا دې شپیته (٦٠) روژې ونیسي او یا دې شپیتو مسکینانو ته نفقه ورکړي، نو په دې وخت کې به دغه زنانې بیرته خپلو خاوندانو ته حلالې سي.

نو حضرت خولې رضی الله عنها چونکه د پیغمبر علیه السلام په نقش قدم باندې د پیغمبر علیه السلام صفا زندګي اختیار کړله، د هغه صفا زندګي په خاطر د حضرت "جبرائیل" امین په واسطه حضرت خولې رضی الله عنها ته ددې د خبرې په خاطر باندې الله تعالی د عرش څخه خپله نوې فیصله راواستوله.

نو دا هغه زنانې دې چې څه زمانه مخکې دا د بتانو عبادت کونکې وې. د بتانو عبادت به یې کوئ. لیکن الله جل جلاله دې درجې ته ورسولې چې بیا یې د عرش څخه فیصلې د دوی په حق کې د دوی پر رایه او فکر را استولې.

## د حضرت عمر رضی الله عنه و (خولې رضی الله عنها) ته عزت ورکول:

حضرت عمر رضی الله عنه د خپلو ملګرو سره د خپل امارت په وخت کې روان دئ، ما در ته وویل چې د نیمې دنیا حکمران دئ، حضرت "خوله" د لارې په څنګ کې ولاړه ده په زوره آواز یې ورته وویل: عمره!

چې کله هغه ددې آواز واوریدئ، نو هغه ژر د خپلې سوارلۍ څخه راښوه سو او سیده مخ ته ورته ودریدئ، ټول ملګري یې ودریدل. نو حضرت خوله رضی الله عنها ورته وایي: ستا په یاد دي چې یو وخت به مور ته "عمری" بللې او بیا "عمر" سوې او اوس دې خلک په "امیرالمؤمنین" باندې بولي؟

نو یو څو خبرې یې ورته وکړې. حضرت عمر رضی الله عنه سر کښته ورته نیولی دئ، چې کله روانیږي، نو ددې څخه د دعا مطالبه کوي، د دعا کولو وروسته څني روان سو، نو ملګرو ټولو ورته وویل: ای امیرالمؤمنین! دې زنانې دومره تیزې خبرې وکړې خو تا د هغې جواب ور نه کړئ دی ور ته وایي: ای ملګرو! په خدای قسم دا "خوله" ده.

ددې خبرو ته الله تعالی په عرش کې متوجه وو، نو "عمر" به پر فرش څنګه نه وي متوجه چي د عرش پر سر الله تعالی د حضرت خولې خبرې اورېدلې نو "عمر" به يې د فرش پر سر څنګه نه اوري!

دا هغه پاکيزه زندګي د صحابه کرامو ده، الله تعالی په دې پاکيزه زندګي باندي صحابه کرامو ته دا درجې ورکړې.

## بې حيايي الله جل جلاله نه برداشته وي:

د پاکيزګۍ بر خلاف بې حيايي ده. او بې حيايي په دې امت کي الله جل جلاله نه برداشته وي. په امت کي الله تعالی هره ګناه تر يو حده برداشته وي، ليکن بې حيايي الله تعالی نه برداشته وي. چې تر اوسه پوري د الله تعالی نظام وکتل سي نو داسي وخت نه دئ راغلی چي د مځکي مخ د بې حيا انسانانو څخه ډک سوی وي او الله تعالی پر هغه قوم باندي عذاب نه وي را استولی.

نو هر څه د الله تعالی په برداشت کي راتلای سی، ليکن د پاکيزګۍ بر خلاف چي بې حيايي په کوم قوم کي زياته سي الله تعالی يې نه برداشته وي.

## د لوط عليه السلام د قوم عذاب:

په ټولو قومو کي د حضرت لوط عليه السلام قوم ډېر بې حيا وو، او په ټولو ګناهګارانو کي لوی ګناهګار فرعون ؤ؛ ځکه هغه د ﴿أَنَا رَبُّكُمُ الْأَعْلَىٰ﴾ دعوه کړې وه، ليکن الله جل جلاله د فرعون سره دا وکړه چي صرف او صرف په يو عذاب يې په درياب کي غرق کړئ.

ليکن د حضرت لوط عليه السلام قوم چي کله بې حيا وو، نو پر هغوی باندي د يو عذاب بجای پنځه عذابه راغله:

۱. زلزله ور باندي راغله.
۲. د ملائکي چيغه ور باندي راغله.
۳. مسخ ور باندي راغله.

۴. ﴿وَ جَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا﴾ كښته او پورته يې كړه په هوا كې يې سرونه سره ور وجنگول.

۵. ﴿فَطَمَسْنَا أَعْيُنَهُمْ﴾ او سترگې يې د سترگو په خانو كې ننو تلې.

نو الله تعالى هره گناه برداشتوي، ليكن د مځكې پر مخ چې كله بې حيايي زياته سي الله تعالى بې حيايي نه برداشتوي.

او د بې حيايۍ يو اثر دادئ، لويه علامه يې داده چې په كوم قوم كې چې بې حيايي زياته سي، نو الله تعالى پر هغه قوم باندي قحطي مسلطه كړي. او د بې حيا قوم دوهمه علامه دا وي چې الله تعالى د هغه قوم بغاره او فرياد نه اوري، د هغه قوم ژړا نه اوري.

د هغه قوم دعا نه قبلوي؛ ځكه د پيغمبر ﷺ په زمانه كې چې كله پاكيزه زندگي دې قومونو كوله او په دې امتو كې چې كله زندگي پاكيزه وه، نو د دوی پر رايه به الله جل جلاله د دوی د زړه د فيصلو په خاطر جبرائيل امين د اسمان څخه ور ته را استوئ.

ليكن چې كله د پاكيزگي بجاى په امت كى بې حيايي زياته سوه، نو بيا د دوی ژړا، د دوی دعا، د دوی ښرا او د دې امت چيغه الله جَلَّ جَلَالُهُ د مځكې د مخ څخه اسمان ته نه پريږدي او د دوی د دُعا او ښرا پر مخ يې د اسمان دروازې بندي كړې.

نن په موږ كې قحطي زياته ده، نن په موږ كې بد امني زياته ده او نن په انسانانو كې ذلت او خواري زياته ده او عام مسلمانان د كافرانو غلامان دي او د هغوی په مخ كې ذليل او رسوا دي.

هغه څه وجه ده؟ د هغې بنيادي وجه داده چې په موږ او تاسو كې يو قسم بې حيايي او د بې حيايۍ اسباب ډېر سوه.

## د موبائل غلط استعمال د بې حیایۍ لویه ذریعه:

یو وخت دا وو چې د بې حیایۍ اسباب د تې وي او وي سي آر په شکل وه، هغه په لویو ښارو کې وه، د هغې څخه وروسته بیا کورو ته راغلل.
نن یقینا د هر نوجوان جیب ته را ورسېدل، چې کله ماښام ذکې کښېني چې د دنیا کوم فلمونه، کومې ګانې بجاوه وي، کوم بې حیا تصویرونه او کوم د بې حیایۍ ډرامې او فلمونه دي ذکی یې ګوري نو د انسان عقل به ورته حیران وي چې ددې قوم سره به الله تعالی څه وکړي؟
او الله تعالی به د دې قوم دا بې حیایي څنګه برداشت کړي او د دې بې حیایۍ په وجه به پر دې قوم لا نور هم کوم قسم عذابونه مسلط سي.
په دې وجه باندې چې دا قوم تر څو پورې د بې حیایۍ څخه توبه نه وکاږي تر هغه وخته پورې به دا قوم د الله تعالی رحمت نه ویني.

## د فټ بال میله د بې حیایۍ لوی میدان دئ:

نن چې کله ستاسو په دې ښار کې د فټ بال میله سي، نو تاسو ګورئ چې خلک د مېلې د میدان څخه راوځي، نو په خپل مابین کې سره وایي: یاره نن لس زره (۱۰۰۰۰) کسان ور ته ناست وه، نن پنځه زره (۵۰۰۰) کسان ورته ناست وه، حالانکې هلته څه وي؟ تر زنګنو پورې چې کوم خلک فټ بال کوي د هغوی ورنونه لڅ وي او په شرع شریفه کې دا حکم دئ چې د ځنګنو څخه ونیسې بیا تر نامه پورې دا ټوله عورت دئ او چې کوم څوک عورت ښکاره کوي هغه هم بې حیا دئ او چې کوم څوک د بل عورت ته ګوري هغه هم بې حیا دئ.
او د مشکوة شریف حدیث دئ: ﴿لَعَنَ اللهُ النَّاظِرَ وَ الْمَنظُوْرَ اِلَيْهِ﴾(۱) چې کوم څوک ورته ګوري پر هغه هم د خدای لعنت دئ او چې کوم څوک دا کیل ورته کوي او دا خپل بدن یې ښکاره کړی وي پر هغه هم د خدای جل جلاله لعنت دئ.

(۱) مشکوة شریف، حدیث نمبر: ۳۱۲۵

نو چي په ښارکي پر لس زره (۱۰۰۰۰) انسانانو باندي په یو ځای د خدای ﷻ لعنت نازلیږي، نو څه خاوري رحمت به پر دې قوم باندي نازل سي؟ دا قوم به د رحمت طمع څنګه وکړي؟ او پر دې قوم به د خدای ﷻ رحمت څنګه راسي؟

نو ځکه که انسان د رحمت غوښتنه کوي او که انسان د خپل ځان سره احسان کوي او د خدای ﷻ په حضور کي د شرمندګۍ او رسوایۍ څخه ځان ساتي د هغه دپاره پاکیزه زندګي اختیارول ضروري دي.

او پاکیزه زندګي هلته په سرې کي راځي چي د سړي په دماغ کي د الله ﷻ ذکر او تصور او په آخرت کي د خپل جواب ورکولو احساس راسي.

او په آخرت کي د خپل جواب ورکولو احساس هلته راځي چي انسان په خپله زندګي کي مسنوني دعاګاني او د الله ﷻ ذکرونه او د محمد رسول الله ﷺ پر هدایاتو قدم پر قدم باندي عمل وکړي.

الله تعالی دي په دې څو مختصرو خبرو د عمل کولو توفیق راکړي! او الله تعالی دي یې قبولي او مقبولي وګرځوي (آمین).

وَ آخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآیه)

# په لسو شپو قسم

(بیان)

مولوي اطیع الله صاحب
استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقرير | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتي حافظ كليم الله صاحب |
| مقام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشاعت | ثلورم |
| تاريخ | يكم ربيع الثاني ١۴٣٩ بمطابق يكم مي ٢٠١٨ |
| تعداد | (١١٠٠) |

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْداً كَثِيراً طَيِّباً مُّبَارَكاً فِيْهِ مُبَارَكاً عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَ يَرْضٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ خَيْرِ الْهُدٰى وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصحَابِهٖ نُجُوْمِ الْاِهْتِدَاء.

اَمَّا بَعدُ:

فَاَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قَالَ اللّٰه تَبَارَکَ وَتَعَالٰى: ﴿وَالْفَجْرِ، وَلَيَالٍ عَشْرٍ، وَالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ، وَاللَّيْلِ إِذَا يَسْرِ، هَلْ فِي ذٰلِكَ قَسَمٌ لِذِي حِجْرٍ﴾(۱).

وَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: ﴿اَلدِّيْنُ اَلنَّصِيْحَةُ﴾(۲).

اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلٰنَا الْعَلِيُّ الْعَظِيْمِ وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْمِ وَنَحْنُ عَلٰى ذٰ لکَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ.

## په لسو شپو باندي قسم:

محترمو مشرانو! د ذوالحجې مباركه مياشته شروع سوې ده او ددې مياشتي ابتدائي ورځي دي، ددې مياشتي متعلق يو څو خبرى كوو، الله جل جلاله دي يې قبولي او مقبولي وګرځوي او الله تعالى دي موږ او تاسو ټولو ته د عمل كولو توفيق ورباندي راكړي.

ستاسو په مخ كي ما د "سورة الفجر" د ابتدائي آياتو تلاوت وكړئ، په دې آياتو كي الله تعالى د سهار په وخت قسم خوري او وايي: ﴿وَالْفَجْرِ﴾ زما دي د سهار په وخت قسم وي ﴿وَلَيَالٍ عَشْرٍ﴾ او زما دي په دې لسو شپو قسم وي.

---

(۱) الفجر، آيت ۱، ۲، ۳، ۴، ۵.

(۲) بخاري شريف حديث نمبر: ۵۷

ددې لسو شپو څخه مراد څه دي؟ د مفسرينو د جماعت يو لويه ډله او د مفسرينو يو لو ی جماعت پر دې دئ چي په قرآن کريم کي چی الله تعالی په کومو لسو شپو قسم خوړلی دئ هغه د ذوالحجې دا اولنۍ لس شپې دي، چي په کومو شپو کي موږ او تاسي اوس روان يو.

او الله ﷻ چی کله په يو شي باندي قسم خوري د دې معنٰی دا نه ده چي الله ﷻ د هغه شي په باره کي د انسان په دماغ کي يقين ورکوي چي پر هغه خبره د انسان يقين راسي دا يې مطلب نه وي.

بلکه د الله تعالی د قسم خوړلو څخه مقصد دا دئ چي الله ﷻ ددې شي عظمت ښکاره کوي. نو څکه الله ﷻ کله د سهار په وخت قسم وخوري وايي: "وَالْفَجْرِ" زما دي په سهار باندې قسم وي.

## د سهار د وخت عظمت:

د سهار وخت څکه عظيم او لوی وخت دئ چی دا د ملائکو مجمع ده، د شپې دپاره چي کومو ملائکو خپله وظيفه سر ته رسولې وي، نو هغوی هم د سهار په لمانځه کي شريکي وي او د ورځي دپاره چي کومي ملائکې راځي او خپله د ورځي وظيفه سر ته رسوي.

هغوی هم د سهار لمانځه ته ځان را رسوي، نو د سهار لمونځ در حقيقت د ملائکو مجمع وي، نو په دې وجه الله تعالی د سهار وخت ته دېر د عظمت په نظر ګوري په دغه وجه الله تعالی ور باندې قسم خوري او وايي: "وَالْفَجْرِ" زما دي په سهار باندې قسم وي.

دغه رنګه الله تعالی کله کله د ماځيګر په وخت قسم وخوري، الله تعالی فرمايي: ﴿وَالْعَصْرِ﴾ زما دي په ماځيګر قسم وي.

## د ماځیګر د وخت عظمت:

د ماځیګر وخت هم در حقیقت د ملائکو مجمع ده، چي د ورځي کومو ملائکو وظیفه ادا کړې ده، د انسانانو اعمال يې کتلي او ليکلي دي، نو دوی د ماځیګر په وخت کي د ماځیګر په لمانځه کي شرکت کوي، بيا اسمانو ته ځي پورته کيږي او د شپې دپاره چي کومي ملائکي د خپلي وظيفې دپاره راځي نو هغه هم د ماځیګر وخت ته ځان را رسوي او په لمانځه کي شرکت کوي، نو په دې وجه د ماځیګر وخت هم د ملائکو مجمع ده.

او چونکه دا وخت هم ډېر عظیم وخت دئ او دې ته الله تعالی ډېر عظمت ورکړی دئ، نو په دې وجه باندي الله تعالی کله د ماځیګر په وخت هم قسم خوري.

دغه رنګه الله ﷻ د ذوالحجې په دې لسو شپو هم قسم خوړلی دئ ﴿وَلَيَالٍ عَشْرٍ﴾ زما دي د ذوالحجې په لسو شپو قسم وي.

او ما در ته وويل چي د الله ﷻ قسم خوړل په دې لسو ورځو دا ددې معنٰی ده چي الله تعالی دې لسو ورځو ته ډېر لوی قدر ورکړی دئ. ځکه نو د الله تعالی د قسم خوړلو په خاطر باندي ددې لسو ورځو فضيلت ښکاره کيږي.

## په عباداتو کي ترتيب:

دا فضيلت در حقيقت د رمضان المبارک څخه را روان دئ، اول الله ﷻ پر انسانانو ډېر مبارکه مياشته د روژې راوسته چي په هغې کي انسان ته د يو نفلي عبادت توفيق الله ﷻ ورکړي، نو الله تعالی يې په فرضي عبادت ور شماري.

او کچيري د فرضي عبادت توفيق الله ﷻ ور کړي، نو يې يو په اويا (۷۰) باندي ور شماري.

او چي په کومه ورځ د روژې مبارکه مياشته ختم سوه په دې بله ورځ الله ﷻ د يو بل اهم ترين عبادت بنياد کښېښوئ چي د حج عبادت دئ؛ ځکه پيغمبر عليه السلام

وايي چي د حج درې مياشتي دي: د كوچني اختر مياشته ده، د ذى القعده مياشته ده او ذوالحجه ده، دا درې مياشتي دي.

كچيري يو سړى د حج دپاره د كوچني اختر څخه يوه ورځ مخكي احرام وتړي، نو نه دئ صحيح. ليكن د كوچني اختر د ورځي څخه بيا د حج احرام تړل صحيح دئ.

ددې څخه دا معلوميږي چي دا ورځي بيا د حج د شروع ورځي دي، لكه پخوا وختونو كي چونكه اسباب او وسائل نه وه، نو خلك به په قافلو كي په مياشتو مياشتو باندي د حج عبادت ته راتلل.

نو ځكه پيغمبر عليه السلام ويل چي د حج درې مياشتي دي: شوال دئ، ذى القعده ده او ذى الحجه ده.

او بيا چي كله د روژې مبارک عبادت څه وخت خلاص سو، نو د هغه څخه وروسته د كوچني اختر ورځ الله جل جلاله د انسانانو دپاره د مزدورۍ ورځ وټاكله چي اوس راسئ د عيدګاه ميدان ته، د عيدګاه په ميدان كي به تاسو خپله مزدوري لاس ته كړئ.

لكه يو مزدور چي خپل كار په ښه طريقه سره سر ته ورسوي، نو په آخري ورځ باندي خپله مزدوري اخلي او دا ده دپاره ډېره د خوشحالۍ ورځ وي.

او چي كله د حج عبادت خلاص سو لكه ددې لسو ورځو آخرنۍ ورځ د حج عبادت خلاصيږي، نو الله جل جلاله بيا انسانانو ته وايي چي راځئ! د عيدګاه ميدان ته ستاسو د حج پر عبادت باندي ستاسو د خوشحالۍ اختر او د مزدورۍ ورځ ده.

## په خوشحالي او غم دواړو كي الله جل جلاله ته توجه:

ليكن د الله تعالى نظام داسي جوړ دئ چي تاسو به په خوشحالۍ كي هم د خپل رب طرف ته متوجه ياست او د خپل رب احكام به نه هېروئ! او دغه رنګه د خپل رب جل جلاله رضا به ستاسو مطلوب او مقصود وي.

نو په کوچني اختر کي د خوشحالئ شروع د صدقة الفطر څخه کيږي او په لوی اختر کي د خوشحالئ شروع د اضحيې څخه کيږي.

## صدقة الفطر او اضحيه مالي عبادت دئ:

ځکه چي کله تاسو روژه ونيوله، نو تاسو بدني عبادت پر ځای کړئ، اوس يو څه مالي عبادت هم وکړئ چي صدقة الفطر ده.

چي کله د حج په شپو کي تاسو حج وکړئ حج پای ته ورسېدئ، نو دغه بدني عبادت وو اوس يو څه مالي عبادت هم وکړئ چي هغه قرباني ده.

نو بدني او مالي عبادتِ دواړه د خدای ﷻ حضور ته د نذرانې په شکل پېش کړئ؛ ځکه در حقيقت د ذالحجې څخه مخکي د روژې مبارکي څخه دا فضيلت را روان دئ، را روان دئ، را روان دئ چي دا آخري د فضيلت ورځي را و رسېدې.

## د ذی الحجې د لسو ورځو فضيلت:

او ددې ورځو فضيلت ددې څخه هم معلوميږي چي کوم عبادت الله تعالی په کال دوولس مياشتو کي يو وار مقرر کړئ د هغه عبادت دپاره الله تعالی دغه لس ورځي منتخبي کړې.

يواځي عبادت د حج دئ چي هغه ددې لسو ورځو څخه بغير په بله مياشته کي نه کيږي، ليکن د نورو عباداتو معامله جلا ده، مثلا فرضي لمونځ دئ په خپل وخت کي فرض دئ لېکن که تر خپل وخت تېر سي نو په نورو ورځو کي هم را ګرځېدلای سي او داغه رنګه روژه په خپله مياشته کي فرض ده لېکن که تر خپلي مياشتي تېره سي په نورو مياشتو کي هم قضائي نيول کيږي، او داغه رنګه فرضي زکوة دئ چي د نصاب او د حولان حول په پوره کېدو سره فرض کيږي لېکن اداء کېدل يې هر وخت چي ستا خوښه وي کېدای سي، او نفلي عبادات خو مطلقًا معلومي ورځي نه لري هر وخت کېدلای سي.

ليکن يو د حج عبادت دئ که فرضي دئ که نفلي دئ ددې ورځو څخه بغير يې نه سې کولای، په دې ورځ کي انسان عرفات ته ورسي او دارنگه په دې ورځو او شپو کي انسان په مزدلفه کي شپه وکړي، په دې ورځو کي چې انسان ځلي په کانو ولي ثواب لري؛ ځکه دا د دغو ورځو خصوصيت دئ، ليکن که ددې ورځو څخه ماسوا که انسان لس (۱۰) ورځي په عرفات کي تيري کړې، نو يوه زره ثواب هم نه لري.

ددې ورځو څخه ماسوا که انسان کال دوولس (۱۲) مياشتي دا ځلي په کانو باندي ولي يوه زره ثواب هم نسته پکښي، نو د حج هغه عظيم عبادت او د حج هغه عظيم رکن چې په ټوله کال کي په يوه پلا باندي ادا کيږي دوباره نه ادا کيږي نه فرضًا نه نفلاً، د هغې دپاره الله تعالی دغه لس ورځي منتخب کړي دي؛ په دې کي دې ته اشاره ده چي دغه لس ورځي و الله جَلَّ جَلَالُهُ ته په ټوله کال کي ډيري عظيمي دي او ډيري اهمي دي.

## دغه رنگه د قرباني عبادت دي:

کومه قرباني؟ هغه قرباني چي د هغې د هر وربښته په بدل کي الله تعالی تا ته نېکي درکوي، هغه قرباني چي په دې ورځو کي ته کومه قرباني کوې بيا که کال دوولس مياشتي هره ورځ په لکو پسونه ذبح کوې په دې ټولو کي دد ې په مقدار ثواب انسان نه سي پيدا کولای چي په دې قرباني کی الله تعالی څومره ثواب ايښی دئ دا به د پيغمبر ﷺ د قول څخه واورو.

پيغمبر ﷺ فرمايي: ﴿وَإِنَّهُ لَيَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾ دا قرباني به راسي د قيامت په ورځ ﴿بِأَظْلَافِهَا وَأَشْعَارِهَا وَأَوْبَارِهَا وَصُوفِهَا﴾ وريه به وي، ښکر به وي، او ښونگري به وي دا به ټول راځي او ستا د عمل نامې د نېکی په پله کي به لويږي، ستا عمل نامه به په دې باندي وزن داره کيږي.

﴿وَ إِنَّهٗ لَيَقَعُ عِنْدَ اللهِ بِمَكَانٍ قَبْلَ أَنْ يَّقَعَ دَمُهَا عَلَى الْأَرْضِ﴾ چې يو څاڅکی د وينې لا مځکې ته نه وي رسېدلی، نو دا بيا د الله تعالی په حضور کې قبوليت پيدا کوي.

نو پيغمبرﷺ وايي: ﴿فَطِيْبُوْا بِهَا نَفْسًا﴾(۱) په دې باندې انسان بايد ډېر خوشحاله سي.

اوس دغه قرباني چې دومره يې اجر دئ، دومره يې ثواب دئ او پر هر وربښته باندې يې نېکي ده او دد‌ې ښکر او ښنکرې او وربښتان او ورې يې ستا په عمل نامه کې تلل کيږي، دا قرباني هم ددې ورځو خصوصيت دئ.

نو حج د اسلام لوی رکن دئ او دا قرباني هم ډېر لوی عبادت دئ. او دا دواړه په کال کې يو ځل ادا کيږي. د هغې دپاره الله تعالی دغه ورځې منتخب کړي دي، په دې ورځو کې به دا دواړه حکمونه ادا کيږي. او دا د فضيلت ورځې دي او دا دواړه افضل عبادات دي او دا افضل عبادات په دې افضله ورځو کې ادا کيږي.

## په افضليت کې اختلاف:

د محدثينو علماؤ پر دې باندې اختلاف دئ چې دا کومې لس ورځې چې موږ او تاسې پکښې روان يو، ايا دې ته الله جل جلاله ډېر فضيلت ورکړی دئ که هغه لس ورځې چې د روژې د مياشتې اخيرنۍ عشره او اخيرنۍ لس ورځې دي چې په هغه کې د "ليلة القدر" شپه هم را روانه ده؟ ايا د هغه شپو عبادت ډېر فضيلت لري که ددې ورځو؟

بعض علماء کرامو دا فيصله کړې ده چې دا د ذي الحجې لس ورځې پر هغه لسو ورځو باندې ډيرې افضله دي؛ ځکه په دې ورځو کې عرفات را روان دئ او د

---

(۱) ابن ماجه، حديث نمبر: ۳۱۲۶

عرفات ورځ داسي ورځ ده چي الله تعالى په ټوله کال کي دا يوه ورځ پيدا کړې ده بله داسي افضله ورځ نسته.

لېکن هغه د روژې د اخيري عشرې شپې پر دې شپو باندي افضله دي؛ ځکه د هغه په شپو کي د "ليلة القدر" شپه را روانه ده او د "ليلة القدر" د يوې شپې عبادت تر زر مياشتو عبادت کولو افضل دئ، او زرو مياشتو ته چي حساب وکړې، نو دواتيا (۸۲) کاله شاوخوا کيږي.

ليکن بعضو نورو علماؤ دا ليکلي دي چي دا د ذى الحجې شپې دي او ک ورځي دي دا لس شپې او ورځي تر هغه لسو شپو او ورځو زيات فضيلت والا دي؛ ځکه ددې هري ورځي او شپې ثواب د "ليلة القدر" دئ.

نو په هغه روژه کی يوه "ليلة القدر" راځي او په دې کي لس واره "ليلة القدر" راځي، نو ځکه ددې فضيلت بعض علماؤ ليکلی دئ چي تر هغه "ليلة القدر" ا د روژې تر اخيرو لسو شپو زيات دئ، نو ځکه دا ډيري د فضيلت والا ورځي دې او ډيري د ثواب والا ورځي دي.

او د خدای ﷻ په حضور کي چي کوم عبادت په دې لسو ورځو کي مقبو ګرځي په کال دوولس مياشتي کي بيا دارنګه مقبول عبادت والا ورځي ې انسان نه راځي.

## ددي لسو ورځو خاص اعمال:

علماء کرامو ليکلي دي چي کله د ذوالحجې مياشته پر سري را ښکاره سوه، ن په دې وخت کي انسانانو ته يو څه احکام متوجه سي چي انسانان به په دې مياشته کي څه کوي؟ خصوصًا په دې لسو ورځو کي به سړی څه کوي؟

د ټولو څخه اول حکم دا دئ چي په دې لسو ورځو کي به انسان نه د بدن وري ښتا پرې کوي او نه به د لاسو او پښو نوکان ليري کوي او چي د بدن کوم اندامو صفائي ته ضرورت لري د ويښتانو څخه به د هغو اندامو صفائي نه کوي.

ځکه د پیغمبرﷺ حدیث دئ: ﴿مَنْ أَرَادَ أَنْ يُضَحِّيَ﴾ چې کوم سړی په دې لسو ورځو کې اضحیه کوي، ﴿فَلَا يَأْخُذُ مِنْ شَعْرِهِ وَ أَظْفَارِهِ فِي عَشْرٍ مِّنْ ذِي الْحَجَّةِ﴾(۱) نو د دې ذی الحجې په لسو ورځو کې به نه وربښتان پرې کوي، نه به نوکان پرې کوي، نویو حکم موږ او تاسو ته دا متوجه دئ.

اوس په ظاهر چونکه د پیغمبرﷺ څخه را منقول دئ او د پیغمبرﷺ څخه د رانقل کېدو په خاطر دا حکم مستحب عمل دئ، که سنت یې انسان نه وبولي کم از کم مستحب عمل خو دئ.

نو ښه کار، مستحب کار او اولی کار د انسان دپاره دادئ چې په دې لسو ورځو کې سړی د خپل بدن زائد وربښتان او زائد نوکان د خپل بدنه لیري نه کړي.

اوس په ظاهر دا حکم داسې نابلده معلومېږي د ذوالحجې میاشته چې کله را ښکاره سي انسان به نه نوکان پرې کوي، نه به وربښتان پرې کوي. ولي به یې نه پرې کوي؟ د دې وجه داده چې د هغوی سره لږ مشابهت خو اختیار کړي.

## د نوکانو او وربښتانو نه پرې کولو حکمت:

ګورئ! حقیقت دادئ چې دا د حج مبارکې شپې دي، په دې وخت کې چې په "بیت الله" کې کوم حاجیان د دنیا د اطرافو څخه را جمع سوی دي او په دې وخت کې که انسان "بیت الله" ته وګوري، نو د انسان عقیده به دا سي چې په "بیت الله" کې یو مقناطیس لګېدلی دئ او د دنیا انسانان یې و خپل ځان ته راکش کړي دي. او په زرو او په لکو انسانان لڅ سرونه لڅې پښې په یو وخت کې پر "بیت الله" شاوخوا را ګرځي.

نو پر هغه انسانانو باندي د الله تعالی قسم قسم رحمتونه دي او د الله تعالی له طرفه قسم قسم انعامونه دي او د الله تعالی له طرفه قسم قسم مغفرتونه او بخششونه دي.

---

(۱) نسائي، حدیث نمبر: ۲۳٦۲

لیکن پیغمبر ﷺ چونکه د ټول امت مشفق دئ، نو د هغه سره د ټوله امت غم ورسره دئ، نو پیغمبر ﷺ ورته وايي: ای زما امته! تاسو ته که الله ﷻ دومره توفیق نه دئ در کړی چي بیت الله ته ځان ورسوئ کم از کم د دې ځایه څخه د حاجیانو سره یو څه مشابهت خو وکړئ!

د "بیت الله" حاجیان هم چي کله د حج احرام وتړي، نو هغوی د سر وریښتان نه پرې کوي او هغه د بدن وریښتان نه ختموي، هغه نوکان نه ختموي، بلکه هغوی بیر سر او لڅ سر او لڅي پښې د خدای تعالی پر بیته شریفه باندي راګرځي او د خدای ﷻ رحمتونه غواړي.

نو تاسو خو کم از کم د هغوی سره مشابهت وکړئ! او د الله ﷻ د رحمت څخه دا خبره هیڅ لیري نه ده چي کم رحمتونه الله تعالی په "بیت الله" کي پر حاجیانو را استوي د هغه رحمتو یو څه حصه به تاسو ته هم په نصیب در سي.

نو د پیغمبر ﷺ په دې حکم کي حکمت دادئ چي د دې انسانانو د "بیت الله" د حاجیانو سره مشابهت راسي او چي کوم مغفرتونه او بخششونه د "بیت الله" پر حاجیانو باندي راځي الله تعالی به یې دې انسانانو ته هم په نصیب ورکړي، نو یو حکمت په دې کي دادئ.

## د الله تعالي رحمت صرف بهانې غواړي:

علامه ډاکټر عبدالحي رحمة الله علیه لیکلي دي چي دا د الله تعالی د رحمته څخه ډېره لیری خبره ده چي یو انسان زیات ناداره دئ، یو انسان مسکین دئ، یو انسان ناوسعه دئ او هغه تر "بیت الله" پوري ځان نه سي رسولای، نو د خپلي ناوسۍ او مسکنت په وجه د الله ﷻ د رحمت څخه بې برخي پاته سي.

نو اصله خبره ذاده زړ واره دي ناوسه سي، صرف دي دی د "بیت الله" د حاجیانو سره مشابهت شروع کړي او د "بیت الله" حاجیان چي په کوم وخت کي په عبادت لګیا دي دی دي هم د "بیت الله" د حاجیانو غوندي په دې وختو کي عبادت شروع کړي او د بدن په اندامو کي دي د هغو سره مشابهت ښکاره کړي.

چي هغوی نوکان نه اخلي، هغوی وربښتان نه اخلي، نو دغه کس دي هم د نوکانو او وربښتانو سره پام وکړي، نو د "بيت الله" په طواف کي چي کوم رحمت پر انسانانو را اوريږي، نو الله تعالى به د هغه رحمت يو څه حصه دې انسانانو ته هم ورکړي.

نو چي کله د ذوالحجې مياشته را نوې سوه، نو زموږ او ستاسو طرف ته اول حکم دا متوجه دئ: ﴿مَنْ اَرَادَ اَن يضحّيَ﴾ چي څوک اضحيه کوي، نو په دې لسو شپو کي دي نه نوکان پرې کوي او نه دي وربښتان پرې کوي. او په دې لسو شپو کي دي د الله تعالى عبادت ته متوجه سي.

## په دې لسو شپو کي عبادت کول:

دويم حکم دادئ چي انسان په دې لسو شپو کي په اطمينان سره د الله تعالى په عبادت کي لګيا سي؛ ځکه پېغمبر ﷺ وايي: ﴿صِيَامُ كُلّ يَوْمٍ يَعْدِلُ صِيَامَ السَّنَةِ﴾ او ددې لسو ورځو په يوه ورځ کي روژه نيول الله تعالى ددې په بدل کي ټوله کال دَی روژه نيونکی شماري.

﴿وَ قِيَامُ كُلّ لَيْلَةٍ يَعْدِلُ قِيَامَ لَيْلَةِ الْقَدْرِ﴾(۱) او چي يوه شپه الله ﷻ انسان ته عبادت په دې شپو کي ور نصيب کړي، نو دې سړي ته هغه مرتبه ده لکه چا ته چي د ليلة القدر عبادت ور نصيب سي.

ما در ته وويل: د "ليلة القدر" عبادت د زرو مياشتو څخه افضل دئ، نو ددې هري شپې عبادت د زرو مياشتو څخه افضل دئ. او بيا خاص کر چي کله اتمه (۸) ورځ را ورسيږي، نو بيا هغه حساب ډېر لوړيږي او هغه أجر او مزدوري د خدای ﷻ په حضور کي ډېره پورته ولاړه سي.

(۱) الترغيب و الترهيب، حديث نمبر: ۳٦۸

او پيغمبر ﷺ به ويل: چا ته چي د نهم (۹) د ورځي روژه په نصيب ورکړل سي، نو ددې يوې روژې په عوض کي به الله ﷻ د تېر کال د ګناهو څخه دَی صفا کړي او د را روان کال د ګناهو څخه به يې هم صفا کړي.

يو خو به د يوې ورځي په روژه الله تعالی دَی تېر کال هم په روژاتي باندي شمار کړي او په را روان کال کي به هم الله تعالی ټول کال دده په عمل نامه کي دَی روژاتي وليکي.

او چي تېر کال څومره ګناهونه سوي دي دَ هغه روژې په وجه به الله تعالی ټولي ګناوي ور معاف کړي.

## په عباداتو صغيره ګناه معافيږي:

ګورئ! بعض خلګ د علم سره نا اشنا خلګ وي، هغوی ددې احاديثو څخه لږ غلط مطلب را اخلي، هغوی دا وايي چي دغه رنګه احاديث واورئ چي زما په يوه روژه زما د تېر کال د ګناهو هم معافي ده، او په يوه روژه ما ته د را روان کال د ګناهو هم معافي ده.

نو بيا خو به زه د نهم د ورځي روژه ونيسم او ما ته دا دواړه کاله ګناه را معاف سوه، هسي خو هم ما ته په ګناه کولو کي ټوله کال چيټي را پيدا سوه؛ ځکه زه به ټوله کال ګناه کوم اخير به يوه روژه ونيسم بيا به ټوله ګناه ما ته را معاف سي.

بعض خلګ به ددې څخه دا نتيجه اخلي يا نور دغه رنګه احاديث راسي، لکه په يو حديث کي راځي چي يو انسان اودس کوي، نو پر هر اندام چي اوبه توييږي ددې هر اندام د پريولو په وخت ددې هر اندام ګناه توييږي.

يا په بل حديث شريف کي راځي چي سړی کله د کوره څخه مسجد ته را روان سي، نو پر هر قدم الله تعالی د انسان ګناوي معافه وي، نو بعض خلګ ددې څخه دا نتيجه واخلي چي اوس خو د ګناهو معافي ډېره اسانه سوه، نو ما ته په ګناه کولو کي چيټي ده، ګناه به کوم کوم اخير به روژه ونيسم، يا به ذکر وکړم، يا به فلان عبادت وکړم، نو په دې به زما ګناوي معاف سي.

## ګناه کبيره په توبه معافيږي:

ليکن داسي خبره نه ده، ګورئ! ګناهونه دوه قسمه دي:

۱. اول صغيره ګناوي دي.

۲. دوهم کبيره ګناوي دي.

صغيره ګناوي بلاشبه په دې اعمالو معافيږي چي انسان يوه ورځ روژه ونيسي، نو د تېر کال صغيره ګناوي به معاف سي، د را روان کال صغيره ګناوي به معاف سي، ددې دا معنٰی نه ده چي سړی به قتلونه کوي، زناوي به کوي، غلاوي به کوي د نهم په ورځ به روژه ونيسي هم دَی معاف دئ.

په عبادت ګناه صغيره معافيږي، ليکن ګناه کبيره نه په عبادت معافيږي او نه د مسجد په راتګ معافيږي او نه ددې نهم د ورځي په روژه باندي معافيږي. دا معاف کېدونکي ټول صغيره ګناوي دي.

د کبيره ګناه په باره کي د الله تعالی يو قانون دئ، هغه د الله تعالی قانون دادئ چي کبيره ګناه دوه قسمه ده:

۱. تلف د حقوق الله.

۲. تلف د حقوق العباد.

د حقوق الله د تلف په صورت کي چي سړی توبه وباسي نو معافيږي او د حقوق العباد د تلف په صورت کي که زر واره توبه وکاږي نه معافيږي، تر څو پوري چي کوم انسان ته دي تکليف رسولی دئ او د کوم سړي چي دي حق ضائع کړی دئ او کوم سړی چي دي پرېشانه کړی دئ چي تر څو پوري د هغه سړي معافي ستا په حق کي را نه سي.

تر هغه وخته پوري حقوق العباد الله تعالی انسان ته نه ور معافوي که د اوښکو بجائ په وينو خدای تعالی ته وژاړي هم د بل حق الله تعالی نه ور معافوي، چي تر څو پوري دَی ورغلی نه دئ او د هغه سړي څخه يې معافي اخستې نه ده.

ځکه دوهم حکم زموږ دپاره دادئ چي په دې میاشته کي انسان عبادات وکړي او دا ورځي د عباداتو ورځي دي.

## په دې ورځو کي د صحابه کرامو ﷺ معمول:

صحابه کرامو ﷺ ته به چي کله دا ورځي راغلې، نو پیغمبر ﷺ به ورته ویل: ﴿مَا مِنْ اَیَّامٍ الْعَمَلُ فِیْهَا اَحَبُّ مِنْ هٰذِهِ الْاَیَّامِ﴾ ای صحابه کرامو! په کال دوولس میاشتو کي داسي ورځي بیا نه در باندي راځي چي خدای ﷻ ته یو عمل دېر خوښ، دېر محبوب او دېر قبول وي تر دې لسو ورځو.

صحابه کرام چونکه د جهاد سره اشنا او بلد خلک وه، نو هغوی به ورته ویل:

- ﴿وَلَاالْجِهَادُ یَارَسُوْلَ اللهِ؟﴾ که په نورو وختو کي سړی جهاد کوي نو هم د دې لسو ورځو سره نه برابرېږي؟
- پیغمبر ﷺ ورته وویل: ﴿وَ لَاالْجِهَادُ فِیْ سَبِیْلِ اللهِ﴾ هو! د نورو ورځو جهاد في سبیل الله هم د دې ورځو سره نه دئ برابر. یعني د دې ورځو عبادت د نورو ورځو پر جهاد هم دېر افضلیت لري. ﴿اِلَّا رَجُلٌ یَخْرُجُ مِنْ بَیْتِهٖ وَ مَعَهٗ فَرَسٌ بِنَفْسِهٖ وَ سَلَاحِهٖ وَ لَایَرْجِعُ بِذٰلِکَ مِنْ شَيْءٍ﴾(۱) یو سړی د کوره ځخه په داسي شکل ووتئ چي خپله توره یې واخیسته، پر خپل آس باندي سپور سو او خپل ځان، خپل آس او خپله توره یې د جهاد په میدان کي قربان کړل، نو هغه سړی ای صحابه ؤ! تاسو مه یادوئ هغه سړي ته خو الله تعالی په ټولو جنتو کي جنت الفردوس ورکوي.

هغه سړی خو هغه درجې ته و رسېدئ چي په خدای قسم په کائناتو کي هر څومره ښه عمل کونکی هم هغه ځای ته ځان نه سي رسولای.

نو یو خو خاص جهاد دئ یو په دې شکل جهاد دئ، په دې شکل د جهاد سره هیڅوک نه سي برابرېدلای.

(۱) ابن ماجه، حدیث نمبر: ۱۷۲۷

لیکن یو عام جهاد دئ، عام جهاد هغه دئ چي په عامو ورځو کي یې سرې کوي.
نو د پیغمبرﷺ قول د "بخاري شریف" حدیث دئ چي په دې ورځو کي عبادت د ټوله کال تر عبادت که هغه د جهاد په شکل وي او که په نورو اشکالو وي دا ډېر ثواب پر لري.

## د مدینې منورې د یو نوجوان واقعه:

په تنبیه الغافلین کي فقیه ابولیث سمرقندي رحمة الله علیه د "حضرت عائشې مبارکي" یو روایت را نقل کوي چي په مدینه منوره کي یو نو جوان ؤ، نو چي کله به د ذوالحجې ورځي راغلې هغه به په دې ورځو کي په روژو باندي شروع وکړه، چونکه د آزاد طبیعت خاوند نوجوان دئ او د دین ډېر پاي بند انسان نه دئ، لیکن صرف خدای یې په زړه کي دا وراچولي دي چي کله د ذوالحجې لس ورځي راسي، نو دی په روژو شروع وکړي.

پیغمبرﷺ ده د عمل څخه خبر سو، نو را و یې غوښتئ او ورته و یې ویل:

- سړیه! دا په کوم نیت ته نیسې؟
- نو هغه ورته وایي: یارسول الله! دې وخت کي د حج دوران دئ او په دې وخت کي د الله جل جلاله هغه نېک بخت خلګ د الله جل جلاله پر "بیت الله" د لیونیانو په شکل راګرځي، یارسول الله! زړه مي دا غوښته چي په هغه انسانانو کي مي خدای شامل کړي چي کومو خلګو ته په دې ورځ الله جل جلاله د "بیت الله" طواف ور نصیب کړی وي.

لیکن د خپلي بدقسمتۍ د وجهي الله تعالی په هغه کسانو کي شمار نه کړم، نو په دې وجه زه په عباداتو کي لګیا یم او زړه مي دا غواړي چي پر هغه انسانانو باندي چي پر "بیت الله" باندي کوم رحمتونه اورېږي د هغه رحمتو څخه الله تعالی ما هم بې برخي او بې نصیبه نه پرېږدي، په دې نیت باندي دا روژې نیسم.

- پیغمبرﷺ ورته وویل: ای سړیه! دا ډېره افضله میاشته ده، دا ډیري افضلي ورځي دي او په دې ورځو کي روژه ډېر افضل عبادت دئ. او بیا

ورته وايي: د يوې روژې په بدل کي چي کله يې ته ونيسې، نو الله تعالی ستا په عمل نامه کي د سلو غلامانو د ازادولو ثوابونه ليکي.
او يو بل حديث کي راځي: پريو غلام ازادولو باندي د جنت وعده ده.
ليکن پيغمبر ﷺ هغه نوجوان ته وايي: چي د يوې روژې په بدل کي ستا د (۱۰۰) غلامانو د آزادولو ثواب ليکل کيږي او د يوې روژې په بدل کي الله تعالی ستا په عمل نامه کي د سلو اوښانو قربانۍ کولو او خيراتولو ثواب ليکي او د يوې روژې په بدل کي الله تعالی ستا په عمل نامه کي د سلو آسانو چي مجاهدينو ته يې ورکړې هغوی پر دې باندي جهاد کوي ددې ثواب الله تعالی ليکي.
نو د هري روژې په بدل کي د (۱۰۰) غلامانو آزادولو ثواب، د سلو اوښانو قرباني کولو ثواب او مجاهدينو ته د سلو (۱۰۰) آسانو صدقه کولو ثواب ميلاويږي.
او بيا ورته وايي: چي کله دا ورځي رواني وي، رواني وي، رواني وي اتم ته ورسېدې، نو په اتم کي دا حساب د سلو څخه پورته سي او و زرو ته ورسيږي يعني مخکي د هري روژې په بدل کي د (۱۰۰) غلامانو او د (۱۰۰) اوښانو او د سلو آسانو ثواب وو او اوس دا حساب زرو ته ورسېدئ.
نو د اتم د ورځي د روژې ثواب د (۱۰۰۰) غلامانو آزادولو ثواب، د (۱۰۰۰) اوښانو قرباني کولو ثواب او دغه رنګه د (۱۰۰۰) آسانو چي سړی يې مجاهدينو ته په صدقه کي ورکړي ددې ثواب پيدا کيږي.
او بيا ورته وايي: سړيه! چي کله د اتم څخه واوښتې او نهم ته ورسېدې، نو هغه ثواب د زرو بجای دوه زره ته ورسيږي، بيا د نهم د روژې په بدل کي الله جل جلاله تا ته د (۲۰۰۰) غلامانو د ازادولو ثواب درکوي او د (۲۰۰۰) اوښانو د قرباني کولو ثواب درکوي او د (۲۰۰۰) آسانو مجاهدينو ته د صدقه کولو ثواب درکوي.

نو پیغمبر ﷺ هغه نوجوان ته په دې شکل د دې فضیلت بیانوي.(۱)

## د نهم د ورځي روژه د عاشورئ په پرتله:

یو د نهم د ورځي روژه ده او یو د عاشورلی د ورځي روژه ده چي د محرم لسمه ورځ ده او پر دې باندي علماوو اتفاق کړی دئ چي د نهم د ورځي روژه الله تعالی په دوو کلو روژه شماري او د عاشورلی د ورځي روژه کچیري الله جل جلاله چا ته ور نصیب کړي.

نو د هغې ورځي روژه الله تعالی د یو کال په روژو باندي شماري، چي کله سړي ته د نهم د ورځي روژه الله تعالی په نصیب ورکړله، نو هغه سړی الله تعالی تېر کال هم روژاتي شماري او را روان کال یې هم روژاتي شماري.

او کوم سړي ته چي الله تعالی د عاشورلی د ورځي روژه په نصیب ورکړله، نو هغه صرف یو کال دا تېر کال په روژاتیانو کي شمار دئ.

نو ځکه دا ورځي الله جل جلاله ډېر افضله ورځي بللې دي، نو دویم حکم چي موږ ته متوجه سو هغه حکم دادئ چي دا ورځي باید انسانان په عباداتو کي خرڅي کړي.

## په حدیث شریف کي د لسو ورځو فضیلت:

په تنبیه الغافلین کي لیکلي دي چي حضرت ابو درداء رضي الله عنه به ویل: ای خلکو! دا میاشت راغله او دا د ذوالحجې لس ورځي را و رسېدې په دې کي د خدای تعالی په خاطر دعا ګاني ډېري وکړئ! په دې کي د خدای تعالی په خاطر استغفار او بخښنه ډېره وغواړئ! او په دې کي د خدای تعالی په خاطر صدقه او خیرات ډېر وکړئ!

او بیا ورته وایي: چي ما ستاسو د نبي (محمد رسول الله) څخه اورېدلي دي چي هغه به ویل: چي زما په امت کي هغه سړی هلاک او تباه دئ چي دا ورځي ور

(۱) تنبیه الغافلین صفحه ۳۰۶

باندي راسي او دغسي ور باندي تيري سي، دَی په ځان پوه نه سي، پر ده باندي داسي تيري سي، لکه د کال نوری ورځي چي پر ده باندي تيريږي.

حضرت ابودرداء ﷺ به ویل: ای خلکو! په دې ورځو کي بیا خاص کر د نهم د ورځي ډېر قدر کوئ! چي څومره نېک عمل، خیر او خیرات د چا په وس کیږي، چي څومره استغفار او عبادت د چا په وس کیږي او چي په کوم شي باندي خدای ﷻ ته نزدېکت د چا په وس کیږي، که د روژې په شکل وي او که د نور عبادت په شکل وي هغه وکړئ!

ای خلکو! د نهم د ورځي ډېر قدر وکړئ! ځکه د نهم په ورځ کي الله تعالی داسي خیر او برکت ایښی دئ په خدای ﷻ قسم هغه تر شمار نه لاندي کیږي چي د نهم په ورځ الله ﷻ څومره اندازه خیر او برکت پر انسانانو نازله وي(۱).

## په دې ورځو کي قرباني نه کول:

او چا ته چي لږ وس د قرباني الله تعالی ورکړي، نو په دې ورځو کي باید د قرباني څخه خپل ځان و نه کاږي؛ ځکه پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: ﴿مَنْ وَجَدَ سَعَةً وَ لَمْ يُضَحِّ﴾ چي کوم انسان د قرباني وس او طاقت لري لیکن دَی په حیلو او بهانو د قرباني څخه ځان خلاصوي.

یا وایي: زما خو پلار ژوندی دئ، پلار غریب به په دې نه یي خبر چي زما زوی تول کال څه خرڅوي، څه راټیسي او څه کوي؟ لیکن اولاد یې د اختر په ورځ د بهانه کوي او وایي: بس زما پلار ژوندی دئ زموږ د ټولو یوه قرباني کافي ده.

او چي په کور کي کومي زناني دي پر هغه زنانو باندي قرباني راځي، لیکن دی وایي: چي بس خاوند یې کوي، نو زناني ته هیڅ ضرورت نسته.

نو پیغمبر ﷺ وایي: ﴿مَنْ كَانَ لَهُ سَعَةٌ﴾ چي کوم څوک وس لري او په ځان به پوه دئ چي پر ما قرباني سته، لیکن ﴿وَ لَمْ يُضَحِّ﴾ قرباني نه کوي ﴿فَلَا يَقْرَبَنَّ مُصَلَّانَا﴾(۱)

---

(۱) تنبیه الغافلین صفحه ۳۰٦

زموږ عیدګاه ته دي نه راځي، هغه د مسلمانانو په عیدګاه کي د شمولیت حق نه لري.
د مسلمانانو په عیدګاه کي چي د خدای ﷻ د طرفه پر مسلمانانو کوم رحمتونه راځي دَی په هغه رحمتو کي برخه نه سي پیدا کولای.
نو حضرت ابودرداء ﷺ به ویل: چي کله مو څه وس ورسیږي او څه طاقت مو کار وکړي که انسان د پسه وس نه لري، نو کم از کم د غوایي حصه د قربانۍ دي ونیسي، که انسان د ډېرو پیسو وس نه لري، نو په لږو پیسو دي اضحیه وکړي.
لیکن چي کوم انسان وس او طاقت د اضحیې لري؛ مګر په حیلو او بهانو یې نه کوي، نو پیغمبر ﷺ وایي: چي ددې حق داره نه دئ چي زما د امت په عیدګاه کي شامل سي.

## په دې ورځو کي د آخرت فکر کول:

ګوری! د انسانانو مخته ډېري ستړي راروانی دي، یو د انسان د دنیا زندګي ده چي دا موږ او تاسو اوس پکښي روان یو او یو د مرګ څخه ورسته زندګي ده چي راروانه ده.
د دنیا د زندګۍ مشکلاتِ حل کول ډېر اسانه کار دئ، که د بچیانو د نفقې مسئله راسي، که د بچیانو د کېږې مسئله راسي او که د بچیانو د ناجوړۍ مسئله راسي ددې حل ډېر اسانه دئ؛ ځکه د انسان معاونین ډېر وي، د انسان کومک کونکي ډېر وي.
مور او پلار دواړه د بچیانو کومک کوي او بچیان د مور او پلار کومک کوي او خاوند د زناني کومک کوي زنانه د خاوند کومک کوي. او دغه رنګه په دې کي هر وروړ د خور کومک کوي او خور د ورور کومک کوي، نو په دې کي د سړي معاونین او کومکیان ډېر زیات یي.

(۱) ابن ماجه، حدیث نمبر: ۳۱۲۳

نو ځکه دا مسئلې حل کول او دا مسئلې خلاصول ډېر اسانه دي، لیکن زموږ او ستاسو مسلمانانو دا عقیده ده چې پر دې دنیا باندې زندګي نه ده ختم، بلکه دا صرف زموږ دپاره یو خوب دئ، دا صرف زموږ دپاره یو امتحان ګاه ده چې د یو څه وخت دپاره راغلي یو.

زموږ او ستاسو زندګي هلته شروع کیږي چې د آخرت توري کندي ته ور شوه سو، لیکن په هغه زندګي کي څوک د چا سره وفا کوي؟ په هغه زندګي کي به د سړي معاون څه وي؟ که مشکل راغلی په هغه زندګي کي به د سړي کومک والا څوک وي؟ د زکندن په مشکلاتو کي بغیر د نېک عمله بیا هیڅ شی انسان ته په ښه نه ورځي؛ نه مال، نه دولت، نه بچیان او نه قریب په ښه ورځي.

ځکه چې کله د زکندن وخت راسي او عزرائیل علیه السلام راسي، نو بچیان به هم سرته درته ولاړ وي او د پیسو په زور به ډاکټر هم درته ولاړ وي، لیکن چې کله ستا ساه غوټې شروع کړي، نو هغه بچیان به وایي چې ډاکټر صاحب بس اوس یې پرېږده! او کله چې بچیان ډاکټر ته نغرې کړي چې ته یو څه په وکړه! او ډاکټر به ورته وایي چې خلکو! اوس تر وخت تېر سو.

او بیا به داسي وخت راځي چې دغه بچیان او ډاکټر او دغه بلد خلک به ستا د سترګو څخه غائب سي.

په دغه وخت به د عذاب یا د رحمت فرښتې د نابلده انسانانو په شکل یا د نابلده مخلوق په شکل ستا و مخ ته حاضري سي، نو هغه خاضر به در څخه غائب سي او غائب به در ته حاضر سي.

بیا به په دې وخت کي ستا په دې سر خلاص سي چې هغه بچیان څه سو چې ما سهار او ماښام د هغوی دپاره یو کړی وو او نن هغوی زما په کوم ګټه راغله؟ هغه زما مال او دولت څه سو چې ما سهار او ماښام د هغه دپاره شپه او ورځ یو کړې وه او نن زما په کومه ګټه راځي؟

په دې وخت کې به تا ته پته ولګیږي چې ستا سره وفادار څوک دي. په دې وخت کې یو شی وفاداره دئ.

## دآخرت په باره کې وفادار صرف نېک عمل دئ:

هغه نېک عمل، هغه عبادات او هغه اجر او مزدوري چې تا ګټلې ده هغه ستا سره وفاداره ده او د هغه وفاداره ګټلو دپاره او د هغه وفاداره د ځانه سره د مل کولو دپاره یقینا چې کومې لس ورځې الله تعالی موږ ته راکړې دي ددې رنګه ورځې بیا په ټوله کال کې نه راځي.
نو ځکه ابو درداء رضی الله عنه وايي چې پېغمبر ﷺ وفرمایل: زما په امت کې دي هلاک هغه سړی وي چې دا لس ورځې په غفلت کې ځني تیري سي.

## د نېک عمل وفاداري:

پېغمبر ﷺ د صحابه کرامو رضی الله عنهم څخه پوښتنه کوي صحابه ناست دي ور ته وايي: زه به یو خبره در ته وکړم، هغه ورته وايي: خود یې راته وکړه ای د الله رسوله! دَی مبارک ورته وايي: ګورئ! یو سړی درې وروڼه لري او د مرګ وخت راغلی د یوه ورور څخه یې پوښتنه وکړه چې وروره! ته به تر کومه وخته ما ته په ښه راځې او زما سره به څومره وفا وکړې؟
نو هغه ورته وايي: وروره! چې کله دې سترګې د دنیا څخه پټې سوې او دا دوه رمقه ساه دې تر سږمو وخته، نو زه در څخه ولاړم پردی او بیګانه سوم، بیا نه ته ما پېژنې او نه زه تا پیژنم، زما وفا تر دغه ځایه پوري ده.
دا سړي بیا د دوهم ورور څخه پوښتنه وکړه چې وروره! ته به تر کومه وخته زما سره وفا کوې؟
هغه ورته وايي: وروره! تر مرګه یې در سره کوم، د علاج په خاطر وفا در سره کوم او چې مړ سوې تر هدیرې وړولو پوري وفا در سره کوم، لیکن چې د قبر په

توره کنده کې کښېښنول سوې بیا نو ته پخپل کار پوه سوې زه په خپل کار بیا نه
زه تا پیژنم نه ته ما پیژنې.
بیا هغه سړی دریم ورور ته وایي: وروره! ته تر کومه وخته وفا را سره کولای
سې؟
هغه ورته وایي: ای وروره! چي د قبر په توره کنده کي کښېښنول سې هلته دي
همدرد او غمخواره زه یم، چي د قبر په توره تیاره کي د مخلوق څخه نا امیده سې
هلته دي چراغ او رڼا زه یم، او د قبر په یوازي والي کي دي مجلسي او همراه زه
یم، او چي د قیامت په میدان کي را پورته سې هلته به زه در سره یم، او چي کله پر
"پل صراط" تېرېږې زه به دي کومکي یم، چي کله مي جنت ته د ننه کړې بیا به زه
در څخه ولاړ سم.
پیغمبرﷺ وایي:
- هر انسان دا درې ورونه لري، ایا په دې درو ورونو کي کوم یو زیات
وفاداره دئ؟
- صحابه کرام ورته وایي: اخیرنی ورور تر ټولو زیات وفاداره دئ.
- پیغمبرﷺ ورته وایي: اول ورور چي هغه ورته ویل چي زه دي صرف د
ساه ختلو پوري ملګری یم نور بیا زه پردی یم هغه ددې انسان مال او
دولت دئ، نو مال او دولت د سړي سره تر کومه وخته وفا کوي؟ صرف
تر دې وخته پوري چي د انسان ساه وخته بیا هغه ستا مال او دولت ستا
نه دئ.

زکندن چي را نژدې سو بیا که ته وایي: زما مال یې د فلانکي او د فلانکي، هغه
هیڅ د فلانکي نه کېږي، هغه وختي د وارثانو سو د مال او دولت او د دنیا د
رعب او دبدبې او د دنیا د سلطنت او د حکومت د انسانه سره په دې شکل وفا

ده، نو هغه صرف تر دې حده پورې د انسانه سره وفا کوي چې د انسان ساه وخته هغه بیا د انسانه سره وفا نه کوي.(۱)

## د واثق بالله د مرګ واقعه:

واثق بالله دا د "بنو عباسیه وو" ډېر زورور حکمران وو، "بنو عباسیه" زموږ ځخه مخکې د پیغمبر ﷺ ځخه وروسته یو خاندان وو، درې سوه کاله یې حکومت وکړئ، او په دوی کې ډېر جابر حکمران هغه "واثق بالله" وو، هغه ته دومره رعب او د بدبه خدای پاک ﷻ ورکړې وه چې په ټوله زندګي کې چا مخامخ په پوره انداز د ده سترګو ته نه سوای کتلای او نه یې وکتل.

او ده په سترګو کې یو قسم هیبت پروت وو چې په چا کې دومره جرأت نه وو چې دا سترګې یې ده په سترګو کې اچولې وای، او ډېر د وخت ظالم او جابر حکمران وو، په زرو زرو انسانان ضرف د ده تر خپله توره تېر سو، او غالبًا د مځکې پر ځلور مه حصه ده حکومت وو.

چې کله وخت د مرګ را و رسېدئ، زکندن راغلئ، نو د "بنوعباسیه" په شاهي محل کې پروت دئ او هغه شاهي "عباسیه" چینه باندې هواره ده.

نو یو وزیر په دې نیت چینه ځني پورته کړله چې ایا مړ دئ که لا ژوندی دئ، ده سترګې پر را واړولې، چې کله هغه دا سترګې ولیدلې، نو هغه پر شا باندې غوځار سو ده د سترګو د رعب او دبدبې د وجې ځخه.

لږ ګړی بعد په دې چینه کې ده د سترګو په برابرې کې یو شی ښوري او حرکت کوي، نو هغه چې ژر چینه ځني پورته کړه هغه سترګې چې په کوم شکل رعب داره وې یو "مږک" راغلی دئ او سترګې یې دواړې ځني خوړلې دي او دی مړ دئ.

---

(۱) بیانات جمیل، جلد ۲، صفحه نمبر: ۴۰۵

اوس دې ته انسانان حیران سوه چې د "بنو عباسیه" په دې محل کې د کومې
خوا "مړګ" راغلی، په هغه کې پنځه دېرش زره (۳۵۰۰۰) پردې هواري وې،
چې په هغه کې دوولس نیم زره (۱۲۵۰۰) صرف په سونا او سپینو زرو جوړې
وې، لیکن چې کله وزیر په دې پوه سو چې د "واثق بالله" ساه ختلې ده.
نو ژر یې هغه چپنه ځني را وغورځوله او په پیتي (صندوق) کې یې پټه کړله، په
دې نیت باندې چې را زوان "خلیفه" به ما ته زجر راکړي او هغه به وایي دا زما
چپنه وه تا په وخت د مرګ کې څنګه پرده باندې اچولې وه.
نو د هغه چپنې د دې حکمران سره تر دغه حده وفا وه، نو د مال او دولت او رعب
او دبدبې تر دې وخته پورې د انسان سره وفا وي.(۱)
او دویم چې کوم ورور ورته وویل: چې زه تر قبره پورې در سره ځم، نو هغه د
سړي قریبان دي، هغوی صرف تر قبره پورې د سړي سره تلای سي.
نو چې د قبر د دوری ختنتي په سړي پسي کنبښنول سوې بیا نو دی په خپل حال
ښه پوهیږي، نور نو د ورور او قریبانو د ده سره ملګرتیا ختمه سوه او تر دغ
ځایه د دوی رفاقت او ملګري وه قبر ته نه سي ور سره تللای.

## د مرګه څخه وروسته د قریبانو لاتعلقي:

په یو حدیث شریف کې راځي چې کله انسانان پر قبر باندې خاوري را واړي
نو یو ملائکه یو مټ د خاورو ډک کړي او پر دې ولاړو خلګو باندې یې وپاشي
او دا خاوري د انسانانو په سترګو کې ولویږي.
ملائکه ورته وایي چې ځئ! د دې بعده نه تاسو دی پیژنئ او نه دی تاسو پیژني
نو قریبان چې راسي تر درو ورځو پورې خو لا غم وي، لیکن د درو ورځ
وروسته هغه غریب په سوو کلونه او په زرو کلونه په هغه خاورو کې پروت دی

(۱) بیانات جمیل، جلد ۲، صفحه نمبر: ۴۰۸

یا لسیان پیدا سي، یا کروسیان پیدا سي چا ته پته نه وي چي دلته څوک وو که نه وو.

او دریم چي کوم ورور په قبر کي سري ته په ښه ورځي، یا د قیامت په میدان کي په ښه ورځي او یا د پل صراط په تېرېدو کي په ښه ورځي هغه ورور د انسان نېک عمل دئ چي په دې دنیا کي چا ښه وکړه هغه شی به یبا ستا په قبر کي ستا په توره ډوره کي ستا دپاره ځراغ وي، ستا دپاره به غمخوار وي او ستا سره به خبري کونکی وي.

یا به نه د قیامت په میدان کي ستا څخه جلا کیږي او نه به ده "پل صراط" په دوران کي ستا څخه جلا کیږي او تر هغه پوري چي تا خپل اصلي استوګن ځای ته رسوي ستا څخه به نه جلا کیږي.

نو پیغمبر ﷺ صحابه کرامو ﷺ ته وایي: چي په دې ورونو کي کوم ورور وفادار دئ، نو صحابه کرامو ﷺ ټولو په یوه پلا ور ته وویل: کوم ورور چي د انسان سره تر اخیره پوري وپالي هغه د وفا مستحق ورور دئ.

او په کار دا دي چي هغه ته انسان د وفادار په نظر وګوري. او په کار دادي چي سړی هغه ورور د ځان دپاره پیدا کړي، نو هغه د انسان نېک عمل دئ.

ما در ته وویل چي د دنیاپه زندګي کي خو د دنیا مشکلات په هر شکل تېرېږي، په دنیا کي که هر مشکل راسي د سړي شل غمخواران یې، شل کومکیان یې وي او د سړي شل معاونین وي.

لیکن چي د قبرتوري کندي ته سړی ور ورسیږي یبا به سړي ته درک ولګیږي چي ایا زما معاونین څه سو؟ زما قریبان څه سوه؟ زما مال او دولت څه سو؟ هغه زما جائیداد څه سو؟ هغه زما حالات څه سو؟ هغه زما رعب او دبدبه هغه سلطنت او حکومت پر کومه باندي ولاړئ؟ او ددې درک خاص د زکندن پر وخت سړي ته لګیږي.

## د يو بوډا صحابي واقعه:

يو صحابي به د مدينې منورې د حواليو او اطرافو څخه راتلی، (حوالي د مدينې منورې شا او خوا اطرافو ته ويل کيږي) او سپين ږيری بوډا سړی وو، نو لمونځ به يې مسجد نبوي ته را رسوئ، څه زمانه وسوه پيغمبرﷺ هغه سپين ږيری بوډا نه وليدئ، نو د صحابه کرامو څخه يې پوښتنه وکړه:

- هغه بوډا څه سو، چيري دئ، اوس نه معلوميږي؟
- نو هغوی ورته وايي: يارسول اللهﷺ! هغه خو وفات سو.
- پيغمبرﷺ ورته وايي: تاسو زه ولي نه خبرولم چي زه يې جنازې ته ورغلی وای او چي موږ يې فاتحې ته ورغلي وای؟

نو پيغمبرﷺ پر دې باندی ډېر افسوس وکړئ، ددې څخه يې وروسته صحابه کرامو ته وويل: درځئ چې اوس يې فاتحې ته ورسو!

پيغمبر د صحابه کرامو سره راغلی د هغه سپين ږيري کور ته، بچيان او قريبان يې ناست دي فاتحه يې اخلي، د فاتحې په دوران کې دا قريبانو د پيغمبرﷺ څخه يوه پوښتنه وکړه او ورته وايي:

- ای د الله رسوله! دَی چي کله وفات کېدئ چي حالات د زکندن يې وه، نو يوه او دوې خبري يې وکړې، په هغه خبرو زموږ سر نه سو خلاص، تر اوسه پوري مو د هغه خبرو سوچ او فکر په دماغ کي دئ چي په دا خبرو کي دده څه مطلب ؤ.
- پيغمبرﷺ ورته وايي: چي څه خبري يې وکړې؟
- دوی ورته وايي: چي کله يې د زکندن وخت راغلئ، ده ډېر په افسوس وژړل او باره يې دخولې څخه دغه خبره را وايستله، اول ځل يې وويل: ﴿لَيتَ کَامِلًا﴾ او دويم ځل يې وژړل او بيا يې وويل: ﴿لَيتَ جَدِيدًا﴾ او دريم ځل يې بيا وژړل او ويې ويل: ﴿لَيتَ بَعِيدًا﴾

﴿لَيتَ كَامِلًا﴾ ددې معنٰی دا ده چې کاشکې هغه شی پوره وای! نور یې هیڅ نه وویل.
او ﴿لَيتَ جَدِيدًا﴾ کاشکې هغه شی نوی وای!
او ﴿لَيتَ بَعِيدًا﴾ کاشکې هغه شی یو څه لیری وای!
قریبانو یې وویل: ای د الله رسوله! دغه دوې درې خبرې یې وکړې په ډېر افسوس او په ډېره ژړا کې یې وکړې، نو زموږ په دې باندې سر نه سو خلاص چې ددې سړي اوس څه مطلب وو؟
پیغمبرﷺ د جبرئیل امین په انتظار دئ، جبرئیل امین الله تعالی ور ته را واستوی او ورته وایي: ای پیغمبره! جواب ورکړه او ورته ووایه: چې کله د زکندن وخت راغلئ.
نو یو وخت ده یو مسکین ته نفقه په خیرات کې ورکوله نو په کور کې صرف یوه ډوډۍ وه هغه یې نیمی کړه، نیمه یې دې مسکین ته ورکړه او نیمه یې کور ته خوندي کړه او پخپله یې وخوړه.
نن چې د زکندن پر وخت د هغې ګولې اجر او مزدوري ښکاره سوه، نو ده ډېر ارمان او افسوس وکړئ او ویې ویل: ﴿لَيتَ كَامِلًا﴾ کاش کاش په هغه ورځ مې پوره ډوډۍ ورکړی وای، نن به ما ته د نیمې ګولې اجر نه وای، بلکه نن به ما ته د پوره ګولې اجر وای!
دویمه خبره چې ﴿لَيتَ جَدِيدًا﴾ چې کاشکې نوی وای، یو وخت مسجد ته راغلئ، نو د یخ زمانه وه ده دوه کوټه اغوستې وه، یو کوټ یو څه نوی دئ او هغه بل یو څه زوړ دئ، یو بل صحابي لڅ دئ، مسکین دئ، نو ده دا زوړ کوټ ور وکښئ او په هغه صحابي یې واغوستئ.
نو نن چې ده د هغه اجر او مزدوري ولیده، نو په ډېر ارمان او افسوس یې وویل: ﴿لَيتَ جَدِيدًا﴾ کاشکې په هغه ورځ ما نوی کوټ و هغه ته ورکړی وای، زوړ مې نه وای ورکړی، نو نن به ما ته د نوي کوټ اجر په پوره او ښه شکل رسېدلی وای.

او دریم چونکه دده کور د مسجد نبوي څخه لیري وو، نو مسجد ته به راتلی او چي کله ددې تګ د مسجد نبوي اجر او مزدوري ده ولیدله چي د زکندن پر حالت خدای جل جلاله و ده ته ور ښکاره کړه، نو ده دا ارمان وکړئ چي ﴿لَيْتَ بَعِيْدًا﴾ کاشکي مسجد نبوي څه نور را څخه لیري وای، چي زما ګامونه تر مسجد نبوي پوري را اخیستل کېدای، نو کشکي هغه مسجدنبوي زما څخه څه نور هم لیري وای!([1]).

نو بیا د زکندن پر حال باندي د دنیا د اعمالو درک سړي ته معلومېږي او د زکندن پر وخت که ته چیغي او بغاري ووهې، که ته نعرې ووهې، که ته افسوس وکې بیا سړي ته یو شی په لاس نه ورځي.

## د دنیا په هکله د حضرت علي رضي الله عنه قول:

په تیرو جمعو کي ما درته وویل: چي حضرت علي رضي الله عنه وایي: ﴿اَلنَّاسُ نِيَامٌ﴾ دا د دنیا خلک ټول بیده دي یو سړي ته هم درک نه لګیږي چي زه څه کوم ﴿إِذَا مَاتُوْا اِنْتَبَهُوْا﴾([2]) چې د قبر په ډوره کي کښېښول سي، نو را بیداره به سي چي هغه ما چي خوب لیدئ زما بچیان وو، زما قلعه ګاني وې، زما مال او دولت وو هغه اوس څه سوه.

یو ګړی به د انسان لا پیاد وي، لکه سړي چي د شپې خوب لیدلی وي چي د ورځي حقیقي زندګي شروع سي هغه د شپې خوب ځیني هېر سي، نو د انسان به هم په قبر کي دا د دنیا مال او دولت دا د دنیا حالات دا یو ځو ورځي به یې څه لږ ګړی په دماغ کي ګرځي په یاد به یې وي.

---

([1]) وصایا الرسول ﷺ جلد: ۱ صفحه: ۳۱۹

([2]) روح المعاني، جزء: ۱۱، صفحه: ۲۱۴

ليکن آخر چي فرښتې ور ته راسي يا د عذاب يا د رحمت هغه د دنيا مال او دولت به بالکل د دماغه څني ووځي، لکه انسان چي د شپې خوب ليدلی وي دوره يې يو کړی لا پياد وي لږ کړی بعد يې د دماغه ووځي.

## د دنيا حقيقت:

نو دا يو حقيقت دئ چي دنيا روانه ده او دا هم يو حقيقت دئ چي آخرت را روان دئ، د انسان زړه يې مني که نه مني موږ مسلمانان يو د قبر توره کنده موږ ته ګوري، د قيامت ميدان موږ ته ګوري، په اتلس زره (۱۸۰۰۰) قومه کي د محمد رسول الله ﷺ په مخ کي د خدای ﷻ په حضور کي خپل حساب او کتاب پېشول زموږ څخه غواړي.

او پر پل صراط تېرېدل غواړي، دا ټوله منزلونه درانه منزلونه دي او دا ټوله موږ ته اوس مخ ته را روان دي او هر سړی دا کوشش کوي چي دا منزلونه ما ته اسانه سي.

ما در ته وويل: که يې سړی د اسانی طلب کوي، نو په کال دوولس مياشتي کي پر سړي د دې منزلو د اسانی داسي ورځي نه راځي لکه دا اوس.

پيغمبر ﷺ فرمايي: ﴿يَعْدِلُ صِيَامُ كُلِّ يَوْمٍ سَنَةً﴾ د هري ورځي روژه د کال د روژې سره برابره ده ﴿وَ يَعْدِلُ قِيَامُ كُلِّ لَيْلَةٍ لَيْلَةَ الْقَدْرِ﴾(۱) او د هري شپې عبادت د ليلة القدر سره برابر دئ.

## د دې شپو د قيام کولو اسانه طريقه:

او د شپې عبادت دا نه معنی چي ټوله شپه به ته په عبادت باندي تېروې، بلکه صرف ماخستن چي بيديږې يو سورت تلاوت وکړه بس بيده سه! سهار د اذانو څخه يو کړی مخکي راکښېنه او دوه رکعته لمونځ وکړه خدای ﷻ ته دعا وکړه، نو الله تعالی په داسي عمل کولو سره ټوله شپه په عبادت کي در ليکي.

(۱) ترمذي شريف حديث نمبر ۷۵۸

لیکن که دا هم د سړي په طاقت نه کیږي چي نه ماخستن وظیفه کولای سم او نه د شپې را پورته کېدای سم دا تکلیف مي هم پر ځان نه دئ پېرزو، نو کم از کم دومره اهتمام خو دي وکړي چي په دې شپو کي د ماخستن لمونځ په جماعت وي.

د کور مشر دي ټوله کشرانو ته ووایي چي درځئ لمانځه ته! او بیا د سهار د لمانځه اهتمام په جماعت وکړي، د کور مشر دي ټول کشران را ولاړ کړي.

او د پیغمبر ﷺ حدیث دئ چي کوم چا د ماخستن لمونځ په جماعت وکړئ، نو الله تعالی اول نیمی شپه په عبادت کي ورلیکي او چي کوم چا ته الله تعالی د سهار لمونځ په جماعت په نصیب ورکړي، نو دوهمه نیمی شپه هم الله تعالی په عبادت کي ورلیکي.

نو کم از کم دومره خو به سړی کولای سي که دا د آخرت مسئله د سړي په ذهن کي هر څومره سپکه مسئله وي او یوه زره یې درندوالی په دماغ کي نه راځي دومره دروندوالی خو به راځي چي سړی پر ځان باندي د دې خبرې اهتمام وکړي چي زه او خپل بچیان او کوم خلک چي زما تر خبره لاندي دي هغه به په دې شپو کي د ماخستن لمونځ هم په جماعت کوو او د سهار لمونځ به هم په جماعت کوو.

او د الله تعالی د رحمته څخه هیڅ لیري نه ده چي الله تعالی به د دې دوو لمونځو په جماعت کولو باندي د ټولي شپې ثواب په عملنامه کي ور ولیکي او د دا ټولو شپو په عبادت به الله جل جلاله د لیلة القدر د شپو غوندي ثواب ور نصیب کړي او الله تعالی به یې و خپل ځان ته په مقبولو بندګانو کي شمار کړي.

الله جل جلاله دي په دې څو مختصرو خبرو د عمل کولو توفیق را کړي.

وَ آخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ

بسم الله الرحمن الرحيم

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الایه)

# د ذي الحجې د مياشتي فضيلت

(بيان)

مولوي اطيع الله صاحب
استاذ الحديث جامعه اسلاميه (علامه ټاؤن) چمن

ترتيب وتخريج:
مفتي حافظ كليم الله صاحب (فاضل دار العلوم كراچي)
استاذ جامعه اسلاميه (علامه ټاؤن) چمن

مكتبه سلطانيه الهاشميه
كانسی روڈ كوئٹه

| | |
|---|---|
| تقــــــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مــقــــــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشــــاعـت | ثلـــــــــــــــــــــورم |
| تــارنـــــخ | يكم ربيع الثاني ١٤٣٩ بمطابق يكم مي ٢٠١٨ |
| تــعـــــــداد | (١١٠٠) |

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْداً كَثِيراً طَيِّباً مُبَارَكاً فِيْهِ مُبَارَكاً عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَ يَرْضٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهِ خَيْرِ الْهُدٰى وَعَلٰى اٰلِهِ وَاَصْحَابِهِ نُجُوْمِ الْاِهْتِدَاء.

اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قَالَ اللّٰهُ تَبَارَکَ وَتَعَالٰى: ﴿وَالْفَجْرِ، وَلَيَالٍ عَشْرٍ، وَالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ، وَاللَّيْلِ إِذَا يَسْرِ، هَلْ فِي ذٰلِكَ قَسَمٌ لِذِي حِجْرٍ﴾(١).

وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: ﴿اَلدِّيْنُ النَّصِيْحَةُ﴾.(٢)

اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلٰنَا الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْمِ وَنَحْنُ عَلٰى ذٰلکَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ.

## د ذی الحجې د مياشتي فضيلت:

محترمو مشرانو! د ذی الحجې مبارکه مياشته روانه ده او د دې مياشتي اولنی عشره مبارکه ده. په تېره جمعه کی مو ړ دا ويلي وُ چي په کال دوولس مياشتو کي چي څو مره ورځي راځي په هغه ورځو کي الله تعالی دې لسو ورځو ته زيات فضيلت ورکړی دئ.

او ددې لسو ورځو غوندي فضيلت والا ورځي الله تعالی بيا په ټوله کال کي نه دي پيدا کړي يعني چي کوم فضيلت الله تعالی دې لسو ورځو ته ورکړی دئ هغه شان د فضيلت والا ورځي بيا په دې کال کی نه راځي.

---

(١) الفجر آيت ١، ٢، ٣، ۴، ۵.

(٢) بخاري، حديث نمبر ۵٧

او بیا خاص په دې لسو ورځو کې چې کو مې اخیرنۍ ورځې دئ چې اتمه او نهمه ورځ ده دې ته چې الله تعالی کوم فضیلت ورکړی دئ بیا په دې نورو ورځو کې دا فضیلت نسته؛ ځکه د پیغمبر علیه السلام حدیث دئ چې د آخیرنۍ ورځې د ذوالحجې روژه نیول کچیرې الله تعالی یو چا ته په نصیب ورکړې، نو ددې یوې روژې په وجه الله تعالی دا انسان دوه کاله روژه نیونکی شماري. او ددې یوې روژې په وجه به الله تعالی د دووکالو یو کال تېر سوی او یو راتلونکې کال گناهونه ور معافه وي.

## په کائناتو کې د بعضو پر بعضو فضیلت:

حضرت عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه فرمایي: چې د الله تعالی په حضور کی بعضې کائنات پر بعضو فضیلت لری. دَی مبارک فرمایي: چې په کال کی درې سوه او شپیته ورځې راځي.

په دې درې سوه شپېتو ورځو کې چې الله تعالی څلورو ورځو ته کوم فضیلت ورکړی دئ نو بیا په دې درې سوه شپیته ورځو کې هغه فضیلت په نورو ورځو کې نسته. او دارنگه په کال کی دوولس میاشتې راځي په دوولس میاشتو کې الله تعالی څلورو میاشتو ته داسې فضیلت ورکړی دئ چې هغه بیا په دې نورو دوولسو میاشتو کې نسته.

داغه رنگه په زمانو کې الله تعالی څلورو زمانو ته داسې فضیلت ورکړی دئ چې د مځکې پر مخ په نورو زمانو کې هغه فضیلت بیا نسته.

او حضرت عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه به فرمایل: چې پیغمبر علیه السلام به ویل چې څلور انسانان به د ټولو څخه مخکی جنت ته ځي او څلور انسانان به دارنگه وي چې جنت به د هغوی شوقمند وي او چې پر کومه دروازه باندی راځي جنت به د هغوی ته آواز ورکوي او مرحبا به ورته وایي.

## څلور د فضیلت والا ورځې:

کومو ورځو ته چې الله تعالی په دې کال کې فضیلت ورکړی دئ هغه څلور ورځې دي:

۱. اوله د جمعې مبارکه ورځ ده؛ ځکه الله تعالی په دې کې یو داسې ګړی (وخت) ایښی دئ کچیرې په هغه ګړي کې انسان کوم حاجت او کومه دعا وغواړي زمونږ دا عقیده ده چې الله تعالی یې ضرور قبلوي.

۲. دویمه ورځ د عرفات ده، دې ورځې ته هم الله تعالی ډېر فضیلت ورکړی دئ چې د ذوالحجې مبارکې نهمه ورځ ده؛ ځکه په حدیث شریف کې راځي چې د دې ورځې روژه چې انسان ونیسي، نو دوه کاله به په زندګۍ کې دی د الله ﷻ په حضور کې روژاتې شمارل کیږي او د یو کال مخکښې او یو کال وروستنې ګناه به یې معافیږي.

۳. او دریم چې کله د قربانۍ ورځ راسي چې د خدای ﷻ و حضور ته انسان قرباني ذبح کوي، نو دې ورځې ته هم الله تعالی ډېر فضیلت ورکړی دئ. الله تعالی ملائکو ته بطور فخر فرمایي: تاسو زما بندګانو ته وګورئ! چې دغه زما حکم دئ دوی یې په څومره ښه طریقه سره تعمیل او سر ته رسونه کوي.
او چې کله د قربانۍ د وینې څاڅکی مځکې ته رسیږي، نو د هغه څخه مخکې د الله تعالی په حضور کې قبولیت پیدا کوي.

۴. او څلورم د کوچنې اختر مبارکه ورځ ده، چې کله د عیدګاه په میدان کې خلک را جمع سي، نو الله تعالی بطور فخر ملائکو ته فرمایي: چې کله یو مزدور مزدوري وکړي او بیا د خپلې مزدورۍ بدل غواړي او د هغه

مطالبه کوي د هغوی سره باید څه وسي؟ نو ملائکي وایي: د هغوی سره باید دا وسي چي خپله مزدوري پوره پوره ورکول سي.
نو د الله تعالی له طرفه د عیدګاه په میدان کي یو مُنادِی آواز وکړي چي أی خلکو! د الله تعالی له طرفه ستاسو سره دا احسان دئ چي ستاسو بدی ټولي په نیکیانو باندی بدلي سوې او تاسو بخښل سوي یاست د عیدګاه د میدانه څخه د خپلو کورو پر طرف ولاړ سئ!
کومو څلورو ورځو ته چي الله تعالی په ورځو کي فضیلت ورکړی دئ د جمعې مبارکه ورځ ده، د ذي الحجې نهمه ورځ ده، د لوی اختر او قربانۍ ورځ ده او د کوچني اختر ورځ ده. چي بیا په کال دوولس میاشتو کي چي درې سوه شپېته (۳۶۰) ورځي راځي دا رنګه د فضیلت والا ورځي پر انسانانو باندي نه راځي.

## څلور د فضیلت والا میاشتي:

حضرت عبدالله ﷺ فرمایي: چي په دوولس میاشتو کي څلورو میاشتو ته زیات فضیلت الله تعالی ورکړی دئ.
یو د رجب میاشته ده چي موږ او تاسي یې په اصطلاح د "خدای تعالی" میاشت بولو، او درې نوري "اَشهُرُ الحرُم" دي چي پرله پسې دي: ذی القعده ده، ذی الحجه ده چي ما او تا اوس پکښې روان یو او وروسته "محرم" دئ، دې ته "اشهر الحرم" ویل کیږي.
په دې میاشته کي چي عبادت الله تعالی ته څومره مقبول ګرځي او په دې میاشته کي چي د عبادت په خاطر انسان الله تعالی ته څومره نژدې کیږي دغه فضیلت او مقبولیت د عبادت او د عبادت په ذریعه و الله تعالی ته نزدیکت بیا په کال دوولس میاشتو کي پر انسان باندي نه راځي.

## څلور مقبولي زناني:

په ټولو زنانو کي الله تعالی ته څلور زناني ډیري مقبولي زناني دي:

۱. خديجه بنت خُويلِد رضي الله عنها چي د پیغمبر ﷺ اولنی کور والا وه.
۲. مريم بنت عِمران چي د حضرت عیسی علیه السلام مور مبارکه وه.
۳. آسيه بنت مزاحم چي د فرعون کور والا وه.
۴. فاطمة الزهراء بنت محمد رسول الله ﷺ د پیغمبر ﷺ لور مبارکه وه.

د مځکي پر مخ چي څومره زنانې پیدا سوي دي الله تعالی ددې زنانو په مثل فضيلت په یوه زنانه کي هم نه دئ پیدا کړی او نه دومره فضيلت په نورو زنانو کي سته.

## څلور مخکني جنتيان:

ما درته وويل چي حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه به ويل: چي څلور کسان به د ټولو کسانو څخه مخکي جنت ته ځي:

۱. محمد رسول الله ﷺ به په عربو کي وي چي د هغه سره به خپل بیرغ د حمد ورسره وي او د ده تر بيرغ لاندي به اهل عرب جنت ته دده په واسطه ځي.
۲. حضرت بلال حبشي رضي الله عنه به په حبشو کي وي.
۳. حضرت صُهيب رومي رضي الله عنه به په اهل روم والا کي د ټولو څخه مخکي جنت ته ځي.
۴. حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه به په فارس والا کې د ټولو د مخه جنت ته ځي.

## څلور هغه کسان چي جنت يې شوق لري:

دغه رنګه پیغمبر ﷺ به ويل: چي څلور کسان داسي دي چي جنت به د ټولو څخه زيات د هغوی شوق مند وي:

۱. حضرت علي رضي الله عنه ته به جنت ډېر شوق مند وي، دده په راتګ باندي به جنت ډېر خوشحاله وي.

۲. حضرت عمار بن ياسر ﷛ دئ.
۳. حضرت سلمان فارسي ﷛ دئ.
۴. حضرت مقداد بن اسود ﷛ دئ.

دې څلورو کسانو ته هغه فضيلت الله تعالى ورکړی دئ چي په ټولو انسانانو کي به جنت ددې کسانو شوق مند وي او ددې څلورو کسانو د راتلو خواهش او شوق به ښکاره کوي.(١)

نو دا د ذوالحجې مبارکي ورځي دي نو دې ورځو ته چي الله تعالى کوم فضيلت ورکړی دئ په کال دوولس مياشتو کي بيا انسان دغسي د مقبول عبادت او فضيلت والا ورځي نه سي پيدا کولای.

## ددې ورځو خاص عبادات:

خو په دې ورځو کي الله تعالى پر انسانانو باندي يو څه خاص عبادات ايښي دي، په هغو عباداتو کي د ټولو څخه اهم ترين عبادت قرباني کول دي، چي د اختر په سهار د عيدګاه څخه وروسته يې انسانان کوي.

د قربانۍ د فضيلت په اړه ډېر احاديث مبارکه منقول دي، لکه د پيغمبر ﷺ حديث دئ:

﴿مَاعَمِلَ ابْنُ آدم مِن عَمَلٍ أَحَبُّ إِلَى اللهِ فِيْ يَوْمِ النَّحْرِ مِنْ إِهْرَاقِ الدَّمِ﴾(٢) يعني په دې لسو ورځو کي ابن آدم (انسان) هيڅ داسي عمل نه سي کولای چي الله تعالى ته دي محبوب وي د وينو تر تويولو.

که په دې ورځو کي يو سړی هر څومره ښه اعمال وکړي، که په دې ورځو کي سړی هر څومره خيراتونه وکړي، که په دې ورځوکي سړی هر څو مره عبادات

(١) ماخوذ از تنبيه الغافلين، صفحه نمبر: ۲۰۸، ۲۰۹
(٢) ابن ماجه حديث نمبر ۳۱۲٦

وکړي، د وينو د تويولو د عبادت څخه ماسوا يو عبادت هم د وينو د تويولو ځاى نه سي نيولاى.

## د قربانۍ فضيلت:

او پيغمبر ﷺ به ويل: ﴿وَاِنَّهُ لَيَأتِيَ يَومَ الْقِيَامَةِ بِاَظْلَافِهَا وَاَوْبَارِهَا وَصُوْفِهَا﴾ د قيامت په ورځ به ددې ښکري راځي، ددې وجغوني به راځي، ددې وړۍ به راځي او دا به د انسانِ د نيکۍ په تله کي تلل کيږي.

﴿وَاِنَّهُ يَقَعُ عِنْدَ اللهِ بِمَكَانٍ قَبلَ اَن يَقَعَهَا عَلَى الاَرْضِ﴾ چي مځکي ته ددې د ويني اول څاڅکى رسيږي د مځکي د رسېدو څخه مخکي به بيا د الله تعالى په حضور کي قبوليت پيدا کړي.

پيغمبر ﷺ به ويل: ﴿فَطِيبُوا بِهَا نَفسًا﴾(۱) چي کله د قربانۍ کولو توفيق الله تعالى درکړي او قرباني د الله تعالى په حضور کي دا رنګه قبوليت پيدا کوي، نو په قربانۍ کولو باندي خپل ځان ډېر خوشحاله کوئ! ځکه په دې ورځو کي دا الله تعالى ته ډېر محبوب عمل دئ او په دې ورځو کي دا ډېر الله تعالى ته مقبول عبادت دئ.

## د فاطمة الزهراء رضي الله عنها پوښتنه:

حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه کوي:

- ﴿مَاهٰذِهِ الأَضَاحِيُّ يَارَسُولَ اللهِ؟﴾ اى د الله رسوله! دا اضحيې څشي دي؟ چي موږ د اختر په ورځ کوم حيوانان حلاله وو او کومي قربانۍ کوو او کومي اضحيې کوو ددې حقيقت څه دئ؟
- نو پيغمبر ﷺ ورته وويل: ﴿هٰذِهِ سُنَّةُ اَبِيكُم اِبرَاهِيم﴾ دا ستاسو د پلار "ابراهيم خليل الله" سنت تاسو ته در پاته دئ.

---

(۱) ترمذي، حديث نمبر: ۱۴۹۳

- حضرت فاطمه رضي الله عنها وايي: ﴿وَ مَا لَنَا فِيهَا يَارَسُولَ اللهِ﴾ الله تعالي مور ته په دې کې څه راکوي؟
- پېغمبر ﷺ ورته وايي: ﴿فَبِكُلِّ شِعرٍ مِّنهُ حَسَنَةٌ﴾ د هر وريښته په مقابله کې يوه نيکي ده.
- حضرت فاطمة الزهراء بنت رسول الله ﷺ بيا پوښتنه څني کوي ﴿وَ إِنْ كَانَ صُوْفًا﴾ کچيري د هغه حيوان پر بدن باندې ورې وي، وريښتان نه وي؟
- پېغمبر ﷺ ورته وايي: ﴿فَبِكُلِّ صُوفٍ مِّنهَا حَسَنَةٌ﴾(۱) د وړيو د هر وريښته په مقابله کې هم الله جل جلاله يوه نيکي درکوي.

## نيکي څه شی ده:

اوس که يو سړی ما ته وايي: نيکي کوم شی دې چې انسان ته د قربانۍ د هر وريښته په مقابل کې ورکول کيږي؟

ما دې ته ويلي وو چې نيکي د آخرت سيکه (پيسه) ده، لکه يو سړی چې په دنيا کې بغير د پيسو خپل ژوند هوسا نه بولي دغه رنګه پر ما او تا باندې د قبر ژوند را روان دئ، د قيامت ميدان را روان دئ هلته بيا بغير د نيکۍ څخه سړی بايد خپل ځان هوسا و نه بولي، لکه په دنيا کې چې د چا سره مال او دولت ډېر ور سره وي، نو هغه ځان ډېر په راحت بولي، نو په آخرت کې چې د چا سره نيکۍ ډيري ورسره وي، نو هغه سړی بيا ځان ډېر په راحت کې بولي.

نيکي ګټل کيږي په دې اضحيه باندې چې پېغمبر ﷺ وايي: دا که چيري د وريښتانو والا حيوان وي، نو د هر وريښته په مقابله کې يوه نيکي ده.

حضرت فاطمه رضي الله عنها ورته وايي: که چيرې د وړی والا حيوان وي؟ نو پېغمبر ﷺ بيا وايي چې د وړی د هر وريښته په مقابل کې هم يوه نيکي ده.

---

(۱) ابن ماجه، حديث نمبر: ۳۱۲۷

نو ځکه ما در ته وويل: په دې ورځو کي نور عبادات هم سته، خو د ټولو څخه زيات اهم دا د قربانۍ عبادت دئ چي ددې مياشتي په لسمه، يوولسمه او دوولسمه باندي وسي.

## خپله قرباني خپله کول يا نژدې ورته درېدل:

حضرت سالم بن جعفر ﷜ يو صحابي دئ، هغه وايي: چي کله پېغمبر ﷺ د حضرت فاطمې ﷞ قرباني کوله، نو پېغمبر ﷺ حضرت فاطمې ﷞ ته وويل: دې خپلی قربانۍ ته نژدې ودرېږه! او بيا يې ورته وويل: چي ای فاطمې! په الله تعالی قسم ددې د هر څاڅکي د مځکي د رسېدو څخه مخکي مخکي الله تعالی ستا د ګناهو مغفرت کوي.

حضرت عمران ابن حصين ﷜ يو بل صحابي دئ، د قريشو سردار دئ، هغه ورته وايي:

- يارسول الله! دا فضيلت ستاسو د اهل بيتو دپاره دئ که د عامو مؤمنانو دپاره دئ؟
- پېغمبر ﷺ ورته وايي: نه، دا د عامو مؤمنانو دپاره دئ، چي کوم سړی قرباني کوي او د قربانۍ د وينو د اول څاڅکي و مځکي ته د رسېدو څخه مخکي مخکي الله تعالی ددې سړي د ګناهو مغفرت کوي([1]).

نو ددې ورځو اهم عبادت يقينًا قرباني ده.

## لويه غلط فهمي:

ليکن د قربانۍ د نصاب په باره کي د خلګو څخه يو څه غلط فهمي کېږي، او بعضې خوانده خلګ او ښه ديندار خلګ هم عام طور په دې غلط فهمي کي مبتلا وي، هغوی دا وايي: چي موږ خو پيسې نه لرو چي پر موږ زکوة وسي، نو

---

([1]) تنبيه الغافلين صفحه ۳۰۹

چي زكٰوة نه را باندي كيږي نو پر موږ باندي قرباني هم نه كيږي، ليكن دا يو قسم غلطي ده.
ګورئ! د زكٰوة دپاره نصاب جلا دئ او د قربانۍ دپاره نصاب جلا دئ. زكٰوة په جلا نصاب پر سړي باندي كيږي او قرباني په جلا نصاب سره پر سړي باندي واجب ګرځي.

## دزكوة نصاب:

دزكوة دپاره نصاب څلور قسمه مال دئ.

۱. سره زر دي.
۲. سپين زر دي.
۳. نقدي دي.
۴. نور د تجارت مال دئ.

په حيواناتو كي چي كوم زكٰوة كيږي د هغوی تفصيل جلا دئ. د حيواناتو څخه ماسوا چي پر سړي باندی زكوة كيږي په دې څلورو شيانو باندي پر كيږي.

۱. د سرو زرو په وجه.
۲. د سپينو زرو په وجه.
۳. د نقدو پيسو په وجه.
۴. د مال تجارت په وجه.

## د قربانۍ نصاب:

ليكن قرباني په دغه څلورو نصابو هم پر سړي باندي كيږي او پنځم نصاب هم لري چي د هغه په پوره كېدو پر انسان واجب ګرځي.
د هغه پنځم نصاب په وجه پر سړي باندی زكوة نه كيږي، ليكن قرباني ور باندي سته. قرباني چي سړي په كور كي تر ضرورت زائد اشياء لري، سامانونه لري او

تر ضرورت زائد اسباب لري او په کال کې يې د استعمال نوبت نه راځي، نو زکوٰة پر هغو شيانو باندي نه کيږي، ليکن قرباني پر هغو باندي کيږي.
نو ځکه د زکوٰة نصاب دا څلور شيان دي او د قرباني نصاب دا پنځه شيان دي.
په دې وجه باندي د يو سړي په کور کې "ټي وي" پروت دئ، د يو سړي په کور کې "ټيپ" پروت دئ، د يو سړي په کور کې "راډيو" پرته ده، د يو سړي په کور کې د ښايست دپاره ښايسته او قيمتي پرده ځړيږي، او د يو سړي په کور کې د ضرورت څخه زائد "الماريٰ" او "تختې" پرتې دي.
او د يو سړي په کورکې داسې لوښي پراته دي چې په کال کې يې هم نه استعمالوي. او يو زناني ته تر درې جوړې زيات "کالي" پراته دي د شريعت په اصطلاح باندي دا ټول د ضرورت اصلي څخه زائد بلل کيږي.
اوس پر دې شيانو باندې پر سړي زکوٰة نه کيږي، ليکن پر دې ټولو شيانو باندي قرباني واجب ګرځي.
نو د قرباني جلا نصاب دئ او د زکوٰة جلا نصاب دئ.
نو دا د انسانانو غلطي ده چې وايي: موږ پيسې نه لرو، نو پر موږ زکوٰة نه کيږي، نو پر موږ باندي قرباني هم نسته.
نو قرباني پر دې سړي باندي کيږي، که څه هم د دې شيانو په لرلو باندي زکوٰة فرض نه ګرځي.

## دوهمه غلط فهمي:

دويمه غلط فهمي داده: د بعض خلګو دا ګمان دئ چې د هغو پر نورو خلګو باندي پيسې باندي دي، يا يې په پور باندي پيسې چا ته ورکړې دئ، يا يې يو شی ور باندي خرڅ کړی دئ، نو هغه پيسې دده لاس ته لا نه دي را رسېدلي، حالانکه دی نور شی نه لري، خو هغه پيسې لري.

نو هغه پیسې که د پور دي که په هر شکل دي چونکه د کوم پور چې د کبنلو طمع وي چې دا پور یو وخت زما لاس ته راځي، نو هغه پور بیا په "نقدو پیسو" شمارل کیږي او د نقدو پیسو د وجود په وخت کې پر سړي قرباني کیږي.
نو د هغه پور د وجود په وخت کې هم پر سړي قرباني کیږي چې د کوم پور سړي ته د کبنلو طمع وي، هغه پور پر سړي باندي په نقدو پیسو شمارل کیږي، که اوس نوري پیسې نه لري پیسې دي قرض کړي او قرباني دي وکړي.
لیکن چې کله هغه پور دده لاس ته راغلی د هغه پوره څخه دي بیا د قرباني قرض ادا کړي.

## دریمه غلط فهمي:

او دریمه غلط فهمي په انسانانو کي دا وي چې بعض خلک خپله پوروړي دي، د نورو خلکو پیسې پر باندي دي، لیکن د بل مسلمان پور نه ور کوي او قرباني کوي، حالانکه دوی چې خپل جایداد ټوله سره شمار کړي، دده تر ضرورت زائد ټوله سامانونه شمار کړي هغه ټوله د پوروړي په حق کې ځي، و ده ته یو شی نه ور پاتیږي، لیکن په دې وخت کي بیا هم دی د ثواب اراده لري او وایي: زه قرباني کوم. او د مسلمان حق نه ورکوي. او د هغه څخه مخکې دی یو وارد قرباني غم اخیستی وي، حالانکه دا بې ځایه کار دئ.
په دې وجه باندي چې د مسلمان حق ورکول دا فرض کار دئ او چې ته دومره تر پورو لاندي یې پر تا قرباني نه کیږي، نو ستا قرباني صرف نفل کار دئ، دا به د یو سړي د دینه سره ډېره نابلدتیا وي چې د فرضو په مقابل کې نفل کوي او فرض پرېږدي.
نو پکار داده چې اول سړی د مسلمان پور ورکړي؛ ځکه دا د هغوی حق دئ او د مسلمان حق تلف کول ګناه کبیره ده، د هغه څخه وروسته که بیا ده ته څه شی ور پاته سو بیا دي په هغه قرباني وکړي.

نو د مسلمان حق تلف کول، د مسلمان حق غصب کول او د مسلمان حق ضائع کول او هغه د مسلمان په حق باندي قرباني کول دا د ثواب کار نه دئ، دا د گناه کار دئ په دې قرباني باندي الله تعالی و سړي ته سزا ورکوي.

ها، کچیري دده په اراده کي د مسلمان حق تلف کول نه وي او د مسلمان حق ضائع کول نه وي او دی وايي: چي زه قرباني هم کوم او د مسلمان حق هم ورکوم او دده په اراده او په زړه کي دا نه وي چي زه د مسلمان حق ضائع کوم، نو بیا امکان سته چي پر هغه اراده د قرباني کولو باندي الله تعالی و ده ته ثواب ورکړي، لیکن ددې څخه مخکي چي قرباني سړی کوي د هغه څخه ضروري داده چي د مسلمان حق سړی ورکړي.

## څلورمه غلط فهمي:

څلورمه غلط فهمي په انسانانو کي دا وي چي د بعض خلکو دا خیال وي چي زما د کور زنانه "اووه نیمي" تولې سره زر نه لري ځکه غالبًا د "اووه نیمو تولو سرو زرو قیمت دا اوس دوه(۲۰۰۰۰) لکه او لس (۱۰۰۰۰) زره یا دوه لکه او شل (۲۰۰۰۰) زره کالداري کیږي.

دده دا عقیده ده چي پر سرو زرو چي زکوٰة کیږي خو پر اوه نیمو تولو باندي کیږي او پر سرو زرو چي اضحیه او قرباني کیږي نو دا به هم پر "اووه نیمو" تولو کیږي او زما د کور زنانه خو اوه نیمي تولې سره زر نه لري، د هغې سره یوه توله ده یا دوې تولې دي یا درې تولې دي.

او دغه رنګه زما د کور زنانه دو پنځوس نیمي تولې سپین زر نه لري او قرباني پر دوپنځوس نیمو تولو سپینو زرو راځي، لهذا زما د کور والا سره نه سپین زر په دې شکل سته او نه سره زر په دې شکل سته، نو ځکه پر هغې باندي قرباني نسته، حالانکه دا د انسانانو غلطي وي.

## د مسئلې حقيقت:

ګورئ! د سرو زرو د اوه نيمو تولو حساب او يا د سپينو زرو د دوپنځوس نيمو تولو حساب دا صرف په يوه وخت کې معتبر دئ، دا هغه وخت چې دغه زنانه وي که نارينه وي چې دا به په دنيا کې بل يو شئ هم نه لري، نه به يوه جوړه "کالي" تر ضرورت زائد لري، نه به "دېګ" تر ضرورت زائد لري او نه به يوه "روپې" لري او نه به "راډيو" لري او نه به بل شی لري.

يا ددې سره د سرو زرو او د سپينو زرو څخه ماسوا بل هيڅ شی نسته په دې وخت کې بيا يقيني که سره زر اوه نيمو تولو ته ورسېدل بيا قرباني سته او که سپين زر (۵۲) نيمو تولو ته ورسېدل بيا قرباني سته، ليکن که چيرې يوه زنانه سره زر هم يو څه لري او هلته د درېو جوړو څخه زائد يوه جوړه کالي هم لري، سره زر هم يو څه لري، ليکن پنځه سوه يا دوه سوه او سل کالداري هم لري په دې وخت کې بيا دا سره زر او دا "کالداري" سره جمع کيږي او بيا د دې صرف قيمت لګول کيږي او دا ټوله په نقدو شمارل کيږي، بيا که د د نقدو قيمت (۵۲) نيمو تولو سپينو زرو ته رسېدئ بيا يقينًا قرباني ورباندې واجب کيږي.

مثلاً په اوس دور کې يوه زنانه ده يوه توله سره زر لري او په نن دورکې د يوې تولې سرو زرو قيمت اوه ويشت زره يا اته ويشت زره کالداري دئ او بل طرف ته سل روپۍ ور سره لري سل روپۍ څه کوې يوه روپې لري، بس نو په دې وخت کې ددې سرو زرو اعتبار نسته بيا ددې سرو زرو قيمت لګول کيږي.

ددې قيمت اته ويشت زره دئ ګواکې دا زنانه اته ويشت زره او سل روپۍ لري، يا اته ويشت زره او يوه روپې لري، او اته ويشت زره او سل روپۍ چونکه د دوپنځوس نيمو تولو سپينو زرو سره برابر قيمت جوړيږي، نو ځکه بيا په دې يوه توله سرو زرو قرباني ورباندې واجب سوله.

یا یوه زنانه ده نور هیڅ نه لري یوه توله سره زر لري او د یوې تولې سرو زرو سره څلورمه جوړه کالي لري یا پنځمه جوړه کالي لري نور په دنیا کي یو شی نه لري لا هم دا یوه جوړه او دا سره زر سره ضمیږي.

مثلا ددې کالیو قیمت پنځه سوه روپۍ دئ او د سرو زرو قیمت پنځه ویشت زره دئ نو ګوا کي دا زنانه پنځه ویشت زره او پنځه سوه روپۍ لري او په پنځه ویشت زره او پنځه سوه کالداري باندي قرباني واجب ګرځي، نو پر دې زنانه واجب وګرځېدله.

نو د سرو زرو قیمت چي صرف لګیږي یا د سپینو زرو قیمت چي صرف لګیږي دا په هغه صورت کي لګیږي چي ددې ښځي سره ددې سرو زرو څخه ماسوا بل هیڅ شی نه وي او د سپینو زرو څخه ماسوا ددې ښځي سره بل شی نه وي، نو بیا یواځي د سرو زرو نصاب ته اعتبار دئ او د سرو زرو نصاب غالبًا اوه نیمی تولې دئ، بیا یواځي د سپینو زرو نصاب ته اعتبار دئ.

او د سپینو زرو دوپنځوس نیمي تولې نصاب راځي، لیکن که ددې سره ګډوډ سامانونه ور سره دئ، ددې سره پیسې ور سره دي، ددې سره جامې ور سره دي، ددې سره د کور تر ضرورت زائد سامان ور سره دئ بیا د هغو قیمت او د سرو زرو قیمت سره ضمیږي چي د سپینو زرو ونصاب ته یې قیمت ورسیږي قرباني واجب ګرځي.

او د سپینو زرو د نصاب قیمت نن سبا دوه ویشت زره شا وخوا کالداری دئ، بیا که ددې د شیانو او سامانو قیمت دوه ویشت زره ته ورسېدی بیا پر دې زنانه هم سرسایه کیږي او پر دې زنانه هم اضحیه واجب ګرځي.

او که چیري دا زنانه یې نه وکړي، نو بیا دا د خدای ﷻ حضور ته ملامته ده؛ ځکه د واجبو حکم دا دئ چي یو کار پر سړی واجب وي سړی یې ادا نه کړي، نو د خدای ﷻ په حضور کي هغه سړی په ملامتیا رسوایۍ او شرمندګۍ کي مبتلا کیږي.

نو ځکه ددې ورځو دويم اهم عبادت هغه دادئ چي په دې ورځو کي سړی قرباني وکړي.
او ما در ته وويل: که بيا کال دوولس مياشتي سړی په لکونو په کروړونو کالداري خيراتوي او مالونه ښندي او جايدادونه خلګو ته ورکوي او حيوانان ذبح کوي ددې ورځي د قربانۍ ثواب بيا څوک نه سي پيدا کولای.

## پر قربانۍ نه کولو باندي شديد نکير:

پيغمبرﷺ وايي: ﴿مَنْ وَجَدَ سَعَةً و لَمْ يُضَحِّ﴾ د يو سړي سره چي وس او طاقت د قربانۍ کولو وي او په حقيقت کي خدای تعالی قرباني پر واجب کړې وي او دی يې په حيلو او بهانو د ځانه ليري کوي، ددې ملا څخه پو ښتنه وکړي چي پر ما قرباني کيږي کنه کيږي؟ ددې ملا څخه پو ښتنه وکړي چي پر ما کيږي کنه؟ چي څنګه د يوه تر خوله دا خبره وباسم چي پر تا قرباني نه کيږي، نو ﴿مَنْ وَجَدَ سَعَةً﴾ چي کوم سړی وس او طاقت ولري د هغه څخه باوجود په حيلو او بهانو باندي ځان د قربانۍ څخه خلاصوي، نو پيغمبرﷺ فرمايي: ﴿فَلَمْ يَقْرَبْ مُصَلَّانَا﴾(١) هغه سړی دا حق نه لري چي زموږ د مسلمانانو په عيدګاه کي شريک سي، نو هغه سړی دي زموږ عيدګاه ته نه راځي.
او کچيري عيدګاه لره را هم سي، نو بيا چي د عيدګاه په ميدان کي کوم خير راځي، کوم نورانيت راځي، کوم برکت راځي، د خدای تعالی له طرفه کوم رحمت راځي هغه سړی به ددې عيدګاه د خير او برکت او رحمت څخه محروم پاته سي.
نو په دې ورځو کي اهم عبادت هغه د قربانۍ عبادت دئ چي کله د يو سړي څه نا څه وس او طاقت رسيږي او د يو سړي توان کار کوي او پر يو سړي باندي خدای تعالی ايښي وي، نو پکار داده چي په دې وخت کي پر دې خبرو باندي چي

---

(١) الترغيب والترهيب، حديث نمبر: ١٦٦٧

قرباني کول دي څه صرفه و نه کړي او پر دې باندې څه وسوسه و نه کړي او ځان وشا ته نه کړي، بلکه په ډېره ښه عقيده او په ډېر اخلاص او په ډېر شوق باندي قرباني وکړي.

او پيغمبرﷺ وايي: ﴿فَطَيِّبُوا بِهَا نَفْسًا﴾ پکار دادي چي په دې زړه خوشحاله کړئ! چي الله تعالى ما ته د آخرت د ذخيره کولو دپاره ډېر لوی عمل را نصيب کړئ.

نو په دې ورځو کي اهم عبادت دا د قرباني عبادت دئ.

## د دې ورځو دوهم اهم ترين عمل:

دويم عبادت په دې ورځو کي هغه "تکبيرات تشريق" دي چي د نهم سهاره څخه کوم "الله اکبرونه" شروع کيږي دا هم واجب دئ. او ما در ته وويل چي د واجبو حکم دادئ کچيري د يو سړي څخه په لاأبالي کي واجب پاته سي، نو د خدای تعالى و حضور ته به په ډېره رسوايي او شرمندګۍ او په ملامتيا کي اخته کيږي.

د دې "تکبيرات تشريق" پس منظر څه دئ؟ او دا ولي پر موږ باندې واجب دي؟ د کومه وخته څخه پر موږ دا واجب را شروع دئ؟

"تکبيرات تشريق" د حضرت ابراهيم عليه السلام او حضرت اسماعيل عليه السلام يادګار دئ.

"تکبيرات تشريق" اولنی د حضرت ابراهيم عليه السلام او حضرت اسماعيل عليه السلام تر خوله وتلي دي او د هغوی تر خوله يو ځل وتلي دي، الله تعالى ته دومره محبوبي کلماتي ګرځېدلي دي چي تر قيامته الله تعالى پر انسانانو واجب ګرځولي دي. د يو ځل پر ځای پر موږ باندي درويشت ځله ويل واجب دئ، په (۲۳) لمنځو کي به يې وايو.

حضرت ابراهيم عليه السلام ته الله تعالى د ډېرو ژړاوو څخه وروسته او د ډېرو دعاګانو څخه وروسته يو بچی ورکړئ.

د حضرت ابراهيم عليه السلام خپله استوګنه په "شام" کې وه چي نن موږ سوريه ورته وايو او يو څه حصه د فلسطين هم ور سره وه خو نن سبا فلسطين ځان ته ملک دئ.

او دا ډېره سرسبزه او ډېره شادابه او ډېره ښائسته علاقه ده. د فلسطين څخه "حجاز مقدس" چې "بيت الله" پر کومه ځمکه جوړه ده دديې په مابين کې غالبًا (۱۵۰۰) سوه کيلو ميټره ځمکه ده.

حضرت ابراهيم عليه السلام خپله زنانه او بچی د الله تعالی په امر او د حضرت جبرئيل عليه السلام په رهنمايي باندي "حجاز مقدس" ته بوتله، حضرت جبرئيل عليه السلام ترمخه روان وو، روان وو، روان وو، په کومه ځمکه کي چي زيات غرونه ؤ او په کومه ځمکه کي چي زيات خوف ؤ، ويره وه، نو حضرت جبرائيل عليه السلام ور ته وايي: بس دلته دا زنانه او بچی پرېږده!

د زناني د پرېښولو وروسته دی مبارک "شام" ته واپس ولاړئ، د "شام" څخه واپس يو کال بعد راغلئ، نو هغه بچی يې د يو کال سوی وو، بيا به د "شام" څخه راتلی پر بچي او زنانه به يې پوښتنه کوله.

قرآن کريم وايي: ﴿فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ﴾ چې کله بچی و دې عمر ته ورسېدئ چي اوس دده سره کومک کولای سي او دی ورته وايي چې بچيه! هغه شی را واخله! يا بچيه! فلانکی کار وکړه، نو چي کله دې حال ته ورسېدئ مفسرين ليکي: غالبًا د پنځو (۵) کالو دئ، يا د شپږو (٦) کالو دئ، يا د اوو (۷) کالو دئ، نو حضرت ابراهيم عليه السلام ته الله تعالی په خوب کي وايي: چی قرباني وکړه!

حضرت ابراهيم عليه السلام حيران سو چي څنګه قرباني الله تعالی غواړي! چي د خوبه را ويښ سو، نو د قربانی په نيت او اراده يې په سوونو حيوانان ذبح کړه، ليکن دويم ځل يې بيا خوب وليدئ چي الله تعالی قرباني غواړي، بيا يې حيوانان ذبح کړه.

لیکن دریم ځل د خوب لیدلو وروسته دا ورمعلومه سوه چې الله تعالی د بچي قرباني غواړي، نو راغلی بچی یې د میلې په نیت روان کړی، د منی د درې (شیلې) پر طرف دواړه زوی او پلار روان سول.

د بیت الله څخه غالبًا چې منی په کومه شیله کي راځی نو دا پنځه کلومتره مځکه ده، د قربانۍ په نیت یې د ځان سره چاړه وا خیسته او رسۍ هم ورسره ده چې اوس به د خپل بچي قرباني د خدای تعالی و حضور ته پېشوي.

چې کله د منی د شیلې دا اول سر ته ورځي، نو شیطان لعین په هغه بچي پسي رابنکاره کیږي چې تا خو حلالوي، نو هغه بچي یې یو ځل په کاڼو ولي، دَی بل ځای بنکاره کیږي هغه یې بل ځل په کاڼو ولي، دَی بل ځای را بنکاره سي هغه بچي یې دریم ځل په کاڼو ولي.

نو الله تعالی تر قیامته پر انسانانو دا لازمه کړه چې هغه شیطان که اوس پر هغه مځکه نسته، نو اوس یې هغه مځکه تاسو په کاڼو ولئ!

اسماعیل علیه السلام خو یوه ورځ په کاڼو ویشتلی دئ موږ ته دا امر دئ چې تاسو به یې درې ورځې په کاڼو ولئ؛ ځکه د الله تعالی عادت مبارک دادئ چې په مخکیني امتو کي د الله تعالی کوم کار ډېر خوښ سوي وي، نو هغه خوښ کار په دې امت باندي تر قیامته ایږدي؛ ځکه دا د الله تعالی محبوب او خوښ امت دئ.

چې کله د منی په شیله کی و دربده، نو بچي یو طرف ته ولاړ دئ د شیطانانو تر ځای چي ورتېر سئ خاص د "مسجد خیف" پر ځای ودربدئ او دا داسي د غره لمن او دره ده، په دې ځای کي حضرت ابراهیم علیه السلام خپل بچي ته وايي: ﴿يَا بُنَيَّ إِنِّي أَرَى فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَذْبَحُكَ﴾ بچیه! ما خو په خوب کی دا لیدلي دي چې زه تا ذبح کوم، زه به تا قرباني کوم، ﴿فَانظُرْ مَاذَا تَرَى﴾ ستا څه رأیه ده؟ او ورته وايي: یوه شپه نه ده، دوې شپې نه دي، نن دریمه شپه ده چې الله تعالی ما ته وايي چې ته بچی قرباني کړه! زویه! زه خو همېشه دا په خوب کي وینم او د دې خوب تعبیر

الله تعالی ما ته د بچي د قربانۍ په شکل په دماغ کی راکړی دئ او الله تعالی پر ما دا قرباني ایښې ده.

بچیه! چې زه به اوس تا ذبح کوم، ستاپه دې کی څه رأیه ده؟ بچی دا نه ورته وایي چې پلاره! زما جرم څه دئ؟ او بچی دا نه ورته وایي چې پلاره! زما څخه کومه خطا سوې ده؟ دا نه ورته وایي چې پلاره! خوب تا لیدلی دئ او حلالیږم به زه؟ ځکه د حضرت اسمٰعیل علیه السلام تربیت مور کړی ؤ.

حضرت اسماعیل علیه السلام د پلار مبارک تربیت تر دې وخته نه وو لیدلی او مورې دا تربیت کړی وو چې ﴿وَاِنْ اَصَابَكَ مِن مُّصِيْبَةٍ فَاصْبِرْ﴾ کچیري یو مصیبت پر تا باندی راغلئ، نو پر هغه باندي صبر کوه!

د حضرت اسماعیل علیه السلام په دماغ کي دا خبره ناسته وه، نو دی ورته وایي ﴿يٰاَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ﴾ ای پلاره! ته وکړه ﴿مَاتُؤْمَرُ﴾ چی د خدای تعالی له طرفه پر کوم کار امر سوی یې بس هغه وکړه! زه به څه کوم؟: ﴿سَتَجِدُنِيْٓ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ مِنَ الصّٰبِرِيْنَ﴾(۱) زه به پر دې باندی ډېر صبر کوم.

بیا ورته وایي: چې پلاره! دوې درې خبري درته کوم، دا په غور کي ونیسه!

۱. یوه خبره داده چې د الله تعالی له طرفه په کوم کار امر سوی یې پلاره هغه امر ژر تر ژره پر ځای کړه!

۲. دویم چې کله ته ما ذبح کوې، نو پلاره پر دې سترګو باندي یو قسم پټۍ وتړه زما او ستاپه مابین کی د پلار او د بچي تعلق دئ هسي نه د زکندن حالت دئ او ستا سترګي زما پر سترګو باندی ولګیږي او په ذې وخت کي ستا څخه د الله تعالی په امر کي لږ کمزوري وسي، نو یو خو خپلې سترګي په پټۍ باندی وتړه!

(۱) الصافات آیت نمبر ۱۰۲

خو بیا هم د کائناتو هر شی انسان ته د فنا کېدو او ختم کېدو پیغام ورکوي. لمر روزانه راخیژي خو د راختو په وخت کي ډېر کمزوری وي یعني برېښنا او ګرمي یې کمه وي، خو چي و سر ته را ورسیږي یعني غرمه سي، نو برېښنا او ګرمي یې ډېره مضبوطه سي، او چي د مازیګر پر طرف روان سي، نو وار په وار کمزوری کیږي، آخر یو وخت داسي راسي چي د لمر هغه روښانه زندګي ختمه سي او لمر ولوېږي.

نو دا لمر لوېدل هره ورځ انسان ته دا پیغام ورکوي چي ستا د زندګی لمر هم داسي یوه ورځ لوېدونکی دئ.

داغه رنګه چي کله انسان یو کوچنی نهال او درخته په مځکه کي کښېنوي یعني و یې کري، په اول کي ډېره کمزورې وي او یو کوچنی نهال وي، بیا څه زمانه بعد لویه تنه داره درخته څني جوړه سي او بالآخر چي زړه او وچه سي، نو انسان یې کاټوي یا کټونه او الماری څني جوړوي که د دې کار نه وي، نو بیا یې په اور پسې کوي او سوځي یې.

نو دا درخته هم انسان ته دا پیغام ورکوي چي ای انسانه! ستا وجود هم دلته باقي نه پاته کیږي، یوه ورځ به خامخا د دې ځایه یعني دنیا څخه رخصت کیږې.

ګویا چي کوم انسان ته ژوند او زندګي ورکول سوې ده هغه دي دا خبره په زړه کي کښېنوي چي دا زندګي د مرګ د پاره او د ختم کېدو د پاره راکول سوې ده.

یو چا د افلاطون څخه پوښتنه وکړه:

- چي په دنیا کي د انسان د مرګ سبب څه شي دئ؟
- هغه ورته وویل چي د انسان د مرګ سبب د هغه ژوند او زندګي ده.

او دا څوارلس طبقه ملائکې دې ته په انتظار دي، د هغو ټولو ژبې وتړل سوې او پر هغو باندې یو قسم وهم او دهشت پروت دئ چې د یو نبي چاړه په لاس کې ده او بل نبي لاندې پروت دئ، اوس به یو نبي د بل نبي پر غاړه باندې چاړه راکښوي؛ ځکه د ملائکو په دې سر نه وو خلاص چې دا چاړه به دا غاړې نه پرې کوي.

د ابراهيم عليه السلام په دا سر نه وو خلاص چې دا چاړه به دا غاړې نه پرې کوي، اسماعيل عليه السلام ته هم دا معلومه نه وه چې دا چاړه به دا غاړې نه پرې کوي، د ټولو دا یقین وو چې دا چاړه به اوس دا غاړې پرې کوي.

روایاتو کې راځي چې کله ابراهيم عليه السلام دا چاړه د اسماعيل عليه السلام پر غاړه کښېښوله، نو په اسمان کې ملائکو او دې څوارلس طبقه ملائکو یو قسم رووړ جوړ کړئ چې "اَللهُ اَکْبَرْ، اَللهُ اَکْبَرْ" حضرت اسماعيل عليه السلام د ملائکو دا رووړ اوري. نو حضرت اسماعيل عليه السلام پوه سو چې پلار ته هم الله تعالی همت د امتحان د پر ځای کولو ورکړئ، نو هغه لاندې وايي: "لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَکْبَرْ" لیکن ابراهيم عليه السلام چې هر څومره چاړه د اسماعيل عليه السلام پر غاړه باندې کښوله چاړه پرې کول نه کوي.

## د غاړې د نه پرې کولو وجه:

بعضې مفسرین خو دا وايي چې مابین ته اوسپنه راغله او هغه چاړه پر اوسپنه وچلېده.

بعض مفسرین بیا وايي چې یا مابین ته ډبره راغله او دا چاړه پر ډبره وچلېده. لیکن دا ټولې خبرې یو طرف ته صرف یوه خبره ده چې د الله تعالی امر چړې ته دا وو چې دې وخت کې به ته پرې کول نه کوې، ورنه یو تېره چاړه ده او د یو ماشوم بچې چې د شپږو (٦) کالو یا د اوو (٧) کالو دئ د هغوی غاړه ده بیا به یې چاړه څنګه نه پرې کوي؟ ځکه په چړې کې د پرې کولو طاقت الله تعالی ایښی دئ، نو

که د ابراهیم علیه السلام په لاس کې دا چاړه ده هم الله تعالی پرې کېدل په کوې چې کله الله تعالی پرې کېدل ځنې ختم کړو بیا یې نه سي کولای.

چې کله دویم ځل حضرت ابراهیم علیه السلام پر چاړه باندې زور وکړئ چې کله د غاړې د پرې کېدو حالت سو یا د وینو شورهار سو، نو حضرت ابراهیم علیه السلام چې د هغوی د حلالېدو څخه وروسته د سترګو پټې خلاصه کړه چې ویې کتل الله تعالی دده و چاړې ته د هغوی په مقابل کې پسه راوستلی دئ او په ذبحه کړی یې دئ او حضرت اسماعیل علیه السلام دلته د یو کاڼي و خوا ته ولاړ دئ، نو حضرت ابراهیم علیه السلام دا کلمه وویله: "اَللّٰهُ اَکْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ" الله جل جلاله ډېر لوی ذات دئ، الله تعالی زه په امتحان کې کامیابه کړم او زه پر دې باندې د خدای تعالی حمد وایم، د سترګې د رپ په زرمه حصه کې الله تعالی د جنت څخه د جبرئیل امین علیه السلام په واسطه پسه ورته را ورسوئ.

نو تکبیرات پر موږ باندې واجب دي، خو دا اوله کلمه چې "اَللّٰهُ اَکْبَرُ، اَللّٰهُ اَکْبَرُ" ده دا په دې درې طبقه کې د ملائکو نعره وه او "لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَکْبَرُ" دا د حضرت اسماعیل علیه السلام چې کوم څوک چړې ته لاندې پروت دئ دا د هغه وینا وه او "اَللّٰهُ اَکْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ" دا د حضرت ابراهیم علیه السلام ویل سوې کلمه وه(١).

نو الله تعالی ته دغه آوازونه او دغه خبرې دومره محبوبې سوې چې دې امت ته وایې چې اسماعیل علیه السلام او ابراهیم علیه السلام خو به یو وار د منٰی په دره کې ویلې وي، تاسو به یې د یو وار بجای درویشت (۲۳) واره ادا کوئ او پر تاسو دا واجب دئ تر قیامته پورې.

او که چا په دې کی لاپرواهي وکړه چې د قیامت په میدان کې زما حضور لره راغلئ، نو د واجبو په ترک سره به دا انسان د رسوایی، شرمندګی او ملامتیا سره مخامخ کېږي.

---

(١) علمي تقریرونه جلد ۲ صفحه ۲۷۷

نو دويم اهم عمل په دې ورځو کې هغه د تکبيراتو عمل دئ. او دا هغه د ابراهيم عليه السلام د قرباني يادګار دئ چې موږ او تاسو ته را پاته دئ. او دا پر موږ او تاسو باندې واجب دئ. او دا چې کوم سړی پرېږدي ما در ته ووېل: د خدای تعالی په حضور کې به د شرمندګی او رسوايي سره مخامخ کېږي.

## په تکبيرات تشريق کې د عامو انسانانو غلط فهمي:

په دې کې دوې غلط فهمياني د خلګو څخه کېږي:

۱. هغه يوه غلط فهمي داده چې دغه تکبيرات لکه څنګه چې پر نارينه وو واجب دي يعني چې کوم سړی لمونځ په جماعت باندې وکړي پر هغوی واجب دي او که سړی لمونځ انفراداً وکړي پر هغوی هم واجب دئ. او که سړی په حالت د سفر کې وي هم پر واجب دئ او که په حالت د اقامت او حضر کې وي هم پر واجب دي.

۲. داغه رنګه پر زنانو هم واجب دي د زنانو په حق کې دوه روايته دي احتياط په دې کې دئ چې واجب دي(۱).

ليکن عام طور زناني ددې تکبيراتو د وينا څخه غفلت کوي، اول خو د هغوی ياد نه دي او که يې بيا هم ياد وي، نو خاوند يې دا خبره څه اهمه نه بولي نه يې پر څه باندې بولي نه ددې زناني په دې باندې سر ور خلاصوي.

## د زنانې په وجه جهنميان:

علماء کرامو ليکلي دي چې د يوې زنانې په وجه به څلور کسان جهنم ته ځي:

۱. يو به د هغه زنانې پلار وي.

۲. يو به د هغه زنانې بچی وي.

---

(۱) مصنف ابن ابي شيبه، جلد: ۴ صفحه: ۱۷۱

۳. يو به د هغه زناني خاوند وي.

۴. يو به د هغه زناني وروروي.

دا چي كومو كسانو دې خپلو زنانو ته د دين حكم نه وي ور رسولى.

اوس كه دده د دنيا د پنځو روپو ګټه پكښې وي بيا به يې تو له شپه ور باندي وهي چي زناني دا ياد كړه! ليكن چونكه د دنيا خبره نه ده د آخرت خبره ده او د آخرت خبره خو د ده په ذهن كي څه اهميت نه لري، نو په دې وجه د زنانو څخه غفلت پكښې كيږي.

نو لكه څنګه چي پر نارينه وو دغه تكبيرونه واجب دي دغه رنګه پر زنانو هم واجب دي.

## د زنانو دپاره طريقه:

كومي زناني چي لږ خوانده وي چي څه ويلاى سي، نو آسانه طريقه يې داده چي پر كاغذ يې وليكي او پر كومه مصلى باندي چي لمونځ كوي په هغه كي دي يې ونغاړي چي مصلّه يې وغوړوله و مخ ته يې تكبيرونه پراته دي يا خو پر مصله باندي قلفي ستن جګه كړئ چي لمونځ كوي، نو خامخا په ياد ورځي.

او كومي زناني چي خوانده نه دي، نو سپين ږيرى او مشر خو مه بنوروه كه يو ماشوم كوچنى و دې ته نيمه ګاټه وخت وركړي، نو هغه زناني ته يې دستي ور زده كولاى سي.

## آسانه تكبيرات دئ:

﴿اَللهُ اَكْبَرُ اَللهُ اَكْبَرُ، لَااِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ، اَللهُ اَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ﴾

كه چيري خوانده نه وي بيا دي هم هغه زنانه پر دې خپله مصله باندي يو شى ايږدي چي دې ته يو شى په ياد ورولي اودا دي ووايي چي دا زما د تكبيراتو

يادابنت دئ، چې كله يې مصله وغوړوله د لمانځه وروسته دستي دې ته تكبيرونه په ياد ورځې(١).
ليكن ما در ته وويل: چې كه چيرې اوس ددې اهميت د انسان په دماغ كې وي، نو انسان به په هر شكل په دې خپلو زنانو تكبيرونه ووايي، ليكن اوس مصيبت دادئ چې د چا په ذهن كې اهميت نه لري، نو بيا به پر دې باندې څه غور وكړي او زنانو ته به يې په څه شكل ور زده كړي.

## دوهمه غلطي:

چې كله په جماعت كې په مسجد كې تكبيرات شروع سي، نو بعض خلك خو يې نه وايي، پر نورو خلكو يې غوږ نيولى وي او بعض چې يې وايي هغه يې دارنګه وايي لكه خوله چې ئې ګنډلې وي، حالانكه دا د اسلام شوكت دئ، دا د اسلام دبدبه ده اودا د اسلام آواز دئ، په داسې شكل به يې سړى وايي چې په مسجد كې د انسانانو د آواز ږوږ پورته سي، نو څكه ددې وينا به په لوړ شكل وي.
د نعرو او غرغرو په شكل هم نه او په پټه چې محض هغه د څنګ ملګري يې اورې هغه هم نه دئ صحيح، بلكه په داسې آواز به يې وايي چې د انسانانو ږوږ پورته سي، په دې شكل بيا د تكبيراتو د ويلو څخه د سړي غاړې خلاصيږي(٢).

## د تكبيرات تشريق اوله مسئله:

چې كله سړى پر لمانځه باندې ولاړ وي، نو كه د امام څخه پاته سي يا يې قصدًا امام پريږدي يا څني هېر سي بيا پر مقتدي باندې دا ضروري ده چې شروع يې كړي چې امام ته يې په ياد ورولي.

---

(١) مصنف ابن ابي شيبه، جلد: ٢ صفحه: ١٩٠ شامي جلد: ٢ صفحه: ١٧٩

(٢) اصلاحي خطبات، جلد: ٢ صفحه: ١٢٨

**دوهمه مسئله:**

که يو سړی راسي رکعت څني تېر سوی وي، نو چي کله يې خپل سلام وګرځوئ بيا دي تکبيرونه ووايي.
که چيری رکعت څني تېر سوی وي او دا مقتدي د امام سره تکبيرات تشريق وويل، نو بيا دي هم ولاړ سي او تېر رکعت دي را وګرځوي، ليکن قصداً دي داسې نه کوي.

**دريمه مسئله:**

بله مسئله ددې متعلق داده چي په دې وخت کي که . سړي څخه دا جماعت قضا سي، لمونځ څني قضاء سي بيا که داغه لمونځ د تکبيرات تشريق په ورځو کي يعني د عرفات ورځ د اختر اوله، دوهمه، دريمه، څلورمه کي راګرځوي، نو تکبيرات ويل ور باندي واجب دي، ليکن که يې په دې ورځو کي نه راګرځوي په نورو ورځو کي يې راګرځوي بيا تکبيرات نه سي ويلای.
يا د تېر کال د تکبيراتو د ورځو لمونځ څني قضاء سوی دئ اوس د سږ کال د تکبيراتو په ورځو کي يې راګرځوي، نو بيا تکبيرونه نه سي پکښې ويلای، صرف په يو صورت کې يې ويلای سي چې په دغه ورځو کي لمونځ څني قضا سوي وي او بيرته يې راګرځوي په دغه ورځو کي، نو تکبيرات تشريق ور باندي واجب دي.

**څلورمه مسئله:**

د تکبيرات تشريق قضاء هم نسته، البته پرېښوونکي يې ګناهګار دئ. او د ګناه علاج د خدای تعالی و حضور ته توبه ايستل دي، بيا دي په دې باندي توبه وکاږي او د خدای تعالی و حضور ته دي استغفار پېش کړي.

**پنځمه مسئله:**

د بعض خلګو ځنځه هېر سي، نو چې یو سړی د لمانځه سلام وګرځوي او تکبیرات یې هېر سي، نو تر کومه وخته چې دَی د لمانځه ځنځه په یو داسي کار چې د لمانځه سره منافي وي اخته سوی نه وي یعني یا یې خندلی نه وي، یا یې د چا سره خبري نه وي کړي، یا یې خپله سینه د قبلې ځنځه ګرځولې نه وي تر هغه وخته کچیري تکبیرات تشریق ده لره په یاد ور سي، نو تکبیرات ویلای سي.
لیکن که دَی ولاړ سو تر دروازې ولاړ ئ سینه یې د قبلې ځنځه وګرځوله، یا یې د چا سره خبري وکړې، یا یې یو داسي کار وکړئ چې هغه د لمانځه سره منافي دئ، نو په دې وخت کي بیا تکبیرات تشریق دده ځنځه فوت سوه او دَی ددې په پرېښوولو باندی ګناهګاره دئ.
ما در ته وویل: ددې قضا نه سي راګرځولای، د ګناهګارۍ علاج توبه او استغفار دئ، پر دې پرېښولو باندي دي استغفار روایي.
نو دویم عبادت ددې ورځو دپاره اهم عبادت دغه تکبیرات تشریق دي، د دغه اهتمام کول او ددغه پر ځای کول او ددغه ویل ضروري دي.

## د اختر شپه د عبادت کولو بهترین وقت دئ:

اخیرنۍ خبره دا درته کوم چې په دې ورځو کي الله تعالی مور ته موقع راکړې ده او پر مور باندي د اختر شپه راغلې ده، د پیغمبرﷺ حدیث دئ: ﴿مَنْ قَامَ لَيْلَتَي الْعِيْدَيْنِ مُحْتَسِبًالَم يَمُتْ قَلْبُهُ يَوْمَ تَمُوْتُ الْقُلُوْبُ﴾(۱) چې کوم سړی د اختر د شپو عبادت وکړي او د ثواب په نیت یې وکړي چې الله تعالی به ما ته په دې کي ثواب راکړي، نو د قیامت په کومه سخت ترینه ورځ چې د انسانانو زړونه مري الله تعالی به د ده د زړه د مړ کېدو ځنځه حفاظت وکړي.

(۱) ابن ماجه، حدیث نمبر: ۱۷۸۸

ددې ورځو عبادت وکړئ! په دې شپو کې چې د سړي په وس او طاقت څومره بنه کارونه کيږي بايد د اختر په شپه باندې هغه وکړي، دوه رکعته نفل يې په وس کيږي هغه دې وکړي، د چا په وس چې تلاوت وي، نو تلاوت دې وکړي او يو ښه د دين خبره يې په وس وسوله هغه دې وکړي.

دا کارونه بايد انسان وکړي، نو د قيامت په ورځ چې کله د قيامت سخت ترينه زلزله راسي چې د انسانانو سترګې په ککرۍ کې ولاړې وي او قرآن کريم وايي: ﴿وَتَرَى النَّاسَ سُكَارَىٰ﴾ چې ته به دا خلګ مست بولې، ليکن دا خلګ به مست نه وي، بلکه د قيامت زلزلې به په مخه اخستې وي، په دغه ورځ د ټولو انسانانو زړونه مري، ليکن پر دې سړي به په دغه ورځ د قيامت د زلزلې يوه زره اثر نه معلوميږي او ډېر به ور باندې راحت وي او ډېره به ور باندې خوشحالي وي او ډېره به ورباندې اساني وي؛ ځکه ده د اختر په شپه باندې عبادت کړی دئ.

## د ټولې شپې د عبادت کولو اسانه طريقه:

عبادت دا نه معنٰی چې ټوله شپه دې سړی ووهي، عبادت صرف دا چې څومره د انسان په وس کې وي‌بنوالی وسو هغومره وي‌بنوالی وکړي، يو دوه رکعته لمونځ يې په وسه وسو (سهار يا د آذانو څخه مخکې راکښېنستئ) دوه رکعته لمونځ وکړي.

ما درته وويل: که نور نه وي صرف د ماخستن او د سهار لمونځ خو دې کم از کم په تکبير اُولی باندې وکړي، الله تعالی دا ټوله شپه په عبادت او په ثواب کې ور شماري او د قيامت د سختې زلزلې څخه الله تعالی سړی دا د اختر د شپې په عبادت محفوظ ساتي.

## د انسانانو بدترین غفلت:

نن انسانان څومره په غفلت کي دي، يو سړی دئ چوکيداري کوي دا ټوله شپه رونه وي، څه مسئله ده؟ ولي؟ د دنيا يو څه خاوري ګټي، يو سړی دئ کالي جوړوي خياطانو لره تاسو ورسئ! دا ټولي شپې يې روڼې کړي دي.

ليکن د الله تعالی په خاطر! د آخرت زلزله، د آخرت سټريا او د آخرت مسئله د دنيا د معمولي چندسکو غوندي اهميت هم نه لري، چي د هغې دپاره څوک دا شپه نه سي رونه ولای او نه عبادت کولای سي.

په خدای قسم چي د هغه و سنګين والي ته ددې شيانو سنګين والی يوه زره هم نږدې کېدای نه سي، حالانکه د هغه په خاطر سړی دوه رکعته لمونځ نه سي کولای او چي کله سړی د اختر په شپه باندي يو دوه رکعته لمونځ نه سي کولای ددې اصل وجه دا وي چي ددې سړي په دماغ کي د آخرت سنګين والی او درونډوالی نه وي او د دنيا سنګين والی او درونډوالی دده په دماغ کي سته.

ټوله شپه دنيا ته رونه ولای سي او د آخرت دپاره يې نه سي رونه ولای، نو ددې عبادت په وجه که پر سړي تکليف راسي ګوري! تکليف ختميږي، د دنيا تکليف تکليف نه دئ، د دنيا تکليف تېرېدونکی دئ، د سړي دا عقيده وي چي ناجوړي راغله، نو يوه ورځ به ختم سي، مسکنت راغلئ، نو يو ورځ به ختم سي، غم راغلئ، نو يو ورځ به سپک سي، ليکن که د قبر تکليف راغلئ، که د قبر مسکنت راغلئ، که د قبر پرېشاني راغله، نو د هغه په باره کي بيا د سړي دا طمع نه وي چي دا به ختم سي.

نو د قبر سټري ډيري سختي سټري دي، نن موږ د آخرت د سټرو په باره کي يوه زره سنجيده نه يو، خبري اورو، نصيحتو نه اورو، د قرآن کريم تلاوتونه اورو او په يوه غوږ راځي تر دې بل غوږ يې باسو، ليکن دا مو يوه زره په د ماغ کي نه راځي چي پر ما به مرګ راځي او زه به آخرت ته ورځم.

## زموږ د غفلت سوچ او فكر:

زموږ دا عقيده يې چې ياره مرګ به همېشه بل چا لره راځي او زه به همېشه ژوندی ګرځم. او زموږ دا عقيده وي چې كله مرګ راغلئ نو عزرائيل عليه السلام به ما ته مخكې لا خبر را كړي چې مرګ راځي، نو زه به توبه وكاږم. موږ په دغه غفلت غفلت كي روان يو حالانكه نوم مو د مړو په لست او شمار كې ليكل سوی وي.

قرآن كريم وايي: ﴿فَلَا يَسْتَطِيعُونَ تَوْصِيَةً وَلَا إِلَىٰ أَهْلِهِمْ يَرْجِعُونَ﴾(۱).

أی انسانه! كه چيري عزرائيل عليه السلام را ورسېدی بيا نه وصيت سته، بيا نه څه مهلت سته، بيا نه څه وخت سته، كه ولاړ وې د ناستې وخت نسته او كه ناست وې د ولاړې وخت نسته، نو څكه آخرت و موږ ته ګوري.

## دامام غزالي رحمة الله عليه وينا:

د امام غزالي رحمة الله عليه وينا ده و غافل انسان ته، امام غزالي رحمة الله عليه وايي: أی انسانه غفلت مه كوه! دا زندګۍ در څخه ختمېږي، دېر وخت ته د دنيا په سوچو او په فكرو كي اخته يې او ته په ځان خبر نه يې كم نصيبه ستا نوم په مړو كي ليكل سوی وي او دېر وار ته د اختر په خوشحاليو كي لګيا يې چې دا شی مي رانيوئ، دا شی مي را نيوئ، دا مي په دومره رانيوئ، دا مي په دومره رانيوئ، ليكن ستا پر نامه چې د كفن كومه جامه ده هغه ستا ددې كلي په دكان كي ستا د قريب په انتظار ده، چې كله به راځي او كله به يې وړي او كله به ستا پر بدن باندی پېچل كيږي.

(۱) سورة يس آيت نمبر ۵۰

## غفلت د دماغه ليرې کول:

نو په څه باندې چې سړی مغرور وي او په څه باندې چې سړی په غفلت کې وي دا مغرورتوب او غفلت به کله د سړي د دماغه وځي؟ بعض خلک د دنيا مال او دولت پر سر اخستي دي په داسې مغرورتيا او غفلت کې دي چې د آخرت خبره او د قبر خبره د دوی بالکل په دماغ کې نه راځي.

ای کم نصيبه انسانه! که د دنيا په نوو جامو او فاخرانه لباس باندې مغروره يې د کفن سپينې جامې هم د دې بدن دپاره په دماغ کې وسنجوه! ستا پر بدن به يوه ورځ د کفن سپينې جامې هم غوړېږي، بيا به ستا غرور چيرې وي؟ بيا به ستا تکبر چيرې وي؟

او بعض خلک په خپلو لوړو بلډنګو، په خپلو قلعه ګانو باندې مغروره دي چې زما سره خو مال او دولت دئ، زما سره خو قلعه ګانې دي، ته خو د دې په مقابل کې د قبر د تورې کندې هم لږ تصور وکه! چې هلته به زما هوساېي چيرې وي؟ هلته به زما پراخې قلعه ګانې چيرې وي؟

حضرت ابوبکر صديق ﷺ به فرمايل: ای انسانه! ته دنيا په سامانو را جمع کولو کې اخته يې او دنيا د خپل ځان څخه ستا په ايستلو کې اخته ده لکه: يو شاعر وايي:

﴿أَمْ بُيُوتُكَ فِي الدُّنْيَا وَاسِعَةٌ... فَلَيْتَ قَبْرَكَ بَعْدَ الْمَوْتِ يَتَّسِعُ﴾

د دنيا خو دې ډيرې غټې قلعه ګانې جوړې کړې دي. کاش! کاش! د مرګه څخه وروسته قبر دې هم لږ فراخ وای!

نو په دې شيانو خو مه مغروره کيږئ! په مال او دولت سړی نه مغروره کيږي، ټن د سړي کور د سامانو ډک دئ، ليکن دَی ځغلي چې زما د کور ضروريات نه دئ پوره.

اى كم نصيبه! چي د قبر توري كندي لره ور سې بيا به دې ضروريات څنګه پوره كيږي؟ د قبر د توري كندي ضروريات پوره كه! د قبر د توري كندي ضروريات د دې ورځو په عبادت پوره كيږي او په نيكيو پوره كيږي او د نيكيو د ګټلو دپاره دا بهترينې ورځې دي.

## د دوزخي انسان علامې:

خو دا خبري دغسي د دماغه مه باسئ! لږ دا خبري و دماغ ته شوه كړئ! او لږ پر دې باندې سوچ او فكر وكړئ! ځكه قرآن كريم وايي: د جهنمي دوې علامې دي (دا زه نه وايم، دا د الله تعالى كلام وايي):

۱. يوه علامه يې داده چي اول خو د دين خبره ته غوږ نه نيسي.
۲. دويمه علامه يې داده چي په يوه غوږ كې يې د دين خبره راسي تر دا بل غوږ يې دستي بيرته باسي، يعني يوه زره سوچ او فكر نه پر كوي.

## د دوزخيانو ارمان:

او جهنميان به په قيامت كې تر ټولو لوى ارمان دا كوي: ﴿قَالُوْا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ اَوْ نَعْقِلُ﴾ كاش هغه خبرو ته موږ غوږ نيولاى! او كاش هغه خبرو ته موږ لږ په دماغ كې ځاى وركولاى! ﴿مَا كُنَّا فِيْ اَصْحٰبِ السَّعِيْرِ﴾ نن به موږ په جهنم كې نه واى.
نو په دې خاطر باندې دا مباركې شپې دي، د تكبيرات تشريق لږ پابندي وكړئ! د اضحيې پابندى وكړئ! كم از كم نن د اختر ډېره مباركه شپه ده، دا نه ده معلومه چي د بل اختر تر شپو پوري موږ په كوم شكل و رسيږو.
نن افسوس دئ! يو نوجوان خولې نه ده را نيولې، نو ټوله شپه پر خولې را نيولو ضائع كوي، ليكن د آخرت او قبر د رڼا دپاره يو څو ركعته نفل نه سي كولاى.
ايا دا د آخرت او قبر زندګي د انسان په ذهن كې د يوې خولې اهميت نه لري؟
نو په دې وجه دا ورځې مه ضائع كوئ! او يو څه عبادت وكړئ! د خپل كور كشران را و ګرځوئ! د خپل كور زنانو ته د عبادت خبره وكړئ! لږ معلومات ور

لره ورکړئ! چې دا شپې د عبادت دي او دا زموږ د قبر د رڼا شپې دي او دا زموږ د قبر هوسايي ده او د دې شپو عبادت زموږ په قبر کې غمخواري کوي.
نو الله ﷻ دې په دې ټولو خبرو د عمل کولو توفيق را کړي!

وَ آخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الایه)

# قرباني د ابراهیم علیه السلام یادګار ده

## (بیان)

مولوي اطیع الله صاحب
استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دارالعلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه
کانسی روڈ کوئٹه

| | |
|---|---|
| تقــــرير | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتي حافظ كليم الله صاحب |
| مقـــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعـت | مخلـــــــــــورم |
| تـاريــــخ | يكم ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق يكم مي ۲۰۱۸ |
| تـعــــداد | (۱۱۰۰) |

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْداً كَثِيراً طَيِّباً مُبَارَكاً فِيْهِ وَمُبَارَكاً عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَ يَرْضٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهِ خَيْرِ الْهُدٰى وَعَلٰى اٰلِهِ وَاَصْحَابِهِ نُجُوْمِ الْاِهْتِدَاءِ. اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

بِسْــــمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰـــنِ الرَّحِيْمِ

وَإِذِ ابْتَلَى إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا قَالَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِي قَالَ لَا يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ. (۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ اَشَدَّ النَّاسِ بَلَاءً اَلْاَنْبِيَاءُ ثُمَّ الْاَوْلِيَاءُ ثُمَّ الْاَمْثَلُ فَالْاَمْثَلُ. (۲)

اَوْ كَمَا قَالَ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ.

اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلٰنَا الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْمُ وَنَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ.

## قرباني د ابراهیم علیه السلام یادګار دئ:

محترمو مشرانو! د لوی اختر مبارکه ورځ ده او نن د یو عظیمي قربانۍ ورځ ده او دا قرباني د حضرت ابراهیم علیه السلام د هغه عظیم الشان عمل یادګار دئ چي د نن څخه په زرو کلونه وړاندي حضرت ابراهیم علیه السلام د مِنٰی په دره کي د یو لوی امتحان په شکل کي سرته ورسوله.

نن چي هر مسلمان قرباني کوي او د حیوان پر غاړه چاړه را کښوي، نو ښکار دا دي چي د قربانۍ په وخت کي د ابراهیم علیه السلام د هغه قربانۍ استحضار په دل او دماغ کي وکړي.

---

(۱) البقرة آیت ۱۲۴

(۲) جامع الصغیر حدیث ۱۵۶۲

او د دې قرباني پر حقيقت لږ غور او فکر وکړي چي زما دا قرباني محض د الله تبارک وتعالی د حکم تعميل او د الله تعالی د رضا طلب کولو او د ابراهيم علیه السلام د سنت پر ځای کولو دپاره ده.
او د هر پلار بايد دا جذبه وي کچيري پر ما باندی نن د بچي د ذبحي حکم باقي وای، نو ما به په ډېر شوق او خوشحالۍ سره د هغه تعميل کړی وای او ما به ضرور خپل لخت جګر قربان کړی وای.
او د هر بچي بايد دغه جذبه وي چي زه به د قربانېدلو دپاره په دل ؤجان راضي وای.
او د هر مسلمان بايد دا عزم وي کچيري دا حکم د بچي د ذبحي نن پر ما نازل سي، نو زه به په دې کي يو زره هم کوتاهي و نه کړم.

## د قربانۍ اصل روح او حقيقت:

د قربانۍ اصل روح او حقيقت دا دئ چي مسلمان بايد د الله تعالی په محبت کي خپل تمام نفساني خواهشات قرباني کړي.
حيوان ذبح کول او د حيوان په قرباني کولو کي هم غالبًا داغه حکمت پوشيده دئ چي د الله تعالی په محبت او د هغه د احکامو په تعميل کي تمام خواهشات نفسانيه هر يو جلا جلا ذبح کول دي.
کچيری يو سړی د حيوان قرباني په ډېر شوق سره کوي، مګر د نفس خواهشات او ګناه نه پرېږدي او نه د ګناه د پرېښولو فکر ورسره وي، نو اګر چي واجب خو دده د ذمې څخه ساقط سوه، مګر د قربانۍ د اصل حقيقت او روح څخه محروم او بې نصيبه پاته سو.
د دې وجې څخه پکار دا دي چي مسلمان د قربانۍ د ظاهري صورت سره سره د دې قربانۍ د حقيقت حاصلولو عزم او کوشش هم وکړي او د دې د حصول دپاره خپله دعا جاري وساتي.

**د ابراهيم علیه السلام مختلفې قرباني:**

حضرت ابراهيم علیه السلام صرف د يو حيوان قرباني نه وه کړې، بلکه هغه د خپلې زندګۍ هره لمحه او هره ګړۍ ګړۍ قرباني کړل.

يعنې ټوله زندګي يې د الله جل جلاله په اطاعت او فرمانبردارۍ او د دين د حفاظت په خاطر په قرباني کې تېره کړه.

چې کوم حکم به د الله تعالى د طرفه را نازل سو، نو فورًا به يې د هغه تعميل کوئ.

ځان او مال، مور او پلار، وطن او مکان او خپله د زړه ټکره يې ټوله د الله تعالى په لار کې قربان کړل.

موږ هم بايد په خپلو نفسو کې دا جذبه پيدا کړو چې د دين کومه تقاضا مخ ته راسي په هغه به عمل کوو او د هغه لپاره هر قسم قرباني ته تيار اوسو.

خپل قريبان او دوستان، زنانه او بچيان، مور او پلار، خاندان او قوم ؤ قبيله يوه چا ته هم د الله تعالى د حکم په مقابل کې ترجيح ور نه کړو، لکه په اردو ژبه کې يو شعر دئ شاعر وايي:

سارا جہان ناراض ہو پروا نہ چاہئے-مد نظر تو مرضی جانان چاہئے

د الله تعالى د ناراضۍ په مقابل کې بايد د ټوله جهان د ناراضۍ پروا انسان نه وساتي.

بس اس نظر سے دیکھ کر تو کر یہ فیصلہ-کیا کیا تو کرنا چاہئے کیا کیا نہ چاہئے

د الله تعالى د رضا په نظر ورته ګوره بيا فيصله کوه چې اوس زما د پاره څه کول مناسب دي او څه کول مناسب نه دي.

نو د ابراهيم علیه السلام سنت صرف د حيوان ذبح کول نه، بلکه د ابراهيم علیه السلام ټوله زندګي پر دين باندي په قربانۍ پېښولو کې تېره سوه.

په قران كريم كي موږ او تاسو ته د ابراهيم علیه السلام د اتباع امر سوى دئ.
د ابراهيم علیه السلام اتباع صرف دا نه ده چي هغه په دې ورځ حيوان ذبح كړئ، نو موږ او تاسو هم په دې ورځ حيوانان ذبح كوو، بلكه د ابراهيم علیه السلام غوندي د دين هري قرباني ته تيارېدل دا د ابراهيم علیه السلام اتباع ده.
تاسو لږ د ابراهيم علیه السلام زندګي ته او په زندګي كي د هغه و قربانيو ته نظر وكړئ!
① اوله قرباني: د خپل دين د حفاظت په خاطر يې د "نمرود" غوندي جابر حكمران و مخ ته د حق كلمه هم وويله چي كله "نمرود" عام دربار جوړ كړئ او د ابراهيم علیه السلام په لاسو او پښو كي زنځيرونه وه، د يو مجرم په شكل د ده و مخ ته ودرول سو، نو "نمرود ملعون" پوښتنه ځني كوي او ورته وايي:
- اى ابراهيمه! ستا رب څوک دئ چي ته د هغه عبادت او بندګي كوې او زما د خدايي څخه انكار كوې؟
- نو ابراهيم علیه السلام په جواب كي ورته وايي: ﴿رَبِّيَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ﴾(۱) زما رب هغه ذات دئ چي د چا په قبضه او قدرت كي د انسان ژوند او مرګ دئ، چي ژوند وركولو والا ذات هم هغه دئ او مرګ وركولو والا ذات هم هغه دئ.
- نو "نمرود" ورته وايي: ﴿أَنَا أُحْيِي وَ أُمِيتُ﴾ دا كار خو زه هم كوم چي چا ته ژوند وركوم او څوک وژنم.
دستي يې يو سړى چي دده په قانون واجب القتل ؤ ازاد يې كړئ او وايي چي دا مي يو انسان ته ژوند وركړئ او يو ژوندى انسان يې بلاسببه قتل كړئ او وايي چي دا مي مرګ وركړئ.
- نو اى ابراهيمه! لكه ستا رب چي ژوند او مرګ انسانانو ته وركوي زه هم ژوند او مرګ انسانانو ته وركولاى سم، نو حقيقي رب زه يم دا كار زه هم كوم.

---

(۱) البقرة آيت ۲۵۸

- ابراهیم علیه السلام ورته وایي: ﴿إِنَّ اللهَ يَأْتِي بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ﴾ زما رب لمر د مشرق د طرفه را پورته کوي، نو که ته رشتیا رب یې نو ته د هغه په مقابل کې لمر د مغرب د طرفه را پورته که! نو نمرود په دې خبره باندې لاجوابه سو.

نو د ابراهیم علیه السلام د زندګۍ یوه لویه قرباني دا وه چې د یو جابر حکمران په مخ کې یې د حق کلمه وویله.

لکه د پیغمبر ﷺ په حدیث مبارک کې چې راځي ﴿أَفْضَلُ الْجِهَادِ كَلِمَةُ حَقٍّ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ﴾(۱) بهترین جهاد او لوی جهاد د ظالم حکمران په مخ کې د حق وینا کول دي.

② دوهمه قرباني: د دین په خاطر اور ته غورځېدل دي.

③ دریمه قرباني: د خپل وطن (مصر) څخه شام او فلسطین ته هجرت کول دي.

④ څلورمه قرباني: په حجاز المقدس کې خپله زنانه او بچی یوازې پرېښول دي.

⑤ پنځمه قرباني: د مټې په شیله کې د بچي پر غاړه چاړه را کشول دي.

نو ابراهیم علیه السلام یواځې یو حیوان نه دئ قرباني کړی، بلکه د هغه ټوله زندګي د قربانیو یو داستان دئ.

نو کوم انسان چې د ابراهیم علیه السلام سنت پر ځای کوي باید د ابراهیم علیه السلام غوندې د دین هرې قربانۍ ته ورورانديسي.

او د خپل دین د حفاظت په خاطر هر قسم قرباني که په ځان وي، که په مال وي او که په اولاد وي هغه پېش کړي.

او قرباني پر دین ورکول دا یوازې د حضرت ابراهیم علیه السلام نه، بلکه د ټولو انبیاؤ علیهم السلام سنت او عادت دئ. او زموږ د سلفو او اکابرینو طریقه ده.

(۱) ابن ماجه، حدیث نمبر: ۴۰۱۱

## د محمد ابن قاسم رحمة الله عليه قرباني او شهادت:

نن صبا چي کله يو نوجوان د دين دپاره قرباني پېشولو ته تيار سي (هر قسم قرباني چي وي)، نو د خلقو په خولو کي دستي دا سوال ښکاره سي چي بچيان پرېښول او مورډ پلار اوکارډ بار پرېښول د دين د خدمت دپاره وتل دا په کوم کتاب کي ليکلي دي.

ليکن هغه کور ښاديان دا فکر او سوچ نه کوي چي په نوي (۹۰) کاله کي دننه اسلام د مدينې منورې څخه کشمير او ترکمنستان ته څنګه را ورسېدئ.

د محمد ابن قاسم رحمة الله عليه واده وسو، صرف څلور مياشتي يې د خپلي زناني سره تيري کړلې.

"حجاج" چي د وخت حکمران ؤ ده ته يې خپله لور په نکاح ورکړې وه، د واده څخه وروسته څلور مياشتي بعد يې دَی "سندھ" ته چي اوس د "پاکستان" يوه صوبه ده را واستوئ.

دوه نيم کاله يې په "سندھ" کي تېر کړل د جهاد په شکل او دوه نيم کاله بعد په "سندھ" کي شهيد سو.

د څلورو مياشتو وروسته بيا هغه د خپلې زناني شکل تر مرګه پوري نه وليدئ.

يو د محمد ابن قاسم رحمة الله عليه کور خراب سو، ليکن د هغه په برکت بې شماره کورونه الله تعالی په اسلام باندي آباد کړل.

نن دا څوک نه سي ويلای چي محمد ابن قاسم رحمة الله عليه د خپلي زناني حق پر ځای نه کړئ، بلکه د خپلي زناني حق يې ضائع کړئ.

داځکه نه سي ويلای چي د "پاکستان" د اکثرو علاقو اسلام د "محمد ابن قاسم" په برکت راغلی دئ.

او د قيامت په ورځ به محمد ابن قاسم رحمة الله عليه په جنت کي د خپلي زناني سره د انبياؤ عليهم السلام په شان را روان وي او ټول اهل جنت به دده ننداره کوي، نو زموږ دين يقينًا په قربانيو ترموږه را رسېدلی دئ(١).

پر دې دين بې شماره صحابه کرامو او اسلافو رحمهم الله قرباني پيش کړي دي.

## د حضرت هاجري رضي الله عنها قرباني:

تاسو د دې امت اولنۍ مور حضرت هاجري رضي الله عنها ته وګورئ! کوم چا ته چي د حضرت ابراهيم عليه السلام غوندي محبوب خاوند الله تعالی ورکړی ؤ.

او د "فلسطين" غوندي په خوبصورته ځمکه کي الله تعالی استوګنه په نصيب ورکړې وه، چي هغه په چينو، سبزياتو او باغاتو سرسبز او مزېنه وه.

او دا مبارکه ښځه د "مصر" يو شاهزاده زنانه وه.

او د "فلسطين" په سرسبزه او شادابه غرونو کي يې د حضرت ابراهيم عليه السلام سره استوګنه کوله، ليکن د دې ځايه ځخه الله تعالی د قرباني په خاطر را و ايستله.

د دې امت شروع او ابتداء د دې ځايه ځخه سوې ده.

تاسو په خپلو دماغو او تصوراتو کي پنځه زره (۵۰۰۰) کاله مخکي ولاړ سئ! او پنځه زره (۵۰۰۰) کاله مخکي تاسو د مکې مکرمې د علاقو او ځمکو تصور په دماغ کي را وګرځوئ!

د مکې مکرمې تک تور غرونه او د مصر يو شاهزاده زنانه د دوه ويشت (۲۲) کالو په عمر کي يو معصوم بچی په غيږ کي کېښېنستل او د خپل خاوند ځخه جدا کېدل د زنانو د پاره د ټولو ځخه لوی تکليف دئ.

بيا د حضرت ابراهيم عليه السلام غوندي خاوند ځخه جدا کېدل خو به بيا نور هم ډېر زيات تکليف وي.

---

(١) بصيرت افروز واقعات صفحه ۹۲

چي کله حضرت ابراهیم علیه السلام ته د وتلو امر وسو چي ته بچي او خپله زنانه وباسه د "فلسطین" څخه، نو دَی مبارک چي د حضرت هاجرې سره راووتئ، نو د الله تعالی په حضور کي سوال کوي چي یاالله! پر کم طرف ولاړ سم؟ الله تعالی ورته وايي: "جبرئيل امين" راځي هغه به تا ته لار دروښيي.

نو "جبرئيل امين" راغلئ هغه تر مخه روان دئ او ابراهيم علیه السلام د "بي بي هاجرې" او د بچي سره وروسته روان دئ.

دوی د "فلسطين" د علاقې (الخليل) څخه روان دي د "حجاز مقدس" پر طرف باندي ځي.

د "الخليل" او "حجاز مقدس" په مابين کي تقريبًا يو څه بالا دوه زره (۲۰۰۰) کيلو ميټره مځکه ده.

دا نه ده معلومه چي دا سفر به په کوم شکل دوی کړی وي.

چي آباده علاقه ختم سوه او ديري علاقې تيري سوې، نو داسي علاقه را ورسيده چي تنهايي، وحشت، خوف او بيره د دې علاقې انتها ته رسيدلې ده.

صرف تک تور غرونه دي او د غرو په درميان کی يوه شيله ده، جبرئيل علیه السلام ورته وايي: خپل بچي او زنانه دلته پريږده!

د ابراهيم علیه السلام د جبرئيل څخه د دې خبري په اوريدلو يو دم زړه وغورځيدئ، پر ابراهيم علیه السلام باندي د بچي او زناني پرېښول په دې تورو غرو کي ډېر سخت ساعت وُ.

چي کله د "نمرود" په اور کي لويږي هلته يې زړه نه غورځي، ليکن د بچي او زناني په دې توره شيله کي د پرېښولو په وخت کي يې زړه غورځي.

چي کله د "نمرود" اورته غورځول کيږي په هوا کي جبرائيل علیه السلام ورته وايي:

- څه غواړې؟

- دَی مبارک ورته وايي: ته هم ای جبرئيله! زما غوندي مخلوق يې ستا څخه هيڅ هم نه غواړم.

نو زنانه او بچي يې په هغه شيله کې پرېښول، يو څو خورماوي ورسره وې هغه يې د نفقې په شکل ور ته کېښېښولې او ورته وايي: زه رخصتېږم، زما يې د خداي په امان.

د زناني چونکه ما تحت الاسباب د مور او پلار څخه وروسته پر خاوند زيات اعتماد وي (نو ابراهيم علیه السلام هغه زنانه حضرت هاجره مبارکه پرېښوله او پخپله د شام پر طرف روان سو، چې اوس د مکې مکرمې ميزاب رحمت دئ، دې ته محله شاميه وايي).

نو چې کله دَی روان سو حضرت هاجرې مبارکې پسي منډې کړې، تر لمن يې ونيوئ او ورته وايي:

ياخليل الرحمان! ته زما څخه ناراضه سوې او يا زما څخه په حقوقو د زوجيت کي څه کمي سوې ده؟

حضرت ابراهيم علیه السلام بالکل مخ لا هم نه ورته را اړوي او نه تر شاه ورته ګوري، په دې خاطر چې د الله تعالی په حکم کي څه کمي او څه تاخير را نه سي.

آخر هغه زنانه ورته وايي:

- ته د خپله طرفه زما سره دا کوې که د الله تعالی امر دئ؟

حضرت ابراهيم علیه السلام ورته وايي: ﴿اَمَرَنِيْ رَبِّيْ بِهٰذَا﴾ زما د رب جل جلاله امر او فيصله ده.

چې کله هغه زناني دا واورېده چې د الله تعالی فيصله ده، نو دا مبارکه و درېدله او وايي: ﴿فَاِذًا لَایُضَیِّعُنِیْ اَبَدًا﴾ الله تعالی مو رڼ هيڅکله نه ضائع کوي(١).

---

(١) بيانات جمعه صفحه ٣٥٦

## د اولاد محبت:

د ابراهیم علیه السلام دپاره د بچي او زناني پرېښول داسي سخت ساعت او خوفناکه منظر وو چي کله ابراهیم علیه السلام اورته وغورځول سو، نو په خاموشۍ سره اورته وررولوېدئ، هیڅ یې هم نه وویل.

لیکن چي کله یې زنانه او بچی د مکې مکرمې په تورو غرو کي پرېښول او تر غره را واوښتئ، نو د بچي او زناني د ډېر محبت په وجه یې پښې درنې سولې او تګ ورته مشکل سو.

نو د اوښي څخه راښوه سو او په دعا یې لاسونه پورته کړل او ویې ویل: ﴿رَبَّنَا إِنِّي أَسْكَنْتُ مِنْ ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ عِنْدَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُوا الصَّلَاةَ فَاجْعَلْ أَفْئِدَةً مِنَ النَّاسِ تَهْوِي إِلَيْهِمْ وَارْزُقْهُمْ مِنَ الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ﴾(۱)

اې الله جل جلاله! تا چي څنګه را ته وویل ما هغسي وکړه، یاالله! تا ویل زنانه او بچی دلته پرېږده، نو ما پرېښول، یاالله! زما بچي او زنانه ستا په حواله دي.

او چي کله د "نمرود" اورته غورځي، نو دا نه وایې چي یاالله جل جلاله زما حفاظت وکړه! حالانکه خپل نفس انسان ته د هر څه څخه زیات محبوب وي.

په خدای جل جلاله قسم د بچي او زناني د مکې په تورو غرو کي پرېښول داسي سنګین منظر سوی دئ چي ابراهیم علیه السلام غوندي انسان چي د غرو غوندي لوی زړه او اسمانو غوندي پراخي سینې والا هم پکښې بې قراره سو.

## د حضرت هاجري رضي الله عنها بې وسي او بې کسي:

لږ وخت بعد حضرت ابراهیم علیه السلام چي یو څه اوبه ور پرې ایښې وې هغه ختم سوې، حضرت اسماعیل علیه السلام د تندي څخه برېر شروع کړئ.

بي بي هاجره رضي الله عنها په چابکي سره د "صفا" و غونډۍ ته پورته سوه په دې نیت سره چي یا به یو څه اوبه پیدا کړي او یا به یو انسان ووینې، چي هلته یې نه

(۱) سورة ابراهیم، آیت نمبر، ۳۷

وليدئ، نو د هغه ځايه بيا د اوبو يا د انسان ليدلو په نيت د "مروٰی" غونډۍ ته پورته سوه، او اوه (۷) واره يې د يوې غونډۍ او د بلې غونډۍ په درميان کې ولاړه او راغله.

او په درميان کې يوه "شبله" راتله چې په دې ځای کې به اسماعيل علیه السلام د دې د نظره غائب کېدئ، نو د دې شبلې څخه د راختلو په اراده او پر اسماعيل علیه السلام د نظر لګېدلو په خاطر به دې مبارکې په دې شبله کې منډې وهلې.

الله تعالی ته د دې دا منډې دومره خوښې سوې چې پر ټولو حج او عمره کوونکو انسانانو باندې يې تر قيامته پورې ضروري وګرځولې.

د منډو کولو څخه وروسته چې کله مايوسه او نااميده سوه، نو واپس د اسماعيل علیه السلام پر طرف را روانه سوه، کتابونه ليکي: ﴿تفلَمَّ رجلاً وَ تَاخّرَ رجلاً﴾ يو قدم به يې پر مخ را واخيستئ او بيرته به و درېدله او دا سوچ به يې کوئ چې ايا بچې به د تندې څخه مړ وي او که به لا ژوندی وي.

په دې دوران کې ناڅاپه د غيبه څخه اواز راځي او د الله ﷻ د طرفه يو منادي ندا ورته کوي او ورته وايي:

- ﴿مَنْ اَنتِ﴾ ته څوک يې؟
- دا مبارکه ورته وايي: ﴿اَنَا اُمّ وَلَدِ اِبْرَاهِيْم﴾ زه د ابراهيم د بچې مور يم.
- هغه غيبي آواز ورته وايي: ﴿اِلٰى مَنْ وَكَلَكُمَا؟﴾ چا ته دلته سپارلې سوې ياست؟
- دا مبارکه ورته وايي: ﴿وَكَلَنَا اِلَى اللهِ﴾ الله تعالی ته سپارل سوي يو.
- هغه ندا کونکی ورته وايي: ﴿وَكَلَكُمَا اِلٰى كَافٍ﴾ يو کافي او شافي ذات ته سپارل سوي ياست(۱).

دا چې کله خپل بچي ته راغله، نو د هغه بچي (اسماعيل علیه السلام) د پښو څخه د "زمزم" د اوبو چينه جاري سوې وه.

---

(۱) تفسير ابن کثير سورة البقرة تحت تفسير آية: ۱۲۵ الی ۱۲۸

نو د نن څخه پنځه زره (۵۰۰۰) کاله مخکي الله تعالی حضرت "هاجره" چي یو شیرخواره بچی یې په غیږ کي ؤ د خپل خاوند څخه د مکې مکرمې په تورو غرو کي پاته کړل او خاوند ابراهیم علیه السلام ځني ولاړئ.
تاسو څلور پنځه زره کاله مخکي مکه په سوچ او فکر کي راوګرځوئ! په کوم شکل تک تور غرونه به یې وه او په کوم شکل خوفناکه دره او شپله به وه.
دا ځکه چي الله تعالی د دې د پشت (ملا) او نسل څخه څلور زره (۴۰۰۰) کاله بعد یو امت را باسي چي هغه به هم داغه رنګه خپله زنانه او بچي قربانوي او د الله جل جلاله دین به د دنیا و کونج کونج ته رسوي.
نو د دې امت اوله خښته پر قرباني باندي ایښول سوې ده.
تاسو ګورئ د هغه زنانې سره نه خاوند، نه یو غمخوار هیڅوک هم ورسره نسته، تکه توره شپه راغله، تکي توري ډبري، تک تور غرونه، نو هغه شپه به پر هغه زنانې څنګه تېره سوې وي.
بس یو بچی، لوړ اسمان او لاندي مځکه.
بیا چي کله ورځ راغله او لمر راپورته سو، نو د لمر ګرمي، د هوا ګرمي، د غرو ګرمي او د تورو ډبرو ګرمي سوه. نه کور سته، نه د سر پناه سته، نو په دې وخت کي به هغه د امت مور پناه چیري اخیستې وي؟ هغه ورځ به پر هغه زنانې څنګه تېره سوې وي؟
مور پر ډېره لږ ګرمي باندي های های کوو.
زما ورونو د حضرت "هاجرې" مبارکي په حال کي لږ سوچ وکړئ! دا د دې امت مور ده، د دې امت مور څومره قرباني برداشت کړي دي او د دې امت پر مور څومره تکلیفونه راغلي دي.
دا د دې د ښکاره کولو په خاطر چي ای امت د محمد صلی الله علیه وسلم! ستاسو کار د دین په خاطر قرباني پیشول دي.

نو ځکه الله تعالی د دې امت اوله خبنته پر قرباني باندې مضبوطه کښېښوله چې تر قیامته پورې د قرباني په خاطر د دې امت بنیاد بیا و نه ښورې.

## یو کال بعد د ابراهیم علیه السلام راتګ:

تر یوه کاله پورې یې انتظار وکړئ چې ابراهیم علیه السلام به راسي او دا مبارکه به خپل حال ورته ووایي چې پر ما څه حالت تېر سو او یو څه به د ابراهیم علیه السلام څخه دده د حالت پوښتنه کوي، پوره کال په انتظار کې پر تېر سو.

یو کال بعد حضرت ابراهیم علیه السلام راغلئ، لیکن داسي ازمائش او امتحان یې را اخیستی دئ چې د مځکي څخه لا یو څه نور زیات دئ.

ابراهیم علیه السلام چې کله اوښه چوکه کړله، اسماعیل علیه السلام په دې وخت کې د یو نیم کال عمر ته رسېدلی دئ، لږ لږ تګ کوي او ګرځي.

ابراهیم علیه السلام چې کله اسماعیل ولیدئ، نو زړه مبارک یې د محبت څخه ډېر جوش وکړئ.

او مور یې حضرت "هاجره" مبارکه هم ډېره خوشحاله ده چې پلار به اوس د بچي سره ناز او محبت کوي او بچي به د خپل ځان سره کښېنوي او ناز به ورسره کوي. او اوس به نو پلار د بچي سره دلې استوګنه کوي.

حضرت هاجره مبارکه خپل خاوند حضرت ابراهیم علیه السلام ته وایي:

- حضرت! راشوه سه!

- لیکن حضرت ابراهیم علیه السلام ورته وایي: د الله تعالی حکم دئ د خپل سواري څخه نه سم شوه کېدای، زه د غسې پر خپل سواري ناست یم، ته خپل حالت را ته بیان که چې پر تا او بچي دا یو کال زمانه څنګه تېره سوه؟

د حضرت "هاجرې" مبارکي په سترګو کې اوښکې راغلې او د خپلو شپو او ورځو حال ورته بیانوي او ورته وایي: چې زما رب تبارک وتعالی چې څه حکم کوي موږ پر هغه باندې راضي یو او موږ هغه ته غاړه ایږدو.

بیا ورته وایي:

- حضرت! دومره اجازت خو راکه چي سر، لاس او پښې خو در ومینځم.
- حضرت ابراهیم علیه السلام ورته فرمایي: هو، د دې اجازت سته.
نو بيبي هاجرې مبارکي سر، لاس او پښې د "زمزم" په اوبو ورپرېولل.
ده د بچي سره یو څه محبت وکړئ او اوښه یې بیرته وګرځوله روان سو.
نو دې امت د دومزه زیاتو قربانیو څخه وروسته وجود پیدا کړی دئ(¹).

## د صحابه کرامو رضی الله عنهم پر دین باندې قرباني:

حضور اکرم ﷺ په مدینه منوره کي داسي امت تیار کړئ او د کلمې پیغام یې د دوی په لاس کي ورکړئ چي د الله تعالی دا کلمه به په دنیا کی سره غوروئ! او د دنیا کونج کونج ته به یې رسوئ! صحابه کرامو د کلمې د پیغام رسولو په خاطر خپل کلي، کورونه او وطنونه پرېښول د دنیا په کونج کونج کي په قبرونو کي ښخ سول.
پنځه قبرونه د صحابه کرامو اوس هم د "پاکستان" د "پنج ګور" په علاقه کي دي، چیري "مدینه منوره" او چیري د "پاکستان" علاقه "پنج ګور" او "تربت".
نن صبا د ترقی په دور کي په پنج ګور کي د چینلو د پاره صفا اوبه نه پیدا کیږي، نو څوارلس سوه (۱۴۰۰) کاله مخ کي هغه صحابه کرام دلته څنګه را ورسېدل؟ او څنګه یې دلته ژوند تېر کړئ؟
صحابه کرام د ملکونو د فتح کولو د پاره نه وه راوتلي، بلکه د انسانانو د جهنم څخه د ساتلو په خاطر راوتلي وو.
نن په "اصفهان" کي د حضرت "امامه" قبر موجود دئ. په "تهامه" کي د "نعمان ابن مُقرن" شهید قبر دئ. "عامر ابن معدي کرب زبیري" شهید دئ.

---

(¹) بیانات جمیل صفحه ۲۵۷

"براز ابن مالک" شهید دئ، معقل ابن یسار، عتبه ابن غزوان، عمر ابن عامر السفاری، عبدالرحمان ابن سمُره او سمُره ابن جداسي رضي الله عنهم، هم د دې لارې مسافر دي او په هغه علاقو کې د هغوی قبرونه دي. او اوس هم په دغه علاقه کې هغه قبرونه موجود دي.

"اندلس" "ترکمانستان" کې او په نورو ملکونو کې د صحابه کرامو قبرونه موجود دي.

په "شمالي افریقه" کې د "عتبه ابن نافع، ابو سومع الانصاری، ابو لبابه الانصاری او عقبة ابن نافع" قبرونه موجود دي. په "الجزائر" کې د عبد الرحمان ابن عباس قبر دئ. په "طائف" کې د "عبد الله ابن ابي بکر" قبر دئ.

دا د کاروبار دپاره د مدینې منورې څخه نه وو تللي، بلکه د الله تعالی پر دین باندې د قرباني پیشولو په خاطر د دنیا په کونج کونج وګرځېدل او د الله تعالی د دین پیغام یې خلقو ته ورسوئ او خپل ځانونه یې ورپسې خاورې کړل(۱).

## د قریشي سردارانو قرباني:

په مدینه منوره کې د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت په دوران کې حضرت عمر رضي الله عنه د یو کار په حقله مشوره جوړه کړه، نو د مدینې منورې صحابه کرام او د مکې مکرمې څخه یې د قریشو سرداران صحابه کرام را طلب کړل.

د حضرت عمر رضي الله عنه په مشرۍ کې مجلس شروع سو، د مکې مکرمې څخه چې د قریشو سرداران صحابه کرام رضي الله عنهم راغلي دي، نو هغه مخ ته په مجلس کې ناست دي، یو ګړی بعد حضرت بلال حبشي رضي الله عنه راغلئ، نو حضرت عمر رضي الله عنه ورته وایي:

(۱) بیانات جمیل ۲۵۲

حضرت ته مخ ته تشريف راوړه! هغه مخ ته کښېنستئ. او بيا وروسته حضرت صهيب رومي رضی الله عنه، حضرت عمار او حضرت "سهيل" دا ټوله غريبان صحابه کرام رضی الله عنهم وُ.
حضرت عمر رضی الله عنه دا ټول مخ ته را وبلل او چې کوم سرداران صحابه کرام وُ هغه شا ته کېدل، شا ته کېدل تر دې حده پورې چې د بوټو (څپلې) په ځای کې کښېنستل او چې کوم غريب صحابه کرام وه هغه چې د مخه مسلمانان سوي وه ټول يې رامخ ته کړل.
نو ابوسفيان رضی الله عنه وايي دا "عمر" اوس په موږ څه کوي چې سرداران يې ټول و شا ته کړل او هغه غريبان چې يو هم هيڅ نه لري هغه يې ټول را و مخ ته کړل؟
سهيل ابن عمر رضی الله عنه ور ته وايي: اې ابوسفيانه! ستا په مغزو کې تر اوسه لا د سردارۍ خناس ګرځي؟ اې د الله بنده! د اسلام سرداري په دې خلقو کې ده. دوی په ايمان راوړلو کې زموږ څخه مخکي دي.
لهذا دا به خامخا زموږ څخه مخکي کښېني او موږ به وروسته کښېنو او دا به هر ځای زموږ څخه مخکي وي او موږ به وروسته يو. الله جل جلاله دې جزاء خير ورکړي بيا هم د نبي کريم صلی الله علیه وسلم صحبت يافته وه چې کله مشوره خلاصه سوه.
نو هغه قريشي سرداران صحابه کرام حضرت عمر رضی الله عنه ته وايي: موږ خو نن د خپل عمل نتيجه د دې شرمندګۍ په شکل کې وليده چې په ټولو کې موږ د بوټو په ځای کې کښېنستو او اوس هم موږ دا وايو چې څه دې وکړه؟ ښه دې وکړه دا زموږ د خپلي زندګۍ ثمره او نتيجه ده چې موږ په خپلو سترګو وليده.
اوس صرف دا راته ووايه چې په آخرت کې به ستا او د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم او د ابوبکر رضی الله عنه معيت او ملګرتيا څنګه را نصيب سي؟
د دې علاج راوښيه! لکه څنګه چې په دنيا کې وروسته پاته يو هسې نه چې په آخرت کې هم وروسته پاته نه سو.

حضرت عمر رضی الله عنه ورته وايي د دې علاج پر دين باندي قرباني پېښول دي، ستاسو څخه مخکي دې غريبانو صحابه کرامو قرباني پېش کړې دي.
اوس ستاسو نوبت دئ کچيري قرباني پېش کړئ د دنيا او آخرت عزتونه به ستاسو پښو ته راسي او په آخرت کي به مو د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم معيت او ملګري په نصيب سي.
چي کله مشوره خلاصه سوه او دا سرداران د قريشو اکثر چي صحابه کرام هم وه "مکې مکرمې" ته راغله او ټولو يو دم "مکه مکرمه" پرېښوله او څلورسوه (۴۰۰) د قريشو سرداران صحابه کرام د قرباني په نيت د "شام" طرف ته ووتل.
په دوی کښي چي کله حضرت حارث ابن هشام رضی الله عنه د مکې مکرمې څخه د قرباني په نيت روانېږي (دا د ابوجهل کشر ورور ؤ)، نو ټوله مکې والا پسې ژاړي؛ ځکه دا د اهل مکې ډېر محبوب انسان ؤ او ډېر زيات سخي او د مکې مکرمې د هر محفل رونق ؤ، د وتلو پر وخت مکې مکرمې ته مخ اړوي او وايي: په خدای جل جلاله قسم په شوق باندي نه يم در څخه روان او نه دي په شوق پرېږدم، صرف يو کار مي پر ذمه باندي لګېدلی دئ هسې نه چي په هغه کار کي نور هم ځنډ را څخه وسي.
او په حقيقت کي موږ اوس هم ډېر ځنډ کړی دئ، يو څه کسا نو زموږ څخه مخکي خپل کار کړی دئ او اوس زموږ د قرباني وار دئ او موږ خپل ځانونه قربانول غواړو او د قرباني په نيت روان يو، چي د هغه کسانو څخه مخکي خو نه يو کم از کم چي برابر خو سو.
د "شام" طرف او علاقې ته راغلل، دې وخت کي د "يرموک" ميدان ګرم دئ، روميانو په خپل پوره طاقت درې لکه (۳۰۰۰۰۰) فوج را مخته کړی دئ او مسلمانان ټول شپږويشت زره (۲٦۰۰۰) کسان دي.
حضرت خالد ابن وليد رضی الله عنه د لښکر امير دئ، او نه (۹) ورځي مسلسل جنګ روان دئ، د سهار څخه تر ماښامه پوری جنګ وسي، ليکن هيڅ فيصله نه کېږي

او فتح د هيچا نه نصيب کيږي، بيا د ماښام په وخت واپس راسي سهار بيا جنګ شروع سي، آخره ورځ حضرت عکرمه ابن ابي جهل (چي د ابوجهل زوي ؤ د راغلو څلورسوه (۴۰۰) قريشي سردارانو صحابه کرامو امير هم ؤ) د خپله سره څخه د اوسپنې خولۍ وغورځوله او زغره يې وکښله او پر سر يې لنګوټه وتړله او پر جسم يې کفن را وپېچئ او په لښکر کي يې نعره وکړه او ويل يې: ﴿من يُّبَايِعُنِيْ عَلَى الْمَوْتِ؟﴾ زما پر لاس څوک د مرګ بيعت کوي؟ (خالد ابن وليد او دَی دواړه د ماما ځامن وه) نو خالد ابن وليد تر لاس ونيوئ او ويې ويل: سړيه! تا نه پرېږدو؛ ځکه تا ته زمونږ ډېر لوی ضرورت دئ.

هغه خپل لاس ځني وغورځوئ، ځني خلاص يې کړئ او ورته وايي: ای خالده! پرېږده ﴿وَاللهِ اِنِّيْ وَ اَبِيْ كَانَا مِنْ اَشَدِّ عَدَاوَةِ الرَّسُوْلِ﴾ ای د الله بنده ما او زما پلار ټوله زندګي د دين سره په ټکر کي تېره کړې ده او زه نن د هغه خپلي زندګۍ کسات او بدل اخلم.

نو د ټولو څخه مخکي خپل بچي "عامر ابن عکرمه" خپل لاس په لاس کي ورکوي، بيا "حارث ابن هشام" "سهيل ابن عمر" او "ابوسفيان" بيعت ورسره وکړئ. په دې ورځ باندي څلورسوه قريشو لاس په لاس کي ورکړئ او پر مرګ باندي يې بيعت ورسره وکئ او خپلي توري يې د پوښو څخه وکښلې.

د حضرت خالدابن وليد رضي الله عنه د خيمې و مخ ته يې قسمونه سره وخوړل چي تر څو پوري الله تعالى فيصله نه وي کړې پر شا به نه را ځو. په دې ورځ هغه څلورسوه (۴۰۰) د قريشو سرادارانو پر سرو لنګوټې وتړلې او پر بدنو يې کفنونه وپېچل او توري يې په لاسو کي ونيولې او په ميدان ورګډ سول.

د دوی د قرباني نتيجه وه چي روميانو ته الله جل جلاله ماتي ورکړه او هغه پر شا وتښتېدل. او په دې ورځ د روميانو سرداران مړه سول او ټول سره تيت پرک سول.

او الله تعالی د مسلمانانو په حق کي د فتحي فيصله وکړه او هغه څلور سوه (۴۰۰) صحابه کرام رضي الله عنهم د فدائي حملي کولو په شکل ټول په هغه ورځ شهيدان سول. اوس يې هم قبرونه په هغه ميدان کي جوړ دي. چي کله د جنګ امير حضرت خالد ابن وليد رضي الله عنه د غزا د ميدان نه واپس راغلئ، نو که ګوري پلار او زوی دواړه ټکري ټکري پراته دي. د حضرت "عکرمه" په بدن کی لا لړ لړ ساه روانه ده او زوی يې "حضرت عامر ابن عکرمه" ختم سوی دئ.

حضرت خالد رضي الله عنه چي ورته وکتل، نو چيغه يې د خولې څخه وختله او وايې: ﴿أَهَكَذَا يَمُوْتُ؟﴾ های د قريشو سرداران به په دا شکل خپل روح ور کوي؟ بچي (حضرت عامر) يې راپورته کړئ او د هغه سر يې پر څنګانه کښېښوئ. او د حضرت "عکرمه" سر يې په غيږ کي ونيوئ او لړ لړ اوبه يې پر وپرخلې. حضرت "عکرمه" سترګي را روني کړې او ويې ويل: ﴿مَنِ اقْتَرَبَ؟﴾ د چا په باره کي فيصله وسوه؟ حضرت خالد رضي الله عنه ورته وايي: ﴿اَبْشِرُوْا بِالْفَتْحِ﴾ الله تعالی مسلما نا نو ته فتح ورکړه. دَی ورته وايي: ښه، فتح د مسلمانانو په نصيب سوه؟ او بيا خالد بن وليد رضي الله عنه ته وايي: چي حضرت عمر رضي الله عنه ته زما پيغام ورسوه چي تا څنګه ويل موږ هغسي وکړه. تا ويل قرباني پيش کړئ، نو موږ پيش کړلې، اوس ستا څخه د خپلې وعدې وفا غواړو چي ستا او ابوبکر او د محمد رسول الله معيت او ملګري به مو نصيب کيږي. او خپل روح يې د الله تعالی و حضور ته پيش کړئ او شهيد سو. د شهادت څخه وروسته يې پر بدن باندي د تورو او نېزو د دو اويا (۷۲) څخه زيات زخمونه شمار سول.

حضرت خالد رضي الله عنه وژړل او ويل يې: ﴿كَلَّا زَعَمَ عُمَرُ ابْنَ حَنْتَمَه أَلَّا مُسْتَشْهِد﴾ د "حنتمې" زوی بيا هيڅ کله دا نه سي ويلای چي قريشو قرباني نه ده پيش کړې. په عربو کي دا دستور وُ چي کله به چا ته غصه ور غله، نو بيا به يې انسان د مور په نامه يادوئ او حنتمه د حضرت عمر رضي الله عنه مور وه.

نو د حضرت خالد ابن وليد رضي الله عنه و مخ ته هغه تېره نقشه ټوله راوګرځېده، نو ځکه بيا يې دا وويل: چې د "ختعمي" زوى دا نه سي ويلاى چې تاسو قرباني نه ده پيش کړې.(١) نو هغه سردارانو خپلې سردارۍ د خاورو سره خاورې کړې، نو ځکه دا دين په دنيا کي وجود ته راغئ او دا دين په دنيا کې ژوندى سو.

محترمو مشرانو! موږ د هغه خلقو بقاياجات يو او هغه زموږ اکابرين او مشران وه، موږ د هغوى نام ليوا او پيروکاران يو. نو زموږ ځخه هم دا دين د هغوى په شکل قرباني غواړي او قرباني پر دين پېښول دا د دې امت خصوصيت دئ.

## د جهاد په ميدان کي قرباني ورکول:

اګرچي الله تعالى په خپل فضل او کرم سره حيوان د اسمعيل عليه السلام فديه جوړه کړه پر هغه بنياد اوس د بچي د قربانۍ حکم نسته. مګر په جهاد في سبيل الله کي د خپل ځان او اولاد قرباني پېښول خو تر قيامته پورې باقي دي.

او الله تعالى په قرآن کريم کي بار بار د جهاد في سبيل الله حکم کړى دئ. او نن سبا دا حکم په پوره تاکيد سره د امت مسلمه و طرف ته متوجه دئ.

ايا يو ځو ک سته چي د الله تعالى پر دې حکم او اواز باندي لبّيک ووايي او د مځکي پر مخ باندي چي د هغو مظلومو مندو او خوندو پر ژړا باندي غوږ ونيسي؟ او د اعلاء کلمة الله په خاطر د الله جل جلاله په لار کي د خپل ځان، مال او اولاد قرباني پېښولو ارزو او شوق په زړه کي پيدا کي. الله تعالى دي زموږ او ستاسي قربانۍ د الله جل جلاله په دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي. که به مو زړه غواړي او که به مو نه غواړي الله تعالى دي مو ځانونه او اولادونه د الله جل جلاله د دين د سربلندۍ په خاطر د قربانۍ په شکل په خپل دربارکي را ځخه قبول او مقبول وګرځوي. او الله تعالى دي په دې ځو مختصرو خبرو د عمل کولو توفيق را په نصيب کړي. ﴿وَ آخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ﴾.

---

(١) بيانات جميل صفحه ٢٥٨، ٢٥٩

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآية)

# د الله تعالی څخه خوف او خشیت

## (بیان)

مولوي اطیع الله صاحب
استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:
مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه
کانسی روڈ کوئٹه

| | |
|---|---|
| تقـــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتي حافظ كليم الله صاحب |
| مقـــــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود |
| اشـــاعـت | ثخلـــــــورم |
| تـاريـــخ | يكم ربيع الثاني ١٤٣٩ بمطابق يكم مي ٢٠١٨ |
| تـعـــداد | (١١٠٠) |

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْداً كَثِيراً طَيِّباً مُّبَارَكاً فِيْهِ مُبَارَكاً عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَ يَرْضٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهِ خَيْرِ الْهُدٰى وَعَلٰى اٰلِهِ وَاَصْحَابِهِ نُجُوْمِ الْاِهْتِدَاء.

اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَ تَعَالٰى: ﴿أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنْ تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللّٰهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ وَلَا يَكُونُوا كَالَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْأَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوبُهُمْ وَكَثِيرٌ مِنْهُمْ فَاسِقُونَ﴾(١).

وَقَالَ اللّٰهُ تعالى فِي مَقامٍ أخر: ﴿إِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ﴾(٢).

وَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: ﴿لَايَلِجُ النَّارُ مَنْ بَكَى مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ﴾(٣).

اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلٰنَا الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْمُ وَنَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ.

## خشیت څه ته وایي:

محترمو مشرانو! الله تعالی په دې آیاتو کې د انسانانو څخه دا غواړي چې په زړو کې د خشیت صفت پیدا کړي. او الله ﷻ فرمایي: ای انسانانو! هغه وخت لا نه دئ راغلی چې ستاسو زړونه د الله تعالی و طرفته خاشعین (خشوع کونکي) وګرځي.

---

(١) الحديد آيت نمبر: ١٦

(٢) الفاطر آيت نمبر: ٢٨

(٣) جامع الاحاديث للسيوطي حديث نمبر: ١٨٠٩٠

خشوع درحقیقت د زړه صفت دئ. او دا د مسلمان د زړه یو کیفیت دئ چي د مسلمان په زړه کي د الله تعالی عظمت کښیني او د الله تعالی هیبت د مسلمان په زړه کي ځای ونیسي او د الله ﷻ محبت په داسي شکل او په داسي ډول د مسلمان په زړه کي راسي چي مسلمان د الله تعالی د ناراضۍ د فکر او تصور څخه رېږدي او د الله تعالی د بیري د الله تعالی د نافرمانۍ سوچ او فکر هم نه سي کولای او انسان د الله ﷻ په محبت کي پرېشان او سرګردان سي.

داسي انسان چي په زړه کي یې خشیت الهي پیدا سي بیا هغه د ګناه پر طرف قدم نه سي پورته کولای. او که چیري د شیطان په دوکه ګناه ځني وسي چي تر څو پوري یې د پښېمانۍ په اوښکو هغه خپله ګناه د عملنامې څخه صفا کړې نه وي تر هغه وخته ده ته آرام او سکون نه راځي.

## د صحابه کرامو ﷡ په زړو کي د الله تعالی خشیت:

صحابه کرامو ﷡ ته چي به کله دا معلومه سوه چي زموږ ددې عمل په وجه الله ﷻ او د الله تعالی رسول ناراضه دئ، نو د دوی حالت قرآن کریم بیانوي: ﴿وَضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ﴾(1) ټوله دنیا او ټوله کائنات به پر دوی باندي تنګ راغلل.

بیا به د خپلو کورو څخه بېزاره سول، دښتو او ځنګلو ته به ووتل او هلته به اوسېدل ﴿وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنفُسُهُمْ﴾(1) او بالآخر به د خپلو ځانو څخه هم تنګ او بېزاره سول. او دا د محبت د حقوقو څخه دي چي د کم چا سره د انسان زیات محبت وي، نو د هغه د ناراضۍ څخه باید داسي وسي.

نو د کم چا په زړه کي چي د خشیت کیفیت موجود وي، که چیري ګناه ځني وسي او الله تعالی ناراضه سي، نو ده ته بیا د الله تعالی د ناراضۍ په وجه یو شی هم

(1) التوبه آیت نمبر ۲۵

(1) التوبه آیت نمبر ۱۱۸

خوند نه ورکوي، نه بچيان نه د کور انسانان، نه خوراک او څښاک نه کور او مکان ده ته سکون او آرام ورکوي.
ټوله دنيا دده په نظر کې تنګه راسي او د خپله ځانه هم بېزاره سي چې تر څو پوري يې دوه رکعته صلوة توبه او په ژړا کونکو سترګو د الله تعالی څخه بخښنه طلب کړې نه وي او د ندامت او پښېمانۍ په اوښکو يې هغه ګناه د خپلې عملنامې څخه پرېولې نه وي تر هغه وخته د لېونيانو په شان ګرځي.

## د خشيت الهي علامې:

د مسلمان په زړه کې چې کله خشيت الهي راسي، نو د هغه علامه دا وي چې يا به د مسلمان په زړه کې د الله تعالی خوف، پر ژبه يې د الله تعالی ذکر، او پر بانړو ګانو يې د ندامت او پښېمانۍ اوښکې جاري وي.
او په ډېرو اعمالو کې الله ﷻ ته د ګنهګار بنده د ندامت او پښېمانۍ اوښکې ډېر قدر لري، په حديث شريف کې راځي چې پېغمبر ﷺ فرمايي: ﴿لَايَلِجُ النَّارَ مَنْ بَكَى مِنْ خَشْيَةِ اللهِ﴾(۱) چې کم انسان د الله تعالی د خوف او يېري څخه ژړا وکړي، نو الله تعالی هغه انسان جهنم ته نه داخلوي.

## د جهنم د اور شدت او سختي:

د جهنم اور د دنيا د اور غوندي مه بولئ! د جهنم اور د دنيا د اور څخه اويا (۷۰) درجې سخت او زيات ګرم دئ. د جهنم په اور کې دومره اندازه شدت دئ چې دده اور يوه زره کچيري د لمر راختو پر ځای کښېښول سي او يو بنده د لمر پرېوتو پر ځای موجود وي، نو دده اور د شدت او ګرمۍ څخه به هغه بنده پر هغه ځای کباب او وسوځل سي.

---
(۱) جامع الاحاديث للسيوطي حديث نمبر: ۱۸۰۹۰

او د دوږخيانو د خولې يوه قطره به په دومره اندازه ګرمه وي کچيرې يوه قطره د "أحد" د غره پر سر واچول سي، نو هغه غر به ټوله ويلي سي.

څکه پيغمبر ﷺ فرمايي: ﴿نَارُ كُمْ هَذِهِ أَحَدٌ وَسَبْعُونَ جُزْءً مِّن نَّارِ جَهَنَّمَ﴾(۱) دا د دنيا اور د جهنم د اور څخه يو اويايمه (۷۱) حصه جوړېږي.

## د دنيا د اور او د جهنم د اور په څو طريقو کي فرق دئ:

د دنيا اور د جهنم د اور غوندي نه دئ، بلکه ددې دوو اورو په مينځ کي فرقونه دي:

۱. د دنيا اور د عامو اسبابو ماتحت هر نېک او بد سوځي.

د الله رب العزت يو پيغمبر حضرت جرجيس عليه السلام د دنيا اور وسوځي، داغه رنګه يې د حضرت موسیٰ عليه السلام مبارکه ژبه وسوځله، او داغه رنګه چي کله يو نېکه زنانه خپله دوډۍ پخوي او د بې احتياطۍ څخه ددې لاس په اور کي ولوېږي.

نو د دنيا اور د هغې لاس ورسوځي، مګر د جهنم اور صرف او صرف د مجرمانو او خطاکارانو دپاره جوړ سوی دئ، دا صرف د الله تعالی نافرمانه انسانان سوځي، په نېک او متقي انسانانو د جهنم اور هيڅ اثر نه کوي.

۲. د دنيا اور په اوبو سره مري او ختم کېږي، مګر د جهنم اور د ګنهګار بنده د سترګو څخه د راوتلي اوښکي په څاڅکي سره مري او ختم کېږي.

۳. د دنيا اور هوا او باد تيزوي او کچيرې تېزه هوا ور باندي راسي، نو هغه بيرته وژني او ختموي يې، ليکن د جهنم اور د مؤمن په ايماني نور سره ختم او کمزوری کېږي.

(۱) ابن ماجه، حديث نمبر: ۴۳۱۸

لکه حدیث شریف کې راځي: چې کله مؤمن بنده پر پل صراط باندي تېرېږي، نو د جهنم د خوا دا نعره راځي: ﴿جُزْ يَا مُؤْمِنُ فَإِنَّ نُورَكَ أَطْفَأَ لَهَبِيْ﴾(١) اې مؤمنه ژر تېر سه! ستا د ایمان نورانیت زما د اور لمبې را مړې کړې.

## د حقیقي ایمان علامه خشوع ده:

حقیقي مؤمن څوک دئ؟ د الله تعالی کلام مبارک دئ: ﴿أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِيْنَ آمَنُوا أَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ لِذِكْرِ اللهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ﴾ ایا ایمان والاوو ته هغه وخت لا نه دئ راغلی چې د دوی زړونه خشوع وکړي د هغه قرآن کریم څخه چې الله تعالی را نازل کړی دئ؟ یعني د الله تعالی د یاد څخه دې د دوی زړونه ویرېږي.
سبحان الله! الله تعالی په څنګه عجیبه انداز دا ور ته فرمایي چې ایا ایمان والاوو لره اوس لا هم هغه وخت نه دئ راغلی؟ یعني دا کار خو باید مخ کې لا سوی وای، اوس دونه موده او وخت دې بغیر څنګه تېر سو؟
امام رازي رحمة الله علیه په تفسیر کبیر کې د دې آیت په تفسیر کې لیکي دي: ﴿إِنَّ الْمُؤْمِنَ لَايَكُوْنُ فِي الْحَقِيْقَةِ مُؤْمِنًا إِلَّا مَعَ خُشُوْعِ الْقَلْبِ﴾(٢) مؤمن په حقیقت کې تر هغه وخته مؤمن نه سي جوړېدلای چې تر څو دده په زړه کې خشوع نه وي پیدا سوې.

## د خشوع علامه او نښانه ژړا ده:

او د خشوع لویه نښانه داده چې انسان په مستقبل کې د الله تعالی د نافرمانۍ څخه خپل ځان وساتي او پر تېرو نافرمانیو باندي و الله تعالی ته د ندامت او پښېمانۍ اوښکي توی کړي او پر خپلو ګناهونو و الله تعالی ته وژاړي: ځکه چې د ندامت اوښکه الله تعالی ته ډېره خوښه ده.

---

(١) احیاء العلوم الباب بیان معنی سوء الخاتمة.
(٢) الحدید آیت نمبر ١٦

## د خشوع او ژړا کولو مختلف اقسام:

ژړا کول او د سترګو څخه اوښکي تويول دا په ډېرو وجوهو سره کيږي، خو د هري ژړا سبب او علت جلا جلا وي:

## اول د مصيبت په وجه ژړا:

يو د مصيبت په وخت کي ژړا ده، دا يو طبعي شی دئ، کوچنی وي او که لوی پر هر انسان چي مصيبت راسي، نو د هغه د سترګو څخه اوښکي تويېږي.
پر مؤمن باندي په دنيا کي که کوچنی وي او که لوی وي چي مصيبت پر راسي، نو د الله تعالی د طرفه اجر ورکول کيږي، حتی که د هوا (باد) د راتلو په وجه د مؤمن څراغ مړ سي، د څراغ پر مړ کېدو هم الله تعالی و دې مؤمن ته اجر ورکوي.
داغه رنګه کچيري د يو چا د قميص دوه (۲) جيبونه وي او يو شی په يو جيب کي واچوي او پر وخت د ضرورت يې د هيري په وجه په هغه بل جيب کي تلاشوي او ده ته په هغه جيب کي شی پيدا نه سي او دی پرېشانه سي، پر دغه پرېشانی الله تعالي و ده ته اجر ورکوي.

## دويم د چا د جدايي په وجه ژړا:

هغه ژړا وي چي د چا په جدايي کي يې انسان کوي، لکه حضرت يعقوب عليه السلام چي د خپل بچي حضرت يوسف عليه السلام په جدايي کي ژړا کوله. او دومره زيات به يې ژړل چي قرآن کريم وايي: ﴿وَ ابْيَضَّتْ عَيْنَاهُ﴾ د غم او ډيري ژړا کولو په وجه د حضرت يعقوب عليه السلام د سترګو توروالی ختم سو.

## د يوسف عليه السلام پر جدايي دومره غم ولي وو؟

په دې ځای کي علماء کرامو يو اشکال او د هغه جواب پېش کړی دئ چي د بچي په جدايي کي د پيغمبر دومره زياته ژړا کول هم عجيبه ده.

ځکه دا خو بچی دئ او بچی خو به مري هم او په قید کي به هم راځي او کله به یې یو ځوک نیسي. علماء کرامو د دې جواب لیکلی دئ:

اوله خبره خو داده چي یعقوب علیه السلام ته دا ور معلومه وه چي زما دغه بچی به زما د مرګه بعد زما د نبوت وارث وي او د خپل وقت نبي به جوړیږي؛ لهذا هغه د بچي پر جدایي په دې وجه زیاته ژړا کول، چي معلومه نه ده چي د هغه د ایمان به کم حال وي؟ او هغه به د څنګه خلګو په لاس کي وي؟ دا د نبي د شان خلاف نه ده. او بیا یې ددې جواب دا دلیل پیش کړی دئ چي کله حضرت یوسف علیه السلام خپل قمیص پلار ته را واستوی چي دا زما پلار ته یوسئ! او هغه خوشخبري والا د قمیصه سره راغلئ.

نو حضرت یعقوب علیه السلام د ټولو د مخه دا پوښتنه ځني وکړه چي یوسف علیه السلام په کم حالت کي وو؟ هغه ورته وایي: پر دین اسلام باندي وو، نوحضرت یعقوب علیه السلام وویل: ﴿الْآنَ تَمَّتْ نِعْمَةُ رَبِّيْ﴾(۱) اوس زما د رب ﷻ نعمت پر ما باندي کامل سو، چي زما بچی تر اوسه پر دین اسلام باندي دئ.

## یو بل جواب او نکته:

حضرت مجدد الف ثاني رحمة الله علیه په مکتوبات شریف کي یوه بله نکته هم لیکلې ده، هغه فرمایي: چي الله تعالی و حضرت یوسف علیه السلام ته د جنتي حسن یو څه حصه په نصیب ورکړې وه.

د هغه دلیل دا پیشوي چي کله د مصر زنانو حضرت یوسف علیه السلام ولیدئ، نو دوی به دا ویل: ﴿مَا هٰذَا بَشَرًا اِنْ هٰذَآ اِلَّا مَلَكٌ كَرِيْمٌ﴾(۲) دا خو بشر نه دئ، دا خو یو مکرمه فرښته معلومیږي.

---

(۱) تفسیر قرطبي جلد ۹ صفحه ۲۲۲

(۲) الیوسف آیت نمبر ۳۱

هغه رحمة الله علیه فرمایي، چونکه و ده ته د جنتي حسن يوه کوچنۍ حصه ورکول سوې وه، نو په دې وجه دده پر ښائست هر څوک قربانېدئ او مؤمن همېشه د جنت او د جنت د ښیانو سره محبت کوي.

او الله ﷻ هم خپل بندګان د جنت طرف ته را بولي ﴿وَاللهُ يَدْعُوْ إِلَى دَارِ السَّلَامِ﴾(۱) نو چي الله تعالی کم نعمت ته خپل بنده را بولي نو بنده د هغه نعمت سره ضرور محبت لري. نو ځکه حضرت يعقوب علیه السلام د خپل بچي د جنت د ورکړل سوي حسن سره محبت درلودئ. د بچي نه، بلکه دده د جنتي حسن پر جلا کېدو باندي حضرت يعقوب علیه السلام زياته ژړا کوله.

## د پیغمبر ﷺ د بچي فراق:

د پیغمبر ﷺ بچی حضرت ابراهیم چي کله وفات سو، نو پیغمبر ﷺ د هغه د دفن کولو په وخت کي د قبر مبارک پر غاړه په جنت البقیع کي ولاړ دئ او په دې وخت کي د پیغمبر ﷺ په سترګو مبارکو کي اوښکي را رواني دي، يو صحابي چي وليدئ، نو ورته وايي:

- اي د الله رسوله! ته هم د بچي پر مرګ باندي ژاړې؟
- پیغمبر ﷺ ورته فرمايي: ﴿اَلْقَلْبُ يَحْزَنُ﴾ زړه غمجن دئ، ﴿وَالْعَيْنُ تَدْمَعُ﴾ سترګي ژاړي.

﴿وَ اِنَّا بِفِرَاقِكَ يَا إِبْرَاهِيْمُ لَمَحْزُوْنُوْنَ﴾(۲) اي ابراهيمه! موږ ستا پر فراق باندي ډېر غمجن يو.

---

(۱) اليونس آيت نمبر ۲۵

(۲) بخاري شريف حديث نمبر: ۱۳۰۲

## د پیغمبر ﷺ په فراق کې د صحابه کرامو ﷺ ژړا او بې تابي:

حضور اکرم ﷺ چې کله انتقال وکړئ دده او د صحابه کرامو ﷺ تر مینځ فراق راغلئ، نو دا صدمه د صحابه کرامو ﷺ د برداشت څخه وتلې وه او صحابه کرامو ﷺ نه سوه برداشته ولای.

حضرت عمر فاروق ﷺ خو وقتي طور د وفات څخه انکار وکړئ او توره یې وکښله د مدینې په کوڅو کې ګرځېدئ او ویل به یې: ای خلقو! په خدای قسم که چا دا خبره وکړه چې محمد ﷺ وفات سو، نو سر به یې په توره والوزوم.

عثمان ابن عفان ﷺ د غم په وجه د چا د سلام د جواب ورکولو قدرت نه درلودئ.

او د عامو صحابه کرامو ﷺ و مخ ته دا روښانه دنیا په توره تیاره باندې بدله سوه، په دې حالت کې یو صحابي چې نوم یې حضرت عبد الله ﷺ دئ په خپل باغ کې کار کوي یو چا د حضور ﷺ د وفات خبر ورته راوړئ چې اې سړیه! هغه زموږ نبي محمد ﷺ وفات سو، نو هغه کارکونکي صحابي یو ځل اسمان ته ګوري، روایت کې راځي: ﴿فَنَظَرَ نَظْرَةً إِلَى السَّمَاءِ فَقَالَ يَا إِلٰهَ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ﴾ پر دې خپلو سترګو یې لاس ونیوی او وایي: اې د اسمانو او ځمکو خالقه! که به وروسته تر دې چیرې بیا دا سترګې د محمد رسول الله ﷺ نوراني مخ نهویني، نو دا سترګې زما څخه واخلې! هغه دعا او ښرا یې دونه اندازه په اخلاص وکړه چې پر هغه ځای په سترګو ړوند سو او بیا یې تر مرګه شی په سترګو نه ولیدئ.

دا د صحابه کرامو ﷺ د پیغمبر ﷺ سره طبعي محبت وو او دا د صحابه کرامو د پیغمبر ﷺ پر وفات او انتقال او فراق باندې ژړا بې تابي او بې قراري وه.

## د حضرت بلال ﷺ آذان:

چي کله پیغمبر ﷺ د دنیا څخه رحلت او پرده وکړه، نو حضرت بلال حبشي ﷺ چونکه د پیغمبر ﷺ عاشق صادق وو، نو یو څه کړی یې د مدینې په کوڅو کي منډي ووهلې او ویل به یې: اي خلقو! زما محبوب زما څخه پرده کړې ده که چا ته زما د محبوب په باره کي معلومات وي، نو ما ته یې راوښیاست!

چي کله د محبوب د دیدار څخه مایوسه او نا امیده سو، نو زړه دا ورته وویل چي د محبوب د دیداره بغیر په مدینه کي زندګي تېرول ګران دي، نو ددې څخه وروسته یې شام ته هجرت وکړئ او هلته یې خپله زندګي تېرول شروع کړل.

یو څه زمانه یې په شام کي تېره کړه، یو ځل یې په خوب کي د خپل محبوب محمد رسول الله ﷺ زیارت نصیب سو او هغه په خوب کي ورته وایي: ای بلاله! دېر بې وفا سوې او یو وار زما ملاقات ته هم رانه غلې.

چي کله د خوب څخه راپیدار سو، نو د خپل محبوب په یاد کي یې زړه ډېر پرېشانه او نفس تنګی سو. چنانچي د شام څخه یې د مدیني منورې پر طرف باندي په دې طمع سفر شروع کړی چي ګوندي بیا به یې په مدینه کي د خپل محبوب دیدار نصیب سي.

د شام څخه تر مدیني منورې پوري غالبًا پنځلس سوه (۱۵۰۰) کیلو میټره مځکه ده او ټوله ریګستان دئ دا یې راپرې کړه او مدینې ته راورسېدئ.

چي کله په مدینه کي مسجد نبوي ته راغلئ، نو ده لیونیانو په شکل پر هغه ځایو وګرځیدئ چي پر کمو ځایو ده پیغمبر ﷺ لیدلی وو.

په دې طمع او امید باندي چي ګوندي بیا به د پیغمبر ﷺ هغه نوراني سترګي په نظر راسي.

لیکن پر یو ځای یې هم پیغمبر ﷺ نه ولیدئ، نو مایوسه او نا امیده راغلئ د پیغمبر ﷺ و روضې مبارکي ته و درېدئ او د ژړا په حالت کي دا وایي: ﴿السلام علیک یا رسول الله﴾ زه د ډېره لیري ځایه د ډېرو سترو برداشتولو بعد ستا د دیدار

په ډېره لويه طمع راغلم، ليکن دلته د مايوسۍ او نااميدۍ څخه سوا په لاس هيڅ رانه غلل. په دغه حالت کي روضې مبارکي ته ولاړ دئ.
صحابه کرامو ﷺ چي کله بلال ﷺ وليدئ، نو هغه زاړه يادونه يې ټول را تازه سول او صحابه کرام ﷺ را جمع سول او د ټولو دا تمنّى او خواهش وو چي حضرت بلال حبشي ﷺ دي يو وار د دور نبوي آذان وکړي.
چي کله يې د بلال و مخ ته دا تمنّى ښکاره کړه، نو حضرت بلال ﷺ انکار وکړئ چي دا زما د قابو څخه وتلې خبره ده او زه پر خپل ځان قابو او وس نه لرم.
صحابه کرام حضرات اصرار کوي، ليکن بلال حبشي ﷺ انکار کوي، بالآخر حسنين کريمين راغله او دواړو شهزاده ګانو دا تمنّى ښکاره کړه چي اي بلاله! يو وار خو زموږ د نيکه محمد رسول الله ﷺ د وقت آذان راته وکه! د شهزاده ګانو غوښتنه خو څه کوچنۍ غوښتنه نه وه، چنانچي حضرت بلال ﷺ مؤذن خاني ته پورته سو او الله اکبر الله کبر آذان يې شروع کړئ.
د حضرت بلال ﷺ د آذان په اورېدو سره په مدينه کي شور او غوغا جوړه سوه، د اهل مدينې دا خيال سو چي محمد رسول الله ﷺ را ژوندي سوي دئ: ځکه دا آذان خو د محمد رسول الله ﷺ په وخت کي کېدئ، نو ټوله اهل مدينه په منډه د مسجد نبوي طرفته رارَوان سول.
رواياتو کي راځي: ﴿وَاشْتَدَّ عِنْدَ ذَالِکَ بُکَاءُ اَهْلِ الْمَدِيْنَةِ﴾ شور او غوغا دومره زياته سوه چي د مدينې منورې صحابياتي زناني هم د کورو څخه راووتې ﴿حَتّٰى خَرَجَتِ الْعَوَاتِقُ مِنْ خُدُوْرِهِنَّ شَوْقًا اِلَى النَّبِيِّ﴾ چي د مدينې پرده نشيني زناني هم د محمد رسول الله ﷺ په شوق کي د مسجد نبوي پر طرف منډې راوهي.
حضرت بلال حبشي ﷺ چي کله "اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ" کلمې ويلو ته ورسېدئ ﴿فَلَمْ يَقْدِرْ عَلَيْهِ حَتّٰى سَقَطَ مَغْشِيًّا﴾ حضرت بلال ﷺ پر خپل ځان قابو و نه درلودئ، بېهوښه راغوځار سو او آذان پر نيمايي ځني پاته سو.

چي کله په هوش کي راغلی، نو صحابه کرامو پوښتنه ځني وکړه او ورته ويې ويل:

- اي بلاله! څه وسو؟
- نو دی ورته وايي: چي ما به مخکي د رسول الله ﷺ په ژوند کي دا کلمه ويله چي ما به په آذان کي د محمد رسول الله ﷺ نوم واخيستی او سترګي به مي هم ورغړولې، نو محمد رسول الله ﷺ به مي په سترګو وليدئ او نن چي ما د محمد رسول الله ﷺ د وينا په دوران کي هر څومره سترګي ورغړولې، نو محمد رسول الله ﷺ ما ته په نظر را نه غلئ، نو دا منظر زما د برداشته څخه ووتئ، نو ځکه زه بې هوښه راغوځار سولم.

نو حضرت بلال ﷛ واپس شام ته ولاړئ تر خپله مرګه پوري يې زندګي په شام کي تېره کړه او اوس يې قبر هم په شام کي موجود دئ([1]).

تاسو لږ فکر وکړئ! چي صحابه کرام د پيغمبر ﷺ په فراق کي په کم انداز کي بېتابه وه او د پيغمبر ﷺ په جدايي کي په کم انداز ژړا کونکي وه.

نو دويم قسم ژړا د محبوب د فراق په وجه کيږي، لکه صحابه کرامو ﷡ چي د رسول الله ﷺ د فراق په وخت کي کوله.

## دريم د الله ﷻ د ېيري په وجه ژړا:

دريم قسم ژړا هغه ده چي د الله تعالی د خشيت په وجه وي، چي د الله تعالی د خشيت څخه ژړا کيږي دا هغه ژړا ده چي د وعظ اورېدلو، يا د خپل آخرت، قبر، حساب او کتاب يادېدلو په وجه او يا د قرآن کريم د تلاوت په وخت کي د انسان څخه اوښکي توېږي.

([1]) سير علام النبلا، صفحه: ۳۵۸

په حدیث شریف کي راځي چي د کم سړي د قرآن کریم د تلاوت په وخت کي اوښکي د سترګو څخه راووځي، نو الله تعالی دده دپاره جنت واجب وګرځوي.
نو ځکه حضرت ابوبکر صدیق ﷺ به فرمایل: چي د قرآن کریم د تلاوت په وخت کي چي کله تاسو جهنم او د عذاب د آیاتو تلاوت کوئ ﴿فَابْكُوا﴾ نو تاسو ژړا کوئ! ﴿وَ إِنْ لَمْ تَبْكُوا فَتَبَاكُوا﴾(۱) کچیري ژړا نه درتله، نو بیا د ژړا شکل جوړوئ! الله تعالی ﷻ ستاسو د ژړا شکل د ژړا د حقیقت په مثل قبلوي.

## د تلاوت په وخت کي د صحابه کرامو ﷺ حالت:

امام غزالي رحمۃ اللہ علیہ لیکلي دي: چي د تلاوت په وخت کي به د صحابه کرامو ﷺ عجیب حالت وو ﴿فَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ مَنْ صَعِقَ﴾ ډېر زیات د دوی څخه داسي وه چي د تلاوت په وخت کي به بې خوده بنورېدل. ﴿مِنْهُمْ مَنْ بَكَىٰ﴾ بعض داسي وه چي هغوی به ژړل، ﴿مِنْهُمْ مَنْ غُشِيَ﴾ بعض داسي وه چي د تلاوت په وخت کي به بې هوښه سول، ﴿مِنْهُمْ مَنْ مَاتَ فِيْ غَشْيَتِهٖ﴾(۲) او بعض داسي هم وه چي د دې بې هوښۍ په عالم کي به یې خپل جان الله تعالی ته تسلیم کړئ.
نو د قرآن کریم د ویلو او اورېدلو په وخت کي ژړا د صحابه کرامو ﷺ سنت ده.

## د دینداره ژوندګي حقیقي لذت او خوند:

افسوس دئ نن موږ ځانونه د هغه فحش او بې حیا ګانو او غزلو په اورېدلو سره عادت کړي دي او موږ ته نن لذت او خوند هغه بې حیا پروګرامونه او ډرامې راکوي، حالانکه په هغو کي څه دي؟ صرف او صرف بې حیایي ده.
ګورئ! دا یوه خبره ښه د زړه په غوږو واورئ! دا دین پاکیزه دین دئ او الله ﷻ ته پاکیزګي پسنده او خوښه ده، نو په کم قوم کي چي د ګانو او بجانو اورېدلو

(۱) مسند البزار جلد ۴ صفحه ٦٩
(۲) احیاء علوم جلد ۳ صفحه نمبر ۲۸۸

رواج عام سي په هغه قوم کي پاکیزګي ختم سي، د پاکیزګی بجای په قوم کي بې حیایي راسي او په هغوی کي فحاشي راسي.
او کم قوم چي فحاشه سي، نو الله تعالی فحاشي او بې حیایي نه برداشته وي هغه قوم ذلیل کوي، هغه تر دې حده ذلیل کوي چي د ذلت انتها ته یې ورسوي، هغوی بیا تر آخره پوري ژندګي د ذلت په کندو کي تېروي.
د الله تعالی حکم دا دئ: تاسو خپل غوږونه د شیطاني او بدکاره زنانو او نارینه وو د آوازو څخه وګنډئ! ددې په بدل کي به زه په تاسو باندي د جنت د حورو داسي نغمې او اوازونه واورم چي (۱۰۰۰) لاکه کاله مسلسل هغه خپلي ګانې او غزلي وایي ستاسو په لذت کي به فرق نه راځي.
حالانکه موږ د سروزو او د رقصو محفلونه جوړوو او الله تعالی ناراضه کوو.
بس دئ د رقص او سروز د محفلو خوندونه خو مو وکتل کله خو دا خوند هم وګورئ چي په شپه کي د الله تعالی و حضور ته په ژړا کولو کي الله تعالی څومره خوند او مزه ایښې ده. د پورته او غلط نظر کولو خوندونه خو مو وکتل تاسو داسي د نظر کښته کولو خوند هم یو ځل وګورئ!
زما دي په خپل رب قسم وي که مو په زړه کي د خوشحالی او سکون څپې او لهرونه را پورته نه سول بیا راسئ ما تردې ګریبان ونیسئ.
د شپې د فحش ډرامو او د ناچو او د رقصو څکه خو مو وکتله د شپې و خپل رب ته پر مصله د درېدلو د خوند څکه هم وګورئ! دا هغه خوندونه دي چي ددې و مخ ته د دنیا خوندونه هیڅ هم نه دي.
د نظر پورته کولو خوند د نظر کښته کولو په مقابل کي هیڅ نه دئ، د بې حیایی لذت او خوند د پاکدامنی د لذت او خوند په مقابل کي هیڅ هم نه دئ.
په دي قدمو تاسو غلطو مجلسو او حرامو محفلو ته ورغلي یاست د هغه قدمو خوند او لذت مو کتلی دئ تاسو دا قدمونه مسجد ته د راتلو عادي جوړ کړئ بیا ددې لذت او خوند وګورئ!

د دنيا د لوی لوی خلګو و مخ ته سرکښته کول او چاپلوسي او غوړه مالي کول دا خو مو يقيناً زده دي تاسو د مالک الملک ﷻ و مخ ته سرکښته کړئ او چاپلوسي وکړئ چي په دې کي څومره خوند دئ دا خوند هم وګورئ!

چي کله د يو بنده سر پر سجده باندي پروت وي او پر ژبه يې د الله ﷻ نوم وي او خپل الله ﷻ ته عجز او زاري کوي تر عرش پوري دروازې خلاصي دي او الله ﷻ دې خپل بنده ته ګوري چي څوله بنار ييده دئ او بعض انسانان په قسماقسم ناروا محفلو کي غرق او ډوب دي. الله تعالی فرشتو ته وايي: تاسو راسئ! تاسو راسئ وګورئ! چي عام مخلوق په څه حالت کي دئ او دې بنده په دې حالت کي سر زما و حضور ته پر مځکه باندي ايښی دئ او ما ته عجز او زاري کوي او زما په محبت کي سرګردانه دئ او ژاړي تاسو وګورئ! د دې وجهي څخه ما ويلي وو چي انسان زما خليفه جوړېدای سي.

ای ملائکو! تاسو زما خليفه نه سی جوړېدلای؛ ځکه په تاسو کی نه د لذت احساس سته، نه د خوشحالۍ احساس سته او نه د تکليف احساس سته.

دې انسان ته وګورئ! دا ټوله احساسات په کي سته او په حرامه طريقه يې حاصلولای هم سي ليکن بيا يې هم ټوله حرام لذتونه شا ته کړي دي، زما و مخ ته پروت دئ او ژاړي.

الله اکبر! دغه رنګه د جنت ټولي دروازې خلاصي وي او د جنت ټولي حوري دروازو ته راسي او په دروازو باندي ولاړي وي او و دې عبادت کونکي نوجوان ته مبارکي ورکوي. او ور ته وايي: چي الله تعالی دي پر دغه حالت قائم او دائم ولره! او چي کله ته راسې جنتو ته بيا به ته ووينې چي په کم شکل د جنت په دروازو مور ستا استقبال کوو.

## د ابو سليمان داراني رحمۃ اللہ علیہ ژړا کول:

احمد ابن الحواراني رحمۃ اللہ علیہ ډېر لوی بزرگ وو، او د الله تعالی ﷻ لوی ولي وو، يوه ورځ د يو بل بزرگ ابو سليمان داراني رحمۃ اللہ علیہ کور ته راغلی که ګوري نو ابو سليمان داراني رحمۃ اللہ علیہ ناست دئ او ژاړي، دی پوښتنه ځني کوي:

- چي ولي ژاړې؟
- ابو سليمان داراني رحمۃ اللہ علیہ ورته وايي: ای احمده! ﴿إذا جَنَّ اللَّيلُ﴾ چي کله شپه وغوړېږي او تياره جوړه سي ﴿وَ قَدْ خَلَا كُلُّ حَبِيبٍ إِلَى حَبِيبِهِ﴾ او هر عاشق د خپل محبوب غېږي ته ځان ورسوي، بعض داسي انسانان هم وي چي د الله په عشق کي سوځېدلي وي او د الله تعالی ﷻ عشق لېونيان کړي وي.

هغه را پورته سي اودس وکړي او پر مصله باندي ودرېږي او د هغوی د اوښکو لړۍ شروع سي او د دوی په وجود کي د الله تعالی د محبت بې قراري سره وغوړېږي، نو الله تعالی ﷻ د خپل عرش دروازې خلاصی کړي، دوی ته ګوري.

او دا وايي: ﴿بِيْ حَلَفْتُ مَنْ تَلَذَّذَ بِكَلَامِيْ وَاسْتَرَاحَ إِلَى ذِكْرِيْ﴾ زما دي په خپل عزت او جلال باندي قسم وي چي کم چا زما په کلام کي لذت پيدا کړئ او زما په ذکر کي يې سکون پيدا کړئ ورسره ای جبرئيله! دې انسانانو ته ووايه چي تاسو ولي ژاړئ؟ تاسو مه ژاړئ! کله هم يو حبيب بل حبيب ژړوي؟ او کله هم يو حبيب بل حبيب ته دُک او تکليف ورکوي؟ تاسو مه ژاړئ! ستاسو ژړا زما په دربار کي ډېره قيمتي ده. چي ټوله جهان بيده دئ او تاسو ټوله شپه د سجدې په حالت کي په ژړا تېره کړه، ټوله جهان د خوب مزې اخلي او تاسو د الله تعالی ﷻ و حضور ته د ژړا مزې اخلئ.

الله تعالی د جبرئيل علیہ السلام په واسطه اعلان وکړي چي ای جبرائيله! دا اعلان وکه چي د کم چا شپې زما د محبت په وجه په بې قراری کي تيري سوې.

زما دي په خپل عزت او جلال باندي قسم وي چي زه صبا د قیامت په میدان کي د دوی دپاره خپله چهره او مخ بلا کیف لڅوم او په دوی به خپل دیدار کوم. زه به دوی ته ګورم او دوی به ما ته ګوري، دوی به زما سره خبري کوي او زه به د دوی سره خبري کوم([1]).

## د حضرت ایوب علیه السلام د الله ﷻ سره مکالمه:

حضرت ایوب علیه السلام ته الله تعالی دېره سخته ناجوړي ور نصیب کړه په ټوله بدن کي یې داسي حصه نه وه چي د هغه څخه وینې او زوې نه تللې. او د زندګی داسي وخت نه وو چي پر ده په تکلیف نه تېرېدئ. په داسي حالت کي اتلس (۱۸) ساتیې ژوند هم یو عذاب دئ.

لیکن د الله ﷻ پر هغه بنده اتلس کاله (۱۸) په دې شکل زندګی کي تېر سول، د ناجوړی وروسته الله ﷻ صحت او نوجواني ورکړه.

یوه ورځ یو چا پوښتنه ور څخه وکړه:

- ای ایوبه! هغه د ناجوړی ورځي کله په یاد درځي؟
- دَی مبارک ورته وایي: چي د ناجوړی ورځي ددې جوړوالي او صحت د ورځو څخه دېري افضله او اعلی وې.
- هغه سوال کونکی ورته وایي: هغه څنګه افضله او اعلی وې؟
- حضرت ایوب علیه السلام ورته وایي: په کمو ورځو کي چي زه بیمار او ناجوړه وم د عرش څخه په څلېرویشت ساعته کي الله تعالی یو ځل پوښتنه را باندي کوله.

چي ای ایوبه! څنګه حال دئ؟ او د الله تعالی په هغه یوه وینا او پوښتنه کي داسي حلاوت او خوږوالی وو چي د هغه په وجه به زما د بدن د رګ رګ څخه هغه ذرد او هغه تکلیف ختم سو، او صرف ددې یوې پوښتني په انتظار به زه را روان

([1]) بحرالدموع، المقدمه، صفحه نمبر: ۱۲

ځليرويښت ساعته ته يا تيار وم چي يا به کله پوښتنه را باندي وسي چي زما د زړه دنيا اباده کړي(¹).

## د الله پاک ﷻ ديدار:

چي کم خلک د شپې را کښيني او خپل خداى ﷻ ته عجز او ژړا کوي او پر خپلو اعمالو باندي پښېماني کوي او پر خپله تېره زندګي اوښکي تويوي، نو الله تعالى هغوى ته قسم خوري او وايي: چي صبا کله د قيامت ورځ سي ستاسو د ستر ګو څخه به پردې پورته کېږي او زما ديدار به کوئ، تاسو به زما سره خبري کوئ او زه به ستاسو سره خبري کوم، تاسو به ما ته ګورئ او زه به تاسو ته ګورم.

## زندګي د غفلت په حالت کي تېرېدل:

محترمو! دنيا روانه ده او وخت تيرېږي، وخت د هيڅا انتظار نه کوي چي سترګي را پورته کو يا به د قبر توري ډوري ته رسيدلي يو، نو دنيا روانه ده او آخرت را روان دئ او زموږ د زندګي ميټر چالو او روان دئ، که زه او ته په خوشحالي کي يو او که په غم کي، که په تکليف کي يو او که په هوسايي کي يو.

هسي نه چي دغسي د غفلت په حالت کي د عزرائيل عليه السلام چمبه را باندي صافه سي بغير د توبې او په ګناهو لړلي مو د خداى ﷻ و حضور ته پيش کړي. او هسي نه چي يا هلته د ډيري پرېشانى او پښېمانى سره مخامخ سو؛ ځکه هلته يا انسان لره هيڅ هم په لاس نه ورځي.

(¹) خطبات جميل صفحه: ۱۵۵

## خپل خدای جل جلاله ته عذر پېشول:

اوس لا د دنیا زندګي ده او هر څه مو په خپل وسع او طاقت کي دي، باید و خپل خدای جل جلاله ته پر خپلو ګناهونو عذر پېش کړو او د خدای جل جلاله په حضور کي په اخلاص سره د خپلو ګناهو څخه توبه وباسو.
په خدای قسم د الله جل جلاله مغفرت صرف بهانې غواړي، الله تعالی وایي: ای بنده! ته یو څه وکه! چي د هغه په وجه زه ستا مغفرت وکړم.

## د فرزدق شاعر او د حسن بصري رحمة الله علیه واقعه:

فرزدق یو شاعر تېر سوی دئ، د خپل کور د زناني په جنازه کي شریک دئ او د وخت امام حضرت حسن بصری رحمة الله علیه هم په جنازه کي موجود دئ.
حضرت حسن بصری رحمة الله علیه ورته وایي:

- ای فرزدقه! خلق څه وایي؟
- فرزدق ورته وایي: نن ورځ خلق دا وایي چي په دې جنازه کي زموږ د ښار د ټولو څخه بهترین انسان هم راغلی دئ او تا ته اشاره کوي. او د ټولو انسانانو بدترین انسان هم راغلی دئ چي و ما ته اشاره کوي.
- نو حضرت حسن بصري رحمة الله علیه ورته وایي: ﴿مَاذَا أَعْدَدْتَ لِهٰذَا الْيَوْمِ﴾ د دغه ورځي دپاره تا څه سامان تیار کړی دئ (و قبر ته یې اشاره وکړل)؟
- فرزدق ورته وایي: ای حسن بصری! زما سره هیڅ هم نسته صرف دومره خبره ده چي په اسلام کی بوډا سوی یم او نور هیڅ را سره نسته. زما سره صرف د اسلام بوډاوالی دئ. چي کله د فرزدق انتقال وسو، نو یو سړی یې په خوب کي ویني او پوښتنه څني کوي:
- د الله تعالی په حضور کي ستا سره څه وسوه؟

- دَی په جواب کې ورته وایي: الله جل جلاله زه و خپل حضور ته ودرولم او دا یې را ته وویل: ای فرزدقه! تا چې و حسن بصري ته هغه کمه خبره وکړه هغه دې یاده ده؟
- ما ورته وویل: هو، یاالله جل جلاله! زما یاد ده.
- الله جل جلاله را ته وویل: زما و مخ ته یې یو ځل بیا را وګرځوه!
- ما ورته وویل: یاالله! ما حسن بصري رحمة الله علیه ته داسې وویل: زما سره نور هیڅ د الله جل جلاله و حضور ته د پېشولو نسته صرف د اسلام بوداوالی د الله جل جلاله و حضور ته پېشوم چې یاالله! زما ټوله زندګي پر اسلام تېره سوې ده او زه په اسلام کی بوډا سوم.
- نو الله جل جلاله ورته فرمایي: چې بس پر دا غه یوه خبره دې مغفرت کوم(۱).

نو د الله جل جلاله مغفرت صرف بهانې غواړي. راسئ! د الله جل جلاله و حضور ته د خپل مغفرت بهانې ولټوئ! او د ژړا په شکل باندې د الله تعالی په حضور کې د خپل مغفرت بهانې پېش کړئ! الله جل جلاله دې په خپل دربار کې زموږ او ستاسو ټولو مغفرت په نصیب کړي او الله جل جلاله دې موږ د خپله درباره څخه مایوسه او نا امیده نه ولاړوي.

الله جل جلاله دې په دې څو خبرو د عمل توفیق را نصیب کړي او الله جل جلاله دې دغه څو مختصري خبري په خپل دربار کې قبولي او مقبولي وګرځوي. آمین یَا رَبّ الْعَالَمِیْنَ

وَ آخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ

(۱) الله جل جلاله کی رانتی ہوا سٹی، ۲۲۲

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآیه)

# پر خپلو ګناهو پښېماني کول

(بیان)

مولوي اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کاسی روډ کوټه

| | |
|---|---|
| تقـــــريــر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حافـظ كليم الله صاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود |
| اشـــاعـت | ثلـــــــــــــــــــــــورم |
| تـــاريـــخ | يكم ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق يكم مي ۲۰۱۸ |
| تـــعـــداد | (۱۱۰۰) |

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْداً كَثِيراً طَيِّباً مُبَارَكاً فِيْهِ مُبَارَكاً عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَ يَرْضٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهِ خَيْرِ الْهُدٰى وَعَلٰى اٰلِهِ وَاَصْحَابِهِ نُجُوْمِ الْاِهْتِدَاء.

اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَإِذَا سَمِعُوا مَا أُنْزِلَ إِلَى الرَّسُولِ تَرَى أَعْيُنَهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوا مِنَ الْحَقِّ يَقُولُونَ رَبَّنَا آمَنَّا فَاكْتُبْنَا مَعَ الشَّاهِدِينَ(۸۳) وَمَا لَنَا لَا نُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَمَا جَاءَنَا مِنَ الْحَقِّ وَنَطْمَعُ أَنْ يُدْخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ الْقَوْمِ الصَّالِحِينَ(۸٤)(۱)

وَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ اٰلِهِ وَ سَلَّمَ: لَا يَلِجُ النَّارَ مَنْ بَكٰى مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ(۲).

وَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ اٰلِهِ وَ سَلَّمَ: تَضَرَّعُوْا وَ ابْكُوْا فَاِنَّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُوْمَ يَبْكُوْنَ مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ.(۳)

اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلٰنَا الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْمُ وَنَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ.

## د تېرې جمعې د احاديثو اعاده:

محترمو مشرانو! په تېره جمعه کې ما ستاسو په مخ کې د پيغمبر ﷺ دوه حديثونه مبارک پيش کړي وه، په دې جمعه کې زه يو ځل بيا د هغه اعاده کوم او د هغه متعلق د يو څو خبرو اضافه کوم. الله تعالى دې دا څو خبرې په خپل دربار کې قبولې او مقبولې وګرځوي.

(۱) سورة المائدة، آيت نمبر: ۸۳-۸۴

(۲) کنز العمال حديث نمبر ۵۹۱۷

(۳) مسند الفردوس جلد ۲ صفحه ۵۵

موږ او تاسو ټولو ته دې الله ﷻ پر دې خبرو د عمل کولو توفیق را نصیب کي.

## د ژړا متعلق دوه حدیثونه:

پیغمبر ﷺ فرمايي: ﴿لَا يَلِجُ النَّارَ مَنْ بَكَى مِنْ خَشْيَةِ اللهِ﴾ کم انسان چې د الله ﷻ د خشیت او خوف څخه وژاړي او پر خپلو بدو اعمالو د خدای ﷻ و حضور ته پښېماني ښکاره کړي، نو الله تعالی ده ته د جهنم څخه نجات ور کوي.

نو د ګناهګاره د اوښکي څاڅکی د جهنم د اور څخه د نجات او د جهنم څخه د ازادی لوی سبب او ذریعه ده.

داغه رنګه حضرت عبد الله ابن عمر ﷺ د پیغمبر ﷺ یو بل حدیث مبارک را نقل کوي او وایي چې پیغمبر ﷺ به ویل: ﴿تَضَرَّعُوْا وَ ابْكُوْا﴾ تاسو خدای ﷻ ته تضرع او عاجزي کوئ! او الله تعالی ته ډېره ژړا کوئ!

ځکه ستاسو څخه لوی مخلوقات اسمانونه او ځمکي دي هغوی هم الله تعالی ته عاجزي او ژړا کوي ﴿فَإِنَّ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُوْمَ يَبْكُوْنَ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ﴾ اسمانونه او ځمکي لمر او سپوږمۍ هم د الله تعالی و حضور ته ژړا کوي.

نو د الله ﷻ د خوف او بیري څخه د خدای ﷻ و حضور ته ژړا کول دا لوی عبادت دئ او د الله تعالی و حضور ته مقبول ترین عمل دئ.

## د ژړا مختلف اقسام:

په تېره جمعه کي ما در ته ویلي وه چې ژړا پر څو قسمه ده:

١. قسم ژړا پر مصیبت ده، دا یو فطري او طبعي شی ده چې مشر انسان وي او که کشر وي چې کله یو مصیبت ور باندي راسي، نو د مصیبت په وخت کي یې زړه درد کوي او د سترګو څخه یې اوښکي د ژړا په شکل راځي. او یقینا الله تعالی پر دې مصیبت او تکلیف باندي و دې انسان ته اجر او ثواب ور کوي.

۲. قسم د محبوب پر فراق او جدایي باندي ژړا وي، لکه حضرت یعقوب علیه السلام چي د خپل بچي حضرت یوسف علیه السلام پر فراق باندي ډېره زیاته ژړا کو له او د ډېري ژړا په وجه یې د سترګو تور ختم سول او سترګي یې بې دیده او ړندې سوې.

یا لکه پیغمبر ﷺ چي به د خپل بچي "حضرت ابراهیم" پر فراق باندي ژړا کوله او پیغمبر ﷺ به ویل: ﴿إِنَّ الْعَيْنَ تَدْمَعُ وَالْقَلْبَ يَحْزَنُ ، وَلاَ نَقُولُ إِلاَّ مَا يَرْضَى رَبُّنَا وَإِنَّا بِفِرَاقِكَ يَا إِبْرَاهِيمُ لَمَحْزُونُونَ﴾(١) چي سترګي اوښکي تویوي او زړه غم ښکاره کوي او ای ابراهیمه! موږ ستا په فراق کي ډېر غمجن یو.

او یا لکه صحابه کرامو رضی الله عنهم چي د پیغمبر ﷺ پر وفات او فراق باندي ژړاوي کولې او په زیاته اندازه غمجن وه.

نو دوهم قسم ژړا هغه ده چي د محبوب او معشوق پر جدایي او فراق باندي کیږي. او دا ژړا یو قسم د محبت او عشق تقاضا هم ده چي د چا د یو چا سره محبت او عشق وي، نو باید د هغه پر فراق باندي ژړا وکړي او خواشیني ښکاره کړي.

۳. قسم هغه ژړا ده چي د قرآن کریم د تلاوت کولو یا اورېدلو په وخت کي یې انسان کوي، دا هم ډېره مبارکه ژړا ده؛ ځکه چي د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک دئ چي کم انسان د قرآن د تلاوت په وخت کي د الله تعالی د خوف او ېېري څخه ژړا کوي، نو الله جل جلاله به ده ته جنت واجب وګرځوي.

په تېره جمعه کي ما در ته ویلي وه چي امام غزالي رحمه الله علیه لیکلي دي چي د قرآن کریم د تلاوت په وخت کي به د صحابه کرامو رضی الله عنهم عجیب حالت وو ﴿فَمِنْهُمْ مَنْ صَعِقَ﴾ ډېر داسي وه چي د قرآن کریم د تلاوت په وخت کي به بېخوده ښوړېدل. ﴿وَمِنْهُمْ مَنْ بَكَى﴾ بعض داسي وه چي هغوی به ژړل.

---

(١) تنبیه الغافلین، حدیث نمبر: ۳۲۹

﴿وَمِنْهُمْ مَنْ غُشِيَ عَلَيْهِ﴾ بعض داسي هم وه چي هغوی به د ډيري ژړا څخه بېهوښه سول.
﴿وَمِنْهُمْ مَنْ مَاتَ فِيْ غَشْيَتِهٖ﴾(١) او بعض بيا داسي هم وه چي هغوی به د بېهوښی په حالت کي خپل روح د الله تعالی و حضور ته تسليم کړئ.
نو د قرآن کريم د ويلو او اورېدلو په وقت کي ژړا کول د صحابه کرامو رضي الله عنهم عادت مبارکه او سنت مبارکه وو.

## د صديق اکبر رضي الله عنه د تلاوت په وخت کي ژړا:

د پيغمبر ﷺ د بيمارۍ په وخت کي مبارک عليه السلام دا وويل چي ابو بکر رضي الله عنه به صحابه کرامو رضي الله عنهم ته د جماعت لمونځ ورکړي او هغه به زما د بيمارۍ په وجه د مسلمانانو امام سي.
او د حضرت عائشې رضي الله عنها سره يې دا مشوره وکړه چي دا به څنګه سي؟ هغه مبارکه ور ته وايي چي ای د الله نبي ﷺ! ﴿إِنَّ أَبَا بَكْرٍ إِذَا قَامَ فِيْ مَقَامِكَ لَمْ يُسْمِعِ النَّاسَ مِنَ الْبُكَاءِ﴾(٢) بېشکه د ابوبکر رضي الله عنه داسي حالت دئ چي کله هغه ستا پر مصلٰی باندي ودرېږي او تلاوت شروع کي هغه به په دونه زياته اندازه و ژاړي چي لمونځ کونکي به د ده په تلاوت باندي پوه نه سي.
دا مبارکه ور ته وايي چي زه د ابوبکر رضي الله عنه لور يم او ما ته د هغه طبيعت تر ټولو ښه را معلوم دئ.

## د حضرت عمر رضي الله عنه د تلاوت په وقت کي ژړا:

د حضرت عمر رضي الله عنه دا حال وو چي د سهار په لمانځه کي به امام سو، نو اکثر به يې د سورة يوسف تلاوت کوئ او دونه اندازه به يې ژړل چي عبد الله ابن شداد رضي الله عنه فرمايي: ﴿وَ أَنَا فِيْ أٰخِرِ الصُّفُوْفِ﴾ چي زه به د صفو په آخر کي وم ﴿بَقْرَأُ﴾

(١) احياء علوم الدين جلد ٣ صفحه ٢٨٨
(٢) فتح الباري حديث نمبر ٦٧٩

حضرت عمر ﷺ به د قرآن کريم د دې آيت تلاوت کوئ: ﴿إِنَّمَا أَشْكُو بَثِّي وَ حُزْنِي إِلَى اللَّهِ﴾ او په آخرو صفو کې به ما دده د ژړا آواز اوريدئ([1]).

## د حضرت عائشې ﷺ د تلاوت په وقت کې ژړا:

حضرت عائشې مبارکې يو ځل ټوله شپه د دې آيت تلاوت کوئ: ﴿وَ بَدَا لَهُمْ مِنَ اللَّهِ مَا لَمْ يَكُونُوا يَحْتَسِبُونَ﴾([2]) او د دې يوه آيت په تلاوت کې يې ټوله شپه په ژړا تيره کړه.

## د امام شافعي رحمة الله عليه د تلاوت په وقت کې ژړا:

امام شافعي رحمة الله عليه يو ځل دا آيت واوريدئ: ﴿هَذَا يَوْمُ لَا يَنْطِقُونَ وَ لَا يُؤْذَنُ لَهُمْ فَيَعْتَذِرُونَ﴾ د دې آيت په اوريدو سره يې پر زړه باندې د ډيرې ژړا سره يو دم خوف او خشيت غلبه وکړه او بې هوښه را غوځار سو([3]).

## د علي ابن فضيل رحمة الله عليه د تلاوت په وقت کې ژړا:

علي ابن فضيل رحمة الله عليه چې د فضيل ابن عياض رحمة الله عليه زوى و او الله جل جلاله ده ته د خوف او خشيت هغه مقام ورکړى وو چې کله به يې د قرآن کريم تلاوت کوئ يا به يې اوريدئ، نو د عذاب پر آيتو به بې هوښه کيدئ. چنانچې په زړه کې به يې همېشه دا تمنا وه چې يا الله جل جلاله ما ته په يوه وخت کې د پوره قرآن کريم په يو وار د ويلو توفيق را کړې.

ځکه هغه به همېشه دا سې وو چې د قرآن کريم تلاوت به يې لږ وکړئ چې پر کم ځاى به د عذاب آيت راغلئ، نو د ده ځخه به بيا د قرآن کريم تلاوت پاته وو او دى به بې هوښه پروت وو.

---

([1]) صحيح البخاري جلد ۱ صفحه ۱۱۸

([2]) الزمر آيت ۴۷

([3]) احياء علوم الدين جلد ۳ صفحه ۲۸۸

د ده په باره کي راځي چي يو ځل يو قاری صاحب د ده مخ ته دا آيت تلاوت کړئ: ﴿يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ﴾ چي هغه به داسي ورځ وي چي انسانان به د خپل پروردګار و مخ ته درېږي.
چي دا خبره يې واورېده په داغه وخت کي بې هوښه غوځار سو (۱).

## د حضرت شبلي رحمة الله عليه په زړه کي خشيت الهي:

يو ځل حضرت شبلي رحمة الله عليه دا آيت واورېدئ: ﴿لَئِنْ شِئْنَا لَنَذْهَبَنَّ بِالَّذِيْ اَوْحَيْنَا اِلَيْكَ﴾(۲) امام په تراويحو کي تلاوت کوئ چي کله امام دا آيت تلاوت کړئ، نو حضرت شبلي رحمة الله عليه هلته غوځار سو او بې هوښه سو (۳).
موږ ته څه معلومه ده چي د الله تعالی عاشقان چي کله د خپل معشوق ذات کلام واوري د هغوی څنګه حالت وي:

## زموږ د افسوس حالت:

زموږ په محفلو کي هم نن صبا د قرآن کريم تلاوتونه کيږي، ليکن د معنیٰ يې هيڅ درک د چا سره نسته. قاري صاحب به دا آيت تلاوت کوي: ﴿اِنَّا مِنَ الْمُجْرِمِيْنَ مُنْتَقِمُوْنَ﴾(۴) او اورېدونکی به د هغه قاري صاحب د ښه آواز په وجه د خوشحالی په شکل د سبحان الله نعرې وهي.
حالانکه د دې الفاظو ترجمه داده چي الله جل جلاله فرمايي: زه به د خپلو مجرمانو څخه انتقام او بدله اخلم. او اورېدونکی به د خوشحالی نعرې وهي چي سبحان الله.

(۱) احياء علوم الدين جلد ۳ صفحه ۲۸۸
(۲) الاسراء آيت نمبر: ۸٦
(۳) احياء علوم الدين جلد: ۳ صفحه: ۲۸۸
(۴) السجدة آيت نمبر: ۲۲

دا معلومه خبره ده چې د قاري صاحب آواز فقط تر غوږو پورې رسېږي، ليکن د هغه د کيفيت او د معانيو معلومات يو ه زره هم د انسانانو په زړو کې نشته.

### زموږ د غفلت نتيجه:

زموږ د افسوس او غفلت حالت چې کله الله ﷻ وينې، نو ځکه الله ﷻ هم دا فرمايي:

﴿وَ تَضْحَكُوْنَ وَ لَاتَبْكُوْنَ﴾ تاسو خو خندا کوئ او ژړا نه کوئ څه وجه ده؟

﴿وَ اَنْتُمْ سَامِدُوْنَ﴾(۱) وجه دا ده چې تاسو په غفلت کې مبتلا ياست.

دا معلومه ده چې کله غفلت کم سي او غفلت د دماغه څخه ووځي، نو بيا د انسان خندا کمه سي او ژړا يې زياته سي.

### د قرآن مجيد ګواهي:

تاسو د قرآن کريم څخه ګواهي و غواړئ! ﴿وَ مَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ قِيْلًا﴾ د الله ﷻ د قرآن کريم څخه به څوک لوی ګواه وي؟ قرآن کريم د صحابه کرامو ﷺ حالت بيانوي:

﴿وَإِذَا سَمِعُوا مَا أُنزِلَ إِلَى الرَّسُولِ تَرَى أَعْيُنَهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوا مِنَ الْحَقِّ يَقُولُونَ رَبَّنَا آمَنَّا فَاكْتُبْنَا مَعَ الشَّاهِدِينَ، وَمَا لَنَا لَا نُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَمَا جَاءَنَا مِنَ الْحَقِّ وَنَطْمَعُ أَنْ يُدْخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ الْقَوْمِ الصَّالِحِينَ﴾(۲).

چې دوی داسې وه چې د ژړا په شکل به يې د الله ﷻ څخه غوښتنه کوله.

نو پروردګار ﷻ فرمايي: ﴿فَاَثَابَهُمُ اللّٰهُ بِمَاقَالُوْا﴾ چې څه به يې غوښتل الله ﷻ به هغه و دوی ته پوره پوره ورکول.

---

(۱) النجم آيت ۶۱

(۲) سورة المائده، آيت نمبر: ۸۳-۸۴

## د ټولو څخه لوی مصیبت:

د "بخاري شریف" په شرح "فتح الباري" کي لیکلي دي: ﴿يُسْتَحَبُّ الْبُكَاءُ مَعَ الْقِرَائَةِ﴾ چي کله انسان تلاوت کوي، نو ښه به دا وي چي ژاړي. ﴿وَ طَرِيْقُ تَحْصِيْلِهِ﴾ د دې ژړا د حاصلولو طریقه دا ده: ﴿أَنْ يَحْضُرَ قَلْبُهُ الْحُزْنَ﴾ چي خپل زړه ته غم را حاضر کړي. ﴿وَالْخَوْفَ﴾ او د الله تعالی ﷻ بېره په خپل زړه کي را حاضره کړي.
د دې سره سره کچیري بیا هم ژړا نه ورځي، نو ﴿فَإِنَّهُ مِنْ أَعْظَمِ الْمَصَائِبِ﴾(۱) نو بیا دا د انسان دپاره د دنیا د مصیبتو څخه لوی مصیبت دئ چي دده پر سر راغلی دئ.
نو د قرآن کریم د تلاوت پر وخت ژړا کول دا محبوب عمل دئ او الله ﷻ ته ډېر مقبول عمل او خوښ عبادت دئ. الله تعالی دې موږ او تاسو ټولو ته را نصیب کړي. آمین

## خپل ګناهونه یادول او الله ﷻ ته ژړا کول:

۴. قسم د خپلو ګناهونو یادېدلو په وخت کي ژړا ده.
چي کله انسان پر خپلو اعمالو نادم او شرمنده سي او بیا د پښېمانی په شکل ژاړي، نو دا ژړا الله ﷻ ته ډېره مقبوله ژړا ده.
په حدیث شریف کي راځي: ﴿مَنْ تَذَكَّرَ خَطَايَاهُ﴾ کم چا ته چي خپلي کوتاهیاني، غلطیاني او ګناهونه وریاد سي ﴿بَكَى عَيْنَاهُ﴾ او د هغه د سترګو څخه اوښکي راووځي، نو ﴿رَضِيَ عَنْهُ اللهُ﴾ د دې په وجه به د ده څخه خپل معبود راضي سي(۲).
په یو بل حدیث شریف کي راځي: چي کله انسان خپلي ګناوي وریادي کړي او وژاړي د دې انسان پر بدن چي څومره وربښتان دي هغومره به د توبه کښونکو انسانانو ثوابونه د ده عملنامه کي ولیکل سي(۳).

(۱) فتح الباري، باب البكاء عند القراءة، صفحه نمبر: ۹۸
(۲) خطبات فقیر جلد: ۴ صفحه: ۱۸۶
(۳) خطبات فقیر جلد: ۴ صفحه: ۱۸۶

**د انبياء کرامو عليهم السلام ژړا:**

سيدنا حضرت آدم عليه السلام د خپل نسيان او هيرې په وجه باندې تر درې سوه (۳۰۰) کاله پورې ژړا کوله.
حضرت داود عليه السلام تر څلوېښت (۴۰) کاله پورې ژړل.
تاسو به واياست چې دا خو د انبياء کرامو عليهم السلام خبره ده تاسو د دې امت د اکابرينو حال هم واورئ! ([1]).

**د حضرت حسن بصري رحمة الله عليه ژړا:**

حضرت حسن بصري رحمة الله عليه به دومره زياته ژړا کوله چې د ډيرې ژړا کولو په وجه به دده د سترګو څخه اوښکې پر مخکه بهېدلې.
دا ژړا د خشيت الهي په وجه وه، د خپلو نيکو اعمالو کولو باوجود به يې هم د الله تعالی جل جلاله د خشيت په وجه ژړل ([2]).

**د رابعه بصريې رحمها الله ژړا:**

رابعه بصريه رحمها الله به ډېر ژړل او د خپلو سترګو اوښکې به يې پر مځکه نښتېځلې،

د دې مبارکې د سترګو څخه به دومره زياتې اوښکې تللې چې پر کم ځای به د دې اوښکې تويدلې پر هغه ځای به د دې د اوښکو د اوبو څخه وابنه را شنه کېدل ([3]).

([1]) خطبات فقير جلد ، ۴ صفحه ، ۱۸۷
([2]) خطبات فقير جلد ، ۴ صفحه ، ۱۸۷
([3]) خطبات فقير جلد : ۴ صفحه : ۱۸۷

## د حضرت عمر ﷺ ژړا:

سیدنا عمر ﷺ به دومره کثیر البکاء وو یعني دومره زیاته ژړا به یې کوله چې دده د سترګو څخه به د کثرت د اوښکو را تویدلو په وجه دده په مخ مبارک کې د اوښکو لارې جوړې وې او دده پر مخ مبارک به د اوښکو راتویدلو لږې لاینونه جوړول.

او د الله جل جلاله د خوف او خشیت څخه به یې ژړا کوله(١).

## د آخرت شرمندګي:

چې کوم انسان په دنیا کې پر خپلو ګناهونو شرمنده نه سي هغه انسان به ضرور په آخرت کې د خپلو ګناهونو په وجه شرمنده کیږي.

لهذا چې کله ګنهګاران انسانان د قیامت په میدان کې د خدای تعالی و حضور ته ودرول سي، نو د دوی سترګي به د شرم په وجه باندي کښته وي او د ډېره شرمه به سترګي پورته کولای نه سي. دا به د دوی دپاره ډېر د رسوایی حالت وي.

تاسو د قرآن کریم څخه د دوی د حالت پوښتنه وکړئ چې قرآن کریم د دوی حالت څنګه بیانوي؟

الله جل جلاله پیغمبر ﷺ ته فرمایي: ﴿وَلَوْ تَرَىٰ إِذِ الْمُجْرِمُونَ نَاكِسُوا رُءُوسِهِمْ عِندَ رَبِّهِمْ﴾ ای پیغمبره! چې کله ته ووینې هغه وخت چې مجرمان خلګ د خپل رب جل جلاله په حضور کې په داسې حالت کې ولاړ وي چې د دوی ګردنونه د شرم په وجه کاږه وي.

او د دوی سترګي به لوړي نه سي پورته کېدای او دوی به و خپل پروردګار جل جلاله ته خپل مخ نه سي ښکاره کولای.

(١) شعب الایمان جلد ١ صفحه ٤٩٢

نو مفسرين رَحِمَهُمُ الله ليکي: چي دلته د "لَوْ" جواب حذف دئ، اکثره مفسرين دا جواب دلته را با سي: ﴿لَرَءَيْتَ أَمْرًا فَظِيعًا﴾ اې پيغمبره! دا به ته ډېر د رسوايي حالت وبولې.

نو په دنيا کي پر خپلو ګناهونو شرمنده کېدل په کار دي دا خو آسانه کار هم دئ، ورنه بيا نو د قيامت د ورځي سخته شرمندګي و انسان ته ګوري.

بيا هم پروردګار عالم جَلَّ جَلَالُهُ ډېر لوی ذات دئ چي کله يو ګنهګار بنده پر خپلو ګناهونو و الله جَلَّ جَلَالُهُ ته و ژاړي، نو الله جَلَّ جَلَالُهُ دی د جهنم د اور څخه ليري او آزاد ګرځوي.

## د قيامت د ميدان شرمندګي:

محترمو مشرانو! نن د بندګانو و مخ ته ژړا ده، که دا نه وسي، نو بيا سبا د قيامت په ميدان کي د پروردګارعالم جَلَّ جَلَالُهُ و مخ ته ضرور ژړا کول انسان ته ګوري او د محمد رسول الله ﷺ و مخ ته شرمنده کېدل انسان ته ګوري.

چي کله د محمد رسول الله ﷺ په مخ کي سبا د قيامت په ميدان کي زما او ستا ګناهونه ښکاره سي تاسو فکر وکړئ چي په کوم مخ به د محمد رسول الله ﷺ په حضور کي خپل ځانو نه ښکاره کوو.

محمد رسول الله ﷺ به څه وايي چي زما امت زما د تهجد په وخت کي زما د توی سوو اوښکو قدر نه وکړی؟

ما چي به د دوی د پاره د شپې په تهجد کي و خپل رب جَلَّ جَلَالُهُ ته ژړا کوله زما څخه وروسته را تلونکي زما څنګه امتيان وه؟ دا څنګه زما پر نقش قدم تلونکي وه چي ګناهونه يې کول او پر خپلو ګناهونو نه شرمنده کېدل.

يقينًا دا به زما او ستا د پاره لويه رسوايي وي او دا به داسي رسوايي وي چي بيا به زما او ستا د برداشته يقينًا وتلې وي.

## د قيامت په ورځ د ګنهکاره د سترګي طول او عرض:

په "حيات صحابه" کي ليکلي دي چي "يزيد ابن هارون" به ويل: چي حضرت ابوبکر ﷛ يو ځل وعظ او نصيحت کوئ او په هغه نصيحت کي ده مبارک وفرمايل: چي يو داسي بنده به د قيامت په ورځ د خداى ﷻ و حضور ته را پيش کړل سي چي هغه ته به په دنيا کي الله ﷻ قسم قسم نعمتونه ورکړي وي او بنه فراخ رزق به يې ورکړى وي او داغه رنګه جسماني صحت به يې ورکړى وي ليکن هغه کم نصيبه به د الله ﷻ ناشکري د عبادت او اطاعت نه کولو په شکل کړې وي.

او دغه بنده به د الله ﷻ و حضور ته ودرول سي او د الله ﷻ د طرفه به ور ته وويل سي: ما خو تا ته په دنيا کي هر څه درکړي وه تا د نن ورځي دپاره څه کړي دي؟ او خپل کوم عمل دي د نن ورځي دپاره را استولى دئ؟

هغه بنده به هيڅ ښه عمل پيدا نه کړي چي ده دي د توښې په شکل را استولى وي، تو پر دې باندي به د الله ﷻ د طرفه د ټول اهل قيامت په مخ کي زيات شرمنده او رسوا سي د زياتي شرمندګي، ندامت او پښېمانۍ په وجه به دَى ډېر زيات وژاړي او دومره زيات به وژاړي چي د وجود اوښکي به يې ختم سي.

بيا به د الله ﷻ د احکامو پر ضائع کولو باندي دَى د خداى د طرفه شرمنده او رسوا سي چي د هغه په وجه به دَى د وينو په ژړا وژاړي تر دې چي د وجود ويني به يې هم ټولي ختمي سي.

دريم ځل به بيا دَى شرمنده او رسوا سي چي د دې په وجه به دَى دواړه لاسونه تر بازوګانو پوري په خوله ننباسي.

څلورم ځل به بيا دَى ډېر زيات شرمنده او رسوا سي.

او دَى به په ډېر لوړ آواز سره ژاړي او دده سترګي به د خپلو ځايو څخه پر بارخوګانو باندي را توى سي.

د دوارو سترګو څخه به د هري سترګي اوږدوالی او پسور درې درې میله و ټول اهل قیامت ته معلومېږي.

او پنځم ځل به بیا دوی د الله تعالی د طرفه ډېر زیات شرمنده او رسوا سي تر دې اندازې چي د دېري شرمندګۍ او پرېشانۍ په حالت کي به د الله ﷻ و حضور ته خواست کوي:

- یا الله! پر ما رحم وکه!
- د الله تعالی د طرفه به ورته وویل سي: چي څنګه رحم غواړې چي در باندي وه یې کړم؟
- دوی به وایي: یا الله ما دوږخ ته واستوه! یاالله! که چیري ته ما د دې شرمندګۍ څخه خلاص کړې او دوږخ ته مي واستوې نو دا به ستا زما سره ډېر لوی رحم او احسان وي.

جهنمي د قیامت د میدان د شرمندګۍ او رسوایی په بدل کي د ځان دپاره د جهنم استوګنه د ځان سره د الله تعالی لوی رحم او احسان بولي.

دا ځکه چي د قیامت په میدان کي به دوی زیات شرمنده او رسوا سي، نو د الله ﷻ څخه به د جهنم استوګنه په خواست او زاریو طلبوي([1]).

نو په دې دنیا کي د سترګو څخه اوښکي تویول او د مخلوق و مخ ته شرمنده کېدل ضروري ده.

که دا نه وي، نو سبا په دغه قسم شرمندګۍ د قیامت په میدان کي د الله تعالی په حضور کي او د محمدرسول الله ﷺ و مخ ته او د ټول اهل قیامت و مخ ته و انسان ته ګوري.

---

([1]) حیاة الصحابه جلد ۲ صفحه ۴۸۱

## په دنیا کي د ژړا فضیلت:

د ابن ماجه شریف یو حدیث مبارک دئ: ﴿مَا مِنْ عَبْدٍ مُؤْمِنٍ يَخْرُجُ مِنْ عَيْنَيْهِ دُمُوعٌ وَ اِنْ كَانَ مِثْلَ رَأْسِ ذُبَابٍ مِّنْ خَشْيَةِ اللهِ ثُمَّ يُصِيبُ شَيْئًا مِّنْ حَرِّ وَجْهِهِ حَرَّمَهُ اللهُ عَلَى النَّارِ﴾(١). چي کله د یو انسان د خشیت الهي په وجه د سترګو څخه اوښکي راسي او هغه که څه هم دونه قلیله (کمه) اوښکه وي چي د مچ د سر برابره وي او بیا دده د مخ پوستکي ته را ورسیږي لا هم الله تعالی د دې اوښکي په وجه پر ده باندي د جهنم اور حراموي.

## دوه بهترین څاڅکي:

د ترمذي شریف حدیث دئ: ﴿لَيْسَ شَيْءٌ أَحَبَّ إِلَى اللهِ مِنْ قَطْرَتَيْنِ﴾ الله جل جلاله ته دوه څاڅکي ډېر محبوب دي، د دې څخه زیات محبوب شی او الله تعالی ته نسته.
﴿قَطْرَةُ دُمُوعٍ مِّنْ خَشْيَةِ اللهِ﴾ یو د اوښکي هغه څاڅکی دئ چي د الله جل جلاله د خشیت څخه د سترګو څخه را توی سي او دوهم ﴿قَطْرَةُ دَمٍ تُهْرَقُ فِي سَبِيلِ اللهِ﴾(٢) د وینو هغه څاڅکی دئ چي د مجاهد د جسم څخه د جهاد په حالت کي توی سي.
او داغه رنګه یو حدیث قدسي مبارک دئ چي الله تعالی جل جلاله فرمایي: ﴿لَأَنِينُ الْمُذْنِبِينَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ زَجَلِ الْمُسَبِّحِينَ﴾(٣) الله تعالی فرمایي: ما ته د ګنهګار د ژړا څګېروی د ذاکرینو انسانانو د سبحان الله ویلو دشور او زوږ څخه ډېر محبوب دئ.
نو د ګنهګار ژړا پر خپلو اعمالو د پښېماني په خاطر چي کیږي و الله جل جلاله ته ډېر محبوب عمل دئ او د الله تعالی په حضور کي مقبول ترین عبادت دئ.
مولانا روم رحمة الله علیه فرمایي:

---

(١) ابن ماجه، حدیث نمبر: ۴۱۹۷
(٢) ترمذي، حدیث نمبر: ١٦٦٩
(٣) روح المعاني، تحت تفسیر سورة القدر.

*که کند شاه مجید :: اشک را در وزن با خون شهید*

الله تعالى هغه لوړ او مهربان باچا دئ چي د ګنهګار د سترګو اوښکي په وزن کي د شهيد د وينو سره برابروي.

چي د شهيد وينه د الله تعالى په دربار کي څومره قدر او قيمت لري هغه قدر او قيمت الله جَلَّ جَلَالُهُ د ګنهګارو اوښکي ته هم ورکوي.

اى رب کريم! ته څومره مهربانه او کريم ذات يې چي د يو ګنهګار د سترګو څخه د اوښکي څاڅکی چي د پښېمانۍ په خاطر راوزي ته يې د شهيد د وينو د څاڅکي سره په خپل حضور کي برابر بولې!!!

اى الله! تا د ګناهګارانو ژړا ته څومره عظمت ورکړی دئ!

اى الله! ستا رحمت څومره وسيع دئ!

اى رب کريمه! که ته د عمل پر قبلېدلو باندي راسې، نو يا په معمولي بهانو د زندګۍ ټولي غلطياني په ښېګيانو بدلوې.

او کچيري ته د خپلي بې نيازۍ مظاهره وکړې، بيا نو د انسانانو ټول عبادتونه ستا د حضور ته د ښکاره کېدو لائق نه دي.

ستا شان بلند دئ او ته د ډېرو لوړو عظمتو والا ذات يې. موږ ستا د شان سره لائق عبادت نه سو کولای.

اى رب کريم! موږ دا د ښېګيانو او د لمنځو د ذکرو او مراقبو ګلدسته د خپل وس او طاقت مطابق ستا د حضور ته پېشوو، اى الله! کچيري ته يې قبوله کړې دا به ستا لوى فضل وي او کچيري يې قبوله نه کړې، نو دا به ستا عدل وي، اى رب کريم! نو موږ ستا فضل غواړو پر موږ مهرباني وکړې.

## د بانوګانو د يو ورېښته شاهدي:

محترمو مشرانو! د قيامت په ورځ به يو انسان پر خپلو ګناهونو شرمنده سي. مګر د ده د شفاعت والا به هيڅوک نه وي.

او دا انسان به د ډيري پرېشانۍ سره مخامخ وي آخر به د دې انسان د بانو ګانو يو ورېښته شاهد جوړ سي او د ده د ژړا شاهدي به اداء کي او په هغه به د ده مغفرت وسي.

لکه يو حديث شريف کي راځي: ﴿فَتَشْهَدُ لِكَ الشَّعْرُ﴾ د بانو ګانو دا ويښته به د انسان دپاره شاهدي پيشوي چي: ﴿أَنَّهُ قَدْ بَكَى فِي الدُّنْيَا مِن خَوفِ رَبِّهِ﴾ الله جل جلاله ستا دغه بنده په دنيا کي ستا د خوف په وجه ژړلي دي.

﴿فَيُغْفَرُ لَهُ وَ يُنَادِيْ مُنَادٍ هٰذَا عَتِيْقُ اللهِ بِشَعْرِهِ﴾ نو د دې انسان مغفرت به وسي او يو اعلان کونکي فرشته به دا اعلان وکړي چي اى خلکو! دا هغه بنده دئ چي د ده د بانو ګانو د يو ورېښته ګواهي الله جل جلاله قبوله کړه او د هغه پر بنياد يې دى د جهنم د عذابه څخه آزاد کړئ. (سبحان الله)(١).

## د اوښکو تويول د جهنم څخه د آزادۍ ذريعه:

په تاريخ بغداد کي يو روايت ليکلى دئ چي يو سړى د آنحضرت ﷺ په خدمت کي حاضر سو او دا عرض يې وکړئ:

- يارسول الله! زه په کوم شي سره د دوزخ د عذاب څخه ځان خلاص کړم؟
- پيغمبر ﷺ ورته فرمايي: د خپلو سترګو په اوښکو سره.
- هغه سړى بيا عرض کوي چي د سترګو په اوښکو څنګه د دوزخ څخه ځان خلاصولاى سم؟
- پيغمبر ﷺ ورته فرمايي: چي د الله جل جلاله د خوف څخه خپلي اوښکي توى که! ځکه چي الله جل جلاله هغه سترګي ته عذاب نه ورکوي چي د ده د ېيري څخه يې اوښکي توى کړي وي.

(١) تفسير البحر المديد جلد ٦: ٢٤١ تحت تفسير سورة يس.

## د يوې اوښکې مقام:

علامه ابن جوزي رحمة الله عليه په "طبقات" کې پر صفحه پنځه څلوېښت (۴۵) باندې د حضرت عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه يو روايت را نقل کړی دی چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم به ويل: ﴿قَطْرَةٌ تَخْرُجُ مِنْ عَيْنِ الْمُؤْمِنِ مِنْ خَشْيَةِ اللهِ خَيْرٌ لَهُ مِنَ الدُّنْيَا وَ مَا فِيهَا﴾ يو څاڅکی د اوښکو چې کله د مؤمن بنده تر سترګو را ووځي دا د ده دپاره تر دنيا او مافيها خير دئ.

﴿وَ خَيْرٌ لَهُ مِنْ عِبَادَةِ سَنَةٍ﴾ او د ده د يو کال نفلي عبادت څخه هم خير دئ يعني د خدای جل جلاله په حضور کې پر دې څاڅکي د اوښکې د ده دپاره ډېر لوی اجر دئ.

﴿وَتَفَكُّرُ سَاعَةٍ فِي عَظْمَةِ اللهِ وَ قُدْرَتِهِ خَيْرٌ مِنْ صِيَامِ سِتِّيْنَ يَوْمًا وَقِيَامِ سِتِّيْنَ لَيْلًا﴾ او يو ساعت د الله جل جلاله په لويي او قدرت کې فکر کول دا د بنده دپاره خير دئ تر دوو مياشتو روژو نيولو او تر دوو مياشتي شپې رونه ولو يعني عبادت کولو.

## د فرشتې اوله ندا:

﴿أَلَا وَ إِنَّ مَلَكًا يُنَادِيْ كُلَّ يَوْمٍ وَ لَيْلَةٍ أَبْنَاءَ الْأَرْبَعِيْنَ زَرْعٌ دَنَا حَصَادُهُ﴾ او پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايي: د الله تعالی د طرفه يوه فرشته مقرره ده هغه په هره شپه او ورځ کې پر انسانانو دا آوازونه کوي چې ای څلوېښت کلنو انسانانو! ستاسو کښت او کښتې پخه ده او د پرېکولو وخت مو را نژدې دئ.

او دا په دنيا کې هم قانون داسې دئ چې کله کښتې او کښت پوخ سي، نو خپل مالک يې د پرې کولو په اراده وي.

نو ای انسانانو! تاسو د الله جل جلاله کښت او کښتې ياست چې کله ستاسو عمر څلوېښت کاله ته ورسيږي، نو ستاسو کښت او کښتې هم پخه سي، نو ستاسو مالک چې الله رب العلمين دئ هغه هم ستاسو د پرې کولو په اراده سي.

چې ستاسو پر ځای په دنيا کې بل کښت وکرل سي او هغه را شين سي چې هغه راتلونکی نسل دئ.

## الله تعالی انسان ته ولې مرګ راولي؟

حضرت موسٰی علیه السلام یو ځل د الله جل جلاله څخه دا سوال کوي:

- ای الله جل جلاله ته یو ځل انسان پیدا کړې بیا ولې بیرته مرګ ورته راولې؟
- الله جل جلاله ورته فرمايي: چې اي موسی علیه السلام! ته پر مځکه کښت او کېتی وکړه!

موسٰی علیه السلام په مځکه کې د غنمو کښت وکړئ څه زمانه وروسته هغه کښت پوخ او تیار سو.

حضرت موسٰی علیه السلام چې کله ولیدل چې کښت پوخ او برابر سو، نو دستي یې د پرې کولو فکر ور سره پیدا سو، چنانچې حضرت موسٰی علیه السلام هغه فصل پرې کړئ غنم او پرور یې سره جلا جلا کړئ، نو الله جل جلاله دستي پوښتنه ځني وکړه:

- ای زما محبوبه موسٰی! تا دا فصل ولي پرې کړئ؟ غنم او پرور دي ولي سره جلا جلا کړه؟
- حضرت موسٰی علیه السلام په جواب کي ور ته فرمايي: ای زما ربه! فصل ورسېدئ او پوخ سو، اوس یې د پرې کولو بغیر بله چاره نه وه نو په دې وجه مي پرې کړئ.
- بیا الله جل جلاله ور ته فرمايي: چې ای موسٰی! زه هم دغسي کوم چې کله د انسانانو د زندګی فصل پوخ او برابر سي، نو د هغه د پرې کولو بغیر بله چاره نه وي، نو ځکه یې زه پرې کوم او د غنمو د دانو په شکل انسانان جنت ته رسوم او د پراړه په شکل انسانان جهنم ته رسوم([1]).

نو په دې وجه هغه فرشته دا ندا (آواز) کوي چې اي ځلوېښت کلنو انسانانو! ستاسو کښت اوس پوخ دئ او د پرې کولو وختمو را رسېدلی دئ.

(1) موت کی تیاری، صفحہ نمبر: ۳۰

## د فرشتې دوهمه ندا:

داغه رنګه دا فرشته دوهمه ندا دا کوي: ﴿يَا أَبْنَاءَ خَمْسِيْنَ! هَلُمُّوْا إِلَى الْحِسَابِ﴾ اي پنځوس کلنو انسانانو! راسئ خپل حساب ته! يعني چي په دې پنځوس کاله عمر کي دې څومره ښه عملونه کړي دي او څومره دې بد عملونه کړي دي؟ اوس د ځان سره د هغه حساب او کتاب وسنجوئ چي ښه عملونه مو ډېر دي او که بد عملونه مو ډېر دي.

لکه يو بل حديث شريف کي پيغمبر ﷺ فرمايي: ﴿مُوْتُوْا قَبْلَ أَنْ تَمُوْتُوْا وَ حَاسِبُوْا قَبْلَ أَنْ تُحَاسَبُوْا﴾ تاسو د حقيقي مرګ راتلو څخه مخکي په دنيا کي خپل ځانونه مړه کړئ! يعني د دنيا خواهشات ختم کړئ! لکه مړي چي څه خواهش نه لري تاسو هم داسي خپل خواهشات ختم کړئ!

او چي کله د الله جل جلاله په حضور کي ستاسو څخه حساب اخيستل کيږي، نو د هغه څخه مخکي يعني د دنيا په ژوند کي د خپل ځان سره د دنيا د زندګۍ د خپلو اعمالو حساب وکړئ!

## د فرشتې دريمه ندا:

او دريمه نعره فرشته دا کوي: ﴿يَا أَبْنَاءَ سِتِّيْنَ مَاذَا قَدَّمْتُمْ وَ مَاذَا أَخَّرْتُمْ﴾ اي شپېته کلنو انسانانو! تاسو مخ ته څهٔ استولي دي چي تاسو ته به ښه درسي او تاسو وروسته کوم صالحات باقيات پرې ايښي دي چي ستاسو د مرګ څخه وروسته تاسو ته فائده ورسوي.

## د فرشتې څلورمه ندا:

﴿يَا أَبْنَاءَ سَبْعِيْنَ مَاذَا تَنْتَظِرُوْنَ؟﴾ او اې اويا کلنو انسانانو! اې کم نصيبو! تاسو لا د کوم شي انتظار کوئ چي د دې څخه وروسته به نو تاسو ته څه په لاس درسي او ستاسو زندګي ته لا تاسو تر کومه وخته پوري طمع لرئ چي روانه به وي؟

﴿وَنَزِّهْ مَشِيْبَكَ عَنْ شَيْءٍ يُدَنِّسُهُ: إِنَّ الْبَيَاضَ قَلِيْلُ الْحَمْلِ لِلدَّنَسِ﴾.

خپل سپين وېروالي د داسي شي څخه پاک و ساتئ چي هغه تا ککړ او خرابوي؛ څکه چي پر سپين رنګ باندي خيره او ککړوالی ډېر ژر ښکاره کېږي.

## د فرشتې پنځمه او آخري ندا:

په آخر کي هغه فرشته دا ندا کوي: ﴿أَلَا لَيْتَ الْخَلْقَ لَمْ يُخْلَقُوْا وَ إِذَا خُلِقُوْا لَيْتَهُمْ يَعْلَمُوْا لِمَا خُلِقُوْا لَهُ فَعَمِلُوْا لِذَالِكَ أَلَا قَدْ أَتَتْكُمُ السَّاعَةُ فَخُذُوْا حِذْرَكُمْ﴾(1) کاش مخلوق پيدا سوی نه وای! بيا چي کله پيدا سو، نو کاش هغوی په دې پوه وای چي موږ د څه دپاره پيدا سوي يو او د هغه دپاره دوی عمل کړی وای.
خبردار! قيامت قريب را رسېدلی دئ د خپلو بچاوېدو دپاره مو څه بندوبست کړی دئ؟

## د ژړا کولو قدر او يوه واقعه:

حضرت ابو بکر صيدلاني رحمة الله عليه فرمايي: چي ما د حضرت سليمان ابن منصور ابن عمار رحمة الله عليه څخه دا اورېدلي دي هغه به فرمايل: چي ما خپل پلار مبارک په خوب کي وليدئ، نو ما دا عرض څني وکړئ چي ستا رب جل جلاله ستا سره څه معامله وکړله؟
ده په جواب کي راته وويل: چي ما ته خپل رب جل جلاله خپل قرب را په نصيب کړئ، ما ته يې وويل:

- چي ای ګنهکاره بوډا! دا درته معلومه ده چي ما ولي ته وبخښلې؟
- ما ورته وويل: چي يا الله! نه ده را معلومه.
- نو الله جل جلاله راته وويل: چي يو ځل تا و خلکو ته وعظ او نصيحت کوئ او هغه خلک دي وژړول په هغوی کي زما يو بنده وو هغه هم وژړل او هغه داسي بنده وو چي د دې څخه مخکي يې زما د ېيري څخه نه وه ژړلي او د ده ژړا چونکه په ډېر افسوس او پښېمانۍ سره وه، نو د دې ژړا په وجه ما

(1) رواه ابو نعيم في الحلية جلد ۴ صفحه ۳۲ و ابن الجوزي في الطبقات صفحه ۴۵ عن وهب ابن منبه.

دَی معاف کړئ. او د دغه بنده په وجه ما پر ټول اهل مجلس باندي خپله مهرباني او رحم وکړئ او په دغه اهل مجلس کي یو ته هم وې، نو ځکه ته هم معاف سوې او زما قرب او بخښنه دي په نصیب سوه(١).

## د الله ﷻ و حضور ته د حاضرېدلو اهمیت:

په "تاریخ بغداد" کي لیکلي دي چي حضرت علي بن ابراهیم بن صفار رحمه الله علیه فرمایي: زه یوه شپه د حضرت اسود بن سالم رحمه الله علیه په حجره کي حاضر وم هغه ټوله شپه دا دوه بیته ویل او بار بار به یې راګرځول او ډېر زیات به یې ژړل:

﴿أَمَامِيْ مَوْقِفٌ قُدَّامَ رَبِّيْ يَسْئَلُنِيْ وَيَنْكَشِفُ الْغِطَاءُ﴾

﴿وَ حَسْبِيْ اَنْ اَمُرَّ عَلَى الصِّرَاطِ كَحَدِّ السَّيْفِ اَسْفَلُهُ لَظَى﴾

زما و مخ ته قیامت دئ او د پروردګار ﷻ و مخ ته درېدل دي هغه به زما څخه سوال کوي او پټ رازونه به مي ښکاره سي.

زما دپاره دومره کافي ده چي زه د تیزي توري په شان د پل صراط څخه تېر سم چي تر هغه لاندي دوزخ دئ.

دَی رحمه الله علیه فرمایي: چي د شپې په آخر کي ده یوه چیغه وکښه او بېهوښه سو او د سهار په وخت کي یې خپل روح الله تعالی ته تسلیم کړئ(٢).

## د رحمت الهي د متوجه کولو والا دُعا:

محترمو دوستانو! که نېکان خلګ نه یو باید د نېکانو خلګو سره ملګري سو او د رب کریم ﷻ په مخ کي دا تمنا پېش کړو:

﴿أُحِبُّ الصَّالِحِيْنَ وَ لَسْتُ مِنْهُمْ : لَعَلَّ اللهَ يَرْزُقُنِيْ صَلَاحًا﴾

ای الله! نېک خو نه یم، مګر د نیکو خلګو سره خپل حشر غواړو چي کله موږ د خپل پروردګار څخه داسي غوښتنه وکړو، نو څه بعیده ده چي الله ﷻ دي پر

---

(١) بحر الدموع، صفحه: ۴۲

(٢) تاریخ بغداد جلد ۷ صفحه ۳۶، ۳۷

موږ باندې خپله مهرباني وکړي او زموږ دا دوه څاڅکي د اوښکو دي قبول کړي او زموږ د زندګۍ ګناهونه دي معاف کړي او په آئنده کي دي و موږ ته د پرهېزګارۍ او نیکي زندګۍ توفیق را نصیب کړي.

څه بعیده ده چي الله ﷻ دي موږ ته داسې زندګي راکړي چي زموږ د تیري زندګۍ کفاره جوړه سي او څه بعیده ده چي د الله ﷻ د رحمت دریاب دي په جوش کي راسي او زموږ پر ګناهونو دي اوبه تیري کړي، بلکه دا ګناهونه دي په نیکیو را بدل کړي.

یاالهي! ته دومره زیات عطا کولو والا ذات یې کچیري یوه بد کاره زنانه یو سپي ته یو غړپ اوبه ورکړي لا هم ته د دې ګناهونه مېنځې، یاالهي! زموږ پر حال هم رحم وکړې! او زموږ ګناهونه معاف کړې! او موږ په خپلو مقربینو بندګانو کي شامل کړې!

الله تعالی دي پر دغه څو خبرو د عمل کولو توفیق راکړي او الله تعالی دي دغه څو خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي. امین یا رَبَّ الْعٰلَمِیْنَ

وَ آخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآيه)

# د الله تعالي په عشق کي ژړا کول

## (بیان)

مولوي اطیع الله صاحب
استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامہ ٹاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:
مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلامیه (علامہ ٹاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه
کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقــــــریر | الحاج مولوي اطیع الله صاحب |
| ترتیب وتخریج | مفتـي حـافـظ کلیم الله صاحب |
| مـقـــــــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعــت | ثلـــــــــــــــورم |
| تــاریـــــخ | یکم ربیع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق یکم مي ۲۰۱۸ |
| تــعــــــداد | (۱۰۰) |

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْداً كَثِيراً طَيِّباً مُبَارَكاً فِيْهِ مُبَارَكاً عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَ يَرضٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهِ خَيْرِ الْهُدیٰ وَعَلٰى اٰلِهِ وَاَصحَابِهِ نُجُوْمِ الْاِهْتِدَاء.

اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم

﴿وَاِذَاسَمِعُوْا مَااُنْزِلَ اِلَى الرَّسُوْلِ تَرٰی اَعْيُنَهُم تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّاعَرَفُوْا مِنَ الْحَقِّ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اٰمَنَّا فَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِيْنَ. وَمَالَنَا لَانُوْمِنُ بِاللهِ وَمَاجَاءَنَا مِنَ الْحَقِّ وَنَطْمَعُ اَنْ يُدْخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ الْقَوْمِ الصّٰلِحِيْنَ﴾(1).

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: ﴿مَنْ بَكٰى اِشْتِيَاقًا اِلَى اللهِ تَعَالٰى اَبَاحَهُ اللهُ النَّظَرَ اِلَيْهِ مَتٰى شَاءَ﴾(2).

اٰمَنْتُ بِا اللهِ صَدَقَ اللهُ مَولٰنَا الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ وَصَدَقَ رَسُو لُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيم وَنَحنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشّٰاهِدِيْنَ وَالْحَمْدُ لله رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ.

## ژړا په ډېرو وجوهو کيږي:

محترمو مشرانو! تېره جمعه کې ما درته ويلي وه چې ژړا په ډېرو وجوهو باندي کيږي:

۱. اول قسم: هغه ژړا ده چې د مصيبت په وجه باندي وي.
۲. دوهم قسم: ژړا د محبوب د فراق او جدايي په وجه باندي وي.
۳. دريم قسم: ژړا د قرآن کريم د تلاوت په وخت کي وي.
۴. څلورم قسم: ژړا د خپلو ګناهونو د يادېدلو او پر هغه باندي د پښېمانۍ کولو په وجه باندي وي.

---

(1) المائده آيت ۸۳

(2) نوادر الاصول، جلد ۲، صفحه ۲۰۰

د ژړا د دې اقسامو متعلق په تیرو جمعو کې په تفصیل سره خبره وسوه.
الله تعالى دې یې په خپل دربار کې قبول او مقبول وګرځوي.

## پنځم قسم د الله ﷻ په شوق کې ژړا کول:

پنځم قسم ژړا د الله تعالى په شوق کې ژړا کول دي..خوش نصیبه هغه انسانان دي چې الله تعالى دغه ژړا ور نصیب کړې وي.

په حدیث شریف کې راځي: ﴿مَنْ بَكَى اِشْتِيَاقًا اِلَى اللهِ تَعَالَى اَبَاحَهُ اللهُ النَّظَرَ اِلَيْهِ مَتَى شَاءَ﴾ چې کم انسان د الله تعالى په شوق کې ژړا کوي الله تعالى خپل دیدار ده ته آسانه کوي چې څه وخت د ده زړه غواړي.

الله تعالى ته دا خبره ډېره محبوبه ده چې یو بنده د ده په محبت او عشق کې و ده ته ژړا کوي.

## د حضرت شعیب علیه السلام د الله په عشق کې ژړا کول:

په حدیث شریف کې راځي چې یو ځل حضرت شعیب علیه السلام وژړل ﴿فَقَالَ اللهُ لَهُ مَاهٰذَا الْبُكَاءُ؟﴾ الله رب العزت پوښتنه ځنې وکړه:

- اې شعیبه! دا څنګه ژړا ده ﴿أَشَوْقًا إِلَى الْجَنَّةِ اَمْ خَوْفًا مِّنَ النَّارِ﴾ ایا د جنت په شوق کې دې وژړل او که د جهنم څخه د ویرې په وجه؟
- ﴿فَقَالَ لَا يَا رَبِّ﴾ ده مبارک په جواب کې دا عرض وکړ: اې پروردګاره! دا ژړا نه د جنت په شوق کې ده او نه د جهنم د ویرې په وجه ده ﴿وَ لٰكِنْ شَوْقًا اِلٰى لِقَائِكَ﴾ بلکه زه ستا په شوق او عشق کې ژړا کوم.

﴿فَاَوْحَى اللهُ اِلَيْهِ﴾ الله رب العزت د ده و طرف ته وحي را واستوله: ﴿اِنْ يَّكُنْ ذَالِكَ فَهَنِيْئًا لَكَ لِقَائِيْ يَاشُعَيْبُ لِذَالِكَ﴾ اې شعیبه! تا ته دې مبارک وي د دغه ژړا په وجه به و تا ته زما ملاقات در نصیب سي([1]).

---

([1]) روح المعاني، سورة هود، آیت نمبر: ۵۰ تا ۹۵: در منصور جلد ۸ صفحه ۱۳۲

## د حضرت نبی اکرم ﷺ د الله جل جلاله په شوق کې ژړا کول:

د حضرت عمر رضي الله عنه لور او زموږ د ټولو مؤمنانو مور مبارکه حضرت حفصه رضي الله عنها فرمايي: چې يو ځل پيغمبر ﷺ زما حجرې مبارکې ته راغلئ او په حجره کې يې پر بستره باندې آرام کوئ.

د باندې په غولي کې زما ورور حضرت عبد الله ابن عمر رضي الله عنه د قرآن کريم تلاوت کوئ، دا مبارکه فرمايي: چې زه هم پر دې بستره باندې د پيغمبر ﷺ سره آرام کوم.

حضرت عبد الله ابن عمر رضي الله عنه په خپل تلاوت کې دې آيت ته راورسېدى او دا آيت يې تلاوت کړئ چې ﴿كَلَّا إِنَّهُمْ عَن رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوبُونَ﴾[1] مجرمان خلګ به د قيامت په ورځ په داسې حالت کې وي چې ددوی او د پروردګار په مينځ کې به پردې وي.

پيغمبر ﷺ چې کله دا آيت واورېدی نو د ستر ګو مبارکو څخه يې اوښکې راتوی سوې حضرت حفصه رضي الله عنها فرمايي چې زما پر خپل رخسار باندې د پيغمبر ﷺ اوښکې را توی سوې، زه حيرانه سوم او دستي مې د پيغمبر ﷺ و مخ مبارک ته وکتل او پوښتنه مې ځني وکړه:

- چې يارسول الله! تا ته څه تکليف دئ چې ته ژاړې؟
- ده ﷺ په جواب کې را ته وويل: چې نه، ما ته هيڅ تکليف نسته.
- نو ما بيا ورته وويل: چې يارسول الله! ايا ته د جنت په شوق کې ژاړې؟
- ده را ته و فرمايل: چې نه.
- نو ما بيا پوښتنه ځني وکړه: اې د الله جل جلاله محبوبه ﷺ! نو بيا ته ولې ژاړې؟

---

(۱) المطففين آيت نمبر ۱۵

- نبی اکرم ﷺ په ژړا کي دا را ته و فرمایل: ﴿أنا مُشْتَاقٌ وَ بِيْ اِشْتِيَاقٌ﴾ زه مشتاق یم او زه د الله تعالی عاشق یم او د الله جل جلاله په عشق او محبت کي ژاړم، ده مبارک دوه واره دا تېر سوي الفاظ را وګرځول.(۱)

نن مو ږ د اتباع سنت ډېري دعوې کوو، کاش مو ږ ته الله تعالی د محبوب پر دې سنت هم یو ځلي عمل را نصیب سوی وای! او د الله جل جلاله په عشق کی مو یو ځل د الله جل جلاله و حضور ته ژړلي وای! الله تعالی دي په دې سنت باندي عمل کول را نصیب کړي. آمین

## عشق یو قلبي خاص تعلق دئ:

عشق او شوق دا یو قلبي تعلق د انسان د الله تعالی سره دئ.
عام طور یو تعارف دئ او بل تعلق دئ، بیا تعلق یو عام دئ او بل خاص دئ.
تعارف صرف د پېژندګلوي پوري وي چي ته ما پېژنې او زه تا پېژنم.
لیکن تعلق د ذې ځخه یو څه جلا دئ هغه دا دئ چي پر تعارف سربېره یو څه نوره واسطه هم وي.
بیا تعلق یو عام دئ: هغه دې ته وایي چي تعلق خو دي وي، لیکن د دې سره دا نه ده ضروري چي یو به خامخا د هغه بل د خبري پابنده وي.
لیکن تعلق خاص دې ته وایي چي هغه قلبي تعلق هم دئ چي کله د یو انسان د بل انسان سره قلبي تعلق راسي، نو هغه به د هغه انسان غوښتني د ده ځخه خامخا چار او لا چار پر ځای کوي او د ده دا قلبي تعلق او محبت به ده ی و دې ته مجبوره کوي.
او په قلبي تعلق کي قانون دا دئ چي بیا به دا تعلق دوه طرفه وي؛ ځکه چي قلبي تعلق یو قسم محبت دئ لکه مشهوره ده چي ﴿اَلْحُبُّ مِنَ الْجَانِبَيْنِ وَالْبُغضُ هٰكَذَا﴾ محبت که د یو جانبه وو د هغه بله جانبه به هم خامخا وي.

(۱) خطبات فقیر، جلد ۴ صفحه ۲۱۲

نو چي د يو انسان د بل چا سره په دې اندازه محبت وي چي د محبت په خاطر د هغه د ټولو ارزوګانو و پوره کولو ته تيار وي، نو د هغه به هم د ده د محبت په خاطر د ده د زړه د ټولو ارزوګانو و پوره کولو ته تيار وي.

نو کله چي يو سړی د الله تعالی سره قلبي تعلق او محبت جوړ کړي او هغه محبت د عشق و درجې ته ورسوي، نو بيا هغه محبت او عشق دا سړی دې ته مجبوره کوي چي د الله تعالی اوامر او نواهي ټول پر ځای کوي.

او د دې بنده د قلبي تعلق او محبت په وجه الله تعالی هم د ده سره محبت کوي او د هغه محبت په تقاضا الله تعالی د ده ټول ضروريات د غيبو څخه پوره کوي او په هر مشکل کي الله تعالی د دې بنده سره نصرت او مدد کوي. لکه الله تعالی په قرآن کريم کي د بنده سره دا وعده هم کړې ده.

## تقوی کول د ټولو مشکلاتو حل دئ:

الله ﷻ فرمايي: ﴿وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ﴾ چي کم سړی په زندګي کي تقوی اختيار کړي.

او تقوی اختيارول دا د الله تعالی سره د محبت او عشق کولو نښانه او علامه ده، نو د ده د دې تقوی کولو او د الله تعالی سره د محبت کولو په خاطر الله تعالی هم محبت ورسره کوي.

او د الله تعالی د محبت علامه او نښانه بيا دا ده: ﴿يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا﴾(۱) په هره تنګي کي به الله لار ور کوي. ﴿وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ﴾(۲) او د هغه ځايه به رزق ورته پيدا کوي چي د ده به بالکل وهم او ګمان هم نه وي.

## د الله تعالی پخه او کلکه وعده:

يو خو موږ دا وايو چي ما تجارت وکړئ او ما دکانداري وکړه خپل رزق مي پيدا کړئ د دې لارو څخه، داسي نه ده، بلکه الله تعالی فرمايي: ﴿مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ﴾

(۱) الطلاق آيت نمبر ۲
(۲) الطلاق آيت نمبر ۳

د هغه لاري به رزق راځي چي ستا د خيال او د ګمان رسېدل به په هيڅ حال کي هلته نه کيږي د داسي ځايه به د رزق دروازې در باندي را خلاصيږي.
که پر دې خبره د انسان تسلي نه وي الله تعالیٰ مخ ته بيا ور ته فرمايي: ﴿وَ مَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللهِ فَهُوَ حَسْبُهُ﴾ چي کم انسان پر ما باندي توکل وکړي زه د هغه د هر څه ضروریاتو د پوره کولو دپاره کافي يم.
که پر دې هم د انسان تسلي نه وي، نو الله تعالیٰ بيا مخ ته ور ته فرمايي: ﴿إِنَّ اللهَ بَالِغُ أَمْرِهِ قَدْ جَعَلَ اللهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا﴾(¹) ګوره ته تقوی اختيار که! پرهېزګاري اختيار که! د ضروریاتو د پوره کېدلو لاري به خود به خوده خلاصيږي.
او الله تعالیٰ فرمايي: ته پر ما باندي توکل وکه! زه يقينا ستا دپاره کافي يم او زه پر هر شي باندي غالب يم زما په تقابل کي زما ارادې هيڅوک نه سي ماتولای.
نو د الله تعالیٰ سره عشق او محبت پيدا کول دا د تقوی او توکل پيدا کولو ذريعه ده او د تقوی او توکل په ذريعه به الله تعالیٰ د انسان د ټولو ضروریاتو حل کوي او په هر مشکل حالت کي به د انسان مدد کوي.

## د مالک ابن دينار رحمة الله عليه د الله تعالی سره تعلق:

حضرت مالک ابن دينار رحمة الله عليه يو بزرګ دئ، يو وخت په يوه کښتۍ کي د درياب د يوې غاړې څخه بلې غاړې ته تئ.
په کښتۍ کي سپور دئ، چونکه د نوجوانۍ حالت دئ د يو کشر سړي په شکل او د يو طالب په شکل يو زړه لنګوټه او ځيري جامې د کښتۍ په يو کونج کي ناست دئ.

(¹) الطلاق آيت نمبر ۳

په کښتۍ کې عام طور نور مالدار خلک د حیثیت خاوندان او لوی خلک ناست دي او مالک ابن دینار رحمة الله علیه د یو ملنګ په شکل د کښتۍ په یو کونج کې مجذوب غوندې ناست دئ.

او په دې کښتۍ کې د وخت امام حضرت جنید بغدادي رحمة الله علیه هم سفر کوي.

چې کله کښتۍ روانه سوه تر یو ځایه پورې یې سفر وکړئ، نو یو سړي د کښتۍ په مابین کې نعرې کړې چې زما غمی ورک دئ او زما غمی ډېر بېش قیمته وو او ډېر قیمتي غمی وو، چې زه کله دې کښتۍ ته راپورته کېدم زما سره وو او اوس زما څخه په دې کښتۍ کې ورک او غلا سو.

چې کله دې سړي په کښتۍ کې نظر واړوی آخر وایي: زما په دې کښتۍ کې پر هیڅا شک نه راځي یو په دې کونج کې چې دا ملنګ ناست دئ پر دې مې شک راځي او دا زما غل دئ.

کښتۍ والا ټوله حضرت مالک ابن دینار رحمة الله علیه ته متوجه سوه چې یقینا دا سړی غل دئ او د دې سړي غمی یې غلا کړی دئ.

په دې دوران کې حضرت جنید بغدادي رحمة الله علیه چونکه د وخت امام دئ، نو هغه وایي: دا یو ملنګ او یو طالب غوندې سړی معلومېږي زه به ستاسو څخه مخکې یو وار دده څخه پوښتنه وکړم.

چې کله حضرت جنید بغدادي رحمة الله علیه راغلئ، نو ورته وایي:

- سړیه! که چېرې په خطا او نافهمۍ کې ستا څخه دا کار سوی وي، نو ما ته دا شی پټ راکړه زه به تا د دې خلکو څخه خلاص کړم.
- نو حضرت مالک ابن دینار رحمة الله علیه ور ته وایي: حضرته! زما دغه غوټه ده ته په دې غوټه کې وګوره! او دا زما جېب او جامې دي ته راسه زما د جېب او جامو تلاشي واخله! ما خو دغه شی نه لیدلی نه ما اخیستی دئ.

لیکن چونکه د کښتۍ والا پر دې باندې تسلي نه کېږي او وایي چې که چا اخیستی وو نو دې سړي به اخیستی وي، ولې؟ دا چونکه یو ملنګ او نابلده

سرې دې د دې سرې څخه بغير بل چا نه دې اخيستی. نو د هغوی شک نه څني خيژي.
نو کتاب ليکي: ﴿فَنَظَرَ نَظْرَةً إِلَى السَّمَاءِ﴾ مالک ابن دينار رحمة الله عليه نور د وی ته هيڅ نه وايي، صرف آسمان ته يې وکتل.
های های هغه هم خلک وو، هغه هم د پیغمبر ﷺ امتيان وه او هغه هم د پيغمبر ﷺ د شفاعت اميدواران وه.
ما او تا دي هم په خپلو گريبانو کي وگورو ما او تا هم د پيغمبر ﷺ د شفاعت اميدواران يو.

## د آخري زماني متعلق د پيغمبر ﷺ حديث:

پيغمبر ﷺ وايي: په آخره زمانه کي داسي خلک راځي (زما په امت کي) چي د هغوی لويه تمنا او شوق به دا وي چي بس زه پيسې را جمع کړم او بله تمنا به يې دا وي چي زه خپل شهوت پوره کړم.
هغوی به د خپل ځان کامیابي په دې کي بولي چي زما سره مال او دولت ډېر سي.
د خپل بچي کاميابي به هلته بولي چي هغه دولت او پيسې را جمع کړي او د خپل خاندان عزت به هلته بولي چي زما خاندان پيسې را جمع کړي.
پيغمبر ﷺ وايي: زما په دې امت کي به داسي خلک راسي چي د هغوی تمنا او خواهش به د پيسو جمع کولو څخه بغير او د شهوت پوره کولو څخه بغير نه وي.
نو سهار تر ماښامه به د پيسو په طلب کي سرگردانه وي او ماښام تر سهار به د شهوت پوره کولو د پاره لېوني وي.
خبردار! په دې ښه ځان پوه کړئ چي دا زما د امت انسانان نه دي، دا صرف انسان شکله حيوانان دي او دا انسان شکله درنده گان دي.

کله کله انسانان نه وي په حقیقت کي حیوانان او په عالم الامثال کي درنده گان وي الله تعالی صرف په دې عالم المشاهدة کي د انسانانو اشکال ورکړي وي(١).

## د احمدعلي لاهوري رحمة الله علیه واقعه:

حضرت احمد علي لاهوري رحمة الله علیه د دې نژدې زمانې د ټولو علماء کرامو پر دې اتفاق وو چې ولي د زمانې وو، دی مبارک په خپل "درس قرآن" کي لیکلي دي چي ما کله د سهار د لمانځه بعد د قرآن کریم درس وکړئ او راووتم، نو په ښار کي یو سپین پوش بزرگ یو نوراني مخ والا بزرگ په مخه راغلئ او ږغ یې را باندي وکړئ:

- ای احمدعلي انسانان چیري دي؟
- ما ورته وویل: حضرت! دا ټوله ښار د انسانانو ډک دئ.
- ده را ته وویل: نه، انسانان را وښیه، انسانان چیري دي؟
- ما ورته وویل: حضرت! دا ټوله انسانان دي.
- ده را ته وویل: ته ما ته لږ نژدې راسه!

چي کله زه ورغلم، نو دا خپل بغل یې پورته کړئ چي ته زما تر بغل لاندي دې خلکو ته وگوره! احمد علي لاهوري رحمة الله علیه لیکلي دي چي کله ما ورته وکتل په خدای قسم که په ټوله ښار کي ما انسان لیدلی دئ.

بعضي په شکل د خنزیرانو وه، بعضي په شکل د بیزوگانو وه، بعضي په شکل د لېوانو وه او بعضي په شکل د خونخواره درندگانو وه.

احمد علي رحمة الله علیه وایي: چي کله ما دا ولیدل، نو زه حیران سوم، نو هغه بزرگ را ته وویل: دا د دې انسانانو اعمال دي چي په کوم عمل باندي انسان اخته وي، نو الله تعالی په هغه شکل انسان کړی دئ.

(١) مالږ ازد وعظ کا اپنا مالوم صفحه ۲۰۹

صرف زما او ستا پر سترګو الله دا حجاب (پرده) ایښی دئ چې ما او تا ته یې اصلي شکل نه را معلومیږي.

نو پیغمبر ﷺ وایي: چې زما په آخرني امت کې به داسې انسانان راسي چې هغه به د مال او دولت را جمع کولو بغیر بل څه نه پیژني، هغه به د شهوت پر ځای کولو بغیر بل څه نه پیژني.

د هغو ټولو ارزو، تمنا او خواهش به دا وي چې کاشکې زه پیسې را جمع کړم! کاشکې زه خپل خواهش پوره کړم! ددې څخه بغیر به نور هیڅ ارمان او تمنا نه لري. دا انسانان نه دي دا زما د امت انسان رنګه حیوانان او درنده ګان دي.

نو مالک ابن دینار رحمة الله علیه هم زندګي تېره کړه او ما و تا هم زندګي تېره کړه، سړي دي په خپل ګریوان کې هم لږ وګوري.

په کتاب کې راځي: ﴿فَنَظَرَ نَظْرَةً إِلَى السَّمَاءِ﴾ مالک ابن دینار رحمة الله علیه اسمان ته وکتل نور دې خلکو ته هیڅ نه وایي، چې کله اسمان ته ګوري، نو د دریابه څخه یو دم ماهیان را وغورځېدل.

او دا کښتۍ یې په ګیره کې واخیستله او دا کښتۍ یې په خپله قبضه کې واخیسته او د کښتۍ پر اطرافو ماهیانو سرونه را پورته کړل چې څه ماهیان د سترګو تر حده ښکاره کېده هغو ټولو په خولو کې یو یو غمی نیولی دئ او دې کښتۍ والا ته یې ښکاره کوي.

نو مالک ابن دینار رحمة الله علیه ورته وایي: ای خلکو! چې ستاسو غمی ورک دئ د دې ماهیانو څخه اوس خپل غمی واخلئ! او ورته وایي: نور نو زما و ستاسو تګ نه سره کیږي.

د کښتۍ څخه شوه سو دغسې پیدل روان سو، نو چې تر کومه ځایه پورې تلی تر هغه ځایه پورې د اوبو پر سر روان وو، چې د دریاب غاړې ته و رسېدئ بیا د دریابه څخه وختئ(۱).

(۱) تذکرة الاولیاء ص ۲۰۹

## د یقین جوړول:

ځکه د پیغمبر ﷺ حدیث دئ: ﴿قَالَ لَوْ أَنَّ لِابْنِ آدم مِنَ الْيَقِينِ شَعْرَةً مَشَى عَلَى الْمَاءِ﴾[1] که چیري د انسان په زړه کي د یوه وړښته مقدار د خدای پاک ﷻ پر ذات باندي یقین جوړ وي، توکل او بروسه یې پر جوړه وي، نو د هغه نفع به دده دپاره دا وي: ﴿مَشَى عَلَى الْمَاءِ﴾ بیا به د اوبو پر سر تګ کوي، بیا چي کله مجبوره سي د اوبو پر سر به روان وي او به به ده ته لار ورکوي.

نو د مالک ابن دینار رحمة الله علیه چونکه د الله ﷻ پر ذات باندي توکل دئ او د الله ﷻ پر ذات باندي یې یقین دئ، نو د هغه کښتی ځخه شوه سو آخر د اوبو پر سر باندي روان سو.

نو ما درته وویل چي د کوم چا په زړه کي د الله تعالی سره قلبي تعلق وي او د چا په زړه کي چي د الله تعالی محبت وي په خدای قسم پر هغه د الله تعالی نظر وي او په دعا کي یې داسي اثر وي چي دی صرف نعرې کړي چي یاالله! د الله د لفظ د ختمېدو ځخه مخکي مخکي د ده نصرت او مدد الله تعالی د ملائکو په ذریعه کوي.

### د ام سعد رضي الله عنها واقعه:

د صحابه کرامو رضي الله عنهم په زمانه کي یوه زنانه ده ام سعد رضي الله عنها د هغې بچی وفات سو، دې د مکي مکرمي ځخه هجرت کړی وو خاوند یې هم هلته ځني پاته سو، کور او کلی هم ځني پاته سو، یو ماشوم بچی یې دئ هغه یې په غېږ کي ور سره را واخیستئ او د پیغمبر ﷺ په عشق او شوق کي مدینې ته راغله.

چي کله مدینې ته را ورسېده، نو څو ورځې بعد یې هغه بچی وفات سو، چي کله بچی وفات سو، نو په خپل لاس یې بچي ته غسل ور کړئ او د هغه وخت پر جنازه او پر تخته وکټ باندي یې کښېښوئ.

[1] احیاء العلوم بیان تمیز ما یحبه الله عما یکرهه.

حضرت انس ﷜ روایت کوي: چې زه د پیغمبر ﷺ سره ملګری راغلم د دې بچې د جنازې کولو دپاره، یا د دې بچې د تدفین کولو دپاره، یا د دې بچې د تجهیز دپاره.

دَی وایي: چې کله زه راغلم، نو پیغمبر ﷺ یو طرف ته ولاړ دی او زه بل طرف ته ولاړ یم، بچې ته غسل ورکول سوی دیٔ او په کفن کې د کور په مینځ کې پر جنازه پروت دیٔ.

هغه زنانه راغله د دې بچې و سر ته کښېنستل او دا خپل پروني مبارک یې پر سر راکش کړیٔ او په دې وخت کې یې په دعا لاسونه پورته کړل او دا وایي: ﴿اَللّٰهُمَّ اٰمَنْتُ بِکَ طَوْعًا﴾ یاالله! په ډېر شوق او په ډېره مینه مې پر تا باندې ایمان راوړی دیٔ ﴿وَ هَاجَرْتُ اِلَیْکَ رَغْبَةً﴾ یاالله! خپل کور او کلی مې ستا او د محمد ﷺ په رغبت او په عشق کې پرې ایښی دیٔ.

نو ﴿فَلَا تُشْمِتْ بِیَ الْاَعْدَاءَ﴾ یاالله! ما د خپلو دښمنانو د خندا ذریعه مه جوړوه! ما د خپلو دښمنانو د پسخند ذریعه مه جوړوه!

چې نن د مکې خلګ خبر سي، نو هغوی به په ما باندې پسخندونه وهي چې دې د خپل پلار او نیکه خدایان پرېښول، هغه دین یې پرېښوئ، نوی دین یې خوښ کړیٔ د هغه دغه سزا ورکول سوه چې یو بچی یې درلودیٔ هغه هم ور باندې وربډیٔ.

او بیا یې وویل: ﴿فَلَا تُشْمِتْ بِیَ الْاَعْدَاءَ﴾ یاالله! ما د خپلو دښمنانو د خندا ذریعه مه جوړوه! چې د مکې خلګ پر ما باندې محفلونه جوړوي او پر ما باندې خنداګاني کوي او زما پر دې حالاتو باندې بحثونه او مجلسونه کوي.

حضرت انس ﷜ وایي: چې دغه خبره د ام سعد ﷞ د خولې څخه ختمه سوې لا نه وه چې هغه بچی بیا په کفن کې وښوربدیٔ او په کفن کې را کښېنستیٔ او تولو

صحابه کرامو ﷺ چې هلته موجود وه د تکبیر په نعرو باندې یې چیغې پورته کړې(۱).

نو کله چې د سړي د الله ﷻ سره قلبي تعلق وي او زړه یې الله تعالی ته صفا وي او په زړه کې یې د الله تعالی سره محبت وي بیا چې دَی د الله تعالی ټولې ارادې پوره کړي او چې د ده څخه کوم عبادات مطلوب دي هغه پوره کړي بیا د الله د ده سره محبت راځي، الله تعالی د ده ارادې ټولې ور پوره کوي.

نن دا قلبي تعلق هر سړي د خپل رب ﷻ سره جوړولای سي، تاسو هغه زنانې ته نه ګورئ د جنازې یو طرف ته محمد رسول الله ﷺ ولاړ دئ او صحابه کرام ولاړ دي هغه زنانه محمد رسول الله ﷺ ته نه وایي چې ته دعا وکړه چې زما بچی را ژوندی سي.

## دعا کول سنت عمل دئ:

دعا د بل دپاره کول او د بله څخه غوښتل دواړه سنت دي، نو بل چا ته ویل د دعا په باره کې دا هم سنت دئ او د بل چا څخه دعا غوښتل دا هم سنت دئ، لیکن هغه زنانه دا نه ورته وایي چې یارسول الله! ته زما د بچي په حق کې دعا وکړه، بلکه هغه زنانې پخپله د الله تعالی سره داسې خصوصي تعلق دئ چې دامې یې د خدای ﷻ پر خدایي عقیده ده چې زما د ژړا په خاطر زما خدای ﷻ زما بچی بیرته ما ته را ژوندی کوي.

نن په موږ کې دا رواج جوړ سوی دئ چې په خپله هیڅ نه کوو، نه په خپله دعا کوو، نه پخپله عبادت کوو نه پخپله د خدای ﷻ پر حکم چلیږو، نه د پیغمبر ﷺ پر طریقو ژوند تېروو.

صرف او صرف چې یو ځوک مو پیدا کړئ چې دا مو یقین سو چې دا ښه سړی دئ، نو ور ته وایو: حضرت! ته ما ته خصوصي دعا وکړه چې زما ضرورتونه الله تعالی را پوره کړي!

## خصوصي دعا د خپل ځان دپاره کېدلای سي:

ګورئ! یو دعا ده، دا د چا دپاره کول هم سنت دي او د چا ځخه غوښتل هم سنت دي، لیکن خصوصي دعا و چا ته وایي؟ خصوصي دعا و دې ته وایي چې کله د سړي په زړه کي د الله تعالی د عشق لمبه بله سي، نو په دې وخت کي دغه سړی په چیغو باندي یاالله! ووایي.

ما در ته وویل: د دې الله ﷻ ویلو په خاطر د ده د الله تعالی د لفظ د ختمېدو ځخه مخکي الله تعالی د عرش دروازې خلاصي کړي او د ده دعا ته قبولیت ور نصیب کړي، نو خصوصي دعا دې ته ویل کیږي.

یو سړی بل چا ته وایي: ما ته خصوصي دعا وکړه! خصوصي دعا خصوصي تعلق دا د هر سړي د خپله ربه سره خپل کار، خپله واسطه او خپله رابطه وي.

نو کله چې د یو سړي د الله تعالی سره خصوصي تعلق وي او د الله تعالی د ذات احکام او د الله ﷻ د ذات اوامر او نواهي پوره کړي الله تعالی د دې سړي د ذات ضروریات ور پوره کوي.

## د صحابه کرامو ﷺ د الله ﷻ سره تعلق:

یو صحابي د دین د یو کار یا د دین د یو خدمت په خاطر درې ورځې د کوره ځخه وتلی دئ، نو کله چې کور ته راغلی دئ خپلي زناني ته وایي:

- ای زناني! څه شی د خوراک سته؟
- هغه ور ته وایي: ای سړیه! په کور کي د یوې وربشي مقدار دانه هم نسته او بچیان وږي دي او په کور کي د مخکني ورځي لوږه لا روانه ده.

د صحابي په لاس کې يو شی هم نسته، نو دلته په دې کور کې کښېنستلای هم نه سي چې د دې بچيانو لوږه ويني او د کوره څخه دباندې هم څه طمع نه لري چې پريو خوا باندې ولاړ سي.
نو هغه صحابي د کور څخه دباندې را وواتی، هغه زنانه چونکه صحابيه زنانه ده او د پيغمبر ﷺ صحبت يې ليدلی دئ او زړه يې ډېر درد وکړئ چې دا غريب خاوند چې ډېر غريب دئ او بيا دې دومره زهير کړئ او داسې خبره دې ور ته وکړه. کاشکي تا دا نه وای ور ته ويلي! په يو طريقه دې د ده د زړه دلاسايي کړې وای.
نو وايي چې خير خاوند خو خبر سو، هغه زنانه دا کوشش کوي چې د څنګ همسايه ګان را خبر نه سي چې د دوی کره څه نسته، نو په دې خاطر را ولاړه سوه په تناره کې يې اور بل کړئ او چې کومه د وخت ژرنده ده چې دوی په کور کې وړه وړه باندې کوي هغه ژرنده يې سره وګرځوله.
نو په تناره کې يو طرف ته اور بل دئ بل طرف ته ژرنده روانه ده، دا راغله پر مصله باندې يې د دوو رکعتو لمانځه نيت وتړئ.
چې کله لمونځ وسو، نو د خدای ﷻ حضور ته لاس پورته کوي چې ﴿اللّٰهُمَّ ارْزُقْنَا﴾ يا الله! موږ ته رزق راکړه! زما بچيانو ته رزق راکړه! زه وږې يم، زما بچيان وږي دي او زما خاوند وږی دئ.
ددې دعا ختمه سوې لا نه ده چې خاوند د دباندې څخه دروازه وټکوله چې خاوند کله راغلئ، نو په کور کې د ډوډۍ د پخېدو يو قسم خوشبويي ولاړه سوه.
چې کله دا او خاوند دواړه راغله تناره ته يې وکتل، نو تنور مکمل د سرو پخو ډوډيو څخه ډک دئ.
او چې کور ته راغله دننه چې ژرندې ته ګوري د ژرندې څخه يو قسم بهترين وړه راتويږي.

نو چې د کور څو مره لوږې لرې هغه تول يې په ډک کړل آخر هغه زنانه وايي: چې مونږ به يې وګورو چې دا ژرنده کې دا غنم د کومې خوا راځي؟ چې کله يې د ژرندې پل پورته کړئ هغه وړه و دربدل.

پيغمبر ﷺ ته دا خاوند او زنانه دواړه راغلل او پيغمبر ﷺ ته يې واقعه بيان کړه چې يارسول الله! پينبه داسې وسوه.

نو پيغمبر ﷺ ورته وايي: اى کم نصيبو! که مو چيرې د ژرندې پل نه واى پورته کړى په خداى قسم تر قيامته به ددې څخه وړه راتلاى، د الله تعالى مسلمانه واست او الله تعالى ستاسو د ضرورياتو بندوبست کړى وو.

د الله تعالى سره مو محبت وو، د الله تعالى اوامر او نواهي مو تهوله پر ځاى کړي وه، نن الله تعالى ستاسو د ضرورياتو بندوبست کوئ، ليکن تاسو کم نصيبه واست چې ددې ژرندې پل مو پورته کړئ، که مو پورته کړى نه واى، نو تر قيامته به ستاسو رزق روان واى(¹).

ما ذرته وويل: چې کوم سړى د الله تعالى سره قلبي محبت جوړ کړي او د الله تعالى په محبت کې د الله جل جلاله و ذات ته ژړا وکړي، نو د الله جل جلاله ددې انسانه سره محبت پيدا سي او محبت چې کله د الله تعالى راغلئ يا الله تعالى د دې انسان ضروريات د غيبو څخه پوره کوي.

## د حضرت ابو مسلم خولاني رحمة الله عليه د الله جل جلاله سره تعلق:

حضرت ابو مسلم خولاني رحمة الله عليه يو تابعي دئ، د حج د سفر نيت يې وکړئ چې حج ته به ځم نو اعلان يې وکړئ چې زما سره به د حج په سفر کې څوک تيار وي څوک به راسره ځي؟

نو زر (۱۰۰۰) کسان تيار سوه چې مونږ به د ابو مسلم خولاني رحمة الله عليه په ملګرتيا کې حج کوو.

---

(¹) الله کړ اپنهم طلب ۲۱۱

لیکن دستي یې د خپل اعلان سره شرط ولګوئ چې زما سره به د حج په سفر باندي هغه سړی ځي چې د چا سره یوه پیسه نه وي، د چا سره یوه زره توښه نه وي، د چا سره یو غرپ اوبه نه وي، دی به صرف د خدای ﷻ پر توکل روان وي.
که دغه رنګه سفر څوک کولای سي، نو زما سفر د ده سره کېدلای سي که دغه رنګه سفر زما سره څوک نه سي کولای هغه سړی به زما سره حج ته نه ځي.
نو په زرو کسانو کي هغه خلګ بیرته پر شا کیږي د سلو کسانو په شاوخوا کي کسان ورپاته سوه؛ ځکه هغه کسان وایي: اوس به بې توښې سفر څنګه کیږي؟ بې اوبو سفر به څنګه کیږي؟ بغیر د ضروریاتو به سفر څنګه کیږي؟ نو هغه کسان بیرته و شا ته سول.
نو بیل کسان ورپاته سول چي کله پر خپلو سوارلیو را سپاره سول چي سفر یې وکړئ ورځ تېره سوه او ډېر ستړي ستومانه سول، نو چي یو ځای ودرېدل ټول ملګري یې راغله او حضرت ابو مسلم خولاني رحمة الله علیه ته وایي:

- حضرت! اوس خو موږ وږي سو، آسان زموږ ستړی سوه او زموږ د نفقې ضرورت دئ د آسانو د چاري ضرورت دئ او موږ ستا څخه هر څه غواړو په دې وجه چي تا پر توکل موږ را روان کړي یو.
- حضرت ابو مسلم خولاني رحمة الله علیه ورته وایي: تاسو خېمې ودروئ چي کله خېمې ودرېدې، نو ده د خپلې خېمې و څنګ ته مصله هواره کړه او پر لمانځه باندي ودرېدئ.

چي کله دوه رکعته صلوٰة حاجت وسو، نو پر دې ځنګنو باندي را کښېنستئ لکه چي یو سړی د "التحیات" په شکل ناست وي، بیا د ډیري جذبې څخه پر دې ځنګنو را پورته سو او لاسونه یې پورته کړل او وایي: یاالله! دا دومره انسانان چي د یو بخیل و کور او دربار ته ورسي.

نو د هغو زړه دا نه غواړي د هغوی د زړه د بخالت دا تقاضا نه وي چې دا دومره انسانان د خپل کور څخه محروم او بې نصيبه پاته کړي، یاالله! ته د ټولو سخيانو سخي بادشاه يې موږ ستا څخه نن نفقه غواړو ستا و کوز ته در روان يو.

او بیا ور ته وايي: که د موسیٰ عليه السلام د بني اسرائيلو دپاره ته د آسمانه څخه من او سلوی راشوه کولای سې موږ د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم غلامان يو یاالله! موږ ستا څخه خپله نفقه غواړو چې د هره طرفه وي.

د ده د سفر يو ملګرى دئ هغه قسم خوري چې په خدای قسم د حضرت ابو مسلم خولاني رحمة الله عليه دعا لا نه ده ختمه سوې چې زموږ په خېمو کې بیا سترخوانونه هوار سوه.

دارنګه تعلق د انسانانو د خپل رب جل جلاله سره وي او د دغه تعلق په وجه الله جل جلاله انسان دې مقام ته رسوي.

او حضرت ابو مسلم خولاني رحمة الله عليه را ته وايي: چې ژاځئ خيمو ته! او دی وايي چې موږ پر ډوډۍ باندي کښېنستلي لا نه يو چې زموږ د آسانو دپاره د وښو موړې او بندوبست وسو.

ملګري يې وايي: چې کله ډوډۍ وخوړل سوه، نو بعضي ملګري يې وايي: چې دا پاته شي به را سره واخلو د لارې به يې توښه کړو، نو حضرت ابو مسلم خولاني رحمة الله عليه ور ته وايي: چې ای خلګو! چې نن يې تازه خورکه راکړه په ماښام کې بیا زه ذمه واره يم چې تازه خورکه به راکوي.

په صبا غرمه کې بیا زه ذمه وار يم چې تازه خورکه به راکوي، نو په دا شکل باندي حضرت ابو مسلم خولاني رحمة الله عليه ځان ورسوئ.

دا د حضرت ابو مسلم خولاني رحمة الله عليه د الله جل جلاله سره تعلق وو (۱).

---

(۱) الله کا اپنا بلاسو ۲۱۲

## د ابو مسلم خولاني رحمة الله عليه د جهاد واقعه:

د شام پر طرف باندي حضرت ابو مسلم خولاني رحمة الله عليه ځي، د شام غزوه ده دري زره کسان ور سره دي، چي کله را غله د شام په طرف کي مخ ته دریاب را غلئ او و دریاب ته سره ودرېده.

او د شام علاقه چونکه د غرو علاقه ده او په دي غرو کي چي کوم دریاب مخ ته راځي هغه ډېر سرکښه دئ هغه ته چي ډبري په مخه ور سي هم یې وړي، هیڅوک ځان نه سي ور ته نیولای، دلاندي او پورته مځکي دریاب دئ.

نو حضرت ابو مسلم خولاني رحمة الله عليه ودرېدئ او ټوله لښکر یې هم ودرېدئ او دَی د لښکر امیر دئ د دریاب و څنګ ته ولاړ دئ او مصله یې هواره کړه او دوه رکعته لمونځ یې وکړئ بیا یې دا دعا وکړه:

چي یاالله! موږ د محمدرسول الله ﷺ امتیان یو، که ته د بني اسرائیلو او د موسیٰ علیه السلام دپاره په دریاب کي دوولس لاري جوړ وي یاالله! موږ نن پر دي دریاب باندي سفر کول غواړو.

هغه ملګري یې وایي: چي کله یې مصله را ټوله کړه دوباره یې ویل: چي بس زه آس دریاب ته ور شوه کوم، تاسو راځئ که د چا لوی یا کوچنی شی ورک سو زه یې ذمه واره یم، بیا یې زما څخه وغواړئ! د ځان خو ډېره لویه خبره ده. ﴿فنفبنا﴾ موږ بسم الله وویله ﴿وَ دَخَلْنَا فَعَبَرْنَا وَ مَا بَلَّ مَاءٌ اَسْفَلَ خِفَافِ اِبِلَنَا﴾ یو تابعي رحمة الله عليه د دي سفر حالات ذکر کوي چي زه په خپله په دي سفر کي ور سره یم چي کله موږ ولاړو په خدای قسم زموږ د آس لاندي نالو نه لانده نه سوله او ټوله لښکر پر دي دریاب باندي تېر سو.

دده د سفر یو ملګری بیان کوي او وایي: چي کله موږ په دي دریاب ګډ سو تردي مابینه پوريَ ځو نو یو مجاهد را ولاړ سو خپله د اوداسه ګډوه یې په قصده په دي دریاب کي وغورځوله.

چې کله دریاب ختم سو د دریابه څخه واوښتو، نو هغه ورته وایي: چې ای ابو مسلم خولاني! زما داوداسه ګډوه ورکه سوې ده او تا ویلي وه که هر شی ورک سو زه ذمه واره یم.

حضرت ابو مسلم خولاني رحمة الله علیه بیرته تر لاس ونیوئ را یې وستئ چې پر کوم ځای دوی اوښتي وه پر هغه ځای باندي ودرېده.

نو حضرت ابو مسلم خولاني رحمة الله علیه و دریاب ته وایي: چې زموږ خپل امانت راکړه! نو هغه اوبو پر سر باندی ګډوه را پورته کړه. حضرت ابو مسلم خولاني رحمة الله علیه ګډوه را واخیسته هغه خپل ملګري ته یې ورکړه(١).

ما در ته وویل: چې کله د الله ﷻ سره تعلق جوړ سي، د الله ﷻ سره تعلق راسي، د الله ﷻ سره محبت راسي، نو کله د الله ﷻ سره په تعلق او محبت کي انسان دې درجې ته رسیږي.

دا زما او ستا غوندي انسانان دي، دا پر دغه مځکو باندي لوی سوي انسانان دي، دا دغه میندو پیدا کړي انسانان دي او دا د محمدرسول الله ﷺ امتیان دي او د ا د محمدرسول الله ﷺ د شفاعت امیدواران خلک دي.

لیکن د الله تعالی سره حقیقي محبت او عشق دوی دغه درجې ته رسولي دي.

یقیناچې د هغوی پر ژړا د الله ﷻ عرش په ژړا او حرکت کي راځي او د هغوی دعا د الله ﷻ په حضور کي په یقیني شکل قبولیت پیدا کوي.

نو پنځم قسم ژړا دا ده چې سړی د الله تعالی په عشق کي د الله تعالی په محبت کي او د الله تعالی په شوق کي ژړا کوي.

## د الله تعالی په عشق کی ژړا د جنت پیدا کولو ذریعه:

پیغمبر ﷺ وایي: ﴿وَ مَنْ بَكَى اِشْتِيَاقًا إِلَى اللهِ تَعَالَى أَبَاحَهُ اللهُ تَعَالَى النَّظَرَ إِلَيْهِ متى شاءَ﴾(١).

(١) الله کا پیار صفحہ ٢١٢

چي کم سړی د الله ﷻ په عشق کي ژاړي الله تعالی د قیامت په ورځ باندي د هغه دپاره خپل دیدار مباح ګرځوي چي څنګه د ده زړه غواړي.
او الله تعالی ته دا خبره ډېره خوښه ده چي څوک د ده په محبت کي ژړا وکړي.

## د يوې مينځې د الله تعالى سره د عشق واقعه:

محمد بن حسین بغدادي رحمة الله عليه دا د بغداد يو ولي دئ، هغه خپله واقعه پخپله را نقل کوي چي زه سهار د بغداد په ښار کي بازار ته راغلم، نو په بازار کي يو ځای پر يوه مینځه باندي خلک سره را ټول دي هغه مینځه خرڅېږي.
ما چي د دې مينځې دې خسته حالت ته وکتل او د دې شکل ته مي وکتل او د دې څيري جامو ته مي وکتل او د دې مينځې و بې وسې او ناکسې ته مي وکتل، نو ما ټولو خلکو ته وويل: دا مينځه به زه رانيسم.
يو سړي را ته وويل: د دې مينځې په دماغ کي لږ خرابي ده، دماغ يې هم لږ کمزوری دئ او لږ لیوني غوندي ده، نو ته به د دې څخه څه نفع واخلې؟
ما ورته وويل: چي ما په دې نيت دا رانيوله چي د خلکو د تکليفو څخه دا خلاصه سي.
چي ما مینځه کله راوسته کور ته چي ماخستن په کومه خونه کي زه بیدېږم، نو مینځه هم په هغه خونه کي ده.
د شپې په نیمایي کي چي کله زما سترګي را روښي سوې، نو هغه مینځه پر مصله باندي ناسته ده او د سترګو څخه يې اوښکي پر سينه باندي را بهېږي او دا سينه يې يو قسم خوټکهاري کوي او ژاړي.
نو محمد بن حسين بغدادي رحمة الله عليه وايي: چي ما کله غوږ پر ونيوئ، نو دا وايي، ای الله! چي کوم محبت ستا زما سره دئ د دې محبت په خاطر زما فلانکی حاجت را پوره کړې.

(۱) نوادر الاصول جلد ۲ صفحه ۲۰۰

نو ما د بسترې څخه پر نعرې کړې او ورته ومې ویل:

- اې میڼځې! خبره دې چې ده دا مه وایه چې ستا کوم محبت زما سره دئ دا و وایه چې زما کوم محبت ستا سره دئ یاالله! د دې په خاطر زما فلان حاجت پر ځای کړې.نو هغه میڼځې د دعا په مابین کې ما ته وویل:

- اې محمد ابن حسین بغدادي! چپ سه! که چیرې د الله تعالیٰ زما سره محبت نه وای، نو نن به الله جل جلاله زه د خوبه نه وای را پورته کړې، نن به الله تعالیٰ زه پر دې مصله باندې نه وای کښېنولې، نن به تا زما ژړا او زما اوښکې نه وای لیدلې، نن به زه ستا غوندې په بستره کې تر سهاره پرته وای.

دا د الله جل جلاله عشق دئ دا د الله جل جلاله محبت دئ دا د الله تعالیٰ زما سره مینه ده چې الله جل جلاله په دا نیمه شپه کې د انسانانو په مابین کې ما راپورته کوي او پر مصله باندې مې کښېنوي او پر لمانځه باندې مې دروي.

لمونځ د الله تعالیٰ سره کلام دئ، الله زما سره خبرې کوي او زه و خپل رب جل جلاله ته ژاړم، الله تعالیٰ زما اوښکو ته ګوري او الله تعالیٰ زما د ژړا د کو سترګو ته ګوري او الله تعالیٰ زما سره د ژړا په حالت کې خبرې او مکالمه کوي. اې محمده! دا مه وایه چې ستا د الله جل جلاله سره محبت دئ په خدای قسم د الله تعالیٰ زما سره محبت دئ.

محمد بن حسین بغدادي رحمة الله علیه وايي: چې زه چپ سوم، یو ساعت وروسته وايي: یاالله! زما او ستا د محبت اندازه خلګو ته معلومه سوه، مخکې زما او ستا محبت پټ وو اوس خلګ خبر سوه چې دا یو محبوب دئ او یو محب دئ او دا د الله محبوب دئ او الله تعالیٰ د دې سره محبت کوي.

یاالله! چې کله زما او ستا د عشق اندازه خلګو ته معلومه سوه، نور زه پر دې دنیا باندې ژندګي نه غواړم، چې د خلګو په مابین کې زه رسوا سم، یاالله جل جلاله! د

ډيري زمانې څخه زه ستا د وصال په تمنا يم ياالله ﷻ! په نن شپه کي خپل وصال را نصيب کړه!

نو محمد بن حسين بغدادي رحمة الله عليه وايي: چي په دغه دعا دعا کي تله آخر په دغه دعا کي پر خپله مصله باندي را غوځاره سوه او وفات سوه.

دَی وايي: چي کله زه سهار بازار ته ورغلم په دې نيت باندي چي زه به د هغه مينځي دپاره کفن راوړم چي زه واپس کور ته راغلم، نو دا په يو زرغونه کفن کي پيچل سوي پرته ده او پر هغه باندي ليکلي دي: ﴿أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ﴾ چي اې خلکو خبردار! دا د الله ﷻ داسي اولياء دي چي پر هغوی باندي نه د خدای ﷻ د طرفه خوف او نه پر هغوی باندي د خدای د طرفه وېره راځي.

نو دا مي په هغه زرغونه کفن کي يوړه او په قبر کي مو ښخه کړه([1]).

نو ما درته وويل: چي کله يو انسان د الله تعالیٰ سره محبت کوي، نو الله تعالیٰ د هغه په بدل کي د هغه انسان سره خامخا محبت کوي او چي کله د الله تعالیٰ سره د انسان محبت وي.

نو بيا دا خپل زړه انسان ته قرار نه ورکوي چي دَی د الله تعالیٰ اوامر او نواهي تو له پر ځای نه کړي او چي کله انسان د الله اوامر او نواهي تو له پر ځای کړي، نو الله تعالیٰ د غيبو څخه د دې انسان ضروريات ضرور ور پوره کوي.

## د حضرت جنيد بغدادي رحمة الله عليه د طواف واقعه:

د حضرت جنيد بغدادي رحمة الله عليه په حالاتو کي ليکلي دي چي دَی مبارک وايي: نيمه شپه ده او ډېر يخ دئ را پورته سوم په دې نيت باندي چي نن به طواف تکليف نه لري او نن به شايد په طواف کي رش کم وي؛ ځکه يخ دئ او نيمه شپه ده يو طواف به پر بيت الله وکړم.

([1]) الله کا اپنا ہاتھ ص ۳۰۳

دَی مبارک وایي چې راغلم د بیت الله په طواف کې رش کم دئ او ډېر لږ انسانان پر بیت الله باندې طواف کوي.
یو طرف ته یخ دئ بل طرف ته شپه ده، نو زما و څنګ ته یو نوجوانه زنانه ده هغې دا خپل ورښتان او جسم مکمل په پرده کې پیچلي دي او زما په څنګ کې روانه ده د خپله ځانه سره ګډه ده.
داوایي: یاالله! ما خو پر دې خپل زړه باندې ډېر صبر راوستئ او یاالله ﷻ! ما ډېر انکارونه وکړه او یاالله ﷻ! ما خپل زړه ډېر صبر کړئ، لیکن ستا د محبت خیمې زما پر زړه باندې ولاړي دي چې نن ستا د محبت د خیمو تناوونه زما د زړه څخه نه پورته کیږي.
په دې وجه زما زړه ډېر بې قابو دئ نه قرارېږي او زما زړه ډېر بې قراره دئ.
په دا رنګه خبري کوي د لېونیانو په شکل روانه ده او د لېونیانو په شکل ګډې ودې خبري کوي.
نو ما پر نعرې کړې چې ای زنانې! دا طواف دئ، د بیت الله طواف دئ په دې کې انسان دا رنګه خبري نه کوي.
نو دغه ښځې چې کله ما ته وکتل، نو یې وخندل او وایي ای جنیده! (زه دې ته حیران سوم چې زما نوم چا ورښوولی دئ) وروسته وایي:
- ای جنیده! د چا طواف کوې.
- ما بیت الله ته لاس ونیوئ ما ویل: د بیت الله طواف کوم.
نو هغه زنانې و اسمان ته وکتل او چیغه یې کړه وایي: یاالله! د څنګه لېونیانو په دنیا کې دې پیدا کړم؟ یاالله! په څنګه زمانه کې دې پیدا کړم؟ ستا ذات پرېږدي او ستا عشق پرېږدي او ستا محبت پرېږدي د یو ډبرې پر شاوخوا باندې د لېونیانو په شکل راځغلي او د ډبري طوافونه کوي.
ځکه بیت الله جوړه د کاڼو او ډبرو څخه ده.
- ما ورته وویل: زه لږ خطاوتم ما ته نه وپېژندلې.

- نو دې را ته وويل: اى جنيده! طواف څه دئ؟ طواف د الله ﷻ هغه عشق دئ چي د الله ﷻ په محبت کي د خپل محبوب په کوڅو کي سرګردانه ګرځېدل دئ لکه يو عاشق چي د خپل معشوق په کوڅو کي سرګردانه ګرځي، نو دغه طواف دئ.

او راته وايي: اى جنيد بغدادي! چي کوم چا د الله ﷻ ذات و پېژندئ هغه ځان خپل مقصد ته رسولاى سي او چي کوم چا د الله ﷻ د ذات بغير بيت الله ته طوافونه کول، نو هغوى خپله زندګي ضائع کړه، هغوى خپل ژوند ضائع کړئ، هغه دي پر خپله زندګى او پر خپل ژوند باندي دېر افسوسونه او ارمانونه وکړي(۱).

مقصد مي دادئ: چي د الله تعالی په محبت کي انسان بايد داسي مقام ته خپل ځان ورسوي چي بيا د الله ﷻ د ذاته بغير د انسان په نظر نور هيڅ نه راځي، نو دا انسان بيا يقينا د الله ﷻ حقيقي عاشق وي او د الله ﷻ په عشق کي به کله ناکله ژړا کوي.

نو مخکي ما در ته وويل، چي پنځم قسم ژړا دا ده چي يو انسان د الله ﷻ په عشق کي د الله ﷻ په محبت کي د الله ﷻ په شوق کي د الله تعالی و ذات ته ژاړي.

او پيغمبر ﷺ وايي، چي د دي انسان دپاره به په جنت الماْوى کي هستوګنه وي.

## شپږم او آخرنى قسم ژړا:

شپږم قسم ژړا په احاديثو کي راځي: چي کله کله انسان ژړا د شکر په وجه باندي کوي.

(۱) منتخب واقعات و مشاهدات صفحه، ۱۲۰

چي کله د الله تعالی پر انعاماتو نظر وکړي او د خپل منعم حقيقي نعمتونه په نظر ورسي، نو د انسان د سترګو څخه د خوشحالی اوښکي راځي.

## د حضرت عائشي ﷺ په حجره کي د پيغمبر ﷺ ژړا:

حضرت عائشه مبارکه وايي: چي پيغمبر ﷺ زما په حجره کي دئ چي کله پر لمانځه ودرېدئ، نو په ولاړه کي يې ډېره ژړا وکړه او چي کله پر رکوع سو بيا يې ډېره ژړا وکړه، چي کله پر سجده سو بيا يې ډېره ژړا وکړه، په ناسته کي يې بيا ډېره ژړا وکړه.

چي کله يې سلام په وګرځوئ نو ما ورته وويل:

- ﴿مَا يُبْكِيكَ يَارَسُوْلَ اللهِ؟﴾ ای د الله رسوله! دا دومره ژړا پر څه کوې؟ آخر خو ﴿لِيَغْفِرَ لَكَ اللهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَ مَا تَأَخَّرَ﴾ ستا مخکني او وروستني ګناوي الله ﷻ ټولي در معاف کړي دي ته څنګه دومره ژړا کوې؟
- نو پيغمبر ﷺ را ته وويل: ﴿أَ فَلَا أَكُونُ عَبْدًا شَكُوْرًا﴾ ايا زه به د الله و حضور ته شکر نه ادا کوم(¹)؟

نو کله کله ژړا انسان د شکر په وجه کوي، چي کله پر يو چا د الله تعالی قسماقسم نعمتونه را اورېدلي وي، نو د شکر په خاطر يې کله په سترګو کي اوښکي راځي.

کله د غم په وجه هم د انسان څخه ژړا کيږي، داغه رنګه د خوشحالی په وجه هم د انسان څخه ژړا کيږي، نو څکه دا کومي سترګي چي الله تعالی و انسان ته ور کړي دي چي دا سترګي د الله تعالی په محبت کي د الله تعالی په عشق کي او دا سترګي د خپلو ګناهو په خاطر د پښېماني اوښکي ونه بهوي.

---

(¹) مسلم شريف، حديث نمبر: ۸۱

آخر دا سترګي سترګي نه دي دا کاني دي؛ څکه کومه سترګه چي د دنيا په زندګي کي پر خپلو اعمالو اوښکي نه کي توي، نو هغه به سترګه نه وي، بلکه هغه به د کاڼي او د بري يوه ټو کړه وي.

## په دنيا کي اوښکي تويول انسان لره په ښه ورځي:

د پيغمبر ﷺ حديث دئ چي کچيري يو انسان په دنيا کي د الله تعالی د خوفه څخه اوښکي توی نه کړي او ژړا و نه کړي، نو بيا به د قيامت په ميدان کي زرکاله (۱۰۰۰) دا سترګي ژاړي، بيا به ددې سترګو څخه داسي اوښکي توی سي چي په هغه کي به کښتۍ چليدای سي، ليکن په دې زر (۱۰۰۰) کاله ژړا به د الله تعالی پر دې سترګو يوه زره رحم نه کيږي.

نن که د سترګو څخه د ميږي د سر غوندي کومه اوښکه توی سي هغه صبا د قيامت په ميدان کي د انسان د مغفرت سبب ګرځي.

﴿مَا مِنْ عَبْدٍ يَخْرُجُ مِنْ عَيْنِهِ الدُّمُوعُ﴾ يو انسان چي د سترګو څخه يې اوښکي راتوی سوې ﴿وَ اِنْ كَانَ مِثْلَ رَأْسِ الْأُبَابِ﴾ که څه هم د مچ د سر غوندي وي.

﴿لَمْ يُصِيبُ حُرَّ وَجْهِهِ﴾ او د ده د مخ و سپين والي ته راشوه سوې ﴿اِلَّا حَرَّمَ اللهُ عَلَيْهِ النَّارَ﴾[1] الله تعالی به پر دې مخ باندي د جهنم اور حرام کړي.

نو نن که انسان د مچ د سر غوندي اوښکه د خدای ﷻ حضور ته توی کړي، نو د الله تعالی پر دې بنده باندي رحم راځي او د دې په خاطر باندي الله تعالی پر دې بنده باندي د جهنم اور حراموي.

ليکن که صبا ته ورسېدو بيا صبا چي د قيامت ميدان راسي که يو انسان زر کاله (۱۰۰۰) وژاړي او پر زر کاله (۱۰۰۰) ژړا باندي هم د الله تعالی يوه زره مهرباني او رحم نه راځي.

---

[1] ابن ماجه، حديث نمبر ۴۱۹۷

نن په دې مجمع کې کوم انسان دا ویلای سي چې زه ګناهګاره نه یم؟ هر انسان خامخا ګناهګاره دئ، د چا څخه په یو شکل ګناه کیږي، د چا څخه په بل شکل ګناه کیږي، د ګناه ګاره علاج صرف او صرف د پښېماني اوښکه تویول دي.

لیکن ما در ته وویل: په خدای ﷻ قسم که انسان د دنیا په ژوندګي کي اوښکه یو وخت هم توی نه کړي، نو بیا به د دنیا د یو کړي په مقابل کي په آخرت کي په زرو کلونه پر دې خپلو اعمالو باندي اوښکي تویوي، لیکن فائده به یې یوه ذره هم نه وي.

نو الله تعالی دي پر دې څو مختصرخبرو د عمل کولو توفیق راکړي.

او الله تعالی دي دغه څو خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي (آمین).

وَ اٰخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآيه)

# د زنانو متعلق بیان

(بیان)

مولوي اطیع الله صاحب
استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:
مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقریر | الحاج مولوي اطیع الله صاحب |
| ترتیب وتخریج | مفتي حافظ کلیم الله صاحب |
| مقام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشاعت | ثلورم |
| تاریخ | یکم ربیع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق یکم مي ۲۰۱۸ |
| تعداد | (۱۱۰۰) |

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْداً كَثِيراً طَيِّباً مُبَارَكاً فِيْهِ مُبَارَكاً عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَ يَرْضٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهِ خَيْرِ الْهُدٰى وَعَلٰى اٰلِهِ وَاَصْحَابِهِ نُجُوْمِ الْاِهْتِدَاءِ.

اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اِنَّ الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْقَانِتِيْنَ وَالْقَانِتَاتِ وَالصَّادِقِيْنَ وَالصَّادِقَاتِ وَالصَّابِرِيْنَ وَالصَّابِرَاتِ وَالْخَاشِعِيْنَ وَالْخَاشِعَاتِ وَالْمُتَصَدِّقِيْنَ وَالْمُتَصَدِّقَاتِ وَالصَّائِمِيْنَ وَالصَّائِمَاتِ وَالْحَافِظِيْنَ فُرُوْجَهُمْ وَالْحَافِظَاتِ وَالذَّاكِرِيْنَ اللّٰهَ كَثِيْرًا وَّالذَّاكِرَاتِ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ مَّغْفِرَةً وَّ اَجْرًا عَظِيْمًا(١).

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: ﴿اَلدِّيْنُ النَّصِيْحَةُ﴾(٢).

آمَنْتُ بِا اللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلٰنَا الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ وَصَدَقَ رَسُوْ لُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْمُ وَنَحْنُ عَلٰى ذٰ لِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## شپږ ګناهګاره زناني:

محترمو مسلمانانو! ستاسو په مخ کي زه د علامه شمس الدين ذهبي رحمة الله عليه د مشهور کتاب "الکبائر" څخه د پيغمبر ﷺ يو روايت پېشوم.
د دغه روايت خلاصه دا ده: چي پيغمبر ﷺ د معراج د واقعي څخه لږ وروسته د حضرت فاطمة الزهراء بنت رسول الله ﷺ کور ته د پوښتني دپاره راغلئ.
حضرت علي رضي الله عنه فرمايي: چي موږ د کور ټوله انسانان ورته را جمع سو او د پيغمبر ﷺ سره کښېنستو پيغمبر ﷺ ډېر زيات ژړل.

(١) سورة الاحزاب، آيت نمبر: ٣٥
(٢) مسلم شريف، حديث نمبر: ٢٠٥

## د پیغمبر ﷺ ژړا:

حضرت علي ﷺ وايي: چي ما پوښتنه ځني وکړه چي ای د الله رسوله! هغه کوم شی دئ چي تا ژړوي؟ او د کوم شي په وجه باندي ته دومره په افسوس ژړا کوې؟

نو پیغمبر ﷺ ورته وايي: ای علي! چي کله د معراج سفر وو نو الله تعالیٰ په ما باندي د جنتو او دوزخو سیر وکړئ ما په جهنم کي د خپل امت زناني په ډېر بد ترین عذابو کي مبتلا ولیدې چي اوس زه د هغه عذابو تصور کوم نو ماته د هغه زنانو پر حالت باندي ژړا راځي.

## په امت باندي د پیغمبر ﷺ شفقت:

چونکه پیغمبر ﷺ د خپل امت دپاره د ټولو څخه زیات مشفق ذات دئ، که چیري یوه مور خپل بچي په سخت ترین حالت کي وویني، نو هغه مور د دې خپل بچي پر حالت باندي اوښکي تويوي.

او د پیغمبر ﷺ چي د خپل امت سره کوم محبت دئ که چیري د دې کائناتو د ټولو میندو محبت را جمع او یو ځای سي لا هم د پیغمبر ﷺ محبت د هغه څخه ډېر زیات دئ.

نو په دې وجه باندي پیغمبر ﷺ وايي چي ای علي! ما د خپل امت زناني په جهنم کي په بد ترینو عذابو کي مبتلا ولیدې، چي کله زه د هغه تصور او د هغه حالت په خپل دماغ کي راګرځوم، نو زما زړه درد کوي او زما د سترګو څخه اوښکي راځي.

## په شپږو طریقو باندي عذاب:

او د هغه څخه وروسته پیغمبر ﷺ د هغه عذابو تفصیل بیانوي او ورته وايي: چي کله ما د جهنم سیر (سفر) وکړئ، نو ما په جهنم کي د خپل امت زناني په شپږ ډوله عذابو اخته ولیدې:

۱. اول قسم زنانې مې په داسې شکل ولیدې چې هغه د جهنم په لمبو او سکروټو کې د سر په وربښتانو راځړېدلې او د هغوی د سر په کوپړۍ کې چې کوم ماغزه وه هغه په دا شکل خوټکېدل چې د هغه ټکهارۍ تر له اهل جهنم اورېدئ.

نو یو طرف ته په جهنم کې راځړېدل او بیا خاص د سر په وربښتانو باندې راځړېدل دا ډېر زیات عذاب دئ، نو ځکه پیغمبر د دې زنانو د حالت په تصور کولو باندې ژړا کوې.

او بیا ورته وایې چې:

۲. دوهمه ډله زنانې ما ولیدلې چې هغه په جهنم کې د دې خپل بدن په نازک اندام چې ژبه ده د جهنم په سکروټو او لمبو کې راځړېدلې، ژبه د انسان د بدن ډېر نازک اندام دئ، تاسو نه ګورئ که چېرې د یو انسان د راځړېدو بوج د انسان پر لاس باندې واچول سې او سړی په لاس باندې را وځړول سي، نو د هغه دپاره د مرګ څخه بدترینه سزا ده، نو هغه څوک چې په ژبه باندې راځړېږي د هغه به کوم حالت وي؟

او بیا ورته وایې: ای علي!

۳. درېمه ډله زنانې مې په داسې شکل ولیدلې چې هغه د بدن په دې نازکو اندامو چې د دوی پر سینه باندې کوم "تي" دي په خپلو "تیو" د جهنم په لمبو کې راځړېدلې.

۴. څلورمه ډله زنانې مې په ډېر بد ترین شکل ولیدې چې د هغوی پښې پر دې سینو باندې تړل سوي وې او لاسونه یې پر تندیو باندې تړل سوي وه او د جهنم په سکروټو او لمبو کې سوځېدلې.

۵. پنځم ځای کې ما د خپل امت بعضې زنانې په داسې شکل باندې ولیدلې چې د هغوی شکلونه د خنزیرانو وه او د هغوی رنګونه د یو منحوسو حیوانانو وه او د جهنم لړمان او ماران د هغوی په بدنو پورې

موښتي وه او دوی بې تابه او بې صبره د جهنم په اور کي کړېدلې او يو طرف او بل طرف ته يې منډي وهلې.

٦. شپږم ځای کي مي بیا د امت یو څه زناني په دې شکل وليدې چي د هغوی رنګونه د دنيا د سپیانو په شکل وه او د جهنم لمبې د هغو په خوله باندي ننوتلې او د دوی د بدن څخه به د بولو په لار باندي وتلې. او د جهنم ملائکي ورته ولاړي وې هغو په ګورزانو باندي وهلې او دوی د جهنم په لمبو کي ډيري حيراني او پرېشاني کړېدلې.

چي کله پيغمبر ﷺ د عذابو دا تفصيل د حضرت علي ؓ او د حضرت فاطمې ؓ په مخ کي بیان کړئ.

نو حضرت فاطمة الزهراء په ژړا سوه ورته وايي: ای د الله ﷻ رسوله! دا را ته ووايه چي دې زنانو په دنيا کي څنګه زندګي تېروله؟ او دې زنانو په دنيا کي کوم عمل کوئ چي د هغه زندګی. او د هغه عمل په وجه باندي دوی په دومره بد ترين حالت او دومره رسوايي کي مبتلا وې.

## د اولي زناني د عذاب سبب بې پردګي:

نو پيغمبر ﷺ ورته وايي: ای بچيه! کومه اوله زنانه چي ما وليدله چي هغه د جهنم په اورو کنبي د سر په وربښتانو راځړېدله او د هغې د سر ماغزه دارنګه ايشېدل چي ټولو اهل قيامت د هغه ټکهاری اورېدئ.

هغه که به دباندي د کور څخه وتله د سر د وربښتانو ستر يې نه کوئ او که به په کور کي دننه د نامحرمه انسانانو و مخ ته ګرځېده هم يې د سر د وربښتانو د ستر خيال نه ساتئ.

نو په دې وجه الله ﷻ هغه زنانه په دې عذابو کي مبتلا کړه، چي د قيامت څخه وروسته به د جهنم په کندو کي د خپل سر په وربښتانو راځړېږي او د دې د سر ماغزه به دارنګه ختکېږي چي ټوله اهل جهنم به د هغه ټکهاری اوري.

**ستر او پرده:**

نن که انسان پر دې خپلو ماحول باندي نظر وکړي دا ګناه عامه ده. تاسو لويو ښارو ته ورسئ، تاسو هسپتالو ته ورسئ، تاسو حکومتي ادارو او دفترو ته ورسئ! بيا به تاسو ته دا در ښکاره سي چي زناني په کومه بې پردګۍ کي هلته خدمت کوي او هلته ګرځي او هلته د نارينه وو مخ ته ځانونه ښکاره کوي. چي نه د هغې سره د پردې لحاظ سته، نه د هغې د سر د پټولو لحاظ سته او نه هغه د ځان د خوندي کولو څه خيال ساتي.

**په لمانځه کي د زناني د ستر طريقه:**

عام طور د زناني دپاره سر پټول دا د زناني ستر دئ، د لاسو څخه ماسوا د پښو څخه ماسوا او د مخ څخه ماسوا نور ټول بدن د زناني عورت دئ، خو دا يوه خبره په ياد ساتل په کار دي مخ، لاسونه او پښې چي عورت نه دي دا صرف په حق د لمانځه کي عورت نه بلل کيږي په لڅېدو يې لمونځ نه فاسديږي او کوم چي د ستر مسئله نو د مخ، لاسو او پښو پټول دا سي واجب دي لکه د نورو اندامو.
او چونکي په ټوله بدن کي هر اندام ستر دئ او د سر وربښتان جلا اندام دئ که چيري د يو اندام څلورمه حصه د زناني په لمانځه کي ښکاره سي او دومره اندازه ښکاره سي چي دا زنانه درې واره "سبحان الله" ويلای سي لا هم د دې زناني لمونځ نه سو صحيح؛ ځکه د يو اندام ستر يې نه دئ خوندي.
که چيري يو زنانه لمونځ په نرم پوړني کي کوي او په داسي پوړني کي يې کوي چي د هغې زناني وربښتان ښکاره وي او د دې پوړني څخه سربېره د زناني د سر د وربښتانو شکل معلوميږي، نو د هغې زناني لمونځ په هغه پوړوني کي نه صحيح کيږي.

او که چیرې هغه پوړنۍ غبرګ پر ځان واچوي، لیکن د هغې ځخه باوجود بیا هم د نرم والي په وجه باندي د هغې د وربښتانو شکل معلومیږي، نو د هغې زناني لمونځ نه دئ سوی.

دغه رنګه لاس جلا اندام دئ، د زناني که چیرې لستوڼی په داسې شکل وي چې د دې د لاس ځلورمه حصه د درې "سبحان الله" ویلو په مقدار ښکاره سي، نو د دې زناني لمونځ نه دئ سوی.

او پنډۍ د زناني جلا اندام دئ که چیرې د یو زناني په لمانځه کي د بې احتیاطي په وجه باندي د پنډۍ ځلورمه حصه دومره مقدار ښکاره سي چې درې واره "سبحان الله" ویل کیږي په هغه وقت کي لا هم د دې زناني لمونځ نه دئ صحیح سوی(۱).

## د ستر او پردې په مابین کي فرق:

د ستر او پردې په مابین کي دا پر فرق دئ: ستر د لمانځه سره کار لري، نو د زناني لاسونه ستر نه دي، پښې ستر نه دي او مخ ستر نه دئ.

د دې ځخه ماسوا ټوله بدن ستر دئ. او د دې خوندي کول او د دې پټول په لمانځه کي ضروري دي، که یې یو زنانه نه کړي پټ، نو د هغې زناني لمونځ نه دئ صحیح.

او بل د زناني پرده ده، پرده د زناني د سر ځخه ونیسې بیا تر نوکانو پوري دا ټوله بدن پرده داره دئ، د دې ټول بدن دپاره د زناني پرده کول ضروري ده، نه په کور کي دننه د نامحرمه انسانانو و مخ ته نه د کور ځخه دباندي د نامحرمه انسانانو و مخته زنانه خپل یو اندام ښکاره کولای سي، نو که یې ښکاره کړي د دې پردې نه کولو په وجه باندي دا زنانه ګناهګاره ده.

نو د ستر جلا مسئله ده او د پردې جلا مسئله ده(۲).

---

(۱) اصلاحي بیانات و رسائل جلد: ۱ صفحه: ۹۹

(۲) اصلاحي بیانات و رسائل جلد: ۱ صفحه: ۱۰۰

## په کور کي د نامحرم و مخ ته د پردې کولو طريقه:

بعض زنانې چې کله د کور ځخه دباندې راوځي خو د ځان پرده کوي او خپل مخ يې پټ وي، پښې يې پټې وي او ټوله اندامونه يې پټ وي، ليکن چې په کور کي دننه ګرځي او په کور دننه کي چې کوم نامحرمه انسانان دي د هغو په مخ کي پرده نه کوي. حالانکې دا زنانه هم بې پردې شمارل کيږي او دا زنانه د پردې نه کولو په وجه باندې ګناهګاره بنکاره کيږي.

په کور کي دننه "لېور" دئ د هغه ځخه د دې پرده ضروري ده، د "خاله زوی" دئ، د "ماما زوی" دئ، د "عمه زوی" دئ، دا ټوله د دې نامحرمه انسانان دي، که چيري د دوی و مخ ته دا په ازاد شکل زندګي تېروي نه د خپل سر د پټوالي خيال ساتي، نه د مخ د پټوالي خيال ساتي او نه د نور بدن د پردې خيال ساتي دا زنانه بې پردې بلل کيږي او دا زنانه ګناهګاره بلل کيږي(۱).

## د ستر تعلق د لمانځه سره دئ او پرده عامه ده:

د ستر تعلق د لمانځه سره دئ او د پردې تعلق د زنانې د ټولې زندګۍ سره دئ، البته علماء کرامو رحمهم الله په بعض ځايو کي څه نا څه ګنجائش ليکلی دئ: هغه نامحرمه قريب لکه: "لېور" چې هر ساعت کور ته راځي او هر ساعت وځي او د کور په ضرورياتو اخته دئ که اوس زنانه د هغه ځخه پرده کوي، نو هغه زنانه په مشکل کي واقع کيږي، چې زنانه د "لېوره" و مخ ته په پنډ پړوني کي او په داسي شکل باندې چې دا لکه لمونځ کوي چې صرف مخ يې بنکاره دئ، لاسونه يې بنکاره دي، پښې يې بنکاره دي لکه د لمانځه په حالت کي په دغه شکل کي علماء کرامو رحمهم الله د دې ښځې د آسانۍ دپاره څه نا څه ګنجائش ليکلی دئ(۲).

(۱) اصلاحي بيانات و رسائل جلد: ۱ صفحه: ۱۰۲
(۲) اصلاحي بيانات و رسائل جلد: ۱ صفحه: ۱۰۰

ور نه احتياط او تقوی په دې کې ده چې زنانه د "لبوره" و مخ ته هم خپل ځان مستور وګرځوي، ليکن که دا په يو حرج او په تکليف کې وي، نو صرف د لمانځه په شکل کې دا د "لبوره" و مخ ته ګرځېدلای سي.
ليکن په دې شکل چې د دې لاسونه ښکاره دي، د دې د سر وربښتان ښکاره دي، د دې ګرېوان خلاص دئ، د دې پنډۍ ښکاره دي که دا د "لبوره" و مخ ته ګرځي، که د "ماما د زوی" و مخ ته ګرځي، که د "خاله د زوی" و مخ ته ګرځي، که د "عمه د زوی" و مخ ته ګرځي، که د "اجنبي" و مخ ته ګرځي، نو دا زنانه بې پردې شمارل کېږي(١).

## د عذاب عبرت ناکه واقعه:

د ګلګيت په يو علاقه کې يو واقعه پېښه سوه، په يوه رساله کې چې مفتي عبدالرؤف سکهروي صاحب ليکلې وه، يوه زنانه د مرګ بعد په قبر کې په يوه هديره کې پټه سوه، نو يوه ورځ د دې علاقې يو سړی پر دې لار باندي را تېرېدي، نو د دې قبر څخه يو قسم آواز را پورته کېږي چې ما در وکاږئ! زه ژوندۍ يمه، په دې قبر کې د هغه سړي پر دې باندي اعتماد او يقين نه کېږي چې دا به څنګه وي.
نو راغلئ د کلي يو څه کسان يي را وغوښتل چې تاسو راسئ د دې آواز معلومات و ځان ته وکړو. د کلي خلک چې کله راغله چې ور ته ګوري، نو يقينا هغه آواز د قبر څخه راوځي.
اوس مسئله راغله چې دا قبر به سړی شني که به يې نه شني؟ نو راغله د مسجد د امام څخه پوښتنه کوي چې په دې قبر کې اوازونه دي، ايا موږ ته اجازت سته چې موږ دا قبر سره وشنو؟

(١) اصلاحي بيانات و رسائل جلد: ١ صفحه: ١٠١

**هغه وويل:** بالكل، كه چيري ستاسو دا يقين وي چې دا مړی په دا قبر کې ژوندی دئ، بيا يې سره وشنئ.

چې کله قبر سره وشنل سو، نو زنانه په دې قبر کې په ډېر بدترين شکل کې ده، د هغې کفن ختم سوی دئ او لڅ بدن ده، نو هغه خلګو ژر خپل پټوان او يو څه پرده پر وا چول او زنانه په منډه د قبر څخه راووته راغله خپل کور ته او په کور کې په يو خونه کې ننوتله او خونه يې په ځان پسې بنده کړله.

ټوله د محلې خلک راغله چې د دې زنانې د خولې څخه قبر حالت واوري.

## د بې پردګۍ سخته سزا:

آخر د دروازې ټکولو څخه وروسته هغه زنانه ور ته وايي: چې زه خو په بدترين شکل کې يم، چې کوم څوک زړور انسان وي هغه ما ته را واستوئ! چې زما د ليدلو تاب لري.

نو آخر يې دوه درې کسان ور واستول، هغه کسانو چې کله وليدله، نو هغه زنانې اول دا خپله ککرۍ ور ښکاره کړه چې د هغې پر ټوله ککرۍ باندې نه يو ورېښته سته او نه پوست سته صرف سپين هډوکي د کوپړۍ دي، نو هغه خلک پوښتنه کوي:

- دا ولې؟
- دا ور ته وايي: چې ما په دنيا کې زندګۍ داسې تېروله چې د دې سر د ورېښتانو پرده ما د نامحرمه خلګو څخه نه کوله، چې کله زه قبر ته ورغلم، نو د عذاب فرښتې چې را ورسېدلې په حمله کې يې زما څخه ورېښتان ټوله وکښل، نو ځکه زما د سر ککرۍ تاسو په دې حالت کې وينئ.

## د شونډانو د حفاظت نه کولو سزا:

دوباره چې هغې زنانې مخ ښکاره کړئ، نو د هغې نه پورته شونډه سته او نه يې لاندې شونډه سته او غاښونه يې په بدترين شکل باندې ښکاره سوه، انسانان ورته وايي:

- دا شونډان دې څه سوه؟
- دا زنانه ورته وايي: ما به په دې شونډانو باندې سرخي لګوله او د دې شونډانو ستر به ما د انسانانو څخه نه کوئ، نو چې کله زه قبر ته ورشوه سوم د عذاب فرشتو په حمله کې دا زما شونډان را څخه پرې کړه؛ څکه تاسو زما حال په دا شکل وينئ.

## پر نوکانو پالش لګول او بې ستري يې کول:

د هغه څخه وروسته چې کله دا زنانې لاسونه او پښې ښکاره کړې، نو په ګوتو کې او په پښو کې يې نوکان نسته نو چې کله د دې پوښتنه څني کيږي چې دا ولې؟

- دا وايي: چې ما به پر دې نوکانو باندې رنګ لګوئ او دا به ما د نامحرمه خلګو څخه نه پټول، نو د هغه نتيجه دا سوه چې کله زه قبر ته ورغلم، نو دا ټوله نوکان د عذاب فرشتو يو دم را څخه وکښل.

د هغه څخه وروسته هغه زنانه را وښتله او د يو مړي په شکل پرېوتله او پر هغه ځای باندې ختم سوه او بيا يې بل چا خبره نه ده اورېدلې او دوباره يې هغه زنانه په يو دښت کې پټه کړه.

## د مرګ وروسته دوباره ژوندي کېدل:

د دې متعلق يوه خبره خو دا ده چې د چا په زړه کې به دا شبهه ورګرځي چې آيا يو سړی چې مړ سي بيا د قبر څخه څنګه راکښېني، په دنيا کې دوباره را ژوندي کېدل نسته دا څنګه را ژوندی سوه؟

لیکن گورئ! د الله تعالیٰ ﷻ عادت دا دئ چې په دنیا کې سرې ته د مرګ څخه وروسته بیا ژوند نه ورکوي ژوند بیا په آخرت کې راځي. لیکن کله کله د انسانانو د عبرت ښکاره کولو په وجه باندې په بعضو زمانو کې په بعضو علاقو کې الله ﷻ انسانانو ته د قبر د حال د ښکاره کولو په خاطر داسې کوي.
حافظ ابن ابي الدنیا رحمة الله علیه دا یو ډېر لوی عالم دئ، ده په عربي کې یوه رساله لیکلې ده "مَنْ عَاشَ بَعْدَ الْمَوْت" دا یې نوم دئ یعني چې کومو خلګو د مرګ څخه وروسته ژوندګي وکړه او پر دې باندې یې ډېرې واقعې لیکلې دي چې په فلانکۍ علاقه کې دا پېښه سوه او په فلانکۍ علاقه کې دا پېښه سوه.
حافظ ابن رجب حنبلي رحمة الله علیه هغه د "أَحْوَالُ الْقُبُوْر" په نامه یو کتاب لیکلی دئ چې په هغه کې یې داسې ډېر حالات لیکلي دي.
چې الله ﷻ خو دا عادت لري چې د مرګ څخه وروسته څوک نه راکښېنوي. لیکن کله د انسانانو د پاره د عبرت ښکاره کولو په خاطر یو چا ته یو څو منټه ژندګي ورکړي چې هغه د جهنم او د قبر حالات انسانانو ته بیان کړي، د هغه وروسته بیا بیرته مرګ ورلره ورکړي([1]).

## د زنانو د پاره ډېره لویه خطرناکه خبره:

گورئ! بعض زنانې پر نوکانو باندې پالش او رنګ لګوي او کله پر شونډانو باندې یو قسم رنګ لګوي هغه چې پر شونډانو لګېدلې سُرخي ده هغه په حقیقت کې مساله یا پلاسټک وي او چې کله دا اودس کوي یا غُسل کوي، نو پر کوم نوک چې رنګ لګېدلی وي، پر هغه پلاسټک پروت وي لاندې او به نه ور ورسېدلې او چې کله د بدن د درې ورېښتانو قدر مقدار بدن وچ پاته سي. نو د هغې زنانې اودس نه وسو او د هغې زنانې غُسل نه وسو.

([1]) اصلاحي بیانات و رسائل جلد ۱ صفحه ۱۰۳

او چي د کومي زناني اودس او غُسل نه وسي دا سجده وکړي، لمونځ وکړي بنده په یو مجلس کي د حضرت مولانا سرفراز خان صفدر رحمۃ اللہ علیہ څخه دا اورېدلي دي چي د اویا (۷۰) فیصد فقهاء کرامو رحمہم اللہ رایه دا ده چي په بې اودسه سجده لګولو سړی کافر کیږي. "نعوذبالله" چي کومه زنانه کفر ته و رسېدله د کافر او د مسلمان نکاح ختم سوه، د خپل خاوند سره د ستي نکاح ختم سوه او چي نکاح ختم سوه بیا تر مرګ پوري دا سړی د خپلي زناني سره په زنا کي بلل کیږي "نعوذبالله".

دا صرف د یوې زناني د بې احتیاطی په وجه باندي نو کومه زنانه چي د خپل ستر حفاظت نه کوي او کومه زنانه چي پرده نه کوي بیا خاص د سر د وربښتانو یا په سر تور سر باندي ګرځي یا په بې احتیاطه شکل باندي ژوند تېروي یا په نرم پوړني کي ګرځي چي د هغې د سر وربښتان و عامو خلګو ته وربښکاره کیږي او نامحرمه انسانان یې ویني.

نو پیغمبر ﷺ وایي: چي دا زنانه د جهنم په کندو کي ما په دې شکل لیدلې ده چي دا به د سر په وربښتانو ځړېږي او د دې د سر ماغزه به خوټکیږي.

نو یوه زنانه خو هغه وه چي پیغمبر ﷺ ذکر کړه چي هغې به د خپل سر د وربښتانو پرده نه خوندي کوله.

## د دوهمي زناني د عذاب سبب زبان درازي:

دویمه زنانه چي پیغمبر ﷺ هغه په جهنم کي لیدلې وه هغه زنانه وه چي په ژبه راځړېدله، حضرت فاطمة الزهراء ور ته وایي:

- یارسول الله! دې زناني په دنیا کي څه کړي وه، څه ګناه یې کوله؟
- نو پیغمبر ﷺ ور ته وایي: بچیه! دا زنانه په دنیا کي زبان درازه وه په دې خپله ژبه به یې و خپل خاوند ته او د خپل خاوند و قریبانو ته تکلیف ور رسوئ زنانه چي کله خاوند ته تېزه خبره وکړي هم خاوند ته تکلیف

دئ او كه د خاوند مور، پلار او و نورو قريبانو ته يې وكړي هم خاوند ته تكليف دئ.

هسې د خاوند دپاره هم دا ناروا دي چې خاوند د خپلې ژبې په خاطر زنانې ته تكليف ور رسوي او كه چيرې بې ځايه تيزې خبرې و زنانې ته كوي هغه هم وبال لري او خاوند به د دې عذاب ضرورويني.

ليكن كه چيرې زنانه و خپل خاوند ته تيزې خبرې كوي او په ژبه باندې خپل خاوند ته تكليفونه رسوي، نو هغه زنانه به د دې خپلې تيزۍ سزا په جهنم كې ويني.

خو په دې حديث كې پيغمبر ﷺ د ژبې تيزې خاص كړ د زنانو خصلت او خوئ بيان كړی دئ چې دا هغه زنانه وه چې دې به په خپله ژبه باندې خاوند ته تكليفونه وررسول.

## زبان درازي سنګينه ګناه ده:

دا يو قانون دئ چې كله په لاس باندې سړی چا ته تكليف ور كړي او په لاس باندې يې ووهي، نو هغه تكليف د څه زمانې څخه وروسته د انساني دماغ څخه وځي.

ليكن ژبه داسې بد ترينه ګناه كونكئ اندام دئ كه چيرې سړی د ژبې يو كلمه و چا ته ووايي، نو بيا تر مرګ پورې د هغه د زړه او دماغ څخه نه وځي.

او پيغمبر ﷺ وايي: ﴿عُضْوُهُ صَغِيرٌ﴾ د دې ژبې دا جسم او بدن ډېر كوچنی دئ، ليكن ﴿وَ جُرْمُهُ كَبِيرٌ﴾ د دې ګناهونه ډېر لوی دي(۱).

كه چيرې زنانه بر ملا خاوند ته ښكاره ښكاره تكليفونه ور رسوي چې په كور كې د خاوند د مور سره دعوې كوي، د خاوند د پلار سره دعوې كوې د خاوند قريبانو ته تكليفونه رسوې او خاوند ته تكليفونه رسوې، نو پيغمبر ﷺ وايي:

---

(۱) بريقة محمودية في شرح طريقة محمديه صفحه ۱۵۸

چي په جهنم کي د دې زناني سزا ما دا وليدله چي دا په جهنم کي په ژبه را ځړېدله.

## د دريمي زناني د عذاب سبب ناروا تعلقات:

او دريمه زنانه پيغمبرﷺ ذکر کوي چي دريمه زنانه هغه وه چي هغه به د جهنم په کندو کي د خپل بدن په نازکو اندامو يعني په تيو باندي راځړېدله.

حضرت فاطمة الزهراء ورته وايي:

- يارسول الله! دې زناني په دنيا کي څه کول؟
- نو پيغمبرﷺ ورته وايي: بچيه! دې زناني په دنيا کي بې حيا زندګي کوله د خپل خاوند درلودلو سره يې بيا هم د پرديو خلکو سره تعلقات جوړول او د پرديو خلکو سره يې رابطه درلوده او د پرديو خلکو سره يې په داسي شکل زندګي تېروله چي هغه خلک د ځان طرف ته مائله کړي او دا د هغه خلکو طرف ته مائله سي.

## د بې حيايي سنګينه نتيجه:

ګورئ! د حياداري زناني، د باپردې زناني او د شريفي زناني په دماغ کي دا نه راځي چي د خپل خاوند څخه ماسوا د بل چا طرف ته ستر ګي کږې کړي.

ليکن مصيبت دا دئ چي په کومه معاشره کي حيا ختمه سي، په کومه معاشره کي عفت ختم سي او په کومه معاشره کي غيرت ختم سي، نو بيا په هغه معاشره کي يوه زنانه د پرديو خلکو سره تعلقات د فېشن په شکل جوړوي.

اوس په بعض علاقو کي دا فېشن جوړ سوی دئ چي يو زنانه د پرديو خلکو سره تعلقات په يو شکل باندي جوړ کړي.

د پيغمبرﷺ حديث دئ: ﴿اَلْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِّنَ الْإِيْمَانِ﴾ حيا د ايمان يوه شعبه ده([1]).

---

([1]) الترغيب و الترهيب لقوام السنة، حديث نمبر: ۱۱۲۵

چي کله په انسـان کي حيا وي، نو د هغه انسان ايمان کامل وي او چي ايمان کامل وي بيا سرى و گناه ته ور نژدې کېداى نه سي.
د جنسي لحاظ چي څومره گناهونه دي په هغه کي سل په سل کي د انسانانو په مخ کي مانع حيا وي، چي په کوم چا کي حيا وي، نو هغه دا گناه ته ور نژدې کېداى نه سي، چي په کوم چا کي حيا نه وي بيا چي هغه هر څه کول غواړي هغه کوي.
يو سرى پردې زناني ته د حيا په وجه نه سي کتلاى، ليکن پېغمبر وايي: ﴿إذا لم تستحي﴾ چي حيا دي ختم سوه، نو ﴿فافعل ما شئت﴾(1) بيا چي په مخه درغله هغه کوه.

## د بې حيايي بد آثرات:

ما در ته وويل: په کومه معاشره کي چي د انسـان څخه حيا ختم سي بيا په هغه معاشره کي انسـان انسان نه وي، انسـان حيوان وي، بيا لکه پر حيوان چي د خپلي زناني او د مور فرق نسته، د خپلي زناني او د خور فرق نسـته، د خپلي زناني او د لور فرق نسـته په هغه معاشره کي هغه انسـانان دې حال ته ورسـېږي.

## د پلار او د لور، دورور او د خور د زنا واقعات:

تاسو به يې گورئ يا به يې نه گورئ په دې اخبارو کي ورځ په ورځ نوي خبري راځي، څه زمانه مخکي يو بيان راغلی ؤ يوې زناني په عدالت کي بيان ورکړئ چي زما سره خپل پلار د هر عمر کيږي چي په زنا کي اخته دئ"الله اکبر".
د دې څخه مخکي يو بيان راغلی ؤ چي يو زناني ورکړى ؤ چي زما د خپل ورور د لاسه چي هغه زه پر زنا مجبوره کولم زه وغورځېدم، ما په تهانه کي پناه واخيسته.

---

(1) بخاري، حديث نمبر: ۳۴۸۳

## د معاشرې سنګينه بې حيايي:

زموږ يو استاد حضرت مولانا عبد الرؤف سکهروي صاحب هغه دا لس دوولس کاله مخکې يو ورځ موږ ته ويل چې په دې کراچي کې يو عامل دئ، عامل عام طور چې دا تعويذونه کوي يا په چا جادو سوی وي يا څه سوي وي خلګ ور ته راځي.

نو ده به ويل: چې دا زما ملګری ؤ، زه به کله يوښتني ته ورتلم، هغه استاذ موږ ته به يې په سبق کې دا قصه کوله ويل يې: څه زمانه چې مخکې ورغلم ده په غوږ کې را ته وويل:

- تا ته اوس دا در معلومه ده چې دا خلګ د څه څه په عذاب دي؟
- ما ور ته وويل: نه، ده راته وويل غالبًا په سل کې نوي (۹۰) فيصده زناني ما ته په دې نيت راځي چې ته تعويذ را وکه چې زما خاوند او زما لور نه سره کښېني، چې د دې خاوند د خپلې لور څخه نظر واوړي.
ته تعويذ را وکه چې زما بچی او زما لور نه سره کښېني چې د دې بچي مې د خپلې خور څخه نظر واوړي.

ويل يې: اوس په سل کې نوي (۹۰) فيصده زناني په دې حاجتو پسې راځي.

هغه عامل ويل: چې زما بدن بلګ واخلي زه دا وايم ياالله! چې معاشره دې حالت ته ورسېدل، نو د دې معاشرې د انسانانو اوس د مُځکې پر مخ د استوګنې به څه حق پاته وي.

ما در ته وويل: چې په کوم کورکي په کوم محل کي او په کومه علاقه کي چې حيا ختم سوه د هغه علاقې انسانان بيا انسانان نه بلل کېږي، هغه بيا حيوانان بلل کېږي.

**د تلويزون كتلو انجام:**

نن د خلگو په دماغو كي دا خبري نه راځي چي هر څه خبره ور ته كوې سر يې نه په خلاصيږي چي دا ولي داسي كيږي؟ د دې ټولو خبرو بنياد دا دئ چي انسانانو په كورو كي "ټيويان" ايښي دي او انسانانو په كورو كي "وي سي آرونه" ايښي دي او انسانانوپه كورو كي "انټرنيټونه" خلاص كړي دي، چي كله په هغه كي پردې زناني لڅي تا ته رخصيږي او نارينه او زنانه ور ته گوري ورور او خور ور ته ناست وي.

بيا به د دې ورور څه حال وي؟ بيا به د دې خور څه حال وي؟ بيا به د دې ورور غيرت او حياء په كومه اندازه پاته وي؟ بيا به د دې خور غيرت او حياء په كومه اندازه كي پاته وي.

نو د هغه نتيجه به آخر دا وي چي پلار به پر لور راغورځي او ورور به پر خور را غورځي او هغه بل به پر بل؛ ځكه هغه شيطان دريم په مايـن كي ورولوېږي او د فحش منظره دوى گوري، نو ځكه د هغوى دغه حال وي.

نو معاشره په دې شكل اوس تباه ده چي بې حيائي و دې درجې ته رسېدلې ده. ځكه په انسانانو كي عفت ختم سو، په انسانانو كي غيرت ختم سو چي حياء او غيرت په انسانانو كي ختم سو، نو د پيغمبر ﷺ قول دئ تر دې د هيڅا صادق. قول نسته ﴿وَ مَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللهِ قِيْلًا﴾(١) د خداى ﷻ او د پيغمبر ﷺ تر خبره بله صادقه خبره نسته، پيغمبر ﷺ وايي: ﴿إِذَا لَمْ تَسْتَحْيِ فَافْعَلْ مَا شِئْتَ﴾(٢) چي حياء در څخه ختم سوه بيا چي زړه دي غوښتل هغه كوه.

---

(١) النساء آيت ١٢٢

(٢) بخاري شريف حديث نمبر ٣٤٨٣

## ستاسو دپاره د خوشحالۍ مقام نه دئ:

نن تاسو زړه مه خوشحاله کوئ! داسي نه ده چي په هغه علاقو کي دغه مرضونه شروع دي چي خلګ د خپلي خور او لور څخه نظر نه اړوي هغه د شیطان اولاده ده او تاسو د رحمان اولاده یاست، داسي نه ده.
بلکه اصل وجه دا ده چي تاسو ته تر اوسه لا هغه اسباب د بې حیايۍ نه دي را رسېدلي، که چیري تاسي هغه حالات چي په هغه علاقو کي جوړ دي یا د "ټي ویانو" یا د "وي سي آرو" په شکل یا مو کړي دي یا یې اوس کوئ یا مو کورو کي اینبي دي یا یې ایږدی په خدای قسم ستاسو د کورو څخه به هم دغه آوازونه را پورته کیږي. د پردی زناني سره زنا کول خو پرېږده د خپلي مور او خور سره زنا کول دا د دې "ټيويانو" او "وي سي ارونو" نتیجه ده.

## ټلويژن د بې حيائي لويه ذريعه ده:

نن چي یو بد عمله سړي ته ووايي چي دا ټي وي مه ګوره! هغه وايي: یاره! په دې کي څه بدوالی دئ په دې کي موږ یو خبرنامه ګورو؟
ما در ته وویل: چي د هغه خلګو د کورو ماحول دې حال ته رسېدلی دئ یقیناً دغه آوازونه به د هغه کورو څخه هم را پورته سي، چي د کوم چا په کورو کي دا شیان سته یا یي ور ته اراده وي ایږدي یې. دا د کافرانو د طرفه هغه دسیسه ده چي په دې باندي د مسلمانانو حیاء ختم کوي.
ما در ته وویل: چي په کوم کور کي حیاء ختم سوه په هغه کور کي غیرت ختم سو او کله چي د مسلمان څخه غیرت ختم سو او چي په کوم کور کي حیاء او غیرت او عفت ختم سو، نو په هغه کور کي به ضرور دا قیصې پېښيږي.

## زموږ د کورو د ودو او د ښاديو خالات:

بیا خاص تاسي پر دې خپلو "ودو، او ښاديو" باندي نظر وکړئ چي په محله کي کله واده راسي، نو په کور کي د ښځو ډانس او ناچ شروع وي، بیا یې څوک په

ويډيو کي څوک په ټيليفونو کي د فلمان جوړوي او دا بيا د محلې هلکان او نوجوانان په يو کوټه کي هغه فلم ولګوي هغه يو يي ورښيي دا د فلانکي کور والا ده دا د فلانکي کور والا ده دا زما تر دې غوړو را رسېدلي دي چي اوس حالات او ماحول په دې شکل باندي شروع دئ:
چي بيا نوجوانان خپلو زنانو ته ويډيوګاني په لاس ورکړي او هغه زنانو ته ټيليفونه په لاس ور کړي چي ته د دې اتهو او د دې ښځو ويډيو جوړه کړه چي موږ يي وګورو چي دا د چا د کور زناني دي؟ دا د چا زنانه ده؟ دا څوک ده؟.

## د کور د مشر دپاره د عبرت مقام:

پلار يي هم ږيره ږمونځوي مازديګر لمانځه ته را روان يي او سپيني جامې يي اغوستي وي او وايي: ما خو هم زوی ته واده ور وکړئ.
زه درته وايم: چي تا خو د کور څخه د حياء جنازه وايسته، تا خو د کور څخه د غيرت جنازه وايسته.
اې کم نصيبه! صرف دا يوه ږيره دي پر دې مخ پاته ده، نور نه ستا په کور کي حياء پاته سوه او نه ستا په کور کي د غيرت زره پاته سوه، و دې يوې ږيري ته دي هم د خداى ﷻ هيڅ ضرورت نسته دا ږيره چي دي سنت پرې ايښي ده عمل هم داسي پر سنت طريقه برابر کړه!
لکه په دنيا کي چي دي ځان ځومره ذليل کړئ او ځومره دي رسوا کړئ او ځان دي په شرمو وشرموئ، خداى ﷻ به دي د جهنم په کندو کي هم و شرموي.
او تا ته چي کله خلک په حاجي وايي، کله په صوفي وايي تا ته په ښه سري وايي اى بدبخته! چي ستا د کور حياء او غيرت په دې شکل دئ نو د عامو انسانانو حياء او غيرت به څه وي؟ هغه به ستا څخه څه پند واخلي؟
ځکه واده خو د پيغمبر ﷺ سُنت دئ، دا د الله ﷻ د نبي ﷺ اطاعت دئ، چي تاسو يي کله په دې مصيبتو او په دې ګناهونو باندي ولړي.

نو ښځمه ورځ راځغلي پلار يې هم ډېره شكوې چې زوى خو مې ښځه را څخه بوتله او زه يې يوازې پرېښوولم، ما په دومره نازو را لوى كړى ؤ، مور يې هم سر شكوې چې زما سره زوى دا وكړه زما سره يې دا وكړه او ما په دومره سترړيا باندې واده ورو كړئ او زياتې خوارى مې ور سره وكښې.

نو كم نصيبې تا د ده پر واده باندې د ځانه څخه څه شې جوړه كړې وه؟ دا د پيغمبر ﷺ سُنت ؤ تا په كومو مرضو او په كومو گناهونو ولړئ، نو الله ﷻ به دا نه در سره كوي؟ او س يې هم چې څه در سره وكړه در باندې لږ دي.

## د حضرت فاطمة الزهراء واده:

نو د دې زنانو ته په دې خبره سر ور خلاص كړئ چې اى كم نصيبو! تاسو خو د فاطمې ﵂ اولاده ياست، تاسو د فاطمې ﵂ واده وگورئ چې په كائناتو كې د هغې رنگه مقدسه زنانه بله نشته.

د حضرت "فاطمې" نكاح په مسجدنبوي كې وسوه، د صحابه كرامو ﷺ په مخ كې د نكاح څخه دوې مياشتې بعد حضرت علي كرم الله وجهه راغلئ او، وې ويل:

- يارسول الله! واده غواړم!
- پيغمبر ﷺ ور ته وويل: چې بس ښغمه او سه واده به دې وسي.

حضرت فاطمه ﵂ په خپله وايي: چې كله مابنام سو، لمونځ وسو، نو پيغمبر ﷺ كورته راغلئ زه لكه د كور عامې زنانې چې په كارو باندې اخته وې زه هم يو انجلى يم په كور كې په كار اخته يم.

پيغمبر ﷺ ږغ كړئ او ام ايمن ﵂ يې را وبلله، ام ايمن ﵂ يوه زنانه وه چې د پيغمبر ﷺ د مور مينځه وه، نو پر پيغمبر ﷺ ډېره گرانه وه، پيغمبر ﷺ به ويل: كه څوک د يو جنتي زنانې سره واده كوي، نو د "ام ايمن" سره دې واده وكړي.

ام ايمنؓ يې را وغوښته دا ورته وايي: (د "ام ايمن" د راغوښتلو پرځ حضرت فاطمهؓ وايي: زما په غوږو کې ولوېدې) رسول اللهﷺ ورته وايي: اى "ام ايمن" "فاطمة" جوړه کړه! "فاطمة" تياره کړه! او تر لاس يې ونيسه وررووانه يې کړه د حضرت عليؓ د کو ر دروازه ور وټکوه چې کله راو وتئ، نو حضرت عليؓ ته يې لاس په لاس کې ورکړه او ور ته ووايه! خپل امانت محفوظ کړه! او ور ته ووايه: چې پيغمبرﷺ وايي: چې زه د ماخوستن د لمانځه بعد در ځم، لږ انتظار وکړه! هغه دا نه وايي چې زما به خوشحالي په کوم شکل وي؟ زما به دريا په کوم شکل وي؟ زما به ډول په کوم شکل وي؟ زما به ورا په کوم شکل وي؟ د پيغمبرﷺ هغه مقدسه لور حضرت فاطمهؓ چې ټولي زناني د حضرت "فاطمې" روحاني لوڼي دي.

نو "ام ايمن" هغه تر لاس ونيول پر پښو باندي يې پيدل روانه کړې ده، خپـه هم نسته ورسره.

حالانکي په دې وخت کي حضرت "عائشه" مبارکه ژوندۍ ده، حضرت جوېريهؓ ژوندۍ ده، دا يې ټولي منډي دي په دې وخت کي، "ام سلمه" ژوندۍ ده، يوه هم نه ورسره ځي، يوازي ام ايمنؓ تر لاس ونيوله ماخوستن يې دروازه ور وټکوله چې حضرت عليؓ کله راووتئ، نو حيران سو.

ام ايمنؓ ور ته وايي: چې رسول اللهﷺ ويل: چې دا خپل امانت دي محفوظه کړه! زه د ماخوستن د لمانځه بعد راځم.

پيغمبرﷺ د ماخوستن د لمانځه بعد راغلئ يو څه نصيحت يې ور ته وکړئ، نو د حضرت فاطمېؓ واده په دې شکل باندي وو (۱).

(۱) بيانات جميل جلد ۲ صفحه ۲۰۹

## د حضرت فاطمې ﷺ په کور کې زندګي:

حضرت فاطمې ﷺ په خپل کور کې زندګي څنګه تېره کړه؟ حضرت فاطمې ﷺ ټوله زندګي د خپل کور وړه په خپل لاس او په غرګي او شازه باندې مېده کول او ټوله زندګي حضرت فاطمې ﷺ د خپل کور او بهر خپل سر باندې راوړلې.
او په کور کې به یې درې درې ورځې لوږې وې چې کله به داسې وخت راغلئ چې د شپې به حضرت حسن او حُسین ﷺ چیغې کړې چې موږ دوډۍ غواړو نور څه به نه وه، نو حضرت فاطمې ﷺ به خپله ژبه په خوله کې ورکړه، هغوی به تر سهاره د دې ژبه څېبښل او په دې شکل به پر دې شاهزاده ګانو باندې سهار سو.

## د حضرت فاطمې ﷺ د ناجوړۍ واقعه:

حضرت فاطمه ﷺ په کور کې ناجوړه ده، پېغمبر راغلئ دروازه یې و ټکوله ور ته وایې: بچیه! لږ پرده وکړه د قریشو سردار "عمران ابن حصین" را سره دئ، نو موږ ستاسو پوښتنې ته راغو.
چونکې د هغې سره شې نسته، نو هغې د دننه څخه حال راواستوئ او ور ته وایې: ﴿يَا أَبِيْ وَاللهِ لَيْسَ مَعِيَ مَا أَسْتُرُ بِهِ وَجْهِيْ﴾ په خدای قسم پلاره په کور کې دومره پرده نسته چې زه یې پر دې سر باندې واچوم.
ستاسو په عقیده کې به دا څومره کمزوري کور وو چې په کور کې د زنانې د سر پټولو دپاره پرده نسته، په کور کې زنانه ناجوړه ده د هغې دپاره دوا نسته په کور کې بچې بغاري د لوږې څخه وهي د هغوی دپاره نفقه نسته.

## د حضرت فاطمې ﷺ د عزت والا کورنۍ:

لیکن دا هغه معزز کور وو، د دې کور زنانه حضرت فاطمة الزهراء ﷺ دا د جنت د ټولو زنانو سرداره وه، د دې کور نوجوانان حضرت حسن او حسین ﷺ دا د جنت د ټولو نوجوانانو سرداران دي او د دې مشر حضرت علي دا د الله ﷺ د

الله د رسول ﷺ زمري او اسد وو، پيغمبر ﷺ چې کله راغلئ نو نور څه نسته پيغمبر ﷺ د دروازې څخه خپل پښو ور واستوئ او ورته وايي: بچيه! يو ګړی پر سر باندې دا واچوه چې موږ پوښتني ته درسو.

د الله ﷻ رسول ﷺ چې کله راغلئ، نو حضرت فاطمة الزهراء ﷺ په پښو کې ناسته ده ډېره زياته ژاړي، پيغمبر ﷺ په غېږ کې ونيوله او پيغمبر ﷺ ور سره ژاړي، پيغمبر ﷺ ورته وايي:

- بچيه! ولې ژاړې؟
- دا ورته وايي: پلاره! يو طرف ته په کور کې بچي وږي دي او دوهم طرف ته په کور کې ناجوړي ده او دريم طرف ته ستاسو غوندې معزز ميلمانه راغلو نن زما په کور کې دومره شی نسته چې زه يې و تاسو ته کښېږدم.

د حضرت فاطمې ﷺ پر ژړا باندې پيغمبر ﷺ ور سره ژاړي، آخر ورته وايي: اى بچيه! ﴿ابي عَلَىٰ لِيَجْعَلَ مَابَيْنَ الْمَكَّةِ وَالْمَدِينَةِ ذَهَبًا﴾ الله ﷻ د مکې او د مدينې په مابين کې دا ټول غرونه را باندې پيش کړه چې دا به در ته سره زر کړم.

ما ورته وويل: ياالله! صرف دا غوارم چې: ﴿أَجُوعُ يَوْمًا وَ أَشْبَعُ يَوْمًا وَ إِذَا جُعْتُ تَضَرَّعْتُكَ وَ ذَكَرْتُكَ وَ إِذَا شَبِعْتُ حَمِدْتُكَ وَ شَكَرْتُكَ﴾[1] يوه ورځ په موړ نس يم چې کله موړ يم ستا شکر به ادا کړم او يوه ورځ په وږي نس يم چې کله وږی سم پر دې به زه صبر وکړم.

يوه ورځ به شکر ادا کوم او يوه ورځ به صبر کوم، دا به زما د امت دپاره تسلي وي، په امت کې وروسته غريبان را روان دي که د هغوی په کور کې جامه نه وه، نو د هغوی به تسلي وي چې زموږ د رسول ﷺ په کور کې هم جامه نه وه، که د هغوی سره د بچيانو د دوا بندوبست نه وو، نو د هغوی به دا تسلي وي چې زموږ د رسول ﷺ په کور کې هم د غسې وختونه تېر سوي دي.

---

(۱) ترمذي شريف، حديث: ۲۳۴۷

که د هغوی په کور کي د خوراک څه بندوبست نه وو لوږي وې، نو د هغوی به دا تسلي وي چي زموږ د نبي ﷺ کور هم د غسي په لوږه تېرسوی دئ.
آخر پیغمبر ور ته وایي:

- بچیه! ﴿أَمَا تَرْضِيْنَ أَنْ تَكُوْنِيْ سَيِّدَةَ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ؟﴾ آیا په دې نه یې راضي چي د جنت د ټولو زنانو سرداره سې؟
- نو حضرت فاطمة الزهراء خوشحاله سوه او ویې ویل: ای د الله ﷻ رسوله! بس په دې باندي راضي یم.
- پیغمبر ﷺ ور ته وایي: د الله ﷻ د طرفه ما ته جبرئیل امین راغی چي ستا لور حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها به د جنت د ټولو زنانو سرداره وي([1]). حضرت فاطمې رضي الله عنها په دې شکل باندي زندګي تېره کړه.

## د حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها ځکندن او جنازه:

دا زناني د حضرت فاطمې رضي الله عنها لوښي دي، تاسو د هغې حیا وګورئ! د هغې عفت وګورئ! چي کله مرګ راغلئ، "حضرت علي" په یو کار پسي دباندي تللی وو نو "اسماء بنت عُمیس" چي د "حضرت جعفر طیار" کور والا ده هغه یې راوغوښتله دا یې ور ته وویل: زما د جنازې به داسي بندوبست وکړې چي په ټوله مدینه کي چا ته معلومه نه سي، او زما جنازه په ټوله مدینه کي څوک ونه ویني، چي سبا څوک دا و نه وایي چي د محمد ﷺ لور اوږده وه یا ګردی وه، د محمد ﷺ لور چاغه وه یا نری وه، په دې شکل به زما د جنازې بندوبست په نیمه شپه کي کوې چي په ټوله اهل مدینه کي زما په جنازه څوک خبر نه سي.
چي کله آخر وخت راغلئ حضرت علي رضي الله عنه دباندي تللی دئ، نو دې مبارکي خادمه را وغوښتله چي د غُسل اوبه برابري کړه، نو غسل یې وکړئ، خادمي ته وایي: زما چارپایي د خوني مابین ته راوړه! چي کله حضرت علي رضي الله عنه راځي په

([1]) البداية والنهاية، باب معجزات النبي ﷺ

دې وخت کې به زه وفات سوې يم او دا ور ته وو ايه: چې دې زناني ځپل غسل په ځپله وکړئ او ځپل مرګ ته يې ځان تيار کړئ. پر دې زنانه د غم کولو ضرورت نسته، د دې زناني د حياداري خيال وساته! د دې جنازه په پټه طريقه وکړه!

نو د حضرت فاطمې ﷺ جنازه د مرګ څخه وروسته دغه رنګه وه، حالانکې انسان مکلف نه دئ د مرګ څخه وروسته هغه د خپلې حياء دومره خيال ساتي.

حضرت اسماء بنت عُميس ﷺ ته وايي: زما جنازه به د شپې يوسئ چې په ټوله اهل مدينه کې زما پر جنازه باندې د چا نظر و نه موښلي[1].

نو دا زناني د حضرت فاطمې ﷺ لوني دي.

## د حضرت فاطمة الزهراء ﷺ پر پل صراط تېرېدل:

د قيامت په دوران کې رواياتو کې راځي: چې کله حضرت فاطمة الزهراء ﷺ پر "پل صراط" تېرېږي، نو د الله ﷻ د طرفه به يو منادي دا ندا (آواز) وکړي چې اې په قيامت کې را جمع سوو انسانانو! ټوله نظرونه کښته کړئ، د کائناتو هغه حياداره زنانه او د کائناتو هغه پاک دامنه او با عفته زنانه فاطمه بنت محمد رسول الله ﷺ پر پل صراط تېرېږي[2].

د قيامت په دوران کې به د هغې د عفت او پاک دامنی دغه حال وي.

## د فاطمة الزهراء ﷺ په جنت کې مرتبه:

چې کله جنت ته ورسيږي، نو روايت کې راځي: چې جنتيان به په جنت کې وي په جنت کې به يو نور پيدا سي چې د هغه نور په مقابل کې به ټوله جنت و دوی ته تاريک سي، نو ټول جنتيان به دا پوښتنه کوي چې يا الله! دا څنګه نور دئ؟ نو د الله ﷻ د طرفه به دا ندا (آواز) ور باندې وسي چې نن فاطمې بنت رسول الله ﷺ د حضرت علي ﷺ سره وخندل او د هغې غاښ ښکاره سو د خندا کولو

---

(1) بيانات جميل جلد ۳ صفحه ۱۷۹

(2) بيانات جميل جلد ۲ صفحه ۲۰۹

په وجه باندي. دا د هغې د غابن شغلې دي د هغې د غابن ر نا ده چي پر ټوله جنت د هغې د غابن د شغلو په وجه باندي خلګو ته تاريکه راغله.
نو د دې زنانو په دې سرور خلاص کړئ! چي د خداي ﷻ په خاطر تاسو خو د حضرت فاطمې رضي الله عنها اولاده ياست، حضرت فاطمې رضي الله عنها زندګي څنګه تېره کړه؟ تاسو خو لږ د حضرت فاطمې رضي الله عنها واده وګورئ! چي حضرت فاطمه رضي الله عنها په کوم شکل واده سوه، د هغې نکاح په کوم شکل وه، د هغې رواجونه د هغې زندګي تېرېدل په کوم شکل باندي وه، نو بايد دا زناني د هغې په نقش قدم باندي زندګي تېره کړي.

## د اصلي مقصد تذکره:

نو په دې وجه باندي د "علامه شمس الدين ذهبي" حديث ما در ته ووايه چي کومه زنانه چي هغه د بې پردګۍ په شکل باندي د خپل سر وربښتان ښکاره کوي او د نامحرمه انسانانو څخه د دې خپل سر د وربښتانو پرده نه کوي، نو د جهنم په کندو کي به دا د خپل سر په وربښتانو را ځړېږي او د دې د سر ماغزه به په دې سر کي داسي خوټکېږي چي د هغه ټکهاری به ټوله اهل قيامت اوري.
او کومه زنانه چي په ژبه باندي تيزي کوي او د خاوند په کور کي فساد جوړوي او خپل خاوند او د خاوند قريبانو ته په ژبه باندي تکليف ور رسوي، نو د هغې دپاره به سزا دا وي چي بيا به د جهنم په کندوکي (محمد رسول الله وايي:) په ژبه به را ځړېږي.
او کومه زنانه چي بې پردګي کوي او کومه زنانه چي د نورو پرديو نامحرمه انسانانو طرف ته ستر ګي کږوي، نو پيغمبر ﷺ وايي: چي هغه زنانه به بيا د قيامت په دوران کي د جهنم په کندوکي د خپل بدن په "تيو" باندي را ځړېږي.
او دري نوري زناني پيغمبر ﷺ يادي کړي دي، وخت چونکي مختصر دئ په را روانه جمعه کي که زندګي وه پر هغه به لږ خبره کوو. الله تعالی دي دا چند خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي. ﴿وَ آخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ﴾

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الایه)

# زناني باید څنګه ژوند کې تېره کړي

(بیان)

مولوي اطیع الله صاحب
استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:
مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دارالعلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه
کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صـاحب |
| مقـــــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود |
| اشــاعـت | ثخلـــــــــورم |
| تـاريــــخ | يكم ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق يكم مي ۲۰۱۸ |
| تـعــــداد | (۱۱۰۰) |

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْداً كَثِيراً طَيِّبًا مُّبَارَكًا فِيهِ مُبَارَكاً عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَ يَرضٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلامُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ خَيْرِ الْهُدىٰ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصحَابِهٖ نُجُوْمِ الْاِهْتِدَاء.

اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اِنَّ الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمٰتِ وَالْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ وَالْقٰنِتِيْنَ وَالْقٰنِتٰتِ وَالصّٰدِقِيْنَ وَالصّٰدِقٰتِ وَالصّٰبِرِيْنَ وَالصّٰبِرٰتِ وَالْخٰشِعِيْنَ وَالْخٰشِعٰتِ وَالْمُتَصَدِّقِيْنَ وَالْمُتَصَدِّقٰتِ وَالصّٰٓئِمِيْنَ وَالصّٰٓئِمٰتِ وَالْحٰفِظِيْنَ فُرُوْجَهُمْ وَالْحٰفِظٰتِ وَالذّٰكِرِيْنَ اللّٰهَ كَثِيْرًا وَّالذّٰكِرٰتِ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ مَّغْفِرَةً وَّ اَجْرًا عَظِيْمًا.(١)

وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلم: اَلدِّيْنُ النَّصِيْحَةُ(٢).

آمَنتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَولَنَا العَلِيُّ العَظِيمُ وَصَدَقَ رَسُو لُهُ النَّبِيُّ الكَرِيم وَنَحنُ عَلٰى ذٰ لِک مِنَ الشَّاهِدِينَ وَالحَمدُ لله رَبِّ العَالَمِينَ.

**تمهيد:**

محترمو مشرانو! په تېره جمعه کې ما تاسو ته د علامه شمس الدين ذهبي رحمة الله عليه د "الكبائر" کتاب څخه يو حديث را نقل کړی وو، د هغه حديث عنوان دا وو چې پيغمبر ﷺ د حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها کور ته راغلئ، حضرت علي رضي الله عنه وايي: چې موږ تولـه کورنئ ورته را ټول سوو، نو دې وخت کې پيغمبر ﷺ د ېر زيات ژاړي، نو ما پوښتنه څنې وکړه:

(١) سورة الاحزاب، آيت نمبر: ٣٥

(٢) الترغيب والترهيب، حديث نمبر: ٢٧٢٩

- يا رسول الله! هغه کوم شی دئ چي تا ژړا ته مجبوره کوي؟ او هغه ئې وجه ده چي د هغه په وجه ته ژاړې؟
- نو پېغمبرﷺ په جواب کي را ته وويل: چي ما د معراج په سفر کي د خپل امت زناني د جهنم په قسما قسم عذابو کي مبتلا وليدلې او چي کله زه د هغوی د دې عذابو فکر او تصور کوم، نو هغه فکر او تصور ما پر دې ژړا مجبوره کوي، د هغه په وجه زما زړه درد کوي او زما تر سترګو اوښکي راځي.

## په جهنم کي د زنانو مختلف عذابونه:

د دې څخه وروسته پېغمبرﷺ د هغو زنانو تفصيل په دا ډول بيان کړئ:

۱. ده مبارک وويل: په جهنم کي يوه هغه زنانه وه چي د سر په وربښتانو ځړېدله او په ډېر بد ترين عذاب کي مبتلا وه.
۲. دوهم هغه زنانه وه چي د جهنم په کنده کي په ژبه ځړېدله او په عذاب کښي اخته وه.
۳. دريم هغه زنانه وه چي د جهنم په کنده کي د بدن په نازکو اندامو يعني تيو ځړېدله.
۴. څلورم هغه زنانه وه چي د هغې پښې د هغې د تندي سره تړلي وې او لاسونه يې په څټ کي تړل سوی وه او د جهنم په سکروټو کي په بد ترين شکل سوځېدله او د سخت ترين عذاب سره مخامخ وه.
۵. پنځم هغه زنانه وه چي د هغې شکل د خنزير غوندي وو او د هغې پر بدن باندي د جهنم ماران او لړمان مښتي وه او دا د جهنم په سکروټو کي بې تابه او سرګردانه کړېدله.
۶. او شپږمه هغه زنانه وه چي د هغې رنګ د سپي په شکل وو او د جهنم د اور لمبې د هغې په خوله ننوتلې او د بدن د نورو اندامو څخه هغه لمبې

وتلې، او کومې فرښتې د جهنم چې وې هغه ور ته ولاړې وې او په بدترينو ګورزانو يې وهلې.

- پيغمبر ﷺ د دې زنانو تفصيل داسې بيان کړئ.

حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها د پيغمبر ﷺ لور مبارکه هم ناسته ده، نو هغه ور ته وايي: يارسول الله! ته دا تفصيل را که چې دا زنانې په دې دنيا کې په کومو بدو عملو اخته وې چې هغوی ته په جهنم کې داسې بد ترين عذاب او سزا ورکول کېده؟

## د عذابو تفصيل:

پيغمبر ﷺ ورته وايي:

۱. هغه اوله زنانه چې په جهنم کې د سر په وربښتانو ځړېدله دا هغه زنانه وه چې په دنيا کې يې داسې ژندګي تېروله چې د خپلو وربښتانو حفاظت پرده او ستر يې نه خوندي کوئ، د هغه په خاطر الله تعالی د دې لپاره دا سزا مقرره کړې وه چې دا به د سر په وربښتانو راځړېږي.

۲. دوهمه هغه زنانه وه چې هغه په ژبه راځړېدله، پيغمبر ﷺ حضرت فاطمې رضي الله عنها ته وايي: چې دې زنانې په دنيا کې د ژبې تيزي ډېره کوله چې د دې ژبې په خاطر يې خپل خاوند ته تکليف ور رسوئ. يا يې د خاوند قريبانو ته تکليف ور کوئ، نو د هغې سزا الله جل جلاله دا مقرره کړې ده چې دا به په قيامت کې د جهنم په کندو کې د ژبې په حصه راځړېږي.

۳. او دريمه هغه زنانه چې د بدن په دا نازکو اندامو يعني په تيو راځړېدله. نو پيغمبر ﷺ حضرت فاطمة الزهراء ته وايي: چې دا هغه زنانه وه چې په دنيا کې يې پرديو نامحرمو خلکو ته نظر کړوئ د هغې دا سزا ده چې الله تعالی په جهنم کې دې ته دا رنګه ژندګي او دارنګه عذاب ورکوي.

د دې دريو زنانو متعلق په تېره جمعه کې غالبًا موږ په تفصيل سره خبره کړې وه.

**د څلورمې زنانې د عذاب سبب:**

۴. څلورمه زنانه چې هغه په جهنم کې په داسې عذاب مبتلا وه چې پښې يې د تندي سره تړلې وې او لاسونه يې پر څټ باندې تړل سوي وه او د جهنم په سکروټو کې سوځېږي او د الله تعالیٰ له طرفه دغه سزا ورکول کېږي، دې زنانې په دنيا کې څه کړي وه.

او د دې زنانې په دنيا کې څنګه ژوندا او زندګي وه؟ څه يې عمل او څه يې طرز او طريقه وه؟ نو پيغمبر ﷺ ورته وويل: دې زنانې په دنيا کې دا رنګه زندګي تېروله چې د جنابت او حيض او نفاس په غسل کې يې تأخير او ځنډ کوئ، او د لمانځه په باره کې يې لاپرواهي کوله.

چې کومه زنانه د واجب غسل په باره کې ځنډ او تأخير کوي او تر څېل وخت يې ځنډوي او دا رنګه چې د لمانځه په باره کې لاپرواهي کوي، نو پيغمبر ﷺ وايي چې د هغې زنانې سزا دا وه چې د دې پښې د سينې او تندي سره تړل سوي وې او لاسونه يې پر څټ باندې تړل سوي وه او د جهنم په لمبو او سکروټو کې دا سوځېدله او خوټکېدله.

**د فرضي غسل د ځنډ اندازه:**

مسئله دا ده چې کله پر نارينه او زنانه باندې غسل واجب سي، نو د ټولو څخه اولیٰ طريقه دا ده چې نارينه او زنانه په هغه ساعت غسل وکړي، کچيري غسل و نه کړي بيا نو دوهمه بهترينه طريقه دا ده چې کم از کم اودس تازه کړي، د هغه څخه بعد بيا پرېوزي او ويده سي.

او کچيري اودس هم تازه نه کړي، نو دريمه طريقه بيا دا ده چې کم از کم انسان هغه د استنجاء ضرورت پر ځای کړي، لاسونه پريمنځي او په خوله او به وګرځوي بيا پرېوزي او آرام وکړي، که دا دريمه طريقه هم پر ځاي نه کړي.

نو بيا خو په کار دا ده چې نارينه د سهار په وخت کې د لمانځه څخه مخکې او د جماعت څخه مخکې د خپل غسل ضرورت پر ځای کړي او د خپل ځان لپاره چې کوم واجب يا د سنت په شکل جماعت دئ په هغه جماعت کې خلل او نقصان را نه ولي.
او زنانه بايد د لمر راختو څخه مخکې د خپل غسل ضرورت پر ځای کې، او بايد و خپل لمانځه ته تغير ورنه کړي.
ليکن کچيرې پر نارينه باندې غسل واجب سي، يا پر يو زنانه باندې غسل واجب سي او دغه انسان د لمر تر راختو او تر داسې وخته پورې چې د ده جماعت او لمانځه ته خلل ورسيږي هغه د غسل ضرورت پر ځای نه کړي، نو دا انسان که نارينه وي که زنانه وي په فرض غسل کې ځنډ او تأخير کوي، او د دې فرض غسل سره سره دا نارينه او زنانه د خپل لمانځه په باره کې هم لاپرواهي کوي.
نو پيغمبر وايي: چې دغه نارينه او زنانه چې کله په دغه عمل کې مبتلا وي، نو ما د جهنم په کندو کې په بدترين عذاب کې ليدلي دي، او د دوی لپاره په جهنم کې ډېر بدترين عذاب دئ(1).

## د حيض يا نفاس څخه د صفاوالي په صورت کې فورًا غسل:

يو زنانې ته د نفاس ناجوړي ورپيښه سي (نفاس هغه ناجوړي ده چې د بچې د پيدا کېدو څخه وروسته وي) يا يو زنانې ته د حيض ناجوړي وي چې د ښځو خپله مياشتنی ناجوړي ده،
نو چې کله د زنانې عقيده دا سوه چې اوس زما د صفا کېدو علامې ښکاره سوې، نو که د يو الله اکبر وخت د دې زنانې سره وي لا هم د دې وخت لمونځ پر دې زنانې باندې فرض دئ.

---

(1) اصلاحي بيانات جلد: ۱ صفحه: ۱۱۴

که څه هم په دې وخت کې دا زنانه نه غسل سره رسولای سي او نه لمونځ سره رسولای سي، صرف د یو الله اکبر وخت دا زنانې د دې وخت څخه نیولی دئ.
نو بیا په کار دا ده چې دا زنانه ولاړه سي او غسل وکړي، د غسل څخه وروسته د تېر وخت چې د یو الله اکبر وخت دې پیدا کړی وو د هغه وخت لمونځ به را وګرځوي؛ ځکه چې د هغه وخت لمونځ پر دې فرض سوی وو.
او که چیري دا زنانه د پاکۍ په علامو پوه سي او د دې د پاکۍ علامې او آثار ښکاره سي او دا د یوه الله اکبر څخه زیات وخت ونیسي.
نو بیا خو په طریقه اولی سره دا لمونځ پر دې فرض دئ(۱).

**د غسل د ځنډ شکل:**

لیکن کچیري یو زنانه وي مابنام د دې د صفاوالي علامې شروع سي او دا تر سهاره انتظار کوي، نو د مابنام څخه ونیسي بیا د سهار تر سپېدو پوري د ماخستن د لمانځه وخت دئ.
او دا زنانه د دې لمانځه خیال نه ساتي چې سهار سپېدې را و چوي دا د خپلې صفایي غسل وکړي، نو د ماخستن لمونځ پر دې فرض سوی دئ او دې قضاء کړئ او د ماخستن د لمانځه په باره کې دې لاپرواهي وکړه.
او کومه زنانه چې په دې فرض او واجب غسل کې ځنډ کوي او د لمانځه لاپرواهي کوي، نو پیغمبر ﷺ وایي چې د غه زنانې ته به الله تعالی په جهنم کې دارنګه سزاء ورکړي لکه پیغمبر ﷺ ویل: ما په جهنم کې په سترګو ولیدل چې د هغې پښې د هغې پر ځیګر او تندي باندي تړل سوي وې، د هغې لاسونه د هغې پر څټ باندي تړل سوي وه او په سخت عذاب کې مبتلاء وه(۲).

(۱) اصلاحي بیانات جلد: ۱ صفحه: ۱۱۳
(۲) اصلاحي بیانات جلد: ۱ صفحه: ۱۱۴

## چغلي كول هم د عذاب سبب دئ:

۵. پنځمه زنانه چي پيغمبر ﷺ وايي چي د هغې شكل په جهنم كي د خنزير په شان وو او د جهنم ماران او لړمان د هغې په بدن پوري موښتي وه، او دا يو طرف ته د جهنم د اور په خاطر او بل طرف ته د جهنم د مارانو او لړمانو په وجه باندي ډېره بې تابه او سرګردانه كړېدله.

- نو حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها ورته وايي: يارسول الله! د دې پنځم قسم زناني ګناه په دنيا كي څه وه؟ او څنګه زندګي يي كوله؟
- نو پيغمبر ﷺ ورته وايي: چي په دې زنانه كي دوه مرضه وه: يو په دې زنانه كي د چغلي مرض وو د خاوند خبره فلانكي ته كړې، د فلانكي خبره فلانكي ته كړې، د خواښي خبره د خواښي و زوى ته كړې، د زوى خبره و خپلي مور ته كړې.

## د چغلي شكل:

چغلي دې ته ويل كيږي چي انسان د بل خبري سره رسوي او په هغه كي يې مطلب او مقصد دا وي چي د دې خلګو په مابين كي چي كومه دوستي وي، كوم محبت او ښه زندګي وي هغه په دښمني، نفرت او خرابه زندګي بدله كړي.

## چغلخور الله تعالى جنت ته نه داخلوي:

او دا چغلي كه نارينه كوي او كه يې زنانه كوي د دې په باره كي پيغمبر ﷺ فرمايي: ﴿لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَتَّاتٌ﴾[1] زما په امت كي چغلخور قطعًا الله جل جلاله جنت ته نه داخلوي.

---

[1] بخاري شريف حديث نمبر: ۶۰۵۶

نو یو خو د هغه زنانې مرض دا وي چې هغه د خاوند په کور کې وي یا په هر کور کې چې وي دا ژوند په دا طریقه تېروي چې د هغه کور سکون او خوشحالي ور خرابوي.
د هغه کور هغه د محبت په طرز اوسېدونکي انسانان چې په خپل کور کې د محبت ژوند تېروي د هغه انسانانو ژوند د محبت بجای په نفرت وربدلوي، د هغه خلګو ښه نیت په بد نیت وربدلوي؛ ځکه چې دې په مابین کې دا د چغلۍ بد عمل شروع کړی دئ، نو الله تعالیٰ دغه زنانې ته بد ترینه سزا ورکوي.
په دې زنانه کې دوهم مرض دا وو چې دې زنانې درواغ ویل، ځکه چې دا چغلي کوي او د هغه سره لازمي خبره ده چې درواغ به وايي، د یو چا خبره په بل پورې تړلې بل ته درواغ ویلي او هغه مسلمان پرېشانه کړي او پر نورو مسلمانانو یې بدګمانه کړي.

## رشتیا ویل نیکي ده درواغ ویل فسق دي:

د پیغمبر ﷺ حدیث دئ: ﴿اِنَّ الصِّدْقَ بِرٌّ﴾ رشتیا که نارینه وايي او که یې زنانه وايي دا نیکي ده، ښه کار دئ او ښه عمل دئ ﴿وَ اِنَّ الْبِرَّ يَهْدِيْ اِلَى الْجَنَّةِ﴾ او ښه کار سړی جنت ته رسوي، که نارینه وي او که زنانه باید په خپل عمل کې د رشتیا عمل خپل کړي، ﴿وَ اِنَّ الْكَذِبَ فُجُوْرٌ﴾ دا درواغ چې تاسو وایاست دا فسق دئ، ګناه ده، جرم دئ او خطاء ده ﴿وَ اِنَّ الْفُجُوْرَ يَهْدِيْ اِلَى النَّارِ﴾(۱) او دا فجور سړی جهنم ته رسوي.
او پیغمبر ﷺ وايي: ﴿كَبُرَتْ خِيَانَةً اَنْ تُحَدِّثَ اَخَاكَ حَدِيْثًا﴾ چې زما په امت کې بد ترین خیانت هغه سړی کوي چې یو چا ته قصه کوي ﴿وَ هُوَ لَكَ بِهِ مُصَدِّقٌ﴾ هغه

(۱) مسلم شریف، حدیث نمبر: ۶۸۰۵

سړی دې په قصه کې رښتونی بولي ﴿وَ أَنْتَ كَاذِبٌ﴾(١) په داسي حال کې چې تاته خپل ځان در معلوم وي چې ته خو درواغجن یې.
یو سړی چا ته خبره کوي هغه غریب پر ده باندې د رشتیاګوی نیت راوړي، د رشتیاګوی اراده یې وي چې دا سړی ما ته رشتیا خبره کوي، لیکن دی کم نصیبه په خپل زړه کې په دې ښه خبر دئ چې زه خو په دې خبره کې درواغجن یم.

## احسان اچول هم د عذاب سبب دئ:

٦. او آخري شپږمه زنانه چې د هغې شکل په جهنم کې د سپي وو او د جهنم د اور لمبې راځي د دې په خوله ننوزي او د بدن د نورو اندامو څخه یې وزي او پر عذاب مقرره ملائکه یې د جهنم په ګرزونو باندې وهي او دا په جهنم کې بې قراره کړېږي.
– حضرت فاطمة الزهرا ﷺ ور ته وایي: یارسول الله! دې زنانې په دنیا کې څه کول؟ او ژندګي یې څه وه؟
– نو پیغمبر ﷺ ور ته وایي: دا هغه بد ترینه زنانه وه چې دې هم په دنیا کې دوه کاره کول:
۱. یو کار یې دا وو چې د چا سره به یې نېکي کوله، نو دستي به یې احسان هم پر اچوئ.
۲. او دوهم کار یې دا وو چې دې زنانې د نېکی او احسان سره سره د نورو زنانو یا نورو نارینه وو سره حسد او بغض کوئ.
ګورئ! دا دواړه عملونه یوازې د زنانو په حق کې نه دي ناروا، دا د نارینه وو په حق کې هم ناروا دي.
او دا احسان اچول زموږ په معاشره کې نن تر هر وخت زیات دئ، نارینه دي که زنانه دي چې د چا سره ښه وکړي دوهمه ورځ خامخا احسان پر اچوي.

(١) ابو داود، حدیث نمبر: ۴۹۷۱

قرآن کريم وايي: ﴿لَا تُبْطِلُوا صَدَقَاتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْأَذَىٰ﴾[1] خپل عملونه په احسان اچولو او تکليف ورکولو باندې مه ختموئ!

## د احسان اچولو وجه:

نن مصيبت دا دئ چې نارينه دي که زنانه چې د چا سره ښه کوي، نو د خدای ﷻ په خاطر يې نه کوي، په دې نيت يې کوي چې صبا به دی هم ښه را سره وکړي. که د غم پر موقع باندې د چا سره ښه کوي، که د ښادۍ پر موقع باندې د چا سره ښه کوي، او که هسې د چا سره ښه ژوند کوي، او که د چا سره ښه ګذاره کوي او احسان ور سره کوي، نو په دې نيت يې ور سره کوي چې صبا زه مجبوره سم نو دی به هم احسان را سره وکړي، او چې صبا دی مجبوره سي او هغه احسان نه ورسره وکړي.

نو ده چې په کوم نيت احسان کړي وو هغه نيت يې پوره نه سو، د خدای ﷻ لپاره خو هسې هم ده نه وه کړي، نو پر دې ځای دی ګيلو ته مجبوره سي چې ما خو په فلانی ورځ ستا سره دا وکړه، ليکن د هغه جواب تا نن په دې شکل را کئ.

نو دا احسانات که د نارينه وو له طرفه د نېکي کولو وروسته پر خلګو لويږي. که د زنانو له طرفه وي (ليکن عام طور د زنانو له طرفه زيات وي).

پيغمبر ﷺ وايي: کوم څوک چې پر بل چا باندې احسان اچوي، نو يو خو د نېکۍ ثواب يې ختم سو، دوهم مصيبت دا دئ چې الله تعالٰی به د احسان اچولو په خاطر جهنم د ده ځای کړي.

## د عذاب دوهم سبب حسد کول دي:

او دوهم مصيبت د زنانو دا دئ چې دوی حسد او بغض سره کوي.

حسد څه ته وايي او څنګه کېږي؟ حسد که نارينه کوي او که يې زنانه کوي دا ګناه کبيره ده.

[1] سورة البقرة آيت نمبر: ۲٦۴

الله تعالى فرمايي: ﴿أَمْ يَحْسُدُونَ النَّاسَ عَلَى مَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ﴾[1] ځکه چې دا د قرآن کریم په آیت ثابت دئ، په نص قطعي ثابت دئ.
د حسد، زنا، رشوت او سود په مابین کې یوه ذره فرق نسته، د دې ټولو بدوالی د قرآن کریم په آیاتو او قطعي نصوصو ثابت دئ.
حسد کېږي څنګه؟ او سړی یې کوي څنګه؟

## د حسد درې درجې دي:

### اوله درجه:

اوله درجه یې داده چې الله تعالى د یو چا سره احسان وکړي مال او دولت ورکړي، یا یو بل نعمت ورکړي، اوس زما په دې سړي حسد کېږي، نو زما په زړه کې دا راګرځي چې یاالله! ما ته هم دارنګه نعمت راکه! که د دې سړي سره وي ما ته یې راکړې خو ډېر بنه، که نه د ده څخه یې واخله ما ته یې راکه!

### دوهمه درجه:

دوهم درجه یې داده چې یاالله ﷻ د ده څخه یې واخله او ما ته یې راکړه! خو اول د ده څخه اخیستل د انسان په ذهن کې وي.

### دریمه درجه:

دریمه درجه داده چې یاالله! د ده څخه یې واخله ما ته که یې راکوې او که یې نه راکوې، خو چې د ده څخه واخیستل سي دا د انسان مقصود وي. دا تر ټولو بدترینه درجه د حسد ده.

---

[1] النساء آیت نمبر ۵۴

## حسد نيک عمل ختم کوي:

پيغمبر ﷺ وايي: ﴿اَلْحَسَدُ يَأْكُلُ الْحَسَنَاتِ﴾ حسد د انسان نېک عملونه داسې خوري ﴿كَمَا يَأْكُلُ النَّارُ الْحَطَبَ اَوِالْخَشَبَ﴾[1] لکه اور چې په وچو لرګيو يا وچو وښو کې ولګيږي.

لکه اور چې په لږ وخت کې دا وچ لرګي يا وچ وابنه ټول سره رانغاړي او ختموي يې او په ايرو يې بدلوي دارنګه حسد هم نېکۍ ختموي.

تا چې په زندګي کې څومره نېکياني کړي دي چې د خلګو سره حسد نه کوې دا حسد هم په داسې لږ وخت کې هغه ستا نېکياني داسې سره ټولوي او په ايرو يې بدلوي.

لکه څنګه چې د ايرو څخه يا سرې نفع نه سي اخيستی دارنګه دغه سړی هم د قيامت په ميدان کې د دغه نېکيانو څخه نفع نه سي اخيستی.

## د زناني لپاره جنت پيدا کول اسان دي:

ليکن ګوره! که يو طرف ته د زناني په حق کې د عذاب وعيدونه تاسي واورېدل خو بل طرف ته بيا د زناني لپاره په آخرت کې نجات پيدا کول هم اسان دي؛ ځکه چې د زناني پر ذمه د دين ډېر لږ احکام دي.

د زناني پر ذمه نه تجارت سته، د زناني پر ذمه نه زراعت سته، نه پر زنانه نوري دنيوي معاملې سته، نه دوکې ته مجبوره ده، نه خيانت ته مجبوره ده، نو د زناني هغه ذمه دارياني ډېرې لږ دي.

ليکن که دا کم نصيبه د ځان سره لږ احتياط په خپله زندګي کې وکړي، صرف خپل فرائض او واجبات ادا کړي او پر دا خپله ژبه لږ کنټرول را ولي، لږ تکليف پر ځان را ولي، نو الله تعالی دې زنانو ته هغه مرتبه ورکوي چې بيا يې د جنت وحورو ته هم نه ورکوي.

---

[1] شعب الايمان حديث نمبر: ٦١٨٦

## د زنانې په ژوند کې:

د زنانې ژوند په خپل کور کې په څه باندې ښائسته کیږي؟ زنانه چې په خپل کور کې اوسیږي باید په څه کې سوچ بند کړي، د زنانې دماغ باید د دنیا په لهو و لعب کې نه وي بند، د دنیا په زیب وزینت او د دنیا په امورو کې باید چې نه وي بند، زنانې له په کار داده چې د آخرت په باره کې لږ سوچ وکړي.

او ما درته وویل: چې د دې ذمه داریانې ډېرې لږ دي، په ډېر لږ عمل باندې الله تعالی ورنجات ورکوي.

## د رابعه بصريې رحمها الله واقعه:

زموږ په دې امت کې څنګه زنانې تیرې سوې دي، د هغوی سوچ او فکر په څه کې بند وو؟ حضرت رابعه بصریه رحمها الله زموږ په امت کې یوه زنانه تېره سوې ده، نن په دې کورو کې په زرو او لکو زنانې ناستې دي.

لیکن یوه زنانه هم په دې ټولو کې د دې مستحقه نه ده چې د هغې خبرې د کتابو په ورقو کې ولیکل سي، د هغې ذکر د تاریخ په صفحو کې راسي، لیکن په سووکلونه بعد زه وتاسو ته د رابعې بصریې رحمها الله خبرې پر منبر باندې کوم.

رابعه بصریه رحمها الله یوه زنانه وه، زنانه چې کله په یو کور او معاشره کې قدر او قیمت پیدا کوي، نو زموږ عقیده داده چې په څلورو شیانو یې پیدا کولای سي:

۱. یو په دې شکل زنانه قدر او قیمت پیدا کولای سي چې خانداني زنانه وي او د لوړ خاندان څخه وي.

۲. دوهم یې په دې پیدا کولای سي چې هغه زنانې ته الله تعالی حسن او زینت زیات ورکړی وي.

۳. دریم یې په دې پیدا کولای سي چې هغه زنانه مالداره وي، الله تعالی زیات مال او دولت ورکړی وي.

۴. څلورم زنانه په دې زيات قدر او قيمت پيدا کولای سي چې هغه زنانې ته الله تعالیٰ زيات بچې ورکوي، نو هغه زنانې ته د عزت او قدر په سترګه کتل کيږي، دا زموږ عقيده ده.

زموږ په معاشره کي چې يو زنانه قدر پيدا کوي هغه يې په دې شيانو پيدا کوي.

ليکن رابعه بصريه رحمها الله د هغې خاندان ته چې وګورې د هغې خاندان د غلامانو خاندان وو، ذا د مريانو په کورنۍ کي پيدا سوې وه او ټوله خاندان يې د دوهمې درجې خلګ وو، نو خانداني عزت خو نه وو ورسره.

د هغې سره مال او دولت په دې شکل وو چې په کومه شپه دا په دې کور کي پيدا سوه په دې شپه دومره تېل په دې کور کي نسته چې دې ته د . ټا کولو لپاره څراغ بل سي او هغه بچې چې کله د مور څخه بېليږي نو نوم (نوه) ور پرې کوي او بيا غوړي ور باندي اچوي په دې کور کي دومره غوړ نسته چې د دې پر نامه يې ور واچوي، نو مال او دولت يې په دې شکل وو.

ښائست يې په دې شکل وو چې په ذات حبشي وه، حبش خلګو ليدلي دي چې تک تور غټ شونډان او پيچلي ورېښتان يې وي.

نو خاندان يې د غلامانو خاندن دئ، په مال او دولت کي په دې درجه ده او په ښائست او زينت کي په دې درجه ده، او بچې يې تر مرګه پوري نه وسو، د بچې څخه عقيمه وه.

عقيمه و هغه زنانې ته ويل کيږي چې اولاد يې نه کيږي(۱).

## د رابعې بصريې رحمها الله په خپل کور کي د خاوند سره ګذاره:

د حضرت رابعې بصريې رحمها الله خاوند په ځوانۍ کي مړ سو، دې به د خاوند سره څنګه ګذاره کوله؟ د شپې به يې غسل وکړئ، نو رابعه رحمها الله به خاوند ته ودرېدله چې حضرت زما څه ضرورت سته؟ چې کله به هغه ور ته وويل: چې ستا

(۱) بيانات جميل جلد ۳ صفحه ۱۶۹

څه ضرورت نسته، نو دې به ورته وويل: چې ما ته اجازه را کړه! نو هغه به اجازه ورکړه، بيا به دې پر مصله باندې ټوله شپه د خدای ﷻ سره په رابطه کې تېره کړه([1]).

## د حسن بصري رحمة الله عليه ورابعې بصريې رحمها الله ته د نکاح پيغام:

چې کله يې خاوند وفات سو، نو اوس د دې رنګه زنانې سره نکاح کولو ته څوک تيار دئ؟ ليکن د وخت امام، د وخت ولي، د وخت مفسر او محدث، د وخت مجاهد حضرت امام حسن بصري رحمة الله عليه پخپله ورته راغلئ.

د حضرت رابعې رحمها الله دور او زمانه د امام حسن بصري رحمة الله عليه دور دئ، د حسن بصري دور د نن څخه (۱۲۰۰) کاله مخکې تېر سوی دئ.

نو حسن بصري رحمة الله عليه پخپله راغلئ او د نکاح پيغام يې ورکړئ چې ای رابعې! زما سره نکاح وکه! او دا يې د ځان لپاره ډېره لويه نېکبختي او خوش قسمتي بلله چې رابعه زما سره نکاح کولو ته تيار سي.

## د رابعې بصريې رحمها الله څلور سوالونه پوښتل:

چې کله ده د نکاح کولو پيغام ورکړئ، نو دا ورته وايي:

- ای امامه! زما په څلورو خبرو کې سوچ او فکر بند دئ او د هغه خبرو جواب در څخه غواړم، کچيرې ته د دې څلورو خبرو جواب ما ته را کړې، نو زه نکاح کولو ته تياره يم.

ليکن که د دې خبرو جواب ما ته را نه کړې زه د هغه څلورو خبرو په غم اخته يم په خدای قسم چې نه په نکاح پوهېږم او نه په بل څه پوهېږم.

- حسن بصري رحمة الله عليه ورته وايي: څنګه خبرې دي؟
- دا ورته وايي:

---

([1]) بيانات جميل جلد ۲ صفحه ۱۷۰

- **اوله پوښتنه**: اول مي په دې کي دېر سوچ بند دئ چي کله د قيامت په ورځ عمل نامې را وا لو زي، نو زما عمل نامه به په راسته لاس کي راسي که په چپه لاس کي؟
- حضرت حسن بصري رحمة الله عليه ور ته وايي: چي د دې علم خو نسته را سره.
- **دوهمه پوښتنه**: په کومه ورځ چي اعمال وزن کيږي، نو زما به د نېکی پله درنه وي او که به د بدی پله درنه وي؟
- هغه ور ته وايي: د دې جواب هم را سره نسته.
- **دريمه پوښتنه**: رابعه بصريه ور ته وايي: چي په کومه ورځ چي خلک پر پل صراط تېريږي آيا زه به پر پل صراط باندي تېره سم او که به په دوږخ کي ولوېږم؟
- دی ور ته وايي: د دې جواب هم را سره نسته.
- **څلورمه پوښتنه**: دا بيا ور ته وايي: چي څلورمه پوښتنه مي دا ده چي زما قسمت به په جنتيانو کي ليکلی وي او که به په دوزخيانو کي ليکلی وي؟
- حسن بصري رحمة الله عليه ور ته وايي: د دې خو هم څه جواب را سره نسته.
- نو دا ور ته وايي: اي د وخت امامه! په خدای جل جلاله قسم په دا څلورو خبرو کي داسي مشغوله يم، او داسي فکرمنده يم چي نه په ورځ پوهېږم او نه په شپه پوهېږم، نو اي د وخت امامه! ستا په نکاح او دوستی به څنګه پوه سم، چي زه دي ستا سره نکاح وکړم(۱).

نو يې حسن بصري رحمة الله عليه بيرته جواب کړئ او نکاح يې ور سره و نه کړه.

---

(۱) بيانات جميل جلد ۲، صفحه ۱۷۱

## د رابعې بصرۍ رحمها الله وفات:

دا بي بي چي کله وفات کېږي، نو خپلې خادمې ته وايي چي په کومه کمبله او ګودړۍ کې ما په کلو کلو د الله ﷻ ذکر کړی دئ په هغه ګودړۍ کې به ما ته کفن را کړئ او د شپې په نيمه حصه کې چي څوک نه وي چي په يو رقم د رقمو کيږي ما به ښخه کړئ، سهار کچيري خلګو زما پوښتنه وکړه، نو ور ته وايه چي د مځکې يو بوج وو خداى ﷻ د مځکې څخه واخيستئ.

تاسو خو دې ته وګورئ! رابعه بصريه رحمها الله هم ځان پر دې مځکه بوج بولي.

کومې زنانې چي د هغوی تنديان د سجدو څخه خالي دي، کومې زنانې چي د هغو سترګې د حيا څخه خالي دي او کومې زنانې چي د هغې په غوږو کې د موسيقي زهر پراته دي او هغه زنانې چي د خاوندانو په کورو کې يې اور بل کړی دئ او د مور او پلار او د خاوند نافرمانه دي هغه ځان د مځکې پر مخ بوج نه بولي.

ليکن رابعه رحمها الله خپلې خادمې ته وايي: که يې چا پوښتنه در څخه وکړه ور ته وايه چي د مځکې پر سر يو بوج وو الله تعالى پورته کړئ. نو هغه خادمې يې په هغه خپله ګودړې کې کفن ور کړئ او ښخه يې کړه.

## رابعه بصريه رحمها الله په جنت کې ليدل:

څه زمانه وروسته يې خادمه په خوب کې وينې چي بي بي رابعه رحمها الله په يو ډېر اعلى پوښاک او د جنت په جامو کې را روانه ده، نو خادمه ور ته وايي:

- چي الله تعالى څه در سره وکړه او په قبر کې سوال او جواب څنګه درسره وسو؟
- دا بي بي ور ته وايي: چي کله په قبر کې نکير او منکر راغلل، نو ما ته وايي: ﴿مَن رَّبُّكَ﴾ رب دې څوک دئ؟ نو ما ور ته وويل: چي افسوس چي

په څلوېښت کاله زندګي کي يو منټ او دقيقه زما رب ﷻ را څخه هېر نه سو.

اوس چي دوه لاسه تر مځکه را لاندي سوم اوس به څنګه زما رب ﷻ زما څخه هېر سي، نو هغه يوه ملائکه هغه بلې ته وايي: چي د دې بي بي څخه نور د پوښتني ضرورت نسته(١).

نو ګوره! په دې امت کي حضرت رابعه بصريه رحمها الله غوندي زناني تيري سوي دي چي د هغې تو له زندګي په دې شکل وه.

نو ما درته وويل: چي د زناني دپاره د خاوند په کور کي په کار دا دي چي په دغه شکل زندګي تېره کړي، او د دې د زندګي سوچ او فکر چونکه د نورو معاملاتو څخه خلاص دئ د دنيا څخه خلاص دئ، د دعوو او جګړو څخه خلاص دئ.

نو دا زنانه کم نصيبه که دې طرف ته خپل سوچ او فکر را وګرځوي کمو څلورو خبرو کي چي رابعې بصريې رحمها الله خپل سوچ او فکر بند کړی وو دا هم دا خپل سوچ او فکر بند کړي، نو الله تعالی دې زناني ته د جنت د حورو څخه هم زياته مرتبه ورکوي.

## د جنتي زناني ښائست:

د جنتي زناني ښائست د جنت د حورو څخه اويا زره (۷۰۰۰۰) واره زيات دئ.

د جنت حورو ته چي الله تعالی څومره ښائست ورکړی دئ؟ ليکن دا زنانه بيا د جنت تر حورو اويا زره واره زياته ښائسته کيږي، چي کومه زنانه په دنيا کيږه دې شکل زندګي تېره کړي.

## د جنتي حوري ښائست:

جنتي حوري ته چي الله ﷻ څومره ښائست ورکړی دئ هغه د دې روايت څخه معلوميږي:

(١) ماخوذ از خطبات جميل، جلد نمبر: ۲، صفحه نمبر: ۶۰

الله ﷻ حضرت جبرئیل ﷺ ته وویل: چې یو ځل جنت ته ورسه! حضرت جبرئیل ﷺ چې جنت ته ورننوتئ، نو په جنت کي یو شغله پورته سوه یو رڼا پورته سوه.

د حضرت جبرئیل ﷺ دا عقیده سوه چې د الله تعالی دیدار دئ او د الله تعالی د ذات تجلي او شغلې دي، نو حضرت جبرئیل ﷺ ژر پر سجده پرېوتئ؛ ځکه چې حضرت جبرئیل تر سدرة المنتهٰی پوري رسېدای سي د هغه ځخه پورته د ده سفر نسته او هلته پورته بیا د الله تعالی د ذات تجلی وي دي او هلته بیا څوک ورتلای نه سي، نو د جبرئیل امین عقیده دا سوه چې د الله تعالی د ذات تجلی ده، نو ځکه پر سجده پرېوتئ.

یو ساعت بعد د الله تعالی د طرفه څخه بلاکیف آواز وسو:

- ﴿اِرْفَعْ رَأْسَكَ يَا رُوْحَ الْأَمِيْنَ﴾ جبرئیل امینه! سر را پورته که څنګه پرسجده پرېوتې؟
- دَی ورته وایي: یاالله ﷻ! ستا د دیدار تجلی ده چې په حالت د سجدې کي یې وکړم.
- الله تعالی ورته فرمایي: نه، زما دیدار او نه زما د دیدار تجلا ده، صرف د جنت یو حوري وخندل د هغې غاښ ښکاره سو او د هغې د غاښ څخه په ټوله جنت کي برېښناوي او رڼاګاني خورې سوې.

د جبرئیل امین دا عقیده سوه چې د الله تعالی د ذات تجلی وي دي، نو په دې وجه دَی پر سجده ورته پرېوتئ.

په جنت کي د جنت د حورو دغه زینت او ښائست دئ، لیکن کومه زنانه د دنیا چې مؤمنه مسلمانه وي او د الله تعالی پر دین باندي زندګي تېره کړي او د ګناهونو څخه ځان وساتي، نو الله تعالی د جنت د دغه حورو څخه زیات زینت او ښائست ورکوي.(۱)

(۱) ظرائف و لطائف، ص: ۳۲۲

## د دنيا د نېکو زنانو حسن د جنت د حورو په پرتله:

ام سلمهﷺ د پيغمبرﷺ د کور زنانه ده او زموږ د ټولو مور ده. هغه يوه ورځ د پيغمبرﷺ څخه پوښتنه کوي او ورته وايي:

- اى د الله جل جلاله رسولهﷺ! دا را ته ووايه چي په جنت کي د جنت حورو ته زيات زينت ورکول کيږي او که د دنيا و زنانو ته ډېر زينت ور کول کيږي؟
- نو پيغمبرﷺ ور ته وايي: ﴿بَلْ نِسَاءُ الدُّنْيَا يَا أُمَّ سَلَمَةَ﴾ اي ام سلمې د دنيا زنانوته الله تعالٰى زيات ښائست او زينت ورکوي، هغه زينت بيا د جنت د حورو په نصيب نه وي.
- نو ام سلمهﷺ بيا پوښتنه ځني کوي چي يارسول اللهﷺ! د جنت حوره د مشکو، کافورو او عنبرو څخه جوړه ده او دارنګه چي څومره خوشبوياني دي د دوى جسم ټول د هغه څخه جوړ دئ او موږ د خاورو څخه جوړي يو.

نو د هغوى د جوړېدو ماده ډېره لوړه ده او زموږ د جوړېدو ماده ډېره کښته ده اي د الله جل جلاله رسولهﷺ! دا را ته ووايه چي په جنت کي به د جنت د حورو ډېر زينت وي که به د دنيا د زنانو ډېر زينت وي؟

- پيغمبرﷺ بيا ور ته وايي: ﴿بَلْ نِسَاءُ الدُّنْيَا أَحْسَنُ﴾ د دنيا زناني به ډيري ښائسته وي.
- ام سلمهﷺ پوښتنه ځني کوي: اي د الله جل جلاله رسولهﷺ! په څه وجه باندي؟
- دَى مبارک ور ته وايي: ﴿بِصَلَاتِهِنَّ وَ عِبَادَاتِهِنَّ وَصِيَامِهِنَّ﴾ د جنت حورو نه روژي نيولي دي، نه يې عبادتونه کړي دي او نه يې لمونځونه کړي دي. او د دنيا زنانو دا ټول عبادتونه کړي دي د دې په وجه به الله تعالٰى دوى ته ډېره زياته خوبصورتي او حسن ور کړي.

څنګه خوبصورتي به ورکړي؟ ﴿أَلْبَسَ اللهُ وُجُوهَهُنَّ النُّورَ﴾ مخان به يې الله تعالی د نوره جوړ کړي ﴿وَ أَجْسَادُهُنَّ الْحَرِيرُ﴾ او په بدن به يې الله جَلَّ جَلَالُهُ وربښم ور واغوندي.
يو کتاب کي راځي چي وربښم به دا رنګه وي چي د دې جنتي زناني د جنت د قميص چي کومه لمن جوړه ده د وربښمو څخه دا به د دې زناني درې ميله په درې ميله کي وي او د جنت حورو او د جنت خادمانو به ور سره پورته کړې وي.
ليکن اوس د سړي په دې سر نه خلاصيږي چي درې ميله په درې ميله کي د زناني د قميص لمن وي، ليکن حقيقت دا دئ چي نه د خادمي ضرورت سته نه د جنت د حوري ضرورت سته؛ ځکه هغه لمن چي جوړه ده هغه نه د وربښمو څخه جوړه ده، نه د کپړي څخه جوړه ده.
هغه صرف د الله تعالی د نور څخه جوړه ده، نور نه درونډوالی لري، نه وزن لري، نه بوج لري او نه تلل کيږي، نو په دې وجه به د دې لمن درې ميله په درې ميله کي ځړيږي.
﴿وَصُفْرُ الْحُلِيِّ﴾ الله تعالی به سونا (سره زر) ور په لاس کړي ﴿وَخُضْرُ الْحُلَلِ﴾ الله جَلَّ جَلَالُهُ به يې تولي جامې د بناسته وربښمو څخه کړي ﴿وَمَجَامِرُهُنَّ الْعُودُ﴾ او د دې په لاسو کي به د عودو د لرګيو څخه (يو قسم خوشبويه لرګي دي) رمونځي په لاس کي وي، او د سر وربښتان به يې دومره اوږده وي چي پر پښو او پر بجلکو به يې پراته وي.(١)
دا به د جنت د زناني چي کومه مسلمانه زنانه په دنيا کي ښکه زندګي تېره کړي. نو الله جَلَّ جَلَالُهُ به په جنت کي دې ته دا حسن ورکړي، دا به زينت ورکړي، او دا به مرتبه ورکړي.

(١) البداية والنهاية، باب صفة الحور العين وبنات آدم، صفحه نمبر: ۲۲۷

## د دنيا د نېکو زنانو د جنت د حورو سره مقابله:

يو طرف ته به د جنت حوري راسي او بل طرف ته به د دنيا نيکي زناني وي، په خپل مابين کي به د دوی سره دعوه سي، د جنت حوري به ور ته وايي: ﴿نَحْنُ بَنَاتُ الزِّيْنَةِ وَالشَّكْلِ وَالْبَهَاءِ وَمَسْكَنُنَا الْفِرْدَوْسُ الْمُخَلَّدُ﴾ موږ هغه ښائسته زناني يو، هغه شکل داره زناني يو چي سکونت مو تېول په جنت الفردوس کي سوی دئ. موږ ته الله تعالی جمال راکړی دئ.

موږ ته الله تعالی زينت او حسن راکړی دئ او زموږ ټوله استوګنه په جنت کي سوې ده او د دنيا زنانو ته به وايي: ﴿أَ إِنَّكُمْ لَسْتُمْ خَرَجْتُمْ مِنَ الْأَرْضِ؟﴾ تاسو خو د مځکي څخه پيدا سوي ياست. ﴿وَ مَأْوَاكُمُ الْمَرْقَدُ﴾ ستاسو سکونت خو په قبرو کي سوی دئ.

نو تاسو څنګه زموږ په مقابل کي را پورته کيږئ او وایاست چي الله تعالی موږ ته ډېر زينت راکوي؟

او بل به د جنت حوري ور ته وايي: چي موږ هغه بناتي يو چي موږ تر اوسه پوري قبر نه دئ ليدلی، موږ هغه بناتي يو چي موږ تر اوسه پوري مرګ نه دئ ليدلی، موږ هغه زناني يو چي موږ تر اوسه پوري د ځواني بجای سپين سروالی نه دئ ليدلی، تاسو خو د خاورو څخه پيدا ياست او په خاورو بيرته ننوتلي ياست او اوس د خاورو څخه را وتلي ياست بيا هم تاسي زموږ په مقابل کي دا وایاست چي الله ﷻ موږ ته ډېر حسن او زينت راکړی دئ؟(١)

## د دنيا د جنتي زنانو فخر:

ليکن د دنيا نيکي زناني به ور ته وايي: ﴿نَحْنُ الْمُصَلِّيَاتُ فَمَا صَلَّيْتُنَّ﴾ موږ خو لمونځونه کړي دي او تاسو لمونځونه نه دي کړي: ﴿نَحْنُ الصَّائِمَاتُ فَمَا صُمْتُنَّ﴾ موږ

(١) صفة الجنة للضياء المقدسي حديث نمبر: ١١٩

روژې نيولي دي، ستاسو روژې کومي دي؟ ﴿نَحْنُ الْمُتَوَضِّئَاتُ وَمَا تَوَضَّأْنَ﴾ موږ خو دېر اودسونه کول ستاسو اودسونه کمه دي؟
نو حضرت عائشه مبارکه وايي: چي د دې زنانو لمونځونه اودسونه او د دې زنانو عبادتونه د الله ﷻ په حضور کي دومره قدر لري چي الله تعالی به د دوی د دې عبادت په وجه دوي د جنت پر حورو غالبه کړي.
نو زموږ د دې دنيا زنانو ته دومره زينت ورکول سوی دئ چي د هغه زينت شمار به د حورو د زينت اويا زره (۷۰۰۰۰) مقداره وي يعني چي کوم زينت او حسن د جنت و حورو ته ورکول سوی دئ د هغه زينت لويا زره (۷۰۰۰۰) واره زينت به د دنيا ښځي ته ورکول سي.
نو کومه زنانه چي په دنيا کي ښه زندګي تېره کړي، او د خپل خاوند کوز امانت وبولي او د هغه حفاظت وکړي او د خپل خاوند په کور کي سکون، اطمنان او وقار پر ځای کي، نو و هغه زناني ته الله تعالی په جنت کي د جنت د حورو څخه هم زياته درجه ورکوي، هم زيات مقام ورکوي، هم زيات ښائست او حسن ورکوي.(۱)

## د خاوندزړه خپلول:

زنانه بايد په بد اخلاقی نه بلکه په ښو اخلاقو د خاوند زړه ځان ته را نژدې کړي. زنانه چي په محبت او ښو اخلاقو د خاوند زړه و ځان ته نه سي را نژدې کولای نو هغه زنانه په زور او جبر سره هم بيا خاوند و ځان ته نه سي را نژدې کولاي او چي د اخلاقو او ښې زندګی پر ځای د خاوند په مقابل کي زور او جبر استعمالوي دا د زناني انتهايي ناداني ده.

(۱) الدرالمنثور: ۳۳۴

کله چې د خاوند سره په ژبه نه پوهیږي، نو دا زنانه وایي: چې زه به ورور ته ووایم، نو خاوند به پر لاره را سیده کړي، زه به پلار ته ووایم، زه به فلاني قریب ته ووایم، زه خو څه میراث نه یم.
زه فلانکی او فلانکی لرم دا د نفرت خبري دي؛ ځکه چې د دې او د خاوند په مابین کې داسې وصل دئ کچیري بل څوک مابین ته را واچوي که هغه د ورور په شکل وي که د پلار یا بل قریب په شکل وي په دې سره فاصله په مابین کې سره زیاتیږي د خاوند او د دې په مابین کې آخر نوبت طلاق ته رسیږي.
نو د زنانې د خاوند په کور کې لویه دانایي او هوښیاري دا ده چې هغه ښځه د خاوند د کور خبري د خاوند په کور کې وساتي، بس نو بیا به د هغې ژوند په عزت وي او د خاوند سره زندګي به په سکون، اطمنان او وقار سره وي.

## د خاوند د کور تکلیف برداشتول:

او چې د خاوند په کور کې پر دې کوم تکلیف راغلئ یا ستړیا راغله، نو د دې دپاره په کار دا ده چې هغه تکلیف د ځان دپاره د ډېرو مرتبو سبب وبولي چې الله ﷻ به ما ته په دې باندې ډېر لوړ مقام، درجه او مرتبه را کوي.
کله چې الله تعالی پر یو انسان باندې یو تکلیف کښیږدي، نو الله تعالی د هغه تکلیف په وجه د ده درجات ور بلنده وي.

## مجاهده دوه قسمه ده:

مجاهدات چې انسان کوي انسان الله تعالی ته نژدې کوي دا دوه قسمه دي: یو اختیاري دي چې انسان په خپل اختیار عبادتونه کوي، او بل اضطراري دي چې الله تعالی انسان په تکلیف کې مبتلا کړي او په هغه د صبر توفیق ور کړي او په هغه تکلیف انسان لوړي درجې ته ورسوي.

نن صبا خلګ اختياري مجاهدات او عبادات نه کوي، نو الله ﷻ اضطراري مجاهدات پر راولي، مصيبت پر راولي ستړياوي يا غمونه پر راولي او د هغه په وجه يې لوړي درجي ته ورسوي.

## د يو زناني د تکليف واقعه:

په "بکھرے موتی" کي مولانا يونس "پالنپوري" صاحب ليکلي دي: چي يو ډېره نېکه او عبادت ګذاره زنانه وه، ډېره عابده، تلاوت کونکي او ذکر او اذکار والا زنانه وه، نو دې د ډېره وخته دا تمنا درلوده چي د پيغمبر ﷺ ديدار په خوب کي الله تعالى را نصيب کړي، د دې دپاره يې ډېر عملونه او عبادتونه وکړل، ليکن نصيب يې نه سو.

د دې زناني خاوند هم چونکه صوفي مسلکه سړى دئ، نو خاوند ته وايي:

- حضرت! يو داسي دم او درود خو راوښيه چي يو ځل مي د پيغمبر ﷺ ديدار په خوب کي نصيب سي.
- نو هغه ورته وايي: دم او درود خو درښيم ليکن زما خبره به منې!
- دا ورته وايي: بالکل يې منم.
- هغه ور ته وايي: اى زناني! نن شپه به ځان داسي جوړوې لکه د اولي شپې ناوې په دا شکل به ځان ښائسته کوې، نو بيا په دې شرط زه تا ته دا وظيفه درښيم چي الله تعالى به د پيغمبر ﷺ ديدار په خوب کي در نصيب کړي.

حالانکه په دې وخت کي د خاوند او زناني عمر ډېر زيات دئ او دواړه د زاړه عمر انسانان دي.

زناني چي کله د خاوند خبره پر ځاى کړه او ځان يې د ناوي په شکل جوړ کړئ خاوند يې ورغلئ د دې زناني د ورور کور يې نژدې و، نو ورور ته يې ګيله وکړه چي راسه ستا خور په دې عمر کي ځان په کوم شکل جوړ کړى دئ، ځان يې د

ناوي په شکل جوړ کړی دئ او زه سپين ږيری يم او بدن مي کمزوری دئ په دې وخت کې دا زما څخه دا مناسبتونه غواړي.
نو هغه ورور چي راغلئ هغه خورته په غصه سو چي ای زناني! ستا د دې عمر نه دئ او ستا د خاوند د دې عمر نه دئ، نو د هغه زناني زړه ډېر درد وکړئ ډېر زيات يې وژړل؛ څکه چي دې په کوم نيت کړی وو او څه وسوه، نو په هغه ژړا کي پر هغه ځای بيده سوه په خوب کي د پيغمبر ﷺ ملاقات ورنصيب سو.
پيغمبر ﷺ په خوب کي ورته راغلئ او د پيغمبر ديدار يې وکړئ، نو خاوند ته وايي:

- تا خو ما ته وظيفه نه راښوولهنن ما ته خودبخود د پيغمبر ﷺ ملاقات را نصيب سو.
- نو هغه ورته وايي: ای کم نصيبي دا اوس هم زما وجه وه ما په کور کي ستا سره دارنګه زندګي کوله چي تر اوسه دي زما د وجه څخه تکليف نه وو ليدلی، نو ما ويل چي د دې درجې لږ کمي دي تر اوسه يې تکليف نه دئ ليدلی، زړه يې نه دئ مات سوی او د غم او مصيبت په وجه يې ژړا نه ده کړې، نو په دې وجه يې درجه کمه ده او د پيغمبر ﷺ ديدار يې نه نصيب کېږي.

نو نن مي ستا د تکليف په خاطر دا درسره وکړه چي ستا زړه يو څه مات سي او ستا زړه درد وکړي او ستا د سترګو څخه اوښکي راسي، نو بيا به ته هغه درجې ته ورسېږې چي د پيغمبر ﷺ ديدار دي نصيب سي.
ما درته وويل: چي کله پر زنانه باندي د خاوند په کور کي تکليف راسي پر زنانه باندي د خاوند په کور کي پرېشاني او يو څه غم راسي، نو هوښياري او عقلمندي د زناني به دا وي چي دا به د ځان دپاره د خپلو لوړو درجو سبب بولي او د ځان دپاره به يې د الله تعالی د قرب يو ذريعه بولي؛ ځکه چي پر زنانه باندي خاوند درونډ حق لري.

## پر زنانو د خاوند زيات حق دئ:

تاسي عام طور اورئ چي پيغمبر ﷺ وايي: که د الله ﷻ څخه ماسوا بل چا ته سجده روا واي، نو ما به زنانې امر کړي واى چي خپلو خاوندانو ته سجده وکړي.

مولانا پير ذوالفقار احمد نقشبندي مدظله العالي ليکلي دي: کچيري د خاوند ټوله بدن داني داني سي او د هغه څخه ويني او زوي را وځي او زنانه بل کار پريږدي، ټوله ورځ دا بدن ور څټي او په ژبه دا بدن ور صفا کوي لا هم دا زنانه د دې خپل خاوند حق نه سي ادا کولای.

نو کله چي خاوند پر زنانه دوني زيات حق لري، نو بيا د زنانې دانايي دا ده چي خاوند په مينه او محبت ځان ته را کش کړي.

خاوند که د مور په خدمت خوشحاله کيږي، نو په کار دا ده چي د مور خدمت يې وکړي او که د پلار په خدمت خوشحاله کيږي، نو بيا په کار دا ده چي د پلار خدمت يې وکړي.

او که په بله کومه طريقه خوشحاله کيږي په کار دا ده چي په هغه طريقه محبت او اخلاقو سره د خاوند زړه ځان ته را خپل کي دا به د زنانې دپاره د دنيا د خوشحالۍ هم لويه ذريعه وي او په آخرت کي به يې هم د الله تعالیٰ قرب په نصيب سي.

## زنانه هم پر خاوند زيات حق لري:

ليکن ګورئ! خبره يک طرفه نه ده چي بس خاوند پر زنانه حق لري زنانه هيڅ حق پر خاوند نه لري، بلکه زنانه هم پر خاوند حق لري، که زنانه د خاوند د حق نه پر ځاى کولو په خاطر جهنم ته رسيږي په خداي ﷻ قسم خاوند هم د زنانې د حق نه پر ځاى کولو په خاطر جهنم ته رسيږي.

الله تعالی په قرآن کريم کي فرمايي: ﴿وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ﴾(۱) د دې زنانو سره به زندګي په ښه طريقه تېروئ!

محدثينو رحمهم الله ليکي: ﴿وَ فِيهِ تَعْلِيمُ الإِحْسَانِ مَعَ النِّسَاءِ وَالرِّفْقُ بِهِنَّ﴾ په دې کي الله جل جلاله موږ ته دا تعليم را کوي چي د زنانو سره احسان کوئ ﴿وَالصَّبْرُ عَلَى أَعْوَجِ أَخْلَاقِهِنَّ﴾ د دوی پر دې کږو اخلاقو باندې صبر کوئ ﴿لِاحْتِمَالِ ضَعْفِ عُقُولِهِنَّ﴾(۲) ځکه دا احتمال سته چي د دې غريبانو عقل کمزوری دئ د دوی څخه خامخا کمزوري او ناداني کيږي او په کور کي کمزوري خبري ځني کيږي، نو که تاسو لوړو درجو ته ځان رسوئ، نو د دې زنانو پر دې خبرو به پرده اچوئ او پر دې باندې به صبر کوئ.

الله تعالی څه وايي؟ ﴿وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ﴾(۳) کوم حق چي پر زنانه ته لرې د غونده حق زنانه هم پر تا لري.

په دې مه خطا وزه چي د زناني سجده و ما ته روا ده او زنانه زما مينځه ده، بلکه دا هم د الله تعالی مخلوق ده لکه ستا چي څومره حق پر دې زنانه دئ هغومره حق د دې زناني هم پر تا سته.

## د زناني په حق کي د پيغمبر ﷺ حديث:

پيغمبر ﷺ وايي: ﴿خَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لِأَهْلِهِ﴾ په تاسو کي بهترين هغه څوک دئ چي د خپلي زناني او کور والا سره ښه کوي(۴).

(۱) النساء آيت نمبر ۱۹

(۲) ارشاد الساري جلد ۸ صفحه ۷۸

(۳) البقرة آيت نمبر ۲۲۸

(۴) ابن ماجه، حديث نمبر: ۱۹۷۷

## حضرت مرزا مظهر جانان رحمة الله عليه:

مرزا مظهر جانان رحمة الله عليه په اولیاوو کې ډېر لوړ ولي تېر سوی دئ، ده ته الله تعالیٰ دومره نازک دماغ ورکړی وو چې چا به دا یو ګلاس چپه کېښېنوئ، نو د ده به تر ماښامه پر سر باندې درد وو، د وخت بادشاه راغلئ نو خادم اوبه ور ته پیش کړې، هغه بادشاه ګلاس یو څه بې ځایه کېښېنوئ، نو د مرزا مظهر جانان رحمة الله عليه پر سر ډېر درد سو، هغه بادشاه چې کله ولاړېږي، نو ده رحمة الله عليه ته وایي:

- حضرت! ستا د خدمت دپاره به خادم درکړم.
- دَی ور ته وایي: بادشاه سلامت، چې کوم ګلاس دې کوږ ایښی دئ چې ستادا حال دئ چې د دې څخه زما دوې ورځې د سر درد نه ختمېږي، نو ستا خادم به ما څه حال ته ورسوي، زما د داسې خادم ضرورت نشته.

حضرت چې به کله د دهلي جامع مسجد لره تلئ "حکیم اختر صاحب" غالبًا لیکلي دي چې په لاره کې به د یو چا چارپایي کږه پرته وه، نو د ده به تو له ورځ پر سر درد وو چې په لاره کې به چا تلتک یا برستن پر ځان اچولی وو په هغه کې چې به کږه ګینډه تللې وه لا به د ده تر ماښامه پر سر درد وو، نو الله تعالیٰ داسې نازک طبیعت ورکړی وو.

## د ولایت پیدا کولو سبب:

یو وقت الله ﷻ الهام ور ته کوي چې زما یو بنده دئ د زنانې په شکل د هغه مزاج او طبیعت کمزوری دئ او دا کمزورې زندګي تېره وي، نو که ته د دې زنانې سره نکاح او واده کوې او د دې سره زندګي تېره وې، نو د دې په خاطر به زه و تا ته ډېرې لوړې درجې درکړم.

نو ده د هغه لوړو درجو په نیت د هغې سره واده وکړئ او د هغې پر ترخو خبرو به یې صبر کوئ، د هغې پر بې کاره زندګي به یې صبر کوئ او د هغې د طرفه چې به

هر ډول مره تکليف ور رسېدئ، نو ده به د خداى تعالىٰ په حضور کي د لوړو درجو طمع درلوده چي د دې په وجه به الله تعالىٰ زما درجې لوړي کړي.
مرزا مظهر جانان رحمة الله عليه هغه لوړي درجې ته ورسېدى چي "حضرت شاه محمود بغدادي" چي مشهور مفسر وو دا د ده په مريدانو کي راغلئ، علامه "شاذلي" چي د وخت مشهور امام وو دا د ده په مريدانو کي راغلئ.
علامه "ابن عابدين شامي" چي فتاوىٰ شامي يې ليکلې ده دا د ده په مريدانو کي راغلئ، نو بيا د مڅکي پر مخ باندي د ده په دور کي د ده غوندي لوړه درجه بل چا ته نه وه ورکول سوې.(۱)

## د کور د زناني يوه واقعه:

يو طالب او مريد يې يو ورځ کور ته واستوئ چي ډوډۍ راوړه! نو د کور زناني يو څه بدي خبري ورته کړي وې، نو ده ورته وويل:

- چي حضرت! زه ورغلم چي ستا دپاره مي ډوډۍ غوښته هغه زناني دومره بې کاره خبري راته وکړې چي زړه مي خفه سو. ده ورته وويل:
- اي کم نصيبه! که د دې زناني دا بدي خبري ما نه برداشته ولاى، نو زه به د دې اوس دريمې حصې درجې ته هم الله تعالىٰ نه واى رسولاى. دا زما درجه چي وينې دا د صبر په خاطر ده چي زه د دې زناني پر بدو اخلاقو باندي صبر کوم.

## د شاه ابوالحسن خرقاني رحمة الله عليه د زناني واقعه:

حضرت شاه ابوالحسن خرقاني رحمة الله عليه زموږ د اولياوو په سلسله کي ډېر لوى ولي دي. يوه ورځ يو سړى راغلئ د ده د بزرګۍ او تصوف يې اورېدلي وه زر ميله سفر يې پر پښو باندي کړى وو، صرف په دې نيت چي د ده سره به بيعت وکړم، چي راورسېدئ کور ته يې ور غلئ، نو په کور کي د هغه ډېره بد اخلاقه

(۱) دخواردرواسلامی زندگی، ص: ۲۷

زنانه ده، نو ده دروازه ور وټکوله چې شيخ يا يې په بل يو محترم نامه ياد کړئ چې هغه چېرې دئ؟.
نو هغه زنانه چې دروازې ته را ورسېده چيه خبرې يې ور ته شروع کړې چې څوک ياست؟ او د کومه ځايه را روان ياست؟ دا نه شيخ دئ، نه شی دئ زه د ده په کور کې اوسېږم دا يو د خداې ﷻ ګنهګاره دئ، څه مو اورېدلي نه دي د شاه ابو الحسن خرقاني رحمة الله عليه په حق کې خو قسما قسم بې کاره خبرې يې ور ته وکړې.
نو دې سړي چې خپلې سترګيا او ستوماني ته وکتل چې زر (۱۰۰۰) ميله سفر يې په دې نيت کړی دئ دا د ده د کور زنانه ده هغه دا واته وايي نو پر هغه ځای کښېښستی، يو ګړی يې وژړل پر دا خپله سترګيا باندي.
د هغه ځخه وروسته چې را ولاړ سو، نو د محلې خلقو ته يې د زناني وينا او خپله سترګيا بيان کړه او ډېر پرېشانه سو، نو هغه خلک ور ته وايي چې شيخ په دې ځنګله کې دئ دا زنانه لړ بداخلاقه ده ته پخپله هغه ته ورسه هغه د ځنګله ځخه بوټي راوړي او په خپله يې وينه!
دی چې کله ځنګله ته را ښکاره سو نو حضرت شاه ابوالحسن خرقاني رحمة الله عليه غوزی ترلی دئ او د زمري (مزري) پر اوږو يې ايښی دئ او پخپله د غوزي شا ته پر زمري باندي سپور دئ او يو لوي مار يې نيولی دئ نيم يې پر لاس پېچلی دئ او نيم يې غمچينه ده زمری په وهي را روان کړی يې دئ.
دې مريد چې کله وليدئ ډېر ورته حيران سو نو خواجه ابوالحسن خرقاني رحمة الله عليه په دې پوه سو چې دا سړی د لېرې ځايه ځخه راغلی دئ او زما په کور کې يې بې کاره خبرې اورېدلي دي، نو مولنا روم رحمة الله عليه په خپلو الفاظو په مثنوي شريف کې را نقل کوي او وايي: حضرت د هغه ځايه ځخه پر نعرې کړې او ور ته ويې ويل:

*ګر نکشیدم بار زن ...... کی کشید شیر ربیگار من*

سره له دې که ما د دې ښځې تکلیف نه برداشته ولای، نو نن به دې زمرې زما بیګار څنګه قبول کړی وای.

دا ته چې زما دا حالات وینې چې زه پر زمرې باندې سپور یم او بار مې هم پر را اخیستی دیٔ او په لاس کې مې غمچینه د مار په شکل کې نیولې ده هم مې مار اطاعت کوي او هم مې زمری اطاعت کوي دا ټول د هغه زنانې د تکلیف وجه ده چې زه یې برداشته وم، نو نن زمری هم زما بیګار قبلوي او مار هم زما بیګار قبلوي.(۱)

دا ښکاره خبره ده چې د زنانې سره ښه ژوندکول او د زنانې تکلیف برداشتول او پر هغه صبر کول او د هغې د بد اخلاقۍ په وجه د کور زندګي اطمنان او سکون نه خرابول دا د انسان دپاره د الله تعالی په قرب او نزدېکت کې ډېر لوی کردار لري او انسان ته لوړه درجه ور نصیب کوي.

## د زنانې په حقله د بخاري شریف حدیث:

بخاري شریف کې پیغمبرﷺ وایي: ﴿اَلْمَرْأَةُ كَالضِّلَعِ﴾ زنانه داسې ده لکه پوښتۍ.

مشکوة شریف کې راځي چې په پوښتۍ کې بیا هغه لوړه پوښتۍ ده چې ډېره کږه وي، نو زنانه داسې کږه پیدا سوې ده، د دې خلقت الله تعالی د پوښتۍ په شکل کړی دیٔ.

پیغمبرﷺ وایي: ﴿إِنْ أَقَمْتَهَا كَسَرْتَهَا﴾ که دا کوشش کوې چې زه یې سیده کړم، نو دا به ماته کړې، یعني که ته دا کوشش کوې چې د زور په خاطر دا راه راست (راستې لارې) ته را واړوې، نو ضرور به معامله طلاق ته سره رسوې ﴿وَإِنِ اسْتَمْتَعْتَ اسْتَمْتَعْتَ بِهَا وَ فِيهَا عِوَجٌ﴾ که نفع پر اخلې، نو دغسې هم نفع پر اخیستلای

(۱) ګوګوارد...زندګی، صفحه ۲۷

سي، د داغه کوږوالي سره سره زندګي ور سره تېروه! ګذاره ورسره کوه! د هغې پر تکليفو باندې صبر کوه.
نو په دې شکل ته د خپلې زناني سره زندګي تېرولای سې.
کچيري زور ور سره کوې چې دا ولي راه راست ته نه را اوړي.
امام بخاري رحمة الله عليه د پيغمبر ﷺ قول را نقل کوي چې پيغمبر ﷺ وايي: چې دا در څخه ماتيږي او که د نفع شوقي يې نفع څني اخلې، نو په داغه کوږ والي کي هم سړی نفع څني اخيستلای سي؛ خو صرف د هغې پر تکليفو باندې لږ صبر کول غواړي(۱).
د کور دباندې خو د خاوند حکومت دئ د ده خبره چليږي، ليکن د کور دننه د زناني حکومت دئ د کور په امورو کي يا د دې اختيار دئ د دې خبره چليږي.
د خاوند دپاره دا مناسب نه ده چې خاوند کور ته ورننوزي، نو دا فکر کوي چې بس زه خو نو صوفي يم، زه مصروف يم، زه دنيادار يم، زه ستړی سړی يم نو که ما څه ويل نو زنانه به ما ته د نوکر په شکل په ولاړې ولاړه وي.

## د پيغمبر ﷺ د کور ګذاره:

تر پيغمبر ﷺ به څوک ډېر مصروف وو؟ څوک به ډېر صوفي وو؟ او څوک به ډېر بزرګ وو؟ چې د يوه جهاد د سفر څخه به يې توره لا نه وه ايښې په لار کي به را روان وو او د بل جهاد حکم به راغلئ.
حضرت عائشه رضي الله عنها قسم خوري چې زما دې په خدای ﷻ قسم وي چې څومره وخت مي د رسول الله ﷺ سره تېر کړئ په ټوله زندګي مي دَی نه وليدی چې کور ته دَی راغلی او پر خوله باندې يې تبسم (خندا) نه وي.

(۱) [illegible]

## د سنت عمل برکت:

تاسو خو لږ دغه د پیغمبر ﷺ سنت و ازمویئ! چي ستاسو د کور ژوند ګي په کوم شکل په خوشحالۍ بدلیږي او ستاسو د زناني سره ژوند ګي په کوم شکل خوږه کرځي.

چي سړی کور ته ور ننوزي که سټړی وي، که ستومانه وي، نو کم از کم پر شونډانو په تکلف د خندا شکل خو باید جوړ کړي، و خپلي زناني ته دا په اول ځل کي ور ښکاره که چي زه ستا څخه ډېر راضي او خوشحاله یم.

نو که هر څوک دا سنت پر ځای کي بیا به د پیغمبر ﷺ د دې سنتو په برکت هغه ترخه ژوند ګي الله تعالی په شیرا و شکر باندي ور بدله کړي.

## د زناني سره ښه ژوند د پیغمبر ﷺ تمنی:

پیغمبر ﷺ څه وایي؟ ﴿یَغْلِبْنَ کَرِیْمًا﴾ پر کریم سړي باندي زناني غالبه وي، د زناني هري خبري ته غوږ ایږدي او زنانه هر فرمائش ور ته پېشولای سي او زنانه په خندا او په مسخرو خبري ورسره کولای سي ﴿وَیَغْلِبُهُنَّ لَئِیْمٌ﴾ پر زنانو باندي رزیل سړی غالب وي، چي کور ته ورننوزي د زناني څخه بیا ځای ورک سي چي فلانکی خو کور ته راغلئ نه یې ځای سم سوی دئ، نه نور کارونه پوره سوي دي.

نو دا غریبه در په دره پر یوه او بله ځغلي او بدن یې بلک وهي.

پیغمبر ﷺ وایي: چي د رزیل سړي دا خوی دئ چي پر زنانه به غالبه وي.

پیغمبر ﷺ د حضرت عائشي رضي الله عنها سره ناست وو او ور ته ویل یې:

- ای عائشي! چي ته کله زما څخه ناراضه یې زه در پوهېږم.
- حضرت عائشه رضي الله عنها ور ته وایي: څنګه راپوهېږې؟
- پیغمبر ﷺ ور ته وایي: چي کله ته ناراضه او مروره یې، نو چي کله قسم اخلې، نو وایي: ﴿وَ رَبِّ اِبْرَاهِیْمَ﴾ او زما نوم پرېږدې، او چي کله

پخلا یې، نو بیا داسې وایي: ﴿وَ رَبِّ مُحَمَّدٍ﴾ یعني زما دې د محمد ﷺ په رب قسم وي، او چې ناراضه یې، نو زما نوم نه اخلې.

- دا ورته وایي: ﴿وَاللهِ لَاأَتْرُکُ إِلَّا اِسْمَکَ﴾ په خدای ﷻ قسم چې صرف په خوله دې نوم نه یادوم، یا رسول الله ﷺ چې ستا محبت څومره زما په زړه کې وي هغه هغه سې بر قرار پاته وي او د زړه څخه مې ستا محبت نه وځي(¹).

نو د دې څخه دا معلومه سوه چې د زنانې ناز خامخا پر سړي راځي، د زنانې مجلس د سړي سره راځي، د زنانې خندا د سړي سره راځي، هغه د انسان د ټولې زندګۍ رفیقه او ملګرې ده، هغه ستا دپاره لباس او ته د دې دپاره لباس یې، د لباس څخه انسان څنګه ځان ساتلای سي؟ او د لباس بغیر څنګه انسان زندګي کولای سي؟

## د حدیث شریف تکمیل:

نو پیغمبر ﷺ وایي: ﴿يَغْلِبْنَ كَرِيْمًا وَيَغْلِبُهُنَّ لَئِيْمٌ﴾ دوی به پر کریم او شریف سړي باندې غالبه وي او رزیل سړی به پر زنانو باندې غالبه وی.

او بیا وایي: ﴿فَأُحِبُّ أَنْ أَكُوْنَ كَرِيْمًا مَغْلُوْبًا﴾ زما د ځان په حق کې دا خوښه ده چې کریم او شریف سم بیا هم مغلوب یم او د زنانې خبره برداشت کړم او زنانه هر څه راته ویلای سي.

﴿وَ لَاأُحِبُّ أَنْ أَكُوْنَ لَئِيْمًا غَالِبًا﴾(²) د ځان په باره کې مې دا نه ده خوښه چې رزیل سم او پر زنانه باندې غالب سم او زنانه په ولاړې را څخه ولاړه وي او زنانې د مینځې په شکل استعمالوم او د زنانې دپاره زړه حق نه منم.

---

(¹) بخاري شریف جلد ۲ صفحه ۷۸۷

(²) روح المعاني، سورة النساء، آیت نمبر ۲۴

ما در ته وویل: د زنانو دپاره د آخرت مسئله ډېره اسانه وي، زناني کچیري په کور کي د چغلی څخه ځان وساتي او په کور کي د دروا غو څخه ځان وساتي، د احسان د اچولو څخه ځان وساتي.
پر مسلمانانو باندي احسان نه اچوي، د حسد څخه ځان وساتي، د خپل خاوند خبري د خاوند په کور کي خوندي کړي، او د خپل خاوند امانتونه امانت وبولي او د خدای ﷻ عبادت پر ځای کړي، نور د دې د معاملاتو سره تعلق هسي هم نسته او د خپل خاوند پر تکليفو باندي صبر وکړي، نو الله تعالی به دې زناني ته خپل قرب ورکړي او ډېره لوړه مرتبه به ور نصيب کړي.
الله تعالی دې په دې څو مختصرو خبرو د عمل کولو توفيق را نصيب کړي.
او الله تعالی دي دغه څو مختصري خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي. آمين.

وَ آخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

٦

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآيه)

# د دين په خاطر قرباني پېشول

(بيان)

مولوي اطيع الله صاحب
استاذ الحديث جامعه اسلاميه (علامه ټاؤن) چمن

ترتيب وتخريج:
مفتي حافظ كليم الله صاحب (فاضل دار العلوم كراچي)
استاذ جامعه اسلاميه (علامه ټاؤن) چمن

مكتبه سلطانيه الهاشميه
كانسى روډ كوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حافـظ كليم الله صاحب |
| مقــــــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود |
| اشـــاعـت | ځلـــــــــــــــــــورم |
| تـاريـــــخ | يكم ربيع الثاني ١٤٣٩ بمطابق يكم مي ٢٠١٨ |
| تـعــــداد | (١١٠٠) |

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْداً كَثِيراً طَيِّباً مُبَارَكاً فِيْهِ مُبَارَكاً عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَ يَرْضَى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهِ خَيْرِالْهُدٰى وَعَلٰى اٰلِهِ وَاَصْحَابِهِ نُجُوْمِ الْاِهْتِدَاء.

اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم

وَقَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى إِنَّ هَذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ الْمُؤمِنِينَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيرًا(١)

وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم:

الدِّيْنُ النَّصِيحَةُ.(٢) اَوْ كَمَا قَالَ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ

اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَانَا الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِي الْكَرِيم وَنَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰه رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ.

**تمهيد:**

محترمو مشرانو! قرآن کریم د الله تعالی جل جلاله کتاب دئ او د محمد رسول الله ﷺ دين او شريعت دئ او د انسانانو دپاره د ژوندګۍ تېرولو دستور او قانون دئ. په درويشت (٢٣) کاله نبوي زندګي کي جبرئيل امين "نجمًا نجمًا" پر پيغمبر ﷺ نازل کړی دئ.

او پيغمبر ﷺ په درويشت (٢٣) کاله نبوي زندګي کي دا قرآن کريم او د دې قرآن کريم پيغام خپل امت ته پوره پوره رسولی دئ.

(١) سورة بني اسرائيل، آيت نمبر: ٩

(٢) الترغيب و الترهيب، حديث نمبر: ٢٧٢٩

او د "حجة الوداع" په موقع باندې پيغمبرﷺ د يو لک پنځويشت زره (۱۲۵۰۰۰) زيات او کم صحابه کرامو ﷺ څخه د دې خبرې تصديق وغوښتئ چې ايا ما تاسو ته قرآن ورسوئ او کنه؟ نو ټوله په يوه آواز دا تصديق ورکوي چې اې د الله ﷻ رسولهﷺ! موږ پر دې شاهدان يو چې تا د قرآن کريم پيغام خپل امت ته يقينًا پوره پوره ورسوئ.

د دې څخه وروسته ﴿فَنَظَرَ نَظْرَةً إِلَى السَّمَاءِ ثُمَّ نَظَرَ﴾ پيغمبرﷺ خپل سر مبارک د اسمان طرف ته پورته نه سي او اسمان ته ګوري او دا وايي چې اې الله ﷻ! ته ګواه اوسه چې ما خپل امت ته د قرآن کريم پيغام ورسوئ.

## د پيغمبرﷺ ناقراري:

د قرآن کريم په رسولو کي پيغمبرﷺ ډېر زيات تکليفونه برداشت کړل. تاسو د سيرت کتابونه وګورئ چې شپه به راغله، نو پيغمبرﷺ ته به د شپې خوب نه ورتلی او سينه مبارکه به يې د ژړا څخه خوټکېدله ټوله شپه به ناآرامه وو.

جبرئيل امين به د الله تعالی د طرفه د تسلی دپاره راغلئ او دا به يې ويل: ﴿وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ﴾(١) اې پيغمبره! و الله تعالی ته صبر کوه!

ليکن د دې سره به د پيغمبرﷺ تسلي نه کېدله، بيا به "جبرئيل امين" راغلئ او ويل به يې: ﴿وَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا﴾(٢) چې الله تعالی وايي: اې پيغمبره! ته صبر کوه ته زموږ په نګراني کي يې.

ليکن بيا به هم پيغمبر ډېر غم کوئ.

دريم ځل بيا "جبرئيل امين" راغلئ او ويې ويل: ﴿وَاصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ إِلَّا بِاللَّهِ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُ فِي ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُونَ﴾(٣) کله کله خو به الله تعالی د "جبرئيل امين" په

---

(١) المدثر آيت نمبر ٧
(٢) الطور آيت نمبر ۴۸
(٣) النحل آيت نمبر ۱۲۷

واسطه داسي هم ورته ووېل: ﴿لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ أَلَّا يَكُونُوا مُؤْمِنِينَ﴾(١) اې پيغمبره! کچيري دا خلق ايمان نه راوړي، نو ته ځان په هلاکت کي اچوې؟
دا د پيغمبرﷺ د ډېره حث او باعث توب څخه وو.
د مکې د مشرکينو پر ايمان راوړلو باندي پيغمبرﷺ د ايمان د دعوت پر رسولو او د قرآن کريم په پيغام خبرولو باندي د مکې د مشرکينو د طرفه څخه ډېر زيات تکليفونه او پرېشاني برداشت کړې.

## صرف د ابو جهل کور ته درې زره (۳۰۰۰) واره ورتلل:

مولانا پير ذوالفقار احمد نقشبندي رحمه الله په خپل کتاب "خطبات فقير" کي ليکلي دي چي پيغمبرﷺ په مکي زندگي کي درې زره واره د "ابو جهل" د کور دروازې ته د اسلام د دعوت ورکولو دپاره ورغلئ.
يو شپه چي په مکه مکرمه کي سخت باران او طوفاني هواگاني وې هيڅوک هم د کوره څخه د بيري او خوف په وجه نه سو را وتلای، ټول خلگ په خپلو کورو کي محبوس او بند پاته وه.
په دې دوران کي د "ابو جهل" د کور دروازه وټکېدله، نو "ابو جهل" خپلي زناني ته وايي: چي په دې باد او باران او په دې طوفاني او خوفناکه حالت کي چي کم سړی زموږ د کور دروازه ټکوي زما دي په رب د کعبې قسم وي چي دا ډېر زيات مجبوز او ناداره انسان دئ.
کچيري دا سړی نن زما څخه د لور د نکاح پيغام وغواړي هم به يې ورکوم او انکار به نه ځني کوم.
چي کله "ابو جهل" دروازې ته راغلئ چي دروازه يې خلاصه کړه که گوري محمد رسول اللهﷺ ولاړ دئ.

---

(١) سورة الشعراء، آيت نمبر: ٣

"ابوجهل" حیران سو ورته وایي: دې حالت کې څنګه راغلې؟ پیغمبرﷺ ور ته وایي: ﴿اَلَمْ یَاْنِ لَکَ اَنْ تَخْشَعَ قَلْبُکَ لِذِکْرِاللّٰہِ﴾ ایا هغه وخت نه دئ راغلی چي ستاسو زړه د الله ﷻ و طرف ته نرم سي او تاسو په اسلام باندي مشرف سئ.
ابوجهل چونکه شقي (ازلي بدبخت) وو د څه ویلو بغیر واپس کور ته ننوتئ.
پیغمبرﷺ یو څه ساعت ولاړ وو او طمع یې وخته د یو مایوس او ناامید انسان په شکل واپس خپل کور ته روان سو (¹).
نو پیغمبرﷺ د دې دین او د قرآن کریم د پیغام رسولو په حقله ډېر تکلیفونه او ډیري پرېشانۍ برداشت کړي دئ.

## د صبر انتهاء:

نبي اکرمﷺ د "منٰی" په دره کي نو وارده او نابلده راغلئ، خلګو ته د اسلام دعوت ورکوي، حضرت طارق محاربيؓ چي په دې وخت کي اسلام لا نه وو راوړی یعني مسلمان سوی لا نه وو هغه وایي: چي زه د "منٰی" په دره کي یو سړی وینم چي د سهار څخه لګیا دئ او هره ډله د خلګو چي تېرېږي، نو دَی یې ودروي او دا دعوت ور ته کوي: ﴿یٰاَیُّهَاالنَّاسُ قُوْلُوْا لَااِلٰهَ اِلَّااللّٰہُ تُفْلِحُوْنَ﴾.
حضرت طارق محاربيؓ وایي: چي په دا وخت کي د "عکاظ" مېله لګېدلې ده او د "عکاظ" مېله به هر کال په مکه مکرمه او د هغې په اطرافو کي لګېدله، د عربو د لیري وطنو څخه به ډېر خلق ور ته راتلل.
نو پیغمبرﷺ به دا موقع ډېره غنیمت بلله؛ ځکه چي د لیري علاقو او نابلده خلګ به راتلل او ده به دعوت د اسلام ور ته کوئ.
نو حضرت طارق محاربيؓ د "عکاظ" د مېلې حال بیانوي او وایي: چي ما یو سړی ولیدئ چي د سهار وختي څخه اخته دئ او خلګ راګرځوي او دا دعوت

(¹) خطبات فقیر جلد ۸ صفحه ۱٦۵

ور کوي چي اې خلقو! دا کلمه د "لااله الاالله" ووایاست! ستاسو به فلاح او کامیابي نصیب سي.
دَی مبارک وایي: چي دا دعوت شروع دئ ﴿حَتّٰی اِنْتَصَفَ النَّهَارُ﴾ تر دې حده پوري چي لمر سر ته را پورته سو غرمه او ګرمي سوه او زه حیران یم چي دا سړی څنګه نه ستړی کېږي.
آخر یو څو نوجوانان د قریشو راتېرېږي چي کله یې هغه سړی ولیدئ، نو یو هغه بل ته وایي چي دا هغه قریشي دئ چي خلګ د عربو او د قریشو د دین څخه بې دینه کوي.
چي دوی ټولو دغه سړی په ګېره کي راوستئ او ورته وایي: چي زموږ معبودانو ته رد او بد وایي.
په دوی کي یو شقي (بدبخت) د دې سړي لنګوټه راکش کړه، یو بل بدبخت انسان د هغه سړي څوڼږي او وربښتان ونیول او بل کم نصیبه د لمني څخه ونیوئ او هغه سړي ته یې سخت تکلیف او زوررونه ورکړه.
د هغه بدبخته انسانانو څخه یو بدبخت د دې سړي پر مخ ناړي ور تو کړې چي هغه نورو ورته وکتل، نو هغه نورو بدبختانو هم پر مخ ناړي ورتو کړې.
حتی چي پر دې یې هم خبره بس نه کړه، بلکه په دوی کي یو بدبخت خاوري د دې سړي پر دې نوراني مبارک مخ ور و پاشلې. د دې په وجه چي کمه نوراني چهره او مخ الله تعالی په ﴿وَالضُّحٰی﴾ باندي ستایلی دئ پر هغه نوراني چهره او مخ باندي د ختو رنګ راغلئ.
حضرت طارق محاربي ﷺ وایي چي هغه قریشانو دغه سړی دومره زیات تنګ کړئ چي تر څو هغه قریشان ستړي سول، آخر ورته وایي: کڅیري تا زموږ په خدایانو پسي بیا بې کاره او بدي خبري کړي وې بیا به موږ تا وګورو.
نو ددې خبري کولو وروسته هغه قریشان څني ولاړل او هغه سړی د یو بې وسه او بې کسه سړي په شکل په ډېر ازرده حالت کي هلته پاته سو.

د دې ځخه وروسته یوې ماشومې زنانې په لوښي کې یو څه اوبه راوړې چې کله د دې سړي و رنګ او د ستړیا و حالت ته ګورې، نو هغه ماشومه زنانه ډېره ژاړي او د هغه سړي هغه په ختو لړلی مخ ور مينځي.

او هغه سړي دې ماشومې ته تسلي ورکوي او ورته وايي: بچيه! ته ژاړه مه ستا پلار چې کم دين راوړی دی یوه ورځ به داسي راځي چې هغه دين به د مکې هر کچه او پاخه مکان او کوز ته الله تعالی رسوي.

حضرت طارق محاربي ﷺ وايي: چې کله ما د دې سړي ستړیا او تکليف او بې وسي او بې کسي ولیده، نو زه حيران سوم چې دا ځنګه انسان دی؟ آخر مي پوښتنه وکړه چې دا څوک دی؟ خلګو راته وويل: چې دا د نبوت دعوه کونکی محمد ابن عبد الله ابن عبد المطلب دی. او دا ماشومه ده لور زينب ﷺ ده(¹).

نو پېغمبر ﷺ د دين په خاطر يقينا ډېر زيات تکليفونه برداشت کړي دي.

## د صحابه کرامو ﷺ قرباني:

د پېغمبر د معاونت دپاره الله تعالی د صحابه کرامو ﷺ جماعت پيدا کړی، لکه ځنګه چې د قرآن کريم پيغام رسول د پېغمبر ﷺ پر ذمه وه الله تعالی د صحابه کرامو ﷺ پر ذمه ورکړل د صحابه وو نه بلکه الله تعالی د هر امتي پر ذمه ورکړل.

خو د پېغمبر ﷺ ځخه وروسته بيا په ټوله امت کي صحابه کرامو ﷺ دا پيغام په ښه طريقه سرته ورسوی.

الله تعالی یو وار په غزوه بدر کي او بيا په احد کي او په ډېرو معرکو کي بيا خاص د هجرت په موقع دوی ډېر زيات و ازمايل.

چې کله دوی په ازمايښتو او امتحاناتو کښي کامياب وختل، نو د هغه بدل بيا دا وو چې الله تعالی په دنيا کي د جنت زيري ورباندي راواستول.

(¹) تاريخ الطبري الباب من سائر الازد ممن روي عن رسول ﷺ صفحه: ۵۸۵

## د هجرت لوی امتحان:

د حضرت عبدالله د کور زنانه ام سلمهؓ چې د هغې سره يا د پيغمبرﷺ واده وسو او د ټولو مسلمانانو مور سوه د "عبدالله" سره د مکې مکرمې څخه په هجرت روانه ده، يو بچی يې وو هغه يې په غيږ کې واخيستئ خاوند او زنانه او بچی د مکې مکرمې څخه روان دي هجرت کوي.

چې کله د مکې قريش خبر سول، نو د ام سلمهؓ قبيله هم پسې ووتله او د "عبدالله" قبيله هم پسې راووتله، چې کله پسې را ورسېدل، نو د ام سلمهؓ قبيلې والا ام سلمهؓ را وګرځوله چې مونږ خپله د قبيلې زنانه هجرت ته نه پرېږدو.

د "عبدالله" د قبيلې والا ورته وايي: چې دا بچی خو زمونږ د قبيلې دئ دا ستاسو په قبيله کې د مور سره ګزاره کولو ته يې نه پرېږدو، نو ام سلمهؓ يو طرف ته ولاړه ژاړي او بچی بلې قبيلې والا خپل طرف ته درولی دئ او ژاړي.

عبداللهؓ خپل څادر پر اوږو واچوئ او ورته وايي: ای زناني! ستا جدايي او ژړا برداشتولای سم او د بچي جدايي او ژړا برداشتولای سم او د محمد رسول اللهﷺ حکم چې هجرت دئ په هغه کې يوه زره کمي نه سم راوستلای او نه يې برداشتولای سم.

او په دغه يوازي شکل روان سو، هجرت يې وکړئ.

ام سلمهؓ يوې قبيلې والا بوتله او بچی بلې قبيلې والا بوتلئ او حضرت عبداللهؓ يوائې مدينې منورې ته د هجرت په شکل کې را و رسېدئ او يوائې يې هجرت راو کړئ.

ام سلمهؓ وايي: ورځ نه دوې ورځې نه مياشت او دوې مياشتې نه په کلونو کلونو پر لوره غونډۍ به ناسته وم ټوله ورځ به مې ژړل، خاوند هم جدا بچی هم جدا. يا مې په کلونو نه د خاوند شکل وليدئ او نه مې د بچې شکل وليدئ.

تر دې اندازې پورې چې آخر د مکې د هغه ناترسو انسانانو هم ترس او رحم را باندې راغلئ د مکې قريشو آخر زما قبيلې والا ته وويل: اې ظالمانو! د دې زناني څه قصور دئ چې بچې مو هم ځني جدا کړئ او خاوند مو هم ځني جدا کړئ او ټوله زندګي مو په ژړا ور باندې تېره کړه؟ درې کاله وروسته بيا ما ته د تللو اجازت را کول سو (۱).

## د صحابه کرامو ﷺ قرباني:

صحابه کرامو ﷺ په داسې قرباني باندې هجرت وکړئ، او د هجرت کولو په امتحان کې کامياب سول. د حضرت ابوبکر ﷺ دکانونه قربان سول، د حضرت عثمان غني ﷺ مالداري قربان سول، د حضرت عمرفاروق سرداري قربان سول او د حضرت حمزه ﷺ وقار او وجاهت قربان سول.

## په مدينه منوره کې دوې طبقې:

ټول مکه مکرمه پرېږدي او روان دي او ټول د مدينې منورې و طرف ته منډې را وهي او په مدينه منوره کې د امت دوې طبقې جوړې سوي وې: يوه انصار او بله مهاجر نه زمېندار، نه تاجر، نه دکاندار، نه حاکم، نه صدارت، نه وزارت بلکه يوه ډله انصار دي او بله ډله مهاجر دي.

او د پيغمبر ﷺ هدايت دا وو چې تاسو به دواړې طبقې پر دې باندې قرباني پېشوئ او ستاسو په ذريعه به دا دين په دنيا کې وجود پيدا کوي.

او تاسو به په جنت کې زما سره يو ځاى ياست او زما همسايګان به جوړېږئ د دنيا څخه مخ واړوئ او د آخرت طرف ته متوجه سي او په دنيا کې د دين د خورولو عزم او قصد وکړئ. صحابه کرامو ﷺ وويل: يارسول الله! هر څه به قربان کړو، ليکن ستا حکم به قربان نه کړو.

---

(۱) خطبات طارق جميل صفحه نمبر ۱۳

الله تعالی د بدر په میدان کي و ازمایل، الله تعالی فرمایي: چي زه دې ته گورم چي دا صحابهﷺ زما حکم ته گوري او پر نبيﷺ باندي قرباني ورکوي او که خپل دکان او تجارت ته گوري.

محترمو مشرانو! نن د هر کور او هر دکان او د تجارت نقشه او د حکومت او وزارت نقشه موږ ته دعوت راکوي چي وګوره وزارت غواړې یا د نبيﷺ طریقه غواړې؟ نو د ایمان والا جواب به دا وي چي د دې ټولو په مقابل کي د نبي کریمﷺ طریقه غواړم.

## د صحابه کرامو ﷺ قبرونه:

صحابه کرامو ﷺ د الله تعالی د دین او د قرآن کریم پیغام په لاسو کي ونیوئ او مخلوق ته یې ورسوئ چي د دې پیغام په رسولو کي یې خپل ځانونه قبرو ته و رسول.

او پنځه قبره د صحابه کرامو ﷺ نن د "پاکستان" د "پنج گور" په علاقه کي دي، چیري مدینه منوره او چیري د "پنج گور" علاقه! نن صبا په "پنج گور" کي د ځینبلو اوبه نه پیداکیږي، نو څوارلس سوه کاله مخکي به هغه څنګه علاقه وه؟

صحابه کرامﷺ د ملکونو فتح کولو دپاره نه وه راوتلي د انسانانو د جهنم څخه د بچاوولو دپاره را وتلي وه. نن په "اصفهان" کي د ابو امامه قبر دئ.

په "تهامه" کي د "نعمان ابن مقرین" شهید قبر دئ.

معقل ابن یسار، عامرابن معدي کرب، زبیري شهید، براز ابن مالک، عتبه ابن غزوان، عمر ابن عامر السفاری، عبدالرحمن ابن سمره، سمره ابن جدداسي رضی الله تعالی عنهم اجمعین دا ټول صحابه کرامﷺ د دغه لاري مسافر دي چي نن د دوی قبرونه په دغه علاقو کي موجود دي.

داغه رنګه "اندلس، ترکمانستان" او په نورو ملکونو کي د صحابه کرامو ﷡ قبرونه موجود دي دا ټول د کاروبار دپاره د مدينې منورې څخه نه دي تللي، بلکه د قرآن کريم د پيغام رسولو په خاطر يې خپل وطنونه پر قربان کړي وو.
د عربو سردار "خالد ابن وليد" نن د هغه قبر په "تيونس" کي دئ، دې خلقو د الله ﷻ پيغام را واخيستئ او تکليفونه او سفرونه يې برداشتول(۱).
د دغه سفرو او دغه تکليفو په دوران کي قبرو ته و رسېدل الله تعالی دې د دوی قبرونه د خپله نوره ډک وساتي. آمين

## د قريشو پر اسلام باندي قرباني کول:

د حضرت عمر ﷛ مجلس جوړ دئ د قريشو سرداران صحابه کرام مخ ته ناست دي، دې دوران کي حضرت بلال ﷛ راغلئ حضرت عمر ﷛ ور ته وايي: بلاله! مخ ته را سه! يو ساعت بعد حضرت سهيل او بيا عمار ﷛ دا ټول زاړه او مخکني صحابه کرام ﷡ دي حضرت عمر ﷛ يې مخ ته را غواړي.
چي کم سرداران صحابه کرام ﷡ دي هغه شا ته وروسته کيږي تر دې حده پوري چي د بوټو او د چوټو ځای ته ورسېدل او چي کم غريب صحابه کرام ﷡ وه او مخکي مسلمانان سوي وه هغه مخ ته راځي.
ابو سفيان ﷛ وايي: تاسو دې عمر ﷛ ته نه ګورئ چي سرداران يې شا ته کړل او هغه غريبان در په دره يې مخکي کړل؟ سهيل ابن عامر قريشي ﷛ صحابي وو دا ورته غصه سو او ورته وايي: ای ابو سفيانه! تر او سه پوري دي د سرداری بوی په دماغ کي پاته دئ او د سرداری خناس دي په دماغ کي ناست دئ؟ ای د الله بنده! د اسلام سرداري په دې خلقو کي ده؛ ځکه چي دا په اسلام راوړلو کي زموږ څخه مخکي دي، لهذا دوی به ضرور مخکي کښېني او موږ به وروسته کښېنو.

---

(۱) بيانات جميل صفحه نمبر ۲۵۴

الله تعالی دي جزاء د خير ورکړي يا هم د پيغمبر ﷺ صحبت يافته انسانان وه، د مجلس وروسته د حضرت عمر ؓ څخه د قريشو سرداران صحابه کرام ؓ پوښتنه کوي چي ای عمره! چي څه دي وکړه يعني مونږ دي شا ته کړو د هر بنه دي وکړه؛ ځکه دا زمونږ د زندګۍ تېرولو ثمره او نتيجه ده چي مونږ په دنيا کي وليده. صرف دا راته ووايه چي په آخرت کي به ستا او د ابوبکر ؓ او د محمد رسول الله ﷺ ملګري څنګه او په څه طريقه را نصيب سي؟

حضرت عمر ؓ ورته وايي: چي دغه دين دئ او پر دغه دين قرباني ور کول دي، ستاسو څخه مخکښي دې صحابه کرامو ؓ قرباني ورکړل.

نو الله تعالی په دنيا او آخرت کي عزتونه ور نصيب کړل او هغه درجو ته يې ځانونه و رسول چي په دنيا کي د جنت زيري ور باندي وسول، نو تاسو هم قرباني پر دې دين باندي پېش کړئ زه ذمه واري در کوم چي په آخرت کي به زمونږ او ستاسو ټولو د محمد رسول الله ﷺ ملګري نصيب سي.

حالانکه په دې قريشو کښي هغه صحابه هم وه چي د هغوی په باره کي پيغمبر ﷺ پېش ګويي کړې وه چي الله تعالی دوی ته په آخرت کي د استوګنې مقام جنت ګرځوي؛ ځکه چي د حضرت عثمان ؓ په باره کي به پيغمبر ﷺ ويل: ﴿مَا عَلٰى عُثْمَانَ اَنْ لَايَعْمَلَ بَعْدَهٗ﴾ د دې باوجود دې صحابه کرامو ؓ کورونه قربان کړل او وطنونه يې قربان کړل، خپل بچي او زناني يې پرېښولې او پر دين يې قرباني پېش کړې. تاسو دې کي غور وکړئ ان صبا دا لوی سوال دئ چي بچيان پرېږده او زنانه او کور پرېږده پر دين قرباني ورکړه دا چيري ليکلي دي؟ تاسو دې ته نه ګورئ چي نوي (۹۰) کاله دننه کي د اسلام پيغام "کشمير" او "ترکمانستان" ته څنګه د مدينې منورې څخه زا ورسېدئ؟

## د محمد ابن قاسم رحمة الله عليه قرباني:

د محمد ابن قاسم رحمة الله عليه واده وسو، صرف څلور مياشتي يې د خپلي زناني سره تيري کړې او زنانه يې د "حجاج" لور وه، "حجاج" خپله لور ورکړه او د

"پاکستان" علاقې "سندهـ" ته يې را واستوئ، يو نيم کال يې په "سندهـ" کي تېر کړئ، د هغه وروسته شهيد سو او بيا يې د هغه زناني شکل نه وليدئ. نن څوک ويلای سي چي محمدابن قاسم رحمة الله عليه د خپلي زناني حق پر ځای نه کړئ او د زناني حق يې ضائع کړئ؟

د يوه "محمدابن قاسم" کور خراب سو، ليکن د هغه په برکت بې شماره کورونه الله تعالى په اسلام باندي آباد کړل، نن د ټول "پاکستان" اسلام بلکه د "سندهـ" څخه تر "کشمير" تر "ديپالپور" پوري دا ټول اسلام د محمدابن قاسم رحمة الله عليه په برکت دې علاقې ته راغلی دئ.

او کتابونه ليکي چي "محمدابن قاسم" به په جنت کي د خپلي زناني سره د انبياوو په شکل کي را روان وي آيا ده اوس د نقصان او د خسارې سودا وکړه(۱)؟

## د مقصد اعاده:

نو ما دا عرض کوئ چي کم سرداران د قريشو چي په قرباني کي د غريبو صحابه وو رضي الله عنهم څخه وروسته پاته سوي وه هغه ټول مکې ته راغلل او دستي د مکې مکرمې څخه د قرباني ورکولو په نيت ووتل د "شام" و طرف ته ولاړل.

چي کله حضرت حارث رضي الله عنه د قرباني په خاطر د مکې څخه وځي، نو ټول اهل مکه ورپسي ژاړي؛ ځکه دا د اهل مکې ډېر محبوب او ډېر سخي انسان وو او په مکه مکرمه کي به د هر مجلس رونق دی وو، او دی د "ابو جهل" کشر ورور وو. دی چي کله د مکې مکرمې څخه وځي، نو ټوله اهل مکه ورپسي ژاړي.

او دی د مکې مکرمې طرف ته مخ راګرځوي او دا وايي: ای مکې! په خدای قسم په شوق سره دي نه پرېږدم چي در څخه روان يم، يو کار مي پر ذمه دئ چي د قرآن پيغام رسول دي اوس هم په هغه کار کي ډېر ځنډ او تاخير را څخه سوی دئ

(۱) بيانات جميل صفحه نمبر: ۳۵۵

او ډېرو خلګو زموږ ځخه مخکي هغه کار کړی دئ. او خپلې ذمې يې فارغه کړي دي، اوس زموږ د خپل ځان د قربانولو وخت راغلی دئ چي د مخکني خلګو ځخه مخکي نه، کم از کم د هغوی سره برابر خو سو.

نو د عربو ځلور سوه (۴۰۰) قريشان د قربانۍ په اراده د مکې مکرمې ځخه را ووتل او د شام طرف ته راغلل او په دې وخت کي د يرموک ميدان ګرم وو، او روميان په خپل پوره طاقت د درې لکه (۳۰۰۰۰۰) فوج سره را وتلي وو آو مسلمانان ټوله صرف شپږ ويشت زره (۲۶۰۰۰) انسانان دي. حضرت خالد ابن وليد امير دئ نه (۹) ورځې مسلسل جنګ روان دئ د سهار ه تر ماښامه پوري جنګ روان وي او هيڅ فيصله نه کېږي ماښام واپس راځي بيا سهار جنګ شروع کېږي.

آخر نهمه ورځ د قريشو سردار حضرت "عکرمه ابن ابي جهل" چي د ځلور سوه (۴۰۰) راغلو قريشانو جنګي امير وو د سره د اوسپني خولی، وغورځوله او د بدن ځخه يې زغره وکښله او پر سر يې لنګوټه وتړله او پر بدن باندي يې کفن وپېچئ. او د مسلمانانو په لښکر کي بيا خاص د ځلور سوو قريشو په درمیان کي يې نعره کړله: ﴿مَنْ يُبَايِعُنِيْ عَلَى الْمَوْتِ﴾ راځئ وروڼو زما پر لاس د مرګ بيعت ځوک کوي؟ خالد ابن وليد او عکرمه ﷺ دواړه د مور د طرفه قربان دي، نو خالدابن وليد حضرت عکرمه تر لاس ونيوئ او ويې ويل: موږ تا نه پرېږدو؛ ځکه زموږ دلته تا ته ډېر ضرورت دئ.

حضرت عکرمه ﷺ لاس ځني وغورځوئ او ځان يې ځني خلاص کړئ او خالد ابن وليد ﷺ ته وايي: ما پرېږده! ﴿وَاللهِ إِنِّيْ وَ أَبِيْ كَانَ أَشَدُّ عَدَاوَةً مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ﴾ د الله ﷻ بنده په خدای قسم زه او زما پلار په ټولو قريشو کي د محمد رسول الله ﷺ زيات دښمنان وو او هغه ته مو ډېر تکليفونه رسولي دي، نو نن د خپل ځان په وينه تويولو د هغه تکليفو رسولو کسات او بدل اخلم، نو دا نه سي کېدلای چي نن به زه قرباني نه پېشوم.

د ټولو څخه مخکې خپل بچی "عامر ابن عکرمه" بیا "حارث ابن هشام" "سهیل ابن عمر" او "ابوسفیان ﷺ" بیعت ور سره کوي. نن په "شام" کې د "یرموک" په میدان کې د دې ټوله صحابه وو ﷺ چې د قریشو سرداران هم وو قبرونه موجود دي.

په دې ورځ څلور سوه (۴۰۰) قریشیانو یو بل ته لاسونه سره ور کړه او هلته یې د جنګ په میدان کې په خپلو تورو بهادري ښکاره کړه.

د حضرت خالد ابن ولید ﷺ د خېمې و مخ ته یې قسمونه سره وخوړل چې تر څو پورې الله تعالی یا د فتح او یا د شهادت فیصله نه وي کړې واپس به څوک نه راځي. او دې څلور سوه صحابه وو ټولو سپینې لنګوټې پر سرو وتړلې او سپین کفنونه یې پر بدن واغوستل او د ﴿اِمَّا الفَتحُ وَ اِمَّا الشَّهادَةُ﴾ د نعرو په زوږ او شور کې و جنګ ته ور ننوتل.

هغه څلور سوه (۴۰۰) قریشو په دې ورځ باندې رومیان پر شا و تمبول او د رومیانو سردار قتل سو او هغوی ماته او شکست وخوړئ او سره تیت پرک سول او الله تعالی په دې ورځ د جنګ د فتح فیصله وکړه.

چې کله خالد ابن ولید ﷺ واپس راغلئ په شهیدانو او زخمیانو کې ګرځې که ګوري د "عکرمه ابن ابي جهل" او عامر ابن عکرمه ﷺ (چې پلار او زوی دي) بدنونه کاټ کاټ سوي او په خپلو وینو کې خړوب پراته دي، نژدې یو ځای سره پراته دي، بچی یې شهید سوی دئ او پلار حضرت عکرمه ﷺ یې لږ لږ ساه اخلي، خالد ابن ولید ﷺ چیغه وکړه: ﴿هَای هَای اَهکَذَا یَمُوْتُ﴾ د قریشو سرداران به دا رنګه خپل ځان قربانوي؟

د هغه څخه وروسته د عامر ابن عکرمه ﷺ سر یې پر خپل ځنګانه باندې ایښی دئ او د پلار عکرمه ﷺ سر یې په غیږ کې نیولی دئ او وایې: تاسو او به راوړئ! نو لږ اوبه یې ورکړې او پر مخ یې ور وپر خلې.

حضرت عکرمه ﷺ سترګې را پورته کړې او وایې:

- ﴿مَنِ اقْتَرَبَ؟﴾ د چا په حق کي فيصله الله تعالیٰ وکړه؟
- خالدابن وليد ﷛ ورته وايي: ﴿اَبْشِرْ بِالْفَتْحِ﴾ الله تعالیٰ فتح د مسلمانانو په نصيب کړه.(۱)

## د عکرمه ﷛ آخري وينا:

آخره خبره عکرمه ﷛ دا کوي چي اى خالده! عمر ﷛ ته مي سلام وايه او دا پيغام مي ورکړه چي څنګه قرباني دي غوښته هغسي مي پيش کړه، نو د قيامت په ميدان کی ستا او د محمد رسول الله ﷺ د ملګرتيا ضمانت در څخه غواړو. او عکرمه ﷛ د دې خبري کولو وروسته شهيد سو. او خالد ابن وليد ﷛ وژړل او و يې ويل: ﴿كَلَّا دَعْ عُمَرَ ابْنَ حَنْتَمَه اَلَا يَسْتَشْهِدُوا﴾ چي پربږده! د "حنتمي" زوی "عمر" اوس هيڅ کله دا نه سي ويلای چي قريشو قرباني نه ده پيش کړې. حنتمه د حضرت عمر ﷛ د مور نوم وو، په عربو کي دا دستور وو چي کله به څوک په غصه کي راغلئ، نو د مور په نامه به يې هغه انسان يادوئ. چونکه دا قصه د حضرت عمر ﷛ د مجلس څخه را شروع وه، نو د حضرت خالد ابن وليد ﷛ په ذهن کي د هغه قصې ټول نقشه راغله، نو ځکه يې د وينا نسبت حضرت عمر ﷛ ته وکړئ. نو هغوی خپله سرداري په خاورو ګډه کړه، نو په دنيا کي دين ژوندی سو. قربان تر هغه صحابه کرامو ﷡ چي هغوی د دين قدر او عزت وکړئ او دين ته يې د عزت په سترګه وکتل او پر دين يې قرباني پيش کړه، نو دين تر ما او تا پوری را ورسېدئ.

## دين ته په قدر کتل:

کچيري هغوی و دې دين ته په داسي سترګه کتلي وای لکه نن چي ما او تا ورته ګورو، چي خپل کاروبار ته يې ترقي ورکولای، خپله دکانداري يې پر مخ بېولای، لوړ لوړ او لوی لوی کورونه او بلډنګونه يې جوړولای او ټوله زندګي

(۱) بيانات جميل صفحه نمبر ۲۵۸

او توان یې په دې کې مصرف او ختمولای لکه نن چې موږ داسي کوو، نو شاید ما او تا ته به اسلام نه وای را رسېدلئ او ما او تا به نن مسلمانان نه وای، دا زما او ستا اسلام د هغه صحابه کرامو ﷺ د قرباني په برکت الله تعالی ما او تا ته را نصیب کړی دئ.

## د حضرت عبد الله ابن ابی بکر ﷺ قرباني:

د حضرت عبد الله ابن ابي بکر ﷺ واده او نکاح د حضرت "عاتکې" سره وسوه، حضرت "عاتکې" ته الله تعالی ډېر زیات حُسن او جمال ور نصیب کړی وو، په علم او شعر شاعري کې په خپله ټوله قبیله کې مشهوره وه.
او حضرت عبد الله ابن ابي بکر ﷺ چې د ابوبکر ﷺ زوی وو ډېر زیات ښائسته نوجوان وو او دېرش (۳۰) کاله عمر یې وو چې واده یې وسو، د حضرت عاتکې ﷺ په محبت کې داسي ګرفتار سو چې په جهاد کې تلل ځني پاته سو او د مځکي پر مخ د دین خورول یې پرېښول.
حضرت عاتکه ﷺ ترغیب ورکوي، لیکن د حضرت عبد الله ﷺ څخه په جهاد کې سستي شروع سوه. چې کله د زناني محبت ور باندي غالب سو، نو حضرت ابوبکر ﷺ ور ته وایي: بچیه! ته د خپلي زناني په محبت کې د خپل اصلي ذمه واری څخه غافل سوې ته د دې دپاره دنیا ته نه یې راغلی چې کور به ناست یې.
بلکه د الله ﷻ د دین کلمه په ټوله دنیا کې لوړېدل غواړي، دا زنانه باید ستا سره نه وي دې ته طلاق ورکړه! چې د کمي زناني د محبت په وجه ته د الله تعالی د دین د لاري څخه راګرځېدلي یې.
حضرت عبد الله ﷺ یو طرف ته د محبت د غلبې په وجه د طلاق ورکولو همت نه لري؛ ځکه چې محبت ډېر شدید دئ او بل طرف ته د ابوبکر ﷺ غوندي پلار ناراضي ده چې د هغه ناراضي د رسول الله ﷺ ناراضي ده.
د صحابه کرامو ﷺ د وخت نارینه او زنانه پر خپل منشاء نه، بلکه د الله ﷻ او د الله ﷻ د رسول ﷺ پر منشاء چلېدل.

حضرت عبدالله ﷺ چي کله وکتل چي پلار ابوبکر ﷺ ناراض دئ نو د الله ﷻ رسول ﷺ ناراض دئ، چي د الله ﷻ رسول ﷺ ناراض دئ نو الله تعالیٰ ﷻ ناراض دئ، نو په دې غم کي ډېر پرېشان دئ، خو حضرت "عاتکه" ته یې طلاق ورکړئ. نو یوځای پروت دئ دا معلومات ورته نسته چي ابوبکر ﷺ نژدې روان دئ، نو د حضرت عاتکې ﷺ په یاد کي اشعار وایي:

اَعَاتِکَ قَلْبِیْ کُلَّ یَوْمٍ وَّ لَیْلَةٍ اِلَیْکِ بِمَاتُخْفِی النُّفُوْسُ مُعَلَّقٖ

اې عاتکې! چي تر څو پوري لمر ځلیږي او د مشرق څخه د مغرب طرف ته راخیژي او لویږي ستا یاد به زما د زړه څخه لیري نه سي.

## د حضرت عبد الله ﷺ رجوع کول:

حضرت ابوبکر ﷺ چي کله دا اشعار او د ده بې قراري ولیده، نو ورته وایي: بچیه! دوباره رجوع وکړه! حضرت عبدالله ﷺ دوباره رجوع ورته وکړه، لیکن بیا داسي موقع را نه غله چي ده د حضرت عاتکې ﷺ په وجه په جهادي میدان کي سستي او غفلت کړی وي.

## د حضرت عبدالله ﷺ شهادت:

چنانچي د طائف په میدان کي د حضرت عبدالله ﷺ په سینه کي غشی ولګېدئ او شهید سو.

د دېرش (۳۰) کاله په عمر کي د حضرت عبدالله ﷺ په نصیب کي شهادت سو چي د نوجوان عبدالله ﷺ لاش او جسد د حضرت عاتکې ﷺ مخ ته راغلئ، نو د لېونیانو غوندي بې قراره سره وګرځېده، بې اختیاره یې پر ژبه دا اشعار راغله:

اَلَیْتَ لَاتَنْفَکُّ عَیْنِیْ حَزِیْنَةً ::: عَلَیْکَ وَلَایَنْفَکُّ جِلْدِیْ اَوْوَتَرًا

لِلّٰهِ عَیْنًا مَّنْ رَّاٰیکُم مِثْلَهٗ ::::: فَکَرواحمی فِی الحَیَاء وَاصفرَاء

مُدت دمزاجین هت حمامُ هیکه :: بِمَانرذُلَیلهٗ الصَباح مُنورًا

اى عبدالله! اوس به هيڅ کله زما جسم راحت و نه وينې او هيڅ کله به زما پر جسم باندي نبه کېږه نه وغوړېږي چي ترڅو پوري دا دنيا قائمه وي او ترڅو پوري بلبلان پر درختو آوازونه کوي، ستا ياد به زما په زړه کي د ناسور غوندي کړېږي.

## د حضرت عاتکې ﷺ وفات:

څه زمانه د عبدالله ﷺ په ياد کي حضرت عاتکه ﷺ ناقراره وه آخر د حضرت عبدالله ﷺ په غم کي د حضرت پر طرف د دنيا څخه روانه سوه(١).

د دين په خاطر د يو عبدالله ﷺ او عاتکې ﷺ کور خراب سو د دنيا لکونه کورونه الله تعالی د دوی په خاطر په دين باندي آباد کړل.

دا د محمد رسول الله ﷺ امتيان وو، د محمد رسول الله ﷺ د شفاعت او حوض کوثر اميد واره انسانان وه او د محمد رسول الله ﷺ پر دين يې قرباني پېش کړې او په جنت کي يې د محمد رسول الله ﷺ معيت او ملګري وګټله.

موږ او تاسو لږ بايد چي په دې خپل ګريوان کي سر کښته کړو چي ما او تا هم ددې نبي ﷺ امتيان يو او ددې نبي ﷺ د شفاعت او د حوض کوثر اميدواره يو، ليکن زما او ستا د دين او د محمد رسول الله ﷺ سره کمه وفا ده او پر دې دين مو د قرباني ور کو لو څه حال دئ؟ خدا نخواسته چي د محمد رسول الله ﷺ په مخکي د قيامت په ميدان کي د شرمندګۍ او رسوايي سره مخامخ نه سو. الله تعالى دي د محمد رسول الله ﷺ پر دين د قرباني کولو توفيق راکړي. که به يې زموږ زړه غواړي او که به يې نه غواړي، الله دي مو نفس، اهل او عيال ټول د محمد رسول الله ﷺ تر دين قربان کړي. او الله تعالى دي په دې څو مختصرو خبرو ما او تاسو ټولو ته د عمل کولو توفيق راکړي. آمين

وَ آخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ

(١) بيانات جميل صفحه نمبر: ٣٠١

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآیه)

# د ګناهو څخه ځان ساتل

## (بیان)

مولوي اطیع الله صاحب
استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:
مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچي)
استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقــــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كـليم الله صـاحب |
| مـقــــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشــــاعــت | ثلــــــــــــــورم |
| تـــاريـــــخ | يكم ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق يكم مي ۲۰۱۸ |
| تـــعــــداد | (۱۱۰۰) |

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْداً كَثِيراً طَيِّباً مُبَارَكاً فِيهِ مُبَارَكاً عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَ يَرْضٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهِ خَيْرِالْهُدٰى وَعَلٰى اٰلِهِ وَاَصْحَابِهِ نُجُوْمِ الْاِهْتِدَاءِ.

اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَذَرُوا ظَاهِرَ الْإِثْمِ وَبَاطِنَهُ إِنَّ الَّذِينَ يَكْسِبُونَ الْإِثْمَ سَيُجْزَوْنَ بِمَا كَانُوا يَقْتَرِفُونَ(١)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

اِتَّقِ الْمَحَارِمَ تَكُنْ أَعْبَدَ النَّاسِ.(٢) اَوْ كَمَا قَالَ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ

اٰمَنْتُ بِا اللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلٰنَا الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ وَصَدَقَ رَسُوْ لُهُ النَّبِي الْكَرِيْم وَنَحنُ عَلٰى ذٰ لِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ وَالحَمدُ لِله رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**تمهيد:**

محترمو مشرانو! ستاسو په حضور کي ما د پیغمبر ﷺ يو حديث مبارک پيش کړئ.

د دې روايت راوي حضرت ابوهريره رضي الله عنه دئ.

او حضرت ابوهريره رضي الله عنه د پیغمبر ﷺ خاص شاګرد وو.

اصحاب صفه چي د پیغمبر ﷺ شاګردان او طالبان وه په هغوی اکثرو کي پیغمبر ﷺ ته نزدې شاګرد ابوهريره رضي الله عنه وو.

حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي: يوه ورځ پیغمبر ﷺ موږ تولو اصحاب صفه طالبانو ته ويل چي زه تاسو ته يو څو خبرې کوم.

---

(١) سورة الانعام، آيت نمبر: ۱۲۰

(٢) سنن ترمذي، حديث نمبر: ۲۳۰۵

کوم طالب به په تاسو کي په دا خبرو پخپله عمل وکړي او دا خبري به تر بل پوري ورسوي او نورو خلګو ته به پر دغه خبرو د عمل کولو وينا وکړي؟
نو حضرت ابو هريره ﷺ وايي: په ټولو طالبانو کي ما ورته وويل: چي ﴿انا يا رسول الله﴾ زه به دا خبري په ياد کي وساتم او په خپله به هم عمل ور باندي وکړم او زه به دا خبري تر نورو پوري هم ورسوم او نور خلګ به پر دې باندي باعث کړم چي هغوی پر دې خبرو باندي عمل کولو ته تيار سي.
نو دی مبارک وايي: د هغه څخه وروسته پنځه خبري پيغمبر ﷺ پر ګوتو را ته شمار کړې او چي هره خبره به يې کوله پيغمبر ﷺ به دا ګوته داسي کړه کړه.
نو د پيغمبر ﷺ هغه پنځه خبري دا د پيغمبر ﷺ ﴿جوامع الکلم﴾ دي.

## د پيغمبر ﷺ جوامع الکلم:

لکه پيغمبر ﷺ په يو حديث مبارک کي وايي:
﴿لَقَدْ أُعْطِيْتُ جَوَامِعَ الْكَلِمِ﴾[1] په تحقيق سره ماته جوامع الکلم را کول سوي دي.
جوامع الکلم د پيغمبر ﷺ داسي مختصري او لنډي خبري دي چي ظاهري الفاظ او وينا خو ډېره مختصره وي، ليکن که چيري د هغې په معنٰی او مفهوم کي انسان تصور وکړي، او د هغې د معنٰی او مفهوم د پاره په خپل زړه او دماغ کي ځای پيدا کړي، نو هغه يوه خبره بيا د هغه انسان د زندګۍ د پاره قانون او دستور جوړېدلای سي.

## د پيغمبر ﷺ پنځه جامع نصيحتونه:

نو حضرت ابو هريره ﷺ فرمايي: کومي پنځه خبري چي د الله ﷻ رسول ﷺ ما ته وکړې هغه پنځه خبري د "جَوَامِعُ الْكَلِمِ" څخه وې چي د هغه الفاظ خو ډېر مختصر وه، ليکن د هغه مفهوم او معنٰی د ټولي زندګۍ د پاره کفايت کوئ.

[1] جامع الصغير، حديث نمبر: ۴۲۲۲

## اوله خبره:

اوله خبره حضرت ابوهريره ﷺ وايي چي پيغمبر ﷺ به موږ ته کوله چي ﴿اِتَّقِ الْمَحَارِمَ تَكُنْ اَعْبَدَالنَّاسِ﴾ په زندګي کي د حرامو او ناجائزو څخه ځان و ساته او د ناروا کارو او د الله تعالی د مخالفت څخه ځان وساته! ﴿تَكُنْ اَعْبَدَالنَّاسِ﴾ د خدای ﷻ په حضور کي به د ټولو څخه زيات عبادت کونکی سې.

نو يوه خبره ابوهريره ﷺ وايي چي پيغمبر ﷺ به موږ ته دا کوله چي ﴿اِتَّقِ الْمَحَارِمَ تَكُنْ اَعْبَدَالنَّاسِ﴾ ته د حرامو او ناجائزو څخه ځان ګوره د خدای په حضور کي به په لويو عبادت ګارانو کي شمارل کېږې.

په دې وخت کي زه صرف د دې يوې خبري متعلق لږ وضاحت کوم، الله تعالی دي يې قبول او مقبول وګرځوي.

که چيري زندګي وه، نو د نورو خبرو متعلق به بيا په را روان وخت کي وضاحت کوو انشاءالله.

## د ګناهو پرېښول ضروري دي:

پيغمبر ﷺ حضرت ابوهريره ﷺ ته دا خبره کوي چي ﴿اِتَّقِ الْمَحَارِمَ﴾ د حرامو څخه ځان ګوره!

په دې کي پيغمبر ﷺ د يوې خبري حقيقت ښکاره کولو ته اشاره کوي او د يو حقيقت واضح کول د پيغمبر ﷺ مقصد دي، هغه حقيقت دا دئ چي د انسان په زندګي کي د فرائضو او واجباتو څخه وروسته دوهمه درجه د ګناه څخه ځان راګرځول دي.

چي انسان په خپله زندګي کي فرائض پر ځاى کړي او واجبات پر ځاى کړي، د هغه څخه وروسته دوهمه درجه دستي دستي د ګناهو څخه د بچاوېدو درجه ده او د ګناهو د راګرځېدو څخه وروسته بيا درجه د نفلي عباداتو راځي.

په کار دا دئ چي بيا انسان نفلي عبادات وکړي، خير او خيرات وکړي، تلاوت او تسبيح وکړي.

نو د انسان په زندګي کي به اول انسان فرائض او واجبات پر ځای کوي، د هغه څخه وروسته به انسان د حرامو او ناروا او ناجائزو څخه ځان ګوري.

او په دريمه درجه کي بيا انسان ته نفلي عبادات او ذکر او اذکار فائده ور رسولای سي.

نو ځکه پيغمبرﷺ حضرت ابوهريرهؓ ته وايي: ﴿اِتَّقِ الْمَحَارِمَ تَكُنْ أَعْبَدَ النَّاسِ﴾ که چيري ته د حرامو او ګناهو څخه ځان وګوري او که بيا نفلي عبادات هم وه نه کړې بيا هم ته په ډيرو لوړو عابدانو کي شمارل کېږې.

نو نفلي عبادات د دې درجو دريمه درجه ده.

١. ايمان او د عباداتو فرائض او واجبات پر ځای کول.
٢. د ګناه څخه ځان ساتل.
٣. د نفلي عباداتو اهتمام کول.

## د غلط فهمی ازاله:

او داغه رنګه پيغمبرﷺ په دې حديث کي زموږ او ستاسو د دماغو څخه د يو غلطي ازاله کوي، د هر ځله زموږ په دماغ کي دا خبره يي چي موږ د نفلي عباداتو او تلاوتو او اوږدو وظيفو ډېر زيات اهتمام کوو.

په هفته کي نفل نه را څخه قضاء کيږي او په مياشت کي تهجد نه را څخه قضاء کيږي او صلوة الاوابين کوو، نفلونه کوو او د ځابنت لمونځ کوو.

ليکن د هغه په مقابل کي چي د ګناه څخه ځان را ګرځول دي د ګناه څخه د ځان راګرځولو اهتمام نه کوو د خپلي ژبي حفاظت نه کوو. دلته د ننه په مسجد کي پر وظيفه ناست يو د باندي چي ور ووزو بيرته په غيبت اخته يو.

د خپلو سترګو حفاظت نه کوو او د خپلو غوږو حفاظت نه کوو، بس زموږ په دماغ کي دا خبره ناسته ده چي زه خو بهترين نفلي عبادات کوم او دا زما کفايت کوي، حالانکي دا زموږ په دماغ کي يو قسم غلطي ده.

او پيغمبر ﷺ زموږ د دماغو څخه دا غلطي باسي را ته فرمايي: ګوره! چي کوم کار دمخه دئ بس هغه مخ کي وکړه! او چي کوم کار وروسته دئ هغه وروسته وکړه!. د مخه کار دا دئ چي په زندګي کي د ګناه څخه ځان را وګرځوه! ﴿اِتَّقِ الْمَحَارِمَ﴾ د ګناه څخه ځان را وګرځوه! بيا که ته وظيفي نه وکړې او که ذکرونه و نه کړې لا به هم ﴿تَكُنْ اَعْبَدَ النَّاسِ﴾ د خداى ﷻ په حضور کي به په زياتو عبادت ګارانو کي شمارل کېږې.

نو ذکر، تلاوت او نفلي عبادات دا بلاشبه پر خپل ځاى د فضيلت والا کارونه دي، ښه کارونه دي په کار دا دئ چي انسان يې وکړي.

ليکن د دې موازنه چي انسان د ګناه د پرېښودلو سره وکړي چي آيا دا ذکر کول به ډېر ښه کار وي که به د ګناه پرېښودل ضروري وي، نو بيا دغه ذکرونه او دا نفلي عبادات د ګناه د پرېښودلو په مقابل کي لوى حيثيت نه لري.

د انسان دپاره په زندګي کي اولنى کار دا دئ چي انسان ګناه پرېږدي؛ ځکه چي ته د دې نفلي ذکرو په وجه او د دې تلاوتو په وجه باندي کومه ګټه په عملنامه کي را جمعه کوې دلته د ګناه لار خلاصه ده هغه ګټه بيرته د لاس څخه در ځي.

نو ما در ته وويل: چي نفلي عبادات پر خپل ځاى يقينا د فضيلت کارونه دي، ليکن چي کله د دې نفلي عباداتو موازنه د ګناه د پرېښودلو سره انسان وکړي.

نو د ګناه د پرېښودلو په مقابل کي دا دومره اهميت نه لري لکه څومره چي يې د ګناه پرېښودل لري؛ ځکه چي د نفلي عبادت په وجه ستا په عملنامه کي څومره نيکياني را جمع سي د ګناه په وجه هغه بيرته وزي.

## د ګناه او نفلي عباداتو مثال:

د دې مثال داسې دئ لکه یو انسان دئ هغه په مسجد کې هغه شی ولګوي چې هغه دې مسجد ته یخه هوا ورکوي یا د "ایرکنډیشن" په نامه دئ یا په بل نامه دئ د هغه شي دپاره شرط دا دئ چې هوا به دې مسجد ته هلته یخه ورکوي چې دروازې او کلکینان ټول بند وي، نو بیا به د هغه شي هوا دې مسجد ته راځي او دې مسجد ته به فایده وررسوي او په دې مسجد کې به یخنې جوړوي.
لیکن که چیري ته یو طرف ته "اي سي" ور ته ولګوې او بل طرف کلکینان او دروازې ټولې خلاصې وي، نو د هغه څخه بیرته هوا وځي نو بیا د هغه "اي سي" لګولو په دې مسجد کې څه فائده نه محسوسیږي، نو اول به دروازې او کلکینان بندوې او د هغه څخه وروسته به بیا د یخې هوا شی لګوې، بیا به په دې مسجد کې د دې شي څخه ته فائده اخیستی سې.

## د ګناه پرېښول تر نفلي عباداتو مقدم دي:

نو دا نفلي عبادت په مثل د هغه شي دئ چې یخه هوا جوړوي او د دې دا یخه هوا دا د نفلي عباداتو ګټه ده او دا دروازې او کلکینان او د دې څخه هواء بیرته وتل دا په مثل د ګناه دي، چې تر څو پورې انسان ګناه نه پرېږدي او حرام نه پرېږدي تر هغه وخته پورې دَی د دې نفلي عباداتو او په ذکر او اذکارو کې ډېره ګټه په خپله عملنامه کې نه سي جمعه کولای.

## اول د حرامي نفقې څخه ځان ساتل:

مثلا پر انسانانو د روژې میاشته راسي د روژې په میاشت کې انسان د نفلي عباداتو دونه اهتمام کوي چې کوم انسان ته خدای ﷻ د فرضي جماعت توفیق نه وي ورکړئ ته به ګورې په تراویحو کې ولاړ وي، کوم انسان ته چې الله ﷻ د لمانځه توفیق نه وي ورکړی بله ورځ به یې ګورې په مسجد کې پر وظیفه باندې ناست وي.

د دې تولو عباداتو انسانان ډېر اهتمام کوي، لیکن هغه کم نصیبه چې کله روژه ماتوي پر دې لږ فکر نه کوي چې دا زما روژه مات زه په کمه نفقه کوم او چې کله پر پیشلمي باندې څه خوري، نو پر هغه فکر نه کوي چې دا زما پیشلمی زه په څنګه نفقه باندې کوم.
نو په کار دا دي چې کله د روژې میاشت راسي څوک نفلي عبادات کوي د نفلي عباداتو څخه مخکې یو وار په دې خپله نفقه کې یو څه فکر وکړي.
اول پر دې خپله زندګي باندې یو څه فکر وکړئ؛ ځکه نفلي عبادات دونه اهم نه دي لکه ستا په زندګي کې چې څونه ستا دپاره د ګناه څخه ځان ساتل ضروري دي.

## د ګناه څخه ځان ساتل ډېر اهم دي:

یو انسان دئ د شپې عبادات کوي او د شپې لمونځونه کوي، لیکن سهار چې کله دَی را ووزي که تجارت کوي په هغه کې دروغ وایي او په دغه تجارت کې خیانت کوي او مسلمان ته دوکه ورکوي. او که مجلس کوي په مجلس کې د مسلمان دل آزاري کوي، او په کومه محله کې چې اوسیږي همسایه دده څخه په عذاب وي، چې کومه ګناه په مخه ورځې هغه کوي.
نو پیغمبر ﷺ د دې خلکو په باره کې وايي: ﴿كَمْ مِنْ قَائِمٍ لَيْسَ مِنْ قِيَامِهِ إِلَّا السَّهَرُ﴾[1].
ډېر انسانان کم نصیبه چې د شپې عبادتونه کوي، نو د شپې د بدخابۍ څخه بغیر بل هیڅ نه سي ور پاته؛ ځکه چې د شپې یې څونه عبادت وکړئ د ورځې بیرته هغونه ګناه وکړي.
نو په کار دا دئ چې انسان نفلي عبادتونه کوي دا تول په خپل ځای ډېر د فضیلت والا کارونه دي لیکن زموږ په شریعت کې د دې څخه مخکې یو شرط هغه دا دئ چې انسان به ګناوي پرېږدي. نو که انسان د دې خپل عبادت څخه څه

[1] ابن ماجه، حدیث نمبر: ۱۶۹۰

ګټه اخلي، نو په کار دا دئ چې اول پر دې خپله زندګي یو څه نظر وکړي د هغه څخه وروسته بیا نفلي عبادت وکړي.

## د عبد الله ابن عباس رضي الله عنه تعارف:

حضرت عبد الله ابن عباس رضي الله عنه د پیغمبر ﷺ د اکا زوی دئ، د پیغمبر ﷺ په زندګي کې د هغه عمر ډېر کم وو، چې کله پیغمبر ﷺ وفات سو، نو په دې وخت کې د هغه عمر لس (۱۰) یا دیار لس (۱۳) کاله وو.

لیکن د علم او د دین ډېر شوق ورسره وو، پیغمبر ﷺ به ډېر ډېر دا دعاء ورته کول: ﴿اَللّٰهُمَّ عَلِّمْهُ الْكِتَابَ وَفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ﴾[1] یا الله ﷻ د قرآن کریم علم په نصیب ورکړې یا الله ﷻ! په دین کې پوهه په نصیب ورکړې. ځکه چې کله پیغمبر ﷺ وفات سو بیا د صحابه وو رضي الله عنهم څخه عبد الله ابن عباس رضي الله عنه علم راټولوئ.

لیکن آخر د پیغمبر ﷺ د دعا په برکت دا وو چې عبد الله ابن عباس رضي الله عنه ته په خپله زندګي کې د "رئیس المفسرین" لقب ورکول سو. چې د قرآن کریم په باره کې څوک د تفسیر خبره کوي، نو د هغوي ټولو رئیس به عبد الله ابن عباس رضي الله عنه وي د هغه د خبرې په مقابل کې به د بل چا خبرې ته چنداني اهمیت نه ورکول کیږي.

## د عبد الله ابن عباس رضي الله عنه څخه پوښتنه:

د حضرت عبد الله ابن عباس رضي الله عنه څخه یو سړي پوښتنه وکړه (چونکې عبد الله ابن عباس رضي الله عنه د وخت غټ عالم دئ او د وخت غټ فقیه دئ، د وخت غټ مفسر دئ) ورته وایي: ای عبد الله! ﴿رَجُلٌ قَلِيْلُ الْعَمَلِ وَ قَلِيْلُ الذَّنْبِ اَعْجَبُ اِلَيْكَ اَمْ رَجُلٌ كَثِيْرُ الْعَمَلِ وَكَثِيْرُ الذَّنْبِ﴾ یو سړی دئ د هغه عمل ډېر کم دئ، نه د شپې تهجد کوي، نه د څاښت لمونځ کوي، نه اشراق کوي، نه صلوٰة تسبیح کوي او نه صلوٰة اوابین

[1] صحیح البخاري، حدیث نمبر: ۷۲۷۰

کوي، نه ذکر کوي، نه د قرآن کريم تلاوت کوي صرف فرائض، واجبات او سنن موکده يې پر ځای کړي دي.

ليکن د دې سره سره د دې سړي ګناه هم ډېره کمه ده "قليل العمل" هم دئ، "قليل الذنب" هم دئ، دا خپله ژبه يې په کنټرول کې ده، دا خپلې سترګې يې په کنټرول کې دي او خپل غوږونه يې په کنټرول کې دي.

د ګناه کولو ټوله اندامونه يې په کنټرول کې دي، د دې سړي په عملنامه کې نفلي عبادات ډېر کم دي، ليکن د دې سره ګناه يې هم ډېره کمه ده.

ليکن د دې په مقابل کې يو سړی دئ "کثير العمل" او "کثير الذنب" دوهم سړی هغه دئ چې د شپې د تهجد لمونځونه هم کوي او د سهار اشراق هم کوي او د ځاښت لمونځ هم کوي.

ليکن د دې سره په ګناه کې هم اخته دئ، نه يې ژبه په کنټرول کې ده، نه يې سترګې په کنټرول کې دي، نه يې کار او بار د دين سره برابر دئ او نه يې زندګي ټېرول د شريعت سره برابره ده، آيا په دې دوو کسانو کم يو تا ته ډېر خوښ دئ؟

عبد الله ابن عباس ﷺ ورته وويل: ﴿لَا أَعْدِلُ بِالسَّلَامَةِ﴾[1] چې سړيه! په زندګي کې د ګناه څخه ځان ساتل او په زندګي کې پر خپلو اندامو باندې کنټرول لګول، دا د الله ﷻ په حضور کې دونه لوړه درجه لري که نفلي عبادات په هر څو چنده سي د هغه سره نه سي برابرېدلای. ما مخکې هم درته وويل: چې نفلي عبادتونه پر خپل ځای باندې ډېر ښه کارونه دي، موږ دا نه وايو چې څوک دې تلاوت نه کوي، موږ دا نه وايو چې څوک دې ذکر نه کوي او څوک دې تسبيحات نه کوي دا پر خپل ځای باندې ډېر ښه اعمال دي.

---

[1] کتاب الزهد لعبد الله ابن مبارک، باب ما جاء في تخويف عواقب الذنوب.

**د انسان دوکه:**

لیکن دا هر شي یو شرط لري د دې مخکنی شرط دا دئ چي سړی به یو وار د ګناه څخه ځان ګوري.

لیکن یو سړی په دې طمع ناست دئ چي زه خو د شپې تهجد کوم، زه خو خیراتونه کوم، زه خو نفلي عبادتونه کوم، د ګناه څخه ځان نه ګوري، لیکن دا یې عقیده ده چي زه به په دې نفلي عباداتو د الله ﷻ د عذاب څخه خلاص سم، دا سړی په خپله زندګي کي په دوکه کي اخته دئ، دا سړی په دین کي ناپوه دئ.

نو نفلي عبادات ډېر ښه اعمال دي، ذکر ښه عمل دئ، تلاوت ښه عمل دئ او وظائفي ښه اعمال دي، لیکن د دې څخه مخکي ضروري دا ده چي یو وار د ګناه څخه ځان وګوري د هغې څخه وروسته دا اعمال وکړي.

نو که چیري ته په نفلي عباداتو کي اخته یې، لیکن د ګناه څخه د راګرځېدو فکر در سره نه وي او په دې طمعه روان یې چي په دې نفلي عباداتو به زه خلاص سم، په دې طمع! ته په دوکه کي اخته یې.

کوم څوک چي د ګناه څخه ځان ساتي د الله ﷻ په حضور کي د هغه سړي د جنت وعده سته، که په ټوله زندګي کي یو رکعت نفلي عبادت هم ونه کړي.

لیکن که یو سړی ټوله زندګي په نفلي عباداتو کي تېره کړي، لیکن په خپله زندګي کي د ګناهو څخه ځان نه ګوري، نو د هغه سړي د خلاصوالي وعده د الله ﷻ په حضور کي نسته.

نو ځکه عبد الله ابن عباس رضي الله عنهما هغه سړي ته وایي: ﴿لَا أَعْدِلُ بِالسَّلَامَةِ﴾ د دې خبري سره چي یو انسان د ګناه څخه ځان ګوري زه هیڅوک نه سم برابرولئ.

**د دوو زنانو متعلق د پیغمبر ﷺ وینا:**

د پیغمبر ﷺ په مجلس کي د دوو زنانو ذکر راغلئ:

۱. هغه زنانه چې هغه عبادات ډېر کم کوي صرف فرائض او واجبات چې سره ورسوي نو ډېر ښه خبره ده، لیکن د دې سره سره د خپلو همسایګانو او د کور د انسانانو سره په ډېره خوش اخلاقۍ سره ژوند تېروي، خپله ژبه یې په کنټرول کې راوستلې ده او ځان یې د ګناه څخه ساتلی دی.

۲. هغه زنانه ده چې پر خپلو اعمالو یې ډېر زیات نظر دئ، یعني نفلي عبادات ډېر زیات کوي، لیکن په ژبه کې یې نُشُوز دئ، نشوز معنٰی نافرماني، چې هغه د خاوند سره هم اخته ده او په کور کې د نورو زنانو سره هم اخته ده او په کلي کې د نورو انسانانو سره هم اخته ده.

پیغمبرﷺ وایي: چې دا اوله زنانه چې کومه زنانه عبادت کم کوي او د ګناه څخه یې ځان بچاو کړی وي دا په ډېرو درجو افضله ده تر هغه زنانې چې عبادات ډېر کوي او د ګناه څخه د ځان حفاظت نه کوي. او یو روایت دا هم راځي چې پیغمبرﷺ وایي: دا اوله زنانه چې د ګناه څخه یې ځان ساتلی دئ دا جنتي ده او دا دوهمه زنانه د دې ډېر عبادت سره سره دوزخي ده.

## د شریعت فیصله:

زموږ د شریعت دا فیصله ده چې اوږده اوږده نفلي عبادتونه د ګناه پرهېزولو وروسته دي چې اول ځل به انسان ځان د ګناه څخه بچاوه وي. یو انسان دئ تهجد نه کوي، یو انسان دئ په زندګۍ کې یې اشراق نه دي کړي، یو انسان دئ اوابین لمونځونه یې نه دي کړي، د قرآن کریم تلاوت یې نه دئ کړی.

لیکن هغه انسان پر ځان دا لازمه کړې ده چې زه به د ګناه څخه ځان بچاووم، د انسان ولایت ته ځان رسولای سي او په دې انسان کې د ولایت استعداد پیدا کېدلای سي او دا انسان مستحق د ولایت کېدای سي. لکه زموږ د تصوف په ټولو سلسلو کې اولنی قدم دا دئ چې انسان د تصوف په سلسلو کې راځي چې د ګناه پرهېز دل به کوي او پر خپل نفس به قدم ایږدي او د هغه څخه وروسته به د تصوف په سلسله کې ځان ګډوي او په نفلي اذکارو او وظیفو به شروع کوي.

او د انسان دپاره په کار دا ده چي پر ځان باندي دا الزام وکړي چي زه به په خپل قصد او اراده ګناه ته نه ور نژدې کېږم.
او چي کوم انسان دا التزام پر ځای کړي چي ګناه ته به نه ور نژدې کیږي، نو هغه انسان دي زړه خوشحاله کړي چي زه اوس د ولایت مقام ته رسېدای سم.

## د ولایت شرط تقوی ده:

دا ښکاره خبره ده چي د ولایت دپاره دا شرط نه دئ چي انسان به په هوا الوزي او د ولایت دپاره دا شرط نه دئ چي انسان به د اوبو پر سر روان یي او د ولایت دپاره دا شرط نه دئ چي د انسان څخه به خامخا کرامتونه ښکاره کیږي.
د ولایت دپاره قرآن کریم یو شرط بیانوي بس چي هر څوک یې پر ځای کړي هغه ولي دئ او د ولایت مقام ته رسېدای سي او "ولي" جوړېدای سي.
قرآن کریم وایي: ﴿إِنْ أَوْلِيَاؤُهُ إِلَّا الْمُتَّقُونَ﴾[1] دا "إِلَّا" د حصر دپاره راځي یعني ولایت په تقوٰی کي حصر دئ بغیر د تقوٰی ولایت نه سي راتلای.
نو په کوم چا کي چي تقوٰی راغله هغه د الله جَلَّ جَلَالُهُ "ولي" جوړېدای سي.

## د تقوی معنی ګناه پرېښول دي:

اوس د تقوٰی په باره کي که انسان دا پوښتنه وکړي چي تقوی څه ته وایي؟
تقوٰی و دې ته نه ویل کیږي چي ته اشراق کوه، تقوٰی دې ته نه ویل کیږي چي ته تهجد کوه، تقوٰی دې ته نه ویل کیږي چي ته تلاوت کوه.
تقوٰی عربي لفظ دئ ویل کیږي و ځان ساتني ته او پرهېز ته.
چي کوم انسان په خپله زندګي کي د ګناه څخه پرهېز وکړی چي کوم انسان په زندګي کي د ګناه څخه ځان وساتي په دې انسان کي تقوٰی راغله او په کوم انسان کي چي تقوٰی راغله هغه انسان ته متقي ویل کیږي او کوم انسان چي متقي سو، نو زموږ د الله رب العزت کلام دا دئ چي دا انسان "ولي" دئ.

(۱) الانفال آیت نمبر ۳۴

یا په نورو الفاظو چي کوم انسان په زندګي کي د داسي کار څخه ځان وساتي چي په کوم کار باندي د محمد رسول الله ﷺ په مخ کي دَی شرمنده کیږي او په کوم کار چي دَی د الله ﷻ په حضور کي لاجواب کیږي چي د هغه کار څخه کوم چا ځان وساتئ بس هغه ته "ولي" او "متقي" ویل کیږي.

او الله تعالی دا وایي چي "متقي" زما "ولي" دئ، نو هغه انسان د ولایت درجي ته رسېدلای سي او هغه سړی د ولایت مقام ته رسېدلای سي.

لیکن کوم کم نصیبه چي هغه په زندګي کي عبادت هم ډېر کوي او ګناوي هم ډیري کوي، چي کله د قیامت میدان ته راسي یا چي ده د چا غیبت کړی دئ او د چا یې دل آزاري کړې ده او د چا سره یې بغض کړی دئ، هغه ټول ورته راسي یا چي ده څه نفلي عبادات کړي وي او یا د ده په عملنامه کي سته نو یو څوک یې یو نېک عمل وړي او بل څوک یې بل نېک عمل وړي تر څو چي د ده عبادات ختم سي.

او د هغه څخه وروسته د هغو خلګو ګناهونه پر ده باندي اچول کیږي ﴿فَطُرِحَ عَلَيْهِ ثُمَّ طُرِحَ فِي النَّارِ﴾(۱) یا د ګناه سره جهنم ته ور اچول کیږي.

نو د ګناه د پرېښودلو څخه بغیر د ده نفلي عباداتو کوم ځای ونیوئ؟

په دې وجه که د نفلي عباداتو څخه انسان طمعه د رحمت لري او که د نفلي عباداتو څخه انسان طمعه د الله ﷻ د قرب لري د هغه چا دپاره دا خبره بنیادي ده چي د هغه څخه مخکي به یو وار فکر پر ګناه باندي کوي او د ګناه څخه به ځان ساتي. او د هغه څخه وروسته به بیا نفلي عبادات کوي د هغه څخه وروسته بیا د نفلي عباداتو په ذریعه دَی خدای ﷻ ته ځان نژدې کولای سي.

(۱) ترمذي، حدیث نمبر: ۲۴۱۸

## پرهېز تر علاج ښه دئ:

څکه د ډېرو احاديثو څخه داسي معلومېږي چي ﴿اَلْوِقَايَةُ خَيْرٌ مِّنَ الْعِلَاجِ﴾(۱) يو انسان ناجوړه سو او دا انسان علاج هم کوي او پرهېز هم کوي، نو د ده دپاره خير اول پرهېز دئ چي اول انسان پرهېز وکړي او د هغه څخه وروسته بيا علاج وکړي.

نو دلته هم د ګناه څخه ځان ساتل دا په مثل د پرهېز دي او نفلي عبادات دا په مثل د دوا دي، چي تر څو پوري دَی پرهېز و نه کړي تر هغه وخت پوري ده ته دوا فائده نه رسوي او تر څو پوري چي ده د ګناه څخه ځان ساتلی نه وي تر هغه وخت پوري نفلي عبادات هم فايده نه ورته کوي. بايد انسان په تدريجي طريقه سره د ګناهو څخه خپل ځان مکمل پرهېز کړي او د ګناهو څخه خپل ځان محفوظ کړي.

## ورځ د رسول الله ﷺ په ملګرتيا کي تېرول:

د نقشبنديې طريقې شيخ شاه ابوالحسن خرقاني رحمة الله عليه ليکلي دي: چي د کوم انسان يوه ورځ بغيره د ګناه څخه تېره سي او کوم انسان چي په ورځ کي ګناه نه وکړي او ټوله ورځ د ګناه څخه ځان وساتي، نو دا انسان دي خپل ځان داسي وبولي لکه دغه ورځ چي د محمد رسول الله ﷺ په معيت او ملګرتيا کي تېره سوه(۲).

او څه معلومه ده چي يوه ورځ د محمد رسول الله ﷺ په ملګري کي تېره سي نو الله جل جلاله به د ده د نجات ذريعه هغه يوه ورځ وګرځوي، دا ممکنه خبره ده. نو په دې وجه بنيادي خبره د انسان دپاره دا ده: چي د ګناه څخه ځان وساتي.

(۱) نضرة النعيم في مکارم اخلاق الرسول صفحه نمبر ۲۲۶

(۲) گناہوں کی توبہ کیجئے صفحہ: ۲۳

**د يو بزرګ وينا:**

د يو بزرګ وينا ده چې نيكي خو هر انسان كوي او د نېكۍ او د خير كارونه خو د هر چا د لاس څخه وځي، ليكن زموږ په دين كي جوانمرده سړی څوك دئ؟ زموږ په دين كي جوانمرده سړی هغه دئ چي ګناه ته جواب وركړي.

دا څه ګرانه خبره نه ده په دې امت كي عجيبه انسانان تېر سوي دي.

حضرت مجدد الف ثاني رحمة الله عليه په خپل "مكتوبات" كي ليكلي دي چي په دې امت كي داسي صديقين الله جل جلاله تېر كړي دي چي په شل كاله كي كرام الكاتبين ملائكو ته دا موقع نه سوه ميلاو چي د ده د ګناه ليكلو دپاره پر كاغذ باندي قلم را كش كړي([1]).

نو داسي زندګي هم الله جل جلاله دې امتيانو ته وركړې ده.

**د ګناه په هكله د انسان خيال او د الله جل جلاله جواب:**

ګناه چي كله انسان كوي نو انسان په ډېر غفلت كي وي، د څلورو وجهو په وجه يې كوي، ليكن قرآن كريم د هغه ټولو جواب وركړی دئ:

١. ګناه په دې وجه كوي چي د انسان دا ګمان وي چي دا ګناه زه كوم په دې ګناه كي نه په ما څوك خبر دئ او نه ما ځوكويني، نو د دې ګناه په خاطر سبا زه د چا په حضور كي نه شرمنده كېږم.

نو الله جل جلاله د دې جواب وركوي، الله جل جلاله ور ته وايي: ﴿إِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ﴾([2]) اى انسانه! ستا رب جل جلاله تا ته په كمين كي ناست دئ.

**مرصاد:** دا عربي لفظ دئ د "رصد" څخه دئ "مرصاد" دې ته ويل كېږي چي په يو ځای كي ښكار ولاړ وي او ښكاري كمانه او لينده ی پر برابره كړې وي او په دې وخت كي دومره ور ته منتظر وي چي د سترګو د

---

([1]) ګناہوں سے توبہ کیجئے صفحہ: ۲۵

([2]) الفجر آيت نمبر ۱۴

رفولو موقع لا انسان ته نه وي، ور نه ښکار د ده څخه غورځي او دَی غشی ورخطا کوي، دې کيفيت ته "مرصاد" ويل کيږي.
نو په دغه حالت کې چې ښکاري کوم ښکار ته ناست يي هغه حالت ته "مرصاد" ويل کيږي.
الله تعالی ورته وايي: ای بنده! زه په دغه حالت کې در ته ناست يم، ستا خو دا عقيده ده چې ما نه څوک ويني، نه ما څوک ليدای سي.
نو که ته د هر چا څخه ځان پټ کړې د خپل رب جَلَّجَلَالُهُ څخه ځان نه سې پټولای.

۲. د انسان دا گمان وي چې زه کومه گناه کوم ما خو دا خبره پر ټليفون باندې وکړه او يا دا خبره ما په خط کې وليکله، يا دا خبره ما په بله ذريعه باندې وکړه او زما په دې خبره باندې څوک نه دئ خبر، مخکې هم پر دې کار زه چا نه يم ليدلی او اوس مې هم څوک نه ويني.
الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايي: ﴿يَعْلَمُ خَائِنَةَ الْأَعْيُنِ وَمَا تُخْفِي الصُّدُورُ﴾[1] ای کم نصيبه بنده! چې کومه گناه کوې ستا رب جَلَّجَلَالُهُ داسې ذات دئ چې سترگې صرف د خيانت په شکل کړې کړې الله جَلَّجَلَالُهُ در خبر دئ.
او الله جَلَّجَلَالُهُ فرمايي: چې په زړه کې ته کومه گناه پټوې او وسوسه يې راگرځوې زه در خبر يم.
نو په کوم شکل به ته د خپل رب جَلَّجَلَالُهُ څخه ځان پټ کړې.

۳. کله چې انسان گناه کوي، نو د ده دا يقين وي چې په دې کمره او حجره کې خو يو څوک نسته زه يوازې يم، زه که گناه وکړم، نو په ما باندې به څوک خبر نه سي.

---

[1] الغافر آيت نمبر ۱۹

الله جل جلاله ور ته وايي: اى انسانه! په ډېر غفلت كې يې. كه تاسو درې كسان ياست څلورم زه در سره يم، كه تاسو څلور كسان ياست پنځم زه در سره يم.

﴿وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ﴾(۱) الله جل جلاله ستاسو ملګرى دئ په هر ځاى كې چې ياست، كه يوازې ياست هم رب جل جلاله در سره دئ، كه دوه ياست هم رب جل جلاله در سره دئ او كه څلور ياست هم رب جل جلاله در سره دئ.

په هر شكل چې ياست په هر ځاى كې چې ياست كه د ويښ والي په حالت كې ياست كه د خوب په حالت كې ياست ستاسو رب جل جلاله ستاسو سره ملګرى دئ، بيا به ځان څنګه د ګناه په وخت كې يوازې بولې چې په ما به څوک نه خبرېږي؟

۴. چې كله انسان ګناه كوي نو د انسان دا عقيده يې چې د كوم چا څخه انسان خار خوري، د كوم چا څخه چې انسان ېرېږي هغه څوک د مخه ځنې ووځي، نو بيا د ده دا خيال يې چې اوس پر دې ګناه كولو باندې هيڅوک ما ته څه نه سي ويلاى.

پلار نسته، اكا نسته او مشر نسته نو پر دې ګناه به ما ته څوک ملامتيا را كړي؟

الله جل جلاله ور ته فرمايي: كه بل څوک نسته ﴿إِنَّ أَخْذَهُ أَلِيمٌ شَدِيدٌ﴾(۲) چې د ګناه په وجه به دې الله جل جلاله په قيامت كې رانيسي، د هغه جل جلاله رانيول بيا ډېر شديد وي. بيا پلار هم دومره عذاب نه سي دركولاى او اكا هم دومره عذاب نه سي دركولاى او مشر او سرپرست هم دومره عذاب نه سي دركولاى.

---

(۱) الحديد آيت نمبر ۴

(۲) هود آيت نمبر ۱۰۲

الله ﷻ څه ورته وايي: ﴿وَلَا يُوثِقُ وَثَاقَهُ أَحَدٌ﴾(١) الله ﷻ چي انسانان په څومره مضبوطی سره رانيسي د الله ﷻ مضبوطوالی بيا په بل چا کي نسته.
الله ور ته وايي: ﴿فَإِنِّي أُعَذِّبُهُ عَذَابًا لَا أُعَذِّبُهُ أَحَدًا مِنَ الْعَالَمِينَ﴾(٢) زه چي په دې ګناه څونه عذاب در کوم بيا که دا ټول مخلوقات يو طرف ته سي، نو هم زما غوندي عذاب نه سي در کولای. نو دا مه وايه چي زما مشر نسته او زما سرپرست نسته، پر دې ګناه باندي به ما څوک راګرځوي.(٣)

## ګناه د نفلي عباداتو د پاره زهر قاتل ده:

ضروري دا ده چي انسان به د ګناه څخه ځان ګوري، د هغه څخه وروسته به بيا نفلي عباداتو ته اوړه ورکوي، ګناه د انسان په زندګي کي زهر قاتل ده چي څومره اعمال انسان حاصلوي د دې زهر قاتلو په وجه ټول بيرته لغو کيږي.

## بعض اعمال تر ګناه بد ترين دي:

ليکن يو طرف ته ګناه ډيره درنه ده، د انسان په زندګي کي خطرناک عمل دئ او دوهم طرف ته علماء کرامو ليکلي دي: بعض داسي اعمال دي چي هغوی تر ګناه هم ډېر درانه دي، ګناه بيا د انسان په زندګي کي دومره نه ده بې کاره لکه هغه کار چي بېکاره دئ.

١. اول کار د انسان دپاره زيات بې کاره دا دئ چي ګناه کوي او سپکه يې بولي، ګناه پر څه نه بولي، ګناه يې وکړه پر دې باندي په زړه کي هيڅ پرېشاني او پښېماني نه سوه پيدا.

---

(١) الفجر آيت نمبر ٢٦
(٢) المائدة آيت نمبر ١١٥
(٣) کتی بری ہو صلی ہدای، درارک، ص: ٣٢

نو ګناه کول او بيا سپکه بلل دغه د ګناه سپک بلل تر ګناه کولو ډېر بد عمل دئ. ګناه که انسان وکړي، نو الله ﷻ به انسان ته د توبې توفيق ور کړي.

ليکن کومه ګناه چي انسان سپکه و بلله او پر هغه ګناه د انسان په زړه کي پښېماني نه راغله، نو هغه ګناه ته دې انسان په سپک نظر وکتل او که و ګناه ته انسان په سپک نظر ګوري پر هغه ګناه باندي انسان ته د توبې کښلو توفيق هم الله ﷻ نه ور کوي. او پر کومه ګناه باندي چي الله ﷻ انسان ته د توبې کښلو توفيق ورنه کړي، د هغې سزا ضرور بالضرور الله ﷻ په جهنم کي ور کوي.

د ګناه کولو څخه يوه دا خبره ډېره درنه ده چي انسان ګناه کوي خو ګناه سپکه بولي.

۲. تر ګناه کولو ډېره سخته او درنه خبره داده چي ګناه انسان کوي او په ګناه باندي خوشحاله کيږي. لکه يو انسان دئ هغه وايي: ياره! دا خبره مي په دې نيت باندي وکړه چي د فلاني زړه په وسوځم.

دا خبره مي په دې وجه وکړه چي فلاني ته لغاز ور کړم او په دې باندي دَی خوشحاله يي. نو ګناه کول او پر ګناه کولو باندي سربېره خوشحاله کېدل داد ګناه څخه زيات بد ترين عمل دئ. يا يو انسان ته د ګناه لار خلاصه سي، نو دَی په دې ډېر خوشحاله سي چي ياره اوس خو لار راته اسانه سوه، نو دا د دې معنٰی ده چي دا انسان په دې ګناه باندي خوشحاله دئ.

پر دې ګناه باندي الله ﷻ انسان ته د توبې کښلو توفيق هم نه ورکوي.

۳. دا خبره تر ګناه ډېره ګرانه ده چي انسان ګناه کوي او پر ګناه باندي همېشه توب کوي، يو واريې ګناه وکړه نه سو پرېښانه او دوهم واريې وکړه، دريم وار څلورم وار يعني چي انسان پر دا ګناه اصرار او همېشه توب کوي دا ډېره زياته نقصاني خبره ده.

د پیغمبر ﷺ حدیث دئ چي کله یوه گناه وسي، نو پر زړه باندي یو تور داغ پیدا سي د دوهمي گناه ذوهم تور داغ، او د دریمي گناه دریم تور داغ آخر د انسان زړه ټوله تور سي.

او چي کله تور سو بیا په هغه زړه کي د گناه کولو بغیر بل سوچ او فکر نه راځي او بیا په هغه زړه کي د نېکۍ کولو فکر نه راځي او په هغه زړه کي د گناه طرف ته میلان کیږي، نو زړه د دې گناهو په وجه تور سي.

تاسو انسانان گورئ چي کله د پېغور ځای راسي او د رواج ځای راسي، نو هغه انسان بیا د زړو څخه تر لکو پوري پر هېڅ نه دئ، لیکن چي د الله تعالی د دین ځای راسي بیا تاسو ته اندازه نه لگیږي چي پنځه روپۍ ده ته څومره تکلیف ور کوي.

دا په دې وجه باندي چي د هغه انسان زړه تور سوی دئ او گناهو یې پر زړه باندي احاطه کړې ده او پر کوم زړه چي گناوي احاطه وکړي بیا په هغه زړه کي د نېکۍ کولو صلاحیت ختم سي بیا د نېکۍ کار هغه زړه ته تکلیف ورکوي. او په هغه زړه کي د نېکۍ پر ځای و بدۍ ته میلان او د بدۍ کارونه ده ته خوند ورکوي، نو دریم تر گناه زیات هغه پر گناه باندي اصرار او همېشه توب کول دي، بار بار گناه کول دي.

۴. په گناه باندي تخیل او فخر کول، بعض خلک چي په مجلس کي سره کښیني، نو گناه بطور فخر یادوي چي یاره زما د مال محصول دومره کېدئ فلاني سړي ته مي دوکه ورکړه په ځان مي پوه نه کړئ په دومره مي خپل مال څني را تېر کړئ حق یې دومره کېدئ، لیکن ما تر اوږه تېر کړئ.

نو دا په مجلس کي بطور فخر او بطور تخیل وایي چي ما ته الله جل جلاله دومره پوهي را کړې ده.

نو دا په ګناه باندې فخر کول او په ګناه باندې تخيل کول پر دې ګناه باندې الله ﷻ انسان ته توفيق د توبې نه ورکوي او د کومې ګناه د توبې توفيق چې الله ﷻ چا ته نه ورکړي پر هغه باندې الله ﷻ په جهنم کې انسان ته عذاب ورکوي.

ما در ته وويل: ګناه خو د انسان په عملنامه کې بدترين عمل دئ، ليکن د ګناه څخه زيات خطرناک دغه څلور اعمال دي، چې د دې سره د الله ﷻ د طرفه د توبې کښلو توفيق انسان ته نه ورکول کيږي.(۱)

## ګناه څه ده؟

ګناه چې کله انسان کوي ګناه څه ده؟

حضرت فقيه ابوليث سمرقندي رحمة الله عليه ليکلي دي: چې ای سړيه! په ګناه کې يوه خرابي ستا دپاره دا ده چې کله ته ګناه کوې هغه خالق لايزال او هغه رب ﷻ چې پر تا باندې تر مور او پلار زيات مهربانه دئ نور هيڅ نه کوې صرف هغه رب ﷻ د خپل ځانه ناراضه کوې. نو ګناه د خپل رب ﷻ ناراضه کول دي.

او چې رب ﷻ کوم نعمتونه تا ته درکړي دي چې يوه سترګه را څخه واخلي بيا به ستا کومه واويلا يې؟ چې دا يوه ژبه در څخه واخلي بيا به ستا کومه واويلا يې؟ بيا به يې څوک در جوړوي؟ بيا به يې څوک ستا دپاره علاج کوي؟ نو ګناه نور هيڅ نه دي يوازې خپل رب ﷻ د ځان څخه ناراضه کول او خپل رب ﷻ د ځان څخه متنفر کول دي.

او شيطان د ځان څخه خوشحاله کول دي، چې ستا رب ﷻ د کوم شيطان په باره کې دا در ته ويلي دي: چې ﴿إِنَّ الشَّيْطَانَ لِلْإِنسَانِ عَدُوٌّ مُّبِينٌ﴾(۲) بيا يې در ته ويلي دي: ﴿إِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوهُ عَدُوًّا﴾(۳) دا ستاسو دښمن دئ، تاسو يې په

(۱) گناهوں کی تباہ کاریاں: ۲۵

(۲) اليوسف آيت نمبر ۵

(۳) الفاطر آيت ٦

دښمني باندي ونيسئ! ګناه معنٰی د خپل رب ﷻ خبره نه منل او د هغه پر ځای باندي شيطان د ځان څخه خوشحاله کول دي.

## د جنت څخه محروم کېدل او د جهنم مستحق کېدل:

د الله تعالٰی مهمان خانه چي جنت د انسان دپاره تاکل سوې ده د هغې څخه ځان محرومه کول او کومه قيدخانه چي جهنم د انسان لپاره تاکل سوې ده د هغې قيدخانې ځان مستحق جوړول دي.

الله ﷻ وايي: ﴿وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِي أَنفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ﴾ چي زړه مو څه غواړي په دې مهمان خانه کي به هغه وي او چي څه ته مو اشتها کيږي ﴿نُزُلًا مِّنْ غَفُورٍ رَّحِيمٍ﴾(۱) دا د غفور رحيم له طرفه ستاسو د مېلمستيا ځای تاکل سوی دئ.

دلته ته مېلمه يې، جنت مهمان خانه ده او ستا رب ﷻ کوربه دئ، ته د خپل رب ﷻ مېلمه يې په دې کي به ته اوسېږې. دا ګناه نور هيڅ نه ده، د دې مهمان خانې څخه ځان محرومه کول دي. او ګناه نور هيڅ نه ده، د الله ﷻ قيدخانه جهنم دئ او جهنم د دې ګناهګارانو دپاره دئ.

نو کوم کم نصيبه چي ګناه کوي د دې جهنم ځان مستحق جوړوي ﴿لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيمٍ﴾(۲) حميم کومې اوبه دي چي يو څاڅکی دې دنيا ته رابګاره کړئ دا دنيا اوه بحر اعظمه ده که يو څاڅکی په يو بحراعظم کي واچوي د هغې د ګرمايي په خاطر به دا اوه بحراعظمه ټول په جوش کي راسي.

او چي کله يې د انسان د چيبنلو دپاره د انسان مخ ته را نژدې کړي، نو د مخ ټوله پوست را ويلي سي او په دې اوبو کي ولوېږي. چي کله د چيبنلو دپاره يې تر دې ستوني شوه کړي، نو د نس چي څومره اعضاء دي هغه د انسان د بدن څخه شوه سي پر مځکه ولوېږي.

(۱) فصلت آيت نمبر ۳۱

(۲) الانعام آيت نمبر ۷۰

نو دا د الله ﷻ قيدخانه ده او دا يې د دې ګناه ګارانو دپاره جوړه کړې ده، نو ګناه نور هيڅ نه ده د الله ﷻ د مهمان خانې څخه ځان بې نصيب کول او د الله ﷻ د بندي خانې ځان مستحق جوړول دي.

## د نفس سره ظلم کول:

او دوهم د دې خپل نفس سره دي ظلم وکړئ او دا خپل نفس دي د اور مستحق جوړ کړئ. قرآن کريم وايي چې دا ګناه اور دئ. اوس ما او تا ته نه را معلوميږي چې ګناه څنګه اور دئ.
چې کله د دې دنيا څخه سترګې پټې سوې او جهنم ته ور داخل سوې، نو بيا به تا ته در معلومه سي چې ګناه څنګه اور دئ. دا د قرآن قول دئ: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ﴾(۱) اى هغه کسانو چې ايمان يې را وړئ دئ وساتئ خپل ځانونه او خپل اهل و عيال د اور څخه چې د هغه اور پيلوځي انسانان او ډبري دي.

## د ګناه بدبويي:

په حديث شريف کي راځي چې کوم انسان درواغ وايي، نو د خولې څخه يې بد بويي پورته کيږي ملائکي بيا نه ورته راځي.
او دغه رنګه چې د زکندن پر وخت کومي ملائکي راځي د پيغمبر حديث دئ چې د دې انسان اندامونه بويه وي که هغه انسان غيبت کونکی وي، نو د غيبت بدبويي يې ځي او که د سترګو بدنظري يې کړې وه.
نو د بدنظرۍ بوی يې ځي دا هر اندام چې څنګه ګناه کړې وي د هغه ګناه بوی يې ځي او دا ملائکي يې اندامونه را پورته کوي او بوی يې معلوموي.

(۱) سورة التحريم، آيت نمبر: ٦

لکه هغه زنانه چې سالن پوخ کړي او هغه سهار ته پاته سي، نو هغه زنانه دا سالن را پورته کړي بوی یې کړي که چیرې یې بدبویي پیدا کړې وه، نو غوړځوي یې او که یې بدبويي نه وه پیدا کړې، نو بیا خپل ضرورت په پوره کوي.

نو دا ملائکې هم د دې انسان اندام را پورته کوي او بویه وي یې چې کله دی په ګناه اخته انسان وي، نو یې د یو نجس په شکل سره د ځان څخه لیرې نیسي او د ده روح پورته کړي.

او داغه رنګه په دنیا کې هم چې الله ﷻ یو چا ته "حس سلیم" ورکړی وي هغه په پوهیږي(۱).

## د حضرت عثمان ؓ واقعه:

د حضرت عثمان بن عفان ؓ مجلس ته یو سړی راغلئ، نو دی ډېر په غصه سو ویل به یې: چې و دې خلګو ته څه پېښه ده چې زموږ په مجلسو کې د شتر بې مهار غوندې ګرځي، لیکن د سترګو څخه یې د زنا څاڅکي تویږي(۲).

## په جهنم کې د ګناه بدبويي:

په حدیث شریف کې راځي چې کله یو سړی جهنم ته راسي او په دنیا کې په زنا اخته وي، نو د دې شرمګاه څخه یې داسې بوی ځي چې ټول جهنمیان دده د بوی څخه په تکلیف وي، چې د دې جهنم تکلیف یو طرف ته وي او د ده د شرمګاه د بدبويي تکلیف بل طرف ته وي. نو ټول جهنمیان پر ده باندې لعنت وايي چې سړیه! موږ دې په دارنګه تکلیف اخته کړو چې د جهنم تکلیف ستا د بدبويي په وجه را باندې دو چنده سو(۳).

---

(۱) گناہوں کی توبہ کیجئے صفحہ: ۳۷

(۲) گناہوں کی توبہ کیجئے صفحہ: ۳۸

(۳) گناہوں کی توبہ کیجئے صفحہ: ۳۷

## کرام الکاتبین ته تکلیف ورکول:

ابو اللیث سمرقندي رحمة الله علیه لیکلي دي: چې ګناه نوره هیڅ نه ده صرف خپل "کرام الکاتبین" ته تکلیف ورکول دي، چې کومې فرښتې الله جل جلاله ستا پر اوږو باندې کېښنولې دي ستا د ګناه د لیکلو دپاره هغوی ته تکلیف ورکول دي.
ګناه نوره هیڅ نه ده، محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل قبر کې غمجن کول دي؛ ځکه چې کله امتي پر ځمکه باندې ګناه وکړي، نو د هغه ګناه محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په قبر کې پیش کېږي چې د ځمکې پر مخ ستا امتي دا رنګه ګناه وکړه.
نو ګناه "کرام الکاتبین" ته تکلیف ورکول او محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په خپل قبر کې غم وررسول دي.

## ګناه د انسانانو سره ظلم کول دي:

فقیه ابو اللیث سمرقندي رحمة الله علیه لیکلي دي: چې ګناه نوره هیڅ نه ده پر دې انسانانو باندې ظلم کول دي چې په کوم قوم کې زنا ډېره سي، نو الله تعالیٰ په دغه قوم باندې باران کم کړي، چې په کلي کې پنځه ګناه کاره پیدا سي، نو الله جل جلاله پر دې کلي باندې رحمت بند کړي. نو دا ګناه داسې شی ده چې کوم سړي په ګناه اخته سو د ټوله قوم سره خیانت دئ او دې قوم ته چې څومره تکلیف د ده په وجه وررورسېدئ د هغه سزا به الله جل جلاله په قیامت کې دغه سړي ته ورکوي.

## ځمکه پر ځان شاهد جوړول:

او فقیه ابو اللیث سمرقندي رحمة الله علیه لیکلي دي: چې ګناه نوره هیڅ نه ده صرف دا ځمکه پر دې خپل ځان باندې شاهده جوړول دي، د قیامت په میدان کې به دا ځمکه پر تا باندې شاهدي ادا کوي چې دې سړي زما پر دا فلانی ټکره باندې

دا ګناه وکړه. قرآن کريم وايي: ﴿يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا﴾[1] د قيامت په ميدان کي به دا مځکه خپلي خبري را وباسي.

که د چا زړه ته نه لوېږي نن خو دغه ټيپ او ريکارډ د اوسپني څخه جوړ دي او اوسپينه د خاورو څخه جوړه ده چي په ټيپ او ريکارډ کي خبري خوندي کيږي، نو په دې مځکه کي به الله جل جلاله څنګه نه سي خوندي کولای.

نو د مځکي پر کوم کونج چي انسان ګناه کړې وي د مځکي هغه کونج د قيامت په ميدان کي پر هغه انسان شاهدي ادا کوي.

نو ما مخکي در ته وويل: چي زموږ د دين په سلسله کي يو ترک معصيت دئ يو د اعمالو فضيلت دئ، نو په کار دا نه ده چي د اعمالو په فضيلت کي دومره کوشش وکړل سي لکه څومره کوشش چي په ترک معصيت کي په کار دي.

او ترک معصيت دوهمه درجه ده اوله درجه د فرائضو او واجباتو ده، چي انسان په خپله زندګي کي فرائض او واجبات په مخه واخلي او دوهمه درجه د ګناه د پرهېښودلو ده.

چي انسان په خپله زندګي کي ګناه پرېږدي او دريمه درجه بيا د نوافلو او د عباداتو ده، د هغې څخه وروسته انسان نوافل او عبادات په مخه واخلي.

نن انسانان نوافل او عبادات کوي، ذکرونه کوي، تسبيحات کوي، ليکن څوک يې يوه زره په نورانيت نه پوهيږي، نه د انسانانو په زندګي کي څه بدلون راځي نه يې څه اثر معلوميږي. مولانا روم رحمة الله عليه وايي:

چشم بند گوش بند لب به بند..... گر نه بيني نور حق بر من بخند

ته يو وار دا خپلي سترګي بندي کړه، ته دا خپل غوږونه د ګناه د اورېدو څخه بند کړه او ته پر دې خپله ژبه لږ کنټرول راوله، که د دې څخه وروسته تا د حق نور په خپلو سترګو او خپله خوله محسوس نه کړئ راسه! "بر من بخند" پر ما باندي وخانده چي ته لېونی يې او پاګل يې. نو د حق نور په زړه کي معلومول او په

[1] سورة الزلزال، آيت نمبر: ۴

دماغ کي د دې اثر معلومول د دې تولو بنیاد دا دئ چي اولنی به انسان د ګناه څخه پرهېز کوي او بیا به انسان متقي جوړېږي او متقي به د الله جَلَّ جَلَالُهُ ولي وي.
الله تعالی دي موږ او تاسو ته پر دې څو خبرو د عمل کولو توفیق راکړي.
او الله جَلَّ جَلَالُهُ دي مو په دې خپلو اعمالو کي د سوچ بندولو توفیق راکړي.
الله تعالی دي دا څو خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي. آمین
وَ آخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَۚ اَلْحَیُّ الْقَیُّوْمُ ۚ
لَا تَاْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّلَا نَوْمٌ ؕ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ
وَمَا فِی الْاَرْضِ ؕ مَنْ ذَا الَّذِیْ یَشْفَعُ عِنْدَهٗۤ
اِلَّا بِاِذْنِهٖ ؕ یَعْلَمُ مَا بَیْنَ اَیْدِیْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۚ
وَلَا یُحِیْطُوْنَ بِشَیْءٍ مِّنْ عِلْمِهٖۤ اِلَّا بِمَا شَآءَ ۚ
وَسِعَ كُرْسِیُّهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ ۚ
وَلَا یَـُٔوْدُهٗ حِفْظُهُمَا ۚ
وَهُوَ الْعَلِیُّ الْعَظِیْمُ ۝

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآية)

# غيبت يوه عظيمه ګناه ده

(بيان)

مولوي اطيع الله صاحب
استاذ الحديث جامعه اسلاميه (علامه ټاؤن) چمن

ترتيب وتخريج:
مفتي حافظ كليم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلاميه (علامه ټاؤن) چمن

مكتبه سلطانيه الهاشميه
کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــــريـر | الحاج مولوي اطيع اللہ صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كـليـم اللہ صاحب |
| مـقـــــــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود |
| اشـــاعـت | ثخلــــــــــــــــورم |
| تـاريـــــخ | يكم ربيع الثاني ١۴٣٩ بمطابق يكم مي ٢٠١٨ |
| تـعـــــداد | (١١٠٠) |

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْداً كَثِيراً طَيِّباً مُبَارَكاً فِيْهِ مُبَارَكاً عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَ يَرْضٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهِ خَيْرِ الْهُدٰى وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ نُجُوْمِ الْاِهْتِدَاءِ.

اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا يَغْتَب بَعْضُكُمْ بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللّٰهَ إِنَّ اللّٰهَ تَوَّابٌ رَحِيمٌ(۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم: اَلْغِيْبَةُ اَشَدُّ مِنَ الزِّنَا.(۲) اَوْ كَمَا قَالَ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ

اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلٰنَا الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْمُ وَنَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ.

## غیبت یوه سنگینه گناه ده:

محترمو مشرانو! ما ستاسو په مخ کې د قرآن کریم د یو آیت تلاوت وکړ، په دې آیت مبارک کې الله تعالی د یو سنګینې ګناه ذکر کوي، چې د هغه ګناه تعلق د ژبې سره دئ او د هغه رواج زموږ په معاشره کې نهایت ډېر سوی دئ.

غیبت دا رنګه ګناه ده چې زموږ په مجلسو او زموږ په معاشره باندې غوړېدلې ده، هیڅ یو مجلس د دغه ګناه څخه خالي پاته نه دئ او نه یو محفل او یوه محاوره د دې ګناه څخه خالي ده.

پیغمبر ﷺ پر دغه ګناه باندې ډېر زیات وعید فرمایلی دئ.

---

(۱) سورة الحجرات، آیت نمبر: ۱۲

(۲) الترغیب و الترهیب، حدیث نمبر: ۱۶۹۰

## د قرآن کریم سنګین انداز:

او قرآن کریم د غیبت په باره کي داسي سنګین الفاظ استعمال کړي دي چي شاید د بلي ګناه دپاره داسي الفاظ په قرآن کریم کي نه وي استعمال سوي؛ ځکه الله تعالیٰ فرمایي: ﴿ وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَّحِيمٌ(١)﴾ یعني یو د بل غیبت مه کوئ! ځکه دا یو داسي بد عمل دئ لکه د مړه ورور غوښي خوړل، آیا تاسو کي یو څوک دا خوښوي چي د خپل مړه ورور غوښي دي وخوري؟

دا خو تاسي بد بولئ لهذا کله چي تاسو دغه عمل بد بولئ، نو غیبت هم بد وبولئ!

تاسو لږ فکر وکړئ! په دغه آیت کي د دې ګناه څومره بدوالی بیان سوی دئ.

یو خو دا چي د انسان غوښي خوړل آدم خور جوړېدل او بل دا چي انسان هغه هم خپل ورور او هغه هم ژوندی نه، بلکه مړ لکه څنګه چي د مړه ورور غوښی خوړل یوه عظیمه او درنه خبره ده، داغه رنګه غیبت هم یو عظیمه او خطرناکه ګناه ده.

## د غیبت کونکي سزا:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَمَّا عُرِجَ بِي مَرَرْتُ بِقَوْمٍ لَهُمْ أَظْفَارٌ مِنْ نُحَاسٍ يَخْمُشُونَ وُجُوهَهُمْ وَصُدُورَهُمْ، فَقُلْتُ: مَنْ هَؤُلَاءِ يَا جِبْرِيلُ، قَالَ: هَؤُلَاءِ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ لُحُومَ النَّاسِ، وَيَقَعُونَ فِي أَعْرَاضِهِمْ.(٢)

حضرت انس بن مالک ﷺ د حضور اقدس ﷺ خاص خادم و، تر لسو کالو پوري یې د نبي کریم ﷺ خدمت وکړئ، دی د نبي کریم ﷺ څخه روایت نقل کوي چي نبي کریم ﷺ ووېل: په کومه شپه چي زه معراج ته وختم هلته زما تېرېدل پر داسي خلګو و سو چي د خپلو مخانو او سینو غوښي یي په خپلو

(١) سورة الحجرات، آیت نمبر: ١٢

(٢) ابوداؤد، کتاب الادب، باب الغیبة حدیث نمبر: ٤٨٧٨

نوکانو باندي شکولې او په سخت عذاب کي مبتلا وه. ما د حضرت جبرئیل علیه السلام څخه پوښتنه وکړه:

- چي دا کوم خلک دي دوی په دنیاکي کم عمل کوئ؟
- ده راته وویل: چي دا هغه خلک دي چي د خلکو غوښي یې خوړلې او د خلکو پر عزتو باندي یې حملې کولې او د خلکو عزتونه یې خرابول.

## غیبت تر زنا هم بد تر دئ:

حضور صلی الله علیه وسلم په مختلفو طریقو دغه ګناه د صحابه کرامو رضی الله عنهم په مخ کي پېش کړې ده، د دې دپاره چي د انسانانو په زړو کي د دغه ګناه بدوالی کښېني.

الله تعالی دي زموږ په زړو کي د دې ګناه بدوالی او قباحت راولي. او الله جل جلاله دي مو په خپل فضل او کرم سره د دغه ګناه څخه حفاظت وکړي.

په دغه حدیث کي تاسو واورېدل چي په قیامت کي به د دغه کسانو انجام دا وي چي خپل مخان او د سینو غوښي به په خپلو نوکانو شکوي.

په یو بل روایت کي چي د "سَنَد" په لحاظ باندي مضبوط نه دئ او د معنٰی په لحاظ باندي صحیح دئ هغه دا دئ چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم وویل: ﴿اَلْغِیبَۃُ اَشَدُّ مِنَ الزِّنَا﴾ چي غیبت د زنا څخه هم بد تره ګناه ده.

او علماء کرامو رحمهم الله یې وجه دا بیان کړې ده چي په زنا باندي څوک خدا نخواسته اخته سي د هغه څخه بعد که ندامت (پښېماني) وکړي او شرمندګي ښکاره کړي او توبه وکاږي، نو انشاء الله الله تعالی به یې معاف کړي.

لیکن غیبت یو داسي ګناه ده چي تر څو پوري تا د هغه چا څخه معافي نه اخیستې چي د چا غیبت کړی دئ، نو الله تعالی دي نه معافه وي.

## غیبت کوونکی به د جنت څخه راوګرزول سی:

څکه نبي کریمﷺ ویلي دي: کوم خلک چي غیبت کولو والا وي هغه خلګو به په دنیا کي ډېر ښه اعمال کړي وي: لمنځونه به یې کړي وي، روژې به یې نیولي وي او عبادتونه به یې کړي وي.

تاسو ته معلومه ده چي پل صراط یو پل دئ چي د دوږخ پر سر باندي تېر سوی دئ هر انسان به پر دغه پل باندي تېرېږي؛ څکه د الله تعالی دا فیصله ده ﴿وَإِنْ مِنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا كَانَ عَلَى رَبِّكَ حَتْمًا مَقْضِيًّا﴾(۱) کوم سړي چي جنتي وي هغه به پر تېر سي جنت ته به ورسیږي، لیکن کوم سړي چي دوزخي وي هغه به د پل څخه لاندي راکش کړل سي په جهنم کي به واچول سي (اللہتعالی دي مو نجات نصیب کړي).

همدارنګه غیبت کولو والا به و پل صراط ته د حاضرېدو په وخت کي و درول سي او دوی ته به وویل سي چي تاسي مخ ته نه سی تللای تر څو چي تاسو د غیبت کفاره نه وي ادا کړې یعنی چي د چا غیبت مو کړی دئ د هغه څخه معافي واخلئ! تر څو چي تاسو معافي اخیستې نه وي جنت ته داخلېدلای نه سئ.

بیا به دغه انسان پرېشان او سرګردانه د قیامت په میدان کي په هغو انسانانو پسی ګرځي چي د کوم چا غیبت ده کړی دئ.

په دې کي به پرده کلونه تېر سي چي دی به هغه نه کړي پیدا، نو غیبت د انسان دپاره د قیامت په میدان کي د لوی پرېشانی سبب اللہتعالی ګرځوي.

## غیبت بدترین سود دئ:

په یو حدیث شریف کي پیغمبرﷺ تر دې اندازې فرمایلي دي: چي سود ډېره لویه ګناه ده، چي په دغه ګناه کي بې شماره خرابیاني دي، لکه پیغمبرﷺ

(۱) سورة مریم، آیت نمبر، ۷۱

وايي: ﴿إِنَّ الرِّبَا نَيِّفٌ وَسَبْعُونَ بَابًا أَهْوَنُهُنَّ بَابًا مِنَ الرِّبَا، مِثْلُ مَنْ أَتَى أُمَّهُ فِي الْإِسْلَامِ، وَدِرْهَمُ الرِّبَا وَأَخْبَثُ الرِّبَا انْتِهَاكُ عِرْضِ الْمُسْلِمِ، وَانْتِهَاكُ حُرْمَتِهِ﴾.

سود د ډيرو ګناهونو مجموعه ده او اويا دروازې لري او ادنٰی ګناه يې او ادنا دروازه يې داسې ده "العياذبالله" لکه کوم سړی چي د خپلي مور سره بدکاري وکړي(١).

تاسو وګورئ! چي پر سود باندي څونه وعيد راغلئ دئ، دونه زيات وعيد پر بله ګناه باندي نه دئ راغلئ.

بيا نبي کريمﷺ وويل: تر ټولو بد ترين سود دا دئ چي يو سړی د خپل مسلمان ورور پر عزت باندي حمله وکړي او د غيبت کولو په شکل د هغه عزت ور خراب کړي.

څومره سخت وعيد دئ.

## د غيبت تعريف څه دئ؟

د غيبت معنٰی ده د بل انسان بدوالی بيانول د هغه په غياب کي، اګر که هغه خبره صحيح وي، يعني هغه بدوالی په هغه سړي کي وي خو بيا هم په غيبت کي شمارل کيږي.

چي کله پيغمبر د غيبت زيات بدوالی بيان کړئ، نو د صحابه کرامو رضي الله عنهم زړونه د هغه ګناه د خوف څخه وربږدېدل، نو دستي يو صحابي د نبي کريمﷺ څخه پوښتنه وکړه:

- ﴿مَا الْغِيبَةُ﴾ غيبت څيشي دئ اى د الله جل جلاله رسوله؟
- نو نبي کريمﷺ وويل: ﴿ذِكْرُكَ أَخَاكَ بِمَا يَكْرَهُ﴾ يعني د خپل ورور په غائب والي کي په داسې الفاظو د هغه ذکر کول چي هغه يې نه خوښوي.

(١) رواه البيهقي عن ابن عباس في شعب الايمان، حديث نمبر ٦٢٨٩

يعني که هغه خبر سي چي زما ذکر په دغه مجلس کي دغه رنگه سوی دئ، نو هغه يې نه خوښوي بد يې بولي او تکليف ور ته رسيږي، نو دا غيبت دئ.

- دغه صحابي بيا پوښتنه وکړه: ﴿إِنْ كَانَ فِيْ أَخِيْ مَا أَقُوْلُ؟﴾(١) که چيري زما په ورور کي واقعتًا هغه شی موجود وي چي زه يې بيانوم (نو بيا هم غيبت دئ)؟

- نبي کريمﷺ وويل: چي دغه غيبت دئ، او کچيري هغه خرابي په ده کي موجوده نه وي، بلکه تا د درواغو نسبت ده ته وکړئ دا خو غيبت نه دئ دا بيا بهتان دئ، دا د غيبت غوندي دوه چنده گناه ده.

اوس لږ نظر زموږ پر مجلسو باندي وکړئ چي څه قدر غيبت زموږ په مجلسو کي رواج سوی دئ؟

چي انسان شپه او ورځ په دغه گناه اخته دئ. الله تعالی دي زموږ حفاظت وکړي.آمين

بعض خلک د غيبت روا کولو دپاره بهانه جوړه وي، چي غيبت خو نه کوو، بلکي دا خو موږ و دغه سړي ته مخامخ هم ويلای سو، مقصد يې دا وي چي موږ يې دده مخکي ويلای سو، نو موږ ته دا غيبت کول جائز دي.

دا په ياد ولرئ! که چيري دې سړي ته ته مخامخ دا خبره کولای سي او که يې نه سې کولای او داغه رنگه دا گناه په دغه انسان کي وي يا نه وي چي د ده په غياب کي دي داسي خبره وکړه چي دی په خبر سي ده ته خوند نه ورکوي بس دا ستا خبره غيبت ده او ته په غيبت کونکو کي داخل سوې.

(١) ترمذي، حديث نمبر: ١٩٣٤

## غيبت کول ګناه کبيره ده، ۲

دا داسي ګناه کبيره ده لکه شراب چيښل، ډاکه وهل او زنا کول، نو غيبت په دغه رنګه کبيره ګناهو کي داخل ده، په دوی ټولو کي هيڅ فرق نسته، ټول په نص قطعي ثابت دي، هغه هم حرام قطعي دی دا هم حرام قطعي دئ، بلکه غيبت کول د دغه ګناهو څخه هم سنګينه ګناه ده؛ ځکه چي د غيبت تعلق د حقوق العباد سره دئ(۱).

د حقوق العباد معامله دا ده چي تر څو پوري دی هغه بنده معاف نه کړي تر هغه وخته پوري دا ګناه نه معافيږي. او بله ګناه يعني حقوق الله صرف په توبه کښلو معافيږي، د دې څخه د دغه ګناه د سنګين والي اندازه کېدای سي.

د خدای ﷻ دپاره د غيبت څخه پرهېز وکړئ! مه غيبت کوئ! مه غيبت اورئ! په کوم مجلس کي چي غيبت کيږي د هغه رخ بدلوئ! يوه بله موضوع لټوئ! د خلګو و مجلس ته يې ور اچوئ! کچيري د مجلس موضوع نه بدليږي، نو ځني ولاړيږئ؛ ځکه چي غيبت کول هم حرام دي او اورېدل يې هم حرام دئ.

## پر غيبت کولو عبرت ناکه خوب ليدل:

يو تابعي رحمة الله عليه چي د هغه نوم ربعي بن خراش رحمة الله عليه دئ هغه خپله واقعه بيانوي او وايي: چي زه يو وار يو مجلس ته ورسېدم، ما وليدل خلګ ناست دي او خبري سره کوي، زه هم په دغه مجلس کي کښېنستم، د خبرو په دوران کي دوی يو سړي غيبت شروع سو، ما ته دغه خبره معلومه سوه چي زه که په دغه مجلس کي کښېنم، نو ضرور به غيبت وکړم، چنانچه زه د دغه مجلس څخه ولاړ سوم.

نو د دې وجه څخه کچيري يو ځای غيبت شروع وي، نو انسان ته په کار دي چي د دغه مجلس رُخ بدل کړي او که رُخ نه سي بدلولای، نو ضروري ده چي ځني

(۱) اصلاحي خطبات، جلد ۴، صفحه ۸۳

ولاړ سي او که د مجلس رخ هم بدل نه سي او دَی هم ولاړ نه سي پکښي ناست وي، نو بیا د غیبت اوریدلو گناه بعینه د غیبت کولو گناه ده.
هغه تابعي وايي: چي زه ولاړ سوم او د مجلس څخه ولاړم، لږ ساعت بعد زما په خیال کي دا راغله چي شاید اوس د مجلس موضوع بدله سوې وي او غیبت به ختم سوی وي، نو زه دوباره مجلس ته حاضر سوم.
لږ ساعت بعد خبري شروع سوې، څه وخت بعد بیا د غیبت خبري شروع سوې، لیکن زما همت کمزوری سو زه د دې مجلس څخه نه سوم ولاړ.
کومو خلګو چي غیبت کوئ اول خو مي اوریدئ بیا زما څخه پخپله هم یو دوې درې جملې د غیبت د خولې را څخه ووتلې، کله چي زه د مجلس څخه کور ته ولاړم ماښام بیده سوم، نو په خوب کي یو انتهائي تور پوستی سړی می ولیدئ، یو غټ لګن غوښي یې زما وَخوا ته راوړې، کله چي ما ورته وکتل هغه د خنزیر غوښي دئ. هغه سړي ما ته وویل:

- دغه غوښئ وخوره!
- ما ورته وویل: زه خو مسلمان یم د خنزیر غوښي څنګه وخورم؟
- هغه راته وویل: نه، داسي نه ده دا به خورې!

بیا یې هغه غوښي را واخیستلې او زما په خوله یې د غوښو ټوکرې په زور را چیخلې، ما به ځان خلاصوئ خو هغه به نه پریښولم، تر هغه وخته پوری چي زما خوا را وګرځېدله قی مي ووهئ، مګر هغه زما په خوله کي د غوښو ټوکرې راچیخلې.
بیا زه د هغه څخه ډېر په تکلیف سوم، په دغه حالت کي زما سترګي را بیداره سوې او د خوبه را ویښ سوم، بیا وروسته چي کله به ما ډودۍ خوړله د هغه غوښو بدبویې او خراب خوند به زما په خوله کي وو.
یعني ما به محسوسوئ او تر دیرشو ورځو پوري زما دا حال وو چي پر ډوډۍ باندي به کښېنستم د هغه غوښو خوند به ما محسوسوئ.

اللّٰه‌تعالیٰ په دغه واقعه باندي زه متنبه کړم، چي دا هغه د غیبت وجه ده.
دَی خو وایي چي ما لږ ساعت غیبت وکړئ او تر دیرشو ورځو مي خوند په خوله کي محسوسوي، الله تعالیٰ دي زموږ او ستاسو پر حال رحم وکړي، زموږ څه حال دئ؟ هر چا ته خپل مجلسونه ښه ور معلوم دي، اللّٰه‌تعالیٰ دي مو حفاظت وکړي.(۱)

## د غیبت کولو د اجازت ځایونه:

البته په یوه خبره ځان پوه کړئ هغه دا چي ما د غیبت تعریف تاسو ته وکړئ چي د یو چا په غیاب (پشالا) داسي ذکر وکړې که هغه ته معلومه سي چي زما داسي ذکر سوی دئ، نو هغه یې نه خوښوي او ناراضه کیږي، که څه هم هغه خبره صحیح وي دا غیبت دئ د دې اجازت نسته.
لیکن شریعت د هر شي پر خپل ځای رعایت کړی دئ، د انسان د فطرت رعایت یې هم کړی دئ او د انسان د جائز ضروریاتو رعایت یې هم کړی دئ، لهذا د غیبت څخه یې څو شیان مستثنیٰ کړي دي، که څه هم په ظاهر کي غیبت دئ، لیکن شریعت جواز ورکړی دئ.

## د یو چا د شر څخه مسلمان ساتل:

مثلا یو سړي داسي کار کوئ چي د هغه څخه بل چا ته نقصان رسیږي او خطره یې وي اوس کچیري و دا بل سړي ته نه وویل سي، نو دغه سړي ته به دا بل سړی نقصان ور ورسوي.
نو په دغه وخت کي که چیري ته و دغه دویم سړي ته ووایې چي د فلانکي سړي سره هوښیار اوسه! نو دغه رنګه غیبت کول جائز دي، خو په دې شرط چي ستا مقصد هغه مسلمان د نقصان څخه ساتل وي او ستا مقصد دا نه وي چي اول سړي ته نقصان ورسوې، صرف دویم سړی د نقصانه بچاؤ کړې.

(۱) اصلاحي خطبات، جلد۴، صفحه نمبر۸۸

## د پیغمبر ﷺ په حدیث تائید:

داسي خبره حضور اقدس ﷺ پخپله هم بیان کړې ده او پیغمبر ﷺ هره خبره د دین په دنیا کي موږ ته بیان کړې ده، بیا یې د دنیا څخه تشریف وړی دئ، لکه ام المؤمنین حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي: چي زه یو ځل د نبي کریم ﷺ په مجلس کي ناسته وم یو سړی زموږ و خوا ته را روان ؤ هغه په لار ه کي ؤ چي نبي کریم ﷺ د دغه سړي طرف ته اشاره وکړه او ما ته یې وویل: ﴿بِئْسَ أَخُوالْعَشِيرَ﴾(۱) یعني دغه سړی د خپلي قبیلي بد سړی دئ.

د دې دپاره یې راته وویل چي زه لړ په احتیاط کي کښینم او د دې سړي څخه ما ته تکلیف و نه رسیږي او د دې سړي سره زه هوښیاره سم، کله چي دغه سړی راغلئ په مجلس کي کښېنستئ، نو نبي کریم ﷺ د خپل عادت مطابق په نرم انداز سره خبري ور سره وکړې.

څه زمانه وروسته چي دغه سړی ولاړئ، نو حضرت عائشي رضي الله عنها د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه:

- یا رسول الله! تا خو ویل دا بد سړی دئ او چي راغلئ کښېنستئ، نو تا په ډېره نرمۍ خبري ور سره کولې او ډېر زیات دي مدارات ور سره وکړل دا څنګه خبره ده؟
- پیغمبر ﷺ په جواب کي ور ته وویل: ګوره! هغه بد سړی دئ چي د هغه د شر د ډیري څخه خلک د ده څخه خپل ځان ګوري، یعني په سړي کي د طبیعت د لحاظه فساد وي، کچیري د ده سره د نرمۍ معامله و نه سي، نو دَی فساد جوړوي د دې په وجه ما د نرمۍ معامله ور سره وکړه.

(۱) بخاري شریف، حدیث نمبر: ۶۵۳۲

## تطبیق:

علماء کرامو د دغه حدیث شریف په شرحه او تفصیل کې فرمایلي دي: چې په دغه حدیث کې چې نبي کریم ﷺ د حضرت عائشې رضي الله عنها په مخکې ویلي وُ چې دغه سړی بد ترین سړی دئ، په ظاهر دا غیبت دئ؛ ځکه چې دده پشالا د ده بدوالی بیانیږي.

لیکن دا د دې وجه څخه جائز سو چې د دې غیبت څخه د نبي کریم ﷺ مقصد دا وُ چې حضرت عائشه رضي الله عنها په دغه سړي باندي خبره سي چې په آئنده کي د ده د فساد څخه ځان وساتي.

لهذا که یو سړي ته د بل سړي د ظلم څخه د بچاوُ دپاره د هغه پشالا بدوالی بیان سي، نو دا په غیبت کي داخل نه دئ او جائز دئ په دې شرط چې مقصود د مسلمان د ظلم څخه ساتل وي:

## که چیري د یو چا د جان خطره وي:

په بعض صورتو کي د هغه سړي بدوالی بیانول واجب وي، مثلاً: یو سړی تا ولیدئ چي پر بل سړي باندي بې د حملې کولو او د هغه د ختم کولو تیاري کوله، نو په دغه صورت کي و دغه بل سړي ته ویل او هغه خبرول واجب دي چي ستا د جان خطره ده چي هغه د خپل ځان تحفظ وکړي، لهذا په دغه موقع باندي غیبت کول جائز نه، بلکه ضروري دي.

## د اعلانیه ګناه کولو والا غیبت:

یو حدیث شریف دئ چي د هغه په صحیح مطلب باندي بعض خوانده خلګ نه دئ پوه سوي، هغه دا دئ چي پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: ﴿لَاغِيْبَةَ لِفَاسِقٍ وَ لَامُجَاهِرٍ﴾(۱) ترجمه یې دا ده چي د فاسق غیبت نسته.

(۱) جامع الاصول، جلد نمبر: ۸، صفحه نمبر: ۴۵۰

بعض خلګو د دې دا مطلب بللی دئ چي په بدعاتو کي مبتلا وي د هغه غیبت جائز دئ.
نورو خلقو بیا دا مطلب اخیستی دئ چي کوم څوک په ګناه کبیره کي مبتلا وي د هغه چي څومره دي خوښه سي هغومره غیبت يې کوه.
لیکن د دې صحیح مطلب دا دئ چي څوک په اعلانیه ګناه، فسق او فجور کوي او په هغه کي مبتلا وي مثلا: یو سړی علی الاعلان په عامه طریقه باندي شراب خوري؛ ځکه دَی پخپله دا اعلان کوي چي زه شراب خورم، اوس کچیري د ده د شرابو خوړلو تذکره وسي شاید دَی به پرېشانه نه سي، ولي چي دَی يې په ښکاره د خلګو و مخ ته هم چیښي، لهذا دا به په غیبت کي داخل نه وي.
لیکن که دا سړی دا خپله ګناه د خلګو و مخ ته ظاهرول نه غواړي او نه دد غه ګناه تذکره د خلګو و مخ ته کوي، نو د دې ګناه تذکره د خلګو په مخ کي کول دا په غیبت کي داخل دئ، مثلا: یو څوک د خلګو په پټه باندي داسي ګناه کوي او ښکاره کول يې نه غواړي او داسي ګناوي چي نقصان يې هم بل چا ته نه رسیږي د هغه ګناه تذکره کول دا غیبت دئ.
لهذا د کوم فسق او فجور ارتکاب چي دَی په عامه باندي کوي دد غه غیبت کول په غیبت کي داخل نه دئ او که په عامه يې ارتکاب نه کوي، نو بیا هغه ښکاره کول په غیبت کي داخل دي، دا مطلب د دغه قول دئ چي د فاسق غیبت غیبت نه دئ.(۱)

## د فاسق او فاجر غیبت کول جائز نه دئ:

حضرت تهانوي رحمة الله علیه یو حکایت نقل کوي: چي په یو مجلس کي د حضرت عمر رضي الله عنه صاحبزاده حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما موجود وُ، په دغه مجلس کي یو سړي د "حجاج بن یوسف" بدی بیانول شروع کړل او غیبت يې کوئ.

(۱) اصلاحي خطبات، جلد نمبر: ۴، صفحه نمبر: ۹۱

نو جناب حضرت عبدالله بن عمر ﷺ وفرمایل: ای سړیه! د "حجاج بن یوسف" دغه اوس چې ته د ده کم بدوالی بیانوې دغه غیبت دئ، دا ګمان مه کوه! چې د "حجاج بن یوسف" پر غاړه باندې د سوونو انسانانو وینې پاته دي چې دده غیبت دې روا سي، حالانکه د ده غیبت روا نه دئ.

بلکه کله چې الله ﷻ د "حجاج بن یوسف" سره د سوونو انسانانو د وینو حساب کوي چې دده پر غاړه پاته دي، نو هلته به د دغه غیبت حساب ستا څخه اخیستل کیږي چې ته یې پښالا کوې.

الله تعالی دې موږ او تاسو د دې لوی مصیبت او ګناه څخه وساتي. آمین

لهذا دا ګمان مه کوئ! چې فلانکی سړی فاسق یا فاجر دئ چې څومرې غیبت کول غواړې هغومره وکړه، بلکه د غیبت کولو څخه احتراز او پرهیز کول واجب دي.(۱)

## د ظالم د ظلم تذکره غیبت نه دئ:

پر یو بله موقع باندې غیبت کولو ته شریعت جواز ورکړی دئ، هغه دا ده چې یو سړي پر تا باندې ظلم کړی وي او اوس د دغه ظلم تذکره کول و بل چا ته چې زما سره یې ظلم کړی دئ او دغه زیادتی یې را سره کړی دئ دا غیبت نه دئ او په دغه ظلم بیانولو کې ګناه نسته.

اوس که هغه سړی چې ته ظلم ور ته بیانوې او خپل مظلومیت ور ته ښکاره کوې ستا د ظلم تدارک کولای سي او که یې نه سي کولای ستا و ده ته دا بیان غیبت نه شمارل کیږي.

تاسو وګورئ! شریعت زموږ څونده رعایت کړی دئ! کچیرې څوک زموږ سره ظلم وکي، نو کم از کم موږ د غم اظهار او د خپل زړه تسلي کولای سو، که څه هم دا بل سړی تدارک کولای سي که یې نه سي کولای ته خپل مظلومیت ور ته

---

(۱) اصلاحي خطبات، جلد نمبر: ۴، صفحه نمبر: ۹۲

ښکاره کولای سي او د خپل مظلوميت د ښکاره کېدو اجازه په شريعت کي سته، دا په غيبت کي نه شمارل کيږي.

## د ظالم د غيبت څخه د قرآن کريم استثنیٰ:

﴿لَا يُحِبُّ اللَّهُ الْجَهْرَ بِالسُّوءِ مِنَ الْقَوْلِ إِلَّا مَنْ ظُلِمَ﴾(۱) يعني الله تعالیٰ په بدو سره آواز پورته کول نه خوښوي، مګر نه هغه څوک چي ظلم ور سره سوی وي.
نو د غسي خو الله ﷻ دا غه خبره نه خوښوي چي د بل د بدی تذکره وسي کچيري پر يو سړي باندي ظلم وسي او هغه خپل ظلم نورو ته بيان کړي دا په غيبت کي داخل نه دئ، بلکه جائز دئ.
به هر حال دا مستثنیٰ دئ کوم چي الله تعالیٰ د غيبت څخه ايستلی دئ، په دې کي د غيبت ګناه نسته، ليکن د دې څخه علاوه زموږ خلک په مجلس کي چي کښېني د قصې کولو په طور باندي د تېم پاسېدو دپاره د مجلس تازه کولو دپاره د نورو خلګو ذکر شروع کوي دا ټوله په غيبت کي داخل دي.
د خدای ﷻ دپاره پر خپلو ځانو رحم وکړئ! د دې د ختم کېدو دپاره کوشش وکړئ او يو څه خپله ژبه په کنټرول کي راولئ! و ژبي ته يو څه جلو ور واچوئ! الله تعالیٰ دي موږ ټولو ته د دې بد عمل څخه د خپلو ځانود بچاوولو توفيق راکي. آمين

## د غيبت څخه بچاؤ په عزم او همت دئ:

د غيبت تذکره ما ستاسو په مخ کي وکړه، تاسو واورېده او خالص په اورېدو او وينا خبره نه جوړيږي، تر څو چي عزم او اراده و نه سي او همت و نه سي او پر مخ باندي قدم وا نه خيستل سي.
دا عزم وکړئ! چي د نن څخه بعد به ان شاء الله يوه کلمه د غيبت د خولې څخه نه را وباسم او که کله په غلطۍ غيبت را څخه وسي، نو به توبه ور باندي کاږم.

(۱) النساء آيت نمبر: ۱۴۸

او صحیح علاج د دې دا دئ چې د چا غیبت دې کړې وي د هغه څخه معافي و غواړه! چې ما ستا غیبت کړی دئ ما معاف که!
بعض د الله ﷻ بندګان داسې سته چې هغه خلقو ته معافي کوي.

## د معافئ د طریقې متعلق یو واقعه:

حضرت تهانوي رحمه الله علیه فرمایي: بعض خلګ ما لره راسي او وایي: چې ما ستا غیبت کړی دئ ما معاف که! زه ورته وایم چې زه تا معافوم لیکن یو شرط سته، هغه دا دئ چې زما دې څه غیبت کړی دئ هغه ما ته را وښیه چې ما ته معلومه سي چې زما تر شا څه ویل سوي دي؟ چې څه دې ویلي دي که هغه را وښیې، نوزه به تا معاف کړم.
بیا به یې ویل: چې زه د دې حکمت په وجه دا پوښتنه کوم چې کېدلای سي زما په باره کي کومه خبره ویل سوې ده هغه دې صحیح وي او واقعي دې هغه په ما کي موجوده وي، نو هغه غلطي به ما ته معلومه سي او خدای پاک به ما ته د هغه څخه د بچاوېدو توفیق را په نصیب کړي.
لهذا زموږ د پاره هم دا یو سبق او لارښوونه ده کچیري د چا څخه غیبت وسي، نو علاج یې دا دئ چې هغه ته ووایي چې ما ستا غیبت کړی دئ.
لیکن پر دغه وخت که څه هم تکلیف راسي ځکه چې پخپله خوله چا ته ویل چې ما ستا غیبت کړی دئ او معافي اخیستل ډېر دروند کار دئ، لیکن علاج یې صرف داغه دئ.
دوه درې واره کچیري دا علاج په کار واچول سي، نو ان شاء الله د آئنده د پاره به سبق سي او انسان به د غیبت کولو څخه محفوظ پاته سي.

## د دې دویم علاج:

د دې دویم علاج بزرګانو دا بیان کړی دئ:

مثلا حضرت حسن بصري رحمة الله عليه فرمايي: چي کله انسان لره د چا تذکره د غيبت په شکل پر ژبه باندي ور سي، نو په دې وخت کي دي فورًا د خپلو عيبو استحضار، سوچ او فکر کوي، يو انسان هم دارنګه نه دئ چي د عيبه څخه دي خلاص وي او دا خيال دي وکړي چي په ما کي فلان عيب او بدوالی دئ، نو زه د نورو څه بدوالی بيانوم.

**دريم علاج:**

د غيبت د عذاب خيال او تصور دي وکړي چي اوس د هغه بيان وسو چي يوه کلمه کچيري د ژبي څخه را وباسم د دې انجام څومره بد دئ.

د دې سره سره د الله ﷻ څخه دعا غوښتل چي يا الله! د دې مصيبت څخه نجات راکړې.

چي کله په يو مجلس کي يو تذکره راسي، نو فورًا د الله تعالی و طرف ته متوجه کېدل چي يا الله! د فلانکي تذکره په مجلس کي روانه ده ما بچاوٴ که! چي زه چيري په دې کي مبتلا نه سم.(١)

الله تعالی دي په دې څو مختصرو خبرو د عمل کولو توفيق را نصيب کړي.

او الله تعالی دي دغه څو مختصري خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي. آمين

وَ آخِرُ دَعوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لله رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ

---

(١) ماخوذ از اصلاحي خطبات، جلد: ۴، صفحه: ۱۰۱

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآيه) .

# د مؤمنانو د کامیابۍ صفات

## (بیان)

مولوي اطيع الله صاحب

استاذ الحديث جامعه اسلاميه (علامه ټاؤن) چمن

ترتيب وتخريج:

مفتي حافظ کليم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

استاذ جامعه اسلاميه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانيه الهاشميه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حافـظ كُليم الله صاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشـــاعـت | خلــــــــــــــورم |
| تـاريـــــخ | يكم ربيع الثاني ۱۴۳۹ بمطابق يكم مي ۲۰۱۸ |
| تـعــــداد | (۱۱۰۰) |

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْداً كَثِيراً طَيِّباً مُبَارَكاً فِيْهِ مُبَارَكاً عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَ يَرْضٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهِ خَيْرِالْهُدٰى وَعَلٰى اٰلِهِ وَاَصْحَابِهِ نُجُوْمِ الْاِهْتِدَاء.

اَمَّا بَعْدُ:

فَاَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ. الَّذِيْنَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُوْنَ. وَالَّذِيْنَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُوْنَ(۱)

اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلٰنَا الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْمُ وَنَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو مشرانو! ستاسو په مخ کي ما د "سورة المؤمنون" د ابتدائي آياتو تلاوت وکړئ، دې آياتو کي الله تعالی د مؤمنانو هغه صفات بيان کړي دي چي د مؤمنانو دپاره په دنيا او آخرت کي د فلاح او کاميابۍ موجب او سبب گرځي، کچيري يو مؤمن دا غواړي چي په دنيا او آخرت کي دي کاميابي او فلاح زما نصيب سي د هغه دپاره د دې صفاتو اهتمام کول ضروري دي چي په دې آياتو کي بيان سوي دي.

په هغه صفاتو کي اول صفت چي په دې آياتو کي بيان سوی دئ دا دئ چي په لمانځه کي خشوع او خضوع کول.

د دې صفت تفصيل بحمده تعالی په تيرو جمعو کي بيان سوی دئ.

---

(۱) سورة المؤمنون، آيت نمبر: ۱-۳

## د مؤمنانو دوهم صفت:

دوهم صفت يا دوهم عمل چې الله تعالى په دې آياتو کې بيان کړی دئ هغه په دې دول دئ: ﴿وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ﴾ يعنى فلاح يافته مؤمن هغه دئ چې د لغوياتو څخه اعراض او کناره کشي کوي.

ددې آيت کريمه دوه مطلبه کېدای سي: يو مطلب خو دا دئ که چېري يو انسان ددې مؤمن سره بې هوده خبري کوي يا بې هوده معامله کوي، نو هغه جواب د ټکي په ټکي ور کولو پر ځای د هغه سړي څخه کناره کشي اختياروي او خپل ځان د هغه لغوه خبرو او لغوه کارو څخه ساتي.

## د انبياؤ حضراتو صفت هم دا دئ:

د انبياؤ حضراتو طريقه هم دا وه چې هغوی به و چا ته طعنه، پېغور او بده خبره نه کوله، که به چېري يو چا و دوی ته طعنه ورکړه او بده خبره به يې ور ته وکړه، نو دوی حضراتو به قطعا هغوی ته د بدي خبري جواب په بده خبره نه ورکوئ.

غالبًا د حضرت هود عليه السلام د قوم واقعه ده، چې د هغه قوم به و حضرت هود عليه السلام ته ويل: ﴿إِنَّا لَنَرَاكَ فِي سَفَاهَةٍ وَإِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ الْكَاذِبِينَ﴾(١) و خپل نبي ته دوی دا وايي چې زموږ خيال خو دا دئ چې ته انتهائي درجه بې عقل او احمق يې او موږ تا په دروغجنو انسانانو کي بولو او ته موږ ته دروغجن انسان معلومېږې.

هغه انبياء کرام چې پر هغوی باندي حکمت او صدق تمام وو د هغوی په باره کي دوی دا وايي او دا الفاظ ادا کوي، ليکن دوهم طرف ته پېغمبران جواب په کوم شکل ور کوي: ﴿لَيْسَ بِي سَفَاهَةٌ وَلَكِنِّي رَسُولٌ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾(٢) ای قومه! زه بې وقوفه او بې عقل نه يم، بلکه د الله جل جلاله د طرفه يو پېغام راوړونکی نبي او رسول يم.

---

(١) سورة الاعراف، آيت نمبر: ٦٦

(٢) سورة الاعراف، آيت نمبر: ٦٧

**پیغمبري جواب:**

یو بل پیغمبر علیه السلام ته خپل قوم دا وایي: ﴿إِنَّا لَنَرَاكَ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ﴾(۱) موږ تا په گمراهی کي وینو چي ته په گمراهي کي مبتلا یې.

په جواب کي هغه پیغمبر ﷺ په نرم انداز ور ته فرمایي: ﴿يَا قَوْمِ لَيْسَ بِي ضَلَالَةٌ وَلَكِنِّي رَسُولٌ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾(۲) ای قومه! زه گمراه نه یم، بلکه د الله رب العلمین د طرفه پیغمبر راغلی یم.

تاسو ولیدل چي د انبیاء کرامو سنت او شیوه او عادت دا نه وو چي چا ته د طعني جواب په طعنه یا د بدي خبري جواب په بده خبره باندي ورکړي.

بلکه د انبیاء کرامو سنت دا دئ چي هغه د چا د طعنې او د بدي خبري جواب په نرم انداز او د همدردی او غمخواری په انداز باندي ورکوي او دا زموږ د ټولو سلفو او اکابرو شیوه او عادت هم وو او د ټولو اولیاء کرامو او خدای ته نژدې او قریبو انسانانو هم داغه طریقه وه.

**د شاه اسماعیل شهید رحمه الله علیه واقعه:**

حضرت شاه اسماعیل شهید رحمة الله علیه په تېره قریبه زمانه کي تېر سوی دئ، د دومره لوړي درجې "ولي" الله تعالی پیدا کړی وو چي په دې نژدې زمانه کي د هغه نظیر پیدا کول مشکل دي.

د شاهي خاندان یو شهزاده د الله تعالی د دین د سربلندی دپاره را ووتئ او ډېره قرباني یې ورکړه چي بالآخر د بالا کوټ په معرکه کي د سیکانو په مقابله کي شهید سو. د خپل وقت ډېر لوی محدث او ډېر لوی شیخ وو.

(۱) سورة الاعراف، آیت نمبر: ٦٠

(۲) سورة الاعراف، آیت نمبر: ٦١

یوه ورځ د ډهلي په جامع مسجد کي يې تقرير کوئ او په زرګونو تعداد کي خليفګان او مريدان او معتقدين ناست دي، د مجمعې په درميان کې يو سړی ولاړ سو او وايي:

- حضرت يوه خبره کوم.
- دی ورته وايي: وې که!
- هغه سړی د ده د مخالفينو څخه دئ ور ته وايي: ﴿اَلْعِيَاذُ بِاللهِ﴾ چي ما اورېدلي دي چي ته حرامي يې او د زنا څخه پيدا سوی يې.

دومره لوی عالم او د وقت شهزاده ته چي په عامه مجمع کي هغه سړی ښکنځل کوي او بيا هغه مجمع هم ټول مريدان او معتقدين دئ کچيري زموږ غوندی سړی وي اول خو به دې مخالف سړي ته سزا ورکړي.

او که بالفرض سزا ور نه کړي خو هغه معتقدين به هغه سړی سره وشکوي او ختم به يې کړي، که دا هم نه وي نو کم از کم جواب تُرکي به تُرکي خو به ورکړي: چي ته حرامي، ستا پلار حرامي او ستا نيکه حرامي دئ.

ليکن شاه اسماعيل شهيد رحمته الله علیه ته چونکه پېغمبرانه دعوت حاصل دئ په جواب کي وايي: سړيه! تا ته غلطه اطلاع او خبر رسېدلی دئ.

ځکه چي زما د مور او پلار د نکاح شاهدان اوس هم د "ډهلي" په ښار کي موجود دي او هر وقت چي وغواړې زه يې تا ته حاضرولای سم(۱).

## د غلطي وينا څخه مسئله جوړول:

حضرت د هغه ښکنځلو څخه مسئله جوړه کړه او د مسئلې په شکل کي يې جواب ور کړئ او د ښکنځلو جواب يې د ښکنځلو په شکل ور نه کړئ.

(۱) اصلاحي خطبات جلد ۱۴ صفحه ۲۵۵

لهذا ! د بدي خبري جواب باید انسان د بدي خبري په ډول ور نه کړي که څه هم انسان ته دا شرعاً حق سته چي کله یو سړي تا ته ښکنځل وکړل، نو ته هم ښکنځل ور ته وکه.

لیکن انبیاء کرامو او د هغوی وارثینو د انتقام او بدلې دا حق نه دئ استعمال کړی، بلکه همېشه یې د معافی او درگزر څخه کار اخیستی دئ او دا یې د خپل ځان شیوه او عادت گرځولی دئ.

## د انتقام پر ځای معافي کول:

انسان باید دا سوچ او فکر وکړي چي کله تا ته یو چا بده خبره او ښکنځل وکړل، نو په دې سره ستا کم آخرت خراب سو او ستا د دنیا څه تاوان و سو؟ بلکه ستا خو نور په درجاتو کي لوړوالی راغلی.

کچیري ته انتقام او بدل وا نه خلې، بلکه درگزر او معافی وکړې، نو الله ﷻ به تا معاف کړي.

د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک دئ چي که سړي د نورو خلقو غلطیاني معاف کوي، نو الله تعالی به په هغه ورځ ده ته معافی وکړي چي په کمه ورځ دی د معافي زیات محتاج وي، یعني د قیامت په ورځ(۱).

لهذا د انتقام او بدل اخیستلو فکر پرېږدئ! معافي او درگزر وکړئ.

## معافي کول باعث د اجر او ثواب دي:

نن صبا زموږ په کورو کي او په خاندانو کي او په تعلق دارانو کي شپه او ورځ دا خبره موجودیږي چي فلانکي زما سره دا وکړه او فلانکي دا را سره وکړه، نو دی د هغه د بدل او انتقام اخیستلو په سوچ او فکر کي وي، نو خلقو ته شکایتونه او گیلې کوي، نورو انسانانو ته د هغه غیبتونه او بدی بیانوي، حالانکه غیبت کول او شکایتونه کول دا ټول د گناه کارونه دي.

(۱) اصلاحي خطبات جلد ۵ صفحه: ۲۵٦

لیکن کچیرې دا سړی د دې پر ځای د معافۍ او درګزر څخه کار واخلي، نو د ډېر لوی فضیلت او ثواب مستحق به جوړ سي.
په قرآن کریم کې الله تعالی فرمایي:
﴿وَلَمَن صَبَرَ وَغَفَرَ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ﴾(۱) چې کم سړی صبر وکړي او معافي یې وکړه بېشکه دا د ډېر همت والا کار دئ.
بل ځای الله تعالی فرمایي:
﴿ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ﴾(۲).
ته د بل د بدي خبرې بدله په ښه خبره ورکړه! د دې نتیجه به دا وي چې د کم چا سره دې عداوت او دښمني وي هغه به ستا مخلص دوست جوړ سي.
لیکن د دې سره الله جل جلاله دا هم فرمایي: ﴿وَمَا يُلَقَّاهَا إِلَّا الَّذِينَ صَبَرُوا وَمَا يُلَقَّاهَا إِلَّا ذُو حَظٍّ عَظِيمٍ﴾(۳) یعني دا عمل هم هغه چا ته الله تعالی په نصیب ورکوي چې کم چا ته الله تعالی د صبر توفیق ورکړی وي او دا دولت به ډېر لوړ نصیب والا انسانانو ته حاصلیږي.

## د اولیاء کرامو رحمهم الله جدا جدا شان:

د یو بزرګ څخه چا پوښتنه وکړه:
- چې حضرت! ما دا اورېدلی دي چې د اولیاء کرامو رحمهم الله عجیب عجیب شان وي، د چا یو شان او طریقه وي او د چا بل شان او طریقه وي، او زما زړه دا غواړي چې د اولیاوو مختلف او جدا جدا شان وو ینم چې هغه په کم قسم او ډول وي.

(۱) سورة الشوری، آیت نمبر: ۴۳
(۲) سورة فصلت، آیت نمبر: ۳۴
(۳) سورة فصلت، آیت نمبر: ۳۵

- هغه بزرګ ورته وايي: سړيه! تا هسې خپل ځان په دې فکر کې اچولی دئ، د اولياوو او بزرګانو رحمهم الله د شان لیدلو فکر پرېږده! خپل کار په مخه واخله!

لیکن هغه سړي پر خپله خبره باندې اصرار کوي چې نه زه خامخا لیدل غواړم چې په دنیا کې څنګه څنګه بزرګان او اولیاءالله موجود دي.

هغه بزرګ ورته وايي: چې ته خامخا د اولياؤ مختلف شان لیدل غواړې، نو ورسه د "ډهلي" په فلان مسجد کې درې بزرګان پر وظيفه ناست دي او په خپل ذکر او اذکارو مشغوله دي د هر يوه پر ملا باندې يو سوک او چپلاخه ورکه! يعنې پر ملا باندې يې په سوک او چپلاخه ووهه! بیا ورته وګوره چې د اولياؤ څنګه شان وي.

چنانچه هغه سړی هغه مسجد ته راغلئ که ګوري يقيناً هغه درې بزرګان په ذکر او اذکار کې مشغوله دي، نو دغه سړی ورغلی د اول بزرګ پر ملا باندې يې يو سوک ور سره کړئ، هغه بالکل نه سر را پورته کړئ او نه يې ور ته وکتل، بلکه هغه په خپل ذکر هغسې مشغول وو.

بیا يې د دوهم پر ملا باندې سوک ور سره کړئ هغه ذکر پرېښوی، را ولاړ سو، دی يې هم پر ملا باندې په سوک ووهی او بیر ته په خپله وظيفه او ذکر کې مشغوله سو.

بیا هغه سړي دریم بزرګ پر ملا باندې ووهئ هغه د دې پر ځای چې خپل انتقام او بدله څني واخلي د ده لاس يې ور مچ کړئ او معافي يې څني واخيسته چې حضرت! ستا لاس به زما پر بدن خوږ سوی وي او ته به زما څخه زهير سوی يې، نو ما ته معافي کوه.

## د دې بزرګانو حالات بیر ته راوړل:

د دې څخه وروسته هغه سوک وهونکي سړی بیر ته هغه بزرګ ته راغلئ چې کم چا دی استولی وو، هغه بزرګ پوښتنه څني وکړه:

- سړيه! څه وسوه؛
- دې سړي په جواب کې ورته وويل: حضرت! عجيبه قصه وسوله، چې کله ما اول بزرګ ووهئ هغه راته و نه کتل، نه يې سر را پورته کړئ او نه يې زه ولیدم.
او چې کله مي دوهم بزرګ ووهئ، نو هغه بيا را ولاړ سو زه يې هم ووهلم، لکه ما چې دی وهلی وو.
او چې کله مي دریم بزرګ ووهئ، نو هغه د بدل او انتقام اخیستلو پر ځای زما څخه معافي واخیستله چې حضرت! ستا لاس ته به زما په وجه تکلیف رسېدلی وي.
- هغه بزرګ ورته وايي: چې ښه دا را ته ووايه چې کم بزرګ ته ووهلې نو هغه په خوله يو څه در ته وويل؟
- دا سړی په جواب کې ور ته وايي: نه، په خوله يې هيڅ هم نه دي ويلي بس په سوک يې ووهلم او په خپل کار کې مشغوله سو.

## د اول بزرګ فکر او شان:

هغه بزرګ ور ته وايي چې سړيه واوره! اول بزرګ چې ستا څخه يې بدله وا نه خیسته هغه دا فکر وکړئ چې زه دا قيمتي وقت په بدله اخیستلو کې ولې ضائع کړم، چې کله دې سړي زه په سوک ووهلم، نو زما يې څه را خراب کړل؟ چې يو وار خو به زه تر شا ګورم چې دا څوک وو، بيا به دا ګورم چې ولې يې ووهلم، بيا به د هغه بدله اخلم، دا دومره وقت په دې کې صرفوم نو ولې يې د الله تعالی په ذکر کې نه صرفوم.

## د اول بزرګ مثال:

د اول بزرګ مثال داسي دئ لکه يو سړی چې باچا د وقت را بللی وي او ورته ويلي يې وي: چې ته زما حضور ته راسه زه به تا ته يو عاليشان انعام در کوم،

اوس هغه سړي د انعام په شوق کې منډې وهي او روان دئ د باد شاه د محل پر طرف باندې او وقت هم ډېر کم دئ.

او د ده څخه غوښتنه ده چې پر وقت ځان وباچا ته ورسوي نو په لار کې يو سړی دَی په سوک ووهي آيا دا سړی به اوس د هغه سوک والا سره اخته کېږي او که به خپل سفر جاري ساتي چې زه څنګه ژر تر ژره د باچا دربار ته خپل ځان ورسوم او خپل انعام به لاس ته ورسوم؟

ظاهره خبره ده د هغه سړي دا هوښياري نه ده چې د سوک وهلو والا سره ځان اخته کړي، بلکه هوښياري يې دا ده چې ژر تر ژره د باچا دربار ته خپل ځان و رسوي او د هغه څخه خپل انعام و لاس ته کړي.

داغه ډول دې بزرګ هم د دې سوک وهلو والا سره ځان نه اخته کوئ، بلکه په خپل ذکر کې مشغول پاته دئ چې خپل وقت ضائع نه کړي او د الله ﷻ په دربار کې د الله تعالىٰ نعمتونه لاس ته راوړي.

## د دوهم بزرګ فکر او شان:

دوهم بزرګ کم چې بدل يې واخيستئ هغه دا فکر وکړئ چې شريعت ما ته دا حق راکړی دئ چې څومره زياتي او تجاوز ستا سره څوک وکړي ته هغومره تجاوز او زياتي ور سره کولای سې، د هغه څخه زيات نه سې کولای. اوس تا دَی يو سوک وواهی ده هم د هغه په بدله کې يو سوک ته ووهلې، تا په ژبه هيڅ هم نه وويل ده هم هيڅ نه وويل([1]).

## در حقيقت بدله اخيستل هم خير خواهي ده:

حکيم الامت اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه فرمايلي دي: چې د بعضو بزرګانو څخه دا خبره منقوله ده چې هغوی به د خپل ځان سره د زياتي او تجاوز کېدلو

---

([1]) ماخوذ از اصلاحي خطبات جلد ۱۴ صفحه نمبر: ۲۵۷، ۲۵۸، ۲۵۹

ضرور بدله اخیسته، او دا بدله اخیستل به هم په حقیقت کې د هغه تجاوز کونکي سره د خیر خواهۍ په خاطر وه.
په دې وجه چې د بعضو اولیاء کرامو دا حال وي کچیرې یو سړی دوی ته تکلیف و رسوي یا د دوی په شان کې گستاخي وکړي او دوی صبر وکړي د دوی د صبر په نتیجه کې هغه گستاخي کونکی انسان الله تعالٰی تباه او برباد وگرځوي.

**د محبوب او محبوبې بدله:**

د یو کتاب لیکلې واقعه ده چې یو بزرگ د الله ﷻ نیک بنده په لاره روان دئ، د یخ موسم دئ، باران اورېدلی دئ، مخ ته یو سړی او د هغه د کور زنانه روانه ده، د هغه بزرگ د چوټې څخه د اوبو یو دوه څاڅکي وغورځېدل او د هغه زنانې پر کپړو ولگېدل، خاوند چې کله ولیده ډېره غصه ورغله، دې بزرگ ته وایې: سړیه! ته په سترگو ړوندیې چې زما د کور والا کپړې دې ور خرابې کړې.
هغه بزرگ یې یو څاپیړه پر مخ ووهی او کور وا لا خو یې ډېره خوشحاله سوه چې زما د طرفه خو زما خاوند بنه بدله واخیسته، نو په ډېره خوشحالۍ خوشحالۍ خاوند او زنانه کور ته روان سوه.
بزرگ چې مخ ته راغلئ هلته د یو "حلوایي" دکان دئ هغه "حلوایي" د ځان سره دا فکر کړی دئ که چیرې سهار وختې اول وار ما ته کم سړی په نظر راغلی زه به ضرور هغه ته یوه پیاله گرمې شیدې ور کوم.
چې زما دستلاف او سودا بنه سي، او هغه "حلوایي" په دغه انتظار د دکان مخ ته ناست دئ چې دا بزرگ تېرېدی، نو را یې وستئ او مخ ته یې کښېنوی او گرمه پیاله شیدې یې ور کړې.
هغه بزرگ شیدې و چیښلې او د الله ﷻ شکر یې ادا کړئ چې را و وتی نو آسمان ته یې وکتل او وایې: یاالله! ستا د مخلوق هم عجیبه شان دئ د چا د لاسه څپیړې خورم او د چا د لاسه گرمې شیدې چیښم.

په دې دوران کې هغه خاوند او زنانه کور ته را و رسېدل خاوند په زينو (ځينو) کې خيږې چې پښه يې خطا سوه او لاندې پر مځکه را ولوېدی مزغی يې مات سو او پر هغه ځای باندې مړ سو، کور والا يې دستې وويل: لږ ساعت مخکې چې په لاره کې کومه واقعه پېښه سوه شايد هغه بزرګ بوډا به ده ته ښرا او بد دعا کړې وي.

خلک هغه بزرګ لره په ګيله راغله ورته وايې:

- چې ده ته يوه ټېپره ووهلې تا به صبر کړی وای تا هغه ته بد دعا او ښرا وکړه د هغه دا حالت سو؟
- هغه بزرګ ورته وايي په خدای قسم ما ده ته ښرا او بد دعا نه ده کړې.(¹)

## د خبرې اصلي حقيقت:

خبره په حقيقت کې دا ده چې دده د خپلې کور والا سره محبت وو چې هغې ته ما تکليف ورسوی او د هغې کپړی مې ور خرابي کړې، نو ده د هغه بدل زما څخه واخيستې زما سره په حقيقت کې زما د رب ﷻ محبت وو چې ده و ما ته تکليف و رسوی.

نو زما رب ﷻ د ده څخه بدله واخيسته، نو چې کله معامله انسان و الله ﷻ ته و سپاري، نو الله تعالی د تکليف رسولو په بدل کې د تکليف رسونکي څخه په خپله بدل او انتقام اخلي.

## د الله تعالی سره جنګ او جګړه معاذالله:

په دې وجه حديث قدوسي کې الله تعالی فرمايي:

(¹) خطبات فقير جلد ۵ صفحه ۵۹

﴿مَنْ عَادٰى لِيْ وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالْحَرْبِ﴾[1] کم سړی چي زما د یو ولي سره دښمني کوي زما د هغه سره اعلان جنګ دئ. دا سړی په حقیقت کي د دغه ولی سره دښمني نه کوي، بلکه د الله تعالٰی سره جنګ او جګړه کوي او چي کم سړی د الله جل جلاله سره جنګ او جګړه کوي، نو الله تعالٰی بیا د هغه ګردن (غاړه) ورپیچي او الله تعالٰی د خپل ولي بدله او انتقام پخپله اخلي.

## د امام ابوحنیفه رحمته الله علیه د طرف د الله جل جلاله بدله اخیستل:

د امام اعظم ابوحنیفه رحمته الله علیه یو مخالف دئ، هغه ته دا معلومات وسو چي د امام ابوحنیفه رحمته الله علیه پلار وفات سوی دئ او مور یې بوډی زنانه ده او نه نوی (۹۹) کاله ته یې عمر قریب دئ.

هغه یوه ورځ د امام ابوحنیفه رحمته الله علیه حضور ته راغلئ، په دې وخت کي امام ابوحنیفه رحمته الله علیه خپلو شاګردانو ته د حدیثو درس کوئ، دا سړي ورته وایي:

- چي په شرع شریفه کي خو دا حکم دئ چي تاسو د کونډو زنانو یعني چي خاوند یې وفات سوی وي د هغه زنانو نکاح ورکوئ، نو ستا مور چونکه کونډه سوې ده او ستا پلار وفات سوی دئ او ما اورېدلي دي چي ډېره خوبصورته، حسینه او جمیله ده، لهذا زه دا غواړم چي زما سره نکاح وکړي.
- حضرت امام ابوحنیفه رحمته الله علیه چي کله د ټولو شاګردانو په مخ کي دا واورېدل، نو د ډېري غصې څخه یې ټول بدن بلګېدل او کېږدل شروع کړل، لیکن بیا یې هم هغه غصه کنټرول کړه.

## ...فه رحمته الله علیه جواب:

... ایي: زما مور چونکه عاقله بالغه ده او د دې عمر زنانو ... نېله حاصل وي، نو زه به د هغې څخه پوښتنه وکړم.

[1] ... نمبر: ۶۵۰۲

هغه ښځې وویل: سمه خبره ده.

امام ابو حنیفه رحمة الله علیه د درس د میان څخه د کور پر طرف ولاړئ چې یو دوه قدمه یې واخیسته د هغه سرې په خیټه کې یو قسم درد را پورته سو د هغه درد په وجه هغه سړی پر هغه ځای غوځار سو او مړ سو.

امام ابو حنیفه رحمة الله علیه چې خبر سو، نو ده به ویل: چې تاسو نه ګورئ چې د ابو حنیفه رحمة الله علیه صبر هم د یو سړي روح پورته کړئ. او خاص بیا د هغه چا سره دښمني کول او و هغه چا ته په سپک نظر کتل چې په دین کې د سړي څخه یو څه مخ ته وي، لکه: علماء، مجاهدین، صوفیاء کرام او بزرګان د دین او د هغوی بې قدري کول دا خطره لري چې سړی به د اسلام څخه محروم وګرځي او خدا نخواسته بغیر د کلمې د شهادت څخه به زکندن ور باندي تېر سي. ﴿اللّٰهُمَّ احْفَظْنَا مِنْهَا﴾(۱).

## د حضرت اسامه رضي الله عنه د بې قدرۍ سزا:

د حجة الوداع په موقع باندي د عرفات په میدان کي حضرت اسامه رضي الله عنه د پیغمبر ردیف دئ یعني د پیغمبر تر شا پر یو اوښ ور سره سپور دئ، قافله روانه ده.

د حضرت اسامه رضي الله عنه د قضاء حاجت ضرورت پېښ سو، نو یو طرف ته د قضاء حاجت دپاره ولاړئ، یو څه ځنډ او تأخیر یې وکړئ، نو ټوله قافله ور ته په انتظار ولاړه ده.

چي کله حضرت اسامه رضي الله عنه واپس راغلئ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم تر شا سپور سو، نو ټولو خلکو ولیدئ چي قافله د اسامه رضي الله عنه دپاره دومره منتظره وه، د حضرت اسامه رضي الله عنه مبارک رنګ تور او پزه مبارکه یې کوچنۍ او پیټه وه، یعني د ده

(۱) خطبات فقیر جلد ۵ صفحه ۶۱

شکل مبارک ښایسته نه وو، چونکه دَی مبارک د خپلې مور ام ایمن ﷺ په شکل وو، د هغې مبارکي رنګ دغسی وو.
نو یو قبیلې والا ته د ده ځنډ او تأخیر خوند ور نه کړئ پخپل درمیان کي سره وایي: ﴿أَ لِهَذَا الْأَسْوَدِ تَأَخَّرْنَا﴾ د دې تور مخي په خاطر موږ دومره انتظار وکړئ؟
دغه د حقارت الفاظ د هغوی تر خوله ووتله، د هغه حقارت د الفاظو سزا دا وه چي د پیغمبر ﷺ د وفات څخه بعد دا ټول مرتد سول.
علماء کرامو رحمهم الله لیکلي دي: چي د حضرت اسامه ﷺ د ناقدری د سزا په خاطر خدای تعالی ټول مرتد کړل، او دا د پیغمبر ﷺ د حجة الوداع شریکان وه، لیکن آخر بغیر د توبې الله تعالی ټول قتل کړل.
د "سهیل ابن مقرن" او "مهاجر ابن امیه" لشکر ورغلی او حمله یې ور باندی وکړل او ټوله یې د کفر په حالت کي قتل کړل.
علماء کرامو رحمهم الله لیکلي دي: چي د اسامه ﷺ د ناقدری په وجه ټول پر کفر باندي مړه سول. (۱)

## د ښو اخلاقو فضیلت او اهمیت:

زموږ په دین کي د لغوه خبرو څخه ځان ساتل د انسانانو سره په ښو اخلاقو زندګي تېرول دا ډېر لوی اهمیت لري.
تاسو نه ګورئ چي په اسلام کي شهادت ډېر لوی عزت او اعزاز دئ او علم د شهادت څخه هم لوی اعزاز دئ؟ د عالم د قلم د رنګ فضیلت د خدای ﷻ په حضور کي د شهید د وینو څخه هم زیات دئ.
د عالم د پاره د جنت وعده سته، لیکن د جنت ضمانت نسته، د شهید د پاره د جنت وعده سته، لیکن ضمانت نسته،

---

(۱) خطبات جمیل، جلد نمبر: ۲، صفحه نمبر: ۵۷۸

د دین په خدمت کولو د جنت وعده سته، لیکن ضمانت نسته، د مؤمن د پاره د جنت وعده سته، لیکن ضمانت نسته.

ضمانت د جنت صرف د دې سړی د پاره سته چې د کم چا په باره کې پیغمبر فرمایي: ﴿أَنَا زَعِيمٌ بِبَيْتٍ فِيْ رَبَضِ الْجَنَّةِ لِمَنْ تَرَكَ مِرَاءً وَ هُوَ مُحِقٌّ﴾(١) زه ضامن یم د جنت په وسط او درمیان کې د کور د هغه چا دپاره چې د یو مسلمان سره یې جګړه راسي او پر حق هم دَی وي، لیکن د خدای د پاره جګړه پرېږدي.

دا یقیناً د پیغمبر ﷺ اخلاق هم وو.

دغه رنګه پیغمبر ﷺ فرمایي: ﴿أَنَا زَعِيمٌ بِبَيْتٍ فِيْ أَعْلَى الْجَنَّةِ لِمَنْ أَخْلَاقُهُ الْحَسَنُ﴾(٢) چې کم سړی ښه اخلاق ښه کړي، نو زه په جنت کې د ښه کور ورکولو د خدای ﷻ د طرفه ضامن یم.

## ښه اخلاق عین دین، عین ایمان او عین اسلام دئ:

یو صحابي ﷺ د پیغمبر ﷺ و مخ ته کښېنستی او پوښتنه یې ځني وکړه:

– ای د الله رسوله! دین کم شی دئ؟

– پیغمبر ﷺ په جواب کې ورته فرمایي: بهترین اخلاق دین دئ.

هغه سړی د دې ځایه څخه ولاړ سو د راسته طرفه راغلئ او پوښتنه یې ځني وکړه:

– ای د الله رسوله! دین څه شی دئ؟

– پیغمبر ﷺ په جواب کې ورته وایي: بهترین او ښه اخلاق دي.

هغه سړی بیا ولاړ سو او له چپه طرفه ورته راغلئ او پوښتنه یې ځني وکړه:

– ای د الله رسوله! دین څه شی دئ؟

– د الله ﷻ رسول ورته وایي: ښه اخلاق.

---

(١) ابو داود، حدیث نمبر: ۴۸۰۰

(٢) الترغیب و الترهیب، حدیث نمبر: ١٣٦

هغه سړي بیا و شا ته ورته کښېنستی او پوښتنه یې څنې وکړه:

- ای د الله رسوله! دین کم شی دئ؟
- پیغمبر ﷺ مخ و شا ته وګرځوئ او ورته وایي: سړیه! ته به کله په خبره سر خلاصوې دین یقیناً ښه اخلاق دي.

یو بل صحابي پوښتنه څنې وکړه:

- یارسول الله! ﴿مَا الْإِسْلَامُ؟﴾ اسلام څه شی دئ؟
- پیغمبر ﷺ په جواب کي ورته وایي: ﴿إِطْعَامُ الطَّعَامِ وَطِيبُ الْكَلَامِ﴾(۱) خلقو ته ډوډۍ ورکول او خوږه خبره ورته کول.
- هغه صحابي بیا پوښتنه څنې کوي: یارسول الله! ﴿مَا الْإِيْمَانُ؟﴾ ایمان څه شی دئ؟
- پیغمبر ﷺ په جواب کي ور ته وایي: ﴿اَلصَّبْرُ وَالسَّمَاحَةُ﴾(۲) د خلقو پر تکلیفو صبر کول او سخا کول، یعني صبر او معافي کول.
- هغه صحابي پوښتنه کوي: ﴿أَيُّ الْإِسْلَامِ أَفْضَلُ؟﴾(۳) تر ټولو بهترین اسلام کم دئ؟
- پیغمبر ﷺ ور ته فرمایي: ﴿مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِسَانِهٖ وَيَدِهٖ﴾ چي د چا د لاسه څخه د مسلمان عزت او آبرو محفوظ وي هغه سړی د ټولو څخه ښه مسلمان دئ.
- هغه صحابي بیا پوښتنه کوي: ﴿أَيُّ الْإِيْمَانِ أَفْضَلُ؟﴾(۴) د ټولو څخه بهترین ایمان کم دئ؟
- پیغمبر ورته فرمایي: ﴿حُسْنُ الْأَخْلَاقِ﴾ ښه اخلاق د ټولو څخه بهترین ایمان دئ.

---

(۱) ترمذي، حدیث نمبر: ۲۲۳۵

(۲) الترغیب والترهیب، حدیث نمبر: ۲۰

(۳) بخاري شریف، حدیث نمبر: ۱۱

(۴) جمع الفوائد، حدیث نمبر: ۸۳

یو بل صحابي عرض کوي او وایي:
- ای د الله ﷻ رسوله! زه دا غواړم چي زما ایمان کامل مکمل سي.
- پیغمبر ﷺ ور ته فرمایي: ﴿حَسِّنْ خُلُقَکَ یَکْمُلْ اِیْمَانُکَ﴾ خپل اخلاق ښه کړه ایمان به دي کامل سي.(۱)

## اوس بهترین او ښه اخلاق کم دي؟

د پیغمبر اخلاق څه وو؟ حضرت عائشه مبارکه وایي: ﴿کَانَ الْقُرْاٰنُ خُلُقَهٗ﴾ د پیغمبر ﷺ اخلاق قرآن کریم وو(۲).

او یو بل روایت کي راځي: چي د پیغمبر ﷺ اخلاق دا وه: ﴿تَصِلْ مَنْ قَطَعَکَ﴾ چي کم قریب مخ در څخه واړوي د هغه څخه د مخ اړولو پر ځای صله رحمي کوه! ﴿تُعْطِ مَنْ حَرَمَکَ﴾ چي کم څوک څه نه درکوي هغه ته څه ورکوه! ﴿وَاعْفُ عَمَّنْ ظَلَمَکَ﴾ چي څوک ظلم در سره وکي هغه ته معافي کوه! ﴿وَاَحْسِنْ مَنْ اَسَاءَ اِلَیْکَ﴾ چي بد در سره وسول د بدو په بدل کي ښه ور سره کوه(۳)!

دا یقیناً اخلاق پیغمبري دي او په دې اخلاقو پیغمبري باندي عمل کول چي څو مره درجې لري د غونده تکلیف هم لري.

## ښه اخلاق یقینا تکلیف لري:

سل رکعته نفل کول آسانه دئ، لیکن چي کم سړی سلام نه در ته وایي هغه ته سلام ویل مشکل دي.

تاسو یې پر خپل طبعیت وآزمایئ!

د ګرمۍ په ورځو کي روژه نیول آسان دي، لیکن د مخ ګرځونکي و مخ ته د عاجزۍ او خندا په شکل ورتلل ډېر ګران دي.

(۱) خطبات جمیل، جلد: ۲، صفحه: ۵۷۶
(۲) نور الانوار صفحه: ۳
(۳) جامع الاصول، حدیث نمبر: ۹۳۱۸

هر کال حج کول آسانه کار دئ، لیکن چي د کم چا سره دي زړه نه غواړي او هغه سړي یوه زړه هوا داره هم نه وي د هغه سره په محبت ګزاره کول مشکل دئ.
د قریب د طرفه د صلې رحمي ختم کېدلو وروسته صله رحمي ور سره کول، یا د ظلم سره سره معافي ور ته کول، یا د چا پر بدو باندي د هغه سره ښه سلوک کول، دا د پیغمبر ﷺ سنت مبارک هم دئ.

## پر یوه سنت د سلو شهیدانو ثواب:

او په اوس زمانه کي دا سنت په پوره طریقه سره متروک او پاته سوی دئ او د پیغمبر ﷺ حدیث دئ: ﴿مَن تَمَسَّکَ بِسُنَّتِیْ عِندَ فَسَادِ اُمَّتِیْ فَلَهٗ اَجرُ مِاۃِ شَهِیْدٍ﴾[۱] چي کم زما امتي زما په یو سنت باندي په داسي زمانه کي عمل شروع کړي چي د عامو خلګو څخه په دغه سنت باندی عمل پاته سوی وي، نو د الله ﷻ په حضور کي به د سلو شهیدانو ثواب پیدا کړي.
او د مخلوق پر بدو باندي ښه سلوک کول او پر ظلم معافي کول یقیناً په اوس زمانه کي د عامو خلقو څخه په دې باندی عمل پاته سوی دئ او دا حقیقۀ د پیغمبر ﷺ مبارک سنت دئ چي په اوس دور کي په دې باندی عمل کول د لوی اجر او ثواب باعث دئ او د انسانیت د ټولو مشکلاتو او شکایاتو حل او ختمېدل هم د پیغمبر ﷺ په دې سنتو باندی په عمل کولو کي موجود دي.
الله تعالیٰ دي په دې سنتو او د پیغمبر ﷺ په نورو سنتو د عمل کولو توفیق را نصیب کړي.
او الله تعالیٰ دي په دې څو مختصرو خبرو ما او تاسو ټولو ته عمل را نصیب کړي. او الله تعالیٰ دي دغه څو مختصري خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي. آمین

وَ اٰخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ

(۱) الترغیب و الترهیب، حدیث نمبر: ۳۰

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الایه)

# د لا اله الا الله د ویلو فضیلتونه

## (بیان)

مولوي اطیع الله صاحب
استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتي حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دارالعلوم کراچی)
استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه
کانسی روڈ کوئٹه

| | |
|---|---|
| تقریر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتي حافظ كليم الله صاحب |
| مقام | جامع مسجد حاجي عبدالودود |
| اشاعت | خلورم |
| تاريخ | يكم ربيع الثاني ١۴٣٩ بمطابق يكم مي ٢٠١٨ |
| تعداد | (١١٠٠) |

اَلحَمْدُلِلّٰہِ حَمْدًا کَثِیْرًا طَیِّبًا مُبَارَکًا فِیْہِ مُبَارَکًا عَلَیْہِ کَمَا یُحِبُّ رَبُّنَا وَ یَرْضٰی وَالصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی رَسُوْلِہٖ خَیْرِالوَرٰی وَعَلٰی آلِہٖ وَ اَصْحَابِہٖ نُجُوْمُ الْاِھْتِدٰی.

اَمَّابَعْدُ:

فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطَانِ الرَّجِیْمِ

بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ:

﴿یَا اَیُّھَا الَّذِیْنَ آمَنُوا اذْکُرُوا اللّٰہَ ذِکْرًا کَثِیْرًا﴾(¹).

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم:

﴿اَکْثِرُوْا ذکر اللّٰہِ وَاعْمَلُوْا لِمَا بَعْدَ الْیَوْمِ فَاِنَّہٗ مَن یُّصْلِحُ بَیْنَہٗ وَ بَیْنَ اللّٰہِ یَکْفِیَ اللّٰہُ فِیْمَا بَیْنَہٗ وَ بَیْنَ النَّاسِ فَاِنَّ اللّٰہَ یَقْضِیْ عَلَیْھِمْ وَلَایَقْضُوْنَ عَلَیْہِ وَ یَمْلِکُ اللّٰہُ عَلَیْھِمْ وَ لَایَمْلِکُوْنَ عَلَیْہِ. اَللّٰہُ اَکْبَرُ وَلَاحَوْلَ وَ لَاقُوَّۃَ اِلَّا بِاللّٰہِ﴾(²).

اٰمَنْتُ بِا اللّٰہِ صَدَقَ اللّٰہُ مَوْلٰنَا العَلِیُّ العَظِیْمِ وَصَدَقَ رَسُوْ لُہُ النَّبِی الکَرِیم وَنَحنُ عَلٰی ذٰ لکَ مِنَ الشَّاھِدِیْنَ وَالحَمدُ لِلّٰہِ رَبِّ العٰلَمِینَ.

**تمهيد:**

محترمو مشرانو! ستاسو په مخکي ما د پيغمبر ﷺ د يو خطبې او يو نصيحت چند الفاظ را نقل کړه، پيغمبر ﷺ چي کله د مکې مکرمې څخه هجرت وکړئ او مدينې منورې ته راغلئ.

د جمعې مبارکه ورځ وه چي اولنی خطبه او اولنی نصيحت پيغمبر ﷺ د اهل مدينې په مخکي پيش کړئ د هغه نصيحت يو درې څلور جملې ما ستاسو په مخکي پيش کړې.

(¹) سورة الاحزاب، آيت نمبر: ۴۱

(²) حياة الصحابة جلد ۲ صفحه ۲۹۷، البداية و النهاية جلد ۳ صفحه ۲۱۳

پیغمبر ﷺ د اهل مديني والا په مَخکي ډېره اوږده خطبه پيش کړه، ليکن د هغه خطبې يو څو الفاظ داسي وه: پيغمبر ﷺ ور ته وويل: ﴿أَكْثِرُوا ذِكْرَ اللهِ﴾ اى خلگو! د الله ﷻ ذکر ډېر کوئ! زندگي داسي تېروئ چي د الله ﷻ ذکر ستاسو په زړو او دماغو پوري پيوست وي.

او ﴿وَاعْمَلُوا لِمَا بَعْدَ الْيَوْمِ﴾ چي د نن څخه وروسته کومه ورځ را روانه ده اى خلگو! د هغې ورځي دپاره يو څه نېک اعمال وکړئ!

او بيا ور ته وايي: ﴿فَإِنَّهُ مَنْ يُصْلِحُ بَيْنَهُ وَ بَيْنَ اللهِ﴾ چي کوم څوک د خپل ځان او خپل خداى ﷻ په مينځ کي معاملې صحيح کړي چي د ده او د خداى ﷻ په مينځ کي کومه رابطه ده او کومه معامله ده انسان هغه رابطه او معامله سمه کړي، نو ﴿يَكْفِيَ اللهُ فِيمَا بَيْنَهُ وَ بَيْنَ النَّاسِ﴾ چي دده او د خلگو په مينځ کي کومې معاملې راځي الله تعالىٰ د هغې دپاره دده د طرفه کافي دئ د هغې کفايت به بيا الله تعالىٰ کوي، ولي؟ ﴿فَإِنَّ اللهَ يَقْضِىَ عَلَيْهِمْ﴾ الله تعالىٰ پر دې ټولو انسانانو فيصلې کوي ﴿وَلَا يَقْضُوْنَ عَلَيْهِ﴾ او پر الله تعالىٰ باندي څوک فيصله نه سي کولاى او ﴿وَ يَمْلِكُ اللهُ عَلَيْهِمْ﴾ الله تعالىٰ د دې ټولو مخلوقاتو مالک دئ ﴿وَ لَا يَمْلِكُوْنَ عَلَيْهِ﴾ او پر الله ﷻ باندي بل څوک د هيڅ شي مالک نه دئ. په آخر کي يې دا ور ته وويل: ﴿اَللهُ أَكْبَرُ﴾ الله ﷻ ډېر لوى ذات دئ ﴿وَلَا حَوْلَ وَ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيمِ﴾ د الله ﷻ د ذات څخه بغير به د بل چا سره قوت سته، نه د بل چا سره طاقت سته، نه د بل چا سره حکومت سته.

نو پيغمبر ﷺ چي کله د مکې مکرمې څخه هجرت وکړئ مَديني ته ورغلئ، نو په اولنى جمعه کي چي پيغمبر ﷺ و خلگو ته کمه خطبه پيش کړه، په هغه خطبه کي پيغمبر ﷺ دا چند الفاظ ادا کړه، په هغه الفاظو کي اولنى خبره دا وه چي ﴿أَكْثِرُوا ذِكْرَ اللهِ﴾ چي د الله ﷻ ذکر ډېر کوئ!

زه تاسو ته صرف د دې يوې خبري متعلق يو څو خبري کوم الله ﷻ دي يې قبولي او مقبولي وگرځوي.

## په کثرت سره د ذکر کولو شکل:

پیغمبر ﷺ صحابه وو ته وایي: د الله ﷻ ذکر به ډېر کوئ! د ډېروالي معنی څه ده؟ د الله ﷻ ذکر ډېر په کوم شکل باندي کوئ، د الله ﷻ ذکر به تر دې حده کوئ چي دا د الله تعالی ذکر ستاسو د زړو یو کیفیت وګرځي. او دا د الله تعالی ذکر ستاسي د دماغو او زړو سره پیوست او یو ځای سي. او ذکر د الله تعالی په دې شکل باندي ډېر کوئ چي ستاسي روح د الله ﷻ د ذکر په حلاوت کي او د الله ﷻ د ذکر په خوند کي مست او خوشحاله وي.

چي کله د انسان روح د الله ﷻ د ذکر په کولو کي مستي او بېخودي ښکاره کړه نو یقینًا دا انسان د الله ﷻ ذکر په کثرت او ډېروالي باندي کوي.

پیغمبر ﷺ په یو حدیث کي وایي: تاسي به د الله ﷻ ذکر تر دومره اندازې ډېر کوئ ﴿حَتّٰی یُقَالُ اِنَّهُ مَجْنُوْنٌ﴾(1) چي ستاسي په حق کي خلګ دا فیصله کوي چي دا لېوني دئ. لکه په عامه اصطلاح کي چي سړی د یو چا ذکر ډېر شروع کړي او د یو چا سره محبت ډېر شروع کړي، نو خلګ وایي: فلانی د فلاني په عشق کي لېوني دئ.

و تا ته به خلګ د الله ﷻ په عشق او محبت کي لېوني ووایي، نو ځکه ذکر په کثرت سره کول پکار دي.

## د آدم ؑ سکون او آرام:

ځکه په دې شکل ملائکو ذکر د الله ﷻ تر عرش لاندي کړی دئ.

حضرت آدم ؑ چي کله الله تعالی د آسمانو څخه را ښوه کړئ، نو د مځکي پر مخ حضرت آدم ﷺ ډېر زیات ژړل. په یو روایت کي راغلي چي درې سوه (۳۰۰) کاله یې و ژړل درې سوه (۳۰۰) کاله وروسته د الله ﷻ د طرفه یو ندا (آواز) باندي وسو:

---

(1) جامع الصغیر، حدیث نمبر ۱۱۰۸

- ﴿يَا آدَمُ كَيْفَ ذَالِكَ الْبُكَاءُ؟﴾ ای آدمه! دا ژړا پر څه ده؟ دا دومره زیاته ژړا پر څه باندي کوې؟ ﴿أَ شَوْقاً مِنَ الْجَنَّةِ اَمْ خَوْفاً مِّنَ النَّارِ؟﴾ ای آدمه! د جنت د شوق څخه دومره ژاړې او که د جهنم د خوف څخه دومره ژاړې؟
- دَی ور ته وايي: ﴿وَاللهِ لَا يَا رَبِّيْ﴾ چي ای زما ربه! ستا په ذات دي مي قسم وي چي، نه د جنت په شوق باندي دومره ژړا کوم او نه د جهنم د بيري څخه دومره ژړا کوم.
- بيا الله تعالیٰ پوښتنه څني کوي: ﴿لِمَ ذٰلِكَ الْبُكَاءُ؟﴾ نو دا ژړا دي پر څه باندي ده؟
- حضرت آدم علیه السلام ور ته وايي: ای الله جل جلاله! چي کله زه په عرش او جنتو کي وم، نو ستا تر عرش لاندي به کله د ملائکو صف جوړ وو او هغوی به ذکر کوئ او هغوی يو د بل په لاسو کي لاسونه سره ورکړي وه او په ډېره زمزمه به يې دا ويل: ﴿يَا رَبِّيْ كَيْفَ مِثْلَنَا وَ قَدْ اَحَبَّنَا وَحَبَّيْنَا﴾ چي يا الله جل جلاله! زموږ رنګه مخلوق به څوک وي چي ته زموږ حبيب يې؟ نو هغوی چي به کوم ذکر په کوم شوق باندي کوئ او ذکر به يې په کوم لذت او کوم عشق باندي کوئ يا الله جل جلاله! چي زما په زړه کي هغه د ملائکو د ذکر ياد راوګرځي، نو د هغه ياد په خاطر مي ډېر زيات زړه درد کوي او پر هغوی ژړا راځي. يا الله جل جلاله! دا ژړا مي د ملائکو د ذکر د ياد په وجه ده چي ملائکو د عرش څخه لاندي دا ذکر د لېونيانو په شکل باندي کوئ.

په رواياتو کي راځي چي الله تعالیٰ د حضرت آدم علیه السلام او د عرش په مينځ کي حجابات ټول ختم کړه، د حضرت آدم علیه السلام نظر پر هغه صفو مبارکو باندي ولګېدئ چي کومو ملائکو د الله جل جلاله تر عرش لاندي په ډېر جوش او جذبه باندي د الله جل جلاله ذکر کوئ.

حضرت آدم علیه السلام چي کله د هغوی صفونه ولیدل او د هغوی د ذکر مجلس او محفل یې ولیدئ، نو آدم علیه السلام ته سکون ورغلئ، او په دې سره د آدم علیه السلام هغه ژړا ودرېدل.

نو د ذکر د کثرت معنٰی داده چي پېغمبر ﷺ وايي چي خلگ و دې سړي ته د الله جل جلاله په ذکر کي لېونٰی و وايي هغه ذکر ته ذکر کثير وايي.

نو ذکر کثیر دا معنٰی چي سړی به په ناسته هم د الله جل جلاله ذکر کوي او چي سړی کله روان وي په لاره کي به هم د الله جل جلاله ذکر کوي او که شپه وي هم به د الله جل جلاله ذکر کوي او که ورځ وي هم به د الله جل جلاله ذکر کوي.

او که یو سړی د غم په دوران کي وي هم به د الله تعالٰی ذکر کوي او که یو سړی د خوشحالی په حالت کي وي هم به د الله جل جلاله ذکر کوي، که یوسړی په انفرادي زندګي کي یواځي ناست وي هم به د الله جل جلاله ذکر کوي او که د ذکر په محفلو کي او یا د ذکر په حلقو کي ناست وي هم به د الله جل جلاله ذکر کوي.

نو ځکه قرآن کریم وايي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا﴾(۱) ای مؤمنانو! تاسو د ځکي پر مخ باندي په خپله زندګي کي د الله جل جلاله ذکر ډېر زيات کوئ!

## د ذکر مبارک مجلسونه:

په حدیث شریف کي راځي چي یو څه ملائکي د آسمانو ځخه را شوه سي په ځمکه کي ګرځي او چي په کوم ځای کي د الله جل جلاله د لویی بیانېدو حلقه وي او د الله جل جلاله د ذکر حلقه وي، نو هغه حلقې ته دوی راشوه سي او دا ملائکي پر دې ذاکرينو خلګو باندي شا و خوا کړی غونډي را وګرځي او چي کله هغه د ذکر حلقه ختمه سي، نو ملائکي بېرته آسمان ته پورته سي، نو الله تعالٰی په هر څه باندي عالم او خبردار دئ د ملائکو د امتحان او خبر اخيستلو دپاره پوښتنه ځني وکړي او ورته وايي:

(۱) سورة الاحزاب، آيت نمبر: ۴۱

- ای ملائکو! تاسي چیري تللي واست؟
- نو دوی ور ته وایي: د مځکي پر مخ باندي انسانانو ستا لویي بیانوله او ستا په ذکر باندي اخته وه، نو موږ د هغو خلکو په مجلسو کي کښېنستلو. او د هغو په ذکر باندي مو غوږ ونیوئ.
- نو الله جل جلاله ور ته وایي: زما د دې بندګانو څه تمنا وه؟ څه غوښتنه یې وه؟
- نو دوی اول دا ور ته وایي: چي د هغوی تمنا دا وه چي د جهنم څخه یې آزادي غوښته.
- نو الله تعالیٰ ور ته وایي: چي تاسي پر دې ګواه اوسئ چي ما ددې ذکر په خاطر دوی ته د جهنم څخه آزادي ورکړه.

بیا ور ته وایي:

- زما د دې بندګانو دوهمه تمنا څه وه؟
- ملائکي ور ته وایي: هغو بندګانو د جنت حصول غوښتئ.
- نو الله تعالیٰ بیا ور ته وایي: چي تاسي پر دې ګواه اوسئ چي ما جنت د دوی په قسمت کي ولیکئ.
- لیکن ملائکي ور ته وایي: ای الله جل جلاله! یو څه کسان داسي وه چي هغه په دې ذاکرینو کي نه وه، یا صرف د دې مجلس د لیدو دپاره راغلي وه یا د دې ذکر د اورېدو دپاره راغلي وه په خپله ذاکرین نه وه، یاالله جل جلاله! د هغه خلکو په باره کي تا څه فیصله وکړه؟
- نو الله تعالیٰ ور ته وایي: ﴿هُمْ قَوْمٌ جُلَسَاءٍ لَايَشْقٰى جَلِيسُهُمْ﴾[1] دا ډېر خوشبخت انسانان دي، د دوی سره بدبخته انسانان کښېنستی نه سي، او دوی ته بدبخته سړی را نژدې کېدای نه سي، نو ځکه ذکر د الله تعالیٰ په عباداتو کي ډېر لوی عبادت دئ.

---

([1]) شعب الایمان حدیث نمبر ۵۲۸

## د ذکر معنی او مطلب:

ذکر و څه ته وایي؟ او د ذکر مطلب څه دئ؟ ذکر په عربي کي را اخیستل سوی د تذکیر څخه دئ، او تذکیره ویل کیږي یاداشت ته یو سړی بل څوک یادوي د بل چا تذکیره کوي، چي سړی کله د الله ﷻ ذکر کوي، د هغه دا معنی ده چي دا سړی د الله تعالی تذکیره کوي او الله تعالی یادوي او الله تعالی په خپل زړه او خوله او فکر کي راګرځوي.

او بیا خاص کر په اصطلاح کي اوس ذکر دې ته ویل کیږي چي سړی په خپله ژبه باندي د "الله الله" ذکر جاري کړي او پر خپله ژبه باندي چي سړی ذکر جاري کړي، نو د هغه اثر خامخا په زړه کي معلومیږي.

او چي کوم خوله او زړه ذ الله تعالی په ذکر کي مشغول سي او د الله ﷻ ذکر په هغه خوله پوري پیوست سي دا د الله تعالی په عباداتو کي د الله ﷻ په حضور کي ډېر لوی عبادت دئ. او دا د انسان دپاره په نېکو اعمالو کي ډېر بهترین عمل دئ.

## ذکر بهترین عمل دئ:

د پیغمبر ﷺ مجلس ته یو صحابي راغلی ورته وایي:

- ﴿يَا رَسُوْلَ اللهِ اَوْصِنِيْ وَلَاتُكْثِرْ﴾ ای د الله ﷻ رسوله! یو څه نصیحت را ته وکړه! خو ډېر یې مه را ته اوږدوه! په دې وجه باندي که خبره ډېره اوږده سي بیا زما د دماغ څخه وځي.
- پیغمبر ﷺ یوه جمله ورته وایي: ﴿اَنْ يَكُوْنَ لِسَانُكَ رَطْبًا مِّنْ ذِكْرِ اللهِ﴾[1] سړیه! ستا دپاره په زندګي کي دا شی ډېر کافي او شافي دئ چي ستا ژبه د الله ﷻ په ذکر همېشه لنده وي.

نو پیغمبر ﷺ په ټولو نصیحتو کي دا نصیحت ورته کوي.

---

(1) شعب الایمان حدیث نمبر ۵۱۲

او پیغمبر ﷺ وایي: ﴿مَثَلُ الَّذِیْ یَذْکُرُ رَبَّهٗ وَالَّذِیْ لَایَذْکُرُ رَبَّهٗ کَمَثَلِ الْحَيِّ وَالْمَیِّتِ﴾[1] د بخاري شریف حدیث دئ چي کوم انسانان د الله ﷻ ذکر کوي او کوم انسانان چي د الله ﷻ ذکر نه کوي د هغو دوو کسانو په مینځ کي دومره فرق دئ لکه د مړي او ژوندي انسان.

نو د ذاکرینو مثال د ژوندو دئ او د نه ذاکرینو مثال د مړو دئ.

او چي کله یو څوک مړ وي د مړ سړي څخه څوک نفعه نه سي اخیستئ، نو د بې ذکره انسان زړه مړ دئ او د مړ شي څخه سړی فایده نه سي اخیستلای، نو د هغه په زړه باندي هم دا سړی فایده نه سي اخیستلای.

او کوم سړی چي د الله تعالٰی ذکر کوي د هغه سړي زړه د ژوندي شي په مثال دئ او په ژوندي شي باندي سړی نفع اخیستی سي، نو هغه ذاکر د نفس او بدن او د زړه څخه نفعه اخیستی سي.

## د پیغمبر ﷺ تمنی:

څکه د پیغمبر ﷺ په زندګي کي لویه تمنادا وه چي: ﴿اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنِیْ لِسَانًا شَاکِرًا وَّقَلْبًا ذَاکِرًا﴾ یاالله ﷻ! ما ته په زندګي کي شکر کښونکې ژبه را نصیب کړې! او ذکر کونکی زړه را نصیب کړې!

نو څکه پیغمبر ﷺ په خپلو احادیثو کي د ذکر ډېر لوی فضیلت بیان کړی او د انسان په زندګي کي یې د ذکر ډېر لوی اهمیت بیان کړی دئ.

صرف د پیغمبر احادیث نه دي، په قرآن کریم کي الله تعالٰی فرمایي: ﴿یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اذْکُرُوا اللّٰهَ ذِکْرًا کَثِیْرًا﴾[2] هر ځای چي راځي د ذکر سره "کثیرا" لفظ راځي چي ذکر به ډېر کوئ!

چي کله لمونځ ذکر کوي، نو دا نه وایي چي: ﴿اَقِیْمُوا الصَّلٰوةَ کَثِیْرًا﴾.

---

(۱) بخاري شریف حدیث نمبر ٦٤٠٧

(۲) سورة الاحزاب، آیت نمبر: ۴۱.

او چي کله روژه ذکر کوي، نو دا نه وايي چي: ﴿أَتِمُّوا الصِّيَامَ كَثِيرًا﴾.
او چي کله حج ذکر کوي، نو دا نه وايي چي: ﴿أَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ كَثِيرًا﴾.
ليکن چي الله تعالیٰ په قرآن کريم کي په ذکر سره امر کوي، نو دا ور سره وايي چي ﴿ذِكْرًا كَثِيرًا﴾ چي کله ذکر کوئ، نو ډېر به يې کوئ.

ما در ته وويل: ډېر ذکر به ولي سړی کوي؟ د ډېر ذکر کولو فايده داده چي د هغه ذکر کولو په خاطر د انسان په زړه کي د دې ذکر کيفيت کښېني او کوم کيفيت چي د سړي په زړه کي کښيني نو هغه کيفيت بيا په نورو ټولو کيفياتو باندي غالب وي او دا نور کيفيات بيا ټول د هغه کيفيت تابع وي، چي کله د سړي په زړه کي د الله ﷻ ذکر ډېر وي او د الله ﷻ د ذکر کيفيت د انسان په زړه کي ځای نيولی وي بيا که سړی دکانداري کوي هم به د الله ﷻ د ذکر مخالفت نه کوي د الله ﷻ ذکر او د الله ياد به دده و دماغ ته حاضر وي او که کله سړی بل کاروبار کوي او سړی په زندګي کي نوري مشغلې سره اړوي، نو د الله ﷻ ذکر به دده و دماغ ته حاضر وي؛ ځکه دده په زړه کي د الله تعالیٰ ذکر غالب دئ.

نو د "ذکر کثير" فايده دا ده چي دا ذکر به د انسان د زړه يو کيفيت جوړېږي چي بيا د زندګی په حادثاتو کي او د زندګی په معاملاتو کي دا ذکر "الهي" د دهٔ د زړه او دماغ څخه يوه دقيقه هم نه وزي او نه به ليري کيږي نو دې ته وايي "ذکر کثير". ځکه د پيغمبر ﷺ احاديث دي او د الله تعالیٰ قرآن کريم دئ هغه پر ذکر کولو باندي ډېر زيات تائيدات کوي او د قرآن کريم په آياتو کي د ذکر کثير ډېر زيات امرونه الله تعالیٰ کوي او بيا يې د امر په صيغو ذکر کوي "اُذْكُرُ اللهَ".

ليکن دا چي په زندګي کي بهترين ذکر کم دئ؟ د پيغمبر ﷺ مختلف روايات راغلي دي. د قرآن کريم تلاوت ته يې هم بهترين ذکر ويلي دئ او نورو اذکارو ته يې هم بهترين ذکر ويلي دي.

## لا اله الا الله بهترین ذکر دئ:

لیکن په ترمذي شریف کي یو روایت دئ پیغمبرﷺ وايي: ﴿أَفْضَلُ الذِّكْرِ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ﴾[1] په ټولو ذکرو کي بهترین ذکر دا دئ چي سړی د ﴿لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ﴾ ورد او ذکر کوي، د دې وظیفه ډېره کوي او د دې ذکر ډېر کوي.

او غالبا د صوفیه کرامو رحمهم الله پر دې باندي اصطلاح راغلې ده چي تر نه نوي (۹۹) واره پوري سړی ﴿لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ﴾ ووايي، نو پر سلم وار دي کلمه پوره کوي چي ﴿لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ﴾ او ما ذر ته وویل: چي دې ذکر ته الله تعالیٰ ډېر فضیلت ورکړی دئ.

## د موسی علیه السلام ذکر:

د حضرت ابو سعید خدري رضی الله عنه روایت دئ چي حضرت موسی علیه السلام د الله جل جلاله په حضور کي یو خواست وکړئ او ویې ویل:

﴿يَا اللهُ عَلِّمْنِيْ ذِكْرًا اَذْكُرُكَ بِهٖ وَ اَدْعُوْكَ بِهٖ﴾ یا الله! ما ته یو خاص ذکر را وښیه چي د هغه په خاطر زه تا ذکر کوم او ستا څخه دعاء غواړم.

حضرت موسیٰ علیه السلام د الله تعالیٰ په حضور کي د یو خاص ذکر مطالبه وکړه، نو الله تعالیٰ ور ته وايي:

- ﴿يَا مُوْسٰى قُلْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ﴾ ای موسیٰ! دا ذکر ډېر کوه چي ﴿لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ﴾.
- حضرت موسیٰ علیه السلام ور ته وايي: ﴿يَا اللهُ إِنَّمَا أُرِيْدُ شَيْئًا تَخُصُّنِيْ بِهٖ﴾ یا الله! زما زړه دا غواړي چي یو خاص ذکر ما ته را کړې. ﴿قَالَ يَا رَبِّ كُلُّ عِبَادِكَ يَقُوْلُ هٰذَا إِنَّمَا أُرِيْدُ اَنْ تَخُصَّنِيْ بِهٖ﴾ دا خو ستا ټول بندګان دا ذکر کوي چي ﴿لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ﴾ زه د یو خاص ذکر مطالبه کوم چي زما څخه بغیر هغه ذکر بل څوک نه کوي او هغه په ټولو اذکارو کي بهترین ذکر وي.

---

[1] ترمذي شریف حدیث نمبر: ۳۳۸۳

- الله ﷻ ورته وايي: ﴿يَامُوسَى إِنَّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعَ وَالْأَرَضِينَ السَّبْعَ فِي كَفَّةٍ﴾ اوه مځکي او اوه آسمانونه دي که چيري دا اوه مځکي او اوه آسمانونه د ميزان د ترازو په يوه پله کي کښېږدي او ﴿لَاإِلٰهَ إِلَّاالله﴾ په دې بله پله کي کښېږدي ﴿لَمَالَتْ بِهِ﴾ دا به هم ډېره پر درنه سي.

نو د ﴿لَاإِلٰهَ إِلَّاالله﴾ داسي ذکر دئ چي د دې قيمت او د دې وزن په دې ټولو کائناتو کي نسته؛ ځکه د دې څخه بهترين ذکر نسته چي زه يې در وښيم ﴿لَاإِلٰهَ إِلَّاالله﴾ داسي کلمه ده چي دا ټوله کائنات د هغې وزن نه لري؛ ځکه په ﴿لَاإِلٰهَ إِلَّاالله﴾ کلمه کي اسم د الله ﷻ نوم دئ(1).

ځکه زموږ دا عقيده ده چي صرف د الله ﷻ ذات موجود دئ او دا نور ټوله سايې او ظل دي او دا نور ټول يو عوارض دي، نو سايه که هر څومره ډېره وي د ذات په مقابل کي به دا څه درندوالی ولري؟ او څه حيثيت به ولري؟ نو دا ټوله کائنات صرف د الله تعالٰی د وجود يو سايه ده او چي کله د قيامت ميدان را ورسيږي انسانانو ته به دا ور معلومه سي چي دا څنګه سايه ده، نو په دې وجه باندي د ﴿لَاإِلٰهَ إِلَّاالله﴾ په کلمه کي د الله ﷻ اسم اعظم پروت دئ او دا نور ټوله اشياء ظل او سايې دي او سايه چي هر څومره ډېره سي په وزن کي د ذات مقابله نه سي کولای، نو دا ټوله کائنات د دې کلمې چي ﴿لَاإِلٰهَ إِلَّاالله﴾ ده د دې وزن ته ور رسېدای نه سي.

چي انسان په دنيا کي هره نېکي وکړي د قيامت په ميدان کي هغه نېکي د نېکۍ په ترازو کي تلل کيږي او د هغې وزن معلوميږي يو د ﴿لَاإِلٰهَ إِلَّاالله﴾ کلمه داسي ده چي هغه د قيامت په ميدان کي نه تلل کيږي.

ځکه چي د هغې وزن دا رنګه دئ چي په يو شکل نه سي تلل کېدلای، نو ځکه هغه د قيامت په ميدان کي نه تلل کيږي.

(1) نسائي وابن ماجه والحاکم والمنذري عن ابي سعيد الخدري رضي الله عنه

## د ﴿لَاإِلٰهَ إِلَّااللهُ﴾ د ذکر فضیلتونه:

پیغمبر ﷺ فرمايي: که انسان په صفا اخلاص د ﴿لَاإِلٰهَ إِلَّااللهُ﴾ کلمې ورد کوي نو کچیري د دې انسان ګناهونه د دې ځمکو او اسمانونو چې ټوله ځوارلس طبقه دي د هغې د ذراتو په شکل وي يعني چې دا ټوله ځمکي او اسمانونه سره ذرې ذرې کړې لا هم الله تعالی دې انسان ته ګناهونه ددې کلمې د ورد په وجه باندي وربخښي.

پیغمبر ﷺ به د ﴿لَاإِلٰهَ إِلَّااللهُ﴾ په باره کي ډېر دا ويل: ﴿لَاإِلٰهَ إِلَّااللهُ يَدْخُلُ بِهِ الرَّجُلُ إِلَى الْجَنَّةِ﴾ يعني ﴿لَاإِلٰهَ إِلَّااللهُ﴾ هغه کلمه ده چي د دې په خاطر به انسان جنت ته ځي.

پیغمبر ﷺ به ويل: که يو انسان دا کلمه د سهار په وخت کي سل واره ووايي ﴿لَاإِلٰهَ إِلَّااللهُ لَهُ الْمُلْكُ وَ لَهُ الْحَمْدُ وَ هُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾ نو الله جل جلاله به د دې انسان په عملنامه کي د لسو غلامانو د ازادولو ثواب وليکي.

يو روايت کي دا هم راځي چي د لسو غلامانو چي د اسماعيل عليه السلام د اولادې څخه وي د هغو غلامانو د ازادولو ثواب الله جل جلاله دده په عملنامه کي ليکي.

او الله جل جلاله به يې په عملنامه کي سل نېکۍ وليکي او د عملنامې څخه به يې سل ګناوي معاف کړي او په دغه ورځ کي به دغه سړی الله تعالی په خپل حفاظت کي وساتي، په دې ورځ به الله جل جلاله پر دې سړي باندي د شيطان قابو نه پيدا کوي.

څکه د ﴿لَاإِلٰهَ إِلَّااللهُ﴾ کلمې ته په دې اذکارو کي پيغمبر ﷺ اعلی ذکر ويلي دي او فرمايلي يې دي: ﴿أَفْضَلُ الذِّكْرِلَاإِلٰهَ إِلَّااللهُ﴾ په اذکارو کي بهترين ذکر ﴿لَاإِلٰهَ إِلَّااللهُ﴾ دئ. حضرت ابو هريره رضي الله عنه وايي چي پيغمبر به موږ ته ويل: ﴿مَا مِنْ عَبْدٍ قَالَ لَاإِلٰهَ إِلَّااللهُ فِي سَاعَةٍ مِّنَ الْيَوْمِ أَوِاللَّيْلِ﴾ يو بنده چي کله د شپې يا د ورځي په يو ساعت کي دا کلمه ووايي ﴿إِلَّا طُمِسَتْ مَا فِي الصَّحِيفَةِ مِنَ السَّيِّئَاتِ﴾ د دې په برکت به الله تعالی د ده د عملنامې څخه ګناهونه معاف کړي.(۱)

(۱) الترغيب والترهيب للمنذري حديث نمبر: ۲۳۵۷

محدثین لیکي: چي په ﴿لَاإِلٰهَ إِلَّااللهُ﴾ کي څشي دي؟
یوه کلمه د "لَاإِلٰهَ" ده او بله د "إِلَّااللهُ" ده د "لَاإِلٰهَ" معنٰی دا ده چي ټول معبودان باطله دي هغه بالکل نیستي دي.
نه بُتان په دنیا کي څه حقیقت لري او د خدای تعالٰی سره چي کومو خلګو شریکان نیولي دي نه هغه څه حقیقت لري، نه زما نفس څه حقیقت لري، نو دا ټول یو قسم بدبویي ده او دا ټوله یو قسم بدبویه ذلالتونه دي، نو دې سړي د خپلي عقیدې څخه دا بدبویه شیان لیري کړه.
او دا قانون دئ چي بدبویه شی د کوم ځای څخه لیري سي، نو بدبویي ختمیږي او د دې بدبویانو بدبویي ګناه ده.
چي د کوم ځای څخه سړی بدبویه شی وغورځوي، د هغه ځای څخه بدبویي هم ورک کیږي، نو ګناه باندي خو دَی خپل نفس مجبوره کړی وو، یا شیطان مجبوره کړی وو، یا د دنیا نورو کارو مجبوره کړی وو، چي ده کله په خپله عقیده کي دا کښېنوله چي دا نور شیان هیڅ حقیقت نه لري، نو نورو ذواتو چي په ده ګناه کړې وه هغه ذوات ختم سو او د هغوی سره د هغوی بدبویي هم ختم سوه.
لېکن دوهم ځای ته چي دَی را و رسېدی چي "إِلَّااللهُ" د دې معنٰی دا ده چي په ټولو کائناتو کي یو ذات د الله تعالٰی وجود لري، یو ذات د الله تعالٰی بر حق ذات دئ او یو ذات د الله تعالٰی د انسانانو مالک او خالق ذات دئ، نو ده په دې خپله عقیده کي د ذات د الله تعالٰی وجود ثابت کړئ. او ذات د الله تعالٰی یو قسم خوشبویه ذات دئ او قانون دا دئ چي کوم ځای ته خوشبویه ذات راسي، نو خوشبویي په خپله ور سره راځي او د دې ذات خوشبویي حسنات او نېکۍ وي.
پیغمبر ﷺ وایي: چي کوم سړی د ورځي یا د شپې د ﴿لَاإِلٰهَ إِلَّااللهُ﴾ د کلمې ورد او وظیفه د خپل ځان معمول جوړ کړي، نو الله تعالٰی به ددغه ورد په برکت دده د

عملنامې څخه ګناوې معاف کړي او چې څومره ګناوې دي الله تعالی به تولې په نېکیانو وربدلې کړي.

**څلور زره (۴۰۰۰) ګناهونه معاف کېدل:**

صاحب د "نزهة المجالس" د حضرت ابوهریره ﷺ یو بل حدیث هم را نقل کوي: ﴿مَنْ قَالَ لَاإِلٰهَ إِلَّااللهُ وَ مَدَّ بِهَا صَوْتَهُ لِتَعْظِيمٍ﴾ چې کوم سړی د ﴿لَاإِلٰهَ إِلَّااللهُ﴾ ورد کوي او په دې کې خپل آواز د تعظیم په خاطر لوړ کړئ، نو ﴿كَفَرَاللهُ بِهَا عَنْهُ أَرْبَعَةَ آلَافِ ذَنْبٍ وَ إِن لَّمْ يَكُنْ عَلَيْهِ أَرْبَعَةَ آلَافِ ذَنْبٍ كَفَرَاللهُ لِأَهْلِهِ وَلِجِيْرَانِهِ﴾ چې کله سړی د تعظیم په خاطر آواز لوړ کړئ او په دې شکل یې د ځان ورد جوړ کړي حضرت ابوهریره ﷺ وایي: چې په یو وار ویلو سره الله تعالی څلور زره (۴۰۰۰) ګناوې معاف کوي او ﴿وَإِن لَّمْ يَكُنْ لَهُ ذَنْبٌ﴾ او که د دې سړي په عملنامه کې ګناوې نه وې پاته، نو ﴿كَفَرَاللهُ لِأَهْلِهِ وَلِجِيْرَانِهِ﴾(۱) بیا د ده د کورنۍ د انسانانو ګناوې معافیږي. او که چیرې د ده د کورنۍ انسانان د ګناهو څخه صفا وو بیا د ده د همسایګانو ګناوې معافوي.

محدثینو لیکلي دي چې د دې څه حکمت دئ چې د یو ځل ویلو په خاطر الله جل جلاله څلور زره (۴۰۰۰) ګناوې معافوي؟ ولې کمې نه سوې؟ ولې ډیرې نه سوې؟ ځکه په دې کلمه کې یو لفظ د ﴿لا﴾ دئ ﴿لا﴾ په عربي کې د نفي او نیستۍ حرف دئ یعني ته یو شی نیستي کوې، نو په ده نیستي کیږي، نو دئ خو به بیخي نیست او عدم وي.

او دا قانون دئ چې د نیست علامه او نښانه په حساب کې خلګ صفر (۰) اړدي، نو یو صفر د ﴿لا﴾ پر ځای ولیکه! او دویم ﴿اِلٰهَ﴾ لفظ دئ نو چې ﴿لا﴾ داخل سو نو هغه ﴿اِلٰهَ﴾ یې ختم کړئ نو کوم شی چې ختم سي د هغه پر ځای بیادوی صفر لیکي.

(۱) نزهة المجالس الباب في فضل الذکر صفحه نمبر ۱۴

نو ﴿الاالله﴾ پاته سو، په ﴿الاالله﴾ کي یو ﴿الا﴾ لفظ دئ او یو د ﴿الله﴾ لفظ دئ په هغه کي ﴿لا﴾ بیا د نیست حرف دئ د هغه پر ځای بیا صفر لیکل کیږي، نو درې صفرونه راغلل. او په ﴿الله﴾ کي څلور حرفه دي، نو د هغوی پر ځای د څلورو عدد (۴) لیکل کیږي نو درې صفره او یو څلور چي سره راسي، نو د دې معنٰی دا ده چي څلور زره (۴۰۰۰).

نو ځکه پیغمبر ﷺ وایي: چي کوم چا د ﴿لااله الاالله﴾ کلمه وویله او د تعظیم په خاطر یې ادا کړه، نو الله تعالٰی به یې په یو وار ویلو سره د ده د عملنامې څخه څلور زره (۴۰۰۰) گناهونه معاف کړي.

او که چیري د ده په عملنامه کي دا څلور زره (۴۰۰۰) گناوي موجودي نه وې، نو بیا به یې الله تعالٰی د ده د کورنۍ د عملنامې څخه خرابوي او که چیري د ده د کورنۍ په عملنامه کي نه وي، نو بیا به یې الله تعالٰی د ده د همسایگانو د عملنامې څخه خرابوي.(۱)

## د ﴿لااله الاالله﴾ ذکر د مغفرت سبب:

حضرت ابوهریره رضی الله عنه د پیغمبر ﷺ یو بل روایت را نقل کوي په هغه روایت کي وایي: ﴿إنّ لِلّهِ عُمُودا فِیْ یَدَیِ الْعَرْشِ﴾ الله جل جلاله د خپل عرش و مخ ته د نور څخه یوه تمبه جگه کړې ده ﴿وَ إذَا قَالَ الْعَبْدُ لَاإلٰهَ إلَّاالله﴾ چي د ځمکي پر مخ کله یو بنده د ﴿لااله الاالله﴾ ورد شروع کړي، نو ﴿إهْتَزَّ ذَالِکَ الْعُمُوْدُ﴾ هغه تمبه په حرکت کي راسي، نو الله تعالٰی دستي امر ورته وکړئ:

- ﴿أسْكُنْ أيُّهَا الْعُمُوْدُ﴾ ای تمبې! ساکنه او ارامه سه!
- دا ورته وایي: ﴿وَكَيْفَ أسْكُنُ يَارَبَّ الْعَالَمِيْنَ وَمَاغَفَرْتَ لِقَائِلِهَا﴾ ای الله! زه څنگه سکون وکړم د ځمکي پر مخ یو بنده د ﴿لااله الاالله﴾ کلمه وویله تا د هغه مغفرت نه دئ کړی؟

(۱) تنبیه الغافلین، حدیث نمبر: ۶۴۰

- نو الله ﷻ ورته وايي: ﴿وَ قَدْ غَفَرْتُ﴾ ما د ده مغفرت وکړئ.

نو ﴿فَسَكَنَ﴾(١) دا تمبه په سکون کي راسي. نو د ﴿لَاإِلٰهَ إِلَّااللهُ﴾ د کلمې په وينا باندي، د هغې په ورد باندي او د هغې په وظيفه باندي الله تعالی د انسان مغفرت کوي، د دې څه حقيقت دئ چي د ﴿لَاإِلٰهَ إِلَّااللهُ﴾ کلمهٔ په ځمکه کي ويل کيږي او د دې اثرات او نورانيت د الله تعالی پر عرش باندي لګيږي؟

ځکه په قرآن کريم کي الله فرمايي: ﴿ضَرَبَ اللهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاءِ﴾(٢) دِ دې کلمې طيبې مثال داسي دئ لکه د يو پاکي درختي چي د هغې پاکي درختي تنه هم په مځکه کي وي او ښاخونه يې د اسمان طرف ته پورته سي، داغه رنګه د دې کلمې طيبې وينا هم پر مځکه باندي کيږي ليکن د دې نورانيت د الله ﷻ پر عرش باندي لګيږي. نو د دې کلمې د وينا په خاطر د عرش هغه تمبه په حرکت کي راسي، نو تر څو پوري چي د دې کلمې ويونکي ته مغفرت نه وي سوی تر هغه وخته پوري دغه تمبه نه دريږي.

نو ځکه پيغمبر ﷺ ﴿لَاإِلٰهَ إِلَّااللهُ﴾ په ذکرو کي بهترين ذکر بللی دئ او د ﴿لَاإِلٰهَ إِلَّااللهُ﴾ ورد او وظيفه يې د انسان د مغفرت دپاره بهترينه ذريعه بللې ده.

## د دحيه کلبي ﷺ د اسلام راوړلو عجيبه واقعه:

په تفسير "روح البيان" کي په يو روايت کي راځي: يو صحابي دئ حضرت دحيه کلبي ﷺ، د ده رنګ به پيغمبر ﷺ ته ډېر خوند ورکوئ چونکي دَی د خپلې قبيلې سردار وو، په دې وخت کي ده ايمان نه وو راوړی، پيغمبر ﷺ به دده د ايمان راوړلو دپاره ډيري زياتي دعاګاني کولې، د ده د رنګ د خوښوالي په وجه چي د ده رنګ پيغمبر ﷺ ته ډېر خوښ وو، نو په وروسته زندګي کي به چي "جبريل امين" راتلی، نو اکثريت به د "دحيه کلبي" په شکل کي راتلئ،

---

(١) مسند بزار، حديث نمبر: ٨٠٦٥

(٢) ابراهيم آيت نمبر: ٢۴

چي هغه به کله وحي راوړلې، نو پيغمبر ﷺ به د "دحيه کلبي" په باره کي ديري دعاګاني کولې چي يا الله! دَی په اسلام مشرف کړه! د هغه وجه دا وه چي د هغه سره اوه سوه (۷۰۰) کسان د خپلي قبيلي ور سره وه او دَی د دې قبيلي سردار وو که يو ده کلمه ويلې واى، نو دې اوو سوو (۷۰۰) کسانو ټولو کلمه ويله، نو څونکي د اوو سوو کسانو کلمه او ايمان راوړل پر ده موقوف وه، نو ځکه پيغمبر ﷺ به دده په باره کي ديري دعاګاني کولې.

ليکن آخر د پيغمبر ﷺ دعا وه چي د مځکي د مخ څخه براه راست د الله ﷻ پر عرش ولګېده او د پيغمبر ﷺ دعا وه څنګه به يې قبوليت نه درلودئ؟ نو د حضرت دحيه کلبي ﷺ زړه الله ﷻ اسلام ته مائله کړئ.

حضرت دحيه کلبي ﷺ چي کله مسجد نبوي ته د اسلام په نيت راځي، نو "جبرئيل امين" د اسمان څخه دده څخه مخکي راغلی او پيغمبر ﷺ ته وايي: ﴿إِنَّ الله يَقْرَءُ عَلَيْكَ السَّلَامَ وَيَدْخُلُ عَلَيْكَ دحية الكلبي﴾ الله ﷻ پر تا سلام وايي او اوس به ستا مسجد نبوي ته "دحيه کلبي" د اسلام راوړلو دپاره راسي. چي کله دحيه کلبي ﷺ مسجد نبوي ته راغلئ، نو پيغمبر ﷺ مخ ته ور ولاړ سو او چي کله يې کښېنوئ، نو د اوږي څخه يې پټو را واخيستئ چونکي هغه وخت په مسجد نبوي کي خاوري وې، نو پيغمبر ﷺ خپل پټو مبارک ور ته هوار کړئ او ويې غوښته چي دَی پر کښېني.

ولې چي د پيغمبر ﷺ عادت مبارک دا وو چي همېشه به يې ويل: ﴿إذا أتاكم كريم قوم فاكرموا﴾[1] چي کله د قوم يو مشر در ته راسي که مسلمان وي او که کافر وي که روا وي او که ناروا وي تاسو يې عزت کوئ!

پيغمبر ﷺ د هغه ډېر عزت وکړئ، هغه چونکي د اسلام په نيت را روان وو او الله تعالى د اسلام خوبي په زړه کي ورکښېنولې وه، نو د هغه د ادب دا تقاضا نه وه چي هغه دي پر دې پټو کښېنستلی واى، نو هغه د پيغمبر ﷺ پټو پورته

[1] ابن ماجه، حديث نمبر: ۳۷۱۲

کړئ، پر سترګو یې کېښېنوئ او مخ یې کړئ او د پیغمبرﷺ په غیږ کې یې کېښېنوئ چې کله یو ساعت کېښېنستی، نو و پیغمبرﷺ ته وایي: چې یارسول الله! زه خو د اسلام راوړلو په خاطر راغلی یم ما ته د کلمې تعلیم راکړه!

پیغمبرﷺ مصافحه او بیعت ور سره کوي لاسونه یې ور سره یو ځای کړه او ﴿لا إله إلا الله﴾ کلمه ور ته وایي، لیکن حضرت "دحیه کلبي" یې د ډیري ژړا په خاطر ادا کولای نه سي او آخر چې یې کلمه وویله، نو پیغمبرﷺ ورته وایي:

- ای "دحیه"! ته پر څه شي باندي دومره ژاړې؟
- دَی ور ته وایي: چې یارسول اللهﷺ! زما زندګي داسې تېره سوې ده چې زه د خپلې تیرې زندګۍ په خاطر مایوسه یم، زما عقیده دا ده چې الله ﷻ به ما ته مغفرت و نه کړي.
- پیغمبرﷺ ور ته وایي: کومه ګناه ده چې تا دومره ډېر ژړوي؟
- دَی ور ته وایي: ای د الله نبيﷺ شپېته (٦٠) کاله مې زندګي ده دا مې تو له په کفر کې تېره کړه او شپېته (٦٠) کاله کې چې څومره ګناوي وې دا مې تولې وکړې او په شپېته کاله (٦٠) کې مې د خپلې قبیلې اویا (٧٠) زنانې په خپل لاس ژوندۍ ښخې کړې؛ ځکه زه د خپلې قبیلې مشر وم ما به دا فیصله صادروله چې دا زنانه به ژوندۍ ښخیږي، نو ځکه اویا (٧٠) زنانې ما په خپل لاس ژوندۍ ښخې کړي دي. نو اوس زه چې دې خپلې زندګۍ ته ګورم الله ﷻ به زما څنګه مغفرت وکړي؟

پیغمبرﷺ چې کله دا واورېدل، نو لاس مبارک یې خپلو غاښو ته ونیوئ چې اوس څه و وایم. نو "دحیه کلبي" مخ ته ور ته ژاړي، صحابه کرام ناست دي او پیغمبرﷺ هیڅ نه وایي.

د یو ساعت څخه وروسته جبرئیل امین راغلئ نو ور ته وایي: ﴿یَا مُحَمَّدُ إِنَّ اللهَ یَقْرَءُ عَلَیْکَ السَّلَامَ﴾ ای محمده! الله ﷻ پر تا سلام وایي. او بیا ور ته وایي: ﴿وَ قُلْ لِدِحْیَةَ الْکَلْبِيِّ﴾ دحیه کلبي ته دا ووایه: ﴿إِنَّ اللهَ قَدْ غَفَرَ بِهٰذِهِ الْکَلِمَةِ﴾ الله تعالی ددې

کلمې په وجه تا ته د ربخښئ ﴿كُفرَ ستّينَ سَنةً﴾ کفر د شپېتو (٦٠) کالو ﴿وَ ذَنبَ ستّينَ سَنةً﴾ او د شپېتو (٦٠) کالو ګناه دې معاف سوه، ﴿وَ قَتلَ سَبعِينَ بَناتٍ﴾ او د اويا (٧٠) زنانو قتل دې معاف سو.

بيا جبرئيل امين ور ته وايي: اى محمده! ﴿إنَّ الإسلامَ يَهْدِمُ مَاكَانَ قَبلَهُ﴾ د اسلام څخه مخکې چې هر څه سوي دي چې يوه کلمه د ﴿لَاإِلٰهَ إِلَّااللهُ﴾ وويل سوه د هغه ټوله سوي ګناهونه ور معافيږي. پېغمبر ﷺ چې دا خبره واورېده، نو پېغمبر ﷺ هم په ژړا سو او حضرت "دحيه کلبي" هم ژړا کوي او په مسجد نبوي کې ټول صحابه کرام ﷡ ور سره ژاړي.

پېغمبر ﷺ په ژړا کې دا وايي: ياالله! ته هغه ذات يې چې کوم سړي شپېته (٦٠) کاله پر کفر باندي تېر کړي او شپېته کال يې ګناوې وکړې او اويا (٧٠) زناني يې په خپل لاس ښخې کړې، نو د يو وار کلمې ويلو په خاطر تا د هغه مغفرت وکړئ.

نو زما امتي چې د خپلې زندګۍ ورد کلمه جوړه کړي او خپله زندګي ټوله پر کلمه باندي تېره کړي او د کلمې عقيده يې په زړه کې کښېنوله ياالله! د دې کلمې په خاطر به ته د هغه مغفرت څنګه نه کوې نو د هغه مغفرت به خامخا کوې(١).

ما در ته وويل: د ﴿لَاإِلٰهَ إِلَّااللهُ﴾ په کلمه کې دا اثر پروت دئ، پېغمبر ﷺ وايي: ﴿أَفضَلُ الذِّكرِ لَاإِلٰهَ إِلَّااللهُ﴾ يعني په ټولو اذکارو کې بهترين ذکر د ﴿لَاإِلٰهَ إِلَّااللهُ﴾ دئ.

## د ﴿لَاإِلٰهَ إِلَّااللهُ﴾ په ذريعه د مړه ګانو ايصال ثواب:

او بيا خاص کر په بعض کتابو کې ليکلي دي چې انسان د خپلو مړه ګانو دپاره د دې ورد کوي او په بعضو احاديثو کې دا راغلي دي چې کله د يو مړه دپاره اويا زره (٧٠٠٠٠) واره سړی د دې کلمې ورد کوي د پېغمبر ﷺ حديث دئ که

(١) روح البيان، سورة البقرة، جلد نمبر ١، صفحه نمبر: ١٨٣، المكتبة الشاملة

هغه بنده په جهنم کي وي لا به الله تعالیٰ هغه سړی د جهنم څخه را وباسي، يعني کوم سړی چي د دې کلمې ذکر اويا واره (۷۰) وکړي او د دې ثواب و دې مرده ته ورو بخښي.
شيخ ابو محمد اليمني الشافعي رحمة الله عليه د يمن يو شيخ دئ هغه په خپل کتاب "التدريب والارشاد" کي ليکلي دي او "علامه ابن العابدين" د ده خبره په "مجموعة الرسائل" کي را اخيستې ده هغه شيخ ابو محمد رحمة الله عليه وايي: چي يو په دې خبره کي زما لږ شک وو چي يو سړی په جهنم کي دئ د هغه دپاره ته د دې کلمې ورد وکړې د هغه په خاطر هغه مرده الله تعالیٰ د جهنم څخه را باسي.
چي دا به د پيغمبر ﷺ حديث وي او که به نه وي؟ او دوهم په دې کي هم شک وو چي په "يمن" کي به يو نوجوان کرځېدئ د لېونيانو په شکل وو کله پر دې کور کله پر دې کور او ډېر بنه عادات به يې وه او د دنيا څخه لاابالې انسان وو، د ده په باره کي زموږ په علاقه کي دا يوه مشهوره خبره وه چي دې سړي ته الله تعالیٰ د جهنم کشف کوي او دَی کله کله په خپله زندګي کي انسانانو ته د جهنم حالات بيانوي.
شيخ ابو محمد وايي: چي زما په دې دواړو خبرو کي شک وو، څه زمانه وروسته يوه ورځ په يو کور کي مېلمستيا جوړه سوه، نو خلګو هغه نوجوان هم دې مېلمستيا ته راوستلی دئ او زما پر څنګ يې په عزت باندي کېښنوئ. او زما فکر دا وو چي دا سړی به په دا خبرو کي رشتيا ګوی وي او که به نه وي؟
او دوهم په دې خبره کي چي د کوم وخت څخه چي ما دغه حديث اورېدلی وو نو د هغه وخت څخه ما د دې کلمې ذکر معمول جوړ کړی ؤ او ختم به مي کوئ او په مور پسي به مي بخښئ او په پلار پسي به مي بخښئ.
په دغه ورځ زه د دې کلمې د ختم څخه فارغه سوی يم چي د دې کلمې ختم ما د خپل ځان په حق کي اويا زره (۷۰۰۰۰) واره کړی دئ.

چي کله پر دوړو باندي کښېنستو، نو هغه نوجوان زما پر څنګ ناست دئ، د هغه نوجوان د خولې څخه يو دم چيغه وختله او رنګ يې تک ژړ سو او د دوړو څخه پر شا سو او ما ته وايي: ﴿يَاعَمِّيْ اُمِّيْ اَرٰى فِي النَّارِ﴾ اى اکا! زما مور په جهنم کي ده زه يې وينم، هغه په جهنم کي سوځل کيږي. نو شيخ وايي: هغه سړى و شا ته سو د دوړو څخه پر هغه ځاى باندي کښېنستئ.

زه هم حيران سوم: ﴿فَوَهَبْتُ فِي بَاطِنِيْ ثَوَابَ التَّهْلِيْلَةِ الْمَذْكُوْرَةِ لَهَا﴾ آخر مي د ځان سره په زړه کي دا فيصله وکړه نن چي ما د کلمې کوم ختم کړى دئ هغه مي د دې سړي د مور په حق کي بخښلى دئ.

نو دَى وايي: يو ګړى هغه سړى ناست دئ د هغه څخه وروسته يې ﴿فَضَحِكَ﴾ بيا وخندل او ويې ويل: ﴿يَاعَمِّيْ اُمِّيْ خَرَجَتْ مِنَ النَّارِ وَاِنِّيْ اَرٰهَا اَلْاٰنَ فِي حُسْنِ الْمَاٰبِ﴾ اى اکا جانه! زما مور د جهنم څخه ووتله زه يې اوس په ډېر ښه حالت کي وينم او په دې رنګ کي يې يو قسم خوشحالي محسوسه سوه.

ما ورته وويل:

- په څه خاطر باندي را ووتله؟
- دَى راته وايي: ﴿بِسَبَبِ مَغْفِرَتِكَ لَهَا﴾ چي کوم شى تا اوس د دې دپاره وبخښئ د هغه په خاطر الله تعالیٰ د دې په حق کي دا فيصله وکړه چي اوس يې زما مور د جهنم څخه را وايستله.

نو شيخ ابو محمد يمني شافعي رحمة الله عليه وايي: چي په دې ورځ زما پر دې دواړو خبرو يقين سو ﴿فَعَرَفْتُ صِحَّةَ الْحَدِيْثِ بِصِحَّةِ كَشْفِهِ وَ صِحَّةَ كَشْفِهِ بِصِحَّةِ الْحَدِيْثِ﴾ چي دا د پيغمبر صلی الله علیه وسلم حديث دئ چي کوم چا اويا زره (٧٠٠٠٠) واره دا کلمه د خپل مرده دپاره ور واستوله او هغه که په جهنم کي وي، نو الله تعالیٰ يې د جهنم څخه را باسي.

او دویم مې د دې نوجوان پر خبره دا عقیده سوه چې دا سړی یقینا صاحب کشف دئ، الله جَلَّجَلَالُهُ دې سړي ته کشف د جنتو کوي او الله جَلَّجَلَالُهُ دې سړي ته کشف د دوږخو کوي.(١)

## د ﴿لَااِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ﴾ د کلمې دم:

بیا خاصکر په بعض اثارو کې دا هم راغلي دي چې کله سړی د ﴿لَااِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ﴾ د کلمې ورد زیات کوي، نو په کوم کور کې چې ناعلاجه ناجوړي وي.
او د هغې ناعلاجه ناجوړۍ څخه ډاکټران عاجزه سوي وي، نو دا ناجوړه انسان دئ په خپله اویا زره (٧٠٠٠٠) واره د دې کلمې وِرد وکړي یا یې په بل چا باندي وکړي، یا یې په یوه انسان باندي وکړي او یا یې په ډېرو انسانانو باندي وکړي هغه وِرد پر دې بیمار باندي چو (چُف) کړي یا یې پر اوبو باندي چو کړي او هغه اوبه دې بیمار ته ورکړي.
نو بعض آثار پر دې دي چې دا مجربه خبره ده چې د دې کلمې په برکت به الله تعالی د دې مریض شفاء کوي.
نو څکه ذکر ونه خو ډېر زیات دي، لیکن پیغمبرﷺ وایي: ﴿اَفْضَلُ الذِّكْرِ لَااِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ﴾ د انسانانو په زندګي کې بهترین ذکر د ﴿لَااِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ﴾ د کلمې ورد دئ چې کوم سړی د ﴿لَااِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ﴾ د کلمې ورد د خپلې زندګۍ معمول جوړ کړي، نو دا د الله تعالی د قرب ذریعه ده او د الله تعالی په حضور کې د مغفرت ذریعه ده او د الله تعالی د نژدېکت ذریعه ده.
نو الله تعالی دې موږ او تاسې د دې کلمې د برکاتو څخه نه محرومه کوي.
او الله تعالی دې داغه کلمه او د دې ورد زموږ پر زړه او خوله باندي جاري کړي، او الله تعالی دې پر دې مختصرو خبرو د عمل کولو توفیق را کړي آمین.

وَ آخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ

---

(١) مجموعة الرسائل لابن عابدين شامي، بحواله راهِ محبت صفحه: ٣٢.



مکتبۃ الھاشمیۃ
4534038